كشف الباري
عما في
صحيح البخاري

تصنيف

حضرت مولانا سليم الله خان

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

علماء دیوبند کے علوم کا پاسبان
دینی وعلمی کتابوں کا عظیم مرکز ٹیلیگرام چینل
حنفی کتب خانہ محمد معاذ خان
درس نظامی کیلئے ایک مفید ترین
ٹیلیگرام چینل

کتاب العلم (اول)

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم اللہ خان مدظلہ العالی
شیخ الحدیث جامعہ فاروقیہ کراچی

ترتیب وتحقیق ← مولانا نور البشر صاحب استاذ جامعہ فاروقیہ کراچی

ترجمہ ← مولانا شاہ فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

خصوصیات

① داحادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دگرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ دحدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې داحدیث په کوم کوم ځائې کښې دي

جلد ③

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د کتاب ټول حقوق د مصنف او ناشر سره محفوظ دي

دکتاب نوم کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: کتاب العلم (اول)

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا نور البشر صاحب بارك الله في عمره

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربي پېښور يونيورسټي

د کشف الباري د پښتو او فارسۍ د ترجمې د حقوقو په حقله وضاحت

دا خبره دي په ذهن کښې وي چې فیصل کتب خانه د صدر وفاق المدارس ... فروفیه شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالي څخه د کشف الباري پښتو او فارسي ... کښې د ترجمو حقوق ترلاسه کړل او د حقوقو معاوضه ئي ورته ورکړه ... د کشف الباري پښتو او فارسي د ترجمه کولو او چهاپ کولو اجازت ... ئي هم د حکومت پاکستان سره شوي دي

د ملاویدو پتې د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبهٔ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبدالحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲۴۳۳۴
- اسدالله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷۴۷۷۶۲۷
- مکتبهٔ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳۴۱۷۴۹
- مکتبهٔ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبهٔ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹۴۴۷۴۱۳
- مکتبه القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹۴۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبدالمجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷۴۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامي کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲۴۷

فهرست مضامين

شميره	مضمون	صفحه

عرض د مرتب ۳۴

كِتَابُ الْعِلْمِ

د وحی. ايمان او علم په مينځ کښې ترتيب او مناسبت ۳۶
د علم حقيقت او د دې قسمونه ۳۶
وحی الهام او فراست ۳۷

۱- بَابُ فَضْلِ الْعِلْمِ

تنبيه ۳۹
د قول الله.. اعراب ۳۹
د مذکوره آيتونو نه د ترجمې اثبات ۴۰
① ړومبې آيت ﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾ ۴۰
② دويم آيت ﴿رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ ۴۰
د علم نه مراد دلته علم دين دې ۴۰
مؤلف رحمه الله د مذکوره ترجمې لاندې يو مسند حديث ولې ذکر نکړو؟ ۴۱
د عالم د بقاء راز په علم کښې پټ دې ۴۲
د حضرت شيخ الهند رحمه الله عجيبه تحقيق ۴۲
فائده ۴۴
د ,,تکرار فی الترجمه،، اعتراض. د هغې جواب او د ترجمې مقصود ۴۴

۲- بَابُ مَنْ سُئِلَ عِلْمًا وَهُوَ مُشْتَغِلٌ فِي حَدِيثِهِ فَأَتَمَّ الْحَدِيثَ ثُمَّ أَجَابَ السَّائِلَ

ددې باب ماقبل باب سره مناسبت ۴۵
د ترجمة الباب مقصد ۴۶
حديث باب ۴۷
رجال الحديث ۴۷
محمد بن سنان رحمه الله ۴۷
فليح ۴۸
تنبيه ۵۰

شمیره	مضمون	صفحه
	ابراهيم بن المنذر	۵۱
	ددوی په باره کښې دجرح اوتعديل دعالمانورحمهم الله اقوال	۵۱
	محمد بن فليح	۵۳
	محمد بن فليح پلار فليح بن سليمان	۵۴
	هلال بن علي	۵۴
	عطاء بن يسار	۵۵
	ابوهريره رضي الله عنه	۵۵
	قوله: بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَجْلِسٍ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ:	۵۵
	دا اعرابی څوك وو؟	۵۵
	قوله: فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ فَمَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ	۵۵
	د سوال په جواب کښې دتاخير ګنجائش وی اوکه نه وی؟	۵۶
	قوله: حَتَّى إِذَا قَضَى حَدِيثَهُ قَالَ أَيْنَ أُرَاهُ السَّائِلُ عَنِ السَّاعَةِ:	۵۶
	د ,,أين أراه السائل،، مطلب	۵۶
	دلته شك دكوم راوی د طرفه دې؟	۵۶
	قوله: قَالَ هَا أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَإِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ قَالَ كَيْفَ:	۵۷
	,,جواب على أسلوب الحكيم،، او په قرآن کريم کښې ددې نظائر	۵۷
	د ,,وسد،، لغوی تحقيق	۵۸
	,,إذا ضيعت الأمانة،، کښې د ,,امانت،، نه څه مراد دې؟	۵۸
	د نا اهل نه مراد بې دينه دې	۵۸
	د حديث شريف کتاب العلم سره مناسبت	۵۹

٣- بَابُ مَنْ رَفَعَ صَوْتَهُ بِالْعِلْمِ

	د ترجمة الباب مقصد	۵۹
	حديث باب	۶۱
	رجال الحديث	۶۱
	ابو النعمان عارم بن الفضل	۶۱
	ابو عوانه	۶۱
	ابو بشر	۶۱
	يوسف بن ماهك	۶۳

شمیره	مضمون	صفحه
	د ..مدهك.. تحقیق	۶۴
	د لفظ منصرف دي که غیر منصرف؟	۶۴
	د منصرف وئیلو څه وجه ده؟	۶۴
	عبدالله بن عمرو	۶۵
	قوله قَالَ تَخَلَّفَ عَنَّا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفْرَةٍ سَافَرْنَاهَا:	۶۵
	دا د کوم ځائې سفر وو؟	۶۵
	قوله: فَأَدْرَكَنَا وَقَدْ أَرْهَقْتَنَا الصَّلَاةُ وَنَحْنُ نَتَوَضَّأُ:	۶۶
	د ,,أَرْهَقْتَنَا الصَّلَاةُ،، لغوي تحقیق	۶۶
	قوله: فَجَعَلْنَا نَمْسَحُ عَلَى أَرْجُلِنَا:	۶۷
	د مسح نه څه مراد دي؟	۶۷
	قوله: فَنَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا:	۶۸
	اثبات د ترجمې	۶۸
	د نبی کریم ﷺ انداز بیان	۶۸
	د ..ویل..او ..عقب.. تحقیق او مراد	۶۸

باب قَوْلِ الْمُحَدِّثِ حَدَّثَنَا وَأَخْبَرَنَا وَأَنْبَأَنَا

	وړاندې باب سره مناسبت	۶۹
	د ترجمة الباب مقصود	۶۹
	د تحمل حدیث انواع	۷۰
	① ..السماع من لفظ الشیخ..	۷۰
	② ..القراءة علي الشیخ..	۷۱
	د قراءت علي الشیخ یا عرض حکم	۷۱
	د قراءت علي الشیخ مرتبه	۷۱
	③ ..ألإجازة..	۷۲
	د اجازت قسمونه	۷۲
	④ المناولة	۷۴
	د مناوله حکم او ددې مرتبه	۷۵
	⑤ المکاتبة	۷۵
	⑥ الاعلام	۷۶

صفحه	مضمون	شميره
۷۲	د ,,اعلام،، په بنياد باندې روايت د حديث صحيح دې اوكه نه دې؟	
۷۲	⑦ الوصية	
۷۲	دتحمل په دې نوع سره روايت كول جائز دى اوكه نه؟	
۷۲	⑧ الوجادة	
۷۷	طرق د اداء حديث	
۷۷	د سماع الفاظ	
۷۷	د سماع دالفاظو مراتب	
۷۷	تنبيه	
۷۸	د ,,سماع من لفظ الشيخ،، او ,,قرأتُ على الشيخ،، په صورت كښې به په الفاظ ادا كښې تفريق كيږى او كه نه؟	
۷۹	د,,قرأتُ على الشيخ،، په صورت كښې د اداء الفاظ	
۷۹	مذاهب علماء	
۸۰	د اجازت په طريقې سره د حاصل شوو رواياتو طريقه اداء	
۸۰	د اجازت يو څو نور الفاظ	
۸۰	د ,,مناوله،، په طريقه د حاصل شوو رواياتو طريقه د اداء	
۸۱	قوله: وَقَالَ لَنَا الْحُمَيْدِيُّ كَانَ عِنْدَ ابْنِ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا وَأَخْبَرَنَا وَأَنْبَأَنَا وَسَمِعْتُ وَاحِدًا:	
۸۱	د قال لنا،قال لي،ذكرلنا،او ذكرلي د استعمال مواقع	
۸۲	الحميدي	
۸۴	ابن عيينه	
۸۶	تنبيه	
۸۷	د صحابه كرامو د تحديث الفاظ او ددې د ذكر كولو مقصد	
۸۸	د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د رومبى تعليق تخريج	
۸۸	تنبيه	
۸۸	د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د دويم تعليق تخريج	
۸۹	تنبيه	
۸۹	د حضرت حذيفه رضي الله عنه د تعليق تخريج	
۸۹	حضرت حذيفه رضي الله عنه	
۸۹	په اسلام كښې د معاهدې احترام	

شميره	مضمون	صفحه
	حضرت حذيفه رضي الله عنه د.. نبى كريم ﷺ رازدار.. لقب سره يا ديدو	۹۰
	د حضرت عمر رضي الله عنه «أنت أخي وأنا أخوك» فرمائيل	۹۱
	دا ابو العاليه څوك دې؟	۹۱
	قول راجح	۹۲
	ابو العاليه رياحي	۹۳
	د.. حديث أبي العالية الرياحي رياح.. مطلب	۹۴
	د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په نيز د ابو العاليه رحمه الله مقام	۹۵
	قوله: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما	۹۵
	د حديث قدسى تعريف:	۹۵
	قوله: وَقَالَ أَنَسٌ:	۹۶
	دلته د حضرت انس رضي الله عنه كوم حديث مراد دې؟	۹۵
	د مذكوره تعليق تخريج	۹۶
	قوله: وَقَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ:	۹۶
	دې نه كوم حديث مراد دې؟	۹۷
	د مذكوره دواړو حديثونو تخريج	۹۷
	د حديث معنعن په حكم كښې اختلاف	۹۷
	د.. قال فلان، ذكر فلان.. وغيره حكم	۱۰۰
	حديث باب	۱۰۱
	رجال الحديث	۱۰۱
	قتيبه بن سعيد	۱۰۱
	اسماعيل بن جعفر	۱۰۱
	عبدالله بن دينار	۱۰۱
	حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه	۱۰۳
	قوله: إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ:	۱۰۳
	د كجورې د ونې او مسلمان په مينځ كښې وجوهِ تشبيه	۱۰۳
	د تشبيه يو څو معقولې وجې	۱۰۴
	قوله: فَحَدِّثُونِي مَاهِيَ:	۱۰۶
	قوله: فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ الْبَوَادِي:	۱۰۶

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ وَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَاسْتَحْيَيْتُ:	۱۰۲
	د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ د شرمیدو وجه څه وه؟	۱۰۲
	د اولاد په ترقئ سره د مورپلار زړه خوشحالیږی	۱۰۲
	د علامه تقی الدین سبکی واقعه	۱۰۷
	د حافظ عراقی واقعه	۱۰۷
	قوله: ثُمَّ قَالُوا حَدِّثْنَا مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ هِيَ النَّخْلَةُ:	۱۰۷
	په ترجمة الباب او حدیث باب کښې مطابقت	۱۰۷
	په دې حدیث سره د ترجمة الباب اثبات	۱۰۷

۵-بَاب طَرْحِ الْإِمَامِ الْمَسْأَلَةَ عَلَى أَصْحَابِهِ لِيَخْتَبِرَ مَا عِنْدَهُمْ مِنَ الْعِلْمِ

شمیره	مضمون	صفحه
	ماقبل سره مناسبت	۱۰۸
	د ترجمة الباب مقصد	۱۰۸
	حدیث باب	۱۰۸
	رجال الحدیث	۱۰۹
	خالد بن مخلد	۱۰۹
	د تشیع الزام او ددې حقیقت	۱۱۰
	سلیمان	۱۱۰
	عبد الله بن دینار	۱۱۲
	ابن عمر	۱۱۲
	قوله: إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ:	۱۱۲
	په حدیث باب کښې د اسناد په رجالو کښې د تغیر فائده	۱۱۲
	د حدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت	۱۱۲

۶-بَاب مَا جَاءَ فِي الْعِلْمِ

شمیره	مضمون	صفحه
	په دې باب کښې دنسخو اختلاف	۱۱۳
	تیرشوی باب سره مناسبت	۱۱۳
	آیا په قراءت او عرض کښې فرق شته؟	۱۱۳
	د ترجمة الباب مقصد	۱۱۴
	د ..قراءت علی الشیخ.. مانعین	۱۱۴
	د ..قراءت علی الشیخ.. مجوزین	۱۱۵

شميره	مضمون	صفحه
	قول فيصل	۱۱۵
	تنبيه	۱۱۵
	قوله: وَرَأَى الْحَسَنُ وَالثَّوْرِيُّ وَمَالِكٌ الْقِرَاءَةَ جَائِزَةً:	۱۱۶
	قوله: وَاحْتَجَّ بَعْضُهُمْ فِي الْقِرَاءَةِ عَلَى الْعَالِمِ بِحَدِيثِ ضِمَامِ بْنِ ثَعْلَبَةَ قَالَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم	۱۱۶
	قوله: أَخْبَرَ ضِمَامٌ قَوْمَهُ بِذَلِكَ فَأَجَازُوهُ:	۱۱۷
	د امام مالك رحمه الله استدلال	۱۱۷
	قوله: وَاحْتَجَّ مَالِكٌ بِالصَّكِّ يُقْرَأُ عَلَى الْقَوْمِ فَيَقُولُونَ أَشْهَدَنَا فُلَانٌ وَيُقْرَأُ ذَلِكَ قِرَاءَةً عَلَيْهِمْ وَيُقْرَأُ عَلَى الْمُقْرِئِ فَيَقُولُ الْقَارِئُ أَقْرَأَنِي فُلَانٌ:	۱۱۷
	① يوه مسئله	۱۱۸
	② دويمه مسئله	۱۱۸
	حديث باب	۱۱۹
	رجال الحديث	۱۱۹
	محمد بن سلام:	۱۱۹
	محمد بن الحسن الواسطي	۱۱۹
	حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى ,,ثقة،،	۱۲۰
	امام دارقطنى رحمه الله فرمائى ,,لا بأس به،،	۱۲۰
	عوف:	۱۲۱
	الحسن	۱۲۱
	قوله: لَا بَأْسَ بِالْقِرَاءَةِ عَلَى الْعَالِمِ:	۱۲۱
	د مذكوره اثر تخريج	۱۲۱
	قوله: وَحَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ سُفْيَانَ:	۱۲۱
	قوله: قَالَ إِذَا قُرِئَ عَلَى الْمُحَدِّثِ فَلَا بَأْسَ أَنْ يَقُولَ حَدَّثَنِي:	۱۲۱
	قوله: قَالَ وَسَمِعْتُ أَبَا عَاصِمٍ يَقُولُ عَنْ مَالِكٍ وَسُفْيَانَ الْقِرَاءَةُ عَلَى الْعَالِمِ وَقِرَاءَتُهُ سَوَاءٌ:	۱۲۲
	قوله: ابوعاصم:	۱۲۲
	د ,,نبيل،، لقب پريوتلو دلچسپ وجوه	۱۲۳
	ددې قول څه مقصد دې؟	۱۲۴
	حديث باب	۱۲۵
	رجال الحديث	۱۲۵

شميره	مضمون	صفحه
	عبد الله بن يوسف	۱۲۵
	الليث	۱۲۵
	سعيد	۱۲۵
	شريك بن عبد الله بن ابي نمر	۱۲۶
	په دوی باندې د ..وضع حديث.. او د ..قدري.. کيدو الزام او دهغې ترديد	۱۲۷
	فائده	۱۲۷
	انس بن مالك رضي الله عنه	۱۲۷
	قوله: بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ دَخَلَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ:	۱۲۸
	د حضرت ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه راتګ په کوم سن کښې شوې وو؟	۱۲۸
	قوله: فَأَنَاخَهُ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ عَقَلَهُ:	۱۳۰
	قوله: ثُمَّ قَالَ لَهُمْ أَيُّكُمْ مُحَمَّدٌ:	۱۳۱
	قوله: وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئٌ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ:	۱۳۱
	آيا ډېره لګولو سره کيناستل د نبی کريم ﷺ عادت وو؟	۱۳۱
	د ..بين ظهرانيهم.. تحقيق	۱۳۱
	فائده	۱۳۲
	قوله: فَقُلْنَا هَذَا الرَّجُلُ الْأَبْيَضُ الْمُتَّكِئُ:	۱۳۲
	د نبی کريم ﷺ رنګ مبارك	۱۳۲
	قوله: فَقَالَ لَهُ الرَّجُلُ يَا ابْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ:	۱۳۲
	د ..ابن عبد المطلب.. وئيلو وجه	۱۳۲
	قوله: فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَجَبْتُكَ:	۱۳۳
	د ..قداجبتك.. معنی	۱۳۳
	قوله: فَقَالَ الرَّجُلُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي سَائِلُكَ فَمُشَدِّدٌ عَلَيْكَ فِي الْمَسْأَلَةِ:	۱۳۳
	قوله: فَلَا تَجِدْ عَلَيَّ فِي نَفْسِكَ:	۱۳۳
	د ..وجد.. د مصادرو لغوی تحقيق	۱۳۳
	قوله: فَقَالَ سَلْ عَمَّا بَدَا لَكَ:	۱۳۴
	قوله: فَقَالَ أَسْأَلُكَ بِرَبِّكَ وَرَبِّ مَنْ قَبْلَكَ آللَّهُ أَرْسَلَكَ إِلَى النَّاسِ كُلِّهِمْ فَقَالَ اللَّهُمَّ نَعَمْ:	۱۳۴
	په تفصيل سره د قسم ورکولو وجه	۱۳۴
	قوله: قَالَ أَنْشُدُكَ بِاللَّهِ آللَّهُ أَمَرَكَ أَنْ نُصَلِّيَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ قَالَ:	۱۳۴

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: قَالَ أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ اَللّٰهُ أَمَرَكَ أَنْ نَصُومَ هٰذَا الشَّهْرَ مِنَ السَّنَةِ قَالَ اللّٰهُمَّ نَعَمْ:	۱۳۴
	قوله: قَالَ أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ اَللّٰهُ أَمَرَكَ أَنْ تَأْخُذَ هٰذِهِ الصَّدَقَةَ مِنْ أَغْنِيَائِنَا فَتَقْسِمَهَا عَلٰى فُقَرَائِنَا	۱۳۵
	آیا سړي خپل زکات پخپله نشي تقسیمولي؟	۱۳۵
	صرف د ..فقراء.. د تخصیص وجه	۱۳۵
	بل ښار ته د زکاة منتقل کولو مسئله	۱۳۵
	قوله: فَقَالَ الرَّجُلُ آمَنْتُ بِمَا جِئْتَ بِهِ:	۱۳۶
	د حضرت ضمام رضي الله عنه حاضری په حالت د اسلام کښې شوې اوکه په حالت د کفر کښې؟	۱۳۶
	د ..زعم.. نه د حضرت ضمام په عدم اسلام باندې استدلال او د هغې جواب	۱۳۶
	د مقلد ایمان معتبر دې	۱۳۷
	قوله: وَأَنَا رَسُولُ مَنْ وَرَائِي مِنْ قَوْمِي وَأَنَا ضِمَامُ بْنُ ثَعْلَبَةَ أَخُو بَنِي سَعْدِ بْنِ بَكْرٍ:	۱۳۸
	په حدیث باب کښې دحج ذکر نشته	۱۳۸
	تنبیه	۱۳۸
	د حدیث باب تعلق	۱۳۹
	قوله: وَرَوَاهُ مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ وَعَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا:	۱۴۰
	د مذکوره متابعاتو تخریج	۱۴۰
	قوله: علی بن عبدالحمید:	۱۴۰
	د مذکوره متابعاتو تعلیقاً د تخریج کولو وجه	۱۴۱
	آیا امام بخاری رحمه الله سلیمان بن المغیره قابل د احتجاج نه گڼی؟	۱۴۱
	د ضمام حدیث او د هغې ترجمه	۱۴۳
	رجال الحدیث	۱۴۴
	موسی بن اسماعیل:	۱۴۴
	سلیمان بن المغیرة:	۱۴۴
	ثابت	۱۴۶
	د حضرت بنانی رحمه الله عبادت او تلاوت سره شوق	۱۴۸
	حضرت انس رضي الله عنه	۱۴۸
	تنبیه	۱۴۸

شميره	مضمون	صفحه
	۷-بَاب مَا يُذكَرُ فِي المُنَاوَلَةِ وَكِتَابِ أَهْلِ العِلْمِ بِالعِلْمِ إِلَى البُلْدَانِ	
	ماقبل سره مناسبت او د ترجمة الباب مقصد	۱۴۸
	د مناوله د ابحاثو خلاصه	۱۴۹
	د مكاتبت د ابحاثو خلاصه	۱۴۹
	مناوله مقرونه بالاجازت ، او مكاتبه دواړه برابر دی او كه متفاوت دی؟	۱۵۰
	قوله: وَقَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ نَسَخَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْمَصَاحِفَ فَبَعَثَ بِهَا إِلَى الآفَاقِ:	۱۵۰
	د حضرت انس رضي الله عنه د مذكوره تعليق تخريج	۱۵۰
	د حضرت انس رضي الله عنه د مذكوره روايت خلاصه	۱۵۰
	حضرت عثمان رضي الله عنه ټولې څومره نسخې تيار كړې؟ او كوم كوم ځائې ته ئې ليګلې وې؟	۱۵۱
	يو اشكال او دهغې جواب	۱۵۱
	قوله: وَرَأَى عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ ذَلِكَ جَائِزًا:	۱۵۲
	عبد الله بن عمر نه څوك مراد دې؟	۱۵۲
	د يحي بن سعيد د اثر تخريج	۱۵۲
	د امام مالك رحمه الله د اثر تخريج	۱۵۲
	قوله: وَاحْتَجَّ بَعْضُ أَهْلِ الحِجَازِ فِي المُنَاوَلَةِ بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ كَتَبَ	۱۵۲
	د بعضې اهل حجاز نه څوك مراد دى؟	۱۵۷
	د مذكوره سريهٔ د واقعې تخريج	۱۵۷
	د واقعې خلاصه	۱۵۷
	حديث باب	۱۵۹
	رجال الحديث	۱۵۹
	اسماعيل بن عبد الله	۱۵۹
	ابراهيم بن سعد	۱۵۹
	صالح	۱۵۹
	ابن شهاب	۱۵۹
	عبيد الله بن عبد الله بن عتبه بن مسعود	۱۵۹
	عبد الله بن عباس رضي الله عنهما	۱۶۰
	قوله: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِكِتَابِهِ رَجُلًا:	۱۶۰
	د ,,رجل،، نه څوك مراد دې؟	۱۶۰

شمیره	مضمون	صفحه
	حضرت عبد الله بن حذافه سهمي رضي الله عنه	۱۲۰
	قوله: وَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى:	۱۲۱
	د عظیم بحرین نه څوك مراد دې؟	۱۲۱
	د کسری نه څوك مراد دې؟	۱۲۱
	قوله: فَلَمَّا قَرَأَهُ مَزَّقَهُ:	۱۲۱
	د کسری غصه کیدل. او د نبی کریم ﷺ د گرفتارولو کوشش	۱۲۱
	د باذان اسلام	۱۲۱
	قوله: فَحَسِبْتُ أَنَّ ابْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُمَزَّقُوا:	۱۲۲
	په خط شلولو باندې کسری دپاره د نبی کریم ﷺ بد دعا او د هغې اثر	۱۲۲
	حدیث باب	۱۲۳
	رجال الحدیث	۱۲۳
	محمد بن مقاتل ابو الحسن	۱۲۳
	عبد الله	۱۲۴
	شعبه	۱۲۴
	قتادة	۱۲۴
	حضرت انس بن مالك رضي الله عنه	۱۲۴
	قوله: كَتَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِتَابًا أَوْ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ:	۱۲۴
	قوله: فَقِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لَا يَقْرَءُونَ كِتَابًا إِلَّا مَخْتُومًا فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ	۱۲۵
	د نبی کریم ﷺ گتمه او د هغې نقش	۱۲۵
	د روایت باب مقصد	۱۲۵
	فائده	۱۲۵
	قوله: فَقُلْتُ لِقَتَادَةَ مَنْ قَالَ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ قَالَ أَنَسٌ:	۱۲۲
	د مذکوره عبارت مقصد	۱۲۲
	فائده	۱۲۲

۸- بَابُ مَنْ قَعَدَ حَيْثُ يَنْتَهِي بِهِ الْمَجْلِسُ وَمَنْ رَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا

	د علم په مجلس کښې د کیناستلو طریقه او أدب	۱۲۷
	ما قبل سره مناسبت	۱۲۷

صفحه	مضمون	شمیره
۱۶۸	حديث باب	
۱۶۸	رجال الحديث	
۱۶۸	اسماعيل	
۱۶۸	مالك	
۱۶۸	اسحاق بن عبدالله بن ابي طلحه	
۱۶۹	ابومره مولي د عقيل بن ابي طالب	
۱۷۰	ابو واقد الليثي	
۱۷۱	قوله: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا هُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ وَالنَّاسُ مَعَهُ إِذْ أَقْبَلَ	
۱۷۱	د حديث باب مطلب	
۱۷۱	قوله: فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَرَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا وَأَمَّا الْآخَرُ فَجَلَسَ خَلْفَهُمْ وَأَمَّا الثَّالِثُ:	
۱۷۲	قوله: فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ عَنِ النَّفَرِ الثَّلَاثَةِ أَمَّا أَحَدُهُمْ	
۱۷۲	د استحياء دوه معاني	
۱۷۳	د حضرت شاه ولى الله رحمه الله لطيف توجيه	
۱۷۳	قوله: فَاسْتَحْيَا اللّٰهُ مِنْهُ:	
۱۷۳	قوله: وَأَمَّا الْآخَرُ فَأَعْرَضَ فَأَعْرَضَ اللّٰهُ عَنْهُ:	
۱۷۳	دا جمله خبريه ده او كه دعائيه؟	

۹- بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ

صفحه	مضمون
۱۷۴	ما قبل باب سره مناسبت
۱۷۴	په ترجمة الباب كښې د مذكوره تعليق تخريج
۱۷۴	د ترجمة الباب مقصد
۱۷۵	د امام بخارى رحمه الله د رباعياتو حيثيت
۱۷۵	حديث باب
۱۷۶	رجال الحديث
۱۷۶	مسدد
۱۷۶	بشر
۱۷۷	ابن عون
۱۷۹	ابن سيرين
۱۷۹	عبدالرحمن بن ابي بكره

شمیره	مضمون	صفحه

حضرت ابوبکره رضی الله عنه ۱۸۰
په ..ذکر.. کښې ضمیر کوم طرف ته راجع دې؟ ۱۸۰
قوله: وَأَمْسَكَ إِنْسَانٌ بِخِطَامِهِ أَوْ بِزِمَامِهِ: ۱۸۰
د انسان نه څوك مراد دې؟ ۱۸۰
خطام او زمام دواړه یو دی؟ اوکه دواړو کښې فرق دې؟ ۱۸۱
قوله: قَالَ أَيُّ يَوْمٍ هَذَا فَسَكَتْنَا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ سِوَى اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا: ۱۸۱
په روایت باب کښې تعارض او دفع د تعارض ۱۸۱
قوله: قَالَ فَأَيُّ شَهْرٍ هَذَا فَسَكَتْنَا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ فَقَالَ أَلَيْسَ بِذِي الْحِجَّةِ: ... ۱۸۳
قوله: قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا: ۱۸۳
یو اشکال او دهغې جواب ۱۸۳
قوله: لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ: ۱۸۳
قوله: فَإِنَّ الشَّاهِدَ عَسَى أَنْ يُبَلِّغَ مَنْ هُوَ أَوْعَى لَهُ مِنْهُ: ۱۸۳

۱۰- بَابُ الْعِلْمِ قَبْلَ الْقَوْلِ وَالْعَمَلِ

تیرشوی باب سره مناسبت ۱۸۴
د ترجمة الباب مقصد او د تقدیم قسمونه ۱۸۴
قوله: لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ﴾ فَبَدَأَ بِالْعِلْمِ: ۱۸۶
د امام بخاری رحمه الله پخپل مقصد باندې استدلال ۱۸۶
قوله: وَأَنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ: ۱۸۶
د حدیث مذکور تخریج ۱۸۶
د حدیث د مذکوره حصې راوړلو مقصد ۱۸۶
د نبی لغوی او اصطلاحی تعریف ۱۸۷
آیا «علماء أمتي كأنبياء بني إسرائيل» حدیث دې؟ ۱۸۷
قوله: وَرَّثُوا الْعِلْمَ مَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ: ۱۸۸
د لفظ ..ورثوا.. تحقیق ۱۸۸
«مَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ» دا جمله خبر دې اوکه امر دې ۱۸۸
قوله: وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ بِهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ: ۱۸۸
ددې حدیث تخریج ۱۸۸

شميره	مضمون	صفحه

قوله: وَقَالَ جَلَّ ذِكْرُهُ ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾: ۱۸۹
مذكوره آيت نه د علم د فضيلت اثبات ۱۸۹
آيا علم سره خشيت لازم دي؟ ۱۸۹
تنبيه ۱۹۰
قوله: وَقَالَ ﴿وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعٰلِمُوْنَ﴾: ۱۹۰
قوله: ﴿وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْ أَصْحٰبِ السَّعِيْرِ﴾: ۱۹۰
قوله: وَقَالَ ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾: ۱۹۰
د علماؤ پشان كښې د ابن دريد رحمه الله اشعار ۱۹۰
قوله: وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ: ۱۹۱
د مذكوره حديث تخريج ۱۹۱
قوله: وَإِنَّمَا الْعِلْمُ بِالتَّعَلُّمِ: ۱۹۱
د مذكوره حديث تخريج ۱۹۱
صرف مطالعې سره د جوړ شوي يو محدث دلچسپه واقعه ۱۹۲
قوله: وَقَالَ أَبُوْ ذَرٍّ لَوْ وَضَعْتُمُ الصَّمْصَامَةَ عَلَى هٰذِهِ وَأَشَارَ إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ ظَنَنْتُ أَنِّيْ أُنْفِذُ كَلِمَةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ تُجِيْزُوْا عَلَيَّ لَأَنْفَذْتُهَا: ۱۹۲
د مذكوره اثر تخريج ۱۹۳
د حضرت ابوذر رضي الله عنه د حق گوئي او بيباكه واقعې تفصيل ۱۹۳
قوله: وقول النبي (ص): ليبلغ الشاهد الغائب: ۱۹۳
قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُوْنُوْا رَبَّانِيِّيْنَ حُلَمَاءَ فُقَهَاءَ: ۱۹۳
د مذكوره اثر تخريج ۱۹۴
د نسخو اختلاف ۱۹۴
د ،،حكمت،، معنى ۱۹۴
عالم څه ته وائي؟ ۱۹۴
فقيه څوك دي؟ ۱۹۵
د حلماء مطلب ۱۹۵
قوله: وَيُقَالُ الرَّبَّانِيُّ الَّذِيْ يُرَبِّي النَّاسَ بِصِغَارِ الْعِلْمِ قَبْلَ كِبَارِهِ: ۱۹۵
د رباني معنى ۱۹۵
د كبار علم او صغار علم مصداق ۱۹۶

شمیره	مضمون	صفحه

امام بخاری رحمه الله د مذکوره باب لاندې یو مرفوع حدیث ولې ذکر نکړو؟ ۱۹۲
اشتغال بالعلم د اشتغال بالنوافل نه افضل دې ۱۹۲
په دې مسئله کښې اختلاف ۱۹۲

۱۱- بَاب مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُهُمْ بِالْمَوْعِظَةِ وَالْعِلْمِ كَيْ لَا يَنْفِرُوا

ما قبل باب سره مناسبت ۱۹۷
په حدیث باب کښې صرف د ..وعظ.. ذکردې په ترجمة الباب کښې د ..علم.. اضافه ولې اوکړې شوه؟ ۱۹۷
د ..کي لا ینفروا.. اضافه ۱۹۸
د امام بخاری رحمه الله مقصد ۱۹۸
حدیث باب ۱۹۸
رجال الحدیث ۱۹۸
محمد بن یوسف ۱۹۸
یوه اهمه فائده ۲۰۰
سفیان ۲۰۰
فائده ۲۰۰
الاعمش ۲۰۱
ابووائل ۲۰۱
حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ۲۰۱
قوله: قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ فِي الْأَيَّامِ كَرَاهَةَ السَّآمَةِ: ... ۲۰۱
د ..یتخولنا.. معنی ۲۰۱
قوله: كَرَاهَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا: ۲۰۲
د حدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت ۲۰۲
حدیث باب ۲۰۳
رجال الحدیث ۲۰۳
محمد بن بشار ۲۰۳
یحي بن سعید ۲۰۲
شعبه ۲۰۲

شمیره	مضمون	صفحه
	ابو التیاح یزید بن حمید ضبعی	
	انس رضی الله عنه	
	د عبارت تشریح	۲۰۷
	د ..تبشیر.. په مقابل کښې د ..تنفیر.. راوړلو نکته	۲۰۷
	یو اهم وضاحت	۲۰۸
	۳-((بَابٌ مَنْ جَعَلَ لِأَهْلِ الْعِلْمِ أَيَّامًا مَعْلُومَةً))	
	ما قبل باب سره مناسبت	۲۰۹
	د ترجمة الباب مقصد	۲۰۹
	حدیث باب	۲۰۹
	رجال الحدیث	۲۰۹
	عثمان بن ابی شیبه	
	جریر بن عبدالحمید ضبی	
	منصور بن المعتمر کوفی	
	د ..رجل.. نه څوك مراد دي؟	۲۱۴
	روزانه وعظ کول مناسب نه دی	۲۱۴
	۳-بَابٌ مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ	
	ما قبل باب سره مناسبت	۲۱۵
	د ترجمة الباب مقصد	۲۱۵
	حدیث باب	۲۱۵
	رجال الحدیث	۲۱۶
	سعید بن عُفیر	
	ابن وهب	
	په دوی کښې د علم حاصلولو شوق څنګه پیدا شو؟	۲۱۸
	د امام نسائی او امام احمد رحمهما الله جرح او د هغې تردید	۲۱۹
	د قضاء عهده مسترد کولو حیله	۲۲۱
	د وفات واقعه	۲۲۱
	د بعضو امامانو جرح او د هغې تردید	۲۲۲
	حضرت معاویه رضی الله عنه	۲۲۴

شمیره	مضمون	صفحه
	په سیاست او حکومت کښې د حضرت معاویه رضی الله عنه حصه	۲۲۵
	د ،،مشاجرات صحابه رضی الله عنهم،، حکم	۲۲۵
	د حضرت معاویه رضی الله عنه وصیت	۲۲۶
	د حضرت معاویه نه د نقل شوو احادیثو تعداد	۲۲۶
	په عموم د ،،من،، باندې اشکال او د هغې جواب	۲۲۷
	د مذکوره جملې نحوی تحقیق	۲۲۸
	یو اشکال او د هغې جواب	۲۲۸
	د دې جملې دوه مطلبونه	۲۲۸
	آیا ټول امت به د الله تعالی په دین باندې قائم وی؟	۲۲۹
	په حدیث کښې کوم یو جماعت مراد دې؟	۲۲۹
	د حضرت کشمیری رحمه الله لطیف توجیه	۲۳۰
	د دې مطلب	۲۳۰
	د ،،امر الله،، نه څه مراد دې؟	۲۳۰
	په روایاتو کښې تعارض او د هغې دفعیه	۲۳۰
	د حدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت	۲۳۱
	۱۴- بَابُ الْفَهْمِ فِي الْعِلْمِ	
	ماقبل سره مناسبت	۲۳۱
	د ترجمة الباب مقصد	۲۳۱
	حدیث باب	۲۳۳
	رجال الحدیث	۲۳۳
	علی بن المدینی	
	د حافظ ذهبی په عقیلی باندې شدید تنقید	۲۳۵
	په اصول حدیث باندې رومبې تصنیف	۲۳۶
	ابن ابی نجیح متهم بالقدر وو؟	۲۳۷
	یو اشکال او د هغې جواب	۲۳۸
	په روایت د حدیث کښې د بدعت قادحه او غیر قادحه تفصیل	۲۳۹
	د تدلیس الزام او د هغې تحقیق	۲۴۰
	په امام مجاهد باندې د تدلیس الزام او د هغې تحقیق	۲۴۱
	د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په روایت کښې احتیاط	۲۴۳

صفحه	مضمون	شمیره

د حدیث ترجمة الباب سره مطابقت ۲۴۳
تنبیه ۲۴۴

۱۵- بَابُ الاِغْتِبَاطِ فِی الْعِلْمِ وَالْحِكْمَةِ

ماقبل باب سره مناسبت ۲۴۴
په ترجمة الباب کښې د علم او حکمت دواړو ذکرکولو وجه ۲۴۴
د حدیث نه د حضرت عمر رضی الله عنه مقصد ۲۴۵
د حضرت عمر رضی الله عنه د اثر ترجمة الباب سره مطابقت ۲۴۶
د حضرت عمر رضی الله عنه د اثر تخریج ۲۴۶
حدیث باب ۲۴۷
رجال الحدیث ۲۴۷
حمیدی
سفیان
اسماعیل بن ابی خالد ....
قیس بن ابی حازم ....
حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه
د «عَلَی غَیْرِمَاحَدَّثَنَاهُ الزُّهْرِیُّ» مطلب او ددې تصریح مقصد ۲۴۸
د حسد نه حقیقی معنی مراد ده او که غبطه مراد ده؟ ۲۴۹
په حق لاره کښې ټول مال خرچ کول اسراف نه دې ۲۵۰
یو سوال او دهغې جواب ۲۵۱

۱۶- بَابُ مَا ذُكِرَ فِی ذَهَابِ مُوسٰی علیه السّلام فِی الْبَحْرِ إِلَی الْخَضِرِ

ما قبل باب سره مناسبت ۲۵۱
د ترجمة الباب مقصد ۲۵۱
یو اشکال او د هغې توجیهات ۲۵۲
په ترجمة الباب باندې یو اشکال او د هغې جواب ۲۵۳
حدیث باب ۲۵۷
رجال الحدیث ۲۵۷
محمد بن غریر زهری ....
یعقوب بن ابراهیم ....

شمیره	مضمون	صفحه

ابی (ابراهیم بن سعد) ...
صالح (صالح بن کیسان) ..
ابن شهاب
عبیدالله بن عبدالله
عبدالله بن عباس رضی الله عنهما
الحربن قیس رحمه الله ......
ابی بن کعب ..
تنبیه ۲۵۸
یوه بله تنبیه ۲۵۸
ددوی په ثقاهت باندې کلام ۲۲۰
د حضرت ابی بن کعب ۲۲۳
فائده (ددوی د مرویاتو تعداد) ۲۲۴
دلته اختلاف په صاحب د موسی ﷺ کښې دې، وړاندې یو بل اختلاف هم دې ۲۲۵
د حضرت موسی ﷺ خپل خان ته اعلم وئیل ۲۲۲
حضرت خضر ﷺ ۲۲۲
د لفظ ..خضر.. ضبط ۲۲۲
خضر لقب دې او که نوم؟ ۲۲۲
په خضر سره د ملقب کیدو وجه ۲۲۲
د حضرت خضر ﷺ نوم او نسب ۲۲۷
د حضرت خضر ﷺ نبوت او ولایت ۲۲۷
حضرت خضر ﷺ تر اوسه پورې ژوندې دې او که ددوی وفات شوې دې؟ ۲۲۸
ددوی دحیات د منکرینو او مثبتینو دلائل ۲۲۹
راجح مذهب ۲۷۲
یوه اهمه خبره ۲۷۲
آیا علم باطن د علم ظاهر نه افضل دې؟ ۲۷۲
که شیخ د ناجائز حکم اوکړی نو مرید د پاره دهغې کول جائز نه دی ۲۷۳
دا استدلال هم قطعاً غلط دې ۲۷۳

شميره	مضمون	صفحه

۱۷- بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ

د تيرشوي باب سره ددې باب مناسبت ۲۷۴
د ترجمة الباب مقصد ۲۷۵
حديث باب ۲۷۶
رجال الحديث ۲۷۶
ابو معمر
عبدالوارث بن سعيد ......
خالد بن مهران الحذاء
په ،،حذاء،، لقب سره د مشهور کيدو وجه ۲۸۱
په حضرت عکرمه باندې درې الزامات او دهغې تحقيق او ترديد ۲۸۳
د علومو منتقل کولو يو صورت ۲۸۷
په يو روايت کښې د ،،علمه الکتاب،، په ځائې ،،علمه الحکمة،، وارد دي ۲۸۷
د نبي کريم ﷺ د دعا سبب ۲۸۷

۱۸- بَاب: مَتَى يَصِحُّ سَمَاعُ الصَّغِيرِ

تيرشوي باب سره ربط او مناسبت ۲۸۹
د ترجمة الباب مقصد ۲۸۹
د تحمل حديث په عمر کښې د علماؤ اختلاف او د هغوی دلائل ۲۹۰
حديث باب ۲۹۲
رجال الحديث ۲۹۲
عبيدالله بن عبدالله بن عتبه ......
يوه د عبرت واقعه ۲۹۴
د ،،حمار أتان،، تحقيق ۲۹۵
نکته ۲۹۵
د نبي کريم ﷺ د وفات په وخت د ابن عباس ﷠ عمر ۲۹۶
راجح قول ۲۹۷
د ،،إلى غير جدار،، مطلب ۲۹۷
د حضرت ابن عباس ﷠ استدلال ۲۹۸
ترجمة الباب سره انطباق ۲۹۸

شميره	مضمون	صفحه

حديث باب ۲۹۹
رجال الحديث ۲۹۹
محمد بن يوسف بيكندى ....
ابو مسهر بن عبدالاعلى
محمد بن حرب
الزبيدى (ابوالهزيل محمد بن الوليد) ....
محمود بن الربيع رضى الله عنه
يو اعتراض او دهغې جواب ۳۰۵
فائده ۳۰۲
ترجمة الباب سره دحديث مطابقت ۳۰۷

۱۹_ بَابُ الْخُرُوجِ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ وَرَحَلَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ إِلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُنَيْسٍ فِي حَدِيثٍ وَاحِدٍ

د مخكنى باب سره مناسبت ۳۰۸
د ترجمة الباب مقصد ۳۰۹
دذكرشوى حديث تخريج اونص دحديث ۳۱۱
دابن بطال رحمه الله يووهم ۳۱۲
دمعلقات بخارى رحمه الله متعلق يوه قاعده اوپه هغې اعتراض ۳۱۲
رجال الحديث ۳۱۴
ابو القاسم خالد بن خكى الاوزاعى ۳۱۴

۲۰= بَابُ فَضْلِ مَنْ عَلِمَ وَعَلَّمَ

دمخكنى باب سره ربط ۳۱۷
د ترجمة الباب مقصد ۳۱۷
رجال الحديث ۳۱۸
محمد بن الولاء
حماد بن اسامه
بريد بن عبدالله
په مثال اوممثل له كښې مطابقت ۳۲۸
د راهويه تلفظ ۳۳۱

شمیره	مضمون	صفحه

۲۱=بَاب رَفْعِ الْعِلْمِ وَظُهُورِ الْجَهْلِ

د مخکنی باب سره ربط او مناسبت ۳۳۴
د ترجمة الباب مقصد ۳۳۵
تنبیه ۳۳۶
دامام ربیعة الرای د ذکرشوی اثر تخریج ۳۳۷
د ذکرشوی اثرمطلب او د ترجمة الباب سره مناسبت ۳۳۷
رجال الحدیث ۳۳۸
عمران بن میسره ۳۳۹
دعلم د پورته کید و صورت ۳۴۰
رجال الحدیث ۳۴۲
مسدد .....
یحي .....
دامورخمسه د تخصیص وجه ۳۴۵

۲۲=بَاب فَضْلِ الْعِلْمِ

د مخکنی باب سره ربط او مناسبت ۳۴۶
د تکرارفی الترجمة اعتراض او د ترجمة الباب مقصد ۳۴۶
تنبیه ۳۴۸
رجال الحدیث ۳۴۹
عقیل بن خالد ۳۵۰
حمزه بن عبدالله بن عمر ۳۵۲
د پیو نه علم مراد اخستلو وجه ۳۵۳
خوفوائد ۳۵۴
یوه شبه او دهغې جواب ۳۵۴
فائده ۳۵۴

۲۳=بَاب الْفُتْيَا وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى الدَّابَّةِ وَغَيْرِهَا

دمخکنی باب سره مناسبت ۳۵۴
دترجمې مقصد ۳۵۴
رجال الحدیث .....

صفحه	مضمون	شمیره

عیسی بن طلحه
فائده ۳۵۷
قوله أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ: ....
قوله فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ فَقَالَ اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ فَجَاءَ آخَرُ: ....
دیوم النحر څلورمناسك او په دې کښې د ترتیب حکم ۳۵۸
دحدیث د ترجمة الباب سره انطباق ۳۶۲

۲۳=بَابُ مَنْ أَجَابَ الْفُتْيَا بِإِشَارَةِ الْيَدِ وَالرَّأْسِ

د ترجمة الباب مقصد ۳۶۴
رجال الحديث ۳۶۵
موسی بن اسماعیل تبوزکی ....
قوله أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ فِي حَجَّتِهِ فَقَالَ ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ: ....
قوله قَالَ حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ وَلَا حَرَجَ: ....
رجال الحديث ۳۶۷
مکی بن ابراهیم
د «هرج» معنی ۳۷۰
رجال الحديث ۳۷۱
فاطمه بنت منذر بن زبیر ....
اسماء رضی الله عنها ....
دجنت او جهنم وجود ۳۷۲
مسئله د عذاب قبر ۳۷۷
تنبیه ۳۸۱
آیا دقبر سوال ددې امت سره مخصوص دې؟ ۳۸۲
آیا دقبرتپوس به د هرکس نه کیږی که صرف دمومن نه؟ ۳۸۳
آیا په قبرکښې به دماشومانو نه تپوس کیږي؟ ۳۸۴
فائده ۳۸۶
د احادیث باب ترجمة الباب سره انطباق ۳۸۶

صفحه	مضمون	شميره

٢٥=بَاب تَحْرِيضِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى أَنْ يَحْفَظُوا الْإِيمَانَ

دباب سابق سره ربط ٣٨٧
د ترجمة الباب مقصد ٣٨٧
د ذكرشوى تعليق تخريج ٣٨٨
د ذكرشوى تعليق مقصد ٣٨٩
رجال الحديث ٣٨٩

٢٦=بَاب الرِّحْلَةِ فِي الْمَسْأَلَةِ النَّازِلَةِ وَتَعْلِيمِ أَهْلِهِ

د مخكنى باب سره مناسبت ٣٩١
د تكرارفى الترجمة شبه اودهغې جواب ٣٩١
د ترجمې مقصد ٣٩١
تنبيه ٣٩١
رجال الحديث ٣٩٢
عمر بن سعيد بن ابى حسين ......
عقبه بن الحارث رضى الله عنه
آيا په رضاعت كښې د يوې ښځې ګواهى معتبرده؟ ٣٩٥
د ترجمة الباب اثبات ٣٩٧

٢٧=بَاب التَّنَاوُبِ فِي الْعِلْمِ

د مخكنى باب سره مناسبت ٣٩٨
د ترجمة الباب مقصد ٣٩٨
رجال الحديث ٣٩٩
عبيد الله بن عبد الله بن ابى ثور
فائده ٤٠٠
يوه بله فائده ٤٠٠
دا ګاوندى څوك وو؟ ٤٠٢

٢٨=بَاب الْغَضَبِ فِي الْمَوْعِظَةِ وَالتَّعْلِيمِ إِذَا رَأَى مَا يَكْرَهُ

:مخكنى باب سره مناسبت ٤٠٥
: ترجمة الباب مقصد ٤٠٦
نبيه ٤٠٧
رجال الحديث ٤٠٧
،حمد بن كثير

شميره	مضمون	صفحه
	قوله قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَارَسُولَ اللّهِ لَاأَكَادُ أُدْرِكُ الصَّلاةَ مِمَّا يُطَوِّلُ بِنَا فُلَانٌ:	
	دا كس څوك وو؟........	
	قوله فَمَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْ يَوْمِئِذٍ:	
	قوله فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ مُنَفِّرُونَ فَمَنْ صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ:	
	قوله فَإِنَّ فِيهِمُ الْمَرِيضَ وَالضَّعِيفَ وَذَا الْحَاجَةِ:	
	رجال الحديث	۴۱۲
	يزيد مولى المنبعث:	
	زيد بن خالد جهني رضي الله عنه:	
	قوله أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ اللُّقَطَةِ:	
	په حديث باب كښې د ،،رجل،، نه څوك مراد دي؟	۴۱۳
	دلقطه لغوى تعريف	۴۱۵
	دالتقاط لقطه حكم	۴۱۵
	د انتفاع باالمقطه حكم	۴۱۸
	كه لقطه ختمه شى اومالك ئې پيدا شى نو تاوان به وى كه نه؟	۴۲۴
	د صاحب لقطه په ذمه د لقطه واپس كول كله واجب دى؟	۴۲۵
	داوبنس التقاط صحيح دې كه نه؟	۴۲۲
	رجال الحديث	۴۲۸
	آيا دا دعلم غيب دعوه نه ده؟	۴۳۰
۲۹	بَابُ مَنْ بَرَكَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ عِنْدَ الْإِمَامِ أَوِ الْمُحَدِّثِ	
	مخكنى باب سره مناسبت	۴۳۱
	د ترجمة الباب مقصد	۴۳۱
	رجال الحديث	۴۳۲
	ابواليمان رحمه الله:	
	انس بن مالك رضي الله عنه:	
	قوله أَنَّ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فَقَامَ عَبْدُ اللّهِ بْنُ حُذَافَةَ فَقَالَ مَنْ أَبِي فَقَالَ:	
	قوله ثُمَّ أَكْثَرَ أَنْ يَقُولَ سَلُونِي:	
	قوله فَقَالَ رَضِينَا بِاللّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا فَسَكَتَ:	
	تنبيه	۴۳۴

شميره	مضمون	صفحه

۳۰=بَابٌ مَنْ أَعَادَ الْحَدِيثَ ثَلَاثًا لِيُفْهَمَ عَنْهُ فَقَالَ أَلَا وَقَوْلُ الزُّورِ

دمخکنی باب سره مناسبت ۴۳۴

د ترجمة الباب مقصد ۴۳۴

رجال الحديث ۴۳۷

عبدة رحمه الله: ....

عبدالصمد رحمه الله: ....

عبدالله بن المثنى رحمه الله: ....

ثمامه بن عبدالله رحمه الله: ....

قوله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَلَّمَ سَلَّمَ ثَلَاثًا: ....

قوله وَإِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا: ....

تنبيه ۴۴۴

قوله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتَّى تُفْهَمَ عَنْهُ: ....

قوله وَإِذَا أَتَى عَلَى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلَاثًا: ....

۳۱=بَابُ تَعْلِيمِ الرَّجُلِ أَمَتَهُ وَأَهْلَهُ

د مخکنی باب سره مناسبت ۴۴۲

د ترجمة الباب مقصد ۴۴۲

رجال الحديث ۴۴۸

المحاربي رحمه الله (عبدالرحمن بن محمد بن زياد): ....

صالح بن حيان رحمه الله: ....

قوله قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ: ....

تنبيه ۴۵۰

ايا دوه اجرونه په درې کسانو کښې محصور دي؟ ۴۵۱

دوه اجرونه اجرسره د درې کسانو تخصيص وجه ۴۵۲

داهل کتابو نه څوك مراد دي؟ ۴۵۴

اهل کتاب دلته عام دی او که هغه خلق مراد دی چاچه تحريف او تبديلی نه ده کړې؟ ... ۴۵۸

دتضاعف اجر دا حکم دنبی ﷺ د زمانې پورې خاص دې او که عام دې؟ ۴۵۹

يو اشکال او هغې جواب ۴۶۱

مصادر ومراجع کشف الباری دريم جلد ۴۶۳

فہرس اسماء من ترجم لهم علی حروف الهجاء

شمیرہ	مضمون	صفحہ
(۱) ⇦	ابراهیم بن سعد زهری	۲۵۸
(۲) ⇦	ابراهیم بن المنذر	۵۱
(۳) ⇦	ابن ابی نجیح (عبدالله بن یسار)	۲۳۶
(۴) ⇦	ابن راهویه (اسحاق بن ابراهیم حنظلی)	۳۳۰
(۵) ⇦	ابن عون (عبدالله بن عون بن رطبان بصری)	۱۷۷
(۶) ⇦	ابن المدینی (علی بن عبدالله بن جعفر)	۲۳۴
(۷) ⇦	ابن وهب (عبدالله بن وهب)	۲۱۷
(۸) ⇦	ابواحمد (محمد بن یوسف بیکندی)	۲۹۹
(۹) ⇦	ابواسامه (حماد بن اسامه)	۳۱۹
(۱۰) ⇦	ابوبرده (برید بن عبدالله بن ابی برده)	۳۲۲
(۱۱) ⇦	ابوبشر (جعفر بن ایاس یشکری)	۴۴۵
(۱۲) ⇦	ابوالتیاح (یزید بن حمید)	۲۰۲
(۱۳) ⇦	ابوالحسن (محمد بن مقاتل مروزی)	۱۲۳
(۱۴) ⇦	ابوعاصم النبیل (ضحاک بن مخلد)	۱۲۲
(۱۵) ⇦	ابوالعالیه (ابراء)	۹۲
(۱۶) ⇦	ابوالعالیه الریاحی (رفیع بن مهران)	۹۳
(۱۷) ⇦	ابوالقاسم (خالد بن خلی الکلاعی)	۳۱۴
(۱۸) ⇦	ابوکریب (محمد بن العلاء همدانی کوفی)	۳۱۹
(۱۹) ⇦	ابومره مولی عقیل بن ابی طالب	۱۲۹
(۲۰) ⇦	ابومهر (عبدالاعلی بن مسهر)	۳۰۰
(۲۱) ⇦	ابومعمر (عبدالله بن عمرو بن ابی الحجاج المنقری المقعد	۲۷۲
(۲۲) ⇦	ابوواقد لیثی	۱۷۰
(✿) ⇦	ابوالهذیل (اوکورئ الزبیدی)	۳۰۲
(۲۳) ⇦	ابی بن کعب ﷛	۲۲۲

شمیرہ	مضمون	صفحہ
(✿)	⇦ اسحاق بن ابراہیم (اوکوریٔ ابن راہویہ)	۳۳۰
(۲۴)	⇦ اسحاق بن عبداللہ بن ابی طلحہ	۱۲۸
(۲۵)	⇦ اسماء بن ابی بکر صدیق	۳۷۳
(۲۶)	⇦ الاوزاعی (عبدالرحمن بن عمرو)	۳۱۲
(✿)	⇦ البراء (اوکوریٔ ابوالعالیہ)	۹۲
(✿)	⇦ برید بن عبداللہ بن ابی بردہ (اوکوریٔ ابوبردہ)	۳۲۲
(۲۷)	⇦ بشر بن المفضل	۱۷۲
(۲۸)	⇦ بندار (محمد بن بشار)	۲۰۳
(۲۹)	⇦ ثابت بن اسلم البنانی	۱۴۲
(۳۰)	⇦ ثمامہ بن عبداللہ بن انس بن مالک	۴۴۴
(۳۱)	⇦ جریر بن عبدالحمید ضبی	۲۱۱
(۳۲)	⇦ الحر بن قیس	۲۲۳
(✿)	⇦ حماد بن اسامہ (اوکوریٔ ابواسامہ)	۳۱۹
(۳۳)	⇦ حمزہ بن عبداللہ بن عمر بن الخطاب	۳۵۲
(۳۴)	⇦ الحمیدی (ابوبکر عبداللہ بن الزبیر)	۸۲
(۳۵)	⇦ خالد بن خلی الکلاعی	۳۱۴
(۳۶)	⇦ خالد بن مخلد القطوانی	۱۰۹
(۳۷)	⇦ خالد بن مہران الحذاء	۲۸۰
(۳۸)	⇦ ربیعۃ الرائی (ربیعہ بن ابی عبدالرحمن فروخ)	۳۳۲
(✿)	⇦ رفیع بن مہران (اوکوریٔ ابوالعالیہ)	۹۳
(۳۹)	⇦ الزبیدی (ابوالہذیل محمد بن الولید)	۳۰۲
(۴۰)	⇦ زید بن خالد الجہنی رضی اللہ عنہ	۴۱۴
(۴۱)	⇦ سعید بن عفیر (سعید بن کثیر بن عفیر)	۲۱۲
(۴۲)	⇦ سفیان بن عیینہ	۸۴
(۴۳)	⇦ سلیمان بن بلال قرشی تیمی	۱۱۰
(۴۴)	⇦ سلیمان بن المغیرہ قیسی بصری	۱۴۴

شمیرہ	مضمون	صفحہ
۴۵	⇦ شریک بن عبداللہ بن ابی نمر	۱۲۲
✿	⇦ صالح بن حی (او گوری صالح بن حیان)	۴۵۰
۴۶	⇦ صالح بن حیان بن صالح (او گوری صالح بن حیان)	۴۵۰
✿	⇦ الضحاک بن مخلد (ابو عاصم النبیل)	۱۲۲
✿	⇦ عبدالرحمن بن محمد بن زیاد (او گوری المحاربی)	۴۴۸
۴۷	⇦ عبدالصمد بن عبدالوارث بن سعید تمیمی تنوری	۴۳۸
۴۸	⇦ عبداللہ بن حذافہ سہمی رضی اللہ عنہ	۱۲۰
۴۹	⇦ عبداللہ بن دینار	۱۱۲
✿	⇦ عبداللہ بن الزبیر ابوبکر (او گوری الحمیدی)	۸۲
✿	⇦ عبداللہ بن عمرو بن ابی الحجاج (او گوری ابو معمر)	۲۷۲
✿	⇦ عبداللہ بن عون بن ارطبان (او گوری ابن عون)	۱۷۷
۵۰	⇦ عبداللہ بن مثنی بن عبداللہ بن انس بن مالک	۴۳۹
✿	⇦ عبداللہ بن وھب مصلی (او گوری ابن وھب)	۲۱۷
✿	⇦ عبداللہ بن یسار (او گوری ابن ابی نجیح)	۲۳۲
۵۱	⇦ عبدالوارث بن سعید	۴۳۸
۵۲	⇦ عبدۃ بن عبداللہ بن عبدۃ الخزاعی الصفار	۴۳۸
۵۳	⇦ عبیداللہ بن عبداللہ بن ابی ثور	۴۰۰
۵۴	⇦ عبیداللہ بن عبداللہ بن عتبہ بن مسعود	۱۵۹
۵۵	⇦ عثمان بن ابی شیبہ	۲۰۹
۵۶	⇦ عقبہ بن الحارث	۳۹۴
۵۷	⇦ عقیل بن خالد بن عقیل	۳۵۰
۵۸	⇦ عکرمہ مولی ابن عباس	۲۸۳
۵۹	⇦ علی بن عبدالحمید ازدی	۱۴۰
✿	⇦ علی بن عبداللہ بن جعفر (او گوری ابن المدینی)	۲۳۴
✿	⇦ علی بن مدینی	۲۳۴
۶۰	⇦ عمر بن سعید بن ابی حسین	۳۹۲

شمیرہ	مضمون	صفحہ
۶۱	عمران بن میسرہ	۳۳۹
۶۲	عیسیٰ بن طلحہ بن عبید اللہ	۳۵۷
۶۳	فاطمہ بنت المنذر بن الزبیر	۳۷۲
۶۴	فلیح بن سلیمان	۵۳
۶۵	مالک بن الحویرث رضی اللہ عنہ	۳۸۸
۶۶	مجاہد بن جبر مکی	۲۴۱
۶۷	المحاربی (عبد الرحمن بن محمد بن زیاد)	۴۴۹
✿	محمد بن بشار (او کورئ بندار)	۲۰۳
۶۸	محمد بن حرب الخولانی	۳۰۲
۶۹	محمد بن الحسن الواسطی	۱۱۹
۷۰	محمد بن سنان	۴۷
✿	محمد بن العلاء (او کورئ ابو کریب)	۳۱۹
۷۱	محمد بن غریر الزہری	۲۵۸
۷۲	محمد بن فلیح	۵۳
۷۳	محمد بن کثیر عبدی بصری	۴۰۸
✿	محمد بن مقاتل مروزی (او کورئ ابو الحسن)	۱۲۳
✿	محمد بن الولید (او کورئ الزبیدی)	۳۰۲
✿	محمد بن یوسف بیکندی (او کورئ ابو احمد)	۲۹۹
۷۴	محمد بن یوسف فریابی	۱۹۸
۷۵	محمود بن الربیع رضی اللہ عنہ	۳۰۳
۷۶	معاویہ بن ابی سفیان رضی اللہ عنہ	۲۲۴
✿	المقعد (او کورئ معمر)	۲۷۲
۷۷	المکی بن ابراہیم	۳۲۷
۷۸	منصور بن المعتمر	۲۱۳
۷۹	موسیٰ بن اسماعیل تبوذکی	۳۲۵
✿	النبیل (او کورئ ابو عاصم)	۱۲۲

شمیره	مضمون	صفحه
﴿۸۰﴾ ⇦	هلال بن علی	۵۴
﴿٭﴾ ⇦	یزید بن حمید (او کورئ ابو التیاح)	۲۰۲
﴿۸۱﴾ ⇦	یزید مولی بن المنبعث	۴۱۳
﴿۸۲﴾ ⇦	یعقوب بن ابراهیم بن سعد زهری	۲۵۸
﴿۸۳﴾ ⇦	یوسف بن ماهك	۶۳
﴿۸۴﴾ ⇦	یونس بن یزید ایلی	۲۲۲

بسم الله الرحمن الرحيم

غرض د مرتب

اللهم لك الحمد لا نحصي ثناءً عليك أنت كما أثنيت على نفسك ° اللهم لك الحمد كما ينبغي لجلال وجهك وعظيم سلطانك ° اللهم ما أصبح بنا من نعمة أو بأحد من خلقك فمنك وحدك لا شريك لك ° اللهم لك الحمد ولك الشكر ° اللهم صل وسلم و بارك على سيدنا و شفيعنا و مولانا محمد نبيك الأمي وعلى آله وأصحابه وتابعيهم ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين °

أما بعد!

د الله تعالى ډېر زيات كرم او نوازش دې.چه هغه خاص پخپل فضل سره د ,,كشف البارى،، د دريم جلد مكمل كولو توفيق راكړو.دا جلد د ,,كتاب العلم،، د رومبى نصف په تشريحاتو باندې مشتمل دې.او څلورم جلد به انشاءالله تعالى د ،،كتاب العلم،،د آخرى نصف په شرح او توضيح باندې مشتمل وى.

په دې جلد كښې هم الحمدلله دهغه ټولو امورو التزام باقاعده ساتلې شوې دې.د كومو اهتمام چه په تيرو شوو جلدونو كښې شوې وو.بلكه د بابونو په مينځ كښې مناسبت، د ابوابو د تراجمو د اغراضو، او مقاصدو توضيح او تراجم د رجال وغيره كښې د تيرو شوو جلدونو په مقابله كښې دځه قدرې توسع نه كار اخستلې شوې دې.

,,كشف البارى،، ته چه الله تعالى د عالمانو په حلقه كښې كوم عظيم مقبوليت وركړې دې دا خاص د الله رب العزت فضل او دهغه مهربانى ده.او بيا د حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم هغه علمى مقام او مرتبه ده.د كوم نه چه ټولې علمى حلقې واقف دى. دا كتاب د حضرت صاحب د ټول ژوند د تدريسى تجربو عطر او خلاصه ده.هم دا وجه ده. چه د ملك د هركوټ نه د كتاب مقبوليت كيږى.او ورځ تر ورځه ئې مطالبه (غوښتل) زياتيږى

مونږ دهغه اهل علم حضراتو ډېر زيات شكر گزار يو.كومو عالمانو چه ددې كتاب د تحقيقى انداز تعريف اوكړو.او زمونږ حوصله ئې اوچته كړله.خاص طور باندې د علم د سمندر عظيم شناور (لامبو وهونكې) او غواص (غوپې وهونكې)، زمونږ محترم استاذ شيخ الاسلام حضرت مولانا محمد تقى عثمانى صاحب دامت بركاتهم، او د ميدان علم شهسوار او د سلف د علومو امين حضرت مولانا مفتى نظام الدين صاحب شامزئ حفظهم الله تعالى ډېر زيات احسان مند يو.چه هغوى په كشف البارى باندې زبردستې تبصرې اوليكلې.ددې د ترتيب او تدوين او تحقيق او مراجعت تعريف ئې اوكړو.او د كتاب افاديت ئې ښكاره كړو.ددې نه زمونږه په حوصلو كښې اضافه اوشوه.الله تعالى دې دوى ته جزائې خير وركړى او ددوى د عاطفت (او مهربانۍ) سورې دې زمونږ په سرونو باندې هميشه دپاره قائم او دائم ساتى.او د علم تږى دې ددوى د علومو نه تر قيامته پورې سيراب ساتى. آمين.

مونږ ته د خپلې علمي كمزورئ او د تحقيق په ميدان كښې د خپلې ناتجربه كارئ نه صرف احساس دې بلكه ددې مكمل اعتراف هم دې.البته توكلاً على الله د حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم په حكم، او د دوى په توجهات او دعاګانو سره مو ددې عظيم خدمت بيړئ اوچته كړې ده. ډيره ممكن ده.چه په دې كښې دڅه قصد نه بغير غلطئ صادر شوې وى.د اهل علم حضراتو په خدمت كښې مؤدبانه ګزارش دې.چه په كتاب كښې څه قسمه غلطئ باندې نظر پريوځى.نو احقر مرتب دې ددې نه خبر كړى.اوددې نه علاوه د كتاب د ترتيب او تحقيق په سلسله كښې كه د كوم صاحب علم په ذهن كښې څه تجويز وى.نو مونږ ته دې راوليګى.مونږ به د ټولو عالمانو ډير احسان مند او شكر ګزار يو.

ددې كتاب د پروف ريډنګ او د طباعت د تيارئ په سلسله كښې د محترمو معززينو مولانا حبيب الله زكريا ، مولانا سليم الله زكريا صاحبان (چه دجامعه فاروقيه استاذان دى) او د مولانا شفيع الله صاحب (استاذ دارالعلوم كراچى) زه احسان مند يم.دې حضراتو ته دې الله تعالى جزائې خير وركړى.او علمي او عملي ترقئ دې وركړى.

په آخر كښې د ټولو قارئينو نه د حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم دپاره د خصوصي دعاګانو درخواست دې.چه الله تعالى دې د حضرت د عاطفت (او مهربانئ) سورې زمونږ په سرونو باندې هميشه دپاره قايم او دائم ساتى.او په ملك او بيرون ملكونو كښې چه د علمي افاداتو كومه سلسله د نصف صدى نه جارى ده.دا دې تر قيامته پورې جارى او قائم ساتى.

او د احقر مرتب او ددې معاونينو دپاره هم خصوصي دعا كوئ.چه دا آسان كړى.او زر تر زره د مكمل كولو توفيق راكړى.او پخپل دربار كښې د قبوليت شرف وركړى.او زمونږ دپاره، زمونږ استاذانو، مشائخو،مورپلار،او متعلقينو دپاره د آخرت ذخيره او ذريعه د نجات جوړه كړى.آمين.

نورالبشر بن محمد نورالحق عفاالله عنهما

استاذ و رفيق شعبهٔ تصنيف جامعه فاروقيه كراچى

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب العلم

د وحي، ايمان او علم په مينځ كښې ترتيب او مناسبت: امام بخارى رحمه الله د ،،كتاب الايمان،، نه د فراغت نه پس ،،كتاب العلم،، شروع كړې دې.د ،،كتاب العلم،، د مقدم كولو وجه دا ده. چه ايمان په اول واجب كيدو سره سره على الاطلاق افضل الامور هم دې.چه ايمان د علمى اوعملى هر خير مبداء او د هر كمال منشا ده.
بيا چونكه ايمان د ټولو اعمالو د قبوليت دپاره اساس او بنياد دې.او ددې په تقاضو باندې هغه وخت پورې عمل نشى كيدې.تر كومه پورې چه علم نه وى.په دې وجه نې ددې نه پس ،،كتاب العلم،، ذكركړو.ځكه چه د ټولو څيزونو صحت او د هغې حكم، په علم باندې موقوف دې.د علم په ذريعه د صحيح او سقيم فرق معلوميږى. البته د كتاب الوحى دټولو نه مقدم كولو وجه مونږ وړاندې ذكركړې ده. (١) چه سره د ايمان نه د دين د ټولو شرائعو مدار په وحى باندې دې.په دې وجه ئې دا د ټولو نه مقدم كړې ده. (٢)والله اعلم.
د علم حقيقت او ددې قسمونه: ددې نه پس پوهه شئ چه په ،،علم،، كښې اختلاف دې.چه آيا دا بديهى دې.او كه نظرى دې؟ د قاضى ابن العربي او امام فخرالدين رازى رحمهما الله رائې دا ده.چه علم بديهى دې.د تعريف ضرورت نشته. (٣)
امام الحرمين او ددوى شاګرد امام غزالى رحمهما الله فرمائى.چه دا نظرى دې.او نظرى كيدو سره سره متعسرالتحديد دې.نو ددې تعريف او تحديد، تقسيم او مثالونو په ذريعه كيږى. (٤)
حالانكه د متكلمينو يو جماعت وائى.چه علم نظرى دې.او ممكن التحديد دې.(٥) په دې وجه ددې ډير تعريفونه شوى دى. لكه چه
① بعضو حضراتو ددې تعريف كړې دې «صفة توجب لمحلها تمييزاً بين المعانى لايحتمل النقيض»
② بعضو حضراتو تعريف كړې دې «هو صفة يتجلى بها المذكور لمن قامت هى به» ددې نه علاوه نور تعريفونه هم شوى دى.(٦)

---

(١) كشف البارى (١\٢٠٧، ٢٠٩) بدء الوحى (١\٥٥٨) كتاب الإيمان)_
(٢)عمدة القارى (٢\٢) كتاب العلم)_
(٣) انظرعارضة الأحوذى (١٠\١١٤) فاتحة أبواب العلم والتفسير الكبير للرازى (٢\٢٠٣) المسألة السابعة فى أقوال اناس فى حد العلم تحت قوله تعالى ﴿وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا...﴾ _
(٤)عمدة القارى (٢\٢)_ وإتحاف السادة المتقين (١\٦٤) كتاب العلم الباب الأول فى فضل الله والتعلم ..)_
(٥) المصادرالسابقة)_
(٦) د ذكر شوو تعريفو نو علاوه د نورو تعريفاونو دپاره اوګورئ (اتحاف السادة المتقين (١\٦٤، ٦٥)_

۲ ملا علی قاری رحمه الله فرمائي. علم يو نور دې چه دا د مشكواة نبوت يعنى د محمد ﷺ د افعالو، اقوالو او احوالو نه مقتبس دې چه دا الله تعالى د مؤمن په زړه كښې اچوى. چه ددې په وجه هغه دپاره ښت امور واضح كيږى. او د هدايت لارې ورته كلاويږى. (۱)
او دوى فرمائي. چه د علم دوه قسمونه دى
۱ علم وهبى ۲ علم كسبى ـ كه علم بې د واسطې د بشر نه وى. نو هغه وهبى يا لدنى دې. گنى كسبى دې.
وحى الهام او فراست: بيا د علم وهبى درې قسمونه دى
۱ وحى ۲ الهام ۳ فراست.
وحى: وحى خو په لغت كښې ،،اشاره بسرعة،، ته وائي. او په اصطلاح كښې هغه كار ته وائي. كوم چه د الله تعالى د طرفه رسولانو باندې نازلولې شى. ددې زيات تفصيل د ،،بدء الوحى،، په مباحثو كښې تير شوې دې. (۲)
الهام: دا دې. چه الله تعالى د پردې دغيب نه دخه څيز علم د يو كس په زړه كښې واچوى. په ﴿قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ﴾ (۳) كښې هم دې طرف ته اشاره ده.
فراست: فراست هم يو قسم علم دې. چه دا په آثار او صور باندې نظر كولو سره حاصليږى.
په قرآن كريم كښې ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ﴾ راغلې دې. مفسرينو د ﴿مُتَوَسِّمِينَ﴾ تفسير په ،،متفرسين،، سره كړې دې. (۴) دغه شان په ترمذى كښې يو روايت دې «اتقوا فراسة المؤمن فإنه ينظر بنور الله» (۵)
بيا په فراست او الهام كښې فرق دا دې چه په دواړو كښې علم حاصليږى. خو په فراست كښې آثار او صور په ذريعه، او الهام كښې بغير د واسطې نه حاصليږى.
او په الهام او وحى كښې فرق دا دې. چه الهام د وحى تابع وى. وحى د الهام تابع نه وى. (۶)
بيا د علم بل تقسيم په اعتبار د معلوماتو دې
۱ يو علم المعامله ۲ او دويم علم المكاشفه، ـ په علم المعامله كښې كشف معلومات سره د عمل يعنى د اوامر او نواهى تعميل مقصود وى. او ددې دوه قسمونه دى.
۱ يو علم ظاهر ۲ دويم علم باطن.
علم ظاهر: نه مراد د جوارح د اعمالو علم دې. چه په دې كښې د عباداتو نه علاوه كوم اعمال پوره كولې شى. هغه هم داخل دى. او دعلم باطن د زړونو علم مراد دې. نو د عباداتو

---

(۱) مرقاة المفاتيح (۲۶۱۱) كتاب العلم)ـ
(۲) كشف البارى (۲۲۱۱، ۲۲۵)ـ
(۳) سبا :۴۸)ـ
(۴) قاله جعفر بن حمد. كما فى روح المعاى (۷۴۱۱۴) وانظر الجماع اللترمذى كتاب التفسير سورة الحجر)
(۵) جامع ترمذى كتاب تفسير القرآن باب ومن سورة الحجر رقم ۳۱۲۷)ـ
(۶) مرقاة المفاتيح (۲۶۴۱۱) كتاب العلم)ـ

يعنی د مونځ، روژې، زكاة او حج تعلق به علم ظاهر سره وی.او د سړی تواضع، مسکنت، رضا بالقضاء، توكل، صبر،او قناعت وغيره اختيارول،او د كبر،حسد،کینه او عناد، بغض، عجب او غرور، او حب دجاه ومال وغيره نه بچ كيدل، ددې ټولو نه د بچ کیدو تعلق به علم باطن سره وی.

ددې تفصيل نه معلومه شوه.چه جوارح سره متعلق د اعمالو دوه قسمونه دی

① يو هغه كوم چه د عبادت په طور پوره کولې شی

② او دویم هغه کوم چه په طور د عادت پوره کولې شی.

دغه شان زړونو سره د متعلق اعمالو هم دوه قسمونه دی

① يو قسم محمود دې.چه په دې سره متصف او ځان ښائسته کول مقصود دی.

② او دويم قسم مذموم دې.چه ددې نه اجتناب کول ضروری دی.(١)

ترکومه پورې چه د علم المكاشفه تعلق دې.په دې کښې صرف کشف معلومات کيږی.په دې کښې د علم تعلق نه وی.بیا ددې دوه قسمونه دی

① يو كشف تكوين ② كشف تشريع.

كشف تكوين: په دې کښې الله ﷻ د يو مؤمن په زړه کښې داسې نور پیدا کوی.چه په دې سره راروان واقعات او دغه شان تیر شوی واقعات معلوميږی.

كشف تشريع: په دې کښې دا کیږی.چه په زړه کښې د الله ﷻ د صفاتو نه د يو صفت علم تجلی کیږی.او هم دا حقیقی کشف دې.،،والله سبحانه وتعالى أعلم،،_

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

د اصیلی او کریمه په نسخو کښې هم دغه شان دی.یعنی وړاندې د ،، كتاب العلم،، عنوان دې.ددې نه پس ،، بسم الله الرحمن الرحيم،،ده.حالاتکه د ابوذر په روایت کښې ،،بسم الله،، مقدم ده.او د ،،كتاب العلم،، عنوان مؤخر دې.(٢)

۱-بَاب فَضْلِ الْعِلْمِ

امام بخاری رحمه الله دلته دا باب قائم کړې دې.دعلم تعریف او ددې اقسام وغيره ئې بيان نکړل.قاضی ابن العربی رحمه الله فرمائی.ددې وجه دا ده.چه د علم تعریف چونکه ډیر واضح دې.په دې وجه دتعريف دضرورت اونه ګنړلې شو.یاپه دې وجه (ذکرنکړې شو،چه) د څیزونو د حقائقو سراغ لګول (او لټون کول) ددې کتاب د موضوع نه خارج دې.دا دواړه و جوه بالكل واضح دی.ځکه چه د صحیح بخاری وضع د حقائقو د تحدید او تصویر دپاره نه دې

(١) إحياء علوم الدين مع شرح إتحاف السادة المتقين (٦٣٦١) قبيل كتاب العلم)_

(٢) فتح الباری (١١٠٤١)_

شوې.بلکه دا د عربو په قديم اسلوب باندې مبنى دې.چه کله د يو خيز حقيقت واضح وى.
نو براه راست د تشويق او ترغيب دپاره د مطلوب فضيلت بيانول شروع کوى.(۱) والله اعلم.
تنبيه: ددې وضاحت ضرورى دې.چه مونږ دعلم تعريف او ددې تقسيم سره متعلق مباحث نيزدې بيان کړى دى.،،فارجع اليه إن شئت،،

((وَقَوْلِ اللهِ تَعَالَى ﴿يَرْفَعِ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾ (المجادلة:۱۱) وَقَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ ﴿وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ (طه:۱۱٤)

د قول ،،الله،، اعراب: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه دا رفع سره ضبط شوې دې.خکه چه دا خو يا په کتاب باندې معطوف دې.يا د استيناف په وجه مرفوع دې.(۲)
علامه عينى رحمه الله دا مجرور گرخولې دې.هغه فرمائى.چه يا خو دا د ،،کتاب العلم،، په ،،العلم،، باندې معطوف دې.که ،،باب فضل العلم،، موجود نه وى.او که دا باب موجود وى.نو بيا د ،،باب،، مضاف اليه يعنى ،، فضل العلم،، باندې معطوف دې.او په هر صورت کښې مضاف اليه باندې د معطوف کيدو په وجه مجرور دې.(۳)
علامه عينى رحمه الله په حافظ رحمه الله باندې رد کوى.فرمائى.چه دلته د ،،قول،، مرفوع وئيلو کوم دوه صورتونه بيان کړې شوى دى.په دې کښې يو صورت هم ممکن نه دې.خکه که دا دلته د استيناف دپاره اومنلې شى.نو يا به استيناف بيانى منل ضرورى وى.يا استيناف نحوى.په دې کښې استيناف بيانى خکه صحيح نه دې.چه دا د سوال په جواب کښې راخى.او دلته هيخ سوال نشته.او استيناف نحوى خکه صحيح نه دې.چه په دې صورت کښې به ددې رفع يا د فاعل په وجه وى.يا به د ابتداء په وجه وى.دلته د فاعل جوړيدو دپاره هيخ فعل موجود نه دې.او د مبتدا جوړولو دپاره به د خبر ضرورت وى.حالانکه د خبر محذوف منلو هيخ مقام نه دې.نه وجوباً او نه جوازاً.(۴) علامه قسطلانى رحمه الله هم د عينى رحمه الله موقف اختيار کړې دې.(۵) خو که غور اوکړې شى.نو معلومه به شى.چه د علامه عينى رحمه الله دا ټول کلام خالص مجادله ده.
که دا استيناف بيانى اوګرخولې شى.نو کلام صحيح کيدې شى.خکه چه د مؤلف ترجمه دعوه وى.کله چه مؤلف اوفرمائيل.،،باب فضل العلم،،نو فوراً سوال پيدا شو.چه ستا ددې دعوې دليل څه دې؟ مؤلف فرمائى.،،قول الله تعالى...،،
اوکه دا استيناف نحوى اومنلې شى.نو هم صحيح دې.خکه که دا د فاعليت په وجه مرفوع

---

(۱) فتح البارى(۱/۱٤۰، ۱٤۱)۔
(۲) فتح البارى(۱/۱٤۱)۔
(۳) عمدة القارى(۲/٤)۔
(٤) المصدر السابق)۔
(٥) إرشاد السارى(۱/۱۵۳)۔

دي.نو فعل به دلته ،،يدل،، محذوف وي «أي يدل عليه قول الله تعالى...» اوكه دا د ابتداء په وجه مرفوع اومنلي شي.نو محذوف خبر به ،،فيه،، وي «أي بيان فضل قول الله تعالى...» دلته هم د محذوف قرينه دا ده.چه دا خبره ښكاره ده.چه آيت د علم د فضيلت دليل دي.او دليل پخپل مدلول باندې دال او ددې دپاره مبين وي.نو كله چه دلته كښې «قول الله...» فاعل جوړ كړې شي.نو د ،،يدل،، فعل به محذوف وي.او كه دا مبتدا جوړكړې شي.نو «فيه بيان الفضل» به خبر مقدم جوړولې شي.كوم چه محذوف دې.(١) والله اعلم.

د مذكوره ايتونو نه د ترجمې اثبات: امام بخارى رحمه الله دلته د خپلې ترجمې د اثبات دپاره دوه آيتونه ذكر كړى دى

① رومبي آيت ﴿يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ﴾ پوره آيت داسې دې. ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝﴾(٢) ددې آيت نه د علم فضيلت په دې طريقه ثابت دې.چه په دې كښې رفع د درجاتو ورانديې عامو مسلمانانو دپاره ثابت كړې شوې ده.چه په دې كښې عالمان هم داخل دى.بيا ددې تعميم نه پس ئې د علم خاوندان خصوصيت سره ذكركړى دى.چه دا ددوى د فضيلت او مقام او مرتبې دليل دې.

دغه شان دلته د درجاتو د اوچتيدو اثبات چونكه د ايمان او د علم خاوندانو دپاره ثابت كړې شوى دى.او دا خبره معلومه ده.چه اهل ايمان ته په غير اهل ايمان باندې، او اهل علم ته په غير اهلم علم باندې فضيلت حاصل دې.

② دويم آيت ﴿رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ۝﴾ (٣)دې.ددې نه د فضيلت اثبات يا خو په دې طريقه دې.چه په دې كښې الله تعالى په علم كښې دزياتوالى طلب كولو حكم وركړې دې.ښكاره ده چه الله ﷻ نه به د يو څيز د زياتوالى طلب هغه وخت كولې شي.كله چه په دې كښې څه فضيلت وى.

بيا دلته دا خبره هم قابل دغور ده.چه په دې آيت كښې الله تعالى خپل هغه پيغمبر ته دعلم د زياتوالى حكم وركوى.چاته چه الله رب العزت هرقسمه كمالات وركړى وو.اوچاته ئې چه د اولين او آخرين علم وركړې وو.ددې باوجود هغوى ته د نفس علم طلب كولو امر نه كوى.بلكه په علم كښې د زياتوالى امر وركوى.والله اعلم.

د علم نه مراد دلته علم دين دې: دلته دعلم نه علم دين مراد دې.د كوم د تعليم دپاره چه جبرئيل امين راغلې وو.او ددې علم دين طلب په هر سړى او ښځه باندې فرض دې.(٤)

ددې تفصيل دا دې. چه داسې تول امور دكومو اداكول چه انسان باندې فرض گرځولى

---

١) حاشية السندى على صحيح البخارى (٣٩/١)_

٢) المجادلة:١١)_

٣) طه:١١٤)-

٤) فتح البارى(١٤١/١)_

شوى دى.د هغې علم حاصلول هم فرض دې.خو د واجب امورو علم حاصلول واجب دې.او د مسنون او مندوب امورو علم حاصلول مسنون او مستحب دې.او د قرآن او سنت د ټولو علومو حاصلول، او په دې کښې کمال پیدا کول فرض کفایه دې.فرض عین نه دې.

نن صبا چه په سکولونو او کالجونو کښې کوم دنیوی علوم ښودلې کیږی.هغه مطلوب علم نه دې.یعنی دې ته به فرض عین نه ونیلې کیږی.بعض په دې کښې د فرض کفایه په درجه کښې راځی.که دا د مخلوق د فائدو دپاره ضروری وی.او د شریعت په خلاف امورو باندې مشتمل نه وی.یا به دې ته صرف د جواز درجه ورکولې شی.خو کوم علوم چه په داسې امورو باندې مشتمل دی.د کومو چه په شریعت کښې دسره گنجائش نشته.نو دهغې حاصلول به ناجائز وی.ددې نه د زیات تفصیل دا موقعه نه ده.

په قرآن کریم کښې د الله تعالی ارشاد دې. ﴿فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ۝ ذَٰلِكَ مَبْلَغُهُم مِّنَ الْعِلْمِ﴾[1] او په حدیث شریف کښې دی.((إن من العلم جهلا))[2] رشتیا دی چه

~ علمی که راهِ حق نمی آید جهالت است

مولف رحمه الله د مذکوره ترجمې لاندې یو مسند حدیث ولې ذکر نکړو؟ دلته په دې خبره پوهیدل پکار دی. چه امام بخاری رحمه الله ددې باب لاندې صرف دوه آیتونه ذکرکړی دی.هیڅ مسند حدیث ئې نه دې ذکرکړې.دا هغه رومبې باب دې.کوم ځائې چه امام بخاری رحمه الله صرف ترجمه ذکرکړې ده.او هیڅ یو مسند حدیث ئې نه دې راوړلې.

علامه کرمانی رحمه الله د بعض اهل شام نه نقل کړی دی.چه امام بخاری رحمه الله وړاندې تراجم د ابوابو قائم کړی وو.بیا ئې تدریجاً دهغه بابونو لاندې د احادیثو ذکر کول شروع کړی وو.نو ددې لاندې هغوی هیڅ یو حدیث ذکر نکړې شو.یا خو ددې وجه دا راپیښه شوه.چه د هغوی د شرط مطابق یو حدیث هم نه وو.یا ئې په بله څه وجه حدیث ذکر نکړې شو.([3])

دوی د بعضو اهل عراق نه نقل کړی دی.چه په اصل کښې امام بخاری رحمه الله ترجمه قائم کړې ده.او قصداً عمداً ئې حدیث ذکر نکړو.ددې ښودلو دپاره چه په دې باب کښې ددوی په نیز هیڅ څیز ثابت نه دې.([4])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه هرکله د امام بخاری رحمه الله مقصد دا بیانول وی.چه په دې باب کښې هیڅ یو څیز ددوی د شرط مطابق نه دې.نو په داسې موقع باندې دوی ترجمه قائموی.او یو آیت یا اثر هم نه ذکرکوی.او کله چه آیت یا اثر ذکر کوی.نو ددې مطلب د آیت په تفسیر کښې وارد روایاتو او آثارو طرف ته اشاره وی.اگرچه دا دهغوی د شرط مطابق نه

---

[1] النجم:۲۹، ۳۰)_

[2] الحدیث بتمامه إن من البیان سحراً وإن من العلم جهلاً وإن من الشعر حکماً وإن من القول عیالاً أخرجه أبوداود فی سننه فی کتاب الأدب باب ما جاء فی الشعر رقم ۱۲، ۵۰) عن بریدة بن الحصیب رضی الله عنه مرفوعاً)_

[3] شرح الکرمانی(۲\۱۲، ۳)_

[4] شرح الکرمانی(۳\۱۲)_

وى.دغه شان د اثر راوړلو نه دې خبرې طرف ته اشاره مقصود وى.چه ددې نه د مرفوع روايت تقويت كيږى.اګرچه د قوت حاصليدو باوجود هغه ددوى د شرط موافق نه وى.(١)
حافظ ابن حجر رحمه الله د علامه كرمانى رحمه الله ذكر شوو احتمالاتو نقل كولو نه علاوه يو احتمال دا هم ذكركړې دې.چه امام بخارى رحمه الله د ترجمې لاندې كوم دوه آيتونه ذكر كړى دى.په دې باندې ئې اكتفاء كړې ده.(٢)
د عالم د بقاء راز په علم كښې پټ دې: حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى.چه د ترجمة الباب اثبات په راروان باب كښې راتلونكى روايت سره كيږى.په هغې كښې دى.«اذا وسد الأمر إلى غير أهله فانتظر الساعة» ددې روايت نه د علم فضيلت په دې طريقه ثابتيږى.چه په دې حديث كښې ښودلې شوى دى.چه كله كار نا اهلو خلقو ته اوسپارلې شى.نو قيامت به نيزدې راشى.ګويا د عالم نظام به باقى پاتې نشى.ددې نه معلومه شوه.چه د عالم د بقاء راز په علم كښې پټ (پروت) دې.(٣) چونكه نا اهله كيدل د علم د فقدان په نتيجه كښې ښكاره كيږى.او يا د علم په تقاضا باندې د عمل نه كولو په صورت كښې ښكاره كيږى.
حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله چه دلته كوم مسند حديث ذكر نكړو.ددې دوه وجې دى
① يو داچه د علم فضيلت چونكه د ډيرو جهاتو نه ثابت دې.كه دلته ئې څه خاص حديث ذكر كړې وې.نو كيدې شوه.چه يو كس دا ګڼړلې وې.چه د علم بس صرف هم دا يو فضيلت دې.په دې وجه مصنف رحمه الله څه خاص روايت ذكر نكړو
② او دويمه وجه دا ده.چه روستو يو روايت راروان دې.چه د هغې نه ترجمه ثابتيږى.او هغه د راروان باب روايت دې.(٤)
د حضرت شيخ الهند رحمه الله عجيبه تحقيق: د مجردو تراجمو(چه حديث پكښې ذكر نه وى) په سلسله كښې حضرت شيخ الهند رحمه الله يوه قاعده بيان كړې ده.د هغې خلاصه دا ده.چه په بخارى شريف كښې تقريباً د سلو نه زيات مقامات داسې دى.چه هلته كښې صرف ترجمة الباب مذكور دې.خو د هغې لاندې هيڅ يو مسند حديث نشته.دغه تراجم په مجردو تراجمو سره تعبيرولې شى.ځكه چه دا مجرد تراجم دى. چه مسند حديث پكښې ذكر نه وى.
بيا ددې دوه قسمونه دى.
① بعضې تراجم داسې دى.چه هلته امام بخارى رحمه الله ترجمه قائم كړې ده.او دهغې لاندې ئې مسند حديث نه دې ذكركړې.البته آيت. يا معلق حديث. يا څه اثر ئې ذكركړې دې. داسې تراجم تقريباً دوه اتيا (٨٢) دى دې ته «تراجم مجرده غير محضه» وائى

---

(١) فتح البارى (١٤١\١)-
(٢) المصدر السابق-
(٣) لامع الدرارى (٢\٥١.٣)-
(٤) تعليقات لامع الدرارى(٤\٢)-

④ بعضې تراجم داسې دی.چه هلته امام بخاری رحمه الله آیت نه ترجمه جوړه کړې ده.د هغې لاندې نې نه څه مسند حدیث ذکرکړې دې.او نه نې څه معلق حدیث، یا څه اثرذکر کړې دې. د داسې تراجمو تعداد تقریباً څوارلس دې.دې ته..تراجم مجرده محضه صوریه.. ونیلې شی.د صوریه ونیلو وجه دا ده.چه دا تراجم صورتاً د دلیل نه خالی دی.گنی په حقیقت کښې د دلیل نه خالی نه دی.ځکه چه د مصنف رحمه الله کومه دعوه ده.هغه ددې دلیل دې.گویا دا داسې شوه.لکه چه ونیلې شی.«دعوی دلیلها معها»

⑤ بعضې تراجم داسې دی.چه هلته امام بخاری رحمه الله د خپل قول نه ترجمه جوړه کړې ده.د آیت نه نې نه ده جوړه کړې.او بیا نې ددې لاندې د آیت. مسند یا معلق حدیث یا اثر وغیره نه هیڅ نه دی ذکرکړی.داسې تراجم تقریباً نهه دی.دهغې نوم ..تراجم مجرده حقیقیه.. دې. په دې کښې رومبنو دواړو قسمونو ته د هیڅ دلیل ضرورت نشته.ځکه چه قسم اول سره د آیت یا معلق حدیث یا اثر په صورت کښې دلیل موجود دې.او په دویم قسم کښې دعوه او دلیل یو دې.بس صرف دومره فرق دې.چه په قسم اول کښې د دعوې نه پس دلیل دې.او په دویم قسم کښې د دعوې سره دلیل دې.

البته دلته دومره سوال ضرور پیدا کیږی.چه مؤلف د خپل عام طرز خلاف ولې اوکړل؟ ددوی عادت خو دا دې.چه هغوی د ترجمې راوړلو نه پس مسند حدیث راوړلې وې.اوس کیدې شی چه ددې وجه دا ده.چه مؤلف ته هیڅ حدیث ددوی د شرط مطابق ملاو نشو.یا دا اوونیلې شی.چه مؤلف وړاندې یا روستو یو حدیث داسې ذکرکړې دې.چه د هغې نه دا ترجمه ثابتیږی.مؤلف د تکرار نه د بچ کیدو په وجه، یا د طالبانو د تشحیذ اذهان (ذهن تیزولو) په غرض سره مسند حدیث ددې ترجمې سره ذکر نکړو.

ترکومه پورې چه د دریم قسم تعلق دې.نو ددې متعلق عرض دې.چه نیزدې نیزدې یو روایت داسې ضرور وی.چه ددې نه دا ترجمه راوځی.سوا د دوو دریو تراجمو نه، چه هلته نیزدې هیڅ روایت نشته.خو هغه بالکل بې دلیله نه دی.بلکه لږ لرې وړاندې یا روستو به یو روایت داسې ضرور ملاویږی چه د هغې نه به دا ترجمه ثابتیږی.(١)

نو اوس به مونږ دا وایو.چه دا ترجمه د مجردو تراجمو د قسم اول څخې دې.یعنی دا..ترجمه مجرده غیر محضه..ده.او د ترجمې دلیلونه هغه دواړه آیتونه دی.کوم چه ددې لاندې ذکرکړې شوی دی

پاتې شوه دا خبره چه مؤلف مسند حدیث ولې ذکرنکړو؟ ددې منشاء خو دا ده.چه دوی ته هیڅ یو حدیث د شرط مطابق ملاو نشو.یا دا اوونیلې شی. چه نیزدې د یو روایت نه ددوی مدعا ثابتیږی.او دغه روایت د راتلونکی باب لاندې راروان دې.،،کما سیق بیانه،،

او حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمانی.په دې باب کښې نې مسند حدیث بیان نکړو.دوه آیتونه کوم چه ترجمې سره ذکر دی.و د ترجمې د اثبات دپاره هر یو آیت کافی دې.په هغې نې

---

(١) الأبواب والتراجم لشیخ الهند قدس الله روحه (١١\١٣)_ و(٦٤، ٦٥)_

اكتفاء اوكړله.ددې نه علاوه په كتاب العلم كښې ځائې په ځائې مسنده احاديث چه په فضيلت دعلم باندې دلالت كوى. كثرت سره موجود دى.

فائده ياد ساتئ.چه هسې خو په فضيلت دعلم كښې ډير حديثونه دى.په هغې كښې د ټولو نه زيات واضح روايت د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث ((ومن سلك طريقا يلتمس فيه علما سهل الله له به طريقا إلى الجنة.....)) چه ددې تخريج امام مسلم رحمه الله كړې دې. (١) چونكه ددې په سند كښې لږ كلام دې.او دا د امام بخارى رحمه الله د شرط موافق نه وو.په دې وجه دوى دا حديث نقل نكړو.تفصيل به انشا ءالله په ((باب العلم قبل القول والعمل)) كښې راشى.

د،تكرار فى الترجمه، اعتراض، دهغې جواب او د ترجمې مقصود: دلته.په دې خبره هم پوهيدل پكار دى.چه امام بخارى رحمه الله بعينه هم دا ترجمه روستو د ((باب رفع العلم و ظهور الجهل)) نه پس هم قائم كړې ده. سوال دا دې.چه دا تكرار دكوم غرض دپاره دې؟ علامه عينى رحمه الله فرمائى. چه په صحيح نسخو كښې دلته د ،،كتاب العلم،، نه پس د ،،باب فضل العلم ،،د سره وجود نشته.بلكه براه راست ،،وقول الله تعالى....،، دې.اوكه د نورو نسخو مطابق اومنلې شى.چه دلته ،،باب فضل العلم،، ترجمه موجود ده.نو تفريق به په دې طريقه كولې شى.چه دلته د علماو فضيلت بيانول مقصود دې.او روستو په راتلونكى باب كښې د علم فضيلت بيانول مقصود دى.نو تكرار لازم نشو. (٢)

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى.چه په دواړو بابونو كښې تكرار نشته. ځكه چه لته د ،،فضل العلم،،نه فضيلت د علم مراد دې.او په راتلونكى باب كښې ،،فضل،، په معنى د ،،فضله،، يعنى زائد دې.ګويا امام بخارى رحمه الله دا فرمائيل غواړى.چه كه علم زائد وى.نو په هغې څه اوكړې شى.دوى چه هلته كښې كوم روايت پيش كړې دې.يعنى ((بينا أنا نائم أوتيت بقدح لبن، فشربت حتى إني لأرى الري يخرج من أظفاري، ثم أعطيت فضلي عمر بن الخطاب، قالوا: فما أولته يا رسول الله؟ قال: العلم)) ددې نه معلومه شوه.چه بل ته وركول جائز دى.(٣)

او دعلم زائد كيدو مختلف صورتونه دى.

① يو دا چه سړې د خپل ضرورت نه زياتې مسئلې زده كړى.مثلاً يو ګوډ سړې دې.هغه پخپله د جهاد قابل نه دې.خو د جهاد مسئلې زده كړى.چه نورو خلقو ته ئې اوښائى.(٤)

② دويم صورت دا دې.چه د يو استاذ نه خپل مقصود حاصل شوې وى.نو دهغه وخت فارغ

---

١) صحيح مسلم (٣٤٥\٢) كتاب الذكر والدعاء والتوبة والإستغفارباب فضل الإجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر)_

٢) عمدة القارى (٣١٢،) و(٨٥\٢)_

٣) شرح الكرمانى(٣١٢)_

٤) الأبواب والتراجم از شيخ الهند قدس الله سره (ص٥٠)_

كړې شي.چه نور خلق دده نه علم حاصل كړى

③ دريم صورت دا دې.چه سړى سره د ضرورت نه زيات كتابونه دى.نو هغه دا بل كس ته وركړى.(١)

علامه كرمانى دلته دا بيان كړى دى.(٢) خو كله چه هغه په دويم مقام باندې اورسيدو.نو هلته هغوى د ،،فضل،، نه فضيلت مراد واخستلو.او ددې تقرير ئې شروع كړو.(٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا توجيه اختيار كړې ده.چه دلته د ،،فضل،، نه مراد فضيلت مراد دې.حالانكه هلته د ،،فضل،، نه ،،فضله،، يعنى زيادت مراد دې.(٤) والله اعلم بالصواب.

ددې پوره تقرير نه د ترجمة الباب مقصد هم واضح شوې دې.

٢-بَابُ مَنْ سُئِلَ عِلْمًا وَهُوَ مُشْتَغِلٌ فِي حَدِيثِهِ فَأَتَمَّ الْحَدِيثَ ثُمَّ أَجَابَ السَّائِلَ

ددې باب ماقبل باب سره مناسبت: ماقبل كښې دعلم فضيلت بيان شوې دې.او د اهل علم دپاره ددې علم په وجه د ډيرو درجو وعده ده.په دې وجه نبى كريم ﷺ ته هم په علم كښې د زيادت طلب كولو حكم وركولې شى.نو مونږ ته هم پكار دى.چه مونږ دعلم زيادت طلب كړو.او په علم حاصلولو كښې د زړه د اخلاصه عمل شروع كړو.اوس امام بخارى رحمه الله فرمائى.چه په علم كښې د زيادت طلب كولو طريقه دا ده.چه د اهل علم نه سوال اوكړې شى.ددې نه به په علم كښې اضافه كيږى.ددې سره سره امام بخارى رحمه الله د سوال په باره كښې يوڅو آداب بيانوى.چه دا دمعلمينو دپاره هم دى.او متعلمينو دپاره هم دى.والله اعلم.

علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه په تيرشوى باب كښې د عالمانو د فضيلت ذكر دې.او په دې باب كښې د مسئولينو عالمانو حال مذكور دې.چه دهغوى نه د مسئلو معلومات كولې شى.گويا دا ئې ښودلې ده.چه د مشكلو مسئلو د هغه عالمانو او فضلاء عاملينو نه تپوس كولې شى.كوم چه په ﴿يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ﴾ كښې داخل دى.دا توجيه په دې صورت كښې ده.چه مونږ دلته ،، باب فضل العلم،، موجود اومنو.،،كما هو فى بعض النسخ،،

اوكه دلته ،،باب فضل العلم،، موجود نه وى.نو د مذكوره باب نه به د كتاب العلم شروع كولو نكته دا وى.چه دلته چونكه دا ونيلى شوى دى.چه ،،العلم سؤال وجواب،، دغه شان ونيلى شوى دى.،،السؤال نصف العلم،، ددې نه د علم په طلب كښې د سوال او جواب اهميت

---

(١) حاشية السندى على صحيح البخارى (١١٩٤)_

(٢) شرح الكرمانى (٢١٣)_

(٣) شرح الكرمانى (٢١٣٦)_

(٤) فتح البارى (١١٠٨١)_

معلوم شو په دې وجه ددې باب نه ،،كتاب العلم،، شروع كړې شوې دې.(١) والله اعلم.
د ترجمة الباب مقصد دلته د ترجمة الباب نه د امام بخارى رحمه الله د غرض په سلسله كښې څلور اغراض مشهور دى.

① د عامو شارحينو رائې دا ده.چه امام بخارى رحمه الله دا فرمائيل غواړى.چه د سوال كونكى جواب فوراً وركول ضرورى نه دى.(٢) لكه چه امام ابن حبان رحمه الله په دې حديث باندې ترجمه منعقد كړې ده.((ذكر الخبر الدال على إباحة إعفاء المسئول عن العلم عن إجابة السائل على الفور))(٣) خو ددې لحاظ ضرورى دې.چه دا هغه وخت دې.كله چه سوال فورى مطلوب نه وى.گنى فوراً جواب وركول ضرورى دې.كه جواب ورنكړې شو.نو وخت به تير شى.مثلاً يو كس د رمى كولو دپاره روان دې.او د رمى په باره كښې د مسئلې تپوس كوى.نو فوراً جواب وركول پكار دى.گنى ددې وخت به تير شى

د صحيح مسلم او نسائى په يو روايت كښې دى.((قَالَ أَبُو رِفَاعَةَ انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ رَجُلٌ غَرِيبٌ جَاءَ يَسْأَلُ عَنْ دِينِهِ لَا يَدْرِي مَا دِينُهُ قَالَ فَأَقْبَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَرَكَ خُطْبَتَهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَيَّ فَأُتِيَ بِكُرْسِيٍّ حَسِبْتُ قَوَائِمَهُ حَدِيدًا قَالَ فَقَعَدَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعَلَ يُعَلِّمُنِي مِمَّا عَلَّمَهُ اللهُ ثُمَّ أَتَى خُطْبَتَهُ فَأَتَمَّ آخِرَهَا))اللفظ لمسلم(٤)

② حضرت شاه ولى الله رحمه الله دخپل شيخ ابوطاهر مدنى رحمه الله نه نقل كوى.چه د امام بخارى رحمه الله مقصد ددې باب نه دا ښودل دى.چه كه د سائل دسوال فوراً جواب ورنكړې شى.بلكه عالم پخپل كار كښې مصروف پاتې شى.نو دا په كتمان د علم كښې داخل نه دې.په كوم چه وعيد وارد شوې دې. ((من سئل عن علم فكتمه الجمه الله بلجام من نار يوم القيامة))(٥) ،،اللفظ لأبي داؤد،، بلكه كتمان دعلم خو دا دې.چه مطلقاً جواب ورنكړى.يا وركړى. خو د وخت تيريدو نه پس ئې وركړى.(٦)

③ دريم غرض دا دې.چه امام بخارى رحمه الله عالم ته ادب ښودلې دې.او دا ئې خودلې ده.كه د مشغوليدو په وخت دده نه سوال اوكړې شى.نو سائل ته د زورنې او ملامته كولو ضرورت

---

(١) عمدة القارى (٢\٤)_
(٢) لامع الدرارى (٢\٦) الأبواب والتراجم از شيخ الهند رحمه الله (ص.٤٣)_
(٣) الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (١\٢٦٨) كتاب علم رقم الحديث (١٠٤)_
(٤) صحيح مسلم (١\٢٨٧) كتاب الجمعة فصل فى إجابة الخطيب لمن سأله عن شئ من الدين أو غيره وسنن النسائى (٢\٣٠٢) خاتمة كتاب الزينة باب الجلوس على الكراسى)_
(٥) أخرجه أبوداد فى سننه فى كتاب العلم باب كراهية منع العلم رقم ٣٦٥٨ والترمذى فى جامعه فى كتاب العلم باب ما جاء فى كتمان العلم رقم ٢٦٤٩ وابن ماجه فى سننه فى المقدمة باب من سئل عن علم فكتمه رقم ٢٦١ . ٢٦٦ من حديث أبى هريرة رضى الله عنه)_
(٦) شرح تراجم أبواب البخارى للشاه ولى الله رحمه الله _

نشته بلکه خپل کار دې پوره کړی.دده نه پس دې د سائل د سوال جواب ورکړی.لکه څنګه چه نبی کریم ﷺ کړی دی.
څو دلته به هم هغه قید ملحوظ وی.کوم چه د رومبی غرض لاندې بیان کړې شوې دې. یعنی که د سوال جواب فوراً مطلوب نه وی.نو په دې صورت کښې سائل نه په دې وخت کښې اعراض کولې شی.ګنی فوراً جواب ورکول پکار دی.(۱)
③ څلورم غرض دا دې چه امام بخاری رحمه الله طالب علم ته ادب ښودلې دې.متعلم ته ئې تعلیم ورکړې دې چه که استاذ مصروف وی.نو فوراً سوال کول پکار نه دی.بلکه ددوی د فارغ کیدو انتظار کول پکار دی.کله چه دوی فارغ شی.نو بیا دې سوال اوکړې شی.دلته به هم دهغه قید لحاظ ساتلې کیږی.چه سوال اهم، ضروری او فوری مطلوب نه وی.که داسې وی نو فوار د سوال کولو اجازت دې.(۲)

حديث باب

٥٩-((حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ ح وحَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ حَدَّثَنِي هِلَالُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (۳) قَالَ بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَجْلِسٍ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ فَمَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ سَمِعَ مَا قَالَ فَكَرِهَ مَا قَالَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ لَمْ يَسْمَعْ حَتَّى إِذَا قَضَى حَدِيثَهُ قَالَ أَيْنَ أُرَاهُ السَّائِلُ عَنْ السَّاعَةِ قَالَ هَا أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَإِذَا ضُيِّعَتْ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ قَالَ كَيْفَ إِضَاعَتُهَا قَالَ إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ))

رجال الحديث

① محمد بن سنان رحمه الله: دا ابوبکر محمد بن سنان (بكسر السين المهملة وتخفيف النون الأولى) (۴) عوَقی (بفتح العين المهملة وبعدها واو مفتوحة ثم قاف) (۵) باهلی بصری دې.عوَقه د ازد قبیلې یوه څانګه ده.په دې خاندان کښې د راتلو په وجه ،،عوَقی،، ونیلې شی.(۶)

---

(۱) فتح الباری(۱۴۲/۱)_
(۲) المصدر السابق)_
(۳) قوله :عن أبی هريرة رضي الله عنه الحديث أخرجه البخاری فی كتاب الرقاق أيضاً باب رفع الأمانة (۶۴۹۶ ولم يخرجه أحد من أصحاب أصول الستة سوى البخاری رحمه الله انظر تحفة الأشراف (۲۷۷/۱۰) وعمدة القاری(۵/۲)
(۴) المغنی (ص.۴۱)_
(۵) المصدر السابق)_
(۶) تهذيب الكمال (۳۲۰/۱۲۵)_

دوى ابراهيم بن طهمان،جرير بن حازم، سليم بن حيان، فليح بن سليمان، نافع بن عمر جمحى او هيثم بن بشير رحمهم الله وغيره نه روايت دحديث كوى.
ددوى نه روايت كونكو كښې امام بخارى، امام ابوداوٗد، ابو مسلم ابراهيم بن عبدالله كجى، ابو قلابه عبدالملك بن محمد الرقاشى، ابو حاتم محمد بن ادريس رازى، محمد بن الاشعث السجستانى او محمد بن يحي ذهلى رحمهم الله وغيره دى.[1]

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى.،،صدوق،،[2]

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى.،،ثقة،،[3]

ابن قانع رحمه الله فرمائى.،،كان صالحاً،،[4]

امام دار قطنى رحمه الله فرمائى.،،ثقة حجة،،[5]

مسلمه رحمه الله فرمائى.،،ثقة،،[6]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.،،ثقة ثبت،،[7]

ابن حبان رحمه الله دوى لره په ،،كتاب الثقات،، كښې ذكركړې دې.[8]

په ٢٢٣ھ كښې ددوى وفات شوې دې.[9]

③ فليح: دا فليح(بالتصغير) بن سليمان بن ابى المغيره بن حنين خزاعى، اسلمى مدنى دې.ابو يحي ددوى كنيت دې.ددوى د نيكه ابوالمغيره نوم رافع يا نافع دې.پخپله ددوى نوم عبدالملك دې.او فليح ددوى لقب دې.لقب په نوم باندې داسې غالب شو.چه په نوم سره دوى د سره پيژندلې كيږى هم نه.[10]

دوى د ربيعه بن ابى عبدالرحمن، سعيد بن حارث انصارى، ابو حازم سلمه بن دينار مدنى، سهيل بن ابى صالح، عبدالرحمن بن القاسم بن ابى بكر الصديق، عثمان بن

---

[1] د شيوخ اوتلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ (تهذيب الكمال (٢٢١\٢٥، ٢٢٣) وسير أعلام النبلاء (٣٨٥\١٠، ٣٨٥)_

[2] تهذيب الكمال (٣٢٢\٢٥) وسير أعلام النبلاء (٣٨٦\١٠) الكاشف للذهبى(١٧٦\٢) رقم (٤٨٩٠)_

[3] تهذيب التهذيب (٢٠٦\٩)_

[4] المصدر السابق)_

[5] المصدر السابق)_

[6] المصدر السابق)_

[7] تقريب التهذيب (٤٨٢) رقم ٥٩٣٥)_

[8] الثقات لإبن حبان (٧٩\٩)_

[9] خلاصة الخزرجى (ص،٣٣٩) وغيرها من المراجع المذكورة)-

[10] تهذيب الكمال (٣١٧\٢٣، ٣١٨) وسير أعلام النبلاء(٣٥١\٧، ٣٥٢)-

عبدالرحمن تيمى، نافع مولى ابن عمر، نعيم بن عبدالله المجمر او يحي بن سعيد انصارى رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.

ددوى نه علم حديث حاصلونكو كښې زياد بن سعد، زيد بن ابى انيسه جزرى، سريج بن النعمان، سعيد بن منصور، عبدالله بن المبارك، محمد بن سنان عوقى. ددوى خوئې محمد بن فليح، ابوداؤد طيالسى، ابوالربيع الزهرانى او ابو عامر العقدى رحمهم الله وغيره دى.[1]

اكثرو ائمه د رجالو ددوى تضعيف كړې دې. لكه چه امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى ،،ضعيف،،[2]

دغه شان عباس دورى رحمه الله د ابن معين رحمه الله نه نقل كړى دى «ليس بقوى، ولا يحتج بحديثه، وهو دون الدراوردى، والدراوردى أثبت منه»[3]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ،،ليس بقوى،،[4]

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائى ،،لايحتج بفليح،،[5]

امام نسائى رحمه الله فرمائى ،،ليس بالقوى،،[6] او امام نسائى رحمه الله فرمائى ،،ضعيف،،[7]

حاكم ابو احمد رحمه الله فرمائى ،،ليس بالمتين عندهم»[8]

امام على بن المدينى رحمه الله فرمائى «كان فليح وأخوه عبدالحميد ضعيفين»[9]

البته د امام دارقطنى رحمه الله نه ددوى په باره كښې توثيق منقول دې. هغه ددوى په باره كښې پخپل كتاب الضعفاء كښې فرمائى ،،ثقة،،[10] خو د دوى په باره كښې ،،لابأس به،، هم منقول دى.[11] دغه شان دوى فرمائى «سهيل بن أبي صالح خير من فليح بن سليمان»[12] حالانكه سهيل

---

[1] د شيوخ اوتلامذه د تفصيل دپاره اووړئ پورتنئ حوالې اوتهذيب التهذيب (۳۰۳\۸) وتذكرة الحفاظ (۲۲۳\۱)_

[2] تاريخ عثمان بن سعيد الدارمى عن أبى زكريا يحيى بن معين فى تجريح الرواة وتعديلهم (ص. ۱۹۰) رقم ۶۹۵)

[3] تهذيب الكمال (۳۲۰\۲۳)_

[4] المصدر السابق)_

[5] ميزان الأعتدال (۳۶۶\۳)-

[6] كتاب الضعفاء والمتروكين للنسائى (المطبوع مع التاريخ الصغير والضعاء الصغير للبخارى (۴۰۱)_

[7] تهذيب التهذيب(۳۰۴\۸)_

[8] المصدر السابق)_

[9] المصدر السابق)-

[10] تعليقات الكاشف (۱۲۵\۲) رقم ۴۴۹۶)-

[11] حاشية سبط ابن عجمى بهامش الكاشف (۱۲۵\۲) وميزان الإعتدال (۳۶۶\۳)_

[12] تعليقات الكاشف(۱۲۵\۲)_

بن ابی صالح د جرح او تعدیل امامانو په نیز زیات مضبوط راوی نه دې.(۱) نو د امام دارقطنی رحمه الله دوی لره د ،،ثقه،، ګرخولو مقصد هم د ،،لا باس به،، درجه ثابتول دی.(۲)

ددوی په حالاتو باندې مجموعی طور باندې نظر اچولو سره چه کومه خبره ثابتیږی هغه دا ده.چه دا نه صرف د شیخینو بلکه د اصول سته راوی دې.امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله ددوی په احادیثو باندې اعتماد کړې دې.(۳) بیا په قول د حافظ ابن حجر رحمه الله ددوی کوم روایات چه په بخاری شریف کښې دی په هغې کښې د اکثرو تعلق ،،مناقب،،او ،،رقاق،، سره دې.بیا امام بخاری رحمه الله په دوی باندې هغه اعتماد هم نه دې کړې.کوم اعتماد ئې چه په امام مالك.او ابن عیینه رحمهما الله او ددوی پشان نورو حضراتو باندې کړې دې.(۴)

هم دا وجه ده.چه حافظ ابن عدی رحمه الله ددوی په حالاتو باندې تفصیل سره تبصره کړې ده.هغه لیکی.((ولفليح أحاديث صالحة يرويها، يروي عن نافع عن ابن عمر نسخة، ويروي عن هلال بن علي عن عبدالرحمن بن أبي عمرة، عن أبي هريرة أحاديث، ويروي عن سائر الشيوخ من أهل المدينة، مثل أبي النضر وغيره أحاديث مستقيمة وغرائب، وقد اعتمده البخاري في صحيحه، وروى عنه الكثير، وقد روى عنه زيد بن أبي أنيسة، وهو عندي لا بأس به))(۵)

دغه شان حافظ ذهبی رحمه الله ددوی په باره کښې د جرح او تعدیل د امامانو کلام نقل کولو نه پس لیکی((وحديثه في رتبة الحسن))(۶)

خلاصه دا چه فلیح بن سلیمان د عامو محدثینو په نیز قابل د احتجاج نه دې.البته امام بخاری رحمه الله چونکه د حدیث د صحت په سلسله کښې د حد نه د زیات تحری (احتیاط) نه کار اخلی په دې وجه امید هم دا دې.چه ددوی کوم روایات په صحیح بخاری کښې دی.هغه بې اصل نه دی.

په ۱۶۸ھ کښې ددوی وفات اوشو.(۷)،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

تنبیه فلیح بن مسلم د بخاری او مسلم د راویانو څښې دی.ددې باوجود محدثینو او د رجال امامانو دوی لره مطلق قبول نکړو.بلکه د امام بخاری رحمه الله نه وړاندې تیرشوی محدثین او دغه شان ددوی نه پس راتلونکی علماء محدثین په دوی باندې ښه ډیر کلام کړې دې.نو

---

(۱) ابن معین رحمه الله فرمائی((هو مثل العلاء وليسا بحجة) امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.((لايحتج به (الكاشف للذهبي (۱\۴۷۱) رقم ۲۱۸۳)_

(۲) تعلیقات الکاشف(۲\۱۲۵)-

(۳) هدی الساری(ص.۴۳۵)-

(۴) المصدر السابق)_

(۵) الکامل لابن عدی (۶\۳۰)_

(۶) تذکرة الحفاظ (۱\۲۲۴)-

(۷) تقریب التهذیب (۴۴۸\۴) رقم ۵۴۴)_

ددې نه معلومه شوه چه بعضو حضراتو د صحيح بخارى په هر راوى باندې كوم حكم لګولې دې ،،هذا جاز القنطرة،، (١) دا مطلقاً مقبول نه دې.
دغه شان دلته دا خبره هم ياد ساتئ چه حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلى دى چه د امام بخارى رحمه الله په كومو راويانو باندې كلام شوې دې هغه عام طور باندې ددوى شيوخ دى او بيا ددوى حديثونه هغوى كثرت سره نه ذكر كوى. (٢)
خو دلته دواړه خبرې نشته خكه چه فليح د امام بخارى رحمه الله شيخ نه دې بلكه د شيخ شيخ دې او ددوى نه كثرت سره احاديث هم اخلى لكه چه وړاندې دحافظ ابن عدى رحمه الله قول تير شوې دې ((وقد اعتمده البخارى فى صحيحه و روى عنه الكثير)) ،،فتنبه،،

③ ابراهيم بن المنذر: دا ابراهيم بن المنذر بن عبدالله بن المنذر بن المغيرة قرشى، اسدى حزامى مدنى دې ددوى كنيت ابو اسحاق دې. (٣)
دوى دابوضمره انس بن عياض. سفيان بن عيينه. عبدالله بن نافع الصائغ . عبدالله بن وهب مصرى. ابوبكر عبدالحميد بن ابى اويس. عبدالرحمن بن المغيره او محمد بن فليح بن سليمان رحمهم الله وغيره نه روايت د حديث كوى.
ددوى نه روايت كونكو كښې امام بخارى. امام ابن ماجه. احمد بن ابى خيثمه. زهير بن حرب. عبدالله بن عبدالرحمن الدارمى. ابوزرعه عبيدالله بن عبدالكريم رازى. عثمان بن سعيد دارمى. ابوحاتم محمد بن ادريس رازى. او مصعب بن ابراهيم بن حمزه زبيرى رحمهم الله وغيره دى. (٤)

ددوى په باره كښې دجرح اوتعديل دعالمانورحمهم الله اقوال امام نسائى رحمه الله فرمائى ((ليس به بأس)) (٥) صالح بن محمد جزره رحمه الله فرمائى ،،صدوق،، (٦)
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ،،صدوق،، (٧)
امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى ،،ثقة،، (٨)
صاحب دخلاصة فرمائى ((وثقه ابن معين، والنسائى وأبوحاتم والدارقطنى)) (٩)

---

(١) هدى السارى (٣٨٤) الفصل التاسع)_
(٢) هدى السارى (ص.١١ و ١٢) الفصل الثانى ونزهة النظر (٣٧) والنكت على كتاب ابن الصلاح (١ج\٢٨٧. ٢٨٨)
(٣) تهذيب الكمال (٢\٢٠٧)
(٤) د شيوخ او تلازمذه دتفصيل دپاره اوورى تهذيب الكمال ٢\٢٠٧ . ٢٠٩)_
(٥) تهذيب الكمل (٢\٢٠٩)_
(٦) المصدر السابق)_
(٧) تهذيب الكمال (٢\٢٠١)-
(٨) تهذيب الكمال (٢\٢٠٩)_
(٩) خلاصة تهذيب الكمال (ص.٢٢)_

امام دار قطنى رحمه الله فرمائى ،،ثقة،،(١)
ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكركړې دې.(٢)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((أحد الأئمة، وثقه ابن معين، و ابن وضاح، والنسائى،و أبوحاتم، والدارقطنى))(٣)
البته زكريا بن يحي ساجى رحمه الله فرمائى.((بلغنى أن أحمد بن حنبل كان يتكلم فيه، ويذمه، وقصد إليه ببغداد، ليسلم عليه، فلم يأذن له، وكان قد مال إلى ابن أبى داؤد، قاصداً من المدينة، عنده مناكير))(٤)
خو ابو الفتح ازدى رحمه الله فرمائى.((ابراهيم هذا فى عداد أهل الصدق، وإنما حدث بالمناكير الشيوخ الذين روى عنهم فأما هو فهو صدوق،،(٥)
هم دا خبره خطيب بغدادى رحمه الله فرمائيلې ده چه.((أما المناكير فقلما توجد فى حديثه، إلا أن تكون عن المجهولين ومن ليس بمشهور عند المحدثين ، ومع هذا فإن يحى بن معين وغيره من الحفاظ كانوا يرضونه ويوثقونه))(٦)
تركومه پورې چه د امام احمد رحمه الله د كلام تعلق دې نو دا په مسئله د خلق قرآن كښې ددوى د څه توقف او بيا ابن ابى داؤد سره ددوى دحاضرئ په وجه وو.لكه چه علامه تاج الدين سبكى رحمه الله فرمائى.((قد كان حصل عند الإمام احمد رحمه الله منه شئ لأنه قيل: خلط فى مسئلة القرآن، كأنه مجمع فى الجواب))(٧)((قلت (القائل: السبكى) وأرى ذالك منه تقية وخوفاً، ولكن الإمام أحمد شديد فى صلابته، جزاه الله عن الإسلام خيراً، ولو كلف الناس ماكان عليه أحمد لم يسلم إلا القليل))(٨)
دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((وتكلم فيه أحمد من أجل كونه دخل إلى ابن أبى دؤاد))(٩)
خلاصه دا چه ابراهيم بن المنذر ثقه راوى دې.په دوى چه كوم معمولى كلام شوې دې.هغه قابل اعتبار نه دې.والله اعلم.

---

(١) تهذيب التهذيب ((١٦٧\١))_
(٢) الثقات لإبن حبّان (٧٣\٨)_
(٣) هدى السارى(٣٨٨)_
(٤) تهذيب الكمال (٢١٠\١٢)_
(٥) طبقات الشافعية الكبرى(٢٣٢\١)-
(٦) تاريخ بغداد(١٨١\٦)-
(٧) قوله :مجمع فى الجواب (أى لم يبينه أنظر المجمع الوسيط (٨٥٥\٢)_
(٨) طبقات الشافعة الكبرى(٢٣٢\١)_
(٩) هدى السارى(ص.٣٨٨)_

ددوى وفات په ۲۳۲ھ کښې شوې دې.(۱) ،،رحمه الله تعالی رحمة واسعة،،_

(۳) **محمد بن فليح:** دا ابوعبدالله محمد بن فليح بن سليمان اسلمي خزاعی دې.(۲) ددوی د پلار فليح بن سليمان حالات هم په دې باب کښې تير شوی دی

دوی د سفيان ثوری، موسی بن عقبه، هشام بن عروه، يونس بن يزيد ايلي او د خپل پلار فليح بن سليمان رحمهم الله وغيره نه علاوه د ډيرو محدثينو نه احاديث روايت کړی دی.

ددوی نه احاديث روايت کونکو کښې ابراهيم بن حمزه زبيری، ابراهيم بن المنذر حزامی، محمد بن الحسن بن زباله مخزومی، محمد بن يعقوب زبيری او هارون بن موسی زهری رحمهم الله وغيره دی.(۳)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.((ما به بأس، وليس بذاك القوی))(۴)

امام دار قطني رحمه الله فرمائی.((ثقة، وقد روی عنه عبدالله بن وهب مع تقدمه))(۵)

امام ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(۶)

البته امام يحي بن معين رحمه الله په دوی باندې کلام کړې دې.لکه چه ددوی په پلار فليح باندې کلام کولو کښې فرمائی.((فليح بن سليمان ليس بثقة ولا ابنه))(۷)

او ابو حاتم رحمه الله فرمائی.((كان يحي بن معين يحمل على محمد بن فليح))(۸)

خو حقيقت دا دې.چه محمد بن فليح ډير زيات موثق (با اعتماد) راوی خو نه دې البته ددوی حديثونه قابل اعتماد ضرور دی.هم دا وجه ده.چه د امام يحي بن معين رحمه الله په کلام باندې د علم باوجود ابو حاتم رحمه الله فرمائی.((ما به بأس، وليس بذلك القوی)) دغه شان امام دارقطني رحمه الله هم د دوی توثيق کړې دې.

حافظ ذهبی رحمه الله په دوی باندې کلام نقل کولو کښې ليکی.((و وثقه بعضهم، وهو أوثق من أبيه))(۹)

---

(۱) الكاشف (۱\۲۲۵) رقم ۲۰۸) وتقريب التهذيب (ص.۹٤) رقم ۲۵۳)-

(۲) تهذيب الكمال (۲۶\۲۹۹)_

(۳) د شيوخ اوتلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ.تهذيب الكمال (۲۶\۲۹۹، ۳۰۰)_

(۴) تهذيب الكمال (۲۶\۳۰۱) وتهذيب التهذيب (۹\٤۰۷) وميزان الإعتدال(٤\۱۰)_

(۵) تهذيب التهذيب (۹\٤۰۷)_

(۶) كتاب الثقات (۷\٤٤۰، ٤٤۱)_

(۷) تهذيب الكمال (۲۶\۳۰۰) وتهذيب التهذيب (۹\٤۰۷)_

(۸) المصادر السابقة)_

(۹) ميزان الإعتدال (٤\۱۰)-

ددې نه علاوه د حافظ ابن حجر رحمه الله د تحقيق مطابق امام بخارى رحمه الله ددوى تول حديثونه نه دى روايت كړى بلكه د تحرى نه پس ئې منتخب احاديث اخستې دى.چه د هغې متابعت موجود دې لكه څنګه چه هغه فرمائى.((وبعضها من هلال عن أنس بن مالك، توبع على أكثرها عنده، وله نسخة أخرى عنده بهذا الإسناد، لكن عن عبدالرحمن بن أبي عمرة، بدل عطاء بن يسار، وقد توبع فيها أيضاً، وهي ثمانية أحاديث))،، والله اعلم،،(١)

ددوى وفات په ١٩٧ هـ كښې شوې دې (٢)،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

⑤ محمد بن فليح بلار فليح بن سليمان: ددوى حالات ددې باب لاندې تير شوى دى.

⑥ هلال بن علي: دا هلال بن على اسامه قرشي عامرى مدنى دې.دوى ته هلال بن ابى ميمونه، هلال بن ابى هلال او هلال بن اسامه هم وئيلې شي.ګويا چه د يو سړى څلور نومونه دى.(٣) ،،فتنبه،،

دوى د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه علاوه د عبدالرحمن بن ابى عمره. عطاء بن يسار.ابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف او ابو ميمونه مدنى رحمهم الله نه روايت كوى.

او ددوى نه روايت كونكو كښې زياد بن سعد. سعيد بن ابى هلال. عبدالعزيز بن ا لماجشون. فليح بن سليمان. امام مالك بن انس او يحي بن ابى كثير رحمهم الله دى.(٤)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.،،شيخ يكتب حديثه،،(٥)

امام نسائي رحمه الله فرمائى.،،ليس به بأس،،(٦)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې.(٧)

امام دارقطنى رحمه الله فرمائى.،،ثقة،،(٨) مسلمه بن قاسم اندلسى رحمه الله فرمائى.،،ثقة قديم،،(٩)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.،،ثقة مشهور،،(١٠)

---

(١) هدى السارى(٤٤٢)-
(٢) تقريب التهذيب (٥٠٢، رقم ٦٢٢٨) والكاشف (٢١١\٢) رقم ٥١١٦)_
(٣) تهذيب الكمال (٣٤٣\٣٠)-
(٤) تهذيب الكمال (٣٤٤\٩٠)-
(٥) تهذيب الكمال (٣٤٤\٣٠) وتهذيب التهذيب (٨٢\١١)_
(٦) المصادر السابقة)_
(٧) كتاب الثقات (٥٠٥\٥)-
(٨) تهذيب التهذيب (٨٢\١١)_
(٩) المصدر السابق)-
(١٠) سير أعلام النبلاء (٥٢٦٥) ميزان الإعتدال(٣١١\٤)_

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى. ،،ثقة،،(۱)

يعقوب بن سفيان رحمه الله فرمائى ((هلال ثقة حسن الحديث، يروى عن عطاء بن يسار أحاديث حساناً، وحديثه يقام مقام الحجة))(۲)

دهشام بن عبدالملك په آخرى كلونو كښې ددوى وفات اوشو.(۳) او د هشام آخرى كال ۱۲۵هـ دې (۴) ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

⑦ عطاء بن يسار: دا ابو محمد بن يسار بلالى مدنى دې.د ام المؤمنين حضرت ميمونه رضي الله عنها مولى دې.ددوى حالات په..كتاب الايمان..كښې د ،،باب كفران العشير وكفر دون كفر،، لاندې تير شوى دى.(۵)

⑧ ابوهريرة رضي الله عنه: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه تفصيلى حالات په ..كتاب الايمان كښې د ،،باب أمور الإيمان،، لاندې تير شوى دى.(۶)

قوله: بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَجْلِسٍ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ: نبى كريم صلى الله عليه وسلم په يومجلس كښې خلقوسره خبرې كولې.چه يو اعرابى (دكلى اوسيدونكې) راغې.

دا اعرابى څوك وو؟ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه ددوى دنوم علم اونشو.(۷)

قوله: فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ فَمَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ سَمِعَ مَا قَالَ فَكَرِهَ مَا قَالَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ لَمْ يَسْمَعْ: دې اعرابى تپوس اوكړو.چه قيامت به كله وى؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله خبره جارى اوساتله. بعضو خلقو اووئيل.چه هغوى د اعرابى خبره واوريدله.خو هغوى دا خبره ناخوښه كړله. بعضو خلقو اووئيل.چه هغوى صلى الله عليه وسلم دسره دده خبره اوريدلې هم نه ده.

مطلب دا دې.چه كله اعرابى د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه سوال اوكړو.او هغوى جواب ورنكړو. نو بعضو صحابو رضي الله عنهم اووئيل.چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم دسره سوال هم نه دې اوريدلې.بعضو اووئيل. چه سوال خو نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوريدلې دې.خو سوال ئې خوښ نكړو.ځكه چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم به د قيامت متعلق سوال نه خوښولو.په دې وجه نبى كريم صلى الله عليه وسلم جواب ورنكړو.خو روستو ښكاره

---

۱) تقريب التهذيب (۵۷۶) رقم ۷۳۴۴)-
۲) تعليقات تهذيب الكمال (۳۴۴/۳۰، ۳۴۵) نقلاً عن المعرفة (۴۶۶/۲)-
۳) تهذيب الكمال (۳۴۴/۹۰)_
۴) الأعلام للزركشى(۸۶/۸)_
۵) كشف البارى (۲۰۴/۲)_
۶) كشف البارى(۶۵۹/۱)_
۷) فتح البارى(۱۴۳/۱)_

شوه.چه ددې سبب يو دريم امر وو.هغه داچه نبى كريمﷺ خلقو سره په خبرو اترو كښې مصروف وو گويا مصروفيت د جواب مانع وو.او دا احتمال هم شته.چه دوى د وحى په انتظار كښې جواب كښې تاخير اوكړو.

د سوال په جواب كښې دتاخير گنجائش وى اوكه نه وى؟ بيا كه گنجائش وى.نو څومره حده پورې وى؟ ددې اجمالى بيان د .. ترجمة الباب د مقصد.. لاندې مونږ كړې دې.دلته د خلاصې په طور باندې بيا پوهه شئ.چه د سوال د جواب تاخير او د عدم تاخير تعلق يو څو امورو سره دې

① آيا د سوال تعلق عقيدې سره دې.او كه عقيدې سره متعلق نه دې.

② سوال ضرورى دې.اوكه غير ضرورى دې.

③ سوال دڅه موقت امر په باره كښې دې.او د غير موقت امر په باره كښې دې.

ښكاره ده.كه سوال د عقيدې متعلق وى.او ضرورى وى.نو ددې جواب فوراً وركول پكار دى.لكه چه وړاندې د ابو رفاعهؓ واقعه تيره شوې ده.چه نبى كريمﷺ هغوى دپاره خطبه بنده كړله.او هغوى ته ئې جواب وركړې وو.دغه شان بعضو وختونو كښې سوال د يو موقت امر په باره كښې وى.كه دلته په جواب كښې تاخير اوشى.نو دا خطره وى.چه وخت به تير شى.او دجواب نه به بيا هيڅ فائده حاصله نشى.نو هلته هم جواب فورى وركول ضرور دى.

دغه شان د سائل په باره كښې به دا هم كتلې شى.چه مقامى دې.اوكه د بهر نه راغلې دې.كه مقامى دې.نو هغه ته روستو هم جواب وركيدې شى. دغه شان مسئول ته هم كتل پكار دى.چه آيا سوال داسې دې.چه ددې جواب ددې نه سوا بل څوك هم وركولې شى.او كه نشى وركولې؟ كه ددې سوال جواب بل څوك وركولې شى.نو دلته په تاخير كښې هيڅ باك نشته.او كه دده نه علاوه بل څوك ددې جواب نشى وركولې.نو هغه د جواب وركولو مكلف دې. بعضو وختونو كښې سوال فضول وى.بعضو وختونو كښې سوال په عناد باندې مبنى وى.كله د تشويش او انتشار پيدا كولو دپاره سوال كولې شى.په داسې صورتونو كښې پكار دى.چه جواب ورنكړې شى.

دلته هم په دې پوهه شئ.چه ددې اعرابى سوال چونكه داسې وو.چه امر موقت هم نه وو.او نه په دې باندې څه عمل موقوف وو.په دې وجه نبى كريمﷺ خپل كلام جارى اوساتلو.او دده جواب ئې مؤخر كړو.والله اعلم.

قوله حَتَّى إِذَا قَضَى حَدِيثَهُ قَالَ أَيْنَ أُرَاهُ السَّائِلُ عَنِ السَّاعَةِ: ترديې چه كله نبى كريمﷺ خپل كلام پوره كړو.نو وې فرمائيل.چه چرته دې؟ راوى وائى.زما گمان دې.چه نبى كريمﷺ اوفرمائيل.چه د قيامت په باره كښې سوال كونكې چرته دې.

د..اين اراه السائل.. مطلب راوى ته دلته كښې د..اين.. نه پس لفظ ياد نشو.چه نبى كريمﷺ ..السائل.. فرمائيلى وو.اوكه نه؟ په دې وجه ئې په مينځ كښې د..اراه.. په معنى د..اظن.. اضافه اوكړله.

دلته شك دكوم راوى د طرفه دې؟ دا راوى كوم ته چه شك شوې دې.محمد بن فليح دې.

خکه چه د محمد بن فليح د واسطې نه بغير د «الحسن بن سفيان وغيره عن عثمان بن أبي شيبة عن يونس بن محمد عن فليح» په طريق سره دا روايت نقل دې.په دې کښې دغه شك نه بغير د ،،أين السائل.....،، الفاظ دی.(١)

قوله قَالَ هَا أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ فَإِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ قَالَ كَيْفَ إِضَاعَتُهَا: دې اعرابی جواب ورکړو چه ای د الله رسوله ﷺ سائل زه يم.نبی کريم ﷺ اوفرمائيل.کله چه امانت ضائع کړې شی.نو د قيامت انتظار کوه.دې سړی سوال اوکړو چه امانت ضائع کول به په څه طريقه وی؟

..جواب علی اسلوب الحکيم،،او په قران کريم کښې ددې نظائر د نبی کريم ﷺ دا جواب ..جواب علی اسلوب الحکيم.. دې.مطلب دا دې چه ده سوال کړې وو چه قيامت به کله راځی؟ نبی کريم ﷺ جواب ورکړو.چه ددې د تپوس کولو ضرورت نشته.خکه چه ددې علم خو ماته هم نشته.البته که د قيامت د علاماتو په باره کښې ته سوال کوې.نو دا زياته مناسب ده.خکه چه دا ماته معلومه ده.بيا دوی ﷺ علامات بيان کړل.د قيامت راتلو وخت ئې مقرر نکړو.

دا داسې ده.لکه څنګه چه د ﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ﴾په جواب کښې ﴿قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ﴾(٢) فرمائيلی شوی دی.دلته سوال دا وو.چه سپوږمۍ وړوکې کيږی او غټيږی ولې؟ ددې د کميدو او غټيدو علت څه دې؟ په جواب کښې دعلت بيانولو په ځائې حکمت بيان کړې شو.چه ددې نه د وختونو تعين کيږی.

دغه شان په يو بل آيت کښې دی. ﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ﴾ددې په جواب کښې ئې اوفرمائيل. ﴿قُلْ مَآ أَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِيْنَ.....﴾ (٣) سوال کونکی ددې تپوس کوو.چه څومره خرچ کړو.په جواب کښې دا اونه ونيلې شو.چه هر څومره خرچ کوې.دا خو ستا په ګنجائش (وس) باندې (منحصر) دې.د تپوس کولو خبره دا ده.چه کوم ځائې خرچ کړې شی.په دې وجه مصارف بيان کړې شو.دغه شان دلته کښې ئې هم د قيامت تعين اونه فرمائيلو.بلکه د قيامت علامات ئې اوښودل.

دلته په حديث باب کښې «إذا ضيعت الأمانة فانتظر الساعة» فرمائيلی دی دغه شان په يوبل حديث کښې راځی.چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل.«إذا كان أمراؤكم خياركم، وأغنياؤكم سمحاءكم، وأموركم شورى بينكم، فظهر الأرض خير لكم من بطنها، وإذا كان أمراؤكم شراركم وأغنياؤكم بخلاءكم، و

---

(١) فتح البارى (١٤٣١١)-

(٢) البقرة:١٨٩)_

(٣) البقرة:٢١٥)-

أموركم إلى نسائكم فبطن الأرض خير لكم من ظهرها»(١)
په دې حديث كښې هم نبى كريم ﷺ علامات ښودلى دى.
سائل د امانت په ضائع كولو په مطلب باندې پوهه نشو.په دې وجه هغه اووئيل..كيف إضاعتها؟.. ددې نه معلومه شوه.كه د متعلم (شاګرد) په پوهه كښې خبره رانشى.نو هغه استفسار (دوباره تپوس) كولې شى.او په استفسار باندې معلم ته خفه كيدل پكار نه دى البته كه د سوال مقصد امتحان اخستل وى په تشويش كښې اچول مقصود وى.نو بيا خفګان په ځائې دې.

قوله قَالَ إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ: نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.كله چه كار نا اهل ته اوسپارلې شى.نو د قيامت انتظار كوه.

د ,,وسد،، لغوى تحقيق ,,وسد،، په معنى د ..اسند..ده.(٢) سپارل. حواله كول.لكه څنګه د كتاب الرقاق په طريق كښې د ..وسد.. په ځائې د ..اسند.. لفظ راغلې دې.(٣)

بعضې حضرات وائى.چه دا د ..وسادة.. نه ماخوذ دې.او معنى ئې ده. «إذا وضعت وسادة الملك، والأمر والنهى لغير مستحقها فانتظر الساعة» په دې صورت كښې به ..الى.. د ..لام.. په معنى كښې وى.د ..اسند.. معنى ته متضمن كيدو باندې دلالت كولو دپاره ..الى.. استعمال كړې شوې دې.(٤)

,,اذا ضيعت الامانة،، كښې د ,,امانت،، نه څه مراد دې؟ حاصل دا دې.چه په ,,إذا ضيعت الأمانة،، كښې امانت نه مراد د خيانت ضد نه دې.بلكه ددې نه مراد هغه امانت دې.دكوم ذكر چه په آيت كريمه ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ ۖ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا﴾ (٥) كښې دې.دغه شان دلته كښې هغه امانت مراد دې.دكوم ذكر چه د رسول كريم ﷺ په حديث كښې دې.«إن الأمانة نزلت فى جذر قلوب الرجال....»(٦)ددې امانت اداكول مونږ قيوميت سره تعبير كولې شو.چه هرڅيز د هغې په مقام باندې كيخودې شى.او صحيح انتظام اوكړې شى.او دهر څيز حق ادا كړې شى.

د نا اهل نه مراد بې دينه دې ښكاره ده.چه كله نا اهل ته اوسپارلې شى.نو د قيامت انتظار

---

(١) سنن الترمذى كتاب الفتن باب (بدون ترجمة رقم ٧٨) رقم الحديث (٢٢٦٦)-
(٢) النهاية فى غريب الحديث والأثر(١٨٣/٥)_
(٣) صحيح بخارى (٩٦١/٢) كتاب الرقاق باب رفع الأمانة رقم ٦٤٩٦)_
(٤) النهاية (١٨٣/٥) وفتح البارى(١٤٣/١)_
(٥) الأحزاب:٧٢)_
(٦) صحيح البخارى(٩٦١/٢) كتاب الرقاق باب رفع الأمانة رقم ٦٤٩٧) وصحيح مسلم كتاب الإيمان باب رفع الأمانة والإيمان من بعض القلوب رقم ١٤٣)_

په كولې شى خكه چه نا اهل سړې به د خپلې لاعلمئ په وجه ذمه دارى په پوره طريقه نه ادا كوى.كوم چه د كوم څيز محل دې.هغه به دهغې په محل كښې نه ايږدى. نتيجه به دا وى. چه دينى بدنظمى به خوريږى.او آخر به داسې اوشى چه بې دينى به عـام شى.او په بې دينئ باندې به قيامت قائميږى.ددې نه معلومه شوه.چه اهليت په عالمانو كښې وى.په جاهلانو (بې علمو) كښې حقيقى اهليت نه وى.

حضرت ابو اميه جمحى رضي الله عنه نه مرفوعاً نقل دې.((إنّ من أشراط السّاعة ثلاثاً إحداهن أن يلتمس العلم عند الأصاغر))(١)ددې نه په عمر كښې يا ذات كښې كم تر خلق مراد نه دى بلكه ددې نه بې دينه مراد دى.لكه چه حضرت عبدالله بن المبارك رحمه الله فرمائى..((الأصاغر أهل البدع..))(٢)

دغه شان حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى.((لا يزال الناس صالحين متماسكين ما أتاهم العلم من أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم ومن أكابرهم، فإذا أتاهم من أصاغرهم هلكوا))(٣)معلومه شوه چه د نا اهله يعنى د بې علمه او بې دينه خلقو په لاس كښې چه كله اختيارات راورسيږى.نو د قيامت انتظار كوئ.

د حديث شريف كتاب العلم سره مناسبت زمونږ د تيرشوى تقرير نه د حديث باب د واقعې او ترجمة الباب په مينځ كښې.مناسبت واضح شو.چه كه عالم او مسئول په څه مشغله كښې مصروف وى.نو خبره دې مكمل كړى.او د سائل جواب دې وركړې شى.

او د حديث شريف الفاظ ((إذا وسّد الأمر إلى غير أهله فانتظر السّاعة)) نه ددې كتاب العلم سره مناسبت واضح شو.چه كه معامله بې علمه خلقو ته اوسپارلې شى.نو دا به د قيامت د نيزدې والى علامت وى.والله سبحانه أعلم.

٣-((بَابُ مَنْ رَفَعَ صَوْتَهُ بِالْعِلْمِ))

د ترجمة الباب مقصد حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن رشد رحمه الله نه نقل كړى دى.چه په اصل كښې امام بخارى رحمه الله ددې كتاب تدوين په هر اعتبار سره مكمل كول غواړى.نو د علم او آداب علم امور جامعيت سره بيانوى.او په دې سلسله كښې معمولى معمولى خبرو باندې هم بابونه قائموى.(٤)

حضرت شاه ولى الله رحمه الله فرمائى.چه په رواياتو كښې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم صفت راغلې دې.

---

(١) أخرجه عبدالله بن المبارك فى كتاب الزهد الرقائق ٢٠رقم ٦١ والطبرانى فى الكبير انظرمجمع الزوائد (١٣٥/١)كتاب العلم باب أخذكل علم عن أهله والجامع الصغيرمع شرحه فيض القدير(٥٣٣/٢) رقم ٢٤٧٥)

(٢) أنظرتعليقات كتاب االزهد لعبدالله بن المبارك (ص.٢١) وقال الهيثمى رحمه الله قال موسى يقلل إن الأصاغرأهل البدع انظرمجمع الزوائد(١٣٥)_

(٣) روه الطبرانى فى الكبيروالأوسط ورجاله موثقون قاله الهيثمى فى مجمع الزوائد(١٣٥/١)_

(٤) فتح البارى(١٤٣/١.١٤٤)_

"ليس بصخاب"،(١)دلته امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب نه دا بيانول غواړى.چه ددې نه مراد په لهو ولعب كښې شور شغب كول دى. علم كښې شور كول په دې كښې داخل نه دى.(٢)
حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى.چه آواز پورته كول يا چغې وهل چونكه په عرف كښې ناخوښه (بد) گنړلې كيږى.او په شريعت كښې هم ددې نه نهى وارد شوې ده.په قرآن كريم كښې چه حضرت لقمان خپلو خوى ته كوم نصيحت كړې وو.په هغې كښې ذكردى.
﴿وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ.....﴾(٣) په دې وجه كيدې شى.چه چاته دلته په باب د علم كښې هم شبه وى. چه آيا رفع د صوت په علم كښې جائز ده.اوكه نه؟ نو امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب په ذريعه اوښودل.چه دا ضرورتاً جائز دې.(٤)
حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى.چه ..جهر مفرط(د حد نه زيات آواز) نه د نبى كريم ﷺ دشان مناسب دې.نه د علم دين مناسب دې.خو د حديث باب نه معلومه شوه.چه د ضرورت په وخت رفع د صوت مباح بلكه مستحسن ده. لبته په سبب د قلت مبالات(بې پرواهى) يا په وجه د تجبر او تكبر مذموم دې.(٥)
حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى.چه ښكاره دا ده.چه امام بخارى رحمه الله د معلم اداب ښودل غواړى.چه كله ضروت راپيښ شى.نو آواز پورته كول پكار دى.چه ټول ئې واورى.(٦)
دا احتمال هم شته.چه د آواز ښكته ساتلو مدح په رواياتو كښې وارد ده.دغه شان په تيز آواز باندې نكير (منع) هم راغلې دې.په دې وجه امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب نه دا بيانول غواړى.چه د ضرورت په وخت آواز پورته كول مستحب دى.(٧)

---

(١) أخرجه البخارى فى صحيحه (١\٢٨٥) فى كتاب البيوع باب كراهية السخب فى السوق رقم ٢١٢٥ ليس بفظ ولاغليظ ولاسخاب فى الأسواق .. وانظرأيضاً كتاب التفسيرسورة الفتح باب ﴿إنا أرسلناك شاهداً ومبشراً ونذيراً﴾ رقم ٤٨٣٨ وانظرالجامع الترمذى كتاب البر والصلة باب ما جآء فى خلق النبى ﷺ (رقم ٢٠١٦) والشمائل المحمدية له (٢٥٤. بشرح المواهب الدينة للبيجورى) وسنن الدارمى (١\١٦. ١٧) المقدمة باب صفة النبى ﷺ فى الكتب قبل مبعثه)_
(٢) شرح تراجم أبواب البخارى ١٥_
(٣) سورة لقمان:١٩)_
(٤) لامع الدرارى (٢\٨٧)_
(٥) الأبواب والتراجم (٤٣)_
(٦) الأبواب والتراجم لصحيح البخارى (٤٠)_
(٧) المصدرالسابق)_

حديث باب

[٦٠] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ عَارِمُ بْنُ الْفَضْلِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو (١) قَالَ تَخَلَّفَ عَنَّا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفْرَةٍ سَافَرْنَاهَا فَأَدْرَكَنَا وَقَدْ أَرْهَقَتْنَا الصَّلَاةُ وَنَحْنُ نَتَوَضَّأُ فَجَعَلْنَا نَمْسَحُ عَلَى أَرْجُلِنَا فَنَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا))

رجال الحديث

① ابوالنعمان عارم بن الفضل: دابو النعمان محمد بن الفضل السدوسی دي...عارم.. ددوی لقب دي. دوی تفصيلی حالات. د کتاب الايمان د ،،باب قول النبي ﷺ: ألدين النصيحة.....،، لاندې تير شوی دی.(٢)

② ابوعوانه: دا ابو عوانه وضاح بن عبدالله يشکری رحمه الله دي.ددوی مختصر تذکره د ..بدءالوحی دريم حديث لاندې تيره شوې ده.(٣)

③ابوبشر: دا ابو بشر جعفر بن اياس يشکری واسطی بصری رحمه الله دي. د دوی د پلار اياس کنيت ابو وحشيه دي.(٤)

دوی په صحابو کښې د حضرت عباد بن شرحبيل رضی الله عنه نه سماع کړې ده. د دوی نه علاوه د سعيد بن جبير، طلحه بن نافع، طلق بن حبيب، عامر شعبی، عبدالرحمن بن ابی بکره، عطاء، عکرمه، مجاهد، حبيب بن سالم، ميمون بن مهران، يوسف بن ماهك او ابو نضره رحمهم الله وغيره نه روايت کوی.

ددوی نه روايت کونکو کښې ايوب سختيانی، سليمان الاعمش (وهما من أقرانه) خالد بن عبدالله واسطی، خلف بن خليفه، هشيم بن بشير او ابو عوانه رحمهم الله وغيره دی.(٥)

---

(١)قوله:عن عبدالله بن عمرو الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی کتاب العلم باب من أعاد الحديث ثلاثاً ليفهم عنه رقم ٩٦وفی کتاب الوضوء باب غسل الرجلين ولايمسح علی القدمين رقم ١٦٣ ومسلم فی صحيحه فی کتاب الطهارة باب وجوب غسل الرجلين بكمالهما رقم ٥٨٠، ٥٨٢) والنسائی فی سننه فی کتاب الطهارة باب إيجاب غسل الرجلين رقم ١١١ وأبوداود فی سننه فی کتاب سننه فی کتاب الصلاة والطهارة باب ويل للأعقاب من النار رقم ٧١٢)_

(٢) کشف الباری (٤٣٤\١)_

(٣) کشف الباری (٤٣٤\١)_

(٤) تهذيب الکمال (٥\٥) وسير أعلام النبلاء (٤٦٥\٥)_

(٥) دشيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الکمال(٥\٦٠٥)_

امام يحي بن معين. ابو زرعه. ابو حاتم او احمد بن عبدالله عجلى رحمهم الله فرمائى ،،ثقة،،(١)
امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائى ،،ثقة كثير الحديث،،(٢)
ابوبكر احمد بن هارون برديجى رحمه الله فرمائى «كان ثقة، وهو من أثبت الناس في سعيد بن جبير»(٣)
حافظ ابن عدى رحمه الله فرمائى «وجعفر بن إياس، هو معروف بجعفر بن أبي وحشيه، حدث عنه شعبة وهشيم وغيرهما بأحاديث مشاهير وغرائب، وأرجو أنه لا بأس به»(٤)
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى «أحد الأئمة والحفاظ»(٥) دغه شان دوى فرمائى «أحد الثقات، أورده ابن عدى في ،،كامله،، فأساء،،(٦)
امام احمد رحمه الله فرمائى «أبو بشر أحب إلي من المنهال بن عمرو»(٧)
د امام احمد رحمه الله خوني عبدالله بن احمد بن حنبل فرمائى «أحب إليك من المنهال؟ قال: نعم، شديداً أبو بشر أوثق»(٨)
ياد ساتئ چه منهال بن عمرو د محدثينو په نيز ثقه راوى دې.د بخارى او سنن اربعه د رجالو ځنې دې.(٩) البته امام شعبه رحمه الله به ددوى د هغه احاديثو تضعيف كوو.كوم چه دوى د حبيب بن سالم او مجاهد بن جبير نه روايت كوى.امام شعبه رحمه الله فرمائى چه دوى ته حبيب بن سالم او مجاهد نه سماع حاصل نه ده.(١٠)
خو دا تضعيف دلته هيڅ مضر نه دې.اول خو په دې وجه چه د امام شعبه تضعيف ددوى صرف هغه حديثونو سره متعلق دې.كوم چه دوى د مجاهد او حبيب بن سالم نه كوى پخپله د ابو بشر د ذات سره ددې هيڅ تعلق نشته.(١١)
دويمه داچه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى «احتج به الجماعة، لكن لم يخرج له الشيخان من حديثه عن

---

١) تهذيب الكمال (٧/٥) وتهذيب التهذيب (٨٣/٢)_
٢) طبقات ابن سعد(٢٥٣/٧)_
٣) تهذيب التهذيب (٨٤/٢)_
٤) الكامل (١٥٢/٢)_
٥) سير أعلام النبلاء (٤٦٥/٥)_
٦) ميزان الإعتدال (٤٠٢/١)_
٧) تهذيب الكمال(٧/٥)_
٨) المصدر السابق)_
٩) الكاشف للذهبى مع تعليقات (٢٩٨/٢) رقم ٥٦٥٣)_
١٠) تهذيب الكمال(٧/٥. ٨) وسير أعلام النبلاء (٤٦٦/٥) وميزان الإعتدلال (٤٠٢/١) وهدى السارى (٣٩٥)_
١١) أنظر المصادر المذكورة فى التعليقة السابقة وانظر أيضاً التعليقات على الكاشف (٢٩٣/١) رقم ٧٨١)_

مجاهد ولا عن حبيب بن سالم»(١) نو د صحيحينو په حديثونو کښې هيڅ شبه باقي نه پاتې کيږي والله اعلم

په ١٢٥هـ کښې ددوی وفات اوشو.(٢) ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

(٣) **يوسف بن ماهك:** دا يوسف بن ماهك (بفتح الهاء وكسرها)(٣) بن بُهزاد (بكسر الهاء وضمها وبالزاى المعجمة)(٤) فارسی مکی رحمه الله دې.(٥)

ددوی د خپل پلار ماهك بن بهزاد او د خپلې مور مُسيكه نه علاوه د حضرت حکيم بن حزام، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن عمرو، حضرت عبدالله بن عباس، حضرت معاويه، حضرت ابوهريره او عائشه رضي الله عنهم وغيره نه روايت کوی.او دحضرت ابی بن کعب رضي الله عنه نه مرسلاً روايت کوی.

ددوی نه په روايت کونکو کښې ايوب سختيانی، ابو بشر جعفر بن اياس، حميد الطويل، عاصم احول، عبدالملك بن جريج او عطاء بن ابی رباح رحمهم الله وغيره حضرات دی.(٦)

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(٧)

امام نسائی رحمه الله هم دوی لره ،، ثقه،، گرخولي دي.(٨)

امام ابن خراش رحمه الله فرمائی.،،ثقة عدل،،(٩)

امام بن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(١٠)

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی.،،وكان ثقة قليل الحديث،،(١١)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(١٢)

---

(١) هدى السارى (ص،٣٩٥)_

(٢) ميزان الإعتدال(١\٤٠٣) وغيره.

(٣) فتح البارى (١\١٤٣)_

(٤) المغنى ١٢_

(٥) تهذيب الكمال (٣٢\٤٥١)_

(٦) د شيوخ اوتلامذه د تفصيل دپاره اوگورئ تهذيب الكمال (٣٢\٤٥٣)_

(٧) تاريخ عثمان بن سعيد الدارى (٢٢٦) رقم ٨٦٤ وتهذيب الكمال (٣٢\٤٥٣)_

(٨) تهذيب الكمال (٣٢\٤٥٣)-

(٩) المصدر السابق)_

(١٠) الثقات لابن حبان (ت٥\٥٤٩)_

(١١) طبقات لابن سعد (٥\٤٧١)_

(١٢) الكشاف (٢\٤٠٠)_

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي ،،ثقة[1] ددوي په سن وفات كښې مختلف اقوال دي.چه د ١٠٣ه، ١٠٢ه، ١١٠ه، ١١٣ه، او ١١٢ه اقوال ملاويږي.[2] ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

د ،،ماهک،، تحقيق ..ماهك.. د ..هاء.. په فتحې سره دې.په دې باندې كسره هم وئيلې شوې ده[3] دا فارسي لفظ ..ماه.. په معنى د ..سپوږمۍ.. دې.چه ددې په آخر كښې كاف دتصغير دې.[4]

دا لفظ منصرف دې كه غير منصرف؟ دا لفظ د بخارى اكثرو شارحينو غير منصرف ګرځولې دې.او اصيلي رحمه الله منصرف وئيلې دې.[5] د غير منصرف وئيلو وجه خو ښكاره ده.چه په دې كښې د غيرمنصرف كيدو دوه سببونه عجمه او علميت موجود دي.[6]

د منصرف وئيلو څه وجه ده؟ علامه كرماني رحمه الله فرمائي.چه د ..ماه.. معنى چونكه ..سپوږمۍ.. ده.نو د ..ماهك.. معنى ..سپوږمۍ ګوټې.. شوه.دغه شان په دې كښې د وصف معنى غالب شوه.ګويا د عجمه غير منصرف جوړيدو دپاره چه كوم د علميت شرط وو.هغه مفقود شو.ځكه چه په وصف او علميت كښې تضاد دې.او دلته د وصف معنى مونږه غالب ګرځولې ده.نو علميت به نه وي.[7]

حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا خبره ذكركړې ده.[8] علامه عيني رحمه الله ددې په تشريح كښې فرمائي.چه د تصغير تعلق چونكه صفاتو سره وي.په دې وجه به ..ماهك.. كښې د صفت معنى غالب وي.او په صفت او علميت كښې د تضاد په وجه اجتماع نه كيږي.چونكه په دې صورت كښې صرف يو سبب باقي پاتې كيږي.په دې وجه به دا منصرف وئيلې كيږي.[9]

علامه عيني رحمه الله فرمائي.[10]

① كه دا لفظ په كسرة د هاء سره اووئيلې شي.نو دا لفظ به خالص د عربۍ لفظ وي.په دې صورت كښې به منصرف وئيلې كيږي.ځكه چه دا به د ((مهكتُ الشيَ(ف) أمْهكُه مَهكاً)) نه ماخوذ وي چه ددې معنى ده.ديوڅيز په ميده كولو كښې او اغګلو كښې دمبالغې نه كار اخستل.[11]

---

[1] تقريب التهذيب (ص.٦١١) رقم ٧٨٧٨)-

[2] تهذيب التهذيب (١١\٤٢١، ٤٢٢)_

[3] فتح البارى(١\١٤٣)_

[4] عمدة القارى(٢\٨)_

[5] فتح البارى(١\١٤٣) وعمدة القارى(٢\٨)_

[6] المصدر السابق)_

[7] شرح الكرماني(٢\٧)_

[8] فتح البارى(١\١٤٣)_

[9] فتح البارى(١\١٤٣)_

[10] عمدة القارى(٢\٨)_

[11] القاموس المحيط(٨٥٩)_

③ دغه شان د ،،مهكتُ الشئ،، معنى د چقنړا كولو (او ميده كولو) هم راخى. (١)

④ ممكن ده چه دا لفظ د ،، مهكتُ الشباب،، نه ماخوذ وى.چه ددې معنى د خوانۍ ترو تازګى او رونق ده. (٢)

⑤ علامه عينى رحمه الله فرمائى كه دا لفظ ..بفتح الهاء.. اووئيلې شى نو بيا هم ممكن ده چه عربى لفظ وى په دې طريقه چه دا د ..مماهكة.. (٣) د فعل ماضى ..ماهك.. نه علم منقول اوګرځولې شى.په دې صورت كښې په د علميت او وزن فعل په وجه غيرمنصرف وئيلې شى. (٤)

بيا اګرچه اكثرو حضراتو ..ماهك.. ددوى د پلار نوم ګرځولې دې.خو امام دارقطنى رحمه الله ..ماهك.. ددوى د مور نوم ګرځولې دې.په دې صورت كښې خو دعلميت او تانيث په وجه غير منصرف ګرځولې كيدې شى. (٥) والله اعلم.

⑤ **عبدالله بن عمرو:** دا مشهور صحابى حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما دې.ددوى حالات د كتاب الايمان د ،،باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده،، لاندې تير شوى دى. (٦)

قوله قَالَ تَخَلَّفَ عَنَّا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفْرَةٍ سَافَرْنَاهَا: حضرت عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما فرمائى.چه په يو سفر كښې چه مونږ وو.نبى كريم صلى الله عليه وسلم زمونږ نه روستو پاتې شو.

دا د كوم ځائې سفر وو؟ د صحيح مسلم په يو روايت كښې د((رجعنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم من مكة إلى المدينة....))(٧) الفاظ دى.ددې نه معلومه شوه.چه دا سفر د مكې مكرمې نه د مدينې منورې په طرف شوې وو.

① داسفريا خودحجة الوداع سفر وو.ځكه چه حضرت عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما يقينى طور باندې په دې سفر كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره وو.

② يا دا د غزوة الفتح سفر وو.اګرچه د غزوة الفتح په موقعه باندې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم واپسى دمكې مكرمې نه نه وه شوې.بلكه د ,,جعرانه.. نه شوې وه.خو وئيلې شى.چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم

---

(١) المصدر السابق)-
(٢) المـاهكة وهو الجهد فى الجماع من الزوجين كذا فى العمدة (٨\١٢)_
(٣) عمدة القارى(٨\١٢) تاج العروس (١٨٥\٧)_
(٤) عمدة القارى(٨\١٢)_
(٥) كشف البارى(١\٦٧٩)_
(٦) صحيح مسلم (١٢٥\١) كتاب الطهارة باب وجوب غسل الرجلين بكمالهما)_
(٧) صحيح مسلم (١٢٥\١) كتاب الطهارة باب وجوب غسل الرجلين بكمالهما)_

چونکه د مدینې منورې نه د مکې مکرمې دپاره روان شوي وو.او هم ددې سفر نه واپسي وه په دې وجه اګرچه په حقیقت کښې د جعرانه نه واپسې شوې ده.خو په دې باندې د ((رجوع من مكة إلى المدينة)) اطلاق کولې شي.

② دا هم ممکن ده.چه دا د عمرة القضاء سفر وي. څکه چه حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما هم په دې ورځو کښې اسلام راوړلې وو. (١) والله اعلم.

قوله فَأَدْرَكَنَا وَقَدْ أَرْهَقَتْنَا الصَّلَاةُ وَنَحْنُ نَتَوَضَّأُ: نو نبي کريم ﷺ مونږ ته راورسیدو.په داسې حال کښې چه مونږ مونځ رالاندې کړې وو.او مونږ (په جلتې جلتې) اودسونه کول.

د ،،أرهقنا الصّلاة،، لغوي تحقيق: ،،رَهِقَه يَرهَقُه رهقاً : غشيه، ولَحِقه ودَنا منه،(٢)،،وحمله مالا يطيقه(٣) دلته به د ،،أرهقنا الصّلاة،، معنى وي.((أعجلتنا الصلاة،(٤)حتى كادت أن تغشينا وتُلحِقنا بصلاة أخرى بعدها))

بيا دا لفظ په دريو طريقو ونيلې شوې دې:

① يو هم دغه شان دې.،،أرهقَتْنا الصّلاةُ،، يعنى ،،ارهقت،، د ماضى واحد مونث غائب صيغه ده.او ،،الصّلاةُ،، مرفوع دې.چه هغه ددې فاعل دې.

② دويم روايت ،،أرهقَنا الصّلاةُ،، دې.په دې صورت کښې هم ،،الصلاة،، د فاعل کيدو په وجه مرفوع دې.البته،،أرهق،،د ماضى واحد مذكر غائب صيغه ده.چونکه ،،الصّلاة،، مونث حقيقى نه دې.په دې وجه ددې دپاره د فعل مذكر استعمالولو هيڅ باك نشته.

③ دريم روايت ،،أرهقْنا الصّلاةَ،، دې.يعنى ،،أرهقْنا،، د فعل ماضى جمع متكلم صيغه ده. نو قاف ساكن دې.او ،،الصلاة،،د مفعول كيدو په وجه منصوب دې.په دې صورت کښې به معنى دا وي.((أخّرناها وتتهاحتى كِدنا أن نغشيها ونُلحقها بالصّلاة التى بعدها))(٥)

بيا ددې مونځ نه د مازيګر مونځ مراد دې.لکه څنګه چه په بعضو رواياتو کښې ددې صراحت موجود دې.(٦)

---

(١) انظر فتح البارى(٢٦٥\١) كتاب الوضوء باب غسل الرجلين .ولايمسح على القدمين)_

(٢) القاموس المحيط(٨٠٠)-٢ ..أرهقه: أغشاه () النهاية(٢٨٣\٢)_

(٣) انظرالقاموس (٨٠٠)_

(٤) عمدة القارى(٨\٢)_

(٥) فتح البارى(٢٦٥\١) كتاب الوضوء باب غسل الرجلين ولا يمسح على الخفين وعمدة القارى (٨\٢) والنهاية (٢٨٣\٢)_

(٦) كما فى طريق مسدد عن أبى عوانة عند البخارى فى كتاب العلم باب من أعاد الحديث ثلاثاً ليفهم عنه رقم ٩٦ وفى طريق موسى عن أبى عوانة عنده أيضاً فى كتاب الوضوء باب غسل الرجلين ولا يمسح على الخفين رقم ١٦٣)

قوله فَجَعَلْنَا نَمْسَحُ عَلَى أَرْجُلِنَا: نو مونږ (جلتې جلتې سره اودس كولو) پخپلو خپو باندې مو اوبه موګلې.

د مسح نه څه مراد دې؟ په ,,مسح،، كښې د دوو معانيو احتمال دې

① يو دا چه مسح پخپل ظاهر باندې محمول ده يعنى په خپو باندې لوند لاس راښكل مراد دى ددې احتمال مراد اخستلو په صورت كښې به دا ونيلې كيږى چه په يوه زمانه كښې د خپو وينځلو په ځائې د خپو مسح مشروع وه روستو د وينځلو حكم راغې او د مسح حكم منسوخ شو لكه څنګه چه امام طحاوى رحمه الله دا رائې ښكاره كړې ده.(١) خو دلته كښې دا ظاهرى معنى مراد نه ده.

② دويمه دا چه د ,,مسح،، نه غسل خفيف مراد دې او مطلب دا دې چه د وخت د تنګئ او په اودس كښې د جلتئ په وجه. او په مونځ كښې د تاخير د خطرې په سبب مونږ چه څنګه وينځل هغه معمولى وو ګويا چه د وينځلو په ځائې مسح كيدله لكه چه علامه عينى رحمه الله د قاضى عياض رحمه الله په حوالې سره نقل كړى دى. ((معناه نغسل كما هو المراد فى الآية....))(٢)

دغه شان علامه عينى رحمه الله د امام طحاوى رحمه الله د ,,نسخ،، په رائې باندې كلام كړې دې او فرمائيلى ئې دى. ((وفيه نظر، لأن قوله: ،،نمسح على أرجلنا،، يحتمل أن يكون معناه غسلاً خفيفاً مبقعاً(٣) حتى يرى كأنه مسح...))(٤)

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دلته د ,,مسح،، نه د ,,غسل،، مراد كيدو يوه قرينه دا هم ده چه كه وړاندې په خپو باندې مسح كول فرض وو او وينځل فرض نه وو نو په ((ويل للأعقاب من النار)) فرمائيلو سره ئې د وعيد ذكر ولې فرمائيلو د وعيد نه بغير به ئې صرف دا ارشاد فرمائيلې وې چه بيا دپاره وينځل كوئ ددې نه معلومه شوه چه د شروع نه غسل رجلين (دخپو وينځل) مشروع دى نو دلته به د ,,مسح،، نه ,,غسل،، مراد اخستلې كيږى.(٥) والله اعلم.

---

(١) أنظر شرح معانى الآثار(٣٥\١) كتاب الطهارة باب فرض الرجلين فى الوضوء حيث قال الطحاوى رحمه الله فذكر عبدالله بن عمرو أنهم كانوا يمسحون حتى أمرهم رسول الله صلى الله عليه وسلم بإسباغ لاوضوء وخوفهم فقال ويل للأعقاب من النار فدل ذلک أن حكم المسح الذى كانوا يفعلونه قد نسخه ما تأخر عنه مما ذكرنا)_

(٢) عمدة القاى(٩\٢)_

(٣) بقعة: جعله ذا بُقَع والبقعة القطعة من الأرض على غير هيئة التى إلى جنبها ومعنى قوله: غسلا خفيفاً مبقعاً غسلا خفيفا بحيث إنتضح الماء على رجله فابتل موضع منها دون موضع انظر القاموس المحيط (٦٣٤)_

(٤) عمدة القارى(٩\٢) _

(٥) عمدة القارى(٩\٢، ١٠)_

قوله فَنَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا: نبی کریم ﷺ په اوچت آواز دوه یا درې ځله اوفرمائیل ..پوندو دپاره د اور د عذاب خرابی ده..

اثبات د ترجمې د ،،فنادی بأعلی صوته،، جملې نه د امام بخاری رحمه الله مدعا ثابتیږی چه علم دپاره اوچت آواز کول نه صرف جائز بلکه د ضرورت په وخت مستحسن دي.

د نبی کریم ﷺ انداز بیان نبی کریم ﷺ چه به کله وعظ او نصیحت کولو.نو د نبی کریم ﷺ آواز به پورته کیدو.

(١) حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی.((کان رسول الله ﷺ إذا خطب احمرت عیناه وعلا صوته واشتد غضبه...))[1]

(٢) دغه شان د حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه په روایت کښې دی.((سمعتُ رسول الله ﷺ یخطب، یقول: أنذرتکم النار، أنذرتکم النار، أنذرتکم النّار، حتی لو أن رجلاً کان بالسّوق لسمعه من مقامی هذا....))[2]

(٣) دغه شان په یو بل روایت کښې دی.((...حتی لوکان رجل فی أقصی السّوق سمعه و سمع أهل السّوق صوته وهو علی المنبر))[3]

قوله وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ:

د ،،ویل،،او ،،عقب،، تحقیق او مراد ،،ویل،،د عذاب او هلاکت او خسران او بربادئ په معنی کښې راځی. دغه شان په بعضو روایاتو کښې راځی.،،ویل وادی جهنم......،،[1]

په بعضو روایاتو کښې راځی.((ویل وادی جهنم یسیل منه صدید أهل النّار))[2]

،،اعقاب،، د عقب جمع ده.پوندو ته وائی.دلته ،،اصحاب الاعقاب،، (پوندو والا) مراد دی او سرې چونکه پخپلو پوندو باندې اودریږی.نو کله چه خپې په جهنم کښې وی.نو پخپله به هم په جهنم کښې وی.د ،،اعقاب،، د تخصیص یوه وجه دا هم کیدې شی.چه دا په اوبو باندې لوندول پکار وو.خو دا لوندې نشوې.نو چونکه د الله تعالی فرض په دې کښې پاتې شو. نو هم دا حصه به په عذاب کښې وی.والله اعلم.

خلاصه د پوره خبرې خلاصه دا شوه.چه کله د مازیګر د مونځ وخت تنګ شو.نو حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم په جلتئ جلتئ سره اودسونه کول.په دې طریقه اودس کولو کښې د خپو څه حصه خاص طور باندې د پوندو حصه د اوچ پاتې کیدو زیات امکان وو په دې وجه نبی کریم ﷺ په اوچت آواز سره دوه درې ځله خبرداری ورکړو او وې فرمائیل.چه د خپو حکم وینځل دی.چه دا اسباغ (اوبو اچولو) سره کول پکار دی صرف مسح کولو والا وینځل

---

1) صحیح مسلم (١\٢٨٤) کتاب الجمعة)_
2) مسند أحمد (٤\٢٧٢) أحادیث النعمان بن بشیر رحمهما الله)_
3) المصدر السابق)_

[بقیه حاشیه په راروان صفحه...

کافی نه دی ممکن ده چه په دې طریقه څه حصه اوچه پاتې شی په دې وجه نې دوه درې خله
((ویل للأعقاب من النار)) اوفرمائیل چه ټول نې واوری او پوهه شی
تنبیه ددې نه معلومه شوه چه طریقه د خپو غسل (وینځل) دی مسح کول نه دی حالانکه روافض د خپو وظیفه مسح ګرځوی تفصیلی بحث به انشاءالله روستو په ..کتاب الوضوء.. کښې راځی والله اعلم بالصواب

۴-((بَابُ قَوْلِ الْمُحَدِّثِ حَدَّثَنَا وَأَخْبَرَنَا وَأَنْبَأَنَا))

((وَقَالَ لَنَا الْحُمَيْدِيُّ كَانَ عِنْدَ ابْنِ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا وَأَخْبَرَنَا وَأَنْبَأَنَا وَسَمِعْتُ وَاحِدًا وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ وَقَالَ شَقِيقٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَةً وَقَالَ حُذَيْفَةُ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ وَقَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِي عَنْ رَبِّهِ وَقَالَ أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ))

وړاندې باب سره مناسبت د مذکوره باب ماقبل سره مناسبت دا دې چه په تیرشوی باب کښې د ،،رفع الصوت بالعلم،، ذکر وو چه حاضرین نې یاد کړی او نورو ته نې اورسوی او نورو ته رسولو دپاره. چونکه په دې الفاظو کښې به دځه ضرورت راپیښیږی او ددې الفاظو د لغوی او اصطلاحی معانیو بیانولو حاجت وی په دې وجه نې ،،باب قول المحدث حدثنا، او اخبرنا وانبأنا،، منعقد کړې دې

د ترجمة الباب مقصود ① علامه ابن رشید رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دې ترجمې سره دې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه دوی پخپل کتاب کښې هغه حدیثونه نقل کړی دی کوم چه مسند دی او د نبی کریم ﷺ نه منقول دی خکه چه حدیث مسند په ،،حدثنا،، او ،،اخبرنا،، سره نقل کولې شی

② یومقصد دا هم رخولې شی چه محدثینو د روایت نقل کولو په سلسله کښې کوم مختلف الفاظ مخصوص ساتلې دی نو آیا دا ددوی د دماغو اختراع ده اوکه په دې سلسله کښې پیغمبر ﷺ او ددوی د اصحابو نه هم څه ثابت دی او چونکه دا معلومه شوې ده چه اسناد په دین کښې داخل دی په دې وجه اوس دا تلاش ضروری دې چه کومې طریقې

بقیه حاشیه د تیرمخ...[۱] الجامع للترمذی کتاب التفسیر باب ومن سورة الأنبیاء رقم ۳۱۶۴ والمسند الأحمد (۷۴۱۳) والمستدرک للحاکم (۵۹۶۱۴) کتاب الأهوال وصححه الحاکم وأقره الذهبی رحمه الله)_

[۲] أخرجه السیوطی فی الدر المنثور (۸۲۱۱) و(۳۰۳۱۶) وفیه روایات کثیرة فراجعه إن شئت)_

محدثینو عالمانو اختیار کړی دی.ددې هم څه اصل شته اوکه نشته.که ددې اصل وی.یعنی پیغمبرﷺ یا ددوی اصحابو رضی الله عنهم ددې الفاظو استعمال کړې دې.نو دا خبره به مستند وی.ځکه چه دین به هم د پیغمبرﷺ وی.او د نقل کولو طریقه به هم ددوی نه ثابته وی.او په دې کښې به د هیڅ قسمه شبهې ګنجائش باقی پاتې نشی.

ددې تقریر په صورت کښې به د ترجمة الباب ،،قول المحدث حدثنا او أخبرنا و أنبأنا،، مطلب دا وی چه صرف هم ددې درې الفاظو په باره کښې تفتیش او تحقیق مقصود نه دې.بلکه ددې نه علاوه نور هم چه څومره طریقې د روایت نقل کولو دپاره استعمالولې شی.هغه به ټولې مراد کښې داخل وی.په دې تقدیر باندې به «قال لنا الحمیدی: کان عند ابن عیینه حدثنا و أخبرنا وسمعت واحداً» دا جمله استطرادی وی.په مقصود کښې به داخل نه وی.

④ د ترجمة الباب یو مقصد دا هم کیدې شی.چه د محدثینو عالمانو په نیز دلته د روایت نقل کولو په سلسله کښې مختلف الفاظ استعمالیږی.ددې حیثیت او وزن څه دې؟ یعنی دا الفاظ یو برابر دی.او که په دې کښې د قوت او ضعف فرق دې؟ په دې صورت کښې به د ،،قال لنا الحمیدی.....،، جمله استطرادی نه وی.بلکه ددې مطلب به دا وی.چه په دې الفاظو کښې خپل مینځ کښې د مراتبو فرق نشته.دا ټول برابر دی.محدث ته اختیار دې.که غواړی.حدثنادې استعمال کړی.اوکه غواړی د ،،سمعت،، صیغه دې استعمال کړی.

④ دترجمة الباب دا مقصد هم کیدې شی.چه د روایت نقل کولو کومې طریقې په محدثینو کښې معروف (مشهورې) دی.آیا دغه ټولې طریقې جائز دی.یا په دې کښې څه یوه طریقه داسې هم شته.چه هغه ناجائز اوګرځولې شی.ځکه چه بعضو حضراتو د ،،انباء،، طریقه کمزورې ګرځولې ده.او بعضو دا ناقابل اعتبار ګرځولې ده.امام بخاری رحمه الله ترجمه منعقد کړله.او وې ښودل.چه دا ټولې طریقې جائز او قابل د استناد دی.په دې طریقه به د امام حمیدی رحمه الله د ارشاد مطلب دا وی.چه په جواز د تمسك او معمول کیدو کښې ټولې طریقې برابر دی.دا جدا خبره ده.چه بعضو طریقو ته په بعضو باندې ترجیح حاصل ده.لکه څنګه چه د ،،حدثنا،، په تعبیر سره روایت صحیح کیږی.دغه شان به د ،،اخبار،، او ،،انباء،، صیغې اعتبار هم کیږی.

د تحمل حدیث انواع مناسب معلومیږی.چه په دې مقام باندې تاسو د تحمل حدیث په انواعو او د حدیث اداکولو په طریقو باندې پوهه شئ.د اصول حدیث عالمانو د تحمل حدیث اته قسمونه بیان کړی دی.

① **السماع من لفظ الشیخ:** ددې صورت دا دې چه شیخ د خپل سند روایات اوروی. او شاګرد اوری.کله شیخ زبانی اوروی.او کله په کتاب کښې کتلو سره اوروی.دغه شان شاګرد کله کله صرف په اوریدو باندې اکتفاء کوی.او کله اوریدو سره سره لیکل هم کوی. (۱)

---

(۱) مقدمة ابن الصلاح (ص.۶۲) النوع الرابع والعشرون: سماع الحدیث وتحمله وضبطه بیان أقسام طرق نقل الحدیث وتحمله وفتح المغیث (۱۵۲/۲) أقسام التحمل والأخذ_

② ،،القراءة على الشيخ،،: يعنى د شيخ په وړاندې د شيخ مرويات اوونيلې شى او شيخ اورى كه شاگرد ئې وائى اوكه بل يو طالب علم ئې وائى او دې ئې اورى بيا دا لوستل كه په حفظ (ياد) سره وى اوكه د كتاب نه وى دغه شان د شيخ اوريدل كه حفظاً وى اوكه كتاب لاس كښې اخستلو سره وى بيا د كتاب په لاس كښې د اخستلو په صورت كښې پخپله د شيخ په لاس كښې كتاب وى اوكه د بل يو ثقه سړى په لاس كښې وى (١)

ياد ساتئ چه په ،،قراءت على الشيخ،، كښې چه طالب علم كوم روايات وائى هغه دې ددې شيخ مرويات وى نور روايتونه دې نه وى او ددې مقصد دا وى چه طالب علم شيخ ته واورى او توثيق اوكړى اوكه په ضبط كښې څه قسمه كمى وى نو د هغې ازاله اوكړى (٢)

بيا د جمهورو په نيز دا صورت صحيح دې چه د قراءت په موقعه كتاب د يو ثقه سړى په لاس كښې وى پخپله د شيخ په لاس كښې نه وى ددې نه قاضى ابوبكر باقلانى او امام الحرمين رحمهما الله اختلاف كوى او فرمائى چه پخپله د شيخ په لاس كښې كتاب كيدل پكار دى د بل چا په لاس كښې نه دې پكار (٣) حافظ ابن الصلاح رحمه الله د جمهورو مسلك راجح گرځولې دې (٤) البته كه دغه سړې ثقه نه وى نو دداسې سماع هيڅ اعتبار نشته (٥)

،،قراءت على الشيخ،، ته اكثر محدثين ،،عرض،، هم وائى (٦) وړاندې د باب القراءة والعرض على المحدث لاندې ددې زيات تفصيل راځى.

دقرأت على الشيخ يا عرض حكم: ددې نوع د تحمل د صحت په باره كښې اتفاق دې البته امام ابوعاصم النبيل او عبدالرحمن بن سلام مجمحى د ،،قراءت على الشيخ،، د عدم جواز قائل دى خو جمهورو ددوى قول رد كړې دې (٧)

دقرأت على الشيخ مرتبه: ددې نوع څه مرتبه ده؟ په دې كښې درې اقواله دى.

① د امام ابوحنيفه، شعبه، ابن ابى ذئب او يحي القطان رحمهم الله نه منقول دى چه د ،،قراءت على الشيخ،، درجه د ،،سماع من الشيخ،، نه زياته ده د امام مالك رحمه الله نه هم يو روايت هم دا منقول دې (٨) ددې حضراتو وينا دا ده چه د ،،سماع من الشيخ،، په صورت كښې كه شيخ ته سهوه

---

(١) مقدمة ابن الصلاح (ص، ٦٤، ٦٥) وفتح المغيث للسخاوى (١٦٨/٢)_

(٢) تيسير مصطلح الحديث (١٥٨)_

(٣) توضيح الأفكار لمعانى تنقيح الأنظار (١٨٧/٢)_

(٤) مقدمة ابن الصلاح (ص،٦٦)_

(٥) مقدمة ابن الصلاح (ص،٦٧) وتوضيح الأفكار (١٨٨/٢)_

(٦) فتح المغيث للعراقى (ص،١٨٥) ومقدمة ابن لاصلاح (٦٤)

(٧) المحديث الفاصل بين الراوى والواعى (٤٢٠، ٤٢١) وتوضيح الأفكار (١٨٨/٢)_

(٨) ظفر الأمانى (٥٠٦) ومقدمة ابن الصلاح (٦٥)_

اوشي نو طالب دپاره رد ممکن نه وي حالانکه د ،،قراءت على الشيخ،، په صورت کښې که طالب عالم غلطي اوکړي نو شيخ د هغې تصحيح کولې شي.(١)

④ د امام مالك، سفيان ثوري، امام بخاري رحمهم الله او د حجاز او کوفې د اکثرو عالمانو په نيز دواړه برابر دي(٢)

③ دجمهورو عالمانو په نيز د ،،قراءت على الشيخ،، درجه د ،،سماع،، نه ادنى او کمتر ده(٣)

البته حافظ سخاوي رحمه الله فرمائي چه په عامو حالاتو کښې خو ،،سماع،، اعلى ده خو که څه عارض راپيښ شي نو دا هم ممکن ده چه ،،قراءت،، او ،،عرض،، د ،،سماع،، نه زيات شي مثلاً دا چه طالب علم د شيخ په مقابله کښې اعلم او اضبط وي يا دا چه شيخ د لوستلو دحالت په مقابله کښې د اوريدو په حالت کښې زيات احفظ او متيقظ وي نو په داسې صورت کښې به ،،قراءت،، د ،،سماع،، نه اولى او اعلى وي.(٤)

خلاصه دا ده چه په کوم صورت کښې دغلطو نه د بچ کيدو امکان زيات وي هغه صورت اولى او اعلى دي.(٥) والله اعلم.

③ ،،الإجازة،،: يعنى شيخ چاته د روايت کولو اجازت ورکړي که دا اجازت لفظاً وي او که کتابة وي. مثلاً شيخ يوکس ته اووائي يا ليکلې ورکړي چه «أجزتُ لكَ أن تروي عني صحيح البخاري»(٦)

د اجازت قسمونه د اصولو عالمانو د اجازت ډير قسمونه ليکلي دي

① ،،اجازة معيّن لمعيّن،، يعنى مجاز به او مجاز له دواړه معين وي يو هم مبهم نه وي(٧) مثلاً شيخ داسې اووائي «أجزتكَ أيها الطالب كتاب البخاري» يا داسې اووائي «أجزتكم الأصول الستة» دلته مجاز له يعنى مخاطب معين دې او مجاز به يعنى ،،صحيح بخاري،، يا ،،صحاح سته،، هم معين دي دغه شان دا هم وئيلې شي چه «أجزت فلاناً جميع ما اشتمل عليه فهرسي». د اجازت دا صورت د جمهور محدثينو په نيز صحيح کيدو سره د اجازت تولو

---

١) ظفر الأماني (٥٠٦)_
٢) فتح المغيث للعراقي (١٨٦) وفتح المغيث للسخاوي(١٧١/٢) ومقدمة ابن الصلاح (٢٦٥) وتوضيح الأفكار(١٨٩/٢)_
٣) المصادر السابقة)_
٤) فتح المغيث للسخاوي(٢١٤/٢) وظفر الأماني(٥١٢)
٥) المصدر السابق)_
٦) فتح المغيث للسخاوي(٢١٤/٢) وظفر الأماني(٥١٢)_
٧) مقدمة ابن الصلاح (٧٣)_وظفر الأماني(٥١٣)

انواعو نه اعلى دي اگرچه بعضو حضراتو په دې باندې هم كلام كړې دې ([1])

② ،،إجازة معين لى غيرمعين،، يعنى طالب علم كوم چه مجاز له دې دا متعين وى او مجازبه غيرمعين وى ([2]) مثلاً داسې اووائى «أجزتك أو أجزتُ لكم أو أجزتُ فلاناً مسموعاتى أو مروياتى» دلته د مسموعاتو او مروياتو تعيين او تشخيص نشته.

③ ،،إجازة غير معين لى معين،، يعنى مجاز له غير معين وى او مجاز به متعين او مشخص وى مثلاً «أجزتُ أهل زمانى رواية صحيح البخارى» ([3])

④ ،،إجازة غير معين لى غير معين،، يعنى نه مجاز له معين وى او نه مجاز به مثلاً داسې اووائى «أجزتُ أهل زمانى رواية مسموعاتى» ([4])

،،إجازة المعدوم،، يعنى كوم ماشوم چه اوس پيدا شوې هم نه وى هغه ته اجازت وركول بيا ددې دوه صورتونه دى

① يو دا چه دې معدوم ته اصالتاً اجازت وركړې شى مثلاً داسې اووئيلې شى «أجزتُ لمن يولد لفلان»

② او دويم صورت دا دې چه په موجود باندې عطف اوكړې شى تبعاً او ضمناً اجازت وركړې شى مثلاً داسې اووئيلې شى «أجزتُ لفلان و لمن يولد له» يا داسې اووائى «أجزتُ لكَ ولعقبك» ([5]) ددې نوع اجازت هم بعضو حضراتو اجازت وركړې دې خو صحيح دا ده چه معدوم (غير موجود) ته اصالتاً اجازت وركول صحيح نه دى البته تبعاً او ضمناً د اجازت وركولو گنجائش شته. ([6])

⑥ ،،إجازة الطفل الّذى لم يميّز،، يعنى مجاز له داسې ماشوم وى چه هغه د هوښيار توب عمر ته نه وى رسيدلې د جمهورو په نيز هغه ته اجازت وركول صحيح دى البته د سماع دپاره د هوښيار توب عمر شرط دې نو كوم ماشوم چه د تميز عمر ته نه وى رسيدلې د هغه سماع معتبر نه ده. ([7])

⑦ ،،إجازة المجاز،، يعنى شيخ اجازت وركولو كښې داسې اووائى «أجزتُ لكَ ما أجيزلى» ([8])

---

[1] ظفرالأمانى(۵۱۳) ومقدمة إبن الصلاح (۷۲)-

[2] مقدة ابن الصلاح (۷۳)_

[3] ظفرالأمانى(۵۱۳)_

[4] مقداة ابن لصلاح(۷۳)_

[5] ظفرالأمانى(۵۱۵) ومقدمة ابن الصلاح (۷۵)_

[6] المصدرالسابق)_

[7] ظفرالأمانى(۵۱۶) ومقدمة ابن اصلاح (۷۶)_

[8] مقدمة ابن الصلاح (۷۷) وظفرالأمانى(۵۱۷)_

حاصل دا چه د اجازت څومره قسمونه دی ټولو کښې اختلاف دې چه آیا ددې نه روایت کول صحیح دی اوکه نه دی په دې کښې رومبې صورت خو تقریبا ټول حضرات صحیح ګرځوی بلکه بعضو حضراتو خو دا ونیلی دی چه اختلاف د رومبی صورت نه علاوه په باقی انواعو کښې دې د رومبی نوع په صحیح کیدوکښې دچا اختلاف هم نشته البته د باقی انواعو په باره کښې اختلاف اګرچه زیات دې خو د ،،اجازة المعدوم اصالة،، نه علاوه په باقی انواعو کښې صحیح دا ده چه صحیح دې.(١) خو دلته حافظ ابن حجر رحمه الله په شرح نخبة الفکر کښې د ،،اجازت،، بحث په آخر کښې یوه تنبیه کړې ده د هغې لحاظ ساتل ضروری دی هغه لیکی: ((وكل ذالك كما قال ابن الصلاح، توسع غير مرضي، لأن الإجازة الخاصة المعينة مختلف في صحتها اختلافاً قوياً عند القدماء، وإن كان العمل استقر على اعتبارها عند المتأخرين، فهي دون السماع بالاتفاق، فكيف إذا حصل فيها الاسترسال المذكور، فإنها تزداد ضعفا، لكنها في الجملة خير من إيراد الحديث معضلاً والله أعلم.))(٢)

(٣) المناولة: د مناولة معنی اعطاء ده په اصطلاح کښې د ،،مناوله،، صورت دا وی چه شیخ طالب علم ته خپل مرویات ورکوی که ،،تملیکاً بالبیع والهبه،، وی اوکه د اجارة او اعارة په طور وی.(٣) ددې یو څو صورتونه مشهور دی:

(١) یو مناولة مقرونه بالاجازة (٢) او دویم مجرده عن الاجازة.

د مقرونه بالاجازه صورت دا دې چه شیخ پخپلو مرویاتو باندې مشتمل کتاب خپل شاګرد ته ورکړی او دا کتاب یا خو اصل وی یا د اصل نه نقل کړې شوې او تصحیح شده وی او د ورکولو صورت دا وی چه یا ئې دتملیك په طور ورکړی په دې طریقه چه خرڅ ئې کړی یا ئې هبه کړی یا ئې د اجارې یا د عاریت په طور ورکړی چه ددې نه ئې نقل کړی او مقابله ئې اوکړی او خپل ځان سره ئې اوساتی بیا هغه کتاب ورکړی او اووائی ((هذا سماعي أو روايتي عن فلان، فاروه عني)) یا داسې اووائی ((أجزتُ لكَ روايته عني))(٤)

د مناوله دویم صورت ،،مجرده عن الاجازة،، دې یعنی شیخ کتاب یا مرویات خپل شاګرد ته ورکړی خو باقاعده د روایت کولو اجازت نه ورکوی.(٥)

د مناوله یو صورت دا هم دې چه طالب یو کتاب یا حدیث یا څه جزء واخلی او شیخ ته

---

١) المصادر السابقة)_

٢) نزهة النظر فی توضیح نخبة الفکر(١٢٥) خاتمة الکلام علی صیغ الأداء)_

٣) فتح المغیث (٢٨٥\٢) وظفر الأمانی(٥١٩)_

٤) مقدمة ابن اصلاح (١٦٥، ١٦٦) النوع الرابع والعشرون معرفة کیفیة سماع الحدیث وتحمله وصفة ضبطه القسم الرابع المناولة وفتح المغیث للعراقی (٢١٦) وفتح المغیث للسخاوی(٢٨٧\٢)_

٥) مقدمة ابن الصلاح (١٦٩) وفتح المغیث للعراقی (٢١٩) وفتح المغیث للسخاوی(٣٠١\٢)_

راشي. او د شيخ په وړاندې ئې پيش کړي.شيخ په دې کښې غوراوفکراوکړي.بيا دا واپس ورکړي او داسې اووائي.((وقفت على ما فيه، وهو حديثي عن فلان أو روايتي عن شيوخي فيه، فاروه عني))(١) دې صورت ته هم عرض وائي.او ..قراءت على الشيخ.. ته هم عرض وائي.په دې وجه حافظ ابن الصلاح رحمه الله د ..قراءت على الشيخ.. عرض ته ..عرض القراءة.. او دې موجوده زيربحث عرض ته ئې ..عرض المناولة..نوم ورکړې دې.(٢)

د مناوله حکم او ددې مرتبه د امام مالك، زهري، يحي بن سعيد انصاري، مجاهد، ابو الزبير، مسلم الزنجي، علقمه، ابراهيم نخعي، ابن وهب، ابن القاسم، اشهب، قتاده،او ابوالعاليه رحمهم الله نه منقول دي چه ..تحمل بالمناولة المقرونة بالاجازة..او ..تحمل بالسماع.. دواړه برابر دي.(٣)

خو امام ابوحنيفه، امام شافعي،امام احمد، سفيان ثوري، عبدالله بن المبارك او اسحاق بن راهويه رحمهم الله فرمائي.چه د ..تحمل بالمناولة المقرونة بالاجازة..درجه د ..سماع..نه کمتره.(٤)حافظ ابن الصلاح او ددوی متبعينو دا صحيح او راجح ګرځولې ده.(٥)

البته د ..مناوله مجرده عن الاجازه.. په باره کښې اختلاف دې چه آيا په دې صورت کښې روايت کول جائز دي.اوکه نه دي؟ خطيب بغدادي رحمه الله د بعضو حضراتو نه جواز نقل کړې دې.او بعضي حضرات دا جائز نه ګڼړي.(٦)

⑤ **المكاتبة:** د مکاتبه صورت دا وي.چه شيخ د خپلو مروياتو اومسموعاتو څه حصه پخپله اوليکي.يا ئې پخپل يو معتمد کاتب اوليکي.او خپل شاګرد ته ئې اوليکي.(٧)

ددې هم دوه قسمونه دي

① يو دا چه کتابت اجازت سره مقرون وي.چه په شروع کښې يا آخر کښې ..أجزتُ لك.. هم اوليکي.(٨)

② دويم صورت دا وي.چه صرف مکتوب وي.د اجازت اقتران ورسره نه وي.(٩) په ړومبي صورت کښې روايت کول صحيح دي.او ددې درجه د ..مناولة مقرونة بالاجازة.. برابر

---

(١) مقدمة ابن الصلاح (٧٩) وفتح المغيث للعراقي (٢١٦) وظفر الأماني (٥٢٠)_
(٢) مقدمة ابن الصلح (٧٩)_
(٣) ظفر الأماني (٥١٩)_
(٤) المصدر السابق)_
(٥) مقدمة ابن الصلاح (٨٠) وفتح المغيث للعراقي (٢١٧) وفتح المغيث للسخاوى (٢٩٣\٢)_
(٦) فتح المغيث للسخاوى (٣٠١\٢، ٣٠٢، ٣٠٣)_
(٧) مقدمة ابن الصلاح (٨٣) وظفر الأماني (٥٢١، ٥٢٢) وفتح المغيث للعراقي ٢٢ _
(٨) مقدمة ابن الصلاح (٨٣) وظفر الأماني (٥٢٢) وفتح المغيث للعراقي (٢٢٣)_
(٩) المصادر السابقة)_

ده او د دويم صورت په جواز كښې اګرچه د بعضو حضراتو اختلاف دې.خو راجح داده چه په دې صورت كښې هم روايت كول صحيح دى (١)

⑥ الاعلام: اعلام دا دې.چه شيخ طالب ته دا اووائى چه دا جزء يا دا كتاب زما روايت كړې شوې دې.(٢) په دې كښې د روايت كولو حكم يا ددې د اجازت مذكور نه وى.

د ,,اعلام،، په بنياد باندې روايت د حديث صحيح دې اوكه نه دې؟ د ابن جريج او عبيدالله عمرى نه علاوه نور هم ډير محدثين ددې خبرې قائل دى.چه مطلق ..اعلام.. سره روايت كول جائز دى.بلكه قاضى عياض رحمه الله خو فرمائى.چه دا صورت نه صرف جائز دې.بلكه كه شيخ منع اوكړى.بيا هم روايت كول جائز دى.ددې په مقابله كښې اصح قول دا دې.چه مجرد ..اعلام.. نه روايت كول صحيح نه دى.ځكه عين ممكن ده.چه شيخ ته په دې كښې څه خلل معلوم وى.چه ددې په وجه هغه د روايت كولو اجازت نه وركوى.(٣)

⑦ الوصية: د تحمل حديث اووم قسم وصيت دې ددې صورت داسې وى.چه شيخ د مرګ په وخت يا د سفر په وخت د خپل روايت كړې شوى كتاب يو سړى دپاره وصيت اوكړى.(٤)

دتحمل په دې نوع سره روايت كول جائز دى اوكه نه؟ بعضو حضراتو په دې صورت كښې هم روايت كول جائز ګرځولى دى حالانكه صحيح دا ده.چه دتحمل په دې نوع سره روايت كول صحيح نه دى.(٥)

⑧ الوجادة: ..وجاده.. مولد مصدر دې.يعنى د عربو د قدماء نه دا منقول نه دې بلكه اهل اصطلاح دا د مصدر په طور استعمال كړې دې.(٦) په اصطلاح كښې ..وجاده.. دا ده.چه يو كس ته د يو شيخ كتاب ملاوشى.او ددې شيخ نه دې راوى ته په انواعو د اجازت كښې په يوه طريقه هم اجازت حاصل نه وى.(٧) د وجاده په بنياد باندې روايت كول د متقدمينو او متاخرينو معمول پاتې شوې دې.البته روايت بالوجاده ته د ..منقطع.. درجه وركړې شوې ده.اګرچه په دې كښې يو نوع اتصال هم موندلې شى.(٨) والله اعلم

---

(١) مقدمة ابن الصلاح (٨٣. ٨٤) وظفر الأمانى(٥٢٢) وفتح المغيث للعراقى (٢٢٣)_

(٢) مقدمة ابن الصلاح (٨٤) وفتح المغيث للعراقى (٢٢٤. ٢٢٥) وظفر الأمانى(٥٢٣)-

(٣) المصادر السابقة)_

(٤) مقدمة ابن الصلاح (٨٥) وفتح المغيث للعراقى (٢٢٦) وظفر الأمانى(٥٢٤)_

(٥) المصادر السابقة)_

(٦) فتح المغيث للعراقى (٢٢٧) ومقدمة ابن الصلاح (٨٦) وظفر الأمانى(٥٢٤)_

(٧) المصادر السابقة)_

(٨) المصادر السابقة)_

طرق د اداء حديث

د سماع الفاظ که حديث د تلقي د ..سماع من الشيخ.. په طريقه وی نو ددې د اداکولو دپاره د«سمعتُ، حدثني، حدثنا، اخبرني، اخبرنا، انبأني، انبأنا، نبأني، نبأنا، قال لي فلان، قال لنا فلان، ذكر لي فلان، ذكر لنا فلان»الفاظ استعماليږی قاضی عیاض رحمه الله ددې ټولو کلماتو د اطلاق په صحیح کیدو باندې اجماع نقل کړې ده.(۱)

د سماع دالفاظو مراتب البته دا اطلاق د متقدمينو په نيز دې او متاخرينو روستو دغه الفاظ مخصوص کړی دی چه ددوی په نيز د ..سماع.. په ذريعه تحمل کړې شوی روايات ..سمعت..حدثني..او..حدثنا.. سره ادا کولې شی او د ..اخبرني.. او..اخبرنا.. په ذريعه به هغه روايات ادا کولې شی کوم چه د..قراءت على الشيخ.. په طريقه حاصل کړې شوی وی او د ،،انبأني،،او ،،انبأنا،، اطلاق به ..اجازت.. دپاره وی او د ،،قال لي فلان،، ،،قال لنا فلان،، ،،ذكر لي فلان،، او،، ذكر لنا فلان،، الفاظ د هغه رواياتو دپاره مخصوص دی کوم چه مذاکره کښې حاصل شوی دی.(۲)

بيا په دې الفاظو کښې د ..سمعت.. لفظ په دې اعتبار سره د ټولو نه ارفع دې چه دا لفظ د..اجازت.. ..مکاتبت..په ذريعه حاصل شوو رواياتو دپاره دی.دغه شان د تدليس په موقعه نه استعماليږی.حالانکه ددې په مقابله کښې د ..حدثنا.. لفظ په داسې موقعو باندې بعضو حضراتو استعمال کړی دی.(۳)

بيا دلته دا وضاحت هم ضروری دې.چه د ..حدثني.. اطلاق به په هغه صورت کښې وی.کله چه سامع يواځې وی.او د ..حدثنا.. مطلب دا دې.چه په سماع د حديث کښې نور حضرات هم شريك دی.دغه شان د ..اخبرني.. استعمال به اصطلاح کښې هغه صورت کښې وی.کله چه قراءت کونکې طالب يواځې وی.او د ..اخبرنا.. لفظ به د يو نه په زيات کيدو باندې دلالت کوی.(۴)

تنبيه دلته ددې خبرې وضاحت هم پکار دې.چه په لغت کښې په ..تحديث.. ..اخبار.. او ..انباء.. کښې هيڅ فرق نشته.لکه چه د الله ﷻ ارشاد دې. ﴿يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ۝ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوۡحَىٰ لَهَا ۝﴾ (۵) دغه شان ارشاد دې. ﴿وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ۝﴾ (۶)

---

(۱) مقدمة ابن الصلاح (۶۲) النوع الرابع والعشرون سماع الحديث وتحمله وضبطه وفتح المغيث للعراقي (۱۸۲)

(۲) فتح المغيث للعراقي(۱۸۳. ۱۸۴)_

(۳) مقدمة ابن الصلاح (۶۳) النوع الرابع والعشرون)_

(۴) نزهة النظرفي توضيح نخبة الفكر(۱۱۸)_

(۵) الزلزال: ٤. ٥)_

(۶) فاطر: ۱٤)_

دغه شان په حديث باب كښې د نبى كريم ﷺ ارشاد دې «إن من الشجر شجرة لايسقط ورقها، وإنها مثل المسلم، فحدثوني ماهي؟ فوقع الناس في شجر البوادي، قال عبدالله ووقع في نفسي أنها النخلة، فاستحييت ثم قالوا: حدثنا ماهي يا رسول الله ﷺ؟»

د كتاب العلم په يو طريق كښې د «يا رسول الله أخبرنا بها» الفاظ دى. (١) او د كتاب التفسير په يو طريق كښې د ،،حدثوني،، په ځائې ،،أخبروني،، لفظ راغلې دې.(٢) او د اسماعيلى په يو طريق كښې د ،،أنبئوني،، لفظ وارد شوې دې.(٣)

د ،،سماع من لفظ الشيخ،، او ،،قرات على الشيخ،، په صورت كښې به په الفاظ ادا كښې تفريق كيږى او كه نه؟ په لغت كښې چونكه دا ټول الفاظ مترادف او هم معنى دى.په دې وجه د عالمانو يو لوئې جماعت چه په دې كښې امام زهرى، امام مالك، سفيان بن عيينه،يحي القطان، او اكثر حجازيين او كوفيين شامل دى.ددې خبرې قائل دى.چه په دې كښې د هر يو لفظ استعمال جائز دې.(٤)

او اسحاق بن راهويه، امام نسائى، ابن حبان او ابن منده ﷭ ددې خبرې قائل دى.چه كله سماع من لفظ الشيخ وى.نو دا الفاظ على الاطلاق وئيلې شى.اوكه قراءت على الشيخ وى.نو دا الفاظ به ،،قراءت،، سره مقيد كولې شى.(٥)

او امام ابن جريج، اوزاعى، شافعى، ابن وهب، او د مشرق اكثرو عالمانو د الفاظو تخصيص كړې دې.چه د ،،سماع من لفظ الشيخ،، په صورت كښې به ،،تحديث،، او د ،،قراءت على الشيخ،، په صورت كښې به د ،،اخبار،، لفظ استعمالولې شى.(٦) روستو ددوى متبعينو هغه تفصيل اختيار كړې دې.كوم چه مونږه وړاندې ذكركړې دې چه ،،حدثنى،، د يوكس دپاره دې.او ،،حدثنا،، او ،،اخبرنا،، د جمعې دپاره دې.(٧)

خو دلته چه حافظ ﷫ كومه تنبيه كړې ده.هغه ياد ساتل پكار دى.چه دا ټول تفصيل د مستحسن كيدو حده پورې دې.ددې التزام څه واجب نه دې.البته متاخرينو ته ددې مذكوره اصطلاحاتو رعايت كول پكار دى.ځكه چه اوس دې د حقيقت عرفيه حيثيت اختيار كړې

---

(١) صحيح بخارى (٢٤/١) كتاب العلم باب الحياء في العلم رقم ١٣١)_

(٢) صحيح بخارى (٦٨١/٢) كتاب التفسير سورة إبراهيم باب ﴿كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ﴾ رقم ٤٦٩٨)_

(٣) ذكره الحافظ فى الفتح (١٤٤/١)_

(٤) فتح البارى(١٤٥/١)-

(٥) المصدر السابق)-

(٦) المصدر السابق)-

(٧) المصدر السابق)-

دي.كه ددې رعايت اونكړې شي.نو د خلط خطره ده. (١) والله اعلم.

د، قرات على الشيخ، په صورت كښې د اداء الفاظ هغه روايات د كومو تحمل چه د ..قراءت على الشيخ.. په طريقه باندې شوې وى.د هغې د ادا كولو يو څو صورتونه دى

① يو صورت دا دې.چه ،،قرأت على فلان،، يا ،،قرئ على فلان و أنا أسمع، فأقر به،، اووئيلې شى.دا صورت د ټولو نه اعلى او اسلم دې.په دې كښې هيڅ اشكال نشته. (٢)

② دويم صورت دا دې.چه په ..سماع من الشيخ.. كښې چه كوم الفاظ استعماليږى.هغه دلته كښې تقييد سره استعمال كړې شى.مثلاً اووئيلې شى. ،،حدثنا فلان قراءة عليه،، يا ،،أخبرنا قراءة عليه،،دا د ړومبى قسم په مقابل كښې كمتر دې.(٣)

③ دريم صورت دا دې.چه ددې قسم دپاره هم د،،سماع من الشيخ،، والا الفاظ ،،حدثنا،، او،،أخبرنا،، بغير دڅه قيد نه استعمال كړې شى.نو په دې كښې اختلاف دې.

مذاهب علماء ① د عبدالله بن المبارك. يحي بن يحي تميمى. احمد بن حنبل. او نسائى رحمهم الله وغيره مذهب دا دې.چه دغه شان على الاطلاق استعمالول جائز نه دى.

② ددې په مقابله كښې د حجاز او دكوفې داكثرو عالمانو. او د امام زهرى.امام مالك. سفيان بن عيينه او يحي بن سعيد القطان رحمهم الله وغيره متقدمينو امامانو په نيز ددې الفاظو على الاطلاق استعمالولو كښې هيڅ باك نشته.د امام بخارى رحمه الله هم دا مذهب دې.(٤) په دې مجوزينو كښې بعضو خو ..سمعت فلاناً.. ونيل هم صحيح ګرځولى دى.(٥)

③ په دې قسم كښې دريم مذهب دا دې.چه په دواړو لفظونو كښې فرق دې.د امام شافعى او ددوى د اصحابو قول دې.چه د ..قراءت على الشيخ.. په طريقه د حاصل شوو رواياتو ادا كولو دپاره ..اخبرنا.. استعمالول صحيح دى.د ..حدثنا.. اطلاق صحيح نه دې.هم دا خبره د امام مسلم رحمه الله او د جمهور اهل مشرق نه منقول ده.اكثر محدثين هم ددې قائل دى.(٦) حافظ ابن الصلاح رحمه الله فرمائى.«الفرق بينهما صار هو الشائع الغالب على أهل الحديث، والإحتجاج لذالك من حيث اللغة عناء و تكلّف، وغير ما يقال فيه: إنه إصلاح منهم أرادوا به التميز بين النوعين، ثم خصص النوع الأول بقول ،،حدثنا،، لقوة إشعاره بالنطق والمشافهة»،والله اعلم.(٧)

---

(١) المصدر السابق)-

(٢) مقدمة ابن الصلاح (٦٥) النوع الرابع والعشرون وفتح المغيث للعراقى (١٨٧)_

(٣) المصادر السابقة)_

(٤) المصادر السابقة)_

(٥) مقدمة ابن الصلاح (٦٥) وقال القاضى عياض وهو قول روى عن مالك والثورى وابن عيينة ..فتح المغيث للعراقى (١٨٧)_

(٦) مقدمة ابن الصلاح (٦٥، ٦٦) وفتح المغيث للعراقى (١٨٨)_

(٧) مقدمة ابن الصلاح (٦٦)_

د اجازت په طريقې سره د حاصل شوو رواياتو طريقه اداء ① بعضو حضراتو د ..حدثنا.. او ..اخبرنا.. استعمالولو على الاطلاق اجازت وركړې دې.دا د ابـن جريج. امام مالك. امام الحرمين او اهل مدينه نه منقول دې (١)

② خو د جمهورو په نيز الفاظ د سماع او قراءت مقيد استعمالول پكار دي. مثلا داسې ونيل پكار دي ،،حدثنا إجازةً،، يا ،،أخبرنا إجازةً،،(٢)

د اجازت يو څو نور الفاظ دلته يو څو الفاظ نور هم دي.كوم چه په ..اجازت.. كښې استعمال كړې شوي دي.لكه چه بعضو حضراتو ..شافهني فلان.. او ..اخبرنا مشافهة.. استعمال كړې دي.(٣)د امام اوزاعي نه منقول دي چه دوى د ..اجازت.. دپاره ،،خبّرنا،، لفظ استعمال كړې دې.او د ،،قرأت على الشيخ،، دپاره ئې ،،أخبرنا،، استعمال كړې دي.(٤)

دغه شان اجازت دپاره متاخرينو د ،،أنبأنا،، لفظ استعمال كړې دې.بلكه علامه ابوالعباس وليد بن بكر معمري پخپل كتاب ،،الوجازة في تجويز الإجازة،،كښې د ..اجازت..دپاره هم دا استعمال كړې دې.حالانكه د متقدمينو په نيز ،،أخبرنا،، او ،،أنبأنا،، هم معنى دي.(٥) والله اعلم.

د ،،مناوله،، په طريقه د حاصل شوو رواياتو طريقه د اداء په دې طريقه كښې هم د سماع الفاظ بعضو حضراتو مطلقاً بغير دغه قيد نه استعمال كړي دي.حالانكه په دې كښې هم غوره دا ده.چه تقييد سره ذكركړې شي.مثلا داسې اووئيلې شي.،،حدثنا مناولة،، يا ،،أخبرنا مناولة،،دغه شان صرف ،،ناولني،، وئيل هم صحيح دي.او كه مناوله مقرون بالاجازه وي نو ،،ناولني وأجازلي،، وئيلو سره روايت كول غوره دي.(٦) والله اعلم.

د كتابت، اعلام، وصيت، او وجاده په طريقو سره د حاصل شوو رواياتو طريقه د اداء

① مكاتبت سره د حاصل شوو رواياتو اداكولو دپاره يا خو د كتابت تصريح اوكړې شي.او اووئيلې شي.چه ،،كتب إلي فلان،،يا الفاظ د سماع او قراءت مقيد استعمال كړې شي او اووئيلې شي ،،حدثنا كتابة،، يا ،،أخبرنا كتابة،،(٧) ② دغه شان د ..اعلام.. په طريقه د حاصل شوو رواياتو ادا كولو دپاره اووئيلې شي.،،أعلمني شيخي بكذا،،(٨)③ د ..وصيت.. په

---

١) مقدمة ابن الصلاح (٨١) وفتح المغيث للعراقي (٢٢٠)_
٢) مقدمة ابن الصلاح (٨٢) وفتح المغيث للعراقي (٢٢٠)_
٣) مقدمة ابن الصلاح (٨٢) وفتح المغيث للعراقي (٢٢١)_
٤) المصادر السابقة)_
٥) المصادر السابقة)_
٦) مقدمة ابن الصلاح (٨١) وفتح المغيث للعراقي (٢٢٠)_
٧) مقدمة ابن الصلاح (٨٤) وفتح المغيث للعراقي (٢٢٤)_
٨) تيسير مصطلح الحديث (١٦٣. ١٦٤)_

صورت كښې به يا خو ،،أوصى إلى فلان بكذا،، وائي.او يا به ،،حدثني فلان وصية،، وائي (١)

⑥ د ،،وجاده،، په صورت كښې به راوى ،،وجدت بخط فلان،، يا ،،قرأت بخط فلان،، ونيلو سره روايت سره د سند نه نقل كوى.(٢)

قوله وَقَالَ لَنَا الْحُمَيْدِيُّ كَانَ عِنْدَ ابْنِ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا وَأَخْبَرَنَا وَأَنْبَأَنَا وَسَمِعْتُ وَاحِدًا: حميدى مونږ ته بيان كړل.چه د ابن عيينه په نيز ،،حدثنا،، ،،أخبرنا،، او ،،سمعت،، ټول يو (برابر) وو.

د قال لنا، قال لى، ذكرلنا، او ذكرلى د استعمال مواقع وړاندې مونږ د اداء حديث د طريقو لاندې مونږ بيان كړى دى.چه،،قال لنا،،او،،قال لى،،دغه شان ،،ذكرلنا،،او،،ذكرلى،،دا ټول الفاظ د سماع من الشيخ الفاظ دى.او په اتصال باندې داسې دلالت كوى.لكه څنګه چه ،،حدثنى،،حدثنا،،او،،سمعت،، وغيره اتصال باندې دلالت كوى. البته دا خبره ضرورى ده.چه د ،،قال لنا،، زيات تر اطلاق هغه رواياتو دپاره كيږى. كوم چه د مذاكرة په دوران حاصل كړې شوى وى.(٣)

البته كه د حرف جار نه بغير صرف ،،قال فلان،،يا ،،ذكر فلان،، اووئيلې شى.نو په دې كښې د انقطاع احتمال هم شته.په دې وجه به ددې درجه د ،،قال لنا فلان،، يا د ،،ذكر لنا فلان،، نه كمتره وى.البته كه ددې قائل مدلس نه وى.او د راوى مروى عنه سره لقاء هم ثابت وى.نو دا به په اتصال باندې محمول وى.(٤)

ابن منده رحمه الله فرمائيلى دى.چه امام بخارى رحمه الله كوم ځائې كښې ،،قال لى فلان،، فرمائى هغه ،،اجازة،، سره حاصل شوى روايات وى.سماعاً يا قراءت سره حاصل شوى نه وى.دغه شان كوم ځائې چه ،،قال فلان،، (دجار مجرور نه بغير) ذكركوى.هغه تدليس دې.(٥)

هم دا خبره حافظ ابو يعقوب رحمه الله هم فرمائى.(٦) او حافظ ابوجعفر بن حمدان رحمه الله فرمائى چه داسې ټول روايات عرضاً او مناوله سره حاصل كړې شوى دى.(٧)

دغه شان د ابن حزم رحمه الله وينا دا ده.چه داسې ټول روايات متصل نه دى.(٨)

---

(١) المصدر السابق)_

(٢) المصدر السابق)_

(٣) مقدمة ابن الصلاح (٦٤) النوع الرابع والعشرون القسم الأول:السماع من لفظ الشيخ وفتح المغيث للعراقى (٨٤) وفتح المغيث للسخاوى(١٦٣\٢) وظفرالأمانى (٥٠٩. ٥١٠)_

(٤) انظرالمصادرالسابقة لا سيماً من عرف من حاله أنه لا يروى إلا ما سمعه كحجاج بن محمد الأعور فروى كتب ابن جريج بلفظ قال إبن جريج فحملها الناس عنه واحتجوا بها (١٨٤) وفتح المغيث للسخاوى (١٦٣\٢) وظفرالأمانى (٥١٠)_

(٥) فتح المغيث للعراقى (١٨٤) وفتح المغيث للسخاوى(١٦٣\٢) وظفرالأمانى(٥١٠)_

(٦) المصادر السابقة)-

(٧) المصادر السابقة)_

(٨) ظفرالأمانى (٥١١)_

خو عالمانو ددې ټولو حضراتو د قول تردید کړې دې.چه مثلاً امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح بخاری کښې د حضرت ابوهریره رضي الله عنه مرفوع حدیث نقل کړې دې.«إذا نسي فأكل أو شرب....» ددې په سند بیانولو کښې فرمائی.«حدثنا عبدان....»(۱) او هم دا روایت پخپل تاریخ کښې نقل کوی.او فرمائی.«قال لي عبدان...»(۲)دغه شان امام بخاری رحمه الله په ..کتاب التفسیر.. کښې د ابراهیم بن موسی نه په صیغه د تحدیث روایت نقل کړې دې.(۳) حالانکه په ..کتاب الایمان والنذور..کښې ئې «قال إبراهيم بن موسى....» الفاظ استعمال کړی دی.(۴)

الحمیدی: د امام حمیدی رحمه الله ذکر اګرچه په ..بدءالوحی.. کښې هم راغلې دې(۵) خوهلته ډیر زیات اختصار دې.دلته مونږ په لږشان تفصیل سره ددې ذکرکوو.دا ابوبکر عبدالله بن الزبیر بن عیسی بن عبیدالله بن اسامه بن عبدالله بن الحمید بن زهیر بن الحارث بن اسد بن عبدالعزی قرشی اسدی حمیدی مکی دې.(۶)

دوی د بشر بن بکرتنیسی، ابو اسامه حماد بن اسامه، سفیان بن عیینه، عبدالعزیز بن محمد دراوردی، فضیل بن عیاض، امام شافعی، مروان بن معاویه فزاری، وکیع بن الجراح، ولید بن مسلم او یعلی بن عبید طنافسی رحمهم الله نه روایت کوی.

ددوی نه په روایت کونکو کښې امام بخاری، ابوزرعه، عبیدالله بن عبدالکریم رازی، امام ابوحاتم محمد بن ادریس الرازی، امام محمد بن یحي ذهلی، یعقوب بن سفیان، او یعقوب بن شیبه رحمهم الله دی.(۷)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی..«الحميدي عندنا إمام»(۸)

ابو حاتم رحمه الله فرمائی.«أثبت الناس في ابن عيينه، الحميدي،وهو رئيس أصحاب ابن عيينه، وهو ثقة إمام»(۹)

---

(۱) صحیح بخاری (۲۵۹\۱) کتاب الصوم باب إذا أكل أو شرب ناسياً رقم ۱۹۳۳)_
(۲) التاريخ الكبير(۹۱\۱) ترجمة محمد بن سيرين رقم الترجمة ۲۱۵)_
(۳) صحیح بخاری (۷۲۹\۲) کتاب التفسير سورة التحريم باب ﴿يا أيها النبي لم تحرم ما أحل الله لك ..﴾ رقم ۴۹۱۲)_
(۴) صحیح بخاری (۹۹۰\۲) کتاب الأيمان والنذور باب إذا حرم طعامه رقم ۶۶۹۱)_
(۵) کشف الباری(۲۳۷\۱)_
(۶) تهذیب الکمال (۵۱۲\۱۴)_
(۷) د شیوخو او شاګردانو دپاره اوګورئ تهذیب الکمال (۵۱۳\۱۴، ۵۱۴)_
(۸) تهذیب الکمال (۵۱۳\۱۴) وسير أعلام النبلاء (۶۱۷\۱۰)_
(۹) تهذیب الکمال (۵۱۳\۱۴) وسير أعلام النبلاء (۶۱۷\۱۰)_

امام عجلی رحمه الله فرمائی ،،ثقة،،([1])

ابن حبان رحمه الله فرمائی.((كان صاحب سنة وفضل ودين))([2])

امام دارقطنی رحمه الله فرمائی ،،حافظ،،([3])

امام حاكم رحمه الله فرمائی ،،ثقة مامون،،([4])

امام بخاری رحمه الله فرمائی.((الحميدى إمام فى الحديث))([5])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.((ثقة حافظ فقيه، أجل أصحاب ابن عيينة))([6])

ابن سعد رحمه الله فرمائی.،،وكان ثقة كثير الحديث،،([7])

امام حمیدی رحمه الله د حدیثو علم د نورو استاذانو نه علاوه د سفیان بن عیینه رحمه الله نه خاص طور باندې حاصل کړو. تردې چه ددوی په خدمت کښې نولس. یا شل کاله جوړې پاتې شوې وو.([8]) اوداامام شافعی رحمه الله نه ئې دفقهې علم حاصل کړو ([9])

د امام شافعی رحمه الله د وفات نه پس حمیدی ته پخپله توقع وه چه ددوی د جانشینئ او خلیفه کیدو) سعادت به حاصلیږی. خو ددوی په مقابله کښې ابن عبدالحکم ته د امام شافعی رحمه الله د جانشینئ شرف حاصل شو.نو دوې مکې مکرمې ته راغلل او دلته د علم نشر کولو خدمت پوره کول شروع کړل([10])

امام شافعی رحمه الله پخپله ددوی تعریف کښې فرمائی.((ما رأيتُ صاحب بلغم (أى إنسانًا) أحفظ من الحميدى، كان يحفظ لسفيان بن عيينه عشرة آلاف حديث))([11])

امام اسحاق بن راهویه رحمه الله فرمائی.((الأئمة فى زماننا الشافعى، والحميدى، وأبوعبيد))([12])

پخپله امام حمیدی رحمه الله فرمائی.((ما دمتُ بالحجاز، وأحمد بن حنبل بالعراق، وإسحاق بخراسان، لا

---

[1]) تعليقات تهذيب الكمال (١٤\٥١٥) نقلاً عن ثقات العجلى (الورقة ٢٩)_

[2]) الثقات لابن حبان (٨\٣٤١)_

[3]) تعليقات تهذيب الكمال (١٤\٥١٥) نقلاً عن علل الدارقطنى (٣\١٧١)_

[4]) تهذيب التهذيب (٥\٢١۶)_

[5]) طبقات الشافعية الكبرى(١ج ٢۶٤) وسير أعلام النبلاء (١٠\۶١٩)_

[6]) تقريب التهذيب (٣٠٣) رقم ٣٣٢٠)_

[7]) طبقات ابن سعد(٥\٥٠٢)_

[8]) طبقات الشافعية الكبرى(١\٢۶٤) وسير أعلام النبلاء (١٠\۶١٧)_

[9]) فتح البارى(١\١٠) كتاب بدء الوحى باب كيف كان بدء الوحى)_

[10]) سير أعلام النبلاء (١٠\۶١٩)_

[11]) طبقات الشافعية (١\٢۶٣) وسير أعلام النبلاء (١٠\٤۶٤)_

[12]) سير أعلام النبلاء (١٠\۶٨١، ۶١٩) وطبقات الشافعية (١\٢۶٤)_

يغلبنا أحد»[1] او هم دوى فرمائي: «والله لأن أغزو هؤلاء الذين يردون حديث رسول الله ﷺ أحب إلي من أن أغزو عدتهم من الأتراك»[2]

ددې د لوئې شان اندازه ددې نه لګولې شي: چه حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله د حديث «إنما الأعمال بالنيات» نه د خپل كتاب افتتاح اوفرمانيله. او د امام مالك رحمه الله په طريق سره ئې ددې (حديث) روايت كولو په ځائې د حميدي رحمه الله سند ته ترجيح وركړله.[3]

امام حاكم رحمه الله فرمائي: «ومحمد بن إسماعيل إذا وجد الحديث عنه لايخرجه إلى غيره، من الثقة به»[4]

امام حميدي رحمه الله مسند ليكلې دې چه هغه په ،،مسند الحميدي،، نوم سره معروف دې. د علامه حبيب الرحمن عظمي رحمه الله تحقيق سره ،،مجلس علمي ډابهيل،، دا په دوو جلدونو كښې شائع كړې دې.

د امام حميدي رحمه الله وفات په ۲۱۹ه يا ۲۲۰ه كښې اوشو.[5] ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

ابن عيينه: ددوى ذكر اګرچه وړاندې راغلې دې. خو ډير سرسرى طور باندې ددوى ذكر شوې وو.[6] دلته لږ په تفصيل سره ددوى حالات ذكركولې شي.

دا مشهور محدث سفيان بن عيينه بن ابى عمران هلالى كوفي دې. د دوى كنيت ابومحمد دې. د محمد بن مزاحم اخي الضحاك بن مزاحم مولى وو[7] دا لس رونړه وو. په دوى كښې پنځه رونړه محدثين دى. سفيان. ابراهيم. محمد. آدم. او عمران.[8]

سفيان بن عيينه رحمه الله د بې شماره محدثينو نه فيض حاصل كړې دې. چه په هغوى كښې د يوڅو مشهورو شيوخو نومونه دا دى. ابراهيم بن ميسره. اسماعيل بن اميه. اسماعيل بن ابى خالد. ايوب سختياني. ابو بشر بيان بن بشر احمسي. جامع بن ابى راشد. جعفر بن محمد الصادق. حسن بن عماره. حميد الطويل. داؤد بن نصير الطائي. زائدة بن قدامه. زكريا بن ابى زائده. زياد بن سعد. زياد بن علاقه. زيد بن اسلم. سالم ابى النضر. سفيان الثورى. ابوحازم سلمة بن دينار. سليمان الاحول. سليمان الاعمش. سهيل بن ابى صالح. شعبة بن الحجاج. شبيب بن غرقده. صالح بن كيسان. عاصم بن ابى النجود. ابو الزناد. عبدالكريم. ابى اميه. عبدالملك بن عبدالعزيز بن جريج. علي بن زيد بن جدعان. عمارة

---

[1] المصادر السابقة)_
[2] سير أعلام النبلاء (۶۱۹/۱۰)_
[3] سير أعلام النبلاء (۶۲۰/۱۰، ۶۲۱)_
[4] تهذيب التهذيب (۲۱۶/۵)_
[5] سير أعلام النبلاء (۶۱۸/۱۰)-
[6] كشف الباري (۲۳۸/۱) بدء الوحي الحديث الأول)_
[7] تهذيب الكمال (۱۷۷/۱۱، ۱۷۸)_
[8] المصدر السابق)_

بن القعقاع، عمرو بن دینار، ابو معاویه عمرو بن عبدالله نخعی، مالك بن انس، ابن شهاب زهری، مسعر بن کدام، معمر بن راشد، منصور بن المعتمر، هشام بن عروه ولید بن کثیر، ابو اسحاق سبیعی، ابوالزبیر مکی رحمهم الله.

ددوی نه په روایت کونکو کښې ددوی خپل شیوخ امام اعمش، ابن جریج او شعبه نه علاوه همام بن یحيٰ، حسن بن حي، زهیر بن معاویه، عبدالله بن المبارك، عبدالرحمن بن مهدی، یحيٰ القطان، امام شافعی، عبدالرحمن، عبدالرزاق، صنعانی، امام حمیدی، سعید بن منصور، یحيٰ بن معین، علی بن المدینی، احمد بن حنبل، ابوبکر بن ابی شیبه، اسحاق بن راهویه، او عمرو بن علی الفلاس رحمهم الله وغیره دی.([1])

سفیان بن عیینه رحمه الله په ۱۰۷هـ کښې پیدا شو.([2]) د ماشوموالی نه په طلب د حدیث کښې لګیا شو الله تعالی ددوی په علم کښې اوعمر کښې برکت واچولو چه ددوی نه په علم حاصلونکو کښې چه اجداد (نیکونه) دی نو احفاد (نمسو) هم ددوی نه فیض حاصل کړو ۱۴۲هـ نه تحدیث شروع شو د تولو نه آخر کښې سماع کونکې یو ابوالنصر الیسع بن زید زینبی نومې مکی سړې وو دوی تر ۲۸۲هـ پورې ژوندې پاتې وو.([3]) ددوی په امامت او لوئې شان باندې اتفاق دې ډیر خلق به د حج په اراده وتل خو ددوی په نظر کښې به دا خبره وه چه زمونږ سفیان بن عیینه سره ملاقات اوشی او ددوی سند به عالی (اوچت) شی.([4])

علی بن المدینی رحمه الله فرمائی: «مافی أصحاب الزهری أتقن من ابن عیینة»([5])

امام احمد بن عبدالله عجلی رحمه الله فرمائی: «سفیان بن عیینه کوفی ثقة ثبت فی الحدیث، وکان بعض أهل الحدیث یقول: هو أثبت الناس فی حدیث الزهری، وکان حسن الحدیث، وکان یعدّ من حکماءِ أصحاب الحدیث، وکان حدیثه نحواً من سبعة آلاف ولم تکن له کتب»([6])

امام شافعی رحمه الله فرمائی: «مالك وسفیان بن عیینة القرینان، یعنی فی الأثر»([7]) اوهم دوی فرمائی: «لولا مالك وسفیان لذهب علم الحجاز»([8])

امام سفیان ثوری رحمه الله نه چه کله ددوی په باره کښې تپوس اوکړې شو نو وې فرمائیل

---

[1] داستاذانو او شاګردانو د تفصیل دپاره اوګورئ (تهذیب الکمال (۱۱\۱۷۸، ۱۸۸) وسیر أعلام النبلاء (۸\۴۵۷)_

[2] تهذیب الکمال (۱۱\۱۸۸)-

[3] تهذیب الکمال(۱۱\۱۸۸) وسیر أعلام النبلاء(۸\۴۵۷)_

[4] سیر أعلام النبلاء (۸\۴۵۷)_

[5] تهذیب الکمال(۱۱\۱۸۹) وسیر أعلام النبلاء (۱۱\۴۵۸)_

[6] تهذیب الکمال(۱۱\۱۸۹)_

[7] المصدر السابق)_

[8] المصدر السابق)_

«ذاك أحد الأحدين، ما كان أغربه»[۱]

يحي بن سعيد رحمه الله فرمائي. «سفيان إمام في الحديث»[۲]
امام بن عيينه رحمه الله به ډير زيات حجونه كول.يو خل ئې د حج په موقعه پخپل وراره حسن بن عمران بن عيينه ته په مزدلفه كښې اوفرمائيل.«قد وافيت هذا الموضع سبعين مرة، أقول في كل سنة: «اللهم لا تجعله آخر العهد من هذا المكان»، وإني قد استحييت من الله من كثرة ما أسأله ذالك» نو ددې نه پس ددوى وفات اوشو.[۳]
تنبيه د امام يحي بن سعيد القطان رحمه الله نه محمد بن عبدالله بن عمار نقل كړى دى.چه دوى فرمائي.«أشهدوا أن سفيان بن عيينة اختلط سنة سبع وتسعين، فمن سمع منه في هذه السنة وبعدها فسماعه لا شئ»[۴] ددې حاصل دا دې.چه سفيان بن عيينه رحمه الله د خپل وفات نه يو كال وړاندې مختلط شوې وو.
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائي.چه د ابن عيينه رحمه الله نه په ۱۹۷ھ كښې سماع كونكي محمد بن عاصم رحمه الله دې.چه ددوى يو ۰۰ جزء۰۰ مشهور دې. چه دا ډير اوچت سند دې.تر كومه پورې چه د آئمه سته د شيوخو تعلق دې.نو هغوى ټولو د ۱۹۷ھ نه وړاندې سماع كړې ده.روستو ئې نه ده كړې.۱۹۸ھ چه دا ددوى د وفات كال دې.په دې كښې خو چا هم سماع نه ده كړې.[۵]
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائي.چه زه د ابن القطان رحمه الله دا قول مستبعد (او ناممكن) گڼم او غالبه دا ده.چه دا د ابن عمار غلطى ده.خكه چه ابن القطان رحمه الله پخپله په صفر ۱۹۸ھ كښې وفات شوې وو.كوم وخت چه حجاج واپس راځي.نو دا بعيد (نا ممكن) ده.چه هغه پخپله دمرګ په خوله كښې وى.او په دې حال كښې دوى ته د سفيان د اختلاط خبر رسيدلې وى.او هغه ددې اعلان اوكړى.ممكن ده.چه دوى ته دا خبره د ۱۹۷ھ په دوران څه وخت رسيدلې وى.خو ياد ساتئ.چه يحي القطان د نقد رجال په سلسله كښې دحد نه زيات متعنت او متشدد دې.او بل طرف ته د ابن عيينه شخصيت دې.چه دا نه صرف ثقه دې بلكه على الاطلاق حجت دې.او د اسلام په ټولو دواوينو كښې ددوى روايات موجود دى.[۶]
البته علماء د رجالو د سفيان بن عيينه رحمه الله په باره كښې تصريح كړې ده.چه دوى به تدليس كوو.چه دوى د زهرى رحمه الله په ډيرو حديثونو كښې د تدليس نه كار اخستې دې.او امام

---

[۱] المصدر السابق_
[۲] المصدر السابق_
[۳] الطبقات الكبرى لابن سعد(۵\۴۹۸)_
[۴] تهذيب الكمال (۱۱\۱۹۶) وسير أعلام النبلاء (۸\۴۶۵) وميزان الإعتدال (۲\۱۷۰، ۱۷۱)_
[۵] ميزان الإعتدال (۲\۱۷۱)_
[۶] ميزان الإعتدال (۲\۱۷۱) وسير أعلام النبلاء (۸\۴۶۵، ۴۶۶)_

زهری رحمه الله ددوی براه راست شیخ دې. ددوی کوم حدیثونه چه هغوی براه راست نه دی اوریدلی په هغه حدیثونو کښې به دوی د تدلیس نه کار اخستلو. اوخپل شیخ به نې حذف کولو(۱)
خو ددې تدلیس باوجود د سفیان بن عیینه رحمه الله روایات مطلقاً قابل د احتجاج گنړلې کیږی ځکه چه دوی کله هم یو شیخ حذف کړې دې هغه ثقه ختلې دې. دوی کله هم د غیرثقه سړی په حدیث کښې تدلیس نه دې کړې. لکه چه حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی. «أجمعت الأمة على الاحتجاج به، وكان يدلس، لكن المعهود منه أنه لا يدلس إلا عن ثقة....»(۲)
دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی. «ثقة حافظ فقيه إمام حجة، إلا أنه تغير حفظه بأخرة، وكان ربما دلس، لكن من الثقات»(۳)
حافظ ابن حبان رحمه الله فرمائی. «اللهم إلا أن يكون مدلس، يُعلم أنه ما دلس قط، إلا عن ثقة، فإذا كان كذالك، قُبلت روايته، وإن لم يبين السماع، وهذا ليس في الدنيا إلا سفيان بن عيينه وحده، فإن كان يدلس، ولا يدلس إلا عن ثقة متقن، ولا يكاد يوجد لسفيان بن عيينة خبر دلس فيه إلا وجد ذالك الخبر بعينه قد بين سماعه عن ثقة، مثل نفسه والحكم في قبول روايته لهذه العلة وإن لم يبين السماع فيها، كالحكم في رواية ابن عباس إذا روى عن النبي ﷺ منه»(۴)
د امام سفیان بن عیینه رحمه الله د زهد او ورع واقعاتو او عارفانه کلام دپاره د تاریخ او سیر کتابونو طرف ته رجوع اوکړئ. (۵)
ددوی وفات په ۱۹۸ھ کښې شوې دې. (۶)،، رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

((وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ وَقَالَ شَقِيقٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَةً وَقَالَ حُذَيْفَةُ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ وَقَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِي عَنْ رَبِّهِ وَقَالَ أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّهِ عَزَّوَجَلَّ وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ عَزَّوَجَلَّ))

د صحابه کرامو د تحدیث الفاظ او ددې د ذکر کولو مقصد امام بخاری رحمه الله چه دلته د حضرت عبدالله بن مسعود. حضرت حذیفه. حضرت ابن عباس. حضرت انس او حضرت

---

(۱) سير أعلام النبلاء (۸\۴۶۵)_
(۲) ميزان الإعتدال (۸\۴۶۵)_
(۳) تقريب التهذيب (۲۴۵) رقم (۲۴۵۱)_
(۴) الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (۱۱\۱۵۰)_
(۵) تهذيب الكمال (۱۱\۱۹۱، ۱۹۶) وسير أعلام النبلاء (۸\۴۶۱، ۴۶۴) وحلية الأولياء (۷\۲۷۰، ۳۱۸)_
(۶) تهذيب الكمال (۱۱\۱۹۶)_

ابوهريره(رض) نه كومې جملې نقل كړى دى.په هغې كښې بعضو كښې ،،حدثنا،، بعضو كښې ،، سمعت،، او په بعضو كښې د ،،عن،، الفاظ راغلى دى.په دې ټولو تعليقاتو سره
① دا ښودل مقصود دى.چه د تحديث، اخبار او سماع دا ټول الفاظ هم معنى (مترادف) دى.دغه شان عنعنه په وصل باندې محمول ده.په دې شرط چه د راوى او مروى عنه لقاء ثابته وى.(١)
② بعضې عالمان فرمائى.چه دې ټولو تعليقاتو ذكركولو سره امام بخارى رحمه الله دا ښودلې ده.چه تحديث، سماع، عنعنه وغيره په عهد د صحابو. او تابعينو كښې استعماليدل.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د ړومبى تعليق تخريج دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا تعليق امام بخارى رحمه الله پخپل صحيح كښې په ،،كتاب بدءالخلق، كتاب احاديث الانبياء، كتاب القدر، او كتاب التوحيد،، كښې موصولاً تخريج كړې دې.چه په دې كښې د جنين د پيدائش ذكر دې:((قال عبدالله: حدثنا رسول الله ﷺ وهو الصادق المصدوق، قال: إن أحدكم يجمع خلقه فى بطن أمه أربعين يوماً، ثم يكون علقة مثل ذالك، ثم يكون مضغة مثل ذالك، ثم يبعث الله ملكاً فيؤمر بأربع كلمات، ويقال له: أكتب عمله، ورزقه، وأجله، وشقى أو سعيد، ثم ينفخ فيه الروح، فإن الرجل منكم ليعمل، حتى مايكون بينه وبين الجنة إلا ذراع، فيسبق عليه كتابه، فيعمل بعمل، أهل النار، ويعمل حتى مايكون بينه وبين النار، إلا ذراع، فيسبق عليه الكتاب، فيعمل بعمل أهل الجنة))(٢)

تنبيه د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان ،،باب ظلم دون ظلم،، كښې تيرشوى دى.(٣)

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د دويم تعليق تخريج د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا دويم تعليق هغه حديث سره متعلق دې.په كوم كښې چه هغوى فرمائى.((قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَهُوَيَدْعُومِنْ دُونِ اللهِ نِدًّا دَخَلَ النَّارَ وَقُلْتُ أَنَا مَنْ مَاتَ وَهُوَلَايَدْعُولِلهِ نِدًّا دَخَلَ الْجَنَّةَ))دا حديث امام بخارى رحمه الله په ،،كتاب الجنائز، كتاب التفسير ،او كتاب الايمان والنذور،، كښې موصولاً تخريج كړې دې.(٤)

---

(١) فتح البارى (١٤٤/١)_
(٢) صحيح البخارى (٤٥٦/١) كتاب بدء الخلق باب ذكر الملائكة رقم ٣٢٠٨ كتاب أحاديث الأنبياء باب قول الله تعالى((وإذا قال ربك للملائكة إنى جاعل فى الأرض خليفة)) رقم ٣٣٣٢ (٩٧٦/٢) كتاب القدر باب فى القدررقم ٦٥٩٤ (١١١٠/٢) كتاب التوحيد باب((ولقدسبقت كلمتنا لعبادناالمرسلين)) رقم ٧٤٥٤)
(٣) كشف البارى(٢٥٧/٢)_
(٤) صحيح البخارى (١٦٥/١) كتاب الجنائز. باب فى الجنائزومن كان آخر كلمة لا إله إلا الله رقم ١٢٣٨ (٦٤٤/٢) و(٦٤٤/٢) كتاب التفسيرسورة البقرة باب ومن الناس من يتخذمن دون الله أنداداً رقم ٤٤٩٧ (٩٨٨/٢) كتاب الأيمان والنذورباب إذا قال لا أتكلم اليوم فصلى أو قرأ أو سبح أو كبر أو حمد اوهلل فهو على نيته رقم ٦٦٨٣)_

دلته يو اشكال دا دي چه امام بخارى رحمه الله دا تعليق په دريو ځايونو کښې موصولاً ذکر کړي دي په دې کښې په يوځائې کښې هم دلته ذکر کړې شوى الفاظ «سمعتُ النبى ﷺ....» نشته خو چونکه امام مسلم رحمه الله چه ددې حديث کوم تخريج کړي دې په هغې کښې د «محمد بن عبدالله بن نمير عن أبيه.....» په طريق کښې د «سمعتُ رسول الله ﷺ....» الفاظ شته.(۱) په دې وجه د امام بخارى رحمه الله دا تعليق پخپل ځائې بالكل صحيح دې.

تنبيه د حضرت شقيق بن سلمه رحمه الله حالات په کتاب الايمان «باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لايشعر» لاندې تير شوى دى.(۲)

د حضرت حذيفه رضي الله عنه د تعليق تخريج د حضرت حذيفه رضي الله عنه تعليق نه دا حديث مراد دې.«حَدَّثَنَا حُذَيْفَةُ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الآخَرَ حَدَّثَنَا أَنَّ الأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ وَحَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِهَا قَالَ يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْوَكْتِ.....الخ» دا حديث امام بخارى رحمه الله په ،،كتاب الرقاق، كتاب الفتن، او كتاب الاعتصام،، کښې موصولاً تخريج کړې دې.(۳) او امام مسلم رحمه الله هم دا پخپل صحيح کښې موصولاً ذکرکړې دې.(۴) امام بخارى رحمه الله دا تعليقات دلته ذکر کولو سره دې طرف ته اشاره کړې ده چه تحديث او اخبار او سماع په يو معنى کښې دى.

حضرت حذيفه رضي الله عنه: دا مشهور صحابى د رسول الله ﷺ رازدار. ابوعبدالله حذيفه بن اليمان رضي الله عنهما دې.ددوى د پلار يمان اصل نوم حسل يا حُسَيل دې.ددوى نه پخپل قوم کښې يو خون (قتل) شوې وو.نو دوى مدينې ته تختيدلى وو.هلته د انصارو د بنو عبدالاشهل قبيلې حليف (حمايتى) جوړ شو.او انصار چونکه اصل کښې د يمن دى په دې وجه دوى ته يمان اوونيلى شو.(۵)

په اسلام کښې د معاهدې احترام حضرت حذيفه رضي الله عنه خپل پلار سره غزوهٔ بدر کښې شرکت

---

(۱) قال مسلم حدثنا محمد بن عبدالله بن نمير قا :نا أبى ووكيع عن الأعمش عن شقيق عن عبدالله قال وكيع قال رسول الله وقال ابن نمير سمعت رسول الله يقول ... (صحيح مسلم (۶۶/۱) كتاب الإيمان باب الدليل على أن من مات لا يشرك بالله دخل الجنة)_

(۲) كشف البارى (۵۵۹/۲)_

(۳) صحيح بخارى (۹۶۱/۲) كتاب الرقاق باب رفع الأمانة رقم ۶۴۹۷ و(۱۰۴۹/۲) كتاب الفتن باب إذا بقى فى حثالة من الناس رقم ۷۰۸۶ (۱۰۸۰/۲) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة باب الإقتداء بسنن رسول الله رقم ۸۲۷۶)_

(۴) صحيح مسلم (۸۲/۱) كتاب الإيمان باب رفع الأمانة والإيمان من بعض القلوب)_

(۵) تهذيب الكمال (۴۹۷/۵) وسير أعلام النبلاء (۳۶۳/۲) والإصابة (۳۱۸/۱)_

دپاره راتلو چه په لاره كښې ابوجهل سره ملاو شو. ابوجهل تپوس اوكړو چه د كوم خائي اراده ده؟ دوى دواړو حضراتو اووئيل چه مونږ خپل يوكار دپاره مدينې ته روان يو. ابوجهل اووئيل چه تاسو د محمد ﷺ امداد دپاره ځئ. په دې وئيلو ئې ددوى نه عهد واخستلو چه د محمد ﷺ مدد به نه كوئ. نو دواړه نبى كريم ﷺ ته لاړل. او ټوله قصه ئې تيره كړله. او په غزوهٔ بدر كښې د شركت كولو خواهش ئې ښكاره كړو. نبى كريم ﷺ اوفرمائيل ((انصرفا، نفى لهم بعهدهم ونستعين الله عليهم)) (١) حضرت حذيفه رضى الله عنه خپل پلار سره په غزوهٔ احد كښې شريك شو. ددوى پلار غلطئ سره د بعضو صحابه كرامو د لاسونو نه شهيد شو. حضرت حذيفه رضى الله عنه ددوى ديت معاف كړو. (٢) نبى كريم ﷺ د حضرت حذيفه او حضرت عمار رضى الله عنهما په مينځ كښې مواخات رشته قائم كړې وه. (٣)

حضرت حذيفه رضى الله عنه د "نبى كريم ﷺ رازدار" لقب سره ياديدو حضرت حذيفه رضى الله عنه د نبى كريم ﷺ په ډير نيزدې اصحابو كښې وو. د نبى كريم ﷺ نه به ئې خاص طور باندې د فتنو په باره كښې تپوس كولو. پخپله به ئې فرمائيل. ((كان الناس يسألون رسول الله ﷺ عن الخير وكنت أسأله عن الشر، مخافة أن يدركنى)) (٤) دغه شان نبى كريم ﷺ دوى ته د منافقينو نومونه هم ښودلى وو. په دې وجه حضرت حذيفه رضى الله عنه سره تر قيامته پورې د پيدا كيدونكو عظيمو فتنو علم هم وو. او ددغه زمانې د منافقانو تفصيل هم دوى ته معلوم وو. (٥)

حضرت حذيفه رضى الله عنه په جهاد كښې ډير وخت تير كړو. او هم ددوى په لاسونو دينور. ماسبذان. همَذان، او رې فتح شو. په دې كښې بعضې علاقې د وړاندې نه فتح شوې وې خو په دې باندې قبضه ختمه شوې وه. دوباره د حضرت حذيفه رضى الله عنه په لاسونو فتح شوې. (٦) حضرت عمر رضى الله عنه دوى له د مدائن ګورنر جوړ كړو. او وې ليګلو. او د مدائن خلقو ته ئې اوليكل. ((إنى قد بعثت إليكم فلاناً فأطيعوه)) خلقو ددې خط نه اندازه اولګوله. چه نوې راتلونكې ګورنر معمولى سړې نه دې. نو دغه خلق استقبال دپاره اووتل. او دلته حضرت حذيفه رضى الله عنه په دې شان سره روان وو. چه په خپل خر باندې ئې خپلې دواړه خپې يو طرف ته زوړندې كړې وې. په لاس كښې يو هډوكې او د روټئ يوه ټكړه وه. خلقو اونه پيژندو. د روستو راتلونكو

---

(١) صحيح مسلم (١٠٦/٢) كتاب الجهاد باب الوفاء بالعهد ومسند أحمد (٣٩٥/٥)_

(٢) صحيح بخارى (٤٦٤/١، ٤٦٥) كتاب بدء الخلق باب صفة إبليس وجنوده رقم ٣٢٩٠)_

(٣) سير أعلام النبلاء (٣٦٢/٢)_

(٤) صحيح البخارى (٥٠٩/١) كتاب المناقب باب علامات النبوة فى الإسلام رقم ٣٦٠٦، ٣٦٠٧) (١٠٤٩/٢) كتاب الفتن باب كيف الأمر إذا لم تكن جماعة رقم ٧٠٨٤ وصحيح مسلم (١٢٧/٢) كتاب الإمارة باب وجوب ملازمة جماعة المسلمين عند ظهور الفتن)_

(٥) سير أعلام النبلاء (٣٦٤/٢) وتهذيب الكمال (٥٠١/٥)_

(٦) تهذيب الكمال (٥٠٦/٥، ٥٠٧) وخلاصة الخزرجى (٧٤)_

خلقو نه ني چه كله تپوس اوكړو.نو معلومه شوه.چه دا خو هغه دي.كوم چه وړاندې لاړو.نو دا خلق راوړاندې شو.او سلام ني اوكړو.حضرت حذيفه ﷺ په دوى كښې مشركس ته لوني هډوكي او د روټئ كپړه وركړله. هغه سترګې پناه كړې.او وي غورزوله.يا ني يو خادم ته وركړله.[1]

حضرت حذيفه ﷺ چه كله مدائن ته اورسيدو.نو هغوى ته ني د حضرت عمر ﷺ خط واورولو.خلقو عرض اوكړو.چه تاسو حكم اوفرمايئ.مونږ د پوره كولو دپاره تيار يو.حضرت حذيفه ﷺ اوفرمائيل.زه خپل ذات دپاره صرف خوراك، او خپلې سورلئ دپاره د وندې (چاره) مطالبه كوم.او بس (نور هيڅ نه غواړم).[2]

دحضرت عمر ﷺ ((انت اخى و انا اخوك)) فرمائيل: دوى هلته يوې مودې پورې پاتې شو.بيا حضرت عمر ﷺ دوى راوغوښتل.او پخپله لاره كښې پټ كيناستلو.چه دوى اوګورى.چه آيا ددوى په احوالو كښې څه تبديلى راغلې ده اوكه نه؟ نو كله ني چه اوكتل.چه هيڅ تبديلى نه ده پيدا شوې.او هم هغه شان سره واپس راروان دي.په كوم شان سره چه تلې وو.نو هغوى ته مخې ته راغلل.او هغوى سره ملاو شو.او وې فرمائيل.((أنت أخي وأنا أخوك))[3]

حضرت حذيفه ﷺ د نبى كريم ﷺ نه علاوه د حضرت عمر ﷺ نه احاديث روايت كوى.او ددوى نه روايت كونكو كښې ابو وائل، زر بن حبيش، زيد بن وهب، ربعى بن حراش، صلة بن زفر، ثعلبه بن زهدم، ابو العاليه الرياحى،عبدالرحمن بن ابى ليلى، مسلم بن نذير، ابو ادريس خولانى ﷺ وغيره حضرات دى.[4]

د حضرت حذيفه ﷺ نه د سلو نه زيات احاديث نقل دى.چه په دې كښې د متفق عليه احاديثو تعداد دولس دې.د بخارى د انفرادى احاديثو تعداد اته دې.او د مسلم د انفرادى احاديثو تعداد اوولس دې.[5]

حضرت حذيفه ﷺ په ۳۶هـ كښې دحضرت عثمان ﷺ د شهادت نه تقريباً څلويښت ورځې پس وفات شوې دې.[6] ،،رضى الله عنه وأرضاه،،_

قوله: وَقَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ:

دا ابوالعاليه څوک دې؟: حافظ قطب الدين حلبى ﷫ پخپله شرح كښې ليكى.چه دا ابوالعاليه البراء (بتشديد الراء المهملة) دې.[7] ده به چونكه غشى يا لرګى سيرل او جوړول. په

---

[1] تهذيب الكمال (۵۰۶/۵)_
[2] سير أعلام النبلاء (۳۶۶/۲)_
[3] تهذيب الكمال (۴۹۷/۵، ۴۹۹) وسير أعلام النبلاء (۳۶۱/۲)_
[4] تهذيب الكمال (۴۹۷/۵، ۴۹۹) وسير أعلام النبلاء (۳۶۱/۲)_
[5] سير أعلام النبلاء (۳۶۱/۲) وخلاصة الخزرجى (۷۴)_
[6] تهذيب الكمال(۵۱۰/۵)_
[7] عمدة القارى(۱۲/۲)_

دي وجه دوی ته ،،براء،، وائي.(۱) چونکه ددوی په نوم کښې اختلاف دې. بعضو زياد بن فيروز، بعضو أذينه، بعضو کلثوم او بعضو زياد بن أذينه ښودلې دې.(۲)
دا ثقه دې.(۳) دوی ته د حضرت ابن عباس، حضرت ابن عمر او حضرت ابن الزبير رضي الله عنهم نه سماع حاصل ده.(۴) علامه کرماني رحمه الله فرمائي چه دا ابوالعاليه غالباً رُفيع بن مهران رياحي دې.(۵)
حافظ ابن حجر رحمه الله جزم سره فرمائيلي دي چه دلته د ابوالعاليه نه مراد رُفيع بن مهران رياحي دې او دهغه حضراتو تغليط ئې کړې دې. کومو چه دا فرمائيلي دي چه د ابوالعاليه نه ،،براء،، مراد دې. حافظ رحمه الله دليل دا پيش کړې دې چه مذکوره حديث (يعنی حديث: يونس بن متى چه ددې تخريج روستو راروان دې) په ابوالعاليه الرياحي عن ابن عباس سره معروف دې. په ابوالعاليه البراء عن ابن عباس سره معروف نه دې.(۶)
خو علامه عيني رحمه الله د حافظ د خبرې رد کولو کوشش کړې دې. ددوی وينا ده چه هرکله ابوالعاليه البراء، او ابوالعاليه رُفيع دواړه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما شاګردان دي. نو يو ته بې دليله ترجيح ورکول، چه هم دا يو مراد دې. دويم مراد نه دې. دا صحيح نه ده. ترکومه پورې چه په دې حديث کښې د ابوالعاليه رياحي دې حديث سره د معروف بالرواية کيدو تعلق دې. نو ددې دپاره هم د يو معتمد نقل ضرورت دې.(۷)
حافظ ابن حجر رحمه الله پخپل کتاب ،،انتقاض الاعتراض،، کښې ليکلي دي. ((ان المصنف وصله في التوحيد، ولو راجعه العيني من هناك لما احتاج إلى طلب الدليل))(۸)
قول راجح حقيقت دا دې چه اګرچه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په شاګردانو کښې دواړه ابوالعاليه دي. خو دلته کښې مراد رفيع دې. براء نه دې. ځکه چه ټولو شارحينو بلکه پخپله علامه عيني رحمه الله په بخاري شريف کښې چه کوم کوم ځائې کښې دا حديث راغلې دې. هلته تصريح کړې ده. چه د ابوالعاليه نه مراد رُفيع دې.(۹)

---

۱) عمدة القاري(۱۲\۲)_
۲) المصدراسابق وتقريب التهذيب (۶۵۳) رقم ۸۱۹۷)_
۳) المصادرالسابقة)_
۴) تهذيب الكمال(۱۲\۳٤)_
۵) شرح الكرماى(۱۰\۲)_
۶) فتح الباری(۱\٤٤۱)_
۷) عمدة القاری(۱\۳۱)_
۸) إرشاد الساري للقسطلاني(۱\۱۵۷)_
۹) عمدةالقاى(۱۵\۲۹۲) كتاب أحاديث الأنبياء باب قول الله عزو جل ﴿وهل أتاک حديث موسى وكلم الله موسى تكليماً (۱۶\٤) كتاب أحاديث الأنبياء باب قول الله تعالى وإن يونس لمن المرسلين و(۱۸\۲۲۵) كتاب التفسير سورة الأنعام باب قوله ويونس ولوطاً وكلًا فضلنا على العالمين و(۲۵\۱۹۰) كتاب التوحيد باب ذكر النبي صلى الله عليه وسلم وروايته عن ربه)_

بلکه په یو مقام کښې ئې دا تنبیه هم کړې ده چه د ابو العالیه کنیت د حضرت ابن عباس د یو بل شاګرد هم دې چه هغه براء نوم سره مشهور دې.[۱]

بیا حافظ ابوالحجاج رحمه الله په تحفة الاشراف کښې داحدیث د.. ابوالعالیه رفیع بن مهران عن ابن عباس.. په طریق سره نقل کړې دې.[۲]

بیا حافظ ابوالحجاج مزی رحمه الله د ..ابوالعالیه رفیع عن ابن عباس.. په طریقه سره د نقل شوو احادیثو ذکر کړې دې.او د امام شعبه رحمه الله قول ئې د سنن ابی داؤد[۳] نه نقل کړې دې.[۴] «قال شعبة: إنما سمع قتادة من أبي العالية أربعة أحاديث، حديث يونس بن متى، وحديث ابن عمر في الصلاة، وحديث القضاة ثلاثة، وحديث ابن عباس حدثني رجال مرضيون منهم عمر، وأرضاهم عندي عمر»

ددې عبارت نه دا معلومه شوه چه د یونس بن متی والا روایت. راوی ابوالعالیه رفیع دې.او د ابوالعالیه البراء د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه په صحاح سته کښې صرف یو حدیث نقل دې.«قدم النبي ﷺ لصبح رابعة يلبون بالحج فأمرهم أن يجعلوها عمرة، إلا من كان معه هدى»[۵]

حاصل دا چه مبحوث عنه (حدیث باب) حدیث یونس بن متی کوم چه د ..ابوالعالیه عن ابن عباس.. په طریق سره نقل دې.په دې کښې ابوالعالیه نه رفیع بن مهران ریاحی مراد دې.براء مراد نه دې.والله اعلم.

ابوالعالیه ریاحی: دا ابوالعالیه رفیع بن مهران ریاحی بصری دې د بنو یربوع یوې ښځې دوی لره ازاد کړې وو.په دې وجه د ولاء په اعتبار سره ریاحی وئیلې کیږی.[۶] دوی د جاهلیت زمانه موندلې وه.د نبی کریم ﷺ د وفات نه دوه کاله پس ئې اسلام راوړلې وو.[۷]

دوی دحضرت عمر، حضرت علی، حضرت ابی.حضرت ابو ذر.حضرت عبدالله بن مسعود. حضرت عبدالله بن عباس. حضرت ابوموسی. حضرت ابو ایوب.حضرت زید بن ثابت. حضرت حذیفه. حضرت انس. حضرت ثوبان. حضرت رافع بن خدیج. حضرت عبدالله بن عمر، حضرت ابوسعید خدری. حضرت ابوهریره او حضرت عائشه رضی الله عنهم نه روایت د حدیث کړې دې.

ددوی نه په روایت کونکو کښې ثابت بنانی،بکر بن عبدالله مزنی. ابو خلده خالد بن دینار. خالد الحذاء. شعیب بن الحبحاب(۹۷. عاصم الاحول. قتاده. محمد بن سیرین او حفصه بنت سیرین رحمهم الله وغیره حضرات دی.[۸]

---

۱) عمدة القاری(۱۵\۲۹۳)_
۲) تحفة الأشراف (۱٤\۵۸٤) رقم (۵٤۲۱)_
۳) سنن أبي داود کتاب الطهارة باب الوضوء من النوم رقم ۲۰۲)_
٤) تحفة الأشراف (۱٤\۳۸۵) رقم (۵٤۲۱)_
۵) تحفة الأشراف (۲۷۶\۵. ۲۷۷) رقم (۶۵۶۵)_
۶) تهذيب الکمال (۹\۲۱٤) وسير أعلام النبلاء (۱۲\۲۰۷)_
۷) المصادر السابقة)_
۸) د شیوخ اوتلامذه د فهرست دپاره اوګورئ أعلام النبلاء (٤\۲۰۷) وتهذیب الکمال(۹\۲۱۵. ۲۱۶)-

يحي بن معين، ابوزرعه او ابو حاتم رحمهم الله فرمائى .،،ثقة،،(١)
ابوالقاسم لالكانى رحمه الله فرمائى.،،ثقة مجمع على ثقته،،(٢)
ابن سعد رحمه الله فرمائى.،،وكان ثقة كثير الحديث،،(٣)
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.،،وهو ثقة،،(٤)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.،،ثقة كثير الإرسال،،(٥)
ددې نقلونو نه معلومه شوه.چه د ابوالعاليه رحمه الله په ثقاهت باندې اجماع ده.هم دا وجه ده.چه داصول سته مصنفينو په دوى باندې اعتماد كړې دې.اوددوى داحاديثوتخريج ئې كړې دې.

د،،حديث ابى العالية الرياحى رياح،،مطلب: البته دامام شافعى رحمه الله نه منقول دى.((حديث أبى العالية الرياحى رياح))(١)

خو دامام شافعى رحمه الله مقصود ددوى ټول احاديث رد كول نه دى.بلكه ددوى نه روايت شوى مرسل روايت ((حديث القهقهة فى الصلاة))ردكول مقصود دى.ځكه چه مرسل ددوى په نيز حجت نه دې.لكه چه حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.((فأما قول الشافعى رحمه الله،حديث أبى العالية الرياحى، رياح،، فإنما أراد به حديثه الذى أرسله فى القهقهة فقط، ومذهب الشافعى أن المراسيل ليست بحجة، أما إذا أسند أبوالعالية فحجة))(٢)

دغه شان حافظ ابن عدى رحمه الله فرمائى.((ولأبى العالية الرياحى أحاديث صالحة غير ما ذكرت، وأكثر ما نقم عليه من هذا الحديث حديث الضحك فى الصلاة، وكل من رواه غيره فإنما مدارهم و رجوعهم إلى أبى العالية والحديث له، وبه يعرف، ومن أجل هذا الحديث تكلموا فى أبى العالية، وسائر أحاديثه مستقيمة صالحة))(٣)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((احتج به الجماعة لكن ليس له فى البخارى سوى ثلاثة أحاديث من روايته من ابن عباس خاصة))(٤)

---

١) تهذيب الكمال (٢١٦/٩)-
٢) المصادر السابقة)-
٣) الطبقات الكبرى لابن سعد(١١٧/٧)_
٤) ميزان الإعتدال (٥٤/٢)_
٥) تقرب التهذيب (٢١٠) رقم ١٩٥٣)_
١) الكامل لابن عدى (١٦٢/٣)_
٢) ميزان الإعتدلا (٥٤/٢)-
٣) الكامل لابن عدى (١٧٠/٣)_
٤) هدى السارى(٤٠٢)_

حاصل دا چه په دوی باندې کلام صرف امام شافعي رحمه الله کړې دې.او هغه هم د مرسل په طريقه روايت کولو په وجه. حالانکه فی نفسه ابوالعاليه متفق عليه طور باندې ثقه دې.بيا داچه امام بخاری رحمه الله ددوی دا متکلم فيه حديث هم نه دې نقل کړې.نو د ابو العاليه په محتج به کيدو کښې هيڅ کلام نشته.

ابوالعاليه رحمه الله لره بعضو حضراتو په علوم د قرآن کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه پس اعلم ګرخولې دې.لکه چه امام ابوبکر بن ابی داؤد رحمه الله فرمائی «ليس أحد بعد الصحابة أعلم بالقرآن من أبي العالية، وبعده سعيد بن جبير، وبعده السدي، وبعده سفيان الثوري»[1]

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په نيز د ابوالعاليه رحمه الله مقام د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په نيز د ابوالعاليه رحمه الله څه مقام وو؟ ددې اندازه ددې واقعې نه اولګوئ. ابوالعاليه رحمه الله فرمائی

«كنتُ آتي ابن عباس، فيرفعني على السرير، وقريش أسفل من السرير، فتغامزبي قريش، وقالوا: يرفع هذا العبد على السرير؟ ففطن بهم ابن عباس، فقال: ان هذا العلم يزيد الشريف شرفاً ويجلس المملوك على الأسرة»[2]

د امام ابوالعاليه رحمه الله وفات په شوال ۹۰ھ کښې اوشو.بعضو حضراتو په سن د وفات کښې نور اقوال هم نقل کړی دی.[3] ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

قوله عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما: د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما حالات په ..بدءالوحی.. کښې او په کتاب الايمان کښې د ،،باب کفران العشير وکفر دون کفر.. لاندې تير شوی دی.[4]

قوله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِي عَنْ رَبِّهِ:

د حديث قدسی تعريف نبی کريم صلی الله عليه وسلم چه څه هم بيانوی.هغه ټول په قاعدې د ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝﴾ د الله تعالى د طرفه دې.خو بعضې وختونوکښې نبی کريم صلی الله عليه وسلم د الله دطرفه دنقل تصريح کوی. او په بعضو وختونو کښې نه کوی.نبی کريم صلی الله عليه وسلم چه د کوم حديث په باره کښې د الله تعالى د طرفه د نقل کولو تصريح اوفرمائی.هغې ته ،،حديث الهی،، او ،،حديث قدسی،، وئيلې شی.[5]

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ددې تعليق نه مراد دا حديث دې.«لاينبغي لعبد أن يقول، أنا خير من يونس بن متى.....»[6]د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دا تعليق امام بخاری رحمه الله په ،،کتاب احاديث

---

[1] تهذيب الكمال (۲۱۸\۹) وسير أعلام النبلاء (۲۰۸\٤)_

[2] تهذيب الكمال(۲۱۷\۹)_

[3] تهذيب الكمال(۲۱۸\۹)_

[4] كشف البارى(٤۳۵\۱) و(۲۰۵\۲)_

[5] كشاف إصطلاحات الفنون ((۲۸۰\۱))_

[6] تعليق التعليق (۶۳\۲)_

الانبياء، كتاب التفسير، او كتاب التوحيد،، كښې موصولا تخريج كړې دې.(۱)

د امام بخاري رحمه الله نه علاوه امام مسلم او امام ابوداؤد رحمهما الله هم پخپلو خپلو كتابونو كښې موصولا ددې تخريج كړې دې.(۲)

قوله وَقَالَ أَنَسٌ: د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان ..باب من الايمان ان يحب لاخيه ما يحب لنفسه،، لاندې تير شوى دى.(۳)

قوله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ:

دلته د حضرت انس رضي الله عنه كوم حديث مراد دې؟ ددې روايت نه ((إذا تقرب العبد إلى شبرا تقربت إليه ذراعا وإذا تقرب مني ذراعا تقربت منه باعا، وإذا أتاني مشيا أتيته هرولة)) حديث مراد دې.(۴) حافظ رحمه الله فرمائيلي دى چه ددې نه مراد د مسلم هغه روايت دې كوم چه ((همام عن قتادة عن أنس، عن النبي صلى الله عليه وسلم يرويه عن ربه عزوجل قال: إن الله عزوجل لا يظلم المؤمن حسنة....)) طريق سره نقل دې.(۵) خو د مسلم شريف په متداول (مروج) نسخو كښې په يوه نسخه كښې هم د ،،عن ربه عزوجل،، تصريح موجود نه ده.(۶)

د مذكوره تعليق تخريج: دا تعليق امام بخارى رحمه الله موصولاً په كتاب التوحيد كښې نقل كړې دې.(۷)

قوله وَقَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان كښې د ..باب امور الايمان.. لاندې تيرشوى دى.(۸)

---

(۱) صحيح بخارى (۱\۴۸۱) كتاب أحاديث الأنبياء، باب قول الله تعالى ﴿وهل أتاك حديث موسى﴾ رقم ۳۳۹۵ و(۱\۴۸۵) كتاب أحاديث الأنبياء باب قول الله تعالى :﴿وإن يونس لمن المرسلين﴾ رقم ۳۴۱۳ (۲\۲۶۶) كتاب التفسير سورة الأنعام باب ويونس باب ﴿ويونس ولوطاً وكلاً فضلنا على العالمين﴾ رقم ۴۶۳۰ (۲\۱۱۲۵) كتاب التوحيد باب ذكر النبي صلى الله عليه وسلم و روايته عن ربه رقم ۷۵۳۹_

(۲) أنظر الصحيح للإمام مسلم(۲\۲۶۸) كتاب الفضائل. باب من فضائل يونس عليه السلام والسنن لأبي داؤد. كتاب السنة. باب التخيير بن الأنبياء عليهم السلام. رقم:(۴۶۶۹)

(۳) كشف البارى(۲\۴)_

(۴) تعليق التعليق(۲\۶۴)

(۵) المصدرالسابق)_

(۶) صحيح مسلم (۲\۳۷۴) كتاب صفة المنافقين. باب جزاء المؤمن بحسناته.... مطبوعه قديمى كتب خانه د (۴\۲۱۶۲) رقم(۲۸۰۸) محققه شيخ محمد فؤاد الباقى رحمه الله_

(۷) الصحيح البخارى(۲\۱۱۲۵) كتاب التوحيد. باب ذكر النبى صلى الله عليه وسلم وروايته عن ربه. رقم (۷۵۳۹)_

(۸) كشف البارى(۱\۶۵۹)_

قوله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ:

ددې نه کوم حديث مراد دې؟ ① ددې نه هم هغه حديث مراد کيدې شي.کوم چه دحضرت انس رضي الله عنه نه نقل دې.يعنی «إذا تقرب العبد....» والا روايت، ځکه چه دا روايت قتاده د حضرت انس رضي الله عنه نه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د واسطې نه بغير نقل کړې دې.② او سليمان تيمي دا د «عن أنس عن أبي هريرة» په طريق سره روايت کړې دې.③ او حافظ ابن حجر رحمه الله فرماني.چه ددې نه مراد هغه روايت دې.کوم چه د «شعبة عن محمد بن زياد عن أبي هريرة» په طريق سره نقل دې.«لكل عمل كفارة والصوم لي وأنا أجزي به....»[1]

د مذکوره دوارو حديثونو تخريج: رومبی حديث يعنی د «إذا تقرب العبد...» والا حديث امام بخاری رحمه الله په کتاب التوحيد کښې موصولاً ذکرکړې دې.[2] دغه شان امام مسلم رحمه الله هم پخپل صحيح کښې ددې موصولاً تخريج کړې دې.[3]

د دويم حديث «لكل عمل كفارة» تخريج هم موصولاً امام بخاری رحمه الله پخپل صحيح کښې مختلفو ځايونو کښې کړې دې.[4] او امام مسلم رحمه الله هم پخپل صحيح کښې دا موصولاً نقل کړې دې.[5]

حديث معنعن او ددې حکم: حديث معنعن هغه حديث ته وائي.د کوم په سند کښې چه د ،،عن،، لفظ استعمال کړې شي.د تحديث او سماع تصريح نه وی.اګرچه په پوره سند کښې د ،،عن،، استعمال صرف يوځائي کښې ولې نه وی.[6]

د حديث معنعن په حکم کښې اختلاف: ① دابوطالب، شيخ حسن الرصاص. او د منصور بالله رائې دا ده.چه حديث معنعن مطلقاً قابل د احتجاج نه دې.ترکومه پورې چه اتصال واضح نه وی.ځکه چه په دې کښې د انقطاع احتمال دې.نو د مرسل او منقطع پشان دا هم

---

[1] (تعليق التعليق (۲\۶۴)_

[2] (صحيح البخاری(۲\۱۱۰۱)کتاب التوحيد، باب قول الله تعالى:﴿ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهُ ﴾ رقم(۷۴۰۵) و(۲\۱۱۱۶) کتاب التوحيد، باب قول الله تعالى:﴿ يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللّٰهِ ﴾ رقم(۷۵۰۵)و(۲\۱۱۲۵) کتاب التوحيد، باب ذکر النبي صلى الله عليه وسلم وروايته عن ربه رقم(۷۵۳۷)_

[3] صحيح مسلم(۲\۳۴۱) کتاب الذکر والدعاء، باب الحث على ذکر الله تعالى)_

[4] صحيح بخاری(۱\۲۵۴) کتاب الصوم، باب فضل الصوم، رقم(۱۸۹۴)، و(۱\۲۵۵) کتاب الصوم، باب هل يقول،،إني صائم إذا شتم،،رقم(۱۹۰۴) و(۲\۸۷۸) کتاب اللباس، باب ما يذکر في المسک، رقم(۵۹۲۷) و(۲\۱۱۱۶) کتاب التوحيد، باب قول ا لله تعالى﴿ يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللّٰهِ ﴾ رقم(۷۴۹۲) و(۲\۱۱۲۵) کتاب التوحيد، باب ذکر النبي صلى الله عليه وسلم وروايته عن ربه، رقم(۷۵۳۸)_

[5] (صحيح مسلم(۱\۳۶۳)، کتاب الصوم، باب فضل الصيام)_

[6] ظفر الأماني(۲۱۷)و فتح المغيث للعراقي (۳۷)_

قابل د احتجاج نه دي.(۱) امام نووی رحمه الله فرمائي.((وهذا المذهب مردود باجماع السلف))(۲)

۲ د امام بخاري، علي بن المديني او اكثرو محدثينو مذهب دا دې چه حديث معنعن دوو شرطونو سره د متصل په حكم كښې دې.

يو داچه د راوي او مروي عنه په مينځ كښې، په ژوند كښې كم ازكم يو ځل لقاء ثابت وي.

دويم داچه راوي مدلس نه وي.كه په دې دواړو كښې يو شرط هم فوت وي.نو هغه حديث نه به متصل نشي وئيلې.(۳)

۳ امام مسلم رحمه الله او ددوى متبعين فرمائي.كه راوى مدلس نه وى.راوى او مروى عنه دواړه خپل مينځ كښې هم عصر وى.يعنى لقاء ممكن وى.نو دا حديث معنعن به اتصال باندې محمول كولې شى.د لقاء ثابتيدل ضرورى نه دى.(۴) امام مسلم رحمه الله خپل دا مذهب د صحيح مسلم په مقدمه كښې شد ومد سره پيش كړې دې.او د ملاقات د ثبوت قول ئې دخپلو بعضو معاصرينو نه نقل كړې دې.او په هغوى ئې زبردست رد كړې دې.(۵)

امام نووی رحمه الله اګرچه د امام مسلم رحمه الله مذهب مرجوح او ضعيف ګرځولې دې.(۶) خو حقيقت دا دې.چه د امام مسلم رحمه الله مذهب پخپل ځائې ډير قوى دې.

د امام بخاري رحمه الله د دليل خلاصه دا ده.چه استقراء په دې خبره باندې دلالت كوى.چه كوم راويان مدلس نه دى.او د هغوى د خپلو شيوخو نه لقاء هم ثابته ده.نو هغوى عادةً د ،، عن،، استعمال سماع دپاره كوى.نو ددوى معنعن روايات به اتصال باندې محمول وى.ځكه چه كله يو ځل لقاء ثابته شى.نو په دې باندې غالب ګمان حاصليږى.چه ټول روايات به ئې سماعاً حاصل كړې وى.چونكه په دې باب كښې غالب ګمان معتبر دې.په دې وجه صرف هم په دې باندې اكتفاء اوكړې شوه.حالانكه د غالب ګمان دا كيفيت په هغه صورت كښې نه دې.په كوم كښې چه د لقاء امكان وى.خو ددې ثبوت نه وى.(۷)

امام مسلم رحمه الله د خپل مذهب اثبات دپاره فرمائي.چه د ،،ثبوتِ لقاء ولو مرة،، دا شرط يو محدث نه دې لګولې.نو اول خو دا د اجماع خلاف دې .بيا داسې څومره روايتونه دى.چه په هغې كښې د راوى او مروى عنه په مينځ كښې معاصرت ثابت دې.خو لقاء ثابت نه ده.ددې باوجود هيڅ يو محدث داسې حديثونه غيرصحيح يا منقطع اونه ګرځول.

بيا دا خبره هم قابل دغور ده.چه دا احتمال د انقطاع كومه چه په ،، معاصرتِ محضه،،(د

---

(۱) توضيح الأفكار(۱/۳۰۳) وظفرالأماني(۲۱۸)_

(۲) شرح النووي على صحيح مسلم(۱/۲۱) مقدمة صحيح مسلم، باب صحة الإحتجاج بالحديث المعنعن....)_

(۳) فتح المغيث للعراقي(۷۳، ۷۴) وظفرالأماني(۲۱۹)_

(۴) المصدر السابق)_

(۵) مقدمة صحيح مسلم(۱/۲۴) باب صحة الإحتجاج بالحديث المعنعن)_

(۶) شريح النووي على صحيح مسلم(۱/۲۱)_

(۷) شرح نووي لصحيح مسلم(۱/۲۱) وظفرالأماني(۲۱۹)۰

لقاء د ثبوت نه بغير) كنبي موندلي كيږي.هغه به د ،،ثبوتِ لقاء ولومرةً،، په صورت كنبي هم موندلي كيږي.تر كومه پورې چه راوى په هرهر حديث كنبي د سماع تصريح اونكړي.(١)

بيا دلته ددې خبرې لحاظ هم ساتل پكار دى.چه بعضو حضراتو نقل كړى دى.چه د ،،ثبوتِ لقاء ولومرةً،، دا شرط صرف د ابن المدينى رحمه الله په نيز دى.حالانكه د امام بخارى رحمه الله مذهب هم هغه دې.كوم چه د امام مسلم رحمه الله دې. يعنى د حديث په اصل صحت كنبي دا شرط نشته.چه لقاء كم ازكم يوځل ثابت وى.البته پخپل ،،صحيح،، كنبي دوى ددې شرط التزام كړې دې.چه د يو داسې راوى عنعنه نه ذكركوى.چه هغه ته د خپل شيخ سره كم ازكم يو ځل لقاء شوې نه وى.(٢)

د دواړو مذهبونو په مينځ كنبي موازنه او محاكمه دپاره د اصول حديث لويو كتابونو طرف ته مراجعت اوكړئ.(٣)

④ علامه ابوالحسن قابسى رحمه الله فرمائى.چه صرف مطلق لقاء هم نه. بلكه د لقاء او ادراك ښكاره او واضح كيدل ضرورى دى.(٤)

⑤ علامه ابوالمظفر سمعانى شافعى رحمه الله فرمائى.چه د متصل ګرځولو دپاره صرف واضح لقاء هم كافى نه ده.بلكه دا ضرورى ده.چه راوى ته شيخ سره طويل صحبت حاصل شوې وى.(٥)

⑥ مشهور قارى ابو عمرو دانى رحمه الله فرمائى.چه صرف زيات صحبت هم كافى نه دې.بلكه ددې راوى د خپل شيخ نه روايت سره معروف كيدل ضرورى دى.(٦)

علامه عبدالحي لكهنوى رحمه الله فرمائى.چه دا ټول شپږ مذاهب دى.په دې كنبي سوا د دوو مذهبونو نه. باقى ټول مردود دى.

① يو د امام بخارى رحمه الله مذهب دې.چه دا احوط دې.

② او دويم د امام مسلم رحمه الله مذهب دې.چه دې كنبي زيات وسعت دې.(٧)

حديث مونن او ددې حكم: كله كله د حديث په سند كنبي راوى د ،،ان،، استعمال كوى.

---

(١) مقدمة صحيح مسلم(١١٢١-٢٤)_

(٢) قاله إبن كثير فى ،،إختصار علوم الحديث،،(٥٤) النوع الحادى عشر: المعضل. وردّه الحافظ ابن حجر فى ،،النكت على كتاب إبن الصّلاح،،(٥٩٥\٢) فقال. لا .....و أخطا فى هذه الدعوى. بل هذا شرط فى أصل الصحة. عند البخارى. فقد أكثر من تعليل الأحاديث فى تاريخه بمجرد ذالک)_

(٣) ظفر الأمانى(٢١٩-٢٢٢) والنكت على كتاب ابن الصلاح (٥٩٥\٢- ٥٩٩) و شرح النووى على صحيح مسلم (١١٢١-٢٤) ومقدمة فتح الملهم (١١٠٩١-١١٢) وتوضيح الأفكار(٢٩٩١١- ٣٠٣) والموقظة (٤٤) و(١٣٤، ١٤٠)_

(٤) ظفر الأمانى(٢٢٢) وتدريب الراوى(٢١٦١١) النوع الحادى عشر... وفتح المغيث للعراقى(٧٤)_

(٥) المصدر السابق)_

(٦) المصدر السابق)_

(٧) ظفر الأمانى(٢٢٢)_

داسې حديث ته ،،مؤنن،، وائي.(۱) ددې په باره کښې هم اختلاف دې چه آيا دا به متصل ګرځولې شي اوکه نه؟

د امام مالک رحمه الله مذهب دا دې چه دا د ،،عن،، په حکم کښې دې او متصل دې. ابن عبدالبر رحمه الله د جمهور محدثينو رائې هم دا نقل کړې ده چه دا هم د ،،عن،، په شان اتصال باندې دلالت کوي. په دې شرط چه ددې کوم شرطونه وړاندې ذکرشوي دي. هغه اومونډې شي. او د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه منقول دي چه ،،ان،، او ،،عن،، دواړه برابر نه دي.(۲)

حافظ عراقي رحمه الله فرمائي. که راوي داسې حديث روايت کوي. چه په هغې کښې څه قصه يا واقعه بيان کړې شوې وي. نو دا به کتلې شي. چه آيا راوي پخپله ددې شاهد دې اوکه نه دې. مثلاً صحابي يوه واقعه د نبي کريم ﷺ په وړاندې اوکتله. يا د صحابه کرامو رضي الله عنهم په مينځ کښې څه واقعه راپيښه شوه. او ددې مشاهده صحابي اوکړله. او بيا ئې دا روايت کړله. نو دا متصل ده. اوکه دوی پخپله مشاهده اونکړله. نو بيا هم دا د صحابي مرسل ده. چه دا د متصل په حکم کښې دې. او که راوي ددې په خپله شاهد نه دې. بلکه د نبوت د زمانې يوه واقعه څوک تابعي روايت کوي. نو دا منقطع دې.

دغه شان که يو تابعي داسې واقعه د صحابي نه نقل کوي. چه د هغې واقع کيدل ده پخپله مشاهده کړې ده. نودا متصل ده. اوکه پخپله ئې مشاهده نه ده کړې. خو صحابي طرف ته ئې نسبت کړې دې. نو دا هم متصل ده. اوکه نه ئې پخپله مشاهده اوکړله. او نه ئې صحابي طرف ته نسبت اوکړو. نو دا منقطع ده. ددې مثال د قيس بن سعد روايت دې. «عن عطاء بن أبي رباح عن ابن الحنفية، أن عماراً مر بالنبي ﷺ فسلم عليه، فرد عليه السلام» دا روايت به منقطع ګڼړلې شي. ځکه چه ابن الحنفيه تابعي دې. دوی دا واقعه پخپله کتلې هم نه ده. او نه ئې صحابي طرف ته ددې نسبت کړې دې. بلکه واقعه ئې پخپله براه راست بيان کړله.

ددې په خلاف هم دا واقعه په دې طريقه نقل ده. «أبو الزبير عن محمد بن الحنفية عن عمار، قال: أتيتُ رسول الله ﷺ فسلمتُ عليه، فرد عليه السلام» دلته واقعه محمد بن الحنفيه رحمه الله حضرت عمار رضي الله عنه طرف ته منسوب کړې ده. نو دا مسند او موصول ده.(۳)

د ،، قال فلان، ذکر فلان،، وغيره حکم: حافظ ابن الصلاح رحمه الله تصريح کړې ده. که يو راوي ،،قال فلان،، يا ،،ذکر فلان،، يا ،،فعل فلان،، يا ،،حدث فلان،، يا ،،کان يقول کذا وکذا،، اووائي. نو دا هم په ظاهر کښې اتصال باندې محمول دې. په دې شرط چه د تدليس نه مامون وي. او لقاء يا معاصرت ثابت وي.(۴) البته که ،،قال فلان،، يا ،،قال لنا فلان،، يا ،،ذکر لي فلان،، يا ،،ذکر

---

۱) حاشيه تدريب الراوي(۲۱۷/۱)_

۲) تقريب النووي مع شرح تدريب الراوي (۲۱۷/۱) ومقدمة ابن الصلاح(۲۹)_

۳) فتح المغيث للعراقي(۷۶) والتقييد والإيضاح(۷۵، ۷۶)_

۴) مقدمة ابن الصلاح(۲۹)_

لنافلان،، اووائی.او روایت کړی.نو دا په هرصورت کښې اتصال باندې محمول دې.لکه څنګه چه مونږ په دې باب کښې د ،،قال لنا الحميدی.....،، لاندې تفصيل سره ذکرکړی دی.

حديث باب

۶-((حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ () قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ فَحَدِّثُونِي مَا هِيَ فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ الْبَوَادِي قَالَ عَبْدُ اللَّهِ وَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَاسْتَحْيَيْتُ ثُمَّ قَالُوا حَدِّثْنَا مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ هِيَ النَّخْلَةُ))

[۶۲ ، ۷۲ ، ۱۳۱ ، ۲۰۹۵ ، ۴۴۲۱ ، ۵۱۲۹ ، ۵۱۳۳ ، ۵۷۷۱ ، ۵۷۹۲]

رجال الحديث

① قتيبه بن سعيد: دا شيخ الاسلام، راوية الاسلام قتيبه بن سعيد ثقفی رحمه الله دې.ددوی حالات وړاندې د کتاب الايمان په ،،باب إفشاء السلام من الإسلام،، کښې تير شوی دی.(۲)

② اسماعيل بن جعفر: دا ابواسحاق اسماعيل بن جعفر بن کثيرانصاری زُرقی مدنی دې.ددوی حالات هم د کتاب الايمان ،،باب علامة المنافق،، لاندې تيرشوی دی.(۳)

③ عبدالله بن دينار: دوی حالات مختصراً اګرچه وړاندې ذکر شوی دی.(۴) خو دلته لږشان تفصيل سره ذکر کوو.دا مشهور محدث ابوعبدالرحمن عبدالله بن دينار قرشی عدوی مدنی دې.د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما مولا وو.(۵)

---

۱)الحديث اخرجه البخاری ايضاً فی صحيحه(۱\۱٤) کتاب العلم، باب طرح الإمام المسألة على أصحابه ليختبر ما عندهم من العلم، رقم(۶۲) و(۱\۱۷، ۱۸) کتاب العلم، باب الفهم فی العلم، رقم(۷۲) و(۱\۲٤) کتاب العلم، باب الحياء فی العلم رقم(۱۳۱) و(۱\۲۹۳، ۲۹٤) کتاب البيوع، باب بيع الجمّار و أكله، رقم(۲۲۰۹)و(۲\۶۸۱) کتاب التفسير، سورة إبراهيم، باب ﴿كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ﴾ باب بركة النخل، رقم(٥٤٤٨)و(۲\۸۱۹) کتاب الأطعمة، باب أكل الجمار . رقم(٥٤٤٤) و(۲\۸۱۹) کتاب الأطعمة و باب بركة النخل، رقم(٥٤٤٨)و(۲\۹۰٤) کتاب الأدب، باب ما لايُستحيا من الحق للتفقه فی الدّين، رقم(۶۱۲۲) و(۲\۹۰۷) کتاب الأدب، باب إكرام الكبير، و يبدأ الأكبر بالكلام والسؤال،رقم(۶۱٤٤)، ومسلم فی صحيحه(۲\۳۷٥، ۳۷۶)کتاب صفة المنافقين،باب.. مثل المؤمن مثل النخلة،والترمذی فی جامعه،فی کتاب الأمثال،باب ما جاء فی مثل المؤمن القارئ للقرآن غير القاری، رقم(۲۸۶۷)

۲) کشف الباری(۲\۱۸)_

۳) (کشف لباری(۲\۲۷۱)_

۴) کشف اباری(۱\۶٥۸) کتاب الإيمان، باب أمور الإيمان)_

۵) تهذيب الكمال (۱٤\٤۷۱) وسير أعلام النبلاء (٥\۲٥۳)_

دوی د حضرت انس، حضرت عبدالله بن عمر، نافع مولا ابن عمر. سلیمان بن یسار. ذکوان او محمد بن اسامه بن زید ﷺ نه روایت کوی. د دوی نه روایت کونکو کښي سفیان ثوری، سفیان بن عیینه، امام مالك، لیث بن سعد ، شعبة بن الحجاج، اسماعیل بن جعفر مدنی، او عبدالعزیز بن الماجشون ﷺ پشان ډیر حضرات دی.(۱)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی.«ثقة مستقیم الحدیث»(۲)

امام یحي بن معین، ابوزرعه، ابوحاتم او امام نسائی ﷺ فرمائی ،،ثقة،،(۳)

ابن سعد رحمه الله فرمائی.«ثقة كثیر الحدیث»(۴)

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(۵)

امام عجلی رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(۶)

امام ابن عیینه رحمه الله فرمائی.«لم یکن بذاك ثم صار»(۷)

امام ربیعه رحمه الله فرمائی.«وكان من صالحی التابعین صدوقاً دیناً»(۸)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«أحد الأئمة الأثبات»(۹)

او حافظ ذهبی رحمه الله ددوی تذکره شروع کولو کښې لیکی.«الإمام المحدث الحجة....»(۱۰)
خو ددې ټولو توثیقاتو په خلاف امام عقیلی دوی لره د مجروح کولو کوشش کړې دې.لکه چه دوی فرمائیلی دی.«وأما روایة المشائخ عنه ففیها اضطراب»(۱۱)

حافظ ذهبی رحمه الله د عقیلی بنه پوره تردید کړې دې.لکه چه دوی فرمائی.«وقد أساء أبوجعفر العقیلی بإیراده فی کتاب الضعفاء له، فقال: فی روایة المشائخ عن عبدالله بن دینار اضطراب، ثم إنه أورد له حدیثین مضطربی الإسناد، ولا ذنب لعبدالله، وإنما الإضطراب من الرواة عنه، وقد وثقه جماعة»(۱۲) او هم

---

۱) دشیوخ اوتلامذه فهرست دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال(۱۴\۴۷۲،۴۷۳)وسیر أعلام النبلاء(۵\۲۵۴)
۲) (تهذیب الکمال(۱۴\۴۷۳)_
۳) المصدرالسابق)_
۴)المصدرالسابق)_
۵) کتاب الثقات((۵\۱۰)_
۶) تهذیب التهذیب(۵\۲۰۲)_
۷) المصدرالسابق)_
۸) المصدرالسابق)_
۹) میزان الإعتدال)_
۱۰) سیر أعلام النبلاء(۵\۲۵۳)_
۱۱) کتاب الضعفاء الکبیر للعقیلی(۲\۲۴۷)_
۱۲) سیر أعلام النبلاء(۵\۲۵۴، ۲۵۵)_

دوى فرمانى «.....فلا يلتفت إلى فعل العقيلي، فإن عبدالله حجة بالإجماع، ولكنه أحمد و يحيى و أبو حاتم.....»[1] نو د امام عقيلي جرح مردود ده.

د عبدالله بن دينار رحمه الله وفات ۱۲۷ھ كښې شوې دې.[2] ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

③ **حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه:** ددوى مختصر حالات د كتاب الايمان ،،باب الإيمان وقول النبي ﷺ،،بني الإسلام على خمس،،لاندې تير شوې دې.[3]

قوله إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ: بې شكه په ونو كښې يوه ونه داسې ده.چه دهغې پانړې نه غورزيږى.او هغه د مسلمان پشان ده.

په،،مثل المسلم،،كښې،،مثل،،«بكسر الميم وسكون الثاء المثلثة، أو بفتحهما» په دواړو طريقو وئيل صحيح دى.[4]

د كجورې د ونې او مسلمان په مينځ كښې وجوه تشبيه: د مسلمان او د كجورې د ونې په مينځ كښې وجوه د تشبيه كوم كوم دى؟ په دې كښې مختلف اقوال منقول دى.

① بعضو حضراتو وجه د تشبيه دا بيان كړې ده.چه د كجورې د ونې خاصه دا ده.چه كه په اوبو كښې ددې (كجورې) سر ډوب كړې شى.نو مره كيږى.لكه څنګه چه سرې ډوب شى.نو مړ كيږى.يا دا كه د كجورې سر كټ كړې شى.نو ونه اوچيږى.لكه څنګه چه د سړى سر كټ كړې شى.نو هغه ختميږى.

② بعضو حضراتو وئيلى دى.چه په كجوره كښې مذكر او مونث دواړه وى.او هلته د تلقيح او تابير (په ماده كجوره كښې د نركجورې غوټئ لګولو) سره ميوه راځى.دغه شان په انسانانو كښې هم مذكر او مونث دواړه وى.او د ښځې خاوند د اجتماع نه پس توالد او تناسل كيږى.

③ بعضو حضراتو وئيلى دى.چه د نر كجورې په غونچو كښې داسې بوئى وى.لكه څنګه چه د انسان په منى كښې وى.

④ بعضو حضراتو وئيلى دى.چه په كجوره كښې د عشق صفت دې.لكه څنګه چه انسان عاشق وى.[5]

مذكوره وجوه دتشبيه ټول ضعيف دى.ځكه چه دلته كښې د كجورې او مسلمان په مينځ كښې وجوه د تشبيه مطلوب دى.حالانكه مذكوره وجوه مسلمان سره خاص نه دى.بلكه دا

---

[1]) ميزان الإعتدال(۴۱۷\۲)_

[2]) تهذيب الكمال(۴۷۳\۱۴) و سير أعلام النبلاء(۲۵۵\۵)_

[3]) كشف البارى (۶۳۷\۱)_

[4]) عمدة القارى(۱۴\۲)_

[5]) نقل هذه الجوه الكرمانى فى شرحه (۱۱\۲) وضعفها، وانظر أيضاً العمدة (۱۴\۲) والفتح(۱۴۷\۱)_

خبرې كافرانو كښې هم موندلې كيږي.(١)

⑤ يو وجه د شباهت دا بيان كړې شوې ده.چه يو حديث كښې دى.«أكرموا عمتكم النخلة فإنها خلقت من فضلة طينة آدم....»(٢)دغه شان په يو دويم حديث كښې دى.«أحسنوا إلى عمتكم النخلة فإن الله خلق آدم وفضل من طينة، فخلق منها النخلة»(٣) په دې دواړو حديثونو كښې كجوره د انسان دپاره عمه(د پلار خور) گرځولې شوې ده.هم دا وجه د شباهت ده.خو① اول خو دا وجه د شباهت هم مسلمان سره مخصوص نه ده.بلكه مسلمان او كافر دواړو ته عام ده.② او دويم دا چه دا دواړه حديثونه ثابت هم نه دى.(٤)

د تشبيه يو څو معقولې وجې: دحديث باب طرق ته د كتلو نه معلوميږي.چه وجوه د شبهې درې څيزونه دى

① د حارث بن ابى اسامه په طريق كښې دى.«إن مثل المؤمن كمثل شجرة لا تسقط لها أنملة، أتدرون ماهي؟ قالوا:لا، قال: هي النخلة، لايسقط لها أنملة ولا تسقط لمؤمن دعوة»(٥)

ددې نه معلومه شوه.چه تشبه په دې څيز كښې ده.چه لكه څنگه د كجورې د هرڅيز نه فائده اوڼفع اخستلې شى.ددې تنه د شهتير،او ستنو جوړولو په كار راځى.كه كمزورې شى د سوزولو په كار راځى.ددې پاڼې په چټونو كښې استعماليږى.پكو (بيوخو) دپاره استعماليږى. ددې د ميزرو (نرو پاڼو) نه رسئ (پړى) جوړولې شى.ددې ميوې انسان خورى. اوددې هډوكى ځاروى خورى.دغه شان ددې د مينځ نه چيږ راوځى.هغه هم انسان خورى.غرض دا چه ددې هيڅ څيز نه ضائع كيږى.

---

(١) المصدر السابق)_

(٢) الموضوعات الكبير لابن الجوزى(١٨٤/١) كتاب المبتدأ. باب خلق النخل من طين آدم)_

(٣) المصدر السابق. وانظر كشف البارى(١٧١/١، ١٧٢)_

(٤) فى الحديث الأول: مسرور بن سعيد التميمى، فقد قال ابن عدى:..وهذا حديث عن الأوزاعى، منكر، وعروة بن رويم عن على ليس بالمتصل، ومسرور بن سعيد غير معروف، لم أسمع بذكره إلا فى هذا الحديث.، الكامل (٤٣٢/٦).

وقال إبن الجوزى، قال ابن حبان: يروى عن الأوزاعى المناكير التى لاتجوز الإحتجاج بمن يرويها، ومنها هذا الحديث، كتاب الموضوعات(١٨٤/١)، وانظر أيضاً ، الميزان(٩٧/٤).

و أما الحديث الثانى ففيه جعفر بن أحمد بن على، قال ابن عدى: ..حدثنا هو عن أبى صالح كاتب الليث و.....و.....بأحاديث موضوعة، وكنا نتهمه بوضعها، بل نتيقن فى ذالک. وكان مع ذالک رافضياً، وقال بعد ذكر حديثين رواهما بإسناده، أحدهما هذا الحديث، وهذان الحديثان بإسناديهما موضوعان، ولا أشک أن جعفراً وضعهما، أنظر الكامل(١٥٦/٢).

وقال الذهبى فى الميزان(٤٠٠/١).... وذكره ابن يونس فقال:..كان رافضياً يضع الحديث..)_

(٥) فتح البارى(١٤٥/١)_

دغه شان د مؤمن هیڅ یوه دعا نه مسترد کیږی.یا هم دغه څیز ورکولې شی.دکوم چه ده سوال کړې دې.یا څه مصیبت دفع کولې شی.یا دا په آخرت کښې دعا کونکی دپاره ذخیره کولې شی.بهرحال دعا کله هم نه ضائع کیږی.(۱)

⑦ د صحیح بخاری په کتاب الاطعمه کښې هم په دې حدیث کښې دا الفاظ دی.چه «إن من الشجر لما بركته كبركة المسلم»(۲)ددې نه معلومه شوه. چه دا تشبیه به بابرکته کیدو کښې دی.ایمان والا ډیر زیات برکت لری.دده ایمان د عالم د بقاء سبب دې.که هیڅ څوك ایمان والا پاتې نشی.نو بیا به قیامت قائمیږی.(۳)دغه شان د ایمان والا هیڅ څیز نه ضائع کیږی.یعنی دده هیڅ یو عمل کوم چه د ایمان د تقاضې مطابق وی.نه ضائع کیږی.کرځیدل، ناسته ولاړه، اوده کیدل پاڅیدل، خوراك څکاك، ټول اعمال که د ایمانی تقاضې مطابق وی.نو ټول دده په حق کښې مفید دی.

⑧ د ابن حبانﷺ په روایت کښې دی.«من يخبرني عن شجرة مثلها مثل المؤمن، أصلها ثابت وفرعها في السماء....»(۴)یعنی ددې مثال د مسلمان مثال دې.چه جرړې ئې خو زمکه کښې دی.او ښاخونه ئې په آسمان کښې دی.یعنی دا د خپل وجود په اعتبار سره ارضی (زمکی) دې.او سر ئې آسمان کښې لګیدلې دې.دغه شان بعینه مسلمان د خپل وجود په اعتبار سره ارضی دې.او د علوم او معارفو په اعتبار سره آسمانی دې.یا مطلب دا دې.چه مسلمان عمل خودلته په زمکه کښې کوی.خودده اعمال پورته اوچتولې شی.اوالله تعالی په نیزقبلیږی.

حاصل دا چه ددې تشبیه ډیر زیات وجوه دی.دهغې خلاصه دا ده.چه مسلمان ډیر بابرکته دې.دده هیڅ یوه دعا رد کیږی نه.او دې دخپل وجود په اعتبار سره زمکی دې.او دخپلو علومو او معارفو په اعتبار سره آسمانی دې.چه دده علوم په آسمان کښې دی.دده د معرفت تعلق د الله تعالی د ذات اقدس سره دې.داسې اوګنړئ.چه د کجورې ونه ډیره برکتی او فائده منده ده.ددې هیڅ یو څیز ضائع نه څی.د صورت په اعتبار سره ددې جرړې خو په زمکه کښې لګیدلی دی.او تنه ئې آسمان سره ملاو شوې ده.

---

(۱) عن جابرﷺ أن رسول اللهﷺ قال:..مامن عبد مسلم يدعو بدعاء إلا آتاه الله ما سأل، أو ادّخر له في الآخرة خيراً منه أوكفّ عنه من السّوء مثله، مالم يدع بإثم أو قطيعة رحم..، ذكره رزين، كما في جامع الأصول(۵۱۳۱۹) وأخرج الترمذي في كتاب الدّعوات، باب ماجاء أن دعوة المسلم مستجابة، رقم(۳۳۸۱): ..مامن أحد يدعو بدعاء إلا آتاه الله ما سأل أوكفّ عنه من السوء مال يدع بإثم أو قطيعة رحم..)_

(۲) أنظر الصحيح للبخاري(۸۱۹۱۲) كتاب الأطعمة، باب أكل الجمار، رقم(۵۴۴۴)_

(۳) عن أنس:أن رسول اللهﷺ قال:..لا تقوم الساعة حتى لا يقال في الأرض ..الله الله.. وفي رواية قال، قال رسول اللهﷺ:..لا تقوم السّاعة على أحد يقول..الله الله.. أخرجهما مسلم في صحيحه (۸۴۱۱) في كتاب الإيمان، باب ذهاب الإيمان آخر الزمان، وانظر أيضاً الجامع للإمام الترمذي، كتاب الفتن، باب منه بعد باب ما جاء في أشراط السّاعة، رقم(۲۲۰۷)، ومسند الإمام أحمد بن حنبل (۱۶۲۱۳)_

(۴) فتح الباري(۱۴۶۱۱، ۱۴۷)_

قوله فَحَدِّثُونِي مَا هِيَ: ماته اوښايئ:چه هغه کومه يوه ونه ده؟ ددې نه معلومه شوه چه دونړې ويشتل جائز دی.خو په دې باندې اشکال کيږی.چه حديث کښې دی.«ان النبي ﷺ نهى من الغلوطات»(١) دې جواب دا دې.چه ددې نه مراد داسې خبرې دی.چه دهغې هيڅ فائده نه وی.صرف د يوکس تنکول او حقير او ذليل کول مقصود وی.او د دونړې ويشتلو اجازت هغه وخت دې.کله چه څه دينی يا دنيوی منفعت وی.ذهن تيزول مقصود وی.دچا تذليل او تحقير مقصود نه وی.(٢) [دونړې داسې سوال ته وائی.چه مفهوم ئې واضح نه وی.په اردوکښې ورته ،،پهيلياں'' وائی.(رمرتب)]

قوله فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ الْبَوَادِي: نو خلق د ځنګل د ونو په خيال کښې اخته شو. يعنی چا د يوې ونې نوم واخستلو.او چا د بلې ونې، يا د يوکس ذهن يو طرف ته لاړو.او د بل کس بلې ونې طرف ته.

قوله قَالَ عَبْدُ اللَّهِ وَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَاسْتَحْيَيْتُ: حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمائی.زما په زړه کښې راغلل.چه دا دکجورې ونه ده.خو زه اوشرميدم.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه د شرميدو وجه څه وه؟ د حضرت ابن عمر رضی الله عنه د شرميد وجه دا وه.چه په دې مجلس کښې تقريباً لس کسان وو.(٣) چه په دې کښې حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضی الله عنهما هم وو.(٤) دا حضرات چونکه خاموش وو.په دې وجه دې هم ادباً خاموش شو.د کتاب العلم په آخر کښې روايت راوان دې.چه حضرت عمر رضی الله عنه خپل پلار ته ذکرکړل. چه جواب خو زما په ذهن کښې راغلې وو.خو ستاسو حضراتو په وجه زه خاموش پاتې شوم.په دې باندې حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل.«لأن تكون قلتها أحب إلي من أن يكون لي كذا وكذا»(٥) د ابن حبان په روايت کښې په دې باندې دا اضافه ده.«أحسبه قال: حمر النعم»(٦) يعنی که تا ښودلې وې. نو زه به ډير زيات خوشحاله شوې ووم.دومره به خوشحاله شوې ووم.چه دهغې په مقابله کښې سره اوښان هم هيڅ نه دی.

د اولاد په ترقئ سره د مورپلار زړه خوشحاليږی. دا يو فطری څيز دې.چه د اولاد په ترقئ

---

(١) سنن أبي داؤد، كتاب العلم، باب التوقي في الفتيا، رقم(٣٦٥٦). ومسند أحمد(٤٣٥/٥)_

(٢) فتح الباري(١٤٦/١)_

(٣) كما أخرج البخاري في صحيحه(٨١٩/٢) كتاب الأطعمة، باب أكل الجمار، رقم(٥٤٤٤)..فإذا أنا عاشر عشرة أحدثهم..)_

(٤) أخرج البخاري في صحيحه(٦٨١/٢) كتاب التفسير، سورة إبراهيم، باب ﴿كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ﴾ رقم(٤٦٩٨). ورأيت أبابكر وعمر لا يتكلمان......)_

(٥) صحيح بخاري(٢٤/١) كتاب العلم، باب الحياء في العلم رقم(١٣١)_

(٦) فتح الباري(١٤٦/١)_

سره د مور پلار زړه خوشحاليږی .بيا كه دلته كښې حضرت ابن عمر ﷺ جواب وركړې وې.نو دوی ته به د نبی كريم ﷺ د طرفه ښې ډيرې د بركت دعاګانې ملاو شوې وې.په دې وجه حضرت عمر ﷺ ا وفرمائيل.كه تا ښودلې وې.نو زه به دومره زيات خوشحاله شوې ووم.چه ددې په مقابله كښې ماته دا خوښه نه ده.چه څه ډير زيات قيمتى دولت ملاوشى.

د علامه تقى الدين سبكى واقعه علامه تقى الدين على بن عبدالكافى سبكى ته چه كله دا اووئيلې شو.چه ستاسو د خوئى بهاءالدين احمد بن على درس ستاسو نه ښه وى.نو دوی د ډيرې خوشحالۍ نه يو شعر اووئيلې.

دروس أحمد خير من دروسى وذاك منه على غاية الأمل[1]

د حافظ عراقى واقعه كله چه دحافظ زين الدين عبدالرحيم بن الحسين عراقى ﷺ زمانه راغله.نو دوی ته هم دغه شان خبره اوكړې شوه.چه ستاسو د خوئې ولى الدين ابوزرعه احمد بن عبدالرحيم درس ستاسو نه ښه دې.نو دوی د تقى الدين سبكى په شعر كښې معمولى شان تصرف (تبديلى) اوكړه.او وې وئيل.

دروس أحمد خير من دروس أبيه وذاك عند أبيه منتهى أربه[2]

قوله ثُمَّ قَالُوا حَدِّثْنَا مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ هِيَ النَّخْلَةُ: بيا حاضرينو تپوس اوكړو.چه اې د الله رسوله ﷺ! چه دا كومه ونه ده؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.چه دا د كجورې ونه ده.

په ترجمة الباب او حديث باب كښې مطابقت: ددې باب په شروع كښې مونږ وئيلى دى.چه د امام بخارى ﷺ مقصد د ،،تحديث،، ،،انباء،، او ،،اخبار،، استعمالولو جواز بيانول دى.دا ټول الفاظ په جواز د تمسك او معمول بها كيدو كښې برابر دى.دا جدا خبره ده.چه بعضو ته په بعضو طريقو باندې ترجيح حاصل وى.،،كما سبق ذالك تفصيلا،،

په دې حديث سره د ترجمة الباب اثبات: په دې حديث سره به د ترجمة الباب اثبات څنګه كيږى؟ددې جواب دا دې.چه په دې حديث سره ،،ترجمة الباب،، ددې په طرقجمع كولو سره ثابتيږی.څكه چه دلته ،،فحدثونى ماهى،، دې.په كتاب التفسير كښې د ،،أخبرونى،، لفظ راغلې دې.[3] او د اسماعيلى په يو طريق كښې د ،،أنبئونى،، لفظ وارد شوې دې.[4] دغه شان دلته د ،،حدثنا ماهى،، الفاظ دى.او هم ددې كتاب العلم په يو طريق كښې د ،،اخبرنا بها،، الفاظ راغلى دى.[5] ،،والله سبحانه وتعالى أعلم،،_

---

[1] الدرالكامنة فى أعيان المائة الثامنة(۱/۲٤۹)_
[2] الضوء اللامع(۱/۳۳۸)_
[3] صحيح البخارى(۲/٦۸۱) كتاب التفسير، سورة إبراهيم باب ﴿كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ﴾ رقم(٤٦۸۹)_
[4] فتح البارى(۱/۱٤٤)_
[5] صحيح بخارى(۱/۱٤٤)كتاب العلم، باب الحياء فى العلم، رقم(۱۳۱)_

۵- باب طرح الإمام المسألة على أصحابه ليختبر ما عندهم من العلم

د امام د خپلو اصحابو او شاگردانو په وړاندې سوال پيش کول، چه هغوی سره کوم علم دی، د هغې امتحان واخلی.

ماقبل سره مناسبت: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه ددې باب، ماقبل باب سره مناسبت بالکل ښکاره دې. ځکه چه دواړو بابونو کښې حدیث یو دی.(۱) دا هم ممکن ده. چه په مخکنی باب کښې دا ښودلی شوی وو. چه علم هغه مستند دې. کوم چه سند سره بیان کړې شی. او په دې سلسله کښې چه د سند کوم الفاظ د محدثینو په نیز رائج دی. هغه ئې ثابت کړې وو. اوس په دې کښې دا بیانوی. چه د طالبانو کله کله امتحان هم اخستل پکار دی. ځکه چه امتحان اخستلو سره تیقظ او بیداری پیدا کیږی. او دوی په طلب د علم کښې مستعد کیږی. لکه څنګه چه استاد دپاره دا ضروری ده. چه هغه مستند علم پیش کړی. کوم چه سند سره ثابت وی. دغه شان طالب علم دپاره ضروری ده. چه هغه مستعد او بیدار اوسیږی. غفلت او بې پرواهی مضر او خطرناك ده.

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخاری رحمه الله مقصد د ترجمة الباب نه یا خو دا دې. که استاذان او مدرسین د شاگردانو د معلوماتو اندازه لګولو دپاره څه سوالات اوکړی. نو دا جائز ده. یا دا بیانول غواړی. چه داسې قسمه سوالونه کول جائز هم نه بلکه غوره دی. چه شاگردان بیدار اوسیږی. او په غفلت کښې وخت ضائع نکړی.

په تیر شوی باب کښې مونږ ذکر کړی دی. چه د حضرت معاویه رضی الله عنه د حدیث «ان النبی صلی الله علیه وسلم نهى عن الغلوطات»(۲) محمل د امتحان سوالونه نه دی. بلکه په مغالطه کښې غورزولو دپاره مشکل او ګډ وډ سوالونه کول دی. چه ددې مقصد هم دا وی. چه مخاطب په مشکل کښې پریوځی. یا عاجز (لاجوابه) راشی.

حدیث باب

۶۲- حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ (۳) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنْ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ حَدِّثُونِي مَا هِيَ قَالَ فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ الْبَوَادِي قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَاسْتَحْيَيْتُ ثُمَّ قَالُوا حَدِّثْنَا مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ هِيَ النَّخْلَةُ [ر: ۶۱]

---

(۱) عمدة القارى (۲/۱۵)_

(۲) سنن أبى داود، كتاب العلم، باب التوقى فى الفتيا، رقم (۳۶۵۶)، و مسند أحمد (۵/۴۳۵)

(۳) قد سبق تخريج هذا الحديث فى الباب السابق، فارجع إليه إن شئت)_

رجال الحديث

① خالد بن مخلد: دا ابو الهيثم خالد بن مخلد (بفتح الميم واللام بينهما خاء معجمة ساكنة)[1] القطواني (بفتح القاف والطاء المهملة)[2] البَجَلي الكوفي دې.[3]

دوی د سلیمان بن هلال، علی بن مسهر، امام مالك، ثابت بن قیس اونافع بن ابی نعیم رحمهم الله وغیره نه روایت د حدیث کړې دې.

ددوی نه په روایت کونکو کښې امام بخاری، عباس دوری، اسحاق بن راهویه، محمد بن عثمان کرامه، ابو کریب محمد بن العلاء، معاویه بن صالح .او ابویعلی محمد بن شداد المسمعی رحمهم الله وغیره دی.[4]

امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی: ،،لیس به بأس،،.[5]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی: ((لخالد بن مخلد أحادیث مناکیر ویکتب حدیثه)).[6]

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی: ((صدوق ولکنه یتشیع)).[7]

امام عجلی رحمه الله فرمائی: ((ثقة فیه قلیل تشیع وکان کثیر الحدیث)).[8]

امام صالح بن محمد جزره رحمه الله فرمائی: ((ثقة فی الحدیث إلا أنه کان متهما بالغلو)).[9]

امام ابن عدی رحمه الله فرمائی: ((هو من المکثرین وهو عندی إن شاء الله لا بأس به)).[10]

امام جوزجانی رحمه الله فرمائی: ((کان شتاما معلنا بسوء منهبه)).[11]

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.[12]

عثمان بن ابی شیبه رحمه الله دوی لره ،،ثقة صدوق،، ګرځولې دې.[13]

---

[1] المغنی (۷۰)_

[2] المغنی (۶۵)_

[3] تهذیب الکمال (۱۶۳\۸)_

[4] د شیوخ او تلامذه تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال (۱۶٤\۸، ۱۶۵)، وسیر أعلام النبلاء (۲۱۷\۱۰، ۲۱۸)

[5] تاریخ عثمان بن سعید الدارمی عن أبی زکریا یحی بن معین فی تخریج الرواة وتعدیلهم (۱۰۵) رقم (۳۰۱)

[6] تهذیب التهذیب (۱۱۸\۳)_

[7] تهذیب الکمال (۱۶۵\۸)_

[8] تهذیب التهذیب (۱۱۷\۳)

[9] المصدر السابق)_

[10] تهذیب الکمال (۱۶۶\۸) وتهذیب التهذیب (۱۱۷\۳)، وانظر الکامل (۳۶\۳)_

[11] تهذیب التهذیب (۱۱۷\۳، ۱۱۸)_

[12] ألثقات (۲۲٤\۸)_

[13] تهذیب التهذیب ۱۱۸\۹۳)

ابن سعد رحمه الله فرمائي: «وكان منكر الحديث، في التشيع مفرطاً، وكتبوا منه ضرورة».[1]
د تشيع الزام او ددې حقيقت ددې اقوالو خلاصه دا ده چه د جرح او تعديل اكثرو عالمانو دوی لره په روايت د حديث صادق ګرځولې دې. البته په دوی باندې دوه قسمه الزامات دی.
① يو داچه منكر او غريب روايتونه ډير زيات نقل كوی.
② دويم دا چه نه صرف شيعي وو بلكه په تشيع كښې غلو كونكې هم وو.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي: «أما التشيع فقد قدمنا أنه إذا كان ثبت الأخذ والأداء لا يضره، لا سيما ولم يكن داعية إلى رأيه»[2] يعنې تركومه پورې چه د تشيع تعلق دې نو كله چه راوی په تحمل د حديث او بيا په اداء د حديث كښې قابل اعتماد وی نو دا بدعت مضر نه دې. خاص طور باندې په دې وجه هم، چه دوی بدعت طرف ته داعی نه وو. د مبتدع روايت په هغه صورت كښې مردود وی كله چه دې ،،داعي الى البدعة،، وی.
تركومه پورې چه د دويم الزام تعلق دې نو په دې باره كښې هم حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.
«وأما المناكير فقد تتبعها أبو أحمد بن عدي من حديثه، وأوردها في ،،كامله،، وليس فيها شيء مما أخرجه له البخاري، بل لم أر له عنده من أفراده سوى حديث واحد، وهو حديث أبي هريرة ،،من عادى لي ولياً ...الحديث،،»[3] يعنې تركومه پورې چه د منكر احاديثو روايت كولو تعلق دې نو حافظ ابن عدي رحمه الله دهغې تتبع كړې ده او په خپل كتاب ،،الكامل،، كښې ئې جمع كړی دی. په هغې كښې يو حديث هم د صحيح بخاری نه دې بلكه په صحيح بخاری كښې چه ددوی څومره مرويات دی په هغې كښې صرف يو حديث كښې دوی تفرد اختيار كړې دې. باقي په يو روايت كښې هم هغه متفرد نه دې نو د صحيح بخاری حده پورې كم ازكم ددوی تفرد مضر نه دې. والله أعلم.
ددوی وفات په ۲۱۳ھ كښې شوې دې.[4] ،،سامحه الله تعالى وغفرله،،

③ سليمان: دا سليمان بن بلال قرشی تيمي، مولی د عبدالله بن عتيق محمد بن عبدالرحمن بن ابی بكر الصديق دې. بعضو حضراتو د قاسم بن محمد بن ابی بكر مولی ګرځولې دې. ددوی كنيت ابو ايوب يا ابو محمد دې.[5]
دوی دعبدالله بن دينار، زيد بن اسلم، ربيعة الراي، سهيل بن ابی صالح، يونس بن يزيد او محمد بن عبدالله بن ابی عتيق رحمهم الله وغيره نه د حديثونو روايت كړې دې.

---

[1] الطبقات الكبرى لابن سعد(۶/۴۰۶)_
[2] هدى السارى(۴۰۰)_
[3] هدى السارى(۴۰۰)_
[4] تهذيب الكمال(۱۸/۱۶۶)، وسير أعلام النبلاء(۱۰/۲۱۸)_
[5] تهذيب الكمال(۱۱/۳۷۲)و سير أعلام النبلاء(۷/۴۲۵)_

ددوى نه په حديث روايت كونكى كښې ابو عامر عقدى، يحي بن صالح وحاظى، سعيد بن ابى مريم، عبدالله بن المبارك، محمد بن خالد بن عثمه، او اسماعيل بن ابى اويس ﷺ وغيره حضرات دى.[1]

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى: «لا بأس به ثقة»[2]

عباس دورى د امام يحي بن معين رحمه الله نه نقل كړى دى: «ثقة صالح»[3]

د امام يحي بن معين نه تپوس اوكړې شو: «سليمان بن بلال أحبّ إليك أو الدراوردى؟» نو دوى اوفرمائيل: «سليمان وكلاهما ثقة»[4]

امام نسائى او يعقوب بن شيبه رحمهما الله هم دوى لره ثقه ګرځولې دې.[5]

ابن سعد رحمه الله فرمائى: «وكان ثقة كثير الحديث»[6]

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې.[7]

امام خليلى رحمه الله فرمائى: «ثقة ليس بمكثر...»[8]

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: «ثقة إمام»[9]

ددې ټولو توثيقاتو په مقابله كښې عثمان بن ابى شيبه رحمه الله فرمائى: «لا بأس به وليس ممن يعتمد على حديثه»[10]

خو ښكاره دا ده چه ټول عالمان بالاتفاق دوى لره ثقه ګرځولې دې. ددوى په مقابله كښې صرف عثمان بن ابى شيبه دوى لره كمزورې ګرځوى. چه ددې هيڅ وجه هم دوى نه ده بيان كړې. نو دا د صريح تعديلاتو په مقابله كښې مبهم جرح ده. چه دا مقبول نه ده. هم دا وجه ده چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى: «وهو تليين غير مقبول فقد اعتمده الجماعة»[11] يعنى دا تضعيف قابل قبول نه دې. او اصحاب د اصول ستة ددوى روايات حجت ګرځولى دى. او

---

[1] د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال (١١\٣٧٢، ٣٧٣) وسير أعلام النبلاء (٧\٤٢٦)

[2] سير أعلام النبلاء (٧\٤٢٦) و تهذيب التهذيب (٤\١٧٥)_

[3] تهذيب الكمال (١١\٣٧٤)_

[4] تاريخ الدارمى (١٢٥) رقم (٣٨٩)_

[5] تهذيب الكمال (١١\٣٧٤)_

[6] ألطبقات الكبرى (٥\٤٢٠)_

[7] ألثقات لابن حبان (٦\٣٨٨)_

[8] تهذيب التهذيب (٤\١٧٦)_

[9] (الكاشف (١\٤٥٧) رقم (٢٠٧٣)_

[10] تهذيب التهذيب (٤\١٧٦)_

[11] هدى السارى (٤٠٧)_

قبول كړی دی. د سليمان بن بلال رحمه الله وفات په ۱۷۲ھ يا ۱۷۷ھ كښې شوې دې.(۱)

۳ **عبدالله بن دينار:** د عبدالله بن دينار رحمه الله حالات په وړاندې باب كښې تير شوی دی.

۴ **ابن عمر:** د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حالات په كتاب الايمان كښې د «باب الإيمان وقول النبي ﷺ بني الإسلام على خمس» لاندې تير شوی دی.(۲)

قوله إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ: ددې باب لاندې امام بخاری رحمه الله بعينه هم هغه حديث نقل كړې دې.كوم ئې چه وړاندې باب كښې ذكر كړې دې.چونكه د ترجمة الباب په ذريعه ئې يو زياتې فائدې طرف ته اشاره اوكړله.كوم چه ددې حديث نهمستنبط ده.او په سند د حديث كښې هم فرق اوشو.په دې وجه به امام بخاری رحمه الله باندې د تكرار اعتراض نه كيږی.(۳)

په حديث باب كښې د اسناد په رجالو كښې د تغير فائده دلته ددې سوال په جواب كښې چه داسناد په رجالو كښې د تغير څه فائده ده؟ علامه كرمانی رحمه الله اوفرمائيل.چه په اصل كښې امام بخاری رحمه الله كله دا حديث د خپل شيخ قتيبه نه واوريدو.نو د تحديث د معنی بيانولو په سياق كښې ئې واوريدو.او كله ئې چه د خپل شيخ خالد بن مخلد نه واوريدو.نو هغوی د ,,طرح المسئلة،، لاندې بيان كړو.په دې و چه دهغوی تقليد كولو سره امام صاحب حديث هم دهغه بابونو لاندې ذكركړې دې.د كومو بابونو لاندې چه هغوی حديث اوريدلې وو.(۴)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله ددې ترديد كړې دې.هغه فرمائی.چه د امام بخاری رحمه الله نه واقفيت لرونكو اهل علمو كښې چاهم دا خبره نه ده نقل كړې.چه هغه په د ابوابو په تراجمو كښې د نورو تقليد كوی.كه داسې وی.نو بيا د صحيح بخاری هيڅ مزيت (او خصوصيت) نه پاتې كيږی.بلكه ددې په عكس دا منقول دی.چه امام بخاری رحمه الله د ابوابو په تراجمو منعقد كولو كښې كوم تصرف كوی.او دقت نظر (او ژور سوچ) نه كار اخلی.دا د صحيح بخاری رحمه الله يو ممتاز صفت دې.

بيا دا خبره هم قابل د غور ده.چه ددې مشائخو په ابوابو باندې څه تصنيف هم معروف نشته. چه مونږ دا اووايو.چه دغه شيوخو چونكه د فلانی باب لاندې حديث ذكركړې دې.په دې وجه د هغوی شاګرد امام بخاری رحمه الله د هغوی تقليد كړې دې.(۵)

د حديث باب ترجمة الباب سره مطابقت په حديث باب كښې د نبی كريم ﷺ د صحابه كرامو رضي الله عنهم نه سوال كول مذكور دی.ددې نه ترجمة الباب سره مطابقت بالكل واضح دې.

---

۱) تهذيب الكمال(۱۱\۳۷۶) وسير أعلام النبلاء(۷\۴۲۷)_

۲) كشف الباری(۱\۶۳۷)_

۳) فتح الباری(۱\۱۴۷، ۱۴۸)_

۴) شرح الكرمانی(۲\۱۳)_

۵) فتح الباری(۱\۱۴۸)_

٦-((باب ما جاء في العلم))

((وقوله تعالى ﴿وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾(طه:١١٤)((القراءة والعرض على المحدث ورأى الحسن والثوري ومالك القراءة جائزة واحتج بعضهم في القراءة على العالم بحديث ضمام بن ثعلبة قال للنبي صلى الله عليه وسلم آلله أمرك أن نصلي الصلوات قال نعم قال فهذه قراءة على النبي صلى الله عليه وسلم أخبر ضمام قومه بذلك فأجازوه واحتج مالك بالصك يقرأ على القوم فيقولون أشهدنا فلان ويقرأ ذلك قراءة عليهم ويقرأ على المقرء فيقول القارء أقرأني فلان)).

په دې باب كښې دنسخو اختلاف دلته په بعضو نسخو كښې ((باب ما جاء في العلم وقول الله تعالى ﴿وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ دې.خو په اكثرو نسخو كښې دا نشته.بيا په بعضو نسخو كښې ددې نه پس ((باب القراءة والعرض على المحدث))شته.او په بعضو كښې نشته.په بعضو نسخو كښې لفظ د ،،باب،، دې.او په بعضو كښې نشته.(١)

تيرشوى باب سره مناسبت په دې باب كښې او په تيرشوى باب كښې مناسبت دا دې.چه په تيرشوى باب كښې قراءة الشيخ مذكور دې.او په دې باب كښې د قراءة على الشيخ ذكر دې.په دې طريقه دواړو بابونو كښې مناسبت ښكاره دې.(٢)

په ،،باب قول المحدث حدثنا...،،او دمذكوره باب په مينځ كښې فرق تيرشوى باب سره نيزدې باب كښې امام بخارى رحمه الله ،،باب قول المحدث حدثنا او اخبرنا...،، فرمائيلى وو.دهغې نه مقصود دا بيانول وو.چه استاذ وائى.او شاګرد اورى.نو دا جائز ده.او دلته دا بيانوى.كه شاګرد وائى.او استاذ اورى.نو دا جائز ده.

ايا په قراءت او عرض كښې فرق شته؟ په قراءت او عرض كښې فرق شته او كه نشته.په دې كښې اختلاف دې.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه دواړو كښې فرق دې.،،قراءت،، عام دې.او ،،عرض،، خاص دې.ځكه چه ،،عرض،، په هغه وخت ونيلې شى.كله چه شاګرد پخپله د شيخ په وړاندې اولولى.كه اصل د شيخ په لاس كښې موجود وى.او كه د بل يو ثقه په لاس كښې وى.اوكه د شيخ په وړاندې د هغه د مرويات لوستلې كيږى.او د لوستونكى نه علاوه نور شاګردان هم په اوريدو كښې شريك وى.نو ددې اوريدونكو په حق كښې به دې ته ،،عرض،، نشى ونيلې.بلكه ،،قراءت،، به ونيلې شى.ګويا ،،قراءت،، عام دې.د لوستونكى شاګرد په حق كښې هم دا قراءت دې.او د اوريدونكو شاګردانو په حق كښې هم،

(١) قال القسطلاني: باب ما جاء في العلم وقول الله تعالى:﴿وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾...وهذا ساقط في رواية ابن عساكر. والأصيلي. وأبوذر.والوقت. والباب التالي له ساقط عند الأصيلي و أبي ذر و ابن عساكر. باب القراءة والعرض على المحدث. وفي نسخة. القراءة والعرض على المحدث. بحذف الباب.. إرشاد الساري(١٥٨\١)_

(٢) عمدة القاري(١٦\٢)_

او د ،،عرض،، صرف د لوستونكى شاګرد په حق كښې اطلاق كيږى.(١)
خو علامه كرمانى (٢)، علامه قسطلانى(٣)او د اصول حديث جمهورو عالمانو د دواړو په مينځ كښې هيڅ فرق نه دې كړې.بلكه دواړه ئې مساوى ګرخولى دى.(٤)
دلته چه امام بخارى رحمه الله كوم ،،باب القراءة والعرض.....،، فرمائيلى دى.دا عطف تفسيرى دې.(٥)
د ترجمة الباب مقصد امام بخارى رحمه الله دا باب د بعضو حضراتو د ترديد دپاره قائم كړې دې.كوم چه ،،قراءت على الشيخ،، جائز نه ګڼړى.
د ،،قراءت على الشيخ،، مانعين لكه چه د ابو عاصم النبيل. عبدالرحمن بن سلام جُمحى. محمد بن سلام جُمحى او وكيع بن الجراح رحمهم الله نه منقول دى چه ،،قراءت على الشيخ،، معتبر نه دې.(٦)
رامهرمزى رحمه الله د ابوعاصم النبيل نه نقل كړى دى.«سمعتُ سفيان وأباحنيفة ومالكاً وابن جريج، كل هؤلاء لسمعتهم يقولون: لا بأس بها يعنى القراءة، و أنا لا أراه، وما حدثت بحديث عن أحد من الفقهاء قراءة»(٧)
خطيب بغدادى رحمه الله د امام وكيع رحمه الله نه نقل كړى دى.هغه فرمائى چه «ما أخذنا حديثاً قط عرضاً»(٨)
دغه شان رامهرمزى رحمه الله د عبدالرحمن بن سلام جُمحى په باره كښې نقل كړى دى.هغه فرمائى «دخلتُ على مالك بن أنس وعلى بابه من يحجبه قال: و بين يديه ابن أبى أويس، وهو يقول: حدثك فلان، حدثك ابن شهاب، حدثك فلان وفلان، فيقول مالك: نعم، نعم، فلما فرغ قلت: يا أبا عبدالله، عوضنى مما حدثته بثلاثة أحاديث تقرؤها على قال: أعراقى؟ أعراقى؟ أخرجوه عنى»(٩)

---

١) فتح البارى(١٤٩\١)_
٢) شرح الكرمانى(١٣\٢)_
٣) ارشاد السارى(١٥٨\١، ١٥٩)_
٤) قال إبن الصلاح(١٣٧، تحقيق نورالدين عتر):،،من أقسام الأخذ والتحمل. القراءة على الشيخ،وأكثر المحدثين يسمونه عرضاً من حيث إن القارى يعرض على الشيخ ما يقرؤه، كما يعرض القرآن على المقرئ،، او اوګورئ: اختصارعلوم الحديث لابن كثير(١١٠) وفتح المغيث للعراقى (١٨٥) وفتح المغيث للسخاوى (١٦٧\٢) وتوضيح الأفكار(١٨٧\٢)_
٥) شرح الكرمانى(١٣\٢) وعمدة القارى(١٦\٢)_
٦) فتح المغيث للسخاوى(١٦٩\٢)_
٧) المحدث الفاصل بين الراوى والواعى(٤٢٠)_
٨) الكفاية(٢٧١) وفتح المغيث للعراقى(١٨٦)_
٩) المحدث الفاصل(٤٢١)_

داسې قسمه خبره د محمد بن سلام جمحي نه هم منقول ده.لکه چه هغه فرمائی.((أدركتُ مالكاً والناس يقرؤون عليه فلم أسمع منه لذالك))(١)
هم داسې قول د عراق د بعضو نورو حضراتو نه هم منقول دې.(٢)
د ،،قراءت على الشيخ،، مجوزين ددې په مقابله کښې په حضرات تابعينو کښې د عطاء، نافع، عروه، شعبی، زهری، مکحول، حسن بصری، منصور، ايوب، په امامانو حضراتو کښې د ابن جريج، سفيان ثوری، ابن ابی ذئب،شعبه، ائمه اربعه، ابن مهدی، شريك، ليث، ابو عبيد ، او د امام بخاری رحمه الله نه علاوه د ډيرو حضراتو رائې دا ده.چه لکه څنګه سماع معتبر او جائز ده.دغه شان ، ،قراءت على الشيخ،، او عرض هم جائز دې.(٣)
قول فيصل حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه د ، ،قراءت على الشيخ،، د نه صحيح کيدو کوم قول وو.هغه ختم شوې دې.اوس ددې په جواز او صحيح کيدو کښې هيڅ اختلاف نشته.(٤) لکه چه خطيب بغدادی رحمه الله د ابراهيم بن سعد رحمه الله نه نقل کړی دی.هغه فرمائی.((لاتدعون تنطعكم(٥) يا أهل العراق، العرض مثل السماع))(٦)
تنبيه مونږ وړاندې د ، ،مناوله،،د بيان لاندې ذکرکړی دی.چه لکه څنګه ، ،قراءت على الشيخ،، ته ، ،عرض،، وائی.دغه شان دې صورت ته هم عرض وائی.چه طالب شيخ ته يو کتاب يا د حديثو يو جزء راوړی.او شيخ ته ئې پيش کړی.شيخ په هغې کښې غور او فکر اوکړی.او بيا ددې د واپس کولو په وخت داسې اووائی.((وقفت على ما فيه، وهو حديثي عن فلان، أو روايتي عن شيوخي فيه، فاروه عني))(٧)
خو په دواړو کښې د فرق کولو دپاره ، ،قراءت على الشيخ،، ته مطلق ، ،عرض،، يا ، ،عرض القراءة،، وائی.او مذکوره صورت ته ، ،عرض المناولة،، وائی.(٨)
امام بخاری رحمه الله دلته د ، ،عرض القراءة،، مسئله بيان کړې ده.د ، ،عرض المناولة،، مسئله ئې نه ده بيان کړې.(٩) امام حاکم رحمه الله ته دلته وهم شوې دې.دوی په ، ،معرفة علوم

---

(١) فتح المغيث للسخاوى(٢\١٦٩)_
(٢) المصدرالسابق)_
(٣) فتح المغيث للعراقى(١٨٦)_
(٤) فتح البارى(١\١٥٠)_
(٥) التنطع فى الكلام: التعمق فيه، أنظر مختار الصحاح(٦٦٦)_
(٦) الكفاية(١٦٦)_
(٧) مقدمة ابن الصلاح(١٦٦)، وفتح المغيث للعراقى(٢١٦)،وظفرالأمانى(٥٢٠)، وفتح المغيث للسخاوى (٢\٢٨٩)_
(٨) مقدمة ابن الصلاح(١٦٦)_
(٩) فتح البارى(١\١٤٩)_

الحديث.. كښې په ،،عرض المناولة.. باندې د،،عرض.. اطلاق اوكړو.او دا ئې اوفرمائيل چه امام بخارى رحمه الله ددې ،،عرض.. اثبات د حديث باب په ذريعه كړې دې.(۱) حالانكه امام بخارى رحمه الله دلته ،،عرض القراءة.. ذكركړې دې عرض المناوله ئې نه دې ذكركړې.او مناوله دپاره امام بخارى رحمه الله روستو باب قائم كړې دې.(۲)

قوله وَرَأَى الْحَسَنُ وَالثَّوْرِيُّ وَمَالِكٌ الْقِرَاءَةَ جَائِزَةً: او حسن بصرى، سفيان ثورى. او مالك رحمهم الله ..قراءت على الشيخ.. صحيح ګرځوى.

ددې حضراتو رائې وړاندې تعليقاً او بيا ئې روستو موصولاً ذكركړې ده.هم دا رائې د جمهورو ده.بلكه اوس دا اختلاف هم ختم شوې دې.،،كما سبق ذالك قبل سطور،،

قوله وَاحْتَجَّ بَعْضُهُمْ فِي الْقِرَاءَةِ عَلَى الْعَالِمِ بِحَدِيثِ ضِمَامِ بْنِ ثَعْلَبَةَ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آللَّهُ أَمَرَكَ أَنْ نُصَلِّيَ الصَّلَوَاتِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَهَذِهِ قِرَاءَةٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: په ..قراءت على العالم.. باندې بعضو حضراتو د ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه د حديث نه استدلال كړې دې.چه دوى نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته ونيلى وو.چه آيا الله تعالى تاته حكم دركړې دې.چه مونږ مونځونه اوكړو؟ نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.آو.وې فرمائيل.چه دا ..قراءت على النبى صلى الله عليه وسلم.. دې.

علامه عينى په عمدة القارى (۳)كښې.حافظ ابن حجر په هدى السارى(۴)كښې حميدى شيخ د امام بخارى، او علامه كرمانى ..ثورى، حسن بصرى ونحوهما..(۵) د ..بعضهم.. مصداق ګرځولې دې.حالانكه ددې ،،بعضهم.. مصداق ابوسعيد الحداد دې.لكه څنګه چه امام بيهقى رحمه الله په كتاب المعرفة كښې د ابن خزيمه په طريق سره نقل كړې دى.هغه فرمائى. ((سمعتُ البخارى يقول: قال ابوسعيد الحداد، عندى خبرعن النبى صلى الله عليه وسلم فى القراءة على العالم، فقيل له،(۶)فقال: قصة ضمام بن ثعلبة، قال آلله امرك بهذا؟قال: نعم....))(۷)

---

(۱) لكه چه امام حاكم رحمه الله په ..النوع الثانى والخمسون.، كښې فرمائى...وبيان العرض: أن يكون الراوى حافظاً متقناً فيقدم المستفيد إليه. جزءً من حديثه أو أكثر من ذالك. فيناوله. فتأمل الراوى حديثه، فإذا أخبره وعرف أنه من حديثه قال للمستفيد. قد وقفت على ما ناولتنيه. وعرفت الأحاديث كلها. وهذه رواياتى عن شيوخى فحدّث بها عنى. فقال جماعة من أئمة الحديث. أنه سماع. منهم من أهل المدينة...و من أهل مكة...و من أهل الكوفة....ومن أهل البصرة....ومن أهل المصر....و كذالک جماعة من أهل الشام و خراسان. وقال بعدذكرحديث الباب: قال أبوعبدالله. إحتج شيخ الصنعة أبوعبدالله محمدبن اسماعيل البخارى رحمه الله فى كتاب العلم من الجامع الصحيح فى باب العرض على المحدّث. معرفة علوم الحديث(۲۵۶-۲۵۸)

(۲) يعنى ..باب ما يذكر فى المناولة و كتاب أهل العلم بالعلم إلى البلدان(۱۵\۱)_

(۳) عمدة القارى(۱۷\۲)_

(۴) هدى السارى(۲۵۱)_

(۵) شرح الكرمانى(۱٤\۲)_

(۶) أى سألوه عن ذالک الخبر الذى يدل على إثبات القراءة على العالم)_

(۷) فتح البارى(۱٤۹\۱) وفتح المغيث للسخاوى(۱۷۰\۲)_

هم دا خبره امام بيهقى رحمه الله په ..المدخل.. كښې هم نقل كړې ده.(۱)
امام ترمذى رحمه الله په ..كتاب الزكاة.. كښې هم دا حديث ذكر كړې دې. نو هلته ئې هم د امام بخارى رحمه الله نه دا نقل كړى دى چه بعضې عالمانو به ددې حديث نه د ..عرض على العالم.. په صحت باندې استدلال كوو.(۲) او خطيب بغدادى رحمه الله په كتاب الكفايه كښې براه راست د امام بخارى رحمه الله نه دا استدلال نقل كړې دې.(۳) داسې ښكارى چه امام بخارى رحمه الله به په عامو حالاتو كښې خو اكثر مستدل طرف ته اشاره كوله او بعضو وختونو كښې به ئې د استدلال صحيح كيدو په وجه پخپله د ضمام د قصې نه احتجاج او استدلال كولو.لكه څنګه چه دلته كښې هم امام بخارى رحمه الله هم په دې سياق كښې د حضرت ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه روايت نقل كړې دې.

قوله أَخْبَرَ ضِمَامٌ قَوْمَهُ بِذٰلِكَ فَأَجَازُوهُ: ضمام رضي الله عنه خپل قوم ته ددې خبر وركړو.هغوى دا قبول كړو.

امام بخارى رحمه الله ددې باب لاندې د ضمام قصه نقل كړې ده.خو په دې كښې دا تصريح نشته.چه هغوى خپل قوم ته لاړل.نو خبر ئې وركړو.او هغوى دا خبر اومنلو.البته په مسند احمد كښې ددې تصريح وارد ده.په كوم كښې چه حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د حضرت ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه قصه تفصيل سره ذكركړې ده.د هغې په آخر كښې چه كله حضرت ضمام رضي الله عنه دا اوفرمائيل.«إنى قد جئتكم من عنده بما أمركم به ونهاكم عنه» نو ددې اثر دا اوشو.چه تول په تولة مسلمانان شو.«فوالله ما أمسى من ذالك اليوم وفى حاضره رجل ولا امرأة إلا مسلماً»(۴) هم دا قبول د اسلام امام بخارى رحمه الله په ..اجازوه.. سره تعبير كړې دې.چه ددې مطلب ..قبلوه.. دې.اصطلاحى ..اجازت.. مراد نه دې.(۵)

د امام مالك رحمه الله استدلال:

قوله وَاحْتَجَّ مَالِكٌ بِالصَّكِّ يُقْرَأُ عَلَى الْقَوْمِ فَيَقُولُونَ أَشْهَدَنَا فُلَانٌ وَيُقْرَأُ ذٰلِكَ قِرَاءَةً عَلَيْهِمْ وَيُقْرَأُ عَلَى الْمُقْرِءِ فَيَقُولُ الْقَارِءُ أَقْرَأَنِي فُلَانٌ: او امام مالك رحمه الله د دستاويز (اقرار نامې) نه استدلال كړې دې.كوم چه خلقو ته لوستلې شى.او اورولې كيږى.نو هغوى وائى.چه مونږه فلانى سړى په دې دستاويز باندې ګواه جوړ كړو.او ښودونكى استاذ ته قرآن

---

۱) تدريب الراوى(۲/۱۳، ۱٤)_
۲) سمعت محمد بن إسماعيل يقول:..قال بعض أهل العلم فقه هذا الحديث أن القراءة على العالم والعرض عليه جائز. مثل السماع. وإحتج بأنّ الأعرابى عرض على النبى صلى الله عليه وسلم فأقربه النبى صلى الله عليه وسلم. جامع الترمذى.كتاب الزكاة. باب ماجاء إذا أديت الزكاة فقد قضيت ما عليك. رقم(۶۱۹)_
۳) الكفاية(۲۶۱) باب القول فى القراءة على المحدث وما يتعلق بها)_
۴) مسند احمد(۱/۲۶٤، ۲۶۵) وسنن الدارمى(۱/۱۷۳) كتاب الطهارة. باب فرض الوضوء والصلاة. رقم(۶۵۲)
۵) فتح البارى(۱/۱٤۹)_

لوستلې شي.او اورولې شي.نو لوستونكې وائي.چه ماته فلاني اورولې دې.
امام مالك رحمه الله د ,,قرات على الشيخ،، په صحت باندې د دوو متفق مسئلو نه استدلال كړې دې:

① يوه مسئله د ,,صك،، ده.دا د ,,چك،، معرب دې.چه دې ته په فارسئ كښې ,,قباله, يا ,اقرارنامه،،وائي.امام مالك رحمه الله فرمائي.چه اوګوره. ,,اقرار نامه،، د مقر او شهود په موجودګئ كښې لوستلې كيږي.د مقر نه دا تپوس كولې شي.چه كوم څه ليكلى شوى دى.دا ته منې؟ هغه وائي.,,نعم،، يعنى آو زه ئې منم.ددې نه پس ګواهان د حاكم په مجلس كښې حاضريږي.او دا وائي.چه كوم څه په دې كښې ليكلى شوى دى.فلانى زمونږ په وړاندې ددې اقرار كړې دې.حالانكه ده د ,,نعم،، نه علاوه بل څه نه وو وئيلى.
دغه شان چه كله شاګرد د استاذ په وړاندې حديث اووائي.او استاذ قولاً يا عملاً سره اثبات اوكړي.او آو اوكړي.نوهلته هم د شاګرد دا وينا چه ,,حدثني فلان،،،،أخبرني فلان،، صحيح دې.
ددې مسئلې نه امام ابوحنيفه رحمه الله هم د ,,قراءة على الشيخ،، په حجيت او صحت باندې استدلال كړې دې.ددوى دا استدلال رامهرمزى رحمه الله په ,,المحدث الفاصل،، كښې، او خطيب بغدادى رحمه الله په ,,الكفايه،، كښې ذكركړې دې.(١)
خطيب بغدادى رحمه الله د تفصيل سره نقل كړى دى.چه ابوعبيد القاسم بن سلام رحمه الله د امام ابويوسف رحمه الله نه نقل كړل.چه دوى د امام ابوحنيفه رحمه الله نه ددې مسئلې په باره كښې تپوس اوكړو.نو امام صاحب رحمه الله اوفرمائيل.چه د ګواهانو په موجودګئ كښې د مقر په وړاندې اقرارنامه لوستلې شي.او دهغه نه تپوس كولې شي.چه كوم څه ليكلى شوى دى.دا صحيح دى.هغه وائي ,,نعم،،نو لكه څنګه چه هلته كښې شهود وائي.چه هغه زمونږ په وړاندې اقرار كړې دې.كوم څه چه په دې كښې ليكلى شوى دى.صحيح دى.دغه شان كه شاګرد د استاذ په وړاندې اووائي.او استاذ اثبات اوكړي.نو شاګرد ,,حدثني،، او ,,اخبرني،، وائي.ابو عبيد قاسم بن سلام رحمه الله فرمائي.چه هم دا د امام ابويوسف رحمه الله قول دې.او هم دا زما هم قول دې.(٢)

② دويمه مسئله: دويمه مسئله امام مالك رحمه الله د ,,عرض على العالم،، په حجيت باندې پيش كړې ده.چه اوګوره.د قرآن كريم طالب علم د ښودونكي په وړاندې لولي.او دهغه نه تپوس كولې شي.چه تاته قرآن چا لوستلې دې؟ نو هغه وائي.چه فلاني لوستلې دې.حالانكه فلاني خو صرف خاموش وو.او اوريدلې ئې دې.او طالب علم دهغه په وړاندې لوستلې دې.
خطيب بغدادى رحمه الله وغيره د امام مالك رحمه الله نه نقل كړى دى.چه ددوى نه كله تپوس اوكړې شو.چه د ,,عرض على العالم،، په طور باندې كوم حديثونه لوستلې كيږي.آيا د حديث اداكولو په وخت ,,حدثني،، وئيل صحيح دى؟ نو وې فرمائيل.چه آو.دغه شان د قرآن كريم

---

(١) المحدث الفاصل(٤٢٥، ٤٢٦) فقره(٤٧١). والكفاية(٢٦٨)_
(٢) الكفاية(٢٧٩) ذكر الرواية عمن كان يختار القراءة على المحدث على السماع من لفظه)_

د حصول صورت هم دې چه اوګوره.يو طالب علم ني لوستونکی ته اوروی.او بيا وائي.چه ماته فلانی ښودونکی لوستلې دې.[1]

امام مالك رحمه الله فرمائی.«كيف لايجزئك هذا فى الحديث ويجزئك فى القرآن، والقرآن أعظم؟»[2] امام حاكم په معرفة علوم الحديث كښې نقل كړی دی.چه مطرف رحمه الله فرمائی «صحبت مالكاً سبع عشرة سنة، فما رأيته قرأ الموطأ على أحد»[3] دامام مالك رحمه الله وينا دا ده.چه هركله د قاری د مقرى (ښودونكی) په وړاندې لوستل، او بيا دا ونيل.چه ،،أقرأني فلان،، كافی دي.نو په حديث كښې دا څنګه نشی كافی كيدې؟

حديث باب

((حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ الْوَاسِطِيُّ عَنْ عَوْفٍ عَنْ الْحَسَنِ قَالَ لَا بَأْسَ بِالْقِرَاءَةِ عَلَى الْعَالِمِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ إِذَا قُرِئَ عَلَى الْمُحَدِّثِ فَلَا بَأْسَ أَنْ يَقُولَ حَدَّثَنِي قَالَ وَسَمِعْتُ أَبَا عَاصِمٍ يَقُولُ عَنْ مَالِكٍ وَسُفْيَانَ الْقِرَاءَةُ عَلَى الْعَالِمِ وَقِرَاءَتُهُ سَوَاءٌ))

مصنف رحمه الله رومبې د حسن بصری، سفيان ثوری، او امام مالك رحمهم الله قول تعليقاً نقل كړې وو.اوس د هريو اثر موصولاً نقل كوی.

رجال الحديث

① محمد بن سلام: دا ابو عبدالله محمد بن سلام بيكندی رحمه الله دې.ددوی حالات د كتاب الايمان «باب قول النبی صلى الله عليه وسلم: أنا أعلمكم بالله وأن المعرفة فعل القلب» لاندې تير شوی دی.[4]

② محمد بن الحسن الواسطی: دا محمد بن الحسن بن عمران مزنی واسطی دې.په اصل كښې د شام دې.په واسط كښې قاضی پاتې شوې دې.[5]

دوی د اسماعيل بن ابی خالد، عوام بن حوشب، عوف اعرابی، او فضيل بن غزوان رحمهم الله وغيره نه روايت د حديث كړې دې.

ددوی نه امام احمد، محمد بن سلام بيكندی، محمد بن سلام جُمحی، زيد بن الحريش، محمد بن اسماعيل حسانی، او محمد بن اسماعيل احمسی رحمهم الله وغيره علم حديث حاصل كړې دې.[6]

---

[1] الكفاية(۲۷۱). وفتح البارى(۱۴۹/۱)_
[2] معرفة علوم الحديث للحاكم(۲۵۹) والكفاية(۲۷۱) وفتح البارى(۱۵۰/۱)_
[3] معرفة علوم الحديث للحاكم((۲۵۹) وفتح البارى(۱۴۹/۱) وفتح المغيث للسخاوى(۱۷۰/۲)
[4] كشف البارى(۹۳/۲)_
[5] تهذيب الكمال(۷۱/۲۵) وسير أعلام النبلاء(۳۰۳/۹)_
[6] د شيوخ او تلامذه تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(۷۲/۲۵) وسير أعلام النبلاء(۳۰۳/۹)_

امام احمد رحمه الله فرمائي. ،،ليس به بأس،،(١)

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائي. ،،ثقة،،(٢)

امام محمد بن حاتم رحمه الله فرمائي. ((حدثنا محمد بن الحسن الواسطي ثقة))(٣)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائي. ،،لا بأس به))(٤)

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي. ،،ثقة،،(٥)

ابن سعد رحمه الله فرمائي. ،،وكان ثقة،،(٦)

حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي. ،،ثقة،،(٧)

امام دارقطني رحمه الله فرمائي. ،،لا بأس به،،(٨)

ابن حبان رحمه الله ددوی تذكره د ،،الضعفاء،، لاندې كړې ده.او فرمائيلي ئې دي. ((يرفع الموقوف و يسند المراسيل)) چه دوی موقوف لره مرفوع، او مراسيل سنداً روايت كوی.او بيا ئې ددې يو مثال هم ذكركړې دې. ((ذكاة الجنين ذكاة أمه)) دا حديث دوی د حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه مرفوع نقل كړې دې.حالانكه حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي.چه دا ،،موقوف على ابن عمر،، صحيح دې.مرفوع روايت كول صحيح نه دی.(٩)

① خواول خو ابن حبان رحمه الله ددې غلطۍ يو مثال پيش كړې دې.حالانكه ددې په مقابله كښې پورته تاسو د جرح او تعديل د عالمانو توثيقات كتلی دی.چه يوكس هم دوی لره مجروح نه دې ګرځولې.

② دويمه دا چه امام بخاري رحمه الله ددوی نه صرف د حضرت حسن بصري رحمه الله اثر. په واسطه د عوف اعرابي نقل كړې دې.ددوی نه ئې د يو مرفوع حديث اثبات يا د يو شرعي حكم استنباط په سلسله كښې احتجاج نه دې كړې.

③ بيا ابن حبان رحمه الله پخپله دوی لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې.(١٠)

---

١) تهذيب الكمال(٧٣\٢٥)_

٢) المصدر السابق)_

٣)المصدر السابق)_

٤) المصدر السابق)_

٥) المصدر السابق)_

٦) طبقات ابن سعد(٣١٥\٧)_

٧) الكاشف(١٦٤\٢) رقم(٤٧٩٧)_

٨) تهذيب التهذيب(١١٩\٩)_

٩) ميزان الإعتدال((٥١٥\٣) رقم(٧٣٨٤) وتهذيب التهذيب(١١٩\٩)_

١٠) الثقات لابن حبان(٤١١\٧)_

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى ،،وهذا أصوب،،.[1]

ددوى وفات په ۱۸۷ھ يا ۱۸۹ھ كښې شوې دې ،، رحمه الله تعالىٰ رحمةً واسعةً ،،_

③ **عوف:** دا ابوسهل عوف بن ابى جميلة العبدى الهجرى البصرى دې.دا د عوف اعرابى په نوم سره مشهور دې.ددوى حالات د كتاب الايمان د ((باب اتباع الجنائز من الإيمان))لاندې تيرشوى دى.[2]

④ **الحسن:** دا مشهور تابعى امام حضرت حسن بصرى رحمه الله دې.ددوى حالات هم د كتاب الايمان ((باب المعاصى من أمر الجاهلية))لاندې تيرشوى دى.[3]

قوله: لَابَأْسَ بِالْقِرَاءَةِ عَلَى الْعَالِمِ: عالم ته په لوستلو سره اوږولو كښې هيڅ بلك نشته.

د مذكوره اثر تخريج: دا اثر خطيب بغدادى رحمه الله د((أحمد بن حنبل عن محمد بن الحسن الواسطى عن عوف الأعرابى)) په طريق تفصيل سره ذكر كړې دې.په دې كښې دى چه يو سړى حضرت حسن بصرى رحمه الله ته اووئيل.چه اې ابو سعيد! زما كور لرې دې.بار بار تلل راتلل زما دپاره مشكل دى.كه تاسو څه باك نه ګڼرئ.نو زه ستاسو په وړاندې احاديث لوستلو سره اوروم.حضرت حسن بصرى رحمه الله اوفرمائيل.((ما أبالى قرأتُ عليك أو قرأتَ علىّ)) دې سړى بيا تپوس اوكړو.چه زه د حديث ادا كولو دپاره ،،حدثنى الحسن،، اووايم؟ نو دوى اوفرمائيل.((نعم، قل حدثنى الحسن)).[4]

قوله: وَحَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ سُفْيَانَ: ددې ځائې نه د حضرت سفيان ثورى رحمه الله قول موصولاً نقل كوى.د عبيدالله بن موسى او د حضرت سفيان ثورى رحمهما الله حالات وړاندې تير شوى دى.[5]

قوله: قَالَ إِذَا قُرِئَ عَلَى الْمُحَدِّثِ فَلَا بَأْسَ أَنْ يَقُولَ حَدَّثَنِي: سفيان ثورى رحمه الله فرمائى.چه كله د محدث په وړاندې اولوستلې شى.نو ادا دپاره ،،حدثنى،، ونيلو

---

[1] ميزان الإعتدال(٣\٥١٥) رقم(٧٣٨٤)_

[2] كشف البارى(٢\٥٢٢)_

[3] كشف البارى(٢\٢٠١٢)_

[4] الكفاية(٢٢٥) وفتح البارى(١\١٥٠) وانظر ايضاً المحدث الفاصل للرامهرمزى(٤٢٦، ٤٢٧) رقم الفقرة(٤٧٣)_

[5] د عبيدالله بن موسى حالاتو دپاره اوګورئ: كشف البارى(١\٢٣٦) كتاب الإيمان. باب الإيمان وقول النبى ﷺ بنى الإسلام على خمس.. او د سفيان ثورى رحمه الله حالاتو دپاره اوګورئ: كشف البارى(٢\٢٧٨) كتاب الإيمان. باب ظلم دون ظلم)_

كښې هيڅ باك نشته.

قوله: قَالَ وَسَمِعْتُ أَبَا عَاصِمٍ يَقُولُ عَنْ مَالِكٍ وَسُفْيَانَ الْقِرَاءَةُ عَلَى الْعَالِمِ وَقِرَاءَتُهُ سَوَاءٌ: امام بخارى رحمه الله فرمائى چه ما د ابوعاصم نه واوريدل.هغه د امام مالك او سفيان ثورى رحمهما الله نه نقل كوى.چه ..قراءت على العالم.. او ..قراءت د عالم.. دواړه برابر دى.

قوله: ابوعاصم: دا امام ابوعاصم ضحاك بن مخلد بن ضحاك بن مسلم شيبانى بصرى رحمه الله دې.[1] په ١٢٢ﻫ كښې پيدا شو.[2]

دوى د امام ابوحنيفه، سفيان ثورى، امام مالك، شعبه، اوزاعى، ابن جريج، جعفر صادق، محمد بن عجلان، او حيوة بن شريح رحمهم الله پشان ډيرو حضراتو نه روايت د حديث كړې دې.

ددوى نه روايت كونكو كښې امام بخارى، جرير بن حازم (دا ددوى شيخ هم دې). امام اصمعى، اسحاق بن راهويه، ابو خيثمه، بندار، محمود بن غيلان او ابو مسلم كجى رحمهم الله پشان ډير محدثين دى.[3]

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى..ثقة..[4]

امام عجلى رحمه الله فرمائى.((ثقة، كثير الحديث، وكان له فقه))[5]

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى.((صدوق، وهو أحب إلى من روح بن عبادة))[6]

عمر بن شبه رحمه الله فرمائى.((حدثنا أبو عاصم النبيل، والله ما رأيت مثله))[7]

ابن سعد رحمه الله فرمائى.((وكان ثقة فقيها))[8]

ابو يعلى خليلى رحمه الله فرمائى.((متفق عليه زهداً وعلماً وديانة وإتقاناً))[9]

عبدالرحمن بن يوسف بن خراش رحمه الله فرمائى.((لم يُرَ في يده كتاب قط))[10]

---

[1] تهذيب الكمال(١٣\٢٨١) وسير أعلام النبلاء(٩\٤٨٠)_

[2] سير أعلام النبلاء(٩\٤٨٠) وتهذيب الكمال(١٣\٢٨٨)_

[3] د شيوخ او تلامذه تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(١٣\٢٨٢-٢٨٥) وسير أعلام النبلاء (٩\٤٨٠-٤٨١)

[4] تاريخ الدارمى عن إبن معين((١٣٦) رقم(٤٤٤)_

[5] تهذيب الكمال((١٣\٢٨٦) وسير أعلام النبلاء(٩\٤٨١)_

[6] (المصدر السابق)_

[7] المصدر السابق)_

[8] طبقات ابن سعد(٧\٢٩٥)_

[9] تهذيب الكمال(١٣\٢٨٦) وسير أعلام النبلاء(٩\٤٨٢)_

[10] المصدر السابق)_

ابن قانع رحمه الله فرمائی «ثقة مامون»[1]

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.[2]

البته عقیلی رحمه الله دوی لره پخپل کتاب الضعفاء کښې ذکرکړې دې.او یو حدیث ئې نقل کړې دې.چه په هغې کښې ددوی مخالفت شوې دې.[3] خو① اول د کتاب الضعفاء په بعضو نسخو کښې خو ددوی تذکره شته.او په بعضو کښې د سره ددوی تذکره هم نشته.[4]

② دویمه داچه د معمولی خطایانو نه څوک محفوظ پاتې کیدې شی؟ په دې وجه د داسې خطایانو باوجود محدثین د ثقاتو روایت قبلوی.

عقیلی رحمه الله دا هم ذکرکړی دی.چه کله ابو عاصم ضحاك بن مخلد رحمه الله ته دا اوونیلی شو.چه یحي بن سعید القطان ستاسو په باره کښې کلام کوی.نو وې فرمائیل.«لستُ بحيٍ ولا ميت إذا لم أذكر»[5]

ښکاره خبره ده.چه د ابن معین، عجلی، ابو حاتم، ابن سعد، ابن قانع او ابن حبان رحمهم الله وغیره حضراتو د توثیق نه پس دچا د مبهم جرح څه حیثیت پاتې کیږی؟

لکه چه حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«اجمعوا على توثيق أبي عاصم»[6]

امام ابو عاصم رحمه الله پخپله فرمائی.«ما دلست حديثا قط»[7]

د ،،نبیل،، لقب پریوتلو دلچسپ وجوه: د امام ابوعاصم رحمه الله لقب ،،نبیل،، دې[8]، چه ددې مختلف وجوه نقل کړې شوی دی

① بعض حضرات فرمائی.چه یوځل بصره کښې هاتهی راورسیدو.نو ټول خلق ئې کتلو دپاره لاړل.او دې لاړ نشو.ابن جریج رحمه الله تپوس اوکړو.چه ته ولې لاړنشوې.جواب ئې ورکړو چه «لاأجد منك عوضاً» په دې باندې ابن جریج رحمه الله اوفرمائیل.«أنت نبيل».

② بعضې حضرات فرمائی.چه ددوی پوزه ډیره غټه وه.په دې وجه دوی ته نبیل اوونیلی شو.

③ بعضې حضرات فرمائی.چه دوی به ډیره قیمتی او ښه کپړه اغوستله.په دې وجه ددوی لقب ،،نبیل،، مشهور شو.

---

[1] تهذیب التهذیب(٤\٤٥٢)_

[2] الثقات(٦\٤٨٣)_

[3] کتاب الضعفاء الکبیر(٢\٢٢٢، ٢٢٣)_

[4] میزان الإعتدال(وتعلیقات علی المیزان(٢\٣٢٥)، وتعلیقات کتاب الضعفاء(٢\٢٢٢، ٢٢٣)_

[5] کتاب الضعفاء(٢\٢٢٣)ومیزان الإعتدال(٢\٣٢٥)_

[6] میزان الإعتدال((٢\٣٢٥)_

[7] تهذیب الکمال(١٣\٢٨٦) وسیر أعلام النبلاء(٩\٤٨٢)_

[8] نَبُل يَنْبُل نُبلاً و نَبالةً: عظُمَ وشرُفَ. يقال: أجاد غذاءها حتى نبُل جسمها، وأحسنَ تربيته. فنَبُلَتْ أخلاقه. أنظر المعجم الوسيط(٢\٨٩٨)_

④ بعضې حضرات فرمائي چه يو خل امام شعبه رحمه الله د يو مياشت پورې د حديث نه اورولو قسم اوخوړلو امام ابوعاصم هغوی ته لاړو او وې فرمائيل. «حدث وغلامي العطار حرّ لوجه الله كفارة عن يمينك» په دې وجه ددوی لقب ،،نبيل،، مقرر شو.

⑤ بعضو وئيلي دي چه دې به د امام زفر رحمه الله سره اوسيدلو او ددوی سره به يو بل كس هم ابوعاصم نومې اوسيدلو چه هغه د ابوعاصم نبيل پشان غټ مالدار نه وو په زړو شليدلو كپړو كښې به اوسيدو يو خل ابو عاصم نبيل امام زفر رحمه الله ته راغې خادم اطلاع وركړله چه په دروازه باندې ابوعاصم راغلې دې تپوس ئې اوكړو چه كوم يو ابوعاصم دې؟ خادم اووئيل ،،ذاك النبيل،، دغه وخت دا لقب مقرر شو.(١)

دامام ابوعاصم وفات په۲۱۲ھ يا۲۱۳ھ يا ۲۱۴ھ كښې اوشو.(٢) رحمه الله تعالى رحمةً واسعةً.

قوله: الْقِرَاءَةُ عَلَى الْعَالِمِ وَقِرَاءَتُهُ سَوَاءٌ:

ددې قول څه مقصد دې؟ د امام مالك. او سفيان ثوری رحمهما الله د قول اصل مقصد دا دې چه لكه څنګه قراءت دعالم معتبر دې دغه شان قراءت على العالم هم معتبر دې يعنى په معتبر كيدو كښې دواړه مساوی دی خو ددې نه د يوې بلې مسئلې تائيد كيږی هغه دا چه تحديث او اخبار يعنی ،،قراءت الشيخ،، او ،،قراءة على الشيخ،، كښې هيڅ فرق نشته د دواړو درجه برابر ده. په دې مسئله كښې د عالمانو درې اقواله دی د كوم تفصيل چه مونږ په «باب قول المحدث: حدثنا....» كښې د عنوان ،،د قراءت على الشيخ مرتبه،، لاندې تفصيل سره ذكر كړی دی.،،فارجع إليه إن شئت،،_

---

(١) ددې ټولو وجو دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(۱۳\۲۸۷) وسير أعلام النبلاء(۹\۴۸۲، ۴۸۳)، وعمدة القاری(۲\۱۸)_

(٢) تهذيب الكمال(۱۳\۲۸۸، ۲۸۹)_

حديث باب

٦٣-((حدثنا عبد الله بن يوسف قال حدثنا الليث عن سعيد هو المقبري عن شريك بن عبد الله بن أبي نمر أنه سمع أنس بن مالك((يقول بينما نحن جلوس مع النبي صلى الله عليه وسلم في المسجد دخل رجل على جمل فأناخه في المسجد ثم عقله ثم قال لهم أيكم محمد والنبي صلى الله عليه وسلم متكئ بين ظهرانيهم فقلنا هذا الرجل الأبيض المتكئ فقال له الرجل يا ابن عبد المطلب فقال له النبي صلى الله عليه وسلم قد أجبتك فقال الرجل للنبي صلى الله عليه وسلم إني سائلك فمشدد عليك في المسألة فلا تجد علي في نفسك فقال سل عما بدا لك فقال أسألك بربك ورب من قبلك آلله أرسلك إلى الناس كلهم فقال اللهم نعم قال أنشدك بالله آلله أمرك أن نصلي الصلوات الخمس في اليوم والليلة قال اللهم نعم قال أنشدك بالله آلله أمرك أن نصوم هذا الشهر من السنة قال اللهم نعم قال أنشدك بالله آلله أمرك أن تأخذ هذه الصدقة من أغنيائنا فتقسمها على فقرائنا فقال النبي صلى الله عليه وسلم اللهم نعم فقال الرجل آمنت بما جئت به وأنا رسول من ورائي من قومي وأنا ضمام بن ثعلبة أخو بني سعد بن بكر ورواه موسى وعلي بن عبد الحميد عن سليمان عن ثابت عن أنس عن النبي صلى الله عليه وسلم بهذا))[1]

رجال الحديث

① عبدالله بن يوسف: دا مشهور محدث عبدالله بن يوسف تنيسي رحمه الله دي. ددوی مختصر تذکره په ،،بدءالوحی،، کښې د دويم حديث لاندې تيره شوې ده.[2]

② الليث: دا مشهور محدث امام ليث بن سعد فهمی رحمه الله دی. ددوی حالات هم په ،،بدءالوحی،، کښې د دريم حديث په تشريح کښې تير شوی دی.[3]

③ سعيد: دا سعيد بن ابی سعيد مقبری رحمه الله دی. ددوی تفصيلی تذکره په کتاب الايمان

---

[1] قوله:..أنس بن مالک الحديث أخرجه مسلم فی صحيحه (١\٣٠، ٣١) کتاب الإيمان. باب السؤال عن أرکان الإسلام. رقم(١١١) و(١١٢) والنسائی فی سننه فی کتاب الصيام. باب وجوب الصّيام. رقم(٢٠٩٣) وأبوداؤد طرفاً منه فی سننه. فی کتاب الصّلاة. باب ماجاء فی المشرک يدخل المسجد. رقم(٤٨٦) والترمذی فی جامعه فی أبواب الزکاة. باب ماجاء إذا أديت الزکاة فقد قضيت ما عليک. رقم(٦١٩) والدارمی فی سننه (١\١٧١، ١٧٢) فاتحة کتاب الطهارة. باب فرض الوضوء والصّلاة. رقم(٦٥٠) و إبن ماجه فی سننه فی کتاب إقامة الصّلاة والسنة فيها. باب ما جاء فی فرض الصلوات الخمس والمحافظة عليها. رقم(١٤٠٢)

[2] کشف الباری(١\٢٨٩، ٢٩٠)_

[3] کشف الباری(١\٣٢٤)

کښې د ،،باب الذين يسر،، لاندې تيره شوې ده.(١)

(٣) **شريك بن عبدالله بن ابى نمر:** دا ابوعبدالله شريك بن عبدالله بن ابى نمر قرشى مدنى رحمه الله دې.(٢)

دوى د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه علاوه د سعيد بن المسيب، عامر بن سعد بن ابى وقاص، عطاء بن يسار، عكرمه مولى ابن عباس، كُريب مولى ابن عباس، او ابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف رحمهم الله وغيره حضراتو نه روايت د حديث كوى.

ددوى نه روايت كونكو كښې سعيد مقبرى (وهواكبرمنه) سليمان بن هلال، سفيان ثورى، امام مالك، مسلم بن خالد زنجى او اسماعيل بن جعفربن ابى كثير رحمهم الله وغيره حضرات دى.(٣)

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى.،،ليس به بأس،،(٤)

امام ابو داؤد رحمه الله فرمائى.،،ثقة،،(٥)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې.(٦)

ابن سعد رحمه الله فرمائى.((كان ثقة كثيرالحديث))(٧)

امام عجلى رحمه الله فرمائى.،،تابعى ثقة،،(٨)

امام نسائى رحمه الله فرمائى.،،ليس بالقوى،،(٩)

د امام يحي بن معين رحمه الله نه هم منقول دى.،،ليس بالقوى،،(١٠)

ابن الجارود رحمه الله فرمائى.((ليس به بأس وليس بالقوى))(١١)

امام يحي بن سعيد القطان رحمه الله به ددوى نه روايت نه كولو.(١٢)

ساجى رحمه الله فرمائى.،،كان يرى القدر،،(١٣)

---

(١) كشف البارى(٣٣٦\٢)_

(٢) تهذيب الكمال(٤٧٥\١٢) وسيرأعلام النبلاء(١٥٩\٦)_

(٣) د شيوخ او تلامذه تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٤٧٥\١٢، ٤٧٦) وسيرأعلام النبلاء(١٥٩\٦)_

(٤) تاريخ ابن معين برواية الدارمى(١٣٢) رقم(٤٢٠)_

(٥) تهذيب التهذيب(٣٣٨\٤)_

(٦) الثقات لابن حبان(٣٦٠\٤) وقال ..ربما أخطأ..)_

(٧) تهذيب الكمال(٤٧٧\١٢) وتهذيب التهذيب(٣٣٨\٤)_

(٨) تعليقات على تهذيب الكمال(٤٧٧\١٢) نقلاً عن ..الثقات.. للعجلى)_

(٩) سيرأعلام النبلاء(١٥٩\٤)_

(١٠) المصدرالسابق، وميزان الإعتدال(٢٦٩\٢) رقم(٣٦٩٦)_

(١١) تهذيب التهذيب(٣٣٨\٤)_

(١٢) المصدرالسابق)_

(١٣) المصدرالسابق)_

په دوى باندې د ،،وضع حديثه، او د ،،قدرى، كيدو الزام او دهغې ترديد ددې تولو اقوالو نه معلوميږي چه بعضو حضراتو ددوى توثيق كړى دې. او بعضو حضراتو ددوى تضعيف كړې دې تردې چه ابن حزم رحمه الله دوى لره ،،متهم بالوضع،، ګرځولې دې.[1] او په دوى باندې د قدرى كيدو الزام هم دې خو ددوى په باره كښې معتدل رائې داده چه شريك اګرچه د ډير مضبوط رواتو نه نه دې خو دهغه راويانو نه ضرور دې د كومو روايات چه د متابعت او استشهاد په طور باندې پيش كولې شى لكه حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى چه ((وقد وثقه أبوداؤد وروى عنه مثل مالك، ولا ريب أنه ليس فى الثبت كيحى بن سعيد الأنصارى))[2]

دغه شان تولو اقوالو ته كتلو سره حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ،،صدوق يخطئ،،[3]

بلكه حافظ ابن عدى رحمه الله ددوى په باره كښې قول فيصل دا ذكركړې دې چه ((وشريك بن عبدالله رجل مشهور من أهل المدينة، حدث عنه مالك وغير مالك من الثقات، وحديثه إذا روى عنه ثقة، فإنه لا بأس بروايته إلا أن يروى عنه ضعيف))[4]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه ددوى احايث د صحاح سته مؤلفينو قابل د احتجاج ګرځولى دى. ((أخرج له الترمذى فى شمائله لا فى الجامع، يعرف ذالك برمزه عند المزى وابن حجر وغيرهما))

البته ددوى د اسراء په حديث كښې كوم چه دوى د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت كړې دې. بعضې خايونه داسې دى چه هغه شاذ دى او ددې متابعت نه ملاويږى.[5]

تركومه پورې چه د قدرى كيدو تعلق دې نو مونږه څو خله ونيلى دى چه د مبتدع روايت هغه وخت مردود وى كله چه دې داعى وى.

د شريك بن عبدالله بن ابى نمر وفات د ١٤٠ه په حدود كښې شوې دې.[6] الله اعلم.

فائده ددوى نيكه ابو نمر (بفتح النون وكسر الميم) ابن سعد او ابن السكن رحمهما الله په صحابه كرامو كښې شمار كړې دې او ابن عبدالبر، ابن فتحون، او ابن الاثير رحمه الله ددوى تذكره پريخودې ده.[7] او ددوى د پلار ،،عبدالله بن ابى نمر،، تذكره چرته هم نه ملاويږى. والله اعلم.

⑤ **انس بن مالك رضي الله عنه:** د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان كښې د ((باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه)) لاندې تيرشوى دى.[8]

---

[1] سير أعلام النبلاء (١٥٩/٦) وانظر أيضا ميزان الإعتدال (٢٦٩/٢)_
[2] سير أعلام النبلاء (١٥٩/٦، ١٦٠)_
[3] تقريب التهذيب (٢٦٦) رقم (٢٧٨٨)_
[4] الكامل لابن عدى (٦/٤)
[5] هدى السارى (٤١٠) سير أعلام النبلاء (١٦٠/٦)_
[6] تقريب التهذيب (٢٦٦) رقم (٢٧٨٨)_
[7] فتح البارى (١٥٠/١١) والإصابة (١٩٨/٤)_
[8] كشف البارى (٤/٢)_

قوله بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ دَخَلَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ: مونږ د نبی کریم ﷺ سره په جمات کښې ناست وو،چه يو سړی په اوښ باندې سور داخل شو.

داسړی حضرت ضمام بن ثعلبه رضی الله عنه دی.لکه څنګه چه دروايت په آخر کښې تصريح وارد ده

د حضرت ضمام بن ثعلبه رضی الله عنه راتګ په کوم سن کښې شوی وو؟ حضرت ضمام بن ثعلبه رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې کوم سن کښې حاضر شوی وو؟ په دې کښې اختلاف دی.

① واقدی. ابن سعد او محمد بن حبيب رحمه الله فرمائی.چه په ۵ھ کښې ددوی حاضری شوی وه.(۱) ابن سعد رحمه الله د واقدی په واسطې سره د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما يو روايت هم نقل کړې دې.چه په هغې کښې د ۵ھ تصريح وارد شوې ده.((بعثت بنو سعد بن بکر فی رجب سنة خمس ضمام بن ثعلبة....))(۲)

خو دا روايت مقبول نه دی.ځکه چه دا د ((الواقدی عن أبی بکر بن عبدالله بن أبی سبرة عن شريك بن عبدالله بن أبی نمر عن کريب عن ابن عباس)) طريق سره نقل دی.(۳)اول خو په دې کښې ..واقدی.. دی.چه په دوی باندې د رجال عالمانو اوګد کلام کړې دې.بعضو حضراتو توثيق کړې دی.خو اکثرو عالمانو دا غيرموثوق به ګرځولې دی.(۴) اوکه اومنلې شی.چه په مغازی او سِیَر کښې داځه په درجه کښې معتبر دی.لکه څنګه چه د حافظ ذهبی رحمه الله د کلام نه معلوميږی.(۵) بيا هم دا روايت معتبر نه دی.ځکه چه په دې کښې ددوی استاذ ابو بکر بن عبدالله بن ابی سبره دی.چه دا مجروح راوی دی.امام نسائی رحمه الله دا متروک ګرځولې دی.

امام ابن معين رحمه الله فرمائی.((ليس بشیء)) اوامام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی.((کان يضع الحديث))(۶)

بيا ددوی استاذ شريك بن عبدالله بن ابی نمر دی.ددوی په باره کښې مونږه ددوی په حالاتو کښې اوس د حافظ ابن عدی رحمه الله کلام ذکرکړې دی.چه((وحديثه إذا روی عنه ثقة فإنه لا بأس بروايته إلا أن يروی عنه ضعيف))(۷) او دلته د ابوبکر بن عبدالله بن ابی سبره پشان وضاع يا

---

(۱) فتح الباری(۱۵۲/۱) والطبقات الکبری لابن سعد(۲۹۹/۱) وفد سعد بن بکر)_

(۲) طبقات ابن سعد(۲۹۹/۱) والبداية والنهاية(۶۱/۵) قدوم ضمام بن ثعلبة وافداً علی قومه)_

(۳) المصدرالسابق)_

(۴) تهذيب الکمال(۱۸۰/۲۶-۱۹٤) وسير أعلام النبلاء(٤٥٤/۹-٤٦۹) وميزان الإعتدال(۶۶۲/۳-۶۶۶)_

(۵) حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.((وقد تقرر أن الواقدی ضعيف، يحتاج اليه فی الغزوات والتاريخ....)) سير أعلام النبلاء(٤۶۹/۹) او هم دوی فرمائی.((کان إلی حفظه المنتهی فی الأخبار والسير والمغازی والحوادث و أيام الناس والفقه وغير ذالک)) ميزان الإعتدال(۶۶۳/۳)_

(۶) ميزان الإعتدال(٥۰۳/٤، ٥۰٤) رقم(۱۰۰۲٤)_

(۷) الکامل لابن عدی(۶/٤)

متهم بالوضع راوی ددوی شاګر د دې.نو روايت قابل د احتجاج نه دې.

② قرطبی ﷫ يو قول د ٥هـ نقل کړې دې (١)

③ علامه ابن عبدالبر او ابن الاثير رحمهما الله د بعضو حضراتو نه نقل کړې دی چه ددوی حاضری په ٧هـ کښې شوې وه.(٢)

④ د ابن اسحاق او ابوعبيده رحمهما الله وغيره رائې دا ده چه ددوی راتګ په ٩هـ عام الوفود کښې شوې وو (٣) چه ددې وجوه دا دی

① هم په دې باب کښې راوران روايت کښې دی.(٤) او دا امام مسلم﷫ هم نقل کړې دې ((نهينا في القرآن أن نسأل النبیﷺ))(٥) چه مونږ په قرآن کريم کښې د نبی کريمﷺ نه د سوال کولو نه منع کړې شوی يو.ددې نه مراد د سورة مائده آيت﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ﴾(٦) دې.(٧) اودا خبره معلومه ده.چه د سورة مائده نزول د ٥هـ نه کافی روستو دې.(٨)

② دويمه وجه داده.چه په دې روايت کښې د حضرت ضمام﷜ دا جمله هم ده ((أتانا رسولك))(٩) ستاسو قاصد مونږ ته راغې.نبی کريمﷺ قاصدان د صلح حديبيه نه پس ليګلی وو.(١٠)

③ دريمه وجه دا ده.چه د ضمام په قصه کښې ذکر دی.چه دوی لره ددة قوم راليګلې وو.(١١) نبی کريمﷺ ته عام طور باندې د وفودو حاضری د فتح مکې نه پس شوې ده (١٢)

④ د حضرت ابن عباس﷠ په روايت کښې دا دی.چه ددوی د واپس تلو نه پس ددوی ټول قوم مسلمان شو.(١٣).دا خبره هم معلومه او متعين ده.چه ددوی قوم بنوسعد بن بکر بن

---

(١) شرح الأبی علی صحيح مسلم(٨١\١)_

(٢) الإستيعاب بهامش الإصابة(٢١٥\٢) وأسد الغابة(٥٧\٣)_

(٣) السيرة النبوية لابن هشام بهامش الروض الأنف(٣٣٩\٢) وفتح الباری(١٥٢\١) وعمدة القاری(٢٢\٢)_

(٤) صحيح بخاری(١٥\١) دا روايت د بخاری په بعضو نسخو کښې شته او په بعضو کښې نشته...کما نبه علی ذالک الحافظ فی فتح الباری..(ج١٥٣\١)_

(٥) صحيح مسلم(٣٠\١) کتاب الإيمان، باب السؤال عن أركان الإسلام)_

(٦) (المائدة:١٠١)_

(٧) إکمال المعلم للأبیّ(٨١\١)_

(٨) فتح الباری(١٥٢\١) وعمدة القاری(٢٢\٢)_

(٩) صحيح بخاری(١٥\١)و صحيح مسلم(٣٠\١)_

(١٠) فتح الباری(١٥٢\١)_

(١١) کما فی رواية إبن اسحاق، أنظر السيرة النّبوية لابن هشام(٣٣٩\٢)_

(١٢) فتح الباری(١٥٢\١)_

(١٣) أنظر سنن الدارمی(١٧٣\١) کتاب الطّهارة، باب فرض الوضوء والصّلاة، رقم(٦٥٢) ، مسند أحمد (٢٦٤\١)،

هوازن دي.او دا قوم د غزوهٔ حنين نه پس مسلمان شوي دي.(۱).او غزوهٔ حنين په شوال۸ه كښې واقع شوې وو.(۲)

ددې ټولو خبرو ملاوولو نه راجح هم دا معلوميږي.چه ددوی راتګ په ،،سنة الوفود،، يعنی ۹ه كښې شوې وو.والله اعلم.

قوله: فَأَنَاخَهُ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ عَقَلَهُ: نو دا ئې په جمات كښې كينولو.بيا ئې دا اوتړلو.

علامه خطابی او ابن بطال رحمهما الله ددې نه په دې خبره باندې استدلال كړې دې.چه د ماكول اللحم ځاروو ارواث او ابوال (سوټې او متيازې) پاكې دی.(۳).ځكه چه دلته كښې اوښ جمات كښې دننه تړلې شوې دې.ښكاره ده.چه ددې خبرې ضمانت نشي وركولې كيدې.چه اوښ به دومره وخته پورې جمات په سوټې (خاشنړو) او متيازو سره نه ګنده كوی.

خو ددې نه استدلال د حد نه زيات ضعيف دې.ځكه

① ښكاره ده.چه ددې استدلال مدار په دې خبره باندې دې.چه د اوښ د روث او بول نه د جمات پليت كيدو امكان دې.صرف په دومره احتمال باندې ددې په طهارت باندې حكم لګول صحيح نه دی.

② ددې نه علاوه ابونعيم په ،،مستخرج،، كښې چه دا روايت نقل كړې دې.د هغې الفاظ دی.«اقبل على بعيرله حتى أتى المسجد، فأناخه ثم عقله، فدخل المسجد»(۴) ددې سياق نه واضع كيږی.چه دوی په جمات كښې داخل كړې نه وو.

③ ددې نه هم زيات صريح د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت دې.چه دا امام دارمی، امام احمد، حاكم، او ابن اسحاق رحمهم الله وغيره نقل كړې دې.«فأناخ بعيره على باب المسجد، ثم عقله، ثم دخل المسجد....»(۵)

ددې ټولو طرقو نه معلومه شوه.چه په حديث باب كښې د «فأناخه فى المسجد» نه مراد «فى داخل المسجد» نه دې.بلكه «فأناخه فى باب المسجد» يا «فى ساحة المسجد» مراد دې.(۶).نو ددې نه په طهارت د ارواث او ابوال (خاشنړو او متيازو) باندې استدلال صحيح نه دې.

---

۱) فتح البارى(۱۵۲/۱) وعمدة القارى(۲۲/۲)_

۲) المصدر السابق)_

۳) معالم السنن للخطابى..مع مختصر سنن أبى داؤد للمنذرى وتهذيب إبن القيم. (۲۶۵/۱).. كتاب الصلاة، باب فى المشرک يدخل المسجد. وفتح البارى(۱۵۱/۱). وعمدة القارى(۲۲/۲) وشرح الكرمانى(۱۹/۲)_

۴) فتح البارى(۱۵۱/۱) وعمدة القارى(۲۱/۲)_

۵) سنن الدارمى(۱۷۲/۱) كتاب الطهارة، باب فرض الوضوء والصلاة، رقم(۲۵۲) ومسند احمد(۱۶۴/۱) والمستدرک للحاكم(۵۴/۳) كتاب المغازى، حكاية قدوم ضمام بن ثعلبه عندالنبى ﷺ و إسلامه، والسيرة النبوية لإبن هشام((۳۳۹/۲)_

۶) فتح البارى(۱۵۱/۱) وعمدة القارى(۲۱/۲)_

قوله ثُمَّ قَالَ لَهُمْ أَيُّكُمْ مُحَمَّدٌ: بيا ئې د صحابه كرامو ﷺ نه تپوس اوكړو په تاسو كښې محمد (ﷺ) څوك دې؟ ضمام بن ثعلبه ﷺ د نبى كريم ﷺ نوم واخستلو. او تپوس ئې اوكړو چه دا په ښكاره د ادب خلاف دې. ددې جواب دا دې كه هغه ددې وخته پورې مسلمان شوى نه وو بيا خو هيڅ اشكال نشته. او كه مسلمان شوې وو نو ونيلې شى چه نوې نوې راغلې وو. د قرآن كريم د تعليماتو نه پوره واقف نه وو. او نه د رسالت د ادابو نه واقف وو په دې وجه دوى د نبى كريم ﷺ نوم اخستې وو. او تپوس ئې كړې وو. [1]

قوله وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئٌ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ: او نبى كريم ﷺ ددوى په مينځ كښې ډډه لګولې وه. اوناست وو.

ايا ډډه لګولو سره كيناستل د نبى كريم ﷺ عادت وو؟ نبى كريم ﷺ به عام طور باندې ډډه لګولو سره په امتيازى شان سره كيناستو. [2] دلته ممكن ده. چه څه داسې ضرورت راپيښ شوې وى. چه نبى كريم ﷺ ډډه لګولې وى. ددې نه علاوه ، ،اتكاء، ، په بستر وغيره باندې اطمينان سره كيناستلو ته هم وائى. اګركه ډډه ئې نه وى لګولې. حالانكه عام طور باندې ، ،اتكاء، ، نه دا معلوميږى. چه سړې يو طرف ته مائل او ډډه وهونكې ناست دې. [3]

قوله بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ:

د ، ، **بين ظهرانيهم**، ، **تحقيق** په ، ، **ظهرانيهم**، ، كښې به نون باندې فتحه ونيلې شى. كسره صحيح نه ده. دا په اصل كښې ، ، **بين ظهريهم**، ، دې. په دې كښې د الف او نون اضافه شوې ده. او ، ، **بين ظهرانيهم**، ، جوړ كړې شوې دې. چه دا د ، ، **بينهم**، ، په معنى كښې دې. لكه چه ونيلې شى. ((**أقام فلان بين ظهرانى قومه وبين ظهرانيهم**)) ، ، **أى: بينهم**، ، ګويا لفظ د ، ، ظهر، ، مقحم دې. علامه زمخشرى وائى. ((**وكان معنى التثنية فيه أن ظهراً منهم قدامه، وآخر وراءه، فهومكنوف من جانبيه**))

بيا لكه څنګه چه په بعضو الفاظو كښې نسبت كولو سره، مبالغتاً او تاكيداً د الف او نون اضافه كولې شى. لكه د ، ، نفس، ، په نسبت كښې ، ، نفسانى، ، او د ، ، صيدل، ، او ، ، صيدن، ، (**وهما أصول الأشياء وجواهرها**) په نسبت كښې ، ، صيدلانى، ، او ، ، صيدنانى، ، ونيلې كيږى. دغه شان دلته هم د ، ، ظهر، ، نه پس د الف او نون اضافه كړې شوې ده. علامه زمخشرى وائى. ((**هذا أصله، ثم كثر (أى استعماله) حتى استعمل فى الإقامة بين القوم مطلقاً وإن لم يكن مكنوفاً**)) [4]

---

[1] عمدة القارى (۲\۱۲)_

[2] لكه چه د سنن ابى داؤد روايت دې. ((كان رسول الله ﷺ يجلس بين ظهرى أصحابه، فيجئ الغريب، فلا يدرى أيهم هو (ﷺ) حتى يسأل...))_

[3] معالم السنن للخطابى (۱\۲۶۵) كتاب الصلاة، باب فى المشرک يدخل المسجد)_

[4] الفائق للزمخشرى (۱\۱۱٤) والنهاية لابن الأثير (۳\۱۶۶) وتاج العروس (۳\۳۷۳)_

فائده ددې روايت نه معلومه شوه چه نبی کريم ﷺ به صحابه کرامو ﷺ سره يوشان اوسيدو او ددې نه دا هم معلومه شوه چه دخپلې اتباع په مينځ کښې مشرانو دپاره ګنجائش (اجازت) شته چه ډډه اووهی او کينی.(۱)

قوله فَقُلْنَا هٰذَا الرَّجُلُ الْأَبْيَضُ الْمُتَّكِئُ: مونږ اووئيل چه دا سپين ښائسته بزرګ (محمد ﷺ) دې چه ډډه ئې لګولې ده.

د نبی کريم ﷺ رنګ مبارک دلته د ،،ابيض،، نه مراد د چونې پشان سپين نه دې بلکه يو سپينوالې مراد دې چه په هغې کښې د سوروالی ګډون وی.(۲) خکه چه په بعضو روايتونو کښې راغلی دی.((ولا بالأبيض الأمهق ولا بالآدم))(۳) يعنی دوی نه خالص سپين رنګې وو او نه غنم رنګې وو.لکه چه د حارث بن عمير په روايت کښې دی.((هو الأمغر))(۴)،،أمغر،، د ،،مغره،، نه ماخوذ دې.مغره هغه سپينوالی ته وائی.چه په هغې کښې د سور رنګ ګډون وی.لکه چه حمزه بن الحارث د ،،امغر،، تفسير بيان کړې دې.((هو الأبيض المشرب بحمرة))(۵) دغه شان د نبی کريم ﷺ په صفت کښې نقل دی.((أبيض مشرب))(۶)چه ددې تفسير امام اصمعی ﷫ په ((ألذی فی بياضه حمرة)) سره کړې دې.(۷)

قوله فَقَالَ لَهُ الرَّجُلُ يَا ابْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ: دې سړی اووئيل.ای د عبدالمطلب خويه: دلته د ،،ابن،، نه وړاندې حرف نداء محذوف دې.د ،،کشميهنی،، په روايت کښې ،،يا ابن عبدالمطلب،، دې.(۸)

د ،،ابن عبدالمطلب،، وئيلو وجه دې سړی نبی کريم ﷺ عبدالمطلب طرف ته خکه منسوب کړو.چه تراوسه دوی لا پيدا شوی هم نه وو.چه ددوی پلار وفات شو.او ددوی پرورش نيکه اوکړو.ددوی نيکه په عربو کښې مشهور وو.هم ددې شهرت په موقعه نبی کريم ﷺ د غزوه حنين په موقعه باندې فرمائيلی وو.

أنا النبي لا كذب أنا ابن عبد المطلب(۹)

---

۱) فتح الباري(۱۵۰/۱)_
۲) فتح الباري(۱۵۱/۱)و عمدة القاري(۲۱/۲)_
۳) شمائل الترمذی..مع شرح المواهب اللدنية للبيجوری(ص۸) باب ماجاء فی خلق رسول الله ﷺ)_
۴) فتح الباري(۱۵۱/۱) وعمدة القاري(۲۱/۲) وسنن النسائی الکبری(۶۳/۲) کتاب الصيام. باب وجوب الصيام رقم(۲٤۰٤)_
۵) فتح الباري(۱۵۱/۱) وسنن النسائی الکبری(۶۳/۲)_
۶) شمائل ترمذی(ص۱۸) باب ماجاء فی خلق رسول الله ﷺ)_
۷) شمائل ترمذی(ص۲۱)_
۸) فتح الباري(۱۵۱/۱)_
۹) الروض الأنف(۲۸۹/۲) ومعالم السنن للخطابی(۲۶۶)_

يعنى كه داصل او دينى كمال په حيثيت سره اوكتلې شى.نو زه نبى يم.او كه دنيوى فخرونه كتل غوارې.نو د عبدالمطلب پشان د مشهور سردار خوئې يم.ددې نه معلومه شوه. چه د سړى خپل نيكه طرف ته نسبت كولو كښې هيڅ باك نشته.

قوله فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَجَبْتُكَ: نبى كريم ﷺ هغه ته اوفرمائيل.زه اورم.

د ،،قد اجبتک،، معنى د ،،قد اجبتك،، بنكاره معنى دا جوړيږى.چه ،،ما تاته جواب دركړو،، په دې باندې اشكال كيږى.چه اوسه پورې نبى كريم ﷺ جواب كوم خائې وركړې دې.چه ،،قد اجبتك،، ئې اوفرمائلې؟ ددې جواب دا دې.چه دلته ،،اجبتك،، د ،،سمعتُكَ،، په معنى كښې دې.(١) يعنى زه اورم.بعضې حضرات فرمائى.چه دا ،،انشاء اجابت،، دې.(٢) يعنى ګويا نبى كريم ﷺ د هغه د خطاب په جواب كښې ،،نعم،، فرمائيلى دى.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى.چه په ابتداء كښې كله هغه ،،أيكم محمد،، اووئيل.نونبى كريم ﷺ اوفرمائيل.،،څه دى؟،،اوددې سره سره صحابه كرامو رضي الله عنهم اوفرمائل. چه محمد (ﷺ) دا دې.نو ده دوباره اووئيل.«يا ابن عبدالمطلب» په دې باندې نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.چه ،،ما تاته وړاندې جواب دركړې دې،،.نو ګويا په دې صورت كښې دا كلمه د تنبيه نه ده.بلكه ددې نه اجابت حقيقى مراد دې.(٣)

بعضې حضرات وائى.چه نبى كريم ﷺ ته ددوى انداز كلام خوښ نشو.په دې وجه نبى كريم ﷺ ،،قد اجبتك،، اوفرمائيل.د مستقل جواب وركولو ضرورت ئې اونه ګڼړلو.(٤) خو دا په ظاهره صحيح نه دې.ځكه چه د نبى كريم ﷺ د اخلاقو نه دا خبره لرې ده.والله اعلم.

قوله فَقَالَ الرَّجُلُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي سَائِلُكَ فَمُشَدِّدٌ عَلَيْكَ فِي الْمَسْأَلَةِ: دې سړى نبى كريم ﷺ ته اووئيل.چه زه ستا نه يو څو سوالونه كوم.او (په انداز د خبرو كښې) تاسو باندې سختى كونكې يم.

ددې سختۍ نه مراد قسم وركول، او تپوس كول دى.

قوله فَلَا تَجِدْ عَلَيَّ فِي نَفْسِكَ: تاسو پخپل زړه كښې ما باندې مه ناراضه كيږئ.

د ،،وجد،، د مصادرو لغوى تحقيق ددې مصدر ،،موجدة،، دې.وئيلې شى.«وجدَ عليه موجدةً: غضِبَ»،،وجد،، د باب ،،ضرب،، نه استعماليږى.د مصادرو په اختلاف سره ددې معنى مختلف كيږى.لكه چه وئيلې شى.

---

(١) شرح الكرمانى(١٧/٢)_

(٢) المصدر السابق)_

(٣) تقرير بخارى شريف(١٧٠/١)_

(٤) معالم السنن(٤٥١/١) وشرح الكرمانى(١٧/٢)_

((وجد ضالته به وجداناً)) ورك شوې څيز موندل.... ((وجد مطلوبه وُجوداً)) مطلوبه څيز حاصلول.
((وجدَ في الحزن وَجداً)) غمگين كيدل...... ((وجد في المال وجداً (بضم الواو وفتحها وكسرها) وجدة))
مالداره كيدل.((وجد على فلان موجدةً)) ناراضه كيدل.(١)

قوله فَقَالَ سَلْ عَمَّا بَدَا لَكَ: نبى كريم ﷺ ورته اوفرمائيل.څه چه دې زړه كښې راځي.تپوس كوه.

قوله فَقَالَ أَسْأَلُكَ بِرَبِّكَ وَرَبِّ مَنْ قَبْلَكَ أَللّٰهُ أَرْسَلَكَ إِلَى النَّاسِ كُلِّهِمْ فَقَالَ اللّٰهُمَّ نَعَمْ: هغه اووئيل.چه زه تاسو ته د ستا د پروردگار او ستا نه د وړاندې خلقو د پروردگار قسم دركوم او تپوس كوم.چه آيا الله تعالى ته تولو خلقو طرف ته رالیږلې يې؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.آو.

په تفصيل سره د قسم وركولو وجه دې سړي چه كوم (تفصيل سره) قسم وركړو.دده په ذهن كښې دا وو.چه كله زه دا اووايم.چه زه ستا د رب، او دټول مخلوق كوم چه ستا نه وړاندې تير شوى دى.د هغوى دټولو د رب قسم دركوم.او تپوس كوم.نو كه دا سړې غلط بيانى كونكې وى.نو د لوئې ذات د هيبت نه به اوبريږى.او ژبه ئې به ګډه وډه شى.او يقيناً څه نه څه به دده په كلام كښې ګډ وډې پيدا شى.اوكه رشتونې وى.نو بې يرې (په ډاډه زړه) به خبرې اوكړى.خو چونكه نبى كريم ﷺ رشتونې وو.په دې وجه نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.((اللّٰهم نعم)).

وريسې د موسى بن اسماعيل په روايت (چه ددې تخريج امام مسلم رحمه الله هم كړې دې) كښې دى.((أَتَانَا رَسُولُكَ فَأَخْبَرَنَا أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّ اللّٰهَ عزوجل أَرْسَلَكَ قَالَ صَدَقَ فَقَالَ فَمَنْ خَلَقَ السَّمَاءَ؟ قَالَ اللّٰهُ عزوجل، قَالَ فَمَنْ خَلَقَ الْأَرْضَ وَالْجِبَالَ؟، قَالَ اللّٰهُ عزوجل، قَالَ فَمَنْ جَعَلَ فِيهَا الْمَنَافِعَ؟ قَالَ اللّٰهُ عزوجل، قَالَ فَبِالَّذِى خَلَقَ السَّمَاءَ وَخَلَقَ الْأَرْضَ وَنَصَبَ الْجِبَالَ وجعل فيها المنافع آللّٰهُ أَرْسَلَكَ؟ قَالَ: نَعَمْ))(٢)

قوله قَالَ أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ أَللّٰهُ أَمَرَكَ أَنْ نُصَلِّيَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ قَالَ اللّٰهُمَّ نَعَمْ: هغه اووئيل.زه تاته د الله تعالى قسم دركوم.چه آيا تاته الله تعالى حكم دركړې دې.چه په ورځ او شپه كښې پنځه مونځونه كوه؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل آو!

قوله قَالَ أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ أَللّٰهُ أَمَرَكَ أَنْ نَصُومَ هٰذَا الشَّهْرَ مِنَ السَّنَةِ قَالَ اللّٰهُمَّ نَعَمْ: هغه اووئيل.چه زه تاته د الله تعالى قسم دركوم.چه آيا الله تعالى تاته حكم دركړې

---

١) مختار الصحاح(٧٠٩، ٧١٠)_
٢) صحيح مسلم(٣٠١١، ٣١)كتاب الإيمان، باب السؤال عن أركان الإسلام)_

دې چه مونږ په كال كښې ددې (رمضان) مياشتې روژې نيسو؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.آو!

قوله قَالَ أَنْشُدُكَ بِاللَّهِ أَاللَّهُ أَمَرَكَ أَنْ تَأْخُذَ هَذِهِ الصَّدَقَةَ مِنْ أَغْنِيَائِنَا فَتَقْسِمَهَا عَلَى فُقَرَائِنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ نَعَمْ: هغه اووئيل چه زه تاته د الله تعالى قسم دركوم.چه آيا الله تعالى تاته حكم دركړې دې.چه تاسو دا صدقه زمونږ د مالدارو نه واخلئ.او زمونږ په فقيرانو كښې ئې تقسيم كړئ؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.آو!

ايا سرې خپل زكات پخپله نشى تقسيمولې؟ ابن التين رحمه الله د «أن تأخذ هذه الصدقة» نه دا استدلال كړې دې.چه سړې خپل زكاة پخپله نشى تقسيمولې.خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى. «وفيه نظر»(۱) ښكاره خبره ده.چه دا استدلال كمزورې دې.او مفهوم مخالف، حجت نه دې.

صرف د ،،فقراء،، دتخصيص وجه بيا دلته يو ورُوكې شان دا سوال كيږى.چه د زكاة مصارف په قرآن كريم كښې اته بيان كړې شوى دى.دلته صرف د ،،فقراء،، ذكر دې؟ ددې جواب دا دې.چه دلته د فقراء ذكر د غالب عنصر په طور شوې دې.يا په دې وجه شوې دې.چه د مالدارو په مقابله كښې د فقراء ذكر كولې شى.(۲)

بل ښار ته د زكاة منتقل كولو مسئله دلته په دې خبره باندې هم استدلال شوې دې.چه په نقل د زكاة كښې يو ښار نه بل ښارته اوړل جائز نه دى.ځكه چه دلته دا دى.چه مالدارو نه واخستلې شى.او ددوى په فقيرانو كښې تقسيم كړې شى.(۳)

① د شافعيه، مالكيه او جمهورو رحمهم الله په نيز د اصح قول مطابق يو ښار نه بل ښار ته نقل كول جائز نه دى.كه يوكس ئې منتقل كړى.نو زكاة به ادا كيږى اوكه نه؟ دمالكيه په نيز د اصح قول مطابق اداكيږى.او د شافعيه په نيز نه ادا كيږى.البته كه په دې ښار كښې د سره مستحقيق نه وى.نو بل ښار ته منتقل كولو سره به زكاة ادا كيږى.

② د امام ابوحنيفه رحمه الله او ددوى د اصحابو او امام ليث بن سعد رحمهم الله په نيز نقل كول جائز دى.(۴) «والتفصيل إن شاء الله سيأتي في كتاب الزكاة».

---

۱) فتح البارى(۱۵۲/۱)_

۲) عمدة القارى(۲۳/۲)_

۳) أعلام الحديث للخطابى(۷۲۷/۱) كتاب الزكاة، باب وجوب الزكاة، وقال النووى فى شرحه لصحيح مسلم(۳۷/۱)،كتاب الإيمان، باب الدعاء إلى الشهادتين وشرائع الإسلام،، وهذا الإستدلال ليس بظاهر، لأن الضمير فى ،،فقرائهم،، محتمل لفقراء المسلمين و لفقراء أهل تلك البلدة والناحية، وهذا الإحتمال أظهر)_

۴) فتح البارى(۳۵۷/۳) كتاب الزكاة، باب أخذ الصدقة من الأغنياء، وتردّ فى الفقراء حيث كانوا، او اوګورئ ،،مختصر اختلاف العلماء(۴۸۴/۱، ۴۸۵) رقم(۴۸۱) والمجموع شرح المهذب(۲۲۰/۱۲، ۲۲۱)_

قوله: فَقَالَ الرَّجُلُ آمَنْتُ بِمَا جِئْتَ بِهِ: دې سړي اووئيل چه تاسو كوم څه راوړلي دي په هغې باندې زه ايمان راوړم.

د حضرت ضمام ﷺ حاضري په حالت د اسلام كښې شوې وه اوكه په حالت د كفر كښې؟

حضرت ضمام ﷺ چه كله د نبي كريم ﷺ په بارګاه (دربار) كښې حاضر شو.نو دغه وخت دې مسلمان شوې وو.اوكه اوس د مسلمانيدو اعلان كوي؟ په دې كښې اختلاف دې.

① د امام بخاري او امام حاكم رحمهما الله رائې دا ده.چه دې د وړاندې نه مسلمان شوې وو.د نبي كريم ﷺ په وړاندې هغه اعلان كوي.او خبر وركوي.ګويا ،،آمنت،، داخبار دپاره دې.د انشاء ايمان دپاره نه دې.په دې وجه امام بخاري ﷺ په دې حديث باندې باب قائم كړې دې.((باب القراءة والعرض على المحدث)) ګويا چه هغه مخكښې مسلمان شوې وو.او اوس د اسلام دهغه شرائعو معلومات دپاره حاضر شوې دې.كوم چه هغه د وړاندې نه د نبي كريم ﷺ د قاصد نه حاصل كړې وو.([1])

② امام حاكم ﷺ ددې حديث نه د اوچت اسناد طلب كولو، سنت كيدو باندې استدلال كړې دې.چه دوى مخكښې د اسلام د شرائعو علم د نبي كريم ﷺ د قاصد نه حاصل كړو.او په هغې دوى ايمان راوړو.او بيا نبي كريم ﷺ ته د اسناد اوچتيدو دپاره راورسيدو.([2]) قاضي عياض ﷺ هم دې رائې ته ترجيح وركړې ده.([3])

د ،،زعم،، نه د حضرت ضمام په عدم اسلام باندې استدلال او د هغې جواب: ③ ددې په مقابله كښې د بعضو حضراتو رائې دا ده.چه دې د نبي كريم ﷺ په دربار كښې كله حاضر شو.تر هغه وخته پورې مسلمان شوې نه وو.د نبي كريم ﷺ د تعليماتو نه موثق (او يقيني) طور باندې خبريدو نه پس انشاء دايمان كوي.([4]) امام قرطبي ﷺ هم دې رائې ته ترجيح وركړې ده.([5]) ځكه چه ددې روايت په بعضو طرقو كښې ((زعم رسولك)) الفاظ وارد شوي دي.([6]) او د اهل لغت تصريح كړې ده.چه ،،زعم،، غيرموثق قول ته وائي.([7]) نو ګويا دوى د قاصد او مبلغ نه احكام د اسلام اوريدلي وو.خو يقين ئې نه وو كړې.بلكه د نبي كريم ﷺ نه د تصديق كولو نه پس ددوى يقين اوشو.نو اوس دوى د ايمان راوړو اعلان كوي.

په دې باندې حافظ ابن حجر ﷺ فرمائيلي دي.چه ،،زعم،،صرف د ،،غير موثق به قول،، دپاره نه دې. بلكه د ،،محقق قول،، دپاره هم استعماليږي.لكه څنګه چه ابوعمر زاهد په

---

[1] فتح الباري(١٥٢/١) وعمدة القاري(٢٢/٢)_
[2] معرفة علوم الحديث (ص٥، ٦)_
[3] فتح الباري(١٥٢/١) وعمدة القاري(٢٢/٢) وشرح الأبيّ على صحيح مسلم(٨٢/١)_
[4] المصدر السابق)_
[5] المصدر السابق)_
[6] كمافي رواية صحيح مسلم(٣١/١) كتاب الإيمان، باب السؤال عن أركان الإسلام)_
[7] تاج العروس(٣٢٤/٨) وفتح الباري(١٥٢/١)_

..شرح فصيح ثعلب.. كښې تصريح كړې ده.هم دا وجه ده.چه امام سيبويه خاني په خاني ..زعم الخليل.. ليكي.حالانكه هغوى دا د احتجاج او استدلال په خاني كښې ليكي.(۱)
علامه عيني رحمه الله فرمائي چه د ..زعم.. حقيقي معنى ..غير موثق به.. قول دې.او د ..محقق قول.. په معنى كښې دا مجاز دې.چه ددې دپاره د قرينې ضرورت راځي.(۲)
د امام ابوداؤد رحمه الله د ترجمة الباب نه هم دا معلوميږى.چه ددوى په نيز هغه ..آمنت.. ونيلو سره انشاء د ايمان كوى.د مخكښې نه مسلمان شوې نه دې راغلې.په دې وجه دوى په دې حديث باندې ((باب في المشرك يدخل المسجد)) عنوان قائم كړې دې.(۳)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه امام ابوداؤد رحمه الله طرف ته ددې رائې نسبت كول. دترجمة الباب په بنياد باندې مشتمل ده.ځكه چه ددې عنوان نه دا نشې اخذ كيدې.چه هغه مسلمان شوې نه وو.بلكه كيدې شى.چه د امام ابوداؤد ترجمه په دې خبره باندې مبنى وى.چه صحابو يو سړې جمات ته تللو باندې اوكتلو.او دا سوال ئې اونكړو.چه ته مسلمان ئې. اوكه كافر ئې.معلومه شوه.چه جمات ته د مسلمان پشان مشرك هم داخليدې شى.(۴)
خو دحافظ رحمه الله دا احتمال صحيح نه دې.ځكه چه امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې ددې حديث نه پس د دوو يهوديانو زناكارو قصې هم روايت كړې دى.(۵) لكه څنګه چه امام ابوداؤد رحمه الله دحديث ضمام نه د خپلې دعوې استدلال كړې دې.چه غير مسلم جمات ته داخليدې شى.بعينه هم په دغه انداز ئې د روايت نه هم استدلال كړې دې.والله اعلم.
علامه كرمانى رحمه الله د امام بخارى رحمه الله رائې ته ترجيح وركړې ده.او فرمائيلى ئې دى.چه ..آمنت.. د اخبار دپاره دې.او ددې تائيد ددې خبرې نه كيږى.چه دوى دنبى كريم ﷺ نه د توحيد د دليل تپوس اونكړو.بلكه دا تپوس ئې اوكړو.چه ستاسو رسالت د ټولو دپاره عام دې اوكه نه دې؟ اودا چه شرائع داسلام كوم كوم دى؟ كه دوى د وړاندې مسلمان شوې وې.نو ددوى نه به ئې څه معجزه يا دليل طلب كړې وې.(۶)
د مقلد ايمان معتبر دې: هم ددې ..آمنت.. نه امام قرطبى او ابن الصلاح رحمهما الله په دې باندې استدلال كړې دې.چه د مقلد ايمان معتبر دې.ځكه چه دوى د هيڅ معجزې مطالبه نه ده كړې.(۷) والله اعلم.

---

۱) فتح البارى(۱۵۲/۱)_
۲) عمدة القارى(۲۲/۲)_
۳) سنن أبى داؤد(۶۹/۱)_
۴) فتح البارى(۱۵۲/۱)_
۵) سنن أبى داؤد(۷۰/۱) كتاب الصلاة، باب فى المشرك يدخل المسجد)_
۶) شرح الكرمانى(۱۸/۲)_
۷) شرح الأبى(۸۳/۱) وعمدة القارى(۲۲/۲)_

قوله وَأَنَا رَسُولُ مَنْ وَرَائِي مِنْ قَوْمِي وَأَنَا ضِمَامُ بْنُ ثَعْلَبَةَ أَخُو بَنِي سَعْدِ بْنِ بَكْرٍ: زه د خپل قوم قاصد (استازي) يم چه هغوى دلته نه دى راغلى.زه د بنى سعد بن بكر ضمام بن ثعلبه يم.

په حديث باب كښې دحج ذكر نشته په دې روايت كښې دحج ذكر نشته.علامه ابن التين رحمه الله فرمائى چه حج نه وو فرض شوې.په دې وجه نې ددې ذكر اونكړو.(١) خو ددوى دا خبره صحيح نه ده.غالباً په دې سلسله كښې ددوى استناد د واقدى او محمد بن حبيب وغيره د قول نه دې.چه د ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه راتګ په ٥ھ كښې شوې وو.او دغه وخته پورې حج نه وو فرض شوى.(٢) مونږ ددې قول بطلان وړاندې تفصيل سره ذكركړې دې.

علامه بدرالدين زركشى رحمه الله فرمائى.چه د حج ذكر ځكه نه دې شوې.چه حج يو معروف او مشهور څيز وو.د شريعت ابراهيمى مطابق خلق په دې باندې عمل كونكى راروان دى.(٣) دا جواب هم ضعيف دې.ځكه چه دا څه ضرورى خو نه ده.چه هرهغه څيز كوم چه په شريعت د ابراهيم عليه السلام كښې موجود وى.په شريعت د مصطفى صلى الله عليه وسلم كښې دې هم هغه په پوره طريقه اومنلې شى.

صحيح جواب دا دې.چه دلته د رواتو د طرفه اختصار شوې دې.د بخارى شريف په راروان روايت كښې، د صحيح مسلم په روايت كښې، (٤)او د مسند احمد، (٥) مستدرك حاكم (٦) سنن دارمى(٧) او ابن اسحاق (٨) په روايت كښې د حج ذكر موجود دې.والله اعلم.

تنبيه: حديث باب په صحيح بخارى كښې «اللَّيْثُ بن سعد عن سعيد بن ابي سعيد المقبرى، عن شريك بن عبد الله بن ابي نمر عن أنس بن مالك» نقل دې.بعينه هم دا سند اسماعيلى او ابن منده رحمهما الله هم ذكر كړې دې.(٩) خو امام نسائى رحمه الله دا روايت په پورته ذكر شوى روايت سره ذكركولو سره په يو بل سند هم ذكركړې دې.چه په هغې كښې د ,,ليث بن سعد،، او ,,سعيد مقبرى،، په مينځ كښې د ,, محمد بن عجلان،، اضافه ده.ګويا سند داسې دې.«اللَّيْثُ عن محمد بن عجلان عن سعيد....»(١٠)

---

(١) فتح البارى(١٥٢/١) وعمدة القارى(٢٢/٢)_
(٢) المصدرالسابق)_
(٣) فتح البارى(١٥٢/١)_
(٤) صحيح مسلم(٣٠/١، ٣١)_
(٥) مسند احمد(٢٦٤/١)_
(٦) المستدرک(٥٤/٣) كتاب المغازى)_
(٧) سنن الدارمى(١٧٢/١، ١٧٣) كتاب الطهارة. باب فرض الوضوء والصلاة. رقم(٦٥٢)_
(٨) السيرة النبوية لابن هشام بهامش الروض الأنف(٣٣٩/٢)_
(٩) فتح البارى(١٥٠/١)
(١٠) سنن النسائى الصغرى(٢٩٧/١) كتاب الصيام باب وجوب الصيام. رقم(٢٠٩٥). وسنن النسائى الكبرى(٦٢/٢، ٦٣) كتاب الصيام. باب وجوب الصيام. رقم(٢٤٠٣)_

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه يا خو د نسائى دا روايت وهم دې او د ((المزيد فى متصل الأسانيد)) د قبيل څخه دې يا به داسې اووئيلې شى چه ليث مخکښې د محمد بن عجلان نه حديث واوريدو .روستو براه راست د سعيد مقبرى نه ددې سماع حاصل شوه.(١)

د حديث باب تعلق په دې مقام کښې يو دويم اختلاف دې چه اکثرو حضراتو دا حديث په ..مسانيد انس بن مالك.. کښې ذکر کړې دې او بعضو حضراتو دا په ..مسانيد ابى هريره رضي الله عنه.. کښې نقل کړې دې لکه چه د بغوى او نسائى (٢) په يو طريق کښې ((الحارث بن عمير عن أبيه عن عبيد الله بن عمر عن سعيد المقبرى عن أبى هريرة)) او د ابن منده په يو طريق کښې ((الضحاك بن عثمان عن سعيد المقبرى عن أبى هريرة)) مذکور دې.(٣)

حافظ جمال الدين مزى رحمه الله په ..مسانيد انس.. کښې کيدل محفوظ ګرځولى دى او د بخارى او جمهورو روايت ته ئې ترجيح ورکړې ده.(٤)

دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په دې کښې يو خو دا احتمال موجود دې چه سعيد مقبرى د حضرت انس او حضرت ابوهريره رضي الله عنهما دواړو حضراتو نه حديث اوريدلې وى د دويم اختلاف منلو په صورت کښې به د ..ليث.. طريق راجح وى ددې

① رومبى وجه خو دا ده چه ((ليث أثبت الناس فى سعيد المقبرى)) دې.

② او دويم ((سعيد المقبرى عن أبى هريرة)) يو مشهور اومعروف طريق دې ددې مخالفت د يو ضابط، متقن، او متثبت راوى د طرفه ممکن دې دلته ليث ددې جادهٔ معروفه (مشهور طريقې) مخالفت کړې دې نو ددوى روايت به راجح وى هم دا وجه ده چه ابو حاتم رحمه الله د ((الضحاك عن سعيد عن ابى هريرة)) طريق ..وهم.. ګرځوى دغه شان امام دارقطنى رحمه الله هم د ((عبيد الله بن عمر، عبد الله بن عمر، او ضحاك بن عثمان عن سعيد المقبرى عن ابى هريرة)) طرق وهم ګرځولى دى او د ليث طريق ئې راجح ګرځولې ده.(٥)

حافظ رحمه الله فرمائى چه امام مسلم رحمه الله ددې ټولو اختلافاتو نه د بچ کيدو دپاره دسره دا طريق پريخودو او د ((سليمان بن المغيرة عن ثابت عن أنس)) طريق سره ئې روايت ذکر کړو.(٦)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په دې طريق کښې هم يوه خبره دا ده چه دا روايت حماد بن سلمه هم د ثابت نه نقل کړې دې خو د سليمان په شان د موصولاً نقل کولو په ځائې ئې

---

(١) فتح البارى(١٥٠/١)_

(٢) سنن النسائى الكبرى(٦٣/٢) كتاب الصيام. باب وجوب الصيام رقم(٢٤٠٤)_

(٣) فتح البارى(١٥٠/١)_

(٤) تحفة الأشراف(٤٨٠/١٩. ٤٨١) رقم(١٢٩٩٣)_

(٥) فتح البارى(١٥٠/١)_

(٦) المصدر السابق)_

مرسلاً نقل کړې دې چونکه حماد بن سلمه «أثبت الناس فی ثابت» دې په دې وجه ددوی روایت امام دارقطنی رحمه الله راجح ګرځولې دې.(١)

خو دلته دا یاد ساتئ چه سلیمان بن المغیره هم د ثابت د خاصو اصحابو څخه دې اګرچه حماد بن سلمه ددوی په مقابله کښې هم اثبت دې.(٢)

او د صغانی دتصریح مطابق د سلیمان روایت امام بخاری رحمه الله هم پخپل صحیح کښې ذکر کړې دې.(٣) چه دا ددوی په نیز د راجح کیدو دلیل دې. والله اعلم.

قوله وَرَوَاهُ مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ وَعَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا: دا حدیث موسی او علی بن عبدالحمید «سلیمان عن ثابت عن أنس عن النبی ﷺ» بالمعنی روایت کړې دې.

د مذکوره متابعاتو تخریج د موسی نه مراد موسی بن اسماعیل تبوذ دې. دا د امام بخاری رحمه الله شیخ دې. ددوی حالات د ,,بدء الوحی،، څلورم حدیث لاندې تیرشوی دی.(٤) ددوی د روایت امام مسلم پخپل صحیح کښې (٥)، ابو عوانه رحمه الله پخپل صحیح کښې (٦). او ابن منده رحمه الله پخپل ,,کتاب الایمان،، کښې (٧)تخریج کړې دې.

د علی بن الحمید روایت د مؤلف په واسطهٔ امام ترمذی رحمه الله پخپل سنن کښې (٨)، امام دارمی رحمه الله پخپل سنن کښې (٩)، او ابو عوانه رحمه الله پخپل صحیح کښې (١٠)تخریج کړې دې.

قوله علی بن عبدالحمید: دا علی بن عبدالحمید بن مصعب ازدی مغنی شیبانی کوفی دې. دده کنیت ابوالحسن دې بعضو ابوالحسین کنیت بنودلې دې.(١١)

---

١) المصدر السابق)_

٢) امام یحی بن معین رحمه الله فرمانی.((ما خالف حماد بن سلمة فی ثابت فالقول قول حماد. قیل فسلیمان بن المغیرة عن ثابت؟ قال: سلمان بن ثابت وحماد أعلم الناس بثابت)) تهذیب الکمال(٢٦٧\٧) ترجمة حماد بن سلمة.وقال علی بن المدینی: ((لم یکن فی أصحاب ثابت أثبت من حماد بن سلمة. ثم بعده سلیمان بن المغیرة.....))تهذیب الکمال(٧٢\١٢) ترجمة سلیمان بن المغیرة)_

٣) فتح الباری(١٥٣\١)_

٤) کشف الباری(٤٣٣\١)_

٥) صحیح مسلم(٣٠\١) کتاب الإیمان. باب السؤال عن أرکان الإسلام)_

٦) تغلیق التعلیق(٦٩\٢) وفتح الباری(١٥٣\١) وعمدة القاری(٢٣\٢)_

٧) المصدر السابق)_

٨) سنن ترمذی. کتاب الزکاة. باب ما جاء إذا أدیت الزکاة فقد قضیت ما علیک. رقم(٦١٩)_

٩) سنن الدارمی(١٧١\١) فاتحة کتاب الطهارة. باب فرض الوضوء والصلاة. رقم(٦٥٠)_

١٠) تعلیق التعلیق(٧٠\٢)_

١١) تهذیب الکمال(٤٦\٢١)_

دوی د حفص بن صبیح، حماد بن سلمه، زهیر بن معاویه، سلیمان بن المغیره، شریك بن عبدالله او عبدالعزیز بن الماجشون رحمهم الله وغیره نه روایت کوی.
ددوی نه امام بخاری رحمه الله صرف په دې مقام کښې تعلیقاً دا روایت کړې دې.د امام بخاری رحمه الله نه علاوه ددوی نه احمد بن ابی خیثمه، بشر بن موسی، عباس دوری، او محمد بن سعد رحمهم الله وغیره ډیر حضرات روایت کوی.(۱)
ابوحاتم، ابو زرعه او عجلی رحمهم الله ددوی توثیق کړې دې.(۲)
ابن واره رحمه الله فرمائی:((کان من الفاضلین))(۳)
ابن سعد رحمه الله فرمائی:((کان فاضلاً خیراً))(۴)
ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(۵)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی:،،ثقة،،(۶)
حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی:،،ثقة،،(۷)
په ۲۲۲ھ کښې ددوی وفات شوې دې.(۸) ،،رحمه الله تعالی رحمة واسعة،،_

د مذکوره متابعاتو تعلیقاً د تخریج کولو وجه ددې حدیث متابعة او تعلیق راوړلو څه وجه ده؟ علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه ددې د ذکر فائده استشهاد ده.او د مخکښې روایت تقویت مقصود دې.(۹) لکه څنګه چه د متابعات نه اصل مقصود هم دا دې.

ایا امام بخاری رحمه الله سلیمان بن المغیره قابل د احتجاج نه ګنړی؟ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه په اصل کښې دلته سلیمان بن المغیره لره امام بخاری رحمه الله قابل د احتجاج نه دې ګنړلې.په دې وجه ئې د تعلیق په صورت کښې ذکرکړې دې.(۱۰)
③ علامه عینی رحمه الله ددې پوره تردید کړې دې.او فرمائیلی ئې دی.چه امام بخاری رحمه الله په ((أبواب السترة)) کښې ددوی دحدیث تخریج کړې دې.(۱۱) بیا د امام احمد بن حنبل رحمه الله په

---

(۱) د شیوخ او تلامذه تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال(۲۱\٤۶، ٤۷)_
(۲) تهذیب التهذیب(۷\۳۶۰)_
(۳) تهذیب الکمال(۲۱\٤۷)_
(٤) طبقات ابن سعد(۶\٤۰۸)_
(۵) الثقات لابن حبان(۸\٤۶۵)_
(۶) الکاشف(۲\٤۳) رقم(٤۷۶٤)_
(۷) تقریب التهذیب(٤۰۳) رقم(۳۹٤۱)_
(۸) الکاشف(۲\٤۳) رقم(۳۹٤۱)_
(۹) شرح الکرمانی(۲\۱۹)_
(۱۰) فتح الباری(۱\۱۵۳)_
(۱۱) صحیح بخاری(۱\۷۳)، کتاب الصلاة، ابواب سترة المصلی، باب یرد المصلی من مرّ بین یدیه، رقم(۵۰۹)

باره کښې فرمائي.((ثبت ثبت، ثقة ثقة)) ابن سعد رحمه الله فرمائي، ،ثقة ثبت،، امام شعبه رحمه الله دوی لره ((سيد أهل البصرة)) ګرځولې دې.امام ابوداوُد طيالسي رحمه الله فرمائي.((كان من خيار الناس)) ارباب د اصول سته ددوی احاديث اخستی دی.نو دا وينا څنګه صحيح کيدې شی چه امام بخاري رحمه الله دوی لره قابل د احتجاج نه دې ګرځولې.(۱)

خو دلته ددې خبرې لحاظ ساتل پکار دی.چه حافظ ابن حجر رحمه الله چه دا فرمائي.چه سليمان بن المغيره ئې قابل د احتجاج نه دې ګرځولې.دا ددوی د متکلم فيه يا مجروح کيدو په وجه نه دی.بلکه په يوه بله وجه دی.هغه دا چه هم دا روايت د ثابت نه حماد بن سلمه هم روايت کړې دې.خو هغه دا د سليمان پشان موصولاً نه روايت کوی.بلکه مرسلاً ئې روايت کوی.چونکه د سليمان په مقابله کښې حماد لره د ثابت په روايت کښې اثبت ګڼړې کيږی.په دې وجه امام بخاري رحمه الله د سليمان روايت اصلاً او احتجاجاً ذکر نکړو.بلکه تعليق په صورت کښې ئې ذکرکړې دې.امام دارقطني رحمه الله هم په دې بنياد باندې د حماد روايت ته د سليمان په روايت باندې ترجيح ورکړې ده.(۲)

شيخ الحديث مولانا محمد يونس مدظلهم فرمائي.چه د علامه عيني رحمه الله اعتراض صحيح نه دې.څکه چه امام بخاري رحمه الله په ،،ابواب السترة،، کښې د سليمان روايت احتجاجاً او اصلاً نه دې تخريج کړې.بلکه د يونس بن عبيد روايت سره ئې مقروناً ذکرکړې دې.

خو حقيقت دا دې.چه امام بخاري رحمه الله د سليمان روايت په بعضو مقاماتو کښې احتجاج او استدلالاً هم ذکر کړې دې.(۳) او په اکثرو مقاماتو کښې ئې متابعتاً ذکرکړې دې.(۴) کوم ځائې ئې چه متابعتاً ذکرکړې دې.د هغې وجه دانه ده.چه دا د امام بخاري رحمه الله د شرائطو مطابق نه دې.يا داچه په دوی باندې دچا څه قادح (مجروح) کلام دې.که داسې وی نو حافظ رحمه الله به په ،،هدی الساري،، کښې دوی هم ذکر کړې وې.کوم ځائې چه دوی متکلم

---

(۱) عمدة القاري(۲۳/۲. ۲٤)_

(۲) فتح الباري(۱/۱۵۰. ۱۵۳)_

(۳) لکه چه د صحيح بخاري(۷۳/۱) ،،باب يرد المصلي من مر بين يديه،، رقم(۵۰۹) د ،،ابواب السترة،، د حديث په تشريح کښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.((وقد قرن البخاري روايته (أی رواية يونس بن عبيد) برواية سليمان بن المغيرة. وتبين من إيراده أن القصة المذكورة فی رواية سليمان. لا فی رواية يونس. ولفظ المتن الذی ساقه هنا هو لفظ سليمان أيضاً لا لفظ يونس....)) ددې نه معلومه شوه.چه د سليمان روايت د امام بخاري رحمه الله په نيز قابل داستدلال او احتجاج دې.لکه څنګه چه دلته کښې امام بخاري رحمه الله د سليمان په الفاظو باندې اعتماد کړې دې.والله أعلم_

(٤) صحيح بخاري(۱۷٤/۱) کتاب الجنائز. باب قول النبي ﷺ ،،إنا بک لمحزونون،، رقم(۱۳۰۳) و(٤۳۸/۱) کتاب فرض الخمس. باب ما ذکر من درع النبي ﷺ وعصاه..... رقم(۳۱۰۸) و(۱۰۷۵/۲) کتاب التمني. باب ما يجوز من اللو. رقم(۷۲٤۱)_

فیه راویان ذکرکړی دی.حالانکه هلته کښې ني ددوی هیڅ ذکر نه دې کړې.(۱) بلکه امام بخاری رحمه الله د مختلفو اغراضو دپاره ددوې روایت متابعتاً ذکرکړې دې.
او دلته ددوی د روایت متابعتاً او تعلیقاً ذکرکولو وجه دا ده.چه د حماد بن سلمه د مرسل روایت په مقابله کښې د سلیمان روایت مرجوح دې.،،کما سبق ذکره،، البته دلته دا اشکال کیږی چه حافظ رحمه الله خو فرمانی.چه امام بخاری رحمه الله د سلیمان روایت قابل د احتجاج نه دې ګڼلې حالانکه روستو دا روایت راوران دې. ددې جواب دا دې.چه د بخاری په نسخو کښې اختلاف دې.په عامو نسخو کښې ددې روایت تذکره نشته.البته حسن بن محمد صغانی رحمه الله فرمانی.چه دا روایت په هغه نسخه کښې موجود دې.کوم چه د فربری په وړاندې اولوستلې شو.په کوم کښې چه د فربری خط موجود دې.(۲)
چونکه په عامو نسخو کښې دا روایت موجود نه دې.په دې وجه په دې بنیاد باندې حافظ رحمه الله دا کلام کړې دې.والله اعلم.

د ضمام حدیث او د هغې ترجمه حَدَّثَنِي موسى بن اسماعيل، قال: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، قال: ثنا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ(۳) قَالَ نُهِينَا فِي القرآن أَنْ نَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ يُعْجِبُنَا أَنْ يَجِيءَ الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ الْعَاقِلُ فَيَسْأَلَهُ وَنَحْنُ نَسْمَعُ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ فَقَالَ: أَتَانَا رَسُولُكَ فَأَخْبَرَنَا أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّ اللهَ عز وجل أَرْسَلَكَ قَالَ صَدَقَ قَالَ فَمَنْ خَلَقَ السَّمَاءَ قَالَ اللهُ عزوجل قَالَ فَمَنْ خَلَقَ الْأَرْضَ والجبال، قال الله عزوجل، قال فمن جعل فيها المنافع؟ قال: الله عزوجل، قال: فَبِالَّذِي خَلَقَ السَّمَاءَ وَخَلَقَ الْأَرْضَ وَنَصَبَ الْجِبَالَ وجعل فيها المنافع، آللهُ أَرْسَلَكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ: زَعَمَ رَسُولُكَ أَنَّ عَلَيْنَا خَمْسَ صَلَوَاتٍ، وزكاة فى أموالنا، قَالَ صَدَقَ قَالَ بِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُولُكَ أَنَّ عَلَيْنَا صَوْمَ شَهْرٍ فِي سَنَتِنَا قَالَ صَدَقَ قَالَ فَبِالَّذِي أَرْسَلَكَ آللهُ أَمَرَكَ بِهَذَا؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُولُكَ أَنَّ عَلَيْنَا حَجَّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا قَالَ صَدَقَ قَالَ فَبِالَّذِي ارسلك آللهُ أمرك بهذا؟ قال: نعم، قال فوالذى بعثك بِالْحَقِّ لَا أَزِيدُ عَلَيْهِنَّ شيئاً وَلَا أَنْقُصُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ صَدَقَ لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ»
حضرت انس رضی الله عنه فرمانی.چه مونږ خو په قرآن کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د سوالاتو کولو نه منع کړې شوی وو.او مونږه به دا خوښول.چه د کلو د خلقو نه څوك هوښیار سړې راشی.هغه سوال اوکړی.او مونږ واورو.نو د کلو والو نه یو سړې راغې.او وې وئیل چه ستاسو یو قاصد

---

(۱) عقد الحافظ رحمه الله فى ،،هدى السارى،، فصلاً مستقلاً. ساق فيه أسماء من طعن فيهم من رجال صحيح البخارى. و أجاب عن الإعتراضات. وميز من أخرج له منهم فى الأصول أو فى المتابعات. والإستشهادات. ثم عقب لذالك فصلاً فى سياق من علق البخارى. شيئاً من احاديثهم ممن تكلم فيه. و إيراد أسمائهم مع الإشارة إلى أحوالهم. أنظر هدى السارى مقدمة فتح البارى(ص ۳۸۴-۴۵۹)_

(۲) فتح البارى(۱۵۳/۱)_

(۳) قد سبق تخريجه فى هذا الباب)_

مونږ ته راغي.هغه دا بيان كړل چه تاسو وايئ:چه الله تعالى تاسو لره رسول جوړ كړې او رالیګلې دې.نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.رشتيا ني ونيلى دى.بيا ني اوونيل.ښه اسمان چا جوړ كړې دې؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.الله تعالى (جوړ كړې دې).هغه اوونيل.زمكه چا جوړه كړله او غرونه چا جوړ كړل؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.الله تعالى (جوړ كړل).ونيل.ښه نو په دې كښې د فائدې څيزونه چا جوړ كړل؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.الله تعالى جوړ كړل).هغه اوونيل.بيا قسم دهغه ذات چا چه اسمان او زمكه جوړه كړله.غرونه ئې اولګول په دې كښې ئې د فائدې څيزونه جوړ كړل.الله تعالى تاسو رالیګلى يئ؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.آو. بيا هغه اوونيل.ستاسو قاصد اوونيل.چه په مونږ باندې پنځه مونځونه دى.او پخپلو مالونو كښې زكاة دې.نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.هغه رشتيا اوونيل.بيا هغه اوونيل.نو قسم دې د هغه ذات. چا چه تاسو راوليګلې.آيا الله تعالى تاسو ته ددې خبرو حكم دركړې دې؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.آو. بيا هغه اوونيل.چه ستاسو قاصد وائى.چه په مونږ باندې ټول كال كښې يوه مياشت روژې دى؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.رشتيا وائى.بيا هغه اوونيل.قسم دهغه ذات. چاچه ته راوليګلې.آيا الله تعالى تاته دا حكم دركړې دې؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.آو.بيا ئې اوونيل.ستاسو قاصد دا هم اوونيل.چه په مونږه باندې حج دې.يعنى په هغه كس باندې څوك چه هغه خائې پورې رسيدو لاره بيامومى.نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.رشتيا ئې اوونيل.بيا هغه اوونيل.چه قسم دې دهغه ذات چا چه ته راليګلې يې.آيا الله تعالى تاته دا حكم دركړې دې؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل. آو.بيا هغه اوونيل.چه قسم دې د هغه خدائې چاچه ته حق سره راوليګلې.نه به په دې كارونو كښې څه زياتوم.نه به په دې كښې زه څه كمى كوم.نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.كه دې رشتيا وائى.نو ضرور به جنت ته ځى.

رجال الحديث

① **موسى بن اسماعيل:** داابوسلمة موسى بن اسماعيل تبوذكى رحمه الله دې.ددوى حالات د .. بدء الوحى .. د څلورم حديث لاندې تير شوى دى.[1]

② **سليمان بن المغيرة:** دا ابوسعيد سليمان بن المغيرة القيسى البصرى رحمه الله دې.[2]

دوى د ثابت بنانى. حسن بصرى. حميد بن هلال عدوى. سعيد ابن اياس جُريرى. محمد بن سيرين.ابو موسى هلالى. او د خپل پلار مغيره رحمهم الله نه روايت كوى.

ددوى نه روايت كونكو كښې سفيان ثورى. ابو اسامه. بهز بن اسد. ابوداؤد. ابو عامر عقدى. عبدالسلام بن مطهر. عمرو بن عاصم. على بن عبدالحميد المعنى. موسى بن اسماعيل تبوذكى او يحي بن آدم رحمهم الله وغيره حضرات دى.[3]

---

[1] كشف البارى(١١\٤٣٣)_

[2] تهذيب الكمال(١٢\٦٩)_

[3] د شيوخ او تلامذه تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال (١٢\٧٠) وسير أعلام النبلاء(٧\٤١٧، ٤١٨)_

ایوب رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «ليس أحد أحفظ لحديث حميد بن هلال من سليمان بن المغيرة»[1]
امام شعبہ رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «سليمان بن المغيرة سيد أهل البصرة»[2]
امام ابو داوٗد طیالسی رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «كان خياراً من الرجال»[3]
معلی بن منصور رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «سألت ابن علية عن حفاظ أهل البصرة فذكر سليمان بن المغيرة»[4]
عبداللہ بن داوٗد خریبی رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «ما رأيتُ بالبصرة أفضل من سليمان بن المغيرة و مرحوم بن عبد العزيز»[5]
امام احمد بن حنبل رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «ثبت ثبت»[6]
امام یحیٰ بن معین رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «ثقة ثقة»[7]
امام علی بن المدینی رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «لم يكن في أصحاب ثابت أثبت من حماد بن سلمة، ثم بعده سليمان بن المغيرة، ثم بعده حماد بن زيد»[8]
امام ابن سعد رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «كان ثقة ثبتاً»[9]
امام نسائی رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «ثقة»[10]
سلیمان بن حرب رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «حدثنا سليمان بن المغيرة الثقة المأمون»[11]
عبداللہ بن مسلمہ رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «ما رأيت بصرياً أفضل منه»[12]
عثمان بن ابی شیبہ رحمہ اللہ فرماتے ہیں: «هو ثقة»[13]

---

[1] تہذیب الکمال(١٢\٧١)_
[2] المصدر السابق)_
[3] المصدر السابق)_
[4] المصدر السابق)_
[5] تہذیب الکمال(١٢\٧٢)_
[6] المصدر السابق)_
[7] المصدر السابق)_
[8] المصدر السابق)_
[9] الطبقات(٧\٢٨٠)_
[10] تہذیب الکمال(١٢\٧٢)_
[11] تہذیب التہذیب(٤\٢٢١)_
[12] المصدر السابق)_
[13] المصدر السابق)_

ابن خلفون د ابن نمير او عجلى رحمهما الله نه ددوى توثيق نقل كړى دى.[1]
ابن حبان رحمه الله دوى له په كتاب الثقات كښې ذكر كړى دى.[2]
امام بزار رحمه الله فرمائى: «كان من ثقات أهل البصرة».[3]
د سليمان بن المغيره رحمه الله وفات په سن ١٦٥هـ كښې شوى دى.[4] «رحمه الله تعالى رحمة واسعة».

③ ثابت: دا مشهور تابعى بزرګ ابو محمد ثابت بن اسلم بنانى بصرى رحمه الله دى.[5]
دوى د حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن مغفل، حضرت عبدالله بن الزبير، حضرت ابوبرزه اسلمى، حضرت عمر بن ابى سلمه، او حضرت انس بن مالك رضي الله عنهم نه علاوه د شعيب بن محمد، عمرو بن شعيب، ابوالعاليه رياحى، ابورافع الصائغ، او ابوعثمان نهدى رحمهم الله وغيره نه روايت د حديث كړى دى.

ددوى نه په روايت كونكو كښې عطاء بن ابى رباح (وهو أكبر منه) قتاده، يونس بن عبيد، حميد الطويل، سليمان تيمى، عبدالله بن المثنى، سليمان الاعمش، حماد بن زيد، حماد بن سلمه، مبارك بن فضاله، معمر بن راشد او ابوعوانه وضاح بن عبدالله يشكرى رحمهم الله وغيره حضرات دى.[6]

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى: «ثابت يثبت في الحديث، وكان يقص وقتادة كان يقص وكان أذكر، وكان محدثا من الثقات المأمونين صحيح الحديث».[7]

امام عجلى رحمه الله فرمائى: «ثقة رجل صالح».[8]

امام نسائى رحمه الله فرمائى: «ثقة».[9]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى: «أثبت أصحاب أنس، الزهري، ثم ثابت ثم قتادة».[10]
ابن حبان رحمه الله دوى له په كتاب الثقات كښې ذكر كړى دى.[11]

---

[1] المصدر السابق)_
[2] الثقات لابن حبان(٣٩٠/٦)_
[3] تهذيب التهذيب(٢٢١/٤)_
[4] سير أعلام النبلاء(٤١٩/٧)_
[5] تهذيب الكمال(٣٤٢/٤)_
[6] دشيوخ اوتلامذه تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٣٤٣/٤-٣٤٦) وسير أعلام النبلاء(٢٢٠/٥، ٢٢١)
[7] تهذيب الكمال(٣٤٦/٤) وسير أعلام النبلاء(٢٢١/٥، ٢٢٢)_
[8] تهذيب الكمال(٣٤٧/٤) وسير أعلام النبلاء(٢٢٢/٥)_
[9] المصدر السابق)_
[10] المصدر السابق)_
[11] الثقات لابن حبان(٨٩/٤)_

ابن سعد رحمه الله فرمائي. «كان ثابت ثقة في الحديث مأمونا»[1]
ددې تولو توثيقاتو باوجود ابن عدى رحمه الله ددوی تذکره په ,,الکامل،، کښې کړې ده. اگرچه ددوی توثیق ئې هم کړې دې لکه چه فرمائي. «ثابت البناني من تابعي اهل البصرة و زهادهم و محدثيهم، وقد كتب من الأئمة والثقات من الناس، وأروى الناس منه حماد بن سلمة، وماهو إلا ثقة صدوق، وأحاديثه أحاديث صالحة مستقيمة، إذا روى منه ثقة، وله حديث كثير وهو من ثقات المسلمين، وما وقع في حديثه من النكرة فليس ذاك منه، إنما هو من الراوي عنه، لأنه قد روى عنه جماعة ضعفاء و مجهولين (كذا في الأصل، والصواب: مجهولون) وإنما هو في نفسه إذا روى عن هو فوقه من مشائخه، فهو مستقيم الحديث، ثقة»[2]
حافظ ذهبي رحمه الله په ابن عدى رحمه الله باندې د خپلې ناراضگئ اظهار کړې دې په دې خبره چه دوی د ثابت البناني ذکر په ,,الکامل،، کښې کړې دې لکه چه دوی فرمائي. «ثابت بن أسلم البناني، ثقة بلا مدافعة، كبير القدر، تناكر ابن عدي بذكره في الكامل»[3] او هم دوی فرمائي. «ما أذكر الآن ما تعلق به ابن عدي في إيراده هذا السيد في كامله، بلى ذكر قول يحي القطان: عجب من ايوب يدع ثابتاً لا يكتب عنه»[4] په آخر کښې دوی فرمائي. «وثابت ثابت كإسمه، ولولا ذكر ابن عدي له ما ذكرته»[5]
البته د امام يحي بن سعيد القطان رحمه الله نه چه کله تپوس اوکړې شو چه په ثابت او حميد کښې کوم يو د حضرت انس رضي الله عنه نه په روايت کولو کښې ,,اثبت،، دې؟ نو وې فرمائيل چه ثابت مختلط شوې وو او حميد دوی ,,اثبت،، اوگرخولو.[6] خو ددې دا مطلب نه دې چه د امام يحي القطان په نيز ثابت بناني رحمه الله قابل د احتجاج پاتې نشو. هغه صرف دا نه چه قابل د احتجاج دې بلکه دوی ته په ايوب باندې تعجب دې چه هغه د ثابت بناني نه حديث نه ليکي.[7]
بيا ابوبکر البرديجي رحمه الله فرمائي چه شعبه، حمادين، سليمان بن المغيره کوم چه ثقات دي. که دا حضرات ,,ثابت عن انس،، سره روايت کوي. نو روايت به صحيح وي. «مالم يكن الحديث مضطرباً»[8] معلومه شوه چه دې حضراتو د اختلاط نه وړاندې د ثابت نه روايت

---

[1] الطبقات لابن سعد(٢٣٣\٧)_
[2] الكامل لابن عدى(١٠١\٢)_
[3] ميزان الإعتدال(٣٦٢\١)_
[4] ميزان الإعتدال(٣٦٢\١)_
[5] ميزان الإعتدال(٣٦٣\١)_
[6] تهذيب التهذيب(٣\٢)_
[7] الكامل(١٠٠\٢) ميزان الإعتدال(٣٦٢\١)_
[8] تهذيب التهذيب(٣\٢، ٤)_

اخستې دي. (كه اختلاف اومنلې شي). والله اعلم.

د حضرت بنانى رحمه الله عبادت اوتلاوت سره شوق ثابت بنانى رحمه الله د خپلې زمانې ډير لوئ عابد تيرشوې دې. په صوم دهر (تول عمرى روژو) باندې عمل كونكې وو. او په شپه ورځ كښې به ئې يو قرآن كريم ختمولو. ([1])

حضرت انس رضي الله عنه فرمائى. «إن للخير أهلا وإن ثابتا هذا من مفاتح الخير» ([2])

د ثابت بنانى رحمه الله وفات په ١٢٧ هـ كښې اوشو. ([3]) ،، رحمه الله تعالى رحمة واسعة،، _

④ حضرت انس رضي الله عنه رحمهما الله: د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان كښې :

«باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه» لاندې تير شوى دى. ([4])

تنبيه مونږه اوس لږ وړاندې ونيلى دى. چه دا حديث د بخارى شريف په اكثرو نسخو كښې نشته. حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلى دى. چه دا حديث په بغدادى نسخه كښې موجود دې. د كوم تصحيح چه علامه ابو محمد بن الصغانى لغوى رحمه الله د ابوالوقت د شاګردانو نه اوريدلې ده. او د يو څو نسخو سره ئې مقابله كړې وه. علامه صغانى رحمه الله هلته حاشيه كښې ليكلى دى. «هذا الحديث ساقط من النسخ كلها إلا في النسخة التي قرئت على الفربرى صاحب البخارى وعليها خطه» حافظ رحمه الله فرمائى. ،، زه چه د څومره نسخو نه خبريم. په هغې كښې يوه نسخه كښې هم نشته. ،، والله اعلم بالصواب،، _ ([5])

د حديث شريف تشريح د ړومبى حديث په ضمن كښې شوې ده. او ترجمة الباب سره ددې مطابقت بالكل واضح دې.

٧- بَابُ مَا يُذْكَرُ فِي الْمُنَاوَلَةِ وَكِتَابِ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالْعِلْمِ إِلَى الْبُلْدَانِ

وَقَالَ أَنَسٌ نَسَخَ عُثْمَانُ الْمَصَاحِفَ فَبَعَثَ بِهَا إِلَى الْآفَاقِ [ر: ٤٧٠٢] وَرَأَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَمَالِكٌ ذَلِكَ جَائِزًا وَاحْتَجَّ بَعْضُ أَهْلِ الْحِجَازِ فِي الْمُنَاوَلَةِ بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ كَتَبَ لِأَمِيرِ السَّرِيَّةِ كِتَابًا وَقَالَ لَا تَقْرَأْهُ حَتَّى تَبْلُغَ مَكَانَ كَذَا وَكَذَا فَلَمَّا بَلَغَ ذَلِكَ الْمَكَانَ قَرَأَهُ عَلَى النَّاسِ وَأَخْبَرَهُمْ بِأَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ماقبل سره مناسبت او د ترجمة الباب مقصد امام بخارى رحمه الله د اُستاذانو نه د روايت كولو وړاندې دوه طريقې بيان كړې وې.

---

[1] سير أعلام النبلاء (٥/٢٢٤) والكاشف (١/٢٨١) رقم (٦٨١) _

[2] تهذيب الكمال (٤/٣٤٧) _

[3] الكاشف (١/٢٨١) رقم (٦٨١) _

[4] كشف البارى (٢/٤) _

[5] فتح البارى (١/١٥٣) _

① يو ،،قراءة الشيخ على التلميذ،، چه دا ني د ((باب قول المحدث حدثنا....)) پاندې اشارة ذكر كړې دې.
② دويم ،،قراءة التلميذ على الشيخ،، چه دا ني په تيرشوى باب كښې صريحاً ذكركړې دې.ددې نه پس دوه طريقې نورې هم ذكركوى:
① يو ،،مناوله،، ② او دويم ،،مكاتبه،،_

د مناوله د ابحاثو خلاصه ،،مناوله،، دا ده.چه استاذ خپل تصنيف يا خپل مرويات يوكس ته وركړى.او دا اووائى.چه دا زما روايات دى.بيا ددې نه پس ددې دوه قسمونه دى.① مقرون بالاجازة ② مجرده عن الاجازة_كه مقرون بالاجازة وى.نو بالاتفاق ددې نه روايت كول جائز دى.البته په دې كښې معمولى شان اختلاف دې.چه د ،،مناوله مقرونه بالاجازة،، درجه د ،،سماع من الشيخ،، برابر ده اوكه كمه ده؟

د دويم قسم ،،مجرده عن الاجازه،، په باره كښې د يو جماعت نه منقول دى.چه په دې صورت كښې روايت كول جائز دى.حالانكه بعضې حضرات په دې صورت كښې د روايت كولو اجازت نه وركوى.بيا يو ،،مناوله،،ده.چه ددې تشريح پورته بيان كړې شوه.او يو دې ،،عرض المناوله،، چه شاگرد د شيخ مرويات واخلى.او شيخ ته ئې اوښائى.شيخ غور او فكر اوكړى.او دهغې توثيق اوكړى.چه آو دا زما مرويات دى.دا ته روايت كولې شى.

دغه شان په دې خبره كښې هم اختلاف دې.چه دمناوله په طريق سره د حاصل كړې شوو احاديثو ادا كولو دپاره به مطلقاً د څه تقييد نه بغير د اخبار استعمال كولې شى.يا دا چه د مناوله تقييد به كيږى.دا ټول مباحث د ،،باب قول المحدث حدثنا...،، لاندې تفصيل سره بيان شوى دى.،،فراجعه إن شئت،،

د مكاتبت د ابحاثو خلاصه د مكاتبه صورت دا دې.چه شيخ خپل روايات يا خپل تصنيف شاگرد ته ليكلې ور اوليگى.[1]
بيا ددې دوه قسمونه دى:① مقرونه بالاجازة ② مجرده عن الاجازة.[2]
مقرونه بالاجازة خو باالاتفاق معتبر ده.او دا په حكم كښې د مناوله مقرونه بالاجازة پشان دې.[3] البته په ،،مجرده عن الاجازة،، كښې اختلاف دې.لكه چه ايوب سختيانى، منصور بن المعتمر، ليث بن سعد، ابوحامد اسفرائينى، محاملى، صاحب محصول او ابوالمظفر سمعانى رحمهم الله وغيره د دې د معتبر كيدو قائل دى.او سيف آمدى رحمه الله فرمائى.چه داجازت نه بغير محض د كتاب په ذريعه روايت معتبر نه دې.د صاحب الحاوى الكبير علامه ابوالحسن الماوردى رحمه الله هم دا رائې ده.او د ابوالحسن بن القطان په نيز كتابت مجرده د

---

[1] مقدمه ابن الصلاح(ص١٧٣)_
[2] المصدرالسابق)_
[3] مقدمه ابن الصلاح(١٧٤)_

منقطع په حكم كښې دې.(١) خو حافظ ابن الصلاح او ددوی متبعينو د مجوزينو رائې راجح گرځولې ده.(٢)

بيا د مكاتبت په ذريعه د حاصل شوو رواياتو اداكولو دپاره په دواړو طريقو گنجائش شته.كه مطلقاً وی. اوكه ..حدثنا.. او ..اخبرنا.. وائی.او يا د كتابت قيد اولگوی.حافظ ابن الصلاح رحمه الله مقيد ونيل. راجح گرځولی دی.(٣)

مناوله مقرونه بالاجازت، او مكاتبه دواړه برابر دی اوكه متفاوت دی؟ د اصول حديث دعالمانو په دې كښې اختلاف دې.چه مناوله مقرونه بالاجازة، او مكاتبه مقرونه بالاجازه دواړه په درجه كښې برابر دی اوكه نه، يو ته په بل باندې ترجيح حاصل ده؟

خطيب بغدادی رحمه الله فرمائی.چه مناوله ته ترجيح حاصل ده.ځكه چه شيخ تلميذ ته بالمشافهه اجازت وركوی.(٤)

او د امام بخاری رحمه الله رائې دا معلوميږی.چه دواړه برابر دی.ځكه چه دواړه ئې په يو باب كښې ذكر كړی دی.(٥)

خو ياد ساتئ.چه مناوله ته كه مشافهة (رو برو) خصوصيت حاصل وی.نو مكاتبه ته هم دا امتياز حاصل دې.چه شيخ مكتوب اليه (شاگرد) ته قصداً خپل روايات وركوی.(٦) هم دا خصوصيت اگرچه په مناوله كښې هم شته.خو چونكه په مناوله كښې هر ځنگه كتاب وركول داخل دی.ضروری نه ده.چه د محدث خپل تصنيف وی.خو په مكاتبه كښې محدث عام طور باندې خپل روايات ليكلې وركوی.په دې وجه دې ته دا امتياز حاصل دې.

قوله: وَقَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ نَسَخَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْمَصَاحِفَ فَبَعَثَ بِهَا إِلَى الْآفَاقِ: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی.چه حضرت عثمان رضی الله عنه مصاحف نقل كړل.او دا ئې په مختلفو اطرافو كښې اوليگل.

د حضرت انس رضی الله عنه د مذكوره تعليق تخريج: دحضرت انس رضی الله عنه مذكوره تعليق امام بخاری رحمه الله په كتاب المناقب كښې اجمالاً او په كتاب فضائل القرآن كښې اجمالاً اوتفصيلاً ذكر كړې دې.(٧)

د حضرت انس رضی الله عنه د مذكوره روايت خلاصه: ددې روايت خلاصه دا ده.چه حضرت حذيفه بن

---

١) فتح المغيث للعراقی(٢٢٣) وفتح المغيث للسخاوی(٣\٥-٨)_

٢) مقدمة ابن الصلاح(١٧٤) وفتح المغيث للعراقی(٢٢٤)_

٣) المصدر السابق)_

٤) فتح المغيث للسخاوی(٣\٢)_

٥) فتح الباری(١\١٥٤)_

٦) فتح المغيث للسخاوی(٣\٢)_

٧) صحيح بخاری(١\٤٩٧) كتاب المناقب. باب نزل القرآن بلسان قريش. رقم(٣٥٠٦) و(٢\٧٤٥) كتاب فضائل القرآن. باب نزل القرآن بلسان قريش والعرب. رقم(٤٩٨٤) و(٤٩٨٧)_

اليمان رضي الله عنه (چه دوي د آرمينيه او آذربائيجان په علاقو كښې جهاد كښې شريك وو) دا اوكتل چه خلق د قرآن كريم په قراءت كښې اختلاف كوى او ددې نه د سختې فتنې خطره ده.نو هغه حضرت عثمان رضي الله عنه ته حاضر شو او خپله خطره ئې دهغوى په وړاندې ښكاره كړله.حضرت عثمان رضي الله عنه د معاملې په اهميت باندې پوهه شو او حضرت حفصه رضي الله عنها ته ئې پيغام اوليګلو چه تاسو سره كومې صحيفې دى.هغه رااوليګه چه مونږ ئې نقل كړو ستاسو نسخه به مونږ واپس در اوليګو.

ددې نه پس ئې حضرت زيد بن ثابت، حضرت عبدالله بن الزبير،حضرت سعيد بن العاص، او حضرت عبدالرحمن بن الحارث بن هشام رضي الله عنهم ته د مصاحفو د نسخ (ليكلو) حكم وركړو. چه كوم ځائې كښې د باقى دريو واړو حضراتو او په حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه كښې اختلاف شى.هلته به د قريشو خبرې ته ترجيح وى.ځكه چه قرآن كريم د قريشو په ژبه باندې نازل شوې دې.د مصاحفو د نقل كولو كار چه مكمل شو.نو ددې نه پس ئې حضرت حفصه رضي الله عنها ته ددوى نسخه واپس اوليګله.(١) او كومې نسخې چه نقل كړې شوې وې.هغه نسخې ئې د حكومت اطرافو ته اوليګلې.

حضرت عثمان رضي الله عنه ټولې څومره نسخې تيار كړې وې؟ او كوم كوم ځائې ته ئې ليګلې وې؟

حضرت عثمان رضي الله عنه ټولې څومره نسخې تيار كړې وې؟ مشهوره دا ده.چه پنځه نسخې وې.(٢) ابن ابى داؤد د حمزة الزيات نه نقل كړى دى.چه دا ټولې څلور نسخې وې.(٣) كوفې، بصرې او شام طرف ته يوه يوه نسخه اوليګلې شوه.او يوه نسخه حضرت عثمان رضي الله عنه خپل ځان سره مدينه منوره كښې كيخودله.(٤) ابن ابوداؤد د ابوحاكم سجستانى نه نقل كړى دى.چه ټولې اووه نسخې تيار كړې شوې وې.يوه مكه مكرمې ته اوليګلې شوه.يوه شام ته. يوه يمن ته. يوه بحرين ته، يوه بصرې ته، او يوه كوفې ته اوليګلې شوه او يوه نسخه ددوى د ځان سره په مدينه منوره كښې اوساتله.(٥)

ددې واقعې نه دلته امام بخارى رحمه الله دمكاتبت په صحت باندې استدلال كړې دې چه حضرت عثمان رضي الله عنه قرآن كريم اوليكلو.او د حكومت اطرافو ته ئې اوليګلو او خلقو په دې باندې اعتماد اوكړو.(٦)

يو اشكال او دهغې جواب خو دلته اشكال كيږى.چه قرآن كريم خو د الله تعالى كلام دې.او ددې د ثبوت دپاره تواتر او قطعيت پكار دې.او دلته ئې حضرت عثمان رضي الله عنه د خپلو

---

١) صحيح.بخارى(٧٤٥\٢) كتاب فضائل القرآن. باب نزل القرآن بلغة قريش والعرب. رقم(٤٩٨٧)_

٢) الإتقان فى علوم القرآن(٦٠\١) النوع الثامن عشر فى جمعه و ترتيبه. وفتح البارى(٢٠\٩) كتاب فضائل القرآن. باب جمع القرآن)_

٣) كتاب المصاحف لابن أبى داؤد(٢٤٤\١) ما كتب عثمان رضي الله عنه من المصاحف رقم(١١٥)_

٤) البرهان فى علوم القرآن للزركشى(٢٤٠\١) نقلاً من المقنع للدانى)_

٥) كتاب المصاحف(٢٤٢\١) رقم(١١٦)

٦) فتح البارى(١٥٤\١)_

قاصدانو او سفيرانو په ذريعه ليږلي. نو د قرآن كريم په ثبوت كښې تواتر پاتې نشو؟
جواب: ددې جواب دا دې چه د قرآن كريم، قرآنيت خو متواتر وو. البته صورت د كتابت خبر واحد سره ثابتيږي.(١) خو روستو د صحابه كرامو رضي الله عنهم په دې باندې اتفاق اوشو. او دا مسئله هم مجمع عليه شوه. په دې وجه قراء حضرات ليكي چه د مصحف عثماني د رسم (ليكلو) خلاف د ليكلو گنجائش نشته.(٢)
دلته دا هم ممكن ده. چه ددې واقعې نه مناوله باندې هم استدلال اوكړې شي. څكه چه حضرت عثمان رضي الله عنه په اطراف عالم كښې، دكومو خلقو په ذريعه مصحفونه ليږلي وو. بهرحال د هغوى په لاس كښې ئې وركړي وو. نو مناوله هم اوموندلې شوه. او په لاس كښې ددې دپاره وركړي وو. چه لاړشي. چه دوى بيان كړي. چه حضرت عثمان رضي الله عنه د قرآن پاك نسخه راليږلې ده.

قوله: وَرَأَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ ذَلِكَ جَائِزًا:
عبدالله بن عمر، يحي بن سعيد، او مالك درې واړه حضرات مكاتبه او مناوله ته جائز وائي.
عبدالله بن عمر نه څوك مراد دې؟ علامه كرمانى رحمه الله فرمائي. چه دلته عبدالله بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب عمرى مدنى مراد دې. لكه چه دوې فرمائي. چه عبدالله بن عمر فرمائي. «كنتُ أرى الزهري يأتيه الرجل بالكتاب لم يقرأه عليه ولم يقرأ عليه فيقول: أرويه عنك؟ فيقول نعم، وقال: ما أخذنا نحن ولا مالك عن الزهري إلا عرضاً»(٣)
بعينه هم دا خبره علامه عينى رحمه الله هم ليكلې ده.(٤)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي. چه ما هم عبدالله بن عمر عمرى گڼړلو. او هم ددې مطابق مې په تعليق التعليق كښې روايت تخريج كړې دې.(٥) خو بيا دا قرينه راغله. چه دلته ئې دوى د

(١) المصدر السابق)_
(٢) قال أشهب: سئل مالک، هل يكتب المصحف على ما أحدثه الناس من الهجاء؟ فقال: لا. إلاّ على الكتبة الأولى. رواه الداني في المقنع، ثم قال : ولا مخالف له من علماء الأمة وقال في موضع آخر: سئل مالک عن الحروف في القرآن مثل الواو ، والألف. أترى أن يغير من المصحف إذا وجد فيه كذالک؟ قال: لا. قال ابوعمرو: يعني الواو والألف المزيدتين في الرسم المعدومتين في اللفظ نحو ..أولوا.. وقال الإمام أحمد: يحرم مخالفة خط مصحف عثماني في واو، أو ياء ، او الف، أو غير ذالک. وقال البيهقي في شعب الإيمان. من يكتب مصحفاً فينبغي أن يحافظ على الهجاء الذى كتبوا به تلک المصاحف ولا يخالفهم فيه ولا يغير مما كتبوه شيئاً. فإنهم كانوا أكثر علماً و أصدق قلباً و لساناً. و أعظم أمانة. فلا ينبغي أن نظنّ بأنفسنا استدراكاً عليهم.. ألإتقان (١٦٦/٢، ١٦٧) النوع السادس والسبعون في مرسوم الخط و آداب كتابته. وانظر البرهان في علوم القرآن (٣٧٩/١، ٣٨٠)_
(٣) شرح الكرماني(٢٠/٢، ٢١)_
(٤) عمدة القاري(٢٥/٢)_
(٥) حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى(١٥٤/١) كښې دا ذكر كړې دى. چه [بقيه حاشيه په بل مخ...

يحي بن سعيد نه وړاندې ذكر كړى دې. ددې تقديم نه معلومه شوه چه دلته د عمرى نه علاوه بل څوك مراد دې. څكه چه يحي بن سعيد ، د عمرى نه د عمر او مرتبې هر لحاظ سره اوچت دې.(١)

حافظ رحمه الله فرمائى چه ما تتبع (او لټون) اوكړو. خو د حضرت عبدالله بن عمر بن الخطاب نه صراحت سره هيڅ روايت ملاو نشو. البته ابن منده رحمه الله دامام بخارى رحمه الله په واسطې سره د ابو عبدالرحمن حبلى رحمه الله نه نقل كړى دى. «أنه أتى عبدالله بكتاب فيه أحاديث، فقال: أنظرلى هذا الكتاب فما عرفت منه أتركه، ومالم تعرفه أمحه.....»(٢)

حافظ رحمه الله فرمائى چه دلته ،،عبدالله،، مطلق دې چه په دې كښې دا احتمال هم شته. چه عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنه وى. څكه چه ابوعبدالرحمن حبلى د عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه هم روايت كوى. دا امكان هم شته. چه حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه وى. څكه چه حبلى د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت كولو كښې مشهور دې.(٣)

خو علامه عينى رحمه الله په يو خو وجو سره د حافظ رحمه الله رد كړې دې. ① رومبئ وجه دوى دا بيان كړې ده. چه د عبدالله بن عمر دتقديم نه دلته دا چرته لازميږى. چه دا عبدالله بن عمر عمرى نه وى. ددې لزوم دپاره دليل پكار دې.(٤)

خو حافظ رحمه الله په ،،انتقاض الاعتراض،، كښې ددې دا جواب وركړې دې. چه انتفاء د لزوم نه دا ضرورى نه ده. چه د قرينې كيدو باوجود لزوم ثابت نه وى. او دلته قرينه موجود ده څكه چه تقديم په اهتمام د شان باندې دلالت كوى. او ښكاره ده. چه اهتمام به د اسن، مشر، او اوثق وى.(٥) نو ښكاره دا ده. چه دلته كوم ،،عبدالله بن عمر،، مذكور دې ددې نه به عبدالله بن عمر بن الخطاب مراد وى.

علامه عينى رحمه الله دويم اعتراض دا كړې دې. چه د حافظ ابن حجر رحمه الله دا وينا هم صحيح نه ده. چه د حبلى د قول ،،أنه أتى عبدالله،، نه مراد ،،عبدالله بن عمر،، يا ،،عبدالله بن عمرو،، وى. څكه چه كله په صحابو رضي الله عنهم كښې د ،،عبدالله،، اطلاق كيږى نو ددې نه حضرت عبدالله

....د تيرمخ بقيه حاشيه] ((وكنت أظنه العمرى المدنى. وخرجت الأثر بذالک فى تعليق التعليق. وكذا جزم به الكرمانى. ثم ظهرلى من قرينة تقديمه فى الذكر على يحى بن سعيد أنه غير العمرى. لأن يحى أكبر منه سناً و قدراً. خو په تعليق التعليق كښې په شروع كښې دوى دا رائې ثابت كړې ده چه دا عبدالله بن عمرو بن العاص دې. اگرچه د عبدالله بن عمر بن الخطاب احتمال هم شته. حالانكه د عبدالله بن عمر عمرى نه ئې روستو اثر نقل كړې دې اوگورئ: تغليق التعليق(٢\٧٢ ، ٧٣)۔

(١) فتح البارى(١\١٥٤)۔

(٢) فتح البارى(١\١٥٤)۔

(٣) المصدر السابق)۔

(٤) عمدة القارى(٢\٢٥)۔

(٥) ارشاد السارى(١\١٦٣)۔

بن مسعود رضی الله عنه مراد وی.او د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه پس وی.نو حضرت عبدالله بن المبارك رحمه الله مراد وی.[1]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه علامه عینی رحمه الله د ،،عبدالله،، د اطلاق په سلسله کښې حصر سره کومه دعوه کړې ده.هغه ټیك نه ده.ځکه چه خطیب بغدادی رحمه الله لیکلی دی.کۀ مصری حضرات عبدالله مطلق اووائی.نو ددې نه حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما مراد وی.که اهل عراق ددې اطلاق اوکړی.نو ددې نه مراد ،،حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه،، وی.[2]

دلته چونکه حبلی مصری دې.[3] په دې وجه دا عین امکان شته.چه د ،،عبدالله،، نه حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما مراد وی.

د علامه عینی رحمه الله اعتراض په دې اعتبار سره هم کمزورې دې.چه ابوعبدالله حبلی چه: کوم ،،عبدالله،، اطلاق کړې دې.ددې نه، نه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مراد کیدې شی.او نه عبدالله بن المبارك رحمه الله، ځکه چه په دوی کښې يو ته هم ددوی نه سماع حاصل نه ده.[4] خاص طور باندې عبدالله بن المبارك خو ددوی نه ډیر زیات متاخر هم دی.ځکه چه: عبدالله بن المبارك ولادت په ۱۱۸ھ کښې شوې دې.او وفات ئې په ۱۸۱ھ کښې شوې دې.[5] او د عبدالرحمن حبلی وفات په ۱۰۰ھ کښې شوې وو.[6]

دريم اعتراض علامه عینی رحمه الله دا کړې دې.چه د صحیح بخاری څومره نسخې دی.په ټولو کښې حضرت عبدالله بن عمر (بضم العين وبدون الواو فی آخره) دې.په يوه نسخه کښې هم ،،عمرو،، (بفتح العين و بالواو فی آخره) نه دې.[7]

علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه غالب گمان هم دا دې.چه دلته د عبدالله نه مراد ،،عبدالله بن

---

[1] عمدة القاری(٢\٢٥)_

[2] ارشاد الساری(١\١٦٣)، قال ابن الصلاح فی علوم الحدیث(ص٣٦٢، ٣٦٣) قال سلمة:إذا قیل بمكة ..عبدالله.. فهو ابن الزبیر. و إذا قیل بالمدینة ..عبدالله.. فهو ابن عمر. وإذا قیل بالكوفة ..عبدالله.. فهو ابن مسعود. و إذا قیل بالبصرة ..عبدالله. فهو ابن عباس، و إذا قیل بخراسان ..عبدالله.. فهو ابن المبارك. وقال الحافظ ابويعلى الخليلي القزويني: إذا قال المصري: ..عن عبدالله.. ولا ينسبه. فهو ابن عمرو يعني ابن العاص. وإذا قال المكي: ..عن عبدالله.. ولا ينسبه فهو ابن عباس..

وقال العراقي في فتح المغيث له (ص٤٣٣): قلت (أي العراقي) لكن قال النضر بن شميل: إذا قال الشامي ..عبدالله.. فهو ابن عمرو بن العاص. قال: و إذا قال المدني: ..عبدالله.. فهو ابن عمر. قال الخطيب: وهذا القول صحيح. قال: وكذالك يفعل بعض المصريين في عبدالله بن عمرو بن العاص..)_

[3] تهذيب الكمال(١٦\٣١٦)_

[4] د ابوعبدالرحمن حبلی شاگردانو دپاره او شیوخو دپاره اوگورئ: تهذيب الكمال(١٦\٣١٦، ٣١٧)_

[5] الكاشف للذهبي(١\٥٩١) رقم(٢٩٤١)_

[6] الكاشف(١\٢٠٦) رقم(٣٠٦١)_

[7] عمدة القاری(٢\٢٥)_

عمر العمرى.. دې لکه څنګه چه علامه کرمانى رحمه الله جزماً بيان کړى دى.ددې سره سره دا قوى احتمال هم موجود دې چه دلته مراد ..عبدالله بن عمر بن الخطاب.. وى.([1])

حقيقت دا دې چه دلته عبدالله بن عمر عمرى. عبدالله بن عمر بن الخطاب. اوعبدالله بن عمرو بن العاص درې واړه حضرات مراد کيدې شى. بلکه ددوى نه علاوه د عبيدالله بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب نه هم دا څيز منقول دې نو ددوى مراد کيدل هم لرې نه دى.

عبدالله بن عمر عمرى څکه مراد کيدې شى.چه ابن منده پخپل سند سره ذکرکړى دى.

«....سمعتُ أبا صالح، سمعت الليث، يقول: أتانى أبوعثمان عبد الحكم بن أعين بهذا الكتاب من عبدالله بن عمر العمرى، مختوماً بخاتمه، قال أبوصالح: ولم يسمع الليث من العمرى شيئاً، وإنما روايته منه كتابه»([2])

عبدالله بن عمر بن الخطاب څکه مراد کيدې شى.چه ابن منده پخپل سند سره د ابو عبدالرحمن حبلى نه نقل کړى دى.«أنه أتى عبدالله بكتاب فيه أحاديث، فقال: أصلحك الله، أنظر فى هذا الكتاب فما عرفت منه وتركته، ومالم تعرفه محوته، فنظرفيه، قال: فعرضت عليه حتى فرغت منه....»([3])

چونکه ابوعبدالرحمن حبلى د حضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنهما نه روايت کوى په دې وجه کيدې شى.چه دلته هم دوى د هغه شيخ وى.([4])

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما څکه مراد کيدې شى.چه په مذکوره روايت کښې ..عبدالله.. مطلق راغلې دې.او ابو عبدالرحمن حبلى مصرى دې.مصرى چه کله مطلق ..عبدالله.. وائى.نو حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما مراد اخلى.([5]) په دې صورت کښې به ونيلې شى.چه د بخارى په نسخو کښې ..واو.. غلطئ سره ساقط شوې دې.

عبيدالله بن عمربن حفص بن عاصم څکه مراد کيدې شى.چه رامهرمزى رحمه الله په ..المحدث الفاصل.. کښې خپل سند سره روايت نقل کړې دې. «عن عبيدالله بن عمر قال: أشهد على ابن شهاب، لقد كان يؤتى بالكتب من كتبه، فيقال له، يا أبابكر، هذا كتبك؟ فيقول نعم، فيجتزئ بذالك ويحمل منه مالم يقرأ عليه»([6])

دغه شان ابن عبدالبر رحمه الله هم د عبيدالله بن عمر نه نقل کړى دى.«كنتُ أرى الزهرى يأتيه الرجل

---

[1]) عمدة القارى(۲\۲۵، ۲۶)_

[2]) تغليق التعليق(۲\۷۳)_

[3]) تغليق التعليق(۲\۷۲)_

[4]) المصدر السابق)_

[5]) تغليق التعليق(۲\۷۲)_

[6]) المحدث الفاصل(ص۴۳۵)رقم(۴۹۹) باب القول فى الإجازة و المناولة)_

بالكتاب لم يقرأه عليه ولم يقرأ عليه، فيقال له، أرويك منك؟ قال نعم»[1]
ابن منده او ابو زرعه دمشقي رحمهما الله هم د عبيدالله بن عمر نه نقل کړی دی. «أتيت ابن شهاب بكتاب، فقيل له، هذا حديثك نحدث به عنك؟ قال نعم»[2]
غالب گمان دادې چه علامه کرمانی او ددوی په اتباع کښې د علامه عینی رحمهما الله نه تسامح شوې ده. چه دوی عبیدالله بن عمر عمری طرف ته منسوب روایت. عبدالله بن عمر عمری طرف ته منسوب کړې او نقل کړې دې.
حالانکه مذکوره روایت چا هم عبدالله بن عمر عمری طرف ته منسوب کړې نه دې بلکه ددوی نه خو ابن منده هغه روایت نقل کړې دې. کوم چه مونږ وړاندې ذکرکړې دې چه لیث بن سعد رحمه الله ته د عبدالله بن عمر عمری روایات مکتوب شکل کښې رارسیدلی وو. والله اعلم
د یحي بن سعید د اثر تخریج د یحي بن سعید انصاری رحمه الله د اثر تخریج امام حاکم رحمه الله په ..معرفة علوم الحديث.. کښې کړې دې. اسماعیل بن ابی اویس فرمائی. «سمعت خالي مالك بن أنس يقول: قال لي يحيى بن سعيد الأنصاري لما أراد الخروج إلى العراق، التقط لي مائة حديث من حديث ابن شهاب، حتى أرويها عنك عنه، قال مالك، فكتبتها ثم بعثت بها إليه، فقيل لمالك، أسمعها منك؟ قال: هو أفقه من ذالك»[3]
د امام مالک رحمه الله د اثر تخریج د امام مالک رحمه الله د اثر تخریج رامهرمزی رحمه الله کړې دې اسماعیل بن اویس فرمائی. «سألت مالكاً عن أصح السماع، فقال، قراءتك على العالم، أو قال، المحدث، ثم قراءة المحدث عليك، ثم أن يدفع إليك كتابه، فيقول، أروِ هذا عني....»[4]

قوله: وَاحْتَجَّ بَعْضُ أَهْلِ الْحِجَازِ فِي الْمُنَاوَلَةِ بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ كَتَبَ لِأَمِيرِ السَّرِيَّةِ كِتَابًا وَقَالَ لَا تَقْرَأْهُ حَتَّى تَبْلُغَ مَكَانَ كَذَا وَكَذَا فَلَمَّا بَلَغَ ذَلِكَ الْمَكَانَ قَرَأَهُ عَلَى النَّاسِ وَأَخْبَرَهُمْ بِأَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
بعضې اهل حجاز په صحت د مناوله باندې د نبی کریم ﷺ ددې حدیث نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه نبی کریم ﷺ د سریه امیر ته یو خط لیکلې ورکړې وو. او فرمائیلی ئې

---

[1] جامع بيان العلم وفضله (٢١٨/٢) باب في العرض على العالم....و (١١٥٥/٢) بتحقيق أبي الأشبال الزهيري. وفيه عبدالله بن عمر. بدل ..عبيدالله بن عمر.. قال محققه. كذا في الأصل. وفي بعض النسخ ..عبيدالله.. وهو تحريف. قلت: الظاهر أن الصواب هو ..عبيدالله.. لا ..عبدالله.. كما في المحدث الفاصل (ص٤٣٥) رقم(٤٩٩) وكما هو كذالک في بعض نسخ جامع بيان العلم و فضله. والله اعلم.)_
[2] تغليق التعليق(٧٣/٢)_
[3] معرفة علوم الحديث(ص٢٥٩). المحدث الفاصل(ص٤٣٨) رقم(٥٠٧) وتغليق التعليق(٧٣/٢. ٧٤)_
[4] المحدث الفاصل(ص٤٣٨) رقم(٥٠٦)_

وو چه ترکومه پورې داسې داسې ځائې ته اونه رسيږي. دا مه وايه. کله چه هغه دغه ځائې ته اورسيدو نو هغوی دا خلقو ته واورولو. او د نبی کريم ﷺ د حکم نه ئې هغوی خبر کړل.

د بعضې اهل حجاز نه څوک مراد دی؟ د بعضې اهل حجاز نه مراد د امام بخاری رحمه الله شيخ امام حميدی (ابوبکر عبدالله بن الزبير بن عيسی القرشی الاسدی الحميدی المکی) دی. دوی پخپل کتاب النوادر کښې د مناوله په حجيت او صحت باندې دا دليل پيش کړې دې چه نبی کريم ﷺ يو خط اوليکلو. او يوې سريه ته ئې حواله کړې وو. او دا ئې فرمائيلی وو چه وړاندې لاړ شئ. نو دا خط واوروئ.(١) امام ابوالقاسم رحمه الله ددې استدلال ذکرکولو نه پس فرمائی. ((وهو فقه صحيح))(٢)

د مذکوره سريه د واقعې تخريج ددې سريه اصل قصه محمد بن اسحاق رحمه الله پخپل سيرت کښې د ،،يزيد بن رومان عن عروة بن الزبير،، طريق سره نقل کړې ده.(٣) او ابواليمان الحکم بن نافع هم پخپله نسخه کښې (کومه چه د شعيب بن ابی حمزه نه روايت کوی) د ،،عروه بن الزبير،، نه مرسلاً نقل کړې ده.(٤)

هم دا حديث امام طبرانی رحمه الله د حضرت جندب بن عبدالله بجلی رضی الله عنه نه حسن سند سره مرفوعاً ذکر کړې دې.(٥) هم دا ضياءالدين مقدسی رحمه الله په ،،المختاره،، کښې نقل کړې دې.(٦) دغه شان دا واقعه ابن جرير طبری رحمه الله پخپل تفسير کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په واسطې سره نقل کړې ده.(٧)

حافظ ابن کثير رحمه الله د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه علاوه د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه هم نقل کړې ده.(٨)

د واقعې خلاصه: د واقعې خلاصه دا ده چه په رجب ۲هـ کښې نبی کريم ﷺ حضرت ابوعبيده بن الجراح رضی الله عنه د يوې سريه امير جوړ کړو. هغه د نبی کريم ﷺ په جدائۍ باندې په ژړا شو. نبی کريم ﷺ ددوی په ځائې حضرت عبدالله بن جحش رضی الله عنه امير جوړ کړو. د دوی په مشرۍ کښې ئې د اووه يا دولسو کسانو يو جماعت ورکړو. نبی کريم ﷺ هغوی ته خط اوليکلو. او وې فرمائيل. کله چه تاسو فلانی ځائې ته اورسيږئ. يا ئې اوفرمائيل. کله چه تاسو د دوو ورځو فاصله باندې اورسيږئ. نو دا خط کلاو کړئ. او ددې مطابق عمل اوکړئ.

---

(١) عمدة القاری(٢\٢٦) وفتح الباری(١\١٥٥)_

(٢) الروض الأنف(٢\٢٦) سرية عبدالله بن جحش.)_

(٣) فتح الباری(١\١٥٥) وتعليق التعليق(٢\٧٥)_ سيرت ابن هشام(٢\٥٩)_

(٤) فتح الباری(١\١٥٥) وتغليق التعليق (٢\٧٦)_

(٥) مجمع الزوائد(٦\١٩٨) باب سرية عبدالله بن جحش وقال الهيثمی: رواه الطبرانی و رجاله ثقات. وفتح الباری(١\١٥٥)_

(٦) تغليق التعليق(٢\٧٦)_

(٧) تفسير الطبری(٢\٢٠٤) وفتح الباری(١\١٥٥) وتعليق التعليق(٢\٧٧)_

(٨) تفسيرابن کثير(١\٢٥٢، ٢٥٣)_

حضرت عبدالله بن جحش رضی الله عنه دا خپل مختصر جماعت واخستلو.او روان شو.چه مطلوبه ځائي ته اورسیدو.نو خط ئې کلاو کړو.په هغې کښې لیکلی شوی وو.«إذا نظرت في كتابي هذا فامض حتى تنزل نخلة بين مكة والطائف، فترصد بها قريشاً وتعلم لنا من أخبارهم» په دې خط کښې دا هدایت هم وو.چه خپل ملګری خان سره په بوتلو باندې مه مجبوروه.بلکه اختیار ورکړه.چه د چا زړه غواړی ستا ملګرتیا دې اوکړی.او چه دچا زړه غواړی.را واپس دې شی.حضرت عبدالله بن جحش رضی الله عنه د خط د هدایاتو نه دوی خبر کړل.او ددې نه پس ئې «إنا لله وإنا إليه راجعون» اووئیل.او وې وئیل.«سمعاً وطاعةً» خپل ملګری ئې دخط د مضمون نه خبر کړل.او بوتلو ته ئې د هدایت مطابق اختیار هم ورکړو.د ابن اسحاق د روایت مطابق ټول په ټوله د زړه په خوشحالئ په وړاندې تللو باندې راضي شو.او د طبراني وغیره د روایت مطابق دوه سړی روستو پاتې شو.په ښکاره دا دوه سړی هم د مهم (او مقصد) نه قصداً روستو نه وو پاتې شوی.بلکه ددوی اوښ ورك شوې وو.د هغې د تلاش په وجه روستو پاتې شوی وو.

دا حضرات چه کله ..نخله.. مقام ته اورسیدل.نو دعمرو بن الحضرمي قریشي تجارتي قافله روانه وه.حضرت واقد بن عبدالله رضی الله عنه غشې اوویشتلو.چه په دې سره عمرو بن الحضرمي مړ شو.د تجارت مال د مسلمانانو په لاس راغې.

کله چه دا واقعه راپېښه شوه.د رجب ړومبئ شپه وه.حالانکه حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم د جمادی الاولی آخری تاریخ ګنړلو.چونکه رجب د اشهر حرم ځنې ده.چه په دې کښې به د عربو خلقو قتال نه کولو.په دې وجه دې قتل باندې مشرکانو دا وینا شروع کړله.چه مسلمانانو د اشهر حرم د حرمت هم لحاظ اونه ساتلو.په دې باندې د قرآن کریم آیت نازل شو. ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ﴾ ... (۱)

بعضو حضراتو دا اووئیل.چه په دې خلقو که ګناه نه وی.بیا به هم ثواب او اجر نه ملاویږی. په دې باندې دا آیت نازل شو. ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَةَ اللَّهِ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ (۲)

ددې قصې نه چه ځنګه ..مناوله.. ثابته شوه.ځکه چه نبی کریم ﷺ د سریه امیر ته خپل تحریر (خط) ورکړې وو.ددې نه ..مکاتبت.. هم ثابت شو.دا ځکه چه نبی کریم ﷺ خط لیکلې وو.او د لشکر امیر ته ئې حواله کړې وو.او دا ئې فرمائیلی وو.چه کله دوه منزله سفر اوکړې.نو ددې مضمون واوروئ.نو معلومه شوه.چه په کتاب باندې اعتماد او اطمینان کیدې شی.او د کتاب په ذریعه روایت کیدې شی.ځکه چه حضرت عبدالله بن جحش رضی الله عنه دا کتاب لوستلې وو.او خپلو ملګرو ته ئې دا مضمون اورولې وو.

---

(۱) البقرة:۲۱۷.

(۲) البقرة:۲۱۸.

حديثِ باب

٣-((حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبَّاسٍ (١) أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِكِتَابِهِ رَجُلًا وَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى فَلَمَّا قَرَأَهُ مَزَّقَهُ فَحَسِبْتُ أَنَّ ابْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ)) [٦٤، ٢٩٣٩، ٤٤٢٤، ٧٢٦٤]

رجال الحديث

① **اسماعيل بن عبدالله:** دا اسماعيل بن ابی اویس رحمه الله دې. د عبدالله کنيت ابو اويس دې. ددوی حالات د کتاب الايمان د «باب تفاضل أهل الإيمان فی الأعمال» لاندې تير شوی دی. (٢)

② **ابراهيم بن سعد:** دا ابواسحاق ابراهيم بن سعد بن ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف زهری مدنی رحمه الله دې. ددوی حالات هم د ،،کتاب الإيمان،، «باب تفاضل أهل الإيمان فی الأعمال» لاندې تير شوی دی. (٣)

③ **صالح:** دا ابوالحارث صالح بن کيسان مدنی رحمه الله دې. ددوی حالات هم په مذکوره کتاب او باب کښې تير شوی دی. (٤)

④ **ابن شهاب:** دا امام محمد بن مسلم بن عبيدالله بن شهاب زهری مدنی رحمه الله دې. ددوی مختصر حالات د ،،بدء الوحی،، د دريم حديث لاندې تيرشوی دی. (٥)

⑤ **عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود:** دا د مدينې د مشهورو اووه فقهاؤ نه يو دې. ددې مختصر حالات هم د ،،بدء الوحی،، پنځم حديث لاندې تير شوی دی. (٦)

---

(١) قوله: ..أن ابن عباس أخبره.. ألحديث أخرجه البخاری أيضاً فی صحيحه (٤١١\١) فی كتاب الجهاد والسير. باب دعوة اليهودي والنصراني و على ما يقاتلون عليه. وما كتب النبی ﷺ إلى كسرى و قيصر، والدعوة قبل القتال. رقم(٢٩٣٩) و (٦٣٧\٢) فی كتاب المغازی. باب كتاب النبی ﷺ إلى كسرى و قيصر، رقم(٤٤٢٤) و (١٠٧٨\٢، ٤٠٧٩) فی كتاب أخبار الآحاد. باب ماكان يبعث النبی ﷺ من الأمراء والرسل واحداً بعد واحد. رقم(٧٢٦٤). واحمد فی مسنده (٢٤٣\١، ٣٠٥)_

(٢) كشف الباری(١١٣\٢)_

(٣) كشف الباری(١٢٠\٢)_

(٤) كشف الباری(١٢١\٢)_

(٥) كشف الباری(٣٢٦\١)_

(٦) كشف الباری(٤٦٦\١)_

٩ **عبدالله بن عباس رضى الله عنهما:** د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ حالات د ..بدء الوحي.. څلورم حديث لاندې او د كتاب الايمان «باب كفران العشير وكفر دون كفر» لاندې تېر شوى دى.(١)

قوله أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِكِتَابِهِ رَجُلًا: رسول الله ﷺ يو سړى ته خپل خط وركړو.او وې ليږلو.

نبى كريم ﷺ چه كله د صلح حديبيه نه فارغ شو.نو نبى كريم ﷺ ته د كافرانو نه يوقسم اطمينان حاصل شو.دغه وخت نبى كريم ﷺ د مكاتبت كار په اعلى پيمانه باندې د كولو اراده اوكړله.او ددې دائره ئې خوروَل اوغوښتل.په دې وجه د حجاز په اطرافو كښې چه كوم لوئې لوئې بادشاهئ وې.هغوى ته ئې د خطونو ليږلو اراده اوكړله.

د «رجل» نه څوک مراد دې؟ په حديث باب كښې د ..رجل.. نه مراد حضرت عبدالله بن حذافه سهمى ﷺ دې.(٢)

حضرت عبدالله بن حذافه سهمى ﷺ دا د سابقينو اولينو څخې وو.په بدر كښې هم شريك شوې وو.اګرچه موسى بن عقبه او ابن اسحاق او نورو اصحاب د مغازى ددوى نوم نه دې ذكر كړې.(٣)

ددوى عجيبه واقعه اصحابو د سير نقل كړې ده.چه حضرت عمر ﷺ روم طرف ته يو لښكر اوليږلو.چه په هغې كښې حضرت عبدالله بن حذافه ﷺ هم وو.اتفاق سره د روميانو په لاس ګرفتار شو.د روم بادشاه د ټولو نه وړاندې دا پېشكش اوكړو.چه كه ته نصرانى شوې.نو پخپل سلطنت كښې به تا شريك كړم.دوى انكار اوكړو.په دې باندې دوى په سولئ د رازوړندولو او په غشى د ويشتلو حكم وركړو.خو په دوى باندې هيڅ قسمه جزع فزع (او د يرې) څه اثر ښكاره نشو.بيا ئې د يو ديګ په اور باندې د ايښودلو حكم وركړو.چه په دې كښې اوبه واچولې شوې.او ښه اوخوټكولې شوې (او ويشيدلې).ددوى په وړاندې يو قيدى ور اوغورزولې شو.نو فوراً ټوله غوښه اوجوشيدله.او د هډوكو نه جدا شوه.او هډوكى ښكاره شو.او دوى ته اووئيلې شو.كه ته نصرانى جوړ نشوې.نو په دې كښې به واچولې شې.نو كله چه دوى بوتلې شو.نو په ژړا شو.بادشاه راوغوښتلو.او د ژړا د سبب تپوس ئې اوكړو.دوى جواب وركړو.چه زما خواهش دې.چه زما سل بدنونه وې.او د الله تعالى دپاره مې يويو بدن داسې قربانولې.چونكه زما دا خواهش نشى پوره كيدې.په دې وجه ژاړم.بادشاه ته ډير زيات تعجب اوشو.او وې وئيل.كه ته زما سر ښكل كړې.نو زه به تا پريږدم.دوى اووئيل.كه صرف زما پريخودل وى.بيا خو ماته منظوره نه ده.البته كه دټولو

---

(١) كشف البارى(١١/٤٣٥) و(٢/٢٠٥)_

(٢) لكه څنګه چه په صحيح بخارى (٢/٦٣٧) كتاب المغازى ..باب كتاب النبى ﷺ إلى كسرى وقيصر.. رقم(٤٤٢٤)كښې د نوم تصريح موجود ده)_

(٣) الإصابة(٢/٢٩٦)_

آزادي كيږي.نو ماته منظوره ده.كله چه هغه قبوله كړله.نو دوى دهغه سر ښكل كړو.دغه شان سره دخپلو ملګرو حضرت عمرﷺ ته اورسيدو.حضرت عمرﷺ ته چه كله د واقعې علم اوشو.نو حضرت عمرﷺ ددوى تندې ښكل كړو.(١)

ددې حديث نه مناوله ثابتيږي.چه دوى يو خط ليكلې وو.او حضرت عبدالله بن حذافهﷺ ته نې وركړې وو.او ددې دپاره نې وركړې وو.چه دا اووائى.چه د نبى كريمﷺ خط دې.دغه شان ددې نه مكاتبت هم راوخى.خكه چه نبى كريمﷺ دا خط وركړې وو.چه ددې مضمون مكتوب اليه اووائى.(٢)

قوله وَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى:

او دوى ته نې حكم وركړو.چه دا خط عظيم البحرين ته وركړئ.عظيم البحرين كسرى ته دا خط اورسولو.

د عظيم بحرين نه څوك مراد دې؟ د عظيم بحرين نه مراد منذر بن ساوى دې.(٣)

نبى كريمﷺ دا خط براه راست كسرى ته خكه اونه ليګلو.چه هلته رسيدو كښې به مشكلات وو.او منذر بن ساوى د بحرين حاكم، د كسرى ماتحت وو.نو دده په ذريعه رسول آسان وو.

،،كسرى،، د فارس د بادشاهانو لقب دې.

د كسرى نه څوك مراد دې؟ دلته د كسرى نه ،،پرويز بن هرمز بن نوشيروان،، مراد دې.(٤)

قوله فَلَمَّا قَرَأَهُ مَزَّقَهُ: كله چه هغه دا خط اولوستلو.نو دا نې اوشلولو.

د كسرى غصه كيدل، او د نبى كريمﷺ د ګرفتارولو كوشش كسرى سخت غصه شو.او د يمن حاكم ،،باذان،، ته (چه دهغه ماتحت وو) نې اوليكل.چه دوه سړى ددې نبوت مدعى ته اوليګه.چه ګرفتار ئې كړى. او ماته ئې حاضر كړه.باذان دوه سړى د نبى كريمﷺ په خدمت كښې اوليګل. كله چه دوى دواړه قاصدان نبى كريمﷺ ته اورسيدل.نو د شپې تيرولو نه پس نبى كريمﷺ دوى دواړو ته اوفرمائيل.چه خپل بادشاه ته اووايه.چه زما رب ستا آقا نن شپه مړ كړې دې.الله تعالى دهغه خوئې ،،شيرويه،، په هغه باندې مسلط كړو.او هغه ئې مړ كړو.(٥)

ددې صورت دا جوړ شوې وو.چه پرويز دغه وخت بادشاه وو.دده د خوئې شيرويه خپل پلار سره په څه وجه اختلاف شو.هغه دخپل پلارد وژلو تدبيراوكړو.په دې طريقه ئې هغه مړ كړو.

د باذان اسلام كله چه دوى دواړه قاصدان يمن ته اورسيدل.او هغوى د يمن حاكم ته د نبى

---

١) الإصابة(٢/٢٩٦، ٢٩٧)_

٢) فتح البارى(١/١٥٥)_

٣) المصدرالسابق)_

٤) فتح البارى(١/١٥٥) و عمدة القارى(٢/٢٨)_

٥) فتح البارى(٨/١٢٧) كتاب المغازى، باب كتاب النبىﷺ إلى كسرى وقيصر.)_

كريم ﷺ گفتگو نقل كړله.او د يمن حاكم ته معلومه شوه.چه هو بهو واقعه هم دغه شان ده.نو هغه سره د خپلو متبعينو مسلمان شو.(١)

قوله فَحَسِبْتُ أَنَّ ابْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ: زما خيال دا دې چه ابن المسيب فرمائيلى دى.چه نبى كريم ﷺ ددوى دپاره بد دعا اوكړله.چه هغه مكمل طور باندې ټكړې ټكړې كړې شى.

د ‹‹حسبت....الخ›› قائل امام زهرى رحمه الله دې.گويا په دې حديث كښې د مكاتبت والا حصه دوى سره موصولاً ده.او د بددعا والا خبره مرسل ده.(٢)

په خط شلولو باندې كسرى دپاره د نبى كريم ﷺ بد دعا او د هغې اثر د نبى كريم ﷺ بددعا داسې اولگيدله.چه شيرويه پخپله د خپل پلار د سازش ښكار شو.صورت دا شو.چه كله پرويز ته ددې خبرې احساس اوشو.چه شيرويه هغه مړ كول غواړى.نو هغه په يوه شيشه د .. زهر هلاهل.. نه ډكه كړله.او په هغې ئې اوليكل.‹‹الدواء النافع للجماع››،او دا شيشه ئې پخپله خزانه كښې كيخودله.شيرويه چه كله خپل پلار مړ كړو.او په سلطنت ئې قبضه اوكړله.خزانې ئې كلاو كړې.نو هغه ته دا شيشه ملاو شوه.هغه دوائى اوگڼړله. او استعمال ئې كړله.ددې نه پس په مشكله شپږ مياشتې ژوندې وو.او هلاك شو.(٣)

بيا شيرويه د خپل خان دپاره د سلطنت باقى ساتلو په غرض، چه د بل چا د شركت نه بغير حكومت اوكړى.ده د خپل خاندان ټول سړى مړه كړل.اوس د شيرويه د مرگ نه پس په دې خاندان كښې څوك داسې سړې باقى پاتې شوې نه وو.چه په هغه باندې د سلطنت بار اچولې شوې وې.نو ددې خاندان يوه جينۍ ،،بوران،، په تخت باندې كينولې شوه.په دې باندې نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.‹‹لن يفلح قوم ولوا أمرهم إمرأة››(٤) په دې طريقه د كسرى د اوگدې زمانې راسې د روان شهنشاهيت عمارت زمين بوس (او تباه) شو.او د نبى كريم ﷺ پيشن گوئى پوره شوه.چه ‹‹إذا هلك كسرى فلا كسرى بعده››(٥) امام طبرى رحمه الله دا هم نقل كړى دى.چه د بوران يوه خور ..آزرميدخت.. وه.هغې هم څه زمانې پورې حكومت كړې وو.(٦) والله اعلم.

---

(١) فتح البارى((١٢٧\٨) كتاب المغازى، باب كتاب النبى ﷺ إلى كسرى و قيصر.)_
(٢) فتح البارى(١٥٥\١)_
(٣) فتح البارى(١٢٨\٨) كتاب المغازى، باب كتاب النبى ﷺ إلى كسرى و قيصر.)_
(٤) صحيح بخارى(٦٣٧\٢) كتاب المغازى، باب كتاب النبى ﷺ إلى كسرى و قيصر، رقم(٤٤٢٥)، (١٠٥٢\٢) كتاب الفتن، باب (بلا ترجمة، بعد باب الفتنة التى تموج كموج البحر) رقم(٧٠٩٩)_
(٥) صحيح بخارى(٤٤٠\١) كتاب فرض الخمس، باب قول النبى ﷺ أحلت لكم الغنائم، رقم(٣١٢٠)و (٣١٢١)
(٦) فتح البارى(١٢٨\٨) كتاب المغازى، باب كتاب النبى ﷺ إلى كسرى و قيصر.)_

حديث باب

٦٥- ((حدثنا محمد بن مقاتل أبو الحسن المروزي أخبرنا عبد الله قال أخبرنا شعبة عن قتادة عن أنس بن مالك (١) قال كتب النبي صلى الله عليه وسلم كتابا أو أراد أن يكتب فقيل له إنهم لا يقرءون كتابا إلا مختوما فاتخذ خاتما من فضة نقشه محمد رسول الله كأني أنظر إلى بياضه في يده فقلت لقتادة من قال نقشه محمد رسول الله قال أنس)) [٢٧٧٠، ٥٥٣٤، ٥٥٣٧، ٦٧٤٣]

رجال الحديث

① محمد بن مقاتل ابوالحسن: دا ابوالحسن محمد بن مقاتل مروزى بغدادى مكى دې. ددوى لقب ،،رخ،، دې. (٢)

دوى د اسباط بن محمد قرشى، انس بن عياض، خلف بن ايوب، سفيان بن عيينه، ابوعاصم النبيل، عبدالله بن المبارك او وكيع بن الجراح رحمهم الله وغيره حضرات نه علم د حديث حاصل كړې دې.

او ددوى نه امام بخارى، امام احمد بن حنبل، ابوحاتم، ابوزرعه او ابراهيم بن اسحاق حربى رحمهم الله وغيره روايت دحديث كړې دې. (٣)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ،،صدوق،، (٤)

خطيب بغدادى رحمه الله فرمائى ،،كان ثقة،، (٥)

---

(١) قوله: عن أنس بن مالك.. الحديث أخرجه البخاري في صحيحه أيضاً (٤١١/١) كتاب الجهاد والسير. باب دعوة اليهودي والنصراني و على ما يقاتلون عليه، وما كتب النبي ﷺ إلى كسرى و قيصر، والدعوة قبل القتال رقم (٢٩٣٨) و (٨٧٢/٢) كتاب اللباس. باب فض الخاتم. رقم (٥٨٧٠) و باب نقش الخاتم. رقم (٥٨٧٢) و باب اتخاذ الخاتم ليختم به الشئ أو ليكتب به إلى أهل الكتاب وغيرهم. رقم (٥٨٧٥) و باب قول النبي ﷺ، لا ينقش على نقش خاتمه. رقم (٥٨٧٧) و (١٠٦١/٢) كتاب الأحكام. باب الشهادة على الخط المختوم..... رقم (٧١٦٢) ومسلم في صحيحه (١٩٦/٢) كتاب اللباس والزينة. باب تحريم خاتم الذهب على الرجال. والنسائي في سننه (٢٩٤/٢) كتاب الزينة. باب صفة خاتم النبي ﷺ ونقشه. رقم (٥٢٨٠- ٥٢٨٣) و ابوداؤد في سننه، في كتاب الخاتم. باب ماجاء في إتخاذ الخاتم. رقم (٤٢١٤- ٤٢١٧) و الترمذي في جامعه في كتاب اللباس. باب ماجاء في خاتم الفضة. رقم (١٧٣٩) وباب ما جاء في لبس الخاتم في اليمين. رقم (١٧٤٥) و باب ما جاء في نقش الخاتم. رقم (١٧٤٧) و (١٧٤٨). وابن ماجه في سننه. في كتاب اللباس. باب نقش الخاتم، قم (٣٦٣٩- ٣٦٤١)_

(٢) تهذيب الكمال (٤٩١/٢٦)_

(٣) د شيوخ او تلامذه تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال (٤٩٢/٢٦، ٤٩٣)_

(٤) تهذيب الكمال (٤٩٣/٢٦)_

(٥) المصدر السابق_

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. او فرمائيلى ئې دى.((وكان متقنا))[1] صاحب د تاريخ مرو فرمائى.((كان كثير الحديث))[2]

حافظ خليلى رحمه الله فرمائى.((ثقة متفق عليه مشهور بالأمانة والعلم))[3]

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.((ثقة صاحب حديث))[4]

ددوى نه په اصول سته كښې صرف امام بخارى رحمه الله روايت اخستې دى.باقى چا هم ددوى نه روايت نه دې اخستې.[5]

په ٢٢٦ھ كښې ددوى وفات شوې دې.[6]،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

② عبدالله: دا مشهور امام د حديث عبدالله بن المبارك حنظلى رحمه الله دې.ددوى مختصر حالات د ،،بدء الوحى،، پنځم حديث لاندې تيرشوى دى.[7]

③ شعبه: امام ابوبسطام شعبه بن الحجاج عتكى بصرى رحمه الله حالات د كتاب الايمان ((باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده))لاندې تيرشوى دى.[8]

④ قتادة: د امام قتاده بن دعامه سدوسى رحمه الله حالات د كتاب الايمان ((باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) لاندې تير شوى دى.[9]

⑤ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه: د حضرت انس رضي الله عنه حالات هم په كتاب الايمان ((باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) لاندې تير شوى دى.[10]

قوله: كَتَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِتَابًا أَوْ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ: نبى كريم صلى الله عليه وسلم خط اوليكلو.يا دوى د ليكلو اراده اوفرمائيله.

په دې كښې ،،او،، د شك دپاره دې.نبى كريم صلى الله عليه وسلم طرف ته د كتابت اسناد مجازى دې.

---

[1]) كتاب الثقات(٩\١٨)_
[2]) تهذيب التهذيب(٩\٤٦٩)_
[3]) المصدرالسابق)_
[4]) الكاشف للذهبى(٢\٢٢٣) رقم(٥١٦٥)_
[5]) عمدة القارى(٢\٢٩)_
[6]) الكاشف للذهبى(٢\٢٢٣) رقم(٥١٦٥)_
[7]) كشف البارى(
[8]) كشف البارى(١\٦٧٨)_
[9]) كشف البارى(٢\٣)_
[10]) كشف البارى

قوله فَقِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لَا يَقْرَءُونَ كِتَابًا إِلَّا مَخْتُومًا فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ: نبی کریم ﷺ ته اوونیلی شو چه بادشاهان د عالم داسې هیڅ یو خط نه لولي.په کوم چه مهر نه وی.نو نبی کریم ﷺ د سپینو زرو یوه ګتمه جوړه کړله چه په هغې باندې ،،محمد رسول الله،، نقش وو ګویا زه د هغوی ﷺ) په لاس کښې د هغې چمك او سپینوالي ګورم.

نبی کریم ﷺ چه کله حدیبیه نه تشریف راوړو نو نبی کریم ﷺ دا اراده اوکړله چه شاهان عالم ته د اسلام د طرفه د دعوت خطونه اولیګلې شي.نو دوی ته اوونیلی شو چه د بادشاهانو دستور دا دې.چه هغوی د مهر نه بغیر خط نه لولي.نو نبی کریم ﷺ د سپینو زرو یو مهر جوړ کړو.چه په هغې باندې ،،محمد رسول الله،، نقش کړې شوی وو دارقطنی ﷫ په ،،الافراد،، کښې یو روایت نقل کړې دې.د هغې نه معلومیږی چه مهر جوړونکې یعلی بن امیه ﷛ وو.(١)

د نبی کریم ﷺ ګتمه او د هغې نقش په روایت کښې خو دا دی.چه ((وكان نقش الخاتم ثلاثة أسطر، محمد سطر، و رسول سطر، والله سطر))(٢) ددې نه خو دا ښکاره کیږی چه د ټولو نه پورتنی سطر (لکیره) باندې ،،محمد،، په دویم سطر باندې ،،رسول،، او په دریم سطر باندې لفظ الجلالة ،،الله،، وو.خو بعضو حضراتو ذکرکړی دی.چه دا سطرونه د لاندې طرف نه شروع کیږی.یعنی د ټولو نه لاندې سطر کښې ،،محمد،، په مینځ نی سطرکښې ،،رسول،، او د ټولو نه پورتنی سطرکښې لفظ الجلالة ،،الله،، وو.(٣) د نبی کریم ﷺ د کومو خطونو مبارکو عکس چه شائع کیږی.د هغې نه ددې خبرې تائید کیږی.والله اعلم

د روایت باب مقصد امام بخاری ﷫ دا روایت دلته ددې دپاره ذکرکړې دې.چه دا معلومه شي.چه عمل بالمکاتبه دپاره شرط دا دې.چه کتاب مختوم وی.(مهر پرې لګیدلې وی) چه د تغیر او تبدیلۍ خطره نه وی.البته که چرته داسې صورت وی.چه هلته د تغیر او تبدل هیڅ خطره نه وی.مثلاً خط رسونکې امانت دار، دیانت دار، او معتبر وی.نو بیا مهر لګول څه ضروری نه دی.(٤)

فائده بعضو حضراتو په دې خبره باندې جزم کړې دې.چه نبی کریم ﷺ ګتمه په ٦ھ کښې جوړه کړې وه.حالانکه ابن سید الناس جزم سره ٧ھ لیکلې دې.په دواړو اقوالو کښې تطبیق په دې طریقه کیدې شی.چه دا واقعه د ٦ھ د آخر، او د ٧ھ د شروع ده.ځکه چه نبی کریم ﷺ خاتم هغه وخت جوړ کړې وو.کله ئې چه د عالم بادشاهانو سره د مکاتبت اراده کړې وه.او دا

---

١) فتح الباری(١٠\٣٢٨) كتاب اللباس. باب قول النبی ﷺ لاينقش على نقش خاتمه.)_

٢) صحیح بخاری(٢\٨٧٣) كتاب اللباس ..باب هل يجعل نقش الخاتم ثلاثة اسطر. رقم(٥٨٧٨)_

٣) فتح الباری(١٠\٣٢٩) كتاب اللباس. باب هل يجعل نقش الخاتم ثلاثة أسطر.)_

٤) فتح الباری(١\١٥٦)_

مکاتبت د صلح حدیبیه نه پس په موده د صلح کښې شوې وو.دا صلح په ذی قعده ٦ھ کښې شوې وه.او نبی کریمﷺ په ذوالحجه کښې مدینې منورې ته تشریف راوړو.په محرم۷ھ کښې نبی کریمﷺ خپل صحابه کرام مختلفو طرفونو ته اولیګل.ښکاره ده.چه نبی کریمﷺ د خپلو صحابو لیکلو نه وړاندې خاتم جوړ کړې وو.(۱) والله اعلم.

قوله فَقُلْتُ لِقَتَادَةَ مَنْ قَالَ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ قَالَ أَنَسٌ: ما د قتاده نه تپوس اوکړو چه ،،نقشه محمد رسول الله،،د چا قول دې؟ دوی اوونیل.چه دا حضرت انس رضی الله عنه وئیلی وو.

د ،،قلت،، قائل امام شعبه رحمه الله دې.

د مذکوره عبارت مقصد: ددې مقصد ممکن ده.چه دا وی.چه امام قتاده چونکه مدلس دې.او هغه دلته ،،عنعنه،، سره روایت کوی.په دې وجه امام شعبه رحمه الله د هغوی نه تصدیق اوکړو.چه د روایت آخیره حصه ،،نقشه محمد رسول الله،، هم د حضرت انس رضی الله عنه نه اوریدلې شوې دې.

خوپه دې باندې دا اشکال دې.چه هغه ،،عنعنه،، په پوره روایت کښې کوی.نو صرف د آخری حصې په باره کښې د تصریح کولو به څه معنی وی؟

نو ددې مقصد دا ونیلې کیدې شی.چه ،،نقشه محمد رسول الله،، چونکه یوه مستقل جمله ده.چه دا ماقبل سره هم متعلق کیدې شی.په دې صورت کښې به دا جمله د روایت جزء وی.او دا احتمال هم وو.چه دا مستقل جمله وی.او ماقبل سره د جزء کیدو په حیثیت سره مرتبط نه وی.په داسې صورت کښې به دا د حضرت انس رضی الله عنه بیان کړې شوې قول نه وی.د امام شعبه رحمه الله د سوال مقصد هم دا تصریح کول وو.چه آیا دا د حضرت انس رضی الله عنه د روایت جزء او ددې تتمه ده؟ اوکه د بل چا قول دې.او ددې روایت جزء نه دې؟ والله اعلم.

فائده: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله دلته دهغې اجازت ذکر اونکړو.کوم چه د مناوله یا مکاتبه نه مجرد وی.دغه شان وجاده، وصیت، اعلام، کوم چه د اجازت نه مجرد وی.ددې نې هم ذکر اونکړو.ګویا چه دوی د تحمل ددې اقسامو قائل نه دی.(۲)

بیا ابن منده رحمه الله دا دعوه کړې ده.چه کوم ځائې امام بخاری رحمه الله ،،قال لی،، اوفرمائی.هغه په ،،اجازت،، باندې محمول دې.

حافظ رحمه الله فرمائی.دا دعوه صحیح نه ده.ځکه چه د ډیرو ځایونو د تتبع او تحقیق نه دا معلومیږی.چه امام بخاری رحمه الله ډیر کرته پخپل صحیح کښې ،،قال لی،، فرمائی.حالانکه دا په نورو کتابونو کښې ،،حدثنا،، سره تعبیر کوی.حالانکه امام بخاری رحمه الله ،،اجازت،، سره حاصل شوو روایاتو باندې د ،،تحدیث،، د اطلاق قائل نه دې.معلومه شوه.چه د

---

(۱) فتح الباری(۳۲۵\۱۰) کتاب اللّباس، باب إتخاذ الخاتم لیختم به الشئ.....)_

(۲) فتح الباری(۱۵٦\۱)_

..قال نی.. والا روابات ددوی په نیز د مسموع (اوریدلو شوو) روایاتو خني دی.البته ددي صيغي استعمال هغه د فرق ښکاره کولو دپاره کوی حه دا ددوی د شرط مطابق نه دي.او د تحدیث والا روایات ددوی په شرط باندي پوره وی.(¹)والله اعلم

وړاندي د ،،باب قول المحدث....،، لاندي د ..طرق د تحمل حدیث.. عنوان لاندي مونږ دا بحث تفصيل سره ذکر کړي دي.،،فارجع إليه إن شئت،،_

٨-بَابٌ مَنْ قَعَدَ حَيْثُ يَنْتَهِي بِهِ الْمَجْلِسُ وَمَنْ رَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا

د علم په مجلس کښي د کيناستلو طريقه او ادب: امام بخاری رحمه الله په مجلس د علم کښي د کيناستلو طريقه او ادب بيانوی.که يو سړی راشي.او په مجلس کښي خاني وی.گنجائش موجود وی.نو دغه خاني کښي دي کيني.يا کوم خاني چه مجلس ختميږی.هلته دي کيني دواړه صورتونه جائز دی.د نبی کريم ﷺ په وړاندي دواړه صورتونه راپيښ شوی دی.بيا به په دي کښي کوم صورت ته ترجيح حاصل وی.په ښکاره امام بخاری رحمه الله هيڅ ترجيح نه ده ورکړي.گويا چه هغه د دواړو صورتونو د مساوات قائل دي.

ما قبل سره مناسبت: حافظ قطب الدين حلبی رحمه الله دلته يو اعتراض کړي دي.د هغي حاصل دا دي چه امام بخاری رحمه الله کوم تراجم منعقد کړی دی.هغه دري قسمه دی.په بعضو کښي ئي د عالم آداب بيان کړی دی.لکه ((باب من رفع صوته بالعلم))((باب طرح الإمام المسألة على أصحابه)) او په بعضو کښي دوی آداب د متعلم بيان کړی دی.لکه مذکوره باب چه دي.او په بعضو کښي دوی طريقه د تعلم او علم حاصلولو ذکرکړي ده.لکه ((باب القراءة والعرض على المحدث))او ((باب ما يذكر في المناولة))وغيره.

علامه قطب الدين حلبی رحمه الله فرمائی.چه دا باب يا خو د ((باب من رفع صوته بالعلم))نه پس کيدل پکار دي.او يا د ((باب طرح الإمام المسألة.....)) نه پس، چه آداب عالم سره آداب متعلم هم مذکور شي.دلته کښي ئي دا بي موقعه (او بي محله) ذکرکړي دي. (²)

علامه عينی رحمه الله فرمائی.چه ددي باب نه وړاندي د ،،مناوله،، ذکر راغلي دي.کوم چه په مجلس دعلم کښي کيږی.نو په مجلس کښي د کيناستلو طريقه ئي اوخودله.(³)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه تر اوسه پوري څومره ابواب هم ذکرکړي شوی دی.د هغي تولو تعلق عالم سره دي.نو اوس مصنف د متعلم ابواب شروع کوی.(⁴) او په واقع کښي هم

---

¹) فتح الباری(١\١٥۶)_
²) عمدة القاری(٢\٣١)_
³) عمدة القاری(٢\٣١)_
⁴) فتح الباری(١\١٥۶)_

دغه شان كيږي.اوګورئ. آواز عالم پورته كوي.د امتحان په طور باندې د مسئلو تپوس عالم كوي.هم هغه ،،حدثنا، اخبرنا،، وائي.او هم دده په وړاندې ئې شاګرد (متعلم) وائي. او هم هغه د مناوله په طريقه خپل روايات وركوي.هم هغه چا دپاره خپل روايات ليكي. اوس چه كله ددې تولو نه فارغ شو.نو ادب الطالب ئې بيان كړل.چه دې مجلس د درس ته راشي نو كوم ځائې چه مجلس ختميږي.هلته دې كيني.كه په مينځ كښې چرته كلاو ځائې او ګنجائش وي.نو هلته په كيناستلو كښې هيڅ باك نشته.والله اعلم.

حديث باب

٦٣-((حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ أَبَا مُرَّةَ مَوْلَى عَقِيلِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ ([1]) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا هُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ وَالنَّاسُ مَعَهُ إِذْ أَقْبَلَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ فَأَقْبَلَ اثْنَانِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَهَبَ وَاحِدٌ قَالَ فَوَقَفَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَرَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا وَأَمَّا الْآخَرُ فَجَلَسَ خَلْفَهُمْ وَأَمَّا الثَّالِثُ فَأَدْبَرَ ذَاهِبًا فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ عَنِ النَّفَرِ الثَّلَاثَةِ أَمَّا أَحَدُهُمْ فَأَوَى إِلَى اللَّهِ فَآوَاهُ اللَّهُ وَأَمَّا الْآخَرُ فَاسْتَحْيَا فَاسْتَحْيَا اللَّهُ مِنْهُ وَأَمَّا الْآخَرُ فَأَعْرَضَ فَأَعْرَضَ اللَّهُ عَنْهُ))[٦٣]

رجال الحديث

① اسماعيل: دا اسماعيل بن ابى اويس رحمه الله دې.ددوى حالات د كتاب الايمان ((باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال)) لاندې تير شوى دى.([2])

② مالك: د امام مالك بن انس رحمه الله حالات دكتاب الايمان ((باب من الدين الفرار من الفتن)) لاندې تير شوى دى.([3])

③ اسحاق بن عبدالله بن ابى طلحه: دا اسحاق بن عبدالله بن ابى طلحه انصارى نجارى مدنى رحمه الله دې.د ابوطلحه نوم زيد بن سهل دې.دا د حضرت انس رضي الله عنه وراره دې.ځكه چه عبدالله بن ابى طلحه د حضرت انس رضي الله عنه مور شريك رور دې.([4])

---

[1])قوله:..عن أبى واقد الليثى.. الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى صحيحه. (٦٨\١) فى كتاب الصلاة. باب الحلق والجلوس فى المسجد. رقم(٤٧٤) ومسلم فى صحيحه (٢١٧\٢) كتاب السّلام. باب من أتى مجلساً فوجد فرجة فجلس فيها و إلا وراءهم. والترمذى فى جامعه. فى كتاب الإستيذان. باب (بدون ترجمة. بعد باب ماجاء كراهية أن يقول: عليك السلام) رقم(٢٧٢٤) و أحمد فى مسنده(٢١٩\٥)_

[2]) كشف البارى(١١٣\٢)_

[3]) كشف البارى(٨٠\٢)_

[4]) تهذيب الكمال(٤٤٤\٢)_

ددوى كنيت ابويحي يا ابو نجيح دې.[١]

دوى د خپل پلار عبدالله بن ابى طلحه، د خپل تره حضرت انس، د ذكوان ابوصالح السمان، عبدالرحمن بن ابى عمرة، ابومره مولى د عقيل بن ابى طالب او ابوالمنذر مولى د ابى ذر رضي الله عنه وغيره نه روايت كوى

ددوى نه حماد بن سلمه، سفيان بن عيينه، امام اوزاعى، يحي بن ابى كثير، يحي بن سعيدانصارى، عبدالملك بن عبدالعزيزبن جريج اوعكرمه بن عمار رحمهم الله غيره روايت كوى[٢]

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى: «ثقة حجة»[٣]

امام ابوزرعه، امام ابوحاتم، او امام نسائى رحمه الله فرمائى: «ثقة»[٤]

امام ابن سعد رحمه الله فرمائى: «وكان ثقة كثير الحديث»[٥]

ابن حبان رحمه الله فرمائى: «وكان مقدما في رواية الحديث والإتقان فيه»[٦]

امام عجلى رحمه الله فرمائى: «مدني بصري تابعي ثقة»[٧]

په ١٣٢هـ يا ددې نه روستو وفات شوې دې.[٨] «رحمه الله تعالى رحمة واسعة»_

④ **ابومرة مولى د عقيل بن ابى طالب:** ددوى نوم يزيد دې.د ابومره كنيت سره مشهور دې.[٩] بعضو حضراتو ددوى نوم عبدالرحمن بيان كړې دې.[١٠] واقدى رحمه الله فرمائى چه دې په اصل كښې د ام هانى رضي الله عنها مولى وو.خو چونكه هر وخت به د عقيل بن ابى طالب رضي الله عنه په صحبت كښې اوسيدو.په دې وجه «مولى د عقيل» مشهور شو.[١١]

دوى د حضرت عقيل، عمرو بن العاص، مغيره بن شعبه، ابوالدرداء، ابوهريره، ابو واقد ليثى او ام هانى رضي الله عنهم نه روايت د حديث كړې دې.او د حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه زيارت ئې هم كړې دې.

ددوى نه په روايت كونكوكښې ابراهيم بن عبدالله بن حنين، اسحاق بن عبدالله بن ابى

---

[١] تهذيب التهذيب(١١\٢٤٠)_

[٢] د شيوخ او تلامذه تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(١٢\٤٤٤، ٤٤٥)_

[٣] تهذيب الكمال(١٢\٤٤٥)_

[٤] المصدرالسابق)_

[٥] المصدرالسابق)_

[٦] الثقات لابن حبان(٤\٢٣)_

[٧] تعليقات تهذيب الكمال(١٢\٤٤٦) نقلاً عن الثقات للعجلى الورقة: ٤)_

[٨] تقريب التهذيب(ص ١٠١).رقم(٣٦٧)_

[٩] تهذيب الكمال(٣٢\٢٩٠) وتقريب التهذيب(ص ٦٠٦) رقم(٧٧٩٧)_

[١٠] تقريب التهذيب(ص ٦٧٢) الكنى.)_

[١١] الطبقات لابن سعد(٥\١٧٧)_

طلحه، زيد بن اسلم، سالم ابو النضر، سعيد مقبرى، ابو حازم،وهب بن كيسان. او يزيد بن عبدالله بن الهاد رحمهم الله وغيره حضرات دى.(۱)

امام ابن سعد رحمه الله فرمائى.«وكان ثقة قليل الحديث»(۲)

امام عجلى رحمه الله فرمائى.«مدنى تابعى ثقة»(۳)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې.(۴)

حافظ ذهبى او حافظ ابن حجر رحمهما الله دوى لره ،،ثقه،، ګرځولې دې.(۵)،، رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

⑤ ابوواقد الليثي : حضرت ابو واقد ليثى رضي الله عنه د مشهورو صحابه كرامو رضي الله عنهم نه دې.ددوى د نوم په باره كښې اختلاف دې.حارث بن مالك، حارث بن عوف، او عوف بن الحارث دا درې اقواله ملاويږى.پخپل كنيت ،،ابو واقد،، سره مشهور دې.(۶)

امام بخارى، ابن حبان، باوردى، ابو احمد الحاكم رحمهم الله دوى لره په اصحاب بدر كښې شمار كړې دې.حالانكه ابو عمر رحمه الله انكار كړې دې. بعضې حضرات فرمائى چه دې د فتح مكې په موقعه مسلمان شو.او نور حضرات فرمائى.چه دې قديم الاسلام دې.(۷)

دوى د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه علاوه د حضرت ابو بكر او حضرت عمر رضي الله عنهما نه هم روايت كوى.(۸)

ددوى نه په روايت كونكو كښې سعيد بن المسيب، سليمان بن يسار، سنان بن ابى سنان لدؤلى، عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود، واقد بن ابى واقد، عبدالملك بن ابى واقد عروة بن الزبير، عطاء بن يسار، موسى بن طلحه بن عبيدالله او ابومرة مولى عقيل رحمهم الله دى.بلكه وئيلې شى.چه حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه هم ددوى نه روايت كړې دې.(۹)

ددوى نه ټول څليريشت حديثونه نقل دى.يو حديث متفق عليه دې.او په يو حديث كښې امام مسلم متفرد دې.(۱۰) په ۶۸ھ كښې ددوى وفات شوې دې.او د صحيح قول مطابق ددوى عمر ۸۵ كاله وو.(۱۱) والله اعلم.

---

۱) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(۱۳۲-۲۹۰)_

۲) ألطبقات(۱۷۷\۵)_

۳) تهذيب التهذيب(۳۷۵\۱۱)_

۴) الثقات(۵۶۱\۵)_

۵) الكاشف(۳۹۳\۲) رقم(۶۳۷۲) وتقريب التهذيب(ص۶۰۶) رقم(۷۷۹۷)_

۶) الإصابة(۲۱۵\۴) والإستيعاب بهامش الإصابة(۲۱۵\۴) وتهذيب الكمال(۳۸۶\۳۴)_

۷) الإصابة(۲۱۵\۴)_

۸) تهذيب الكمال(۳۸۶\۳۴)_

۹) المصدر السابق)_

۱۰) خلاصة الخزرجى(ص۴۶۲)_

۱۱) تقريب التهذيب(ص۲۸۲) رقم(۸۴۳۳)_

قوله أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا هُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ وَالنَّاسُ مَعَهُ إِذْ أَقْبَلَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ فَأَقْبَلَ اثْنَانِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَهَبَ وَاحِدٌ:

نبی کریم ﷺ یوځل په جمات کښې تشریف فرما وو او خلق ددوی سره وو. په دې کښې درې سړی بهر تیریدل دوه خو په دوی کښې نبی کریم ﷺ ته راغلل او یو لاړلو.

د حدیث باب مطلب په «أقبل ثلاثة نفر فأقبل اثنان» کښې په ښکاره دا اشکال کیږی چه کله درې سړی په شروع کښې راغلل نو بیا د دوو سړو د راتلو څه مطلب دې؟ نو د اشکال جواب طرف ته مونږ په ترجمه کولو کښې اشاره کړې ده. چه دا د «أقبل ثلاثة نفر يمرون فأقبل اثنان منهم إلى رسول الله ﷺ» په معنی کښې دې. ګویا رومبی ځائې کښې د ،،أقبل،، معنی ده. چه دوی تیریدل، نو متوجه شو. او په دویم ځائې کښې د ،،أقبل،، معنی ده چه مجلس مبارك طرف ته متوجه شو.(١)

دا هم داسې ده. لکه چه یو سړې ناست وی. او مخامخ څه خلق راروان وی. نو د لرې نه به دا په خیال کښې راځی. چه خلق دلته راروان دی. په هغوی کښې که دوه ځلور دلته راشی. او باقی لاړ شی. نو څوك ویونکې به وائی. چه دا جماعت دلته متوجه شو. درې خو مجلس ته راغلل. او باقی لاړل.

بیا د ،،نفر،، اطلاق د دریو نه واخله لسو سړو پورې کیږی. دلته د ،،أقبل ثلاثة نفر،، مطلب دا دې چه «أقبل ثلاثة رجال هم نفر»(٢)

بیا ،،نفر،، چونکه اسم جمع ده. په دې وجه ،،ثلاثة،، دپاره تمیز جوړیدل صحیح دی. چه دا د جمعې تقاضا کوی.(٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی. چه ماته ددې دریو واړو حضراتو نومونه چرته ملاو نشو.(٤)

قوله: قَالَ فَوَقَفَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

راوی فرمائی. چه دوی دواړه د رسول الله ﷺ مجلس مبارك سره اودریدل.

قوله: فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَرَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا وَأَمَّا الْآخَرُ فَجَلَسَ خَلْفَهُمْ وَأَمَّا الثَّالِثُ فَأَدْبَرَ ذَاهِبًا: په دوی کښې یو کس معمولی شان خالی ځائې په حلقه

---

(١) فتح الباری (١٥٦/١)_

(٢) المصدر السابق)_

(٣) المصدر السابق)_

(٤) فتح الباری (١٥٧/١)_

(مجمع) کښې اوکتلو نوهغه هلته کیناستلو. دویم سړی د خلقو شاته کیناستلو.او دریم، نو هغه شا اوګرځوله.او لاړلو. امام بخاری رحمه الله ددې ځائې نه خپله ترجمه اخستې ده.

قوله فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ عَنِ النَّفَرِ الثَّلَاثَةِ أَمَّا أَحَدُهُمْ فَأَوَى إِلَى اللّٰهِ فَآوَاهُ اللّٰهُ وَأَمَّا الْآخَرُ فَاسْتَحْيَا فَاسْتَحْيَا اللّٰهُ مِنْهُ وَأَمَّا الْآخَرُ فَأَعْرَضَ فَأَعْرَضَ اللّٰهُ عَنْهُ: بیا چه کله رسول الله ﷺ فارغ شو.نو ارشاد ئې اوفرمائیلو. زه تاسو ته د دریو واړو د حالاتو خبر درنکړم؟ یو د الله تعالی نه پناه اوغوښتله.هغه ته الله تعالی پناه ورکړله.دویم سړی ته حیا راغله.نوالله تعالی هم دهغه نه حیا اوکړله.دریم سړی اعراض اوکړو.نو الله تعالی هم دهغه نه اعراض اوکړو.

،،أوی،، په ړومبی ځائې کښې د مجرد ځنې دې.او په دویم ځائې کښې د مزید ځنې دې:

،،أوی یأوی،، معنی د پناه اخستلو ده.او د ،،أوی،، معنی د ځائې ورکولو او اوسولو ده.

د ((فأوی إلی الله فآواه الله)) مطلب دا دې.چه کوم سړې د الله او د الله تعالی د رسول ﷺ مجلس طرف ته ښکته شو.الله تعالی هغه ته د رحمت پخپله لمنه کښې ځائې ورکړو.او خپله رضا ئې ورکړله.(١)

قوله وَأَمَّا الْآخَرُ فَاسْتَحْيَا:

د استحیاء دوه معانې: ① مشهوره معنی خو ((استحیاء من المزاحمة)) کړې شوې ده.یعنی په مجلس کښې د داخلیدو، او مزاحمت کولو نه هغه ته شرم راغې.په دې وجه شاته کیناستلو.او د تخطی رقاب (په اوګو اوختلو) نه ئې ځان اوساتلو.(٢)

② دویمه معنی د ((استحیاء من الذهاب من مجلس رسول الله ﷺ)) کړې شوې ده.(٣)لکه چه دامام حاکم رحمه الله په روایت کښې استحیاء طرف ته اشاره ده.((ومضی الثانی قلیلاً ثم جاء فجلس))(٤) یعنی دویم کس هم د دریم سړی پشان روان شوې وو.خو بیا د تللو نه اوشرمیدو. او راواپس شو.او کیناستلو.

حضرت شیخ الحدیث رحمه الله فرمائی.چه ړومبۍ معنی یعنی که ((استحیاء من المزاحمة)) واخستلې شی.نو د دویم سړی مرتبه به د ړومبی سړی نه اوچته وی.کوم چه وړاندې لاړلو.او کیناستلو.او د دویم احتمال یعنی د ((استحیاء من الذهاب))په صورت کښې به د ړومبی سړی

---

(١) فتح الباری(١٥٧/١)_

(٢) فتح الباری(١٥٧/١)_

(٣) المصدر السابق)_

(٤) المصدر السابق)_

نه خو ادنی مرتبه وی.البته د دریم سړی نه به اعلی وی.کوم چه دسره په مجلس کښې ناست هم نه دې بلکه لاړلو.(١)

د حضرت شاه ولی الله رحمه الله لطیف توجیه حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه دا جمله د مدح او ذم دواړو احتمال لری.که ددې معنی «استحیاء من تخطی الرقاب والمزاحمة» وی.نو دا په مدح باندې دلالت کوی.او که ددې معنی «استحیاء من أخذ العلم» وی.نو دا په مذمت باندې دلالت کوی.(٢)

حضرت شاه ولی الله رحمه الله چه کومه ړومبۍ معنی بیان کړې ده.دا خو هغه معنی ده.کومه چه مونږ په ړومبی نمبر کښې بیان کړې ده.خو دویمه معنی کومه چه شاه صاحب بیان کړې ده.دا هیڅ یو شارح نه ده ذکر کړې.ګویا دا ددې جملې یوه دریمه معنی شوه.والله اعلم.

قوله: فَاسْتَحْيَا اللَّهُ مِنْهُ: الله تعالی دهغه نه حیاء اوکړله.یعنی دهغه په حیاء باندې الله تعالی هغه ته بدله ورکړله.چه دهغه د مزاحمت نه کولو په وجه ئې هغه باندې رحم او کرم اوکړو. دده معمولی شان تلل ئې معاف کړل.او په دې باندې ئې مؤاخذه (ګرفت) اونه فرمائیلو.(٣)

قوله: وَأَمَّا الآخَرُ فَأَعْرَضَ فَأَعْرَضَ اللَّهُ عَنْهُ: دریم سړی اعراض اوکړو.نو الله تعالی هم هغه سره د اعراض معامله اوفرمائیله.یعنی دهغه په اعراض کولو باندې الله تعالی د هغه نه ناراضه شو.

دا جمله خبریه ده او که دعائیه؟ دا جمله اخباریه ده او که دعائیه ده.دواړه احتمالات شته.(٤) اقرب دا ده.چه اخباریه وی.د قاضی عیاض رجحان هم دې طرف ته دې.(٥) څکه چه د حضرت انس رضی الله عنه روایت دې.«فاستغنی فاستغنی الله عنه»(٦) یعنی هغه استغناء ښکاره کړله.نو الله جل جلاله هم دهغه نه استغناء اوکړله.

امام نووی رحمه الله فرمائی.په ښکاره دا سړې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مجلس نه د عذر نه بغیر تلې وو.(٧) کنی معذوری داسې څیز دې.چه دا د خیر جالب (او راوستونکې) دې.ددې په وجه مؤاخذه نه کیږی.

خو ددې توجیه ضرورت هغه وخت دې.کله چه دریم سړې مؤمن وی.حالانکه دا عین ممکن

(١) أوجز المسالک(١١٤\١٥) جامع السلام.)_
(٢) رساله شرح تراجم ابواب البخاری مطبوعه مع صحیح بخاری(١\١٥)_
(٣) فتح الباری(١\١٥٧)و شرح نووی(٢\٢١٧)_
(٤) أوجز المسالک(١١٥\١٥) وفتح الباری(١\١٥٧)_
(٥) إکمال إکمال المعلم للأبی(٥\٤٤٣)_
(٦) فتح الباری(١\١٥٧)_
(٧) شرح نووی((٢\٢١٧) کتاب السلام، باب من أتی مجلساً فوجد فرجة فجلس فیها و إلا وراءهم)_

ده.چه هغه منافق وی.حافظ ابن عبدالبر رحمه الله هم دا اختیار کړې دې.هغه فرمائی.چه د نبی کریم ﷺ د مجلس نه صرف منافق اعراض کولې شی.(١) والله اعلم.

٩-((بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ))[ر:١٦٥٤]

ما قبل باب سره مناسبت د مذکوره باب او تیرشوی باب په مینځ کښې مناسبت دا دې.چه په دې باب کښې د ،،مبلَّغ،، (بفتح اللام) حال مذکور دې.او په تیر شوی باب کښې په حلقه کښې د کیناستونکی حال ذکر دې.چه دا منجمله مبلغین دې.ځکه چه د نبی کریم ﷺ حلقات (او مجالس) چه هغه به ځنګه د علوم او ددې د ښودلو په امر باندې مشتمل وو.هلته به غائبینو پورې د تبلیغ مکلف هم جوړیدې شو.(٢)

په ترجمة الباب کښې د مذکوره تعلیق تخریج په ترجمة الباب کښې د ذکرشوی معلق حدیث ((ربّ مبلغ أوعی من سامع)) تخریج پخپله امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې ،،بالمعنی،، او روستو ئې په کتاب الحج ((باب الخطبة أيام منى)) کښې ،،بلفظه،، کړې دې (٣) حافظ قطب الدین حلبی رحمه الله او ددوې اتباع کونکو بعضو شارحینو د دې حدیث د تخریج نسبت، ترمذی شریف کښې د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حدیث طرف ته کړې دې.(٤) چه ددې نه دا وضاحت معلومیږی.چه امام بخاری رحمه الله ددې تخریج نه دې کړې.حالانکه لکه ځنګه چه اوس تیرشو.امام بخاری رحمه الله پخپل صحیح کښې پخپله ددې تخریج کړې دې.نو ددې حواله ورکول پکار وو.

د ترجمة الباب مقصد حافظ قطب الدین حلبی رحمه الله فرمائیلی دی.چه ددې باب مقصد په دې خبره باندې تنبیه ده.که حدیث لوستونکې غیر عارف او غیر محقق وی.خو کوم څه چه هغه بیانوی.هغه محفوظ وی.نو د هغه حدیث هم اخستلې کیدې شی.(٥)

حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی.چه په دې باب سره د هغه باب ردکول مقصود دی.کوم چه مشهور دې.چه شاګرد د استاذ نه په علم کښې کمتر وی.(٦)

حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب رحمه الله فرمائی.چه د امام بخاری رحمه الله غرض ددې باب نه ددې خبرې ترغیب ورکول دی.چه د خان نه د کمتر نه هم دعلم حاصلولو اهتمام کول

---

(١) شرح الزرقانی علی مؤطا الإمام مالک (٣٦٠/٤) جام السلام. رقم(١٨٥٧)_
(٢) عمدة القاری(٣٤/٢)_
(٣) صحیح بخاری(٢٣٥/١) کتاب الحج. باب الخطبة أيام منى. رقم(١٧٤١)_
(٤) جامع ترمذی.کتاب العلم. باب ماجاء فی الحث علی تبلیغ السماع. رقم(٢٦٥٧)_
(٥) عمدة القاری(٣٤/٢)_
(٦) لامع الدراری(١٧/٢)_

پكار دى.[۱] خكه چه نبى كريم ﷺ فرمائى.((رب مبلغ أوعى من سامع)) د بعضو بغير واسطې اوريدونكو خلقو په مقابله كښې په واسطې سره اوريدونكى ،،أوعى،، يعنى ،،أحفظ،، او ،،أفهم،، وى.

امام وكيع او سفيان بن عيينه رحمهما الله فرمائى.((إنه لا ينبل المحدث حتى يكتب عمن هو فوقه و مثله ودونه))[۲]

د امام بخاري رحمه الله د رباعياتو حيثيت د حضرت امام بخارى رحمه الله نه چه كوم رباعيات نقل كولې شى.[۳] هغې كښې هم دا مضمون وارد دى.دا رباعيات اګرچه امام سيوطى رحمه الله بغير دخه تنقيد(او جرحې) نه ذكركړى دى.[۴] خو د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده.چه دا ثابت نه دى.[۵] والله اعلم.

حديث باب

۶۴- ((حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ(۱) ذَكَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَعَدَ عَلَى بَعِيرِهِ وَأَمْسَكَ

---

[۱] الأبواب والتراجم(ص ٤١)_

[۲] الجامع لأخلاق الراوى و آداب السامع للخطيب(۳۷۳) رقم(۱۶۶۵، ۱۶۶۶) الكتابة عن الأقران. و(ص۳۷٤) رقم(۱۶۷۲) كتابة الأكابر عن الأصاغر. ومقدمة ابن الصلاح(ص۲٤۸، ۲٤۹) النوع الثامن والعشرون معرفة آداب طالب الحديث. وفتح المغيث للعراقى(ص۳۰۰) وفتح المغيث للسخاوى(۲۹۶\۳) و تدريب الراوى(۱٤۷\۲، ۱٤۸)_

[۳] دا رباعيات دادى: واعلم أن الرجل لا يصير محدثا كاملاً فى حديثه إلا بعدأن يكتب أربعاً مع أربع. كأربع مثل أربع، فى أربع، عند أربع، بأربع . على أربع، عن أربع، لأربع. و كلّ هذه الرباعيات لاتتم إلا بأربع. مع أربع. فإذا تمت له كلها، هان عليه أربع، وابتلى بأربع . فإذا صبر على ذالك أكرمه الله فى الدنيا بأربع .و أثابه فى الآخرة بأربع.. اوګورئ: تدريب الراوى((۱۵۷\۲) آخر النوع الثامن والعشرين معرفة آداب طالب الحديث، و مقدمة أوجز المسالك(ص۱۲۹)_

[۴] اوس وړاندې حواله تيره شوې ده.)_

[۵] مقدمة أوجز المسالك(ص۱۳۰)_

[۱]قوله ..عن أبيه..ألحديث أخرجه البخارى أيضاً فى صحيحه (۲۱\۱) فى كتاب العلم. باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب. رقم(۱۰۵) وفى (۲۳۵\۱، ۲۳۵) كتاب الحج، باب الخطبة أيام منى. رقم(۱۷٤۱) وفى(٤۵۳\۱، ٤۵٤) كتاب بدءالخلق، باب ماجاء فى سبع أرضين. رقم(۳۱۹۷) وفى (۶۳۲\۲) كتاب المغازى. باب حجة الوداع. رقم(٤٤۰۶)وفى (۶۷۲\۲) كتاب التفسير. سورة براء، باب: إن عدة الشهور عندالله اثنا عشر شهراً فى كتاب الله..... رقم(٤۶۶۲) وفى(۸۳۲\۲) كتاب الأضاحى. باب من قال: الأضحى يوم النحر. رقم(۵۵۵۰) وفى(۱۰٤۸\۲) كتاب الفتن باب قول النبى ﷺ لا ترجعوا بعدى كفاراً يضرب بعضكم رقاب بعض.رقم(۷۰۷۸). وفى(۱۱۰۹\۲) كتاب التوحيد. باب [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

إنسان بخطامه أو بزمامه قال أي يوم هذا فسكتنا حتى ظننا أنه سيسميه سوى اسمه قال أليس يوم النحر قلنا بلى قال فأي شهر هذا فسكتنا حتى ظننا أنه سيسميه بغير اسمه فقال أليس بذي الحجة قلنا بلى قال فإن دماءكم وأموالكم وأعراضكم بينكم حرام كحرمة يومكم هذا في شهركم هذا في بلدكم هذا ليبلغ الشاهد الغائب فإن الشاهد عسى أن يبلغ من هو أوعى له منه)) [١٠٥، ١٦٥٤، ٣٠٢٥، ٤١٤٤، ٤٣٨٥، ٥٢٣٠، ٦٦٦٧، ٧٠٠٩]

رجال الحديث

① مسدد: دا مشهور امام حديث مسدد بن مسرهد اسدى رحمه الله دي. ددوى مختصر حالات د كتاب الايمان ((باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه)) لاندې تير شوى دى.[1]

② بشر: دا بشر بن المفضل بن لاحق رقاشى بصرى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابو اسماعيل دې.[2]

دوى د اسماعيل بن اميه، حميد الطويل، خالد الحذاء، سعيد بن ابى عروبه، سلمه بن علقمه، سهيل بن ابى صالح، شعبه بن الحجاج، عاصم بن كليب، عبدالله بن عون، يحي بن سعيد انصارى، هشام دستوائى، محمد بن المنكدر، قرة بن خالد او يونس بن عبيد رحمهم الله وغيره نه د حديثو سماع كړې ده.

ددوى نه روايت كونكو كښې امام احمد بن حنبل، اسحاق بن راهويه، حميد بن مسعدة، عبيدالله بن عمر القواريرى، عثمان بن ابى شيبه، عفان بن مسلم، على بن المدينى، عمرو بن على، مسدد بن مسرهد، نصر بن على جهضمى، ابو الوليد هشام بن عبدالملك طيالسى. او يعقوب بن ابراهيم دورقى رحمهم الله وغيره دى.[3]

امام احمد رحمه الله فرمائى: ((إليه المنتهى فى التثبت فى البصرة))[4]

د امام يحي بن معين رحمه الله نه تپوس اوكړې شو ((من أثبت شيوخ البصريين؟)) نو دوى د يو جماعت نوم واخستلو. په هغوى كښې ئې د بشر بن المفضل نوم هم واخستلو.[5]

.....دتيرمخ بقيه حاشيه] قول الله تعالى: وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة. رقم(٧٤٤٧). ومسلم فى صحيحه (١٢/٦٠، ٦١) فى كتاب القسامة. باب تغليظ تحريم الدماء والأعراض والأموال. و أبوداؤد فى سننه فى كتاب المناسک. باب الأشهر الحرم. رقم(١٩٤٧) و(١٩٤٨). وابن ماجه فى سننه. فى المقدمة. باب من بلّغ علماً. رقم(٢٣٣)_

[1] كشف البارى((٢\٢))_

[2] تهذيب الكمال(١٤\١٤٧، ١٤٨)_

[3] د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(١٤\١٤٨-١٥٠)_

[4] [illegible] (١٤\١٥٠)

امام ابوزرعه، امام ابوحاتم او امام نسائی رحمه الله فرمائی: ،،ثقة،،(١)
امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی: ((وكان ثقة كثير الحديث))(٢)
امام ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(٣)
امام عجلی رحمه الله فرمائی: ((،،ثقة فقيه البدن))(٤) ثبت في الحديث، حسن الحديث، صاحب سنة))(٥)
امام بزار رحمه الله فرمائی: ،،ثقة،،(٦)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: ((وكان حجة))(٧)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ((ثقة ثبت عابد))(٨)
په ١٨٧ هـ کښې ددوی وفات اوشو.(٩) ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

④ ابن عون: دا عبدالله بن عون بن ارطبان مزنی بصری رحمه الله دې. ددوی کنیت ابوعون دې.(١٠)
دوی دحضرت انس رضی الله عنه زیارت خو کړې دې. البته ددوی نه ئې سماع ثابت نه ده.(١١)
دوی د ابو وائل شقیق بن سلمه، شعبی، حسن بصری، محمد بن سیرین، قاسم بن محمد، ابراهیم نخعی، مجاهد، سعید بن جبیر، مکحول انس بن سیرین، رجاء بن حیوه او ابورجاء مولی د ابوقلابه رحمهم الله وغیره نه روایت د حدیث کوی.

---

(١) المصدر السابق)_
(٢) طبقات ابن سعد(٧\٢٩٠)
(٣) الثقات لابن حبان(٦\٩٧)_
(٤) قال الشيخ محمد عوامة نقلاً عن الشيخ العلامة عبدالله الغُمادي: ،،كلمة، فقيه البدن. يقولها المحدثون. ويقول الأصوليون: ،،فقيه النفس،، و معناها: أن الشخص تمكن في الفقه حتى اختلط بلحمه ودمه، وصار سجية فيه. ومراد المحدثين بها ترجيح الراوى الموصوف بها ولوكان أقل من الثقة. بحيث لو تعارضت رواية الصدوق الفقيه البدن مع رواية الثقة غيرالمتقن، قدّمت رواية الصدوق المذكور. أنظر دراسات بين يدى ،،الكاشف،،(١\٤٣) الفاظ الجرح والتعديل في ،،الكاشف،،)_
(٥) تهذيب التهذيب(١\٤٥٩)_
(٦) المصدر السابق)_
(٧) الكاشف(١\٢٦٩، ٢٧٠) رقم(٥٩٤)_
(٨) تقريب التهذيب(ص ١٤٤) رقم(٧٠٣)_
(٩) تهذيب الكمال (٤\١٥١)_
(١٠) تهذيب الكمال(١٥\٣٩٤)_
(١١) تهذيب الكمال(١٥\٣٩٥) وقال الذهبي في السير(٦\٣٦٤) وما وجدت له سماعاً من أنس بن مالك، ولا من صحابي، مع أنه ولد في حياة ابن عباس وطبقته، وكان مع أنس بالبصرة، وقد ورد عنه أنه رأى أنساً وعليه عمامة خز،،)_

ددوى نه سفيان ثورى، شعبه بن الحجاج، عبدالله بن المبارك، نضربن شميل، اسماعيل بن عليه، يزيد بن هارون، اسحاق الارزق، ازهر السمان، ابوعاصم النبيل او امام اصمعى رحمهم الله روايت د حديث كوى.[1]

امام على بن المدينى رحمه الله فرمائى. «جمع لابن عون من الإسناد مالا يجمع لأحد من أصحابه....»[2]

هشام بن حسان رحمه الله فرمائى. «حدثنى من لم ترعيناى مثله» او بيا دوى ابن عون طرف ته اشاره اوكړله.[3]

امام عبدالله بن المبارك رحمه الله فرمائى. «ما رأيت أحداً ذكر لى قبل أن ألقاه، ثم لقيته إلا وهو على دون ما ذكر لى، إلا ابن عون، وحيوة، أو سفيان، فأما ابن عون فلوددتُ أنى لزمته حتى أموت أو يموت»[4]

عبدالرحمن بن مهدى رحمه الله فرمائى. «ما كان بالعراق أحداً أعلم بالسنة منه»[5]

قره بن خالد رحمه الله فرمائى. «كنا نتعجب من ورع ابن سيرين فأنساناه ابن عون»[6]

عيسى بن يونس رحمه الله فرمائى. «كان أثبت من هشام يعنى ابن حسان»[7]

ابو حاتم رحمه الله فرمائى. «ثقة وهو أكبر من التيمى»[8]

ابن سعد رحمه الله فرمائى. «وكان ثقة كثير الحديث ورعاً»[9]

امام نسائى رحمه الله فرمائى. «ثقة مامون»[10] او په يومقام كښې فرمائى. «ثقة ثبت»[11]

ابن حبان رحمه الله فرمائى. «كان عبدالله بن عون من سادات أهل زمانه عبادة، وفضلاً وورعاً، ونسكاً، وصلابة فى السنة، وشدة على أهل البدع»[12]

---

[1] د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال (١٥\٣٩٥، ٣٩٧) وسير أعلام النبلاء (٦\٣٦٤، ٣٦٥)_

[2] تهذيب الكمال(١٥\٣٩٧)_

[3] سير أعلام النبلاء(٦\٣٩٥)_

[4] تهذيب الكمال(١٥\٤٠٠)_

[5] المصدر السابق)_

[6] المصدر السابق)_

[7] تهذيب التهذيب(٥\٣٤٨)_

[8] المصدر السابق)_

[9] طبقات ابن سعد(٧\٢٦١)_

[10] تهذيب التهذيب(٥\٣٤٨)_

[11] المصدر السابق)_

[12] الثقات لابن حبان(٧\٣)_

امام بزار رحمه الله فرمائی: «کان علی غایة من التوقی»(۱)

عثمان بن ابی شیبه رحمه الله فرمائی: «ثقة صحیح الکتاب»(۲)

امام عجلی رحمه الله فرمائی: «ثقة رجل صالح»(۳)

ددوی نه اصحابو د اصول سته روایات اخستي دی.(۴)

په ۱۵۱ھ کښې دوی وفات شو.(۵) «رحمه الله تعالی رحمة واسعة»۔

④ **ابن سیرین:** دا امام محمد بن سیرین بصری رحمه الله دې. ددوی حالات د کتاب الایمان «باب اتباع الجنائز» لاندې تیر شوی دی.(۶)

⑤ **عبدالرحمن بن ابی بکرة:** دا د حضرت ابوبکره نفیع بن الحارث ثقفی رضی الله عنه خوئې دې. ددوی کنیت ابوبحر یا ابوحاتم دې. دوی ته د «أول مولود ولد فی الإسلام بالبصرة» اعزاز حاصل دې.(۷)

دوی دحضرت عبدالله بن عمرو، حضرت علی، دخپل پلار حضرت ابوبکره، اشج عصری، او اسود بن سریع رضی الله عنهم نه روایت کوی.

ددوی نه ابوبشر جعفر بن ابی وحشیه، خالد الحذاء، عبدالله بن عون، عبدالملک بن عمیر، قتاده، محمد بن سیرین، او یونس بن عبید رحمهم الله وغیره حضرات روایت د حدیث کوی.(۸)

امام ابن سعد رحمه الله فرمائی: «وکان ثقة له أحادیث و روایة»(۹)

امام عجلی رحمه الله فرمائی: «بصری تابعی ثقة»(۱۰)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: «ولد زمن عمر، وکان ثقة کبیر القدر مقرئاً عالماً»(۱۱)

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(۱۲)

---

۱) تهذیب التهذیب(۵/۳٤۸)۔

۲) تهذیب التهذیب(۵/۳٤۹)۔

۳) المصدر السابق)۔

۴) پورته ذکرشوی کتب رجال)۔

۵) الکاشف(۲/۱۱۵۸) رقم(۲۸۹۶)۔

۶) کشف الباری(۲/۵٤٤)۔

۷) تهذیب الکمال(۱۷/۵) و سیر أعلام النبلاء(٤/۳۱۹، ۳۲۱)۔

۸) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګوره: تهذیب الکمال(۱۷/۵، ۶)۔

۹) الطبقات لابن سعد((۱۹۰/۷)۔

۱۰) تهذیب التهذیب(۶/۱٤۸)۔

۱۱) سیر أعلام النبلاء(٤/۳۲۱)۔

۱۲) الثقات لابن حبان(۵/۷۷)۔

امام نووى رحمه الله فرمائى: «والعلماء على توثيقه»[1]
په ۹۲هـ كښې ددوى وفات اوشو.[2] «رحمه الله تعالى رحمة واسعة»۔

⑥ **حضرت ابوبكره رضي الله عنه:** د حضرت ابوبكره رضي الله عنه حالات د كتاب الايمان «باب وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فأصلحوا بينهما» لاندې تير شوى دى.[3]

قوله ذَكَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَعَدَ عَلَى بَعِيرِهِ: حضرت ابوبكره رضي الله عنه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم ذكر اوكړو چه دوى (صلى الله عليه وسلم) پخپل اوښ باندې ناست وو.

په «ذكر» كښې ضمير كوم طرف ته راجع دې؟ په دې جمله كښې «ذكر» كښې ضمير مستتر حضرت ابوبكره رضي الله عنه طرف ته راجع دې. په بعضو نسخو كې ددې نه وړاندې «قال» هم شته. په دې كښې موجود ضمير مستتر عبدالرحمن بن ابى بكره طرف ته راجع دې.

قوله وَأَمْسَكَ إِنْسَانٌ بِخِطَامِهِ أَوْ بِزِمَامِهِ: او يو سړى د اوښ مهار يا پيزوان (د پوزې رسۍ) نيولې وه.

د انسان نه څوک مراد دې؟ بعض حضرات فرمائى چه ددې نه حضرت بلال رضي الله عنه مراد دې. ځكه چه د نسائى په روايت كښې حضرت ام سلمه رضي الله عنها فرمائى: «حججت في حجة النبي صلى الله عليه وسلم فرأيت بلالاً يقود بخطام راحلته.....»[4]

او بعضې حضرات فرمائى چه دا عمرو بن خارجه وو. ځكه چه د سنن په روايت كښې حضرت عمرو بن خارجه رضي الله عنه نه نقل دى: «كنت آخذاً بزمام ناقة النبي صلى الله عليه وسلم.....»[5]

---

[1] تهذيب الأسماء واللغات (۱\۲۹۵)۔
[2] سير أعلام النبلاء (۱٤\۳۲۰)۔
[3] كشف البارى (۲\۲۲۵)۔
[4] سنن النسائى الصغرى (۲\٤۸، ٤۹) كتاب مناسك الحج. باب الركوب إلى الجمار و إستظلال المحرم. والسنن الكبرى (۲\٤۳۶) كتاب الحج. باب الركوب إلى الجمار واستظلال المحرم. رقم (٤۰۶۶)۔
[5] قال الحافظ فى الفتح (۱\۱۵۸) «وقد وقع فى السنن من حديث عمرو بن خارجة قال: كنت آخذاً بزمام ناقة النبى صلى الله عليه وسلم إنتهى. فذكر بعض الخطبة. ولكنى لم أجد هذا اللفظ فيما رجعت إليه من المصادر فقد أخرج هذا الحديث النسائى فى سننه الصغرى (۲\۱۳۱) كتاب الوصايا. باب إبطال الوصية للوارث. وفى سننه الكبرى (٤\۱۰۷) كتاب الوصايا. باب إبطال الوصية للوارث. رقم (۶٤۶۸، ۶٤۷۰) والترمذى فى جامعه فى كتاب الوصايا. باب ما جاء لاوصية لوارث. رقم (۲۱۲۱) و إبن ماجه فى سننه. فى كتاب الوصايا. باب لاوصية لوارث. رقم (۲۷۱۲) والدارمى فى سننه. (۲\۵۱۱) فى كتاب الوصايا. باب الوصية للوارث. رقم (۳۲۶۰) وليس فى واحد من هذه المصادر اللفظ الذى نقله الحافظ عن «السنن». نعم روى أحمد فى مسنده (٤\۱۷۶، وص۲۳۸) كنت آخذا بزمام ناقة رسول الله صلى الله عليه وسلم..... فكان ما قاله الحافظ. وقد وقع فى السنن...... سبق قلم. وقد كان يريد أن يكتب. وقد وقع فى مسند أحمد. والله اعلم)۔

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه صحیح دا ده چه دا پخپله د حدیث راوی یعنی حضرت ابوبکره رضی الله عنه دي خکه چه د اسماعیلي په روایت کښې هم په دې حدیث کښې تصریح موجود ده «عطب رسول الله ﷺ على راحلته يوم النحر، وأمسكت، إما قال: بخطامها، وإما قال: بزمامها»[1]

ددې روایت نه یوه فائده دا هم حاصله شوه چه په روایت د باب کښې چه د خطام او زمام په مینځ کښې کوم تردید او شك وارد دې د حضرت ابوبکره رضی الله عنه د طرفه نه دې بلکه ددوی نه لاندې د یو راوی د طرفه دې.[2]

خطام او زمام دواړه یو دی؟ اوکه دواړو کښې فرق دې؟ حافظ ابن حجر رحمه الله دواړه مترادف ګرخولي دی. او فرمائیلي ئې دی چه د اوښ په پوزه کښې حلقه اچولې شي. په دې حلقه کښې د دواړو طرفه چه کومه رسئ تړلې شي. هغې رسئ ته ،،خطام،، یا ،،زمام،، وائی.[3]

صاحب د مختارالصحاح هم د ,,خطام،، تفسیر ,, زمام،، سره کړې دې[4] او بیا د ,,زمام،، تفسیر هم هغه دې. کوم چه اوس پورته مونږ ذکرکړو. نوره اضافه ئې دا هم کړې ده چه دې ،،زمام،، (رسئ) سره ،،واګې،، هم تړلې شي. او کله کله په واګو باندې د ,,زمام،، اطلاق کولې شي.[5]

او د لغت د نورو اصحابو د تشریح نه معلومیږی چه په ،،خطام،، او ،،زمام،، کښې فرق دې ،،زمام،، هغه نرئ رسئ ته وائی. کوم چه په پوزه کښې اچولې شي. او ،،خطام،، واګو ته وائی.[6] والله اعلم.

قوله: قَالَ أَيُّ يَوْمٍ هَذَا فَسَكَتْنَا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ سِوَى اسْمِهِ قَالَ أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا بَلَى: نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو. دا کومه ورځ ده؟ مونږ خاموش شو تردې چه مونږ اوګنړله چه نبی کریم ﷺ به ددې بل څه نوم اوښائی. نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چه آیا دا یوم النحر نه ده؟ مونږ اوونیل. ولې نه ده.

په روایت باب کښې تعارض او دفع د تعارض په روایت باب کښې ،،سکتنا،، دې او د کتاب الحج په روایت کښې «قلنا: الله ورسوله أعلم» دې.[7] په ښکاره دې دواړو روایتونو کښې تعارض شان معلومیږی. ددې جواب دا دې چه کیدې شي چه بعضو حضراتو سکوت کړې وی. او بعضو حضراتو ،،الله ورسوله أعلم،، وئیلې وی.

---

[1] فتح الباری (۱۵۸/۱)_

[2] المصدر السابق)_

[3] المصدر السابق)_

[4] مختار الصحاح (ص ۱۸۱) ماده ،،خطم،،)_

[5] مختار الصحاح (ص ۲۷۵) ماده، زمم،،)_

[6] النهایة. (۱۵۰/۲) ماده ،،خطم،،)_

[7] صحیح بخاری (۲۳٤/۱) کتاب الحج. باب الخطبة أیام منی. رقم (۱۷٤۱)_

دا هم کیدې شي.چه په رومبی خل ونیلو باندې ئې سکوت کړې وی.او په دویم خلی تپوس کولو باندې ئې ،،الله ورسوله أعلم،، ونیلې وی.
خو دا دواړه جوابونه د احتمال محض په درجه کښې دی.په اصل کښې صحابه کرامو رضي الله عنهم ،،الله ورسوله أعلم،،ونیلی وو.خودا راوی بعضې ځائې کښې اختصارسره،،فسكتنا،،سره تعبیر کړو.«أى فسكتنا عن الجواب» ښکاره ده.چه ،،الله ورسوله أعلم،، جواب نه دې.بلکه دا سکوت عن الجواب دې.او جواب الله او د الله تعالی رسول ﷺ طرف ته مفوض (او سپارلې) کیږی.
بیا د حضرت ابوبکره رضي الله عنه په روایت کښې خو دا دی.چه صحابه کرامو رضي الله عنهم،،الله ورسوله أعلم،، اوونیل.او په کتاب الحج کښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په روایت کښې راځی.چه صحابو رضي الله عنهم په جواب کښې ،،یوم حرام،، اوونیل.[1] په دې.طریقه دې دواړو روایتونو کښې تعارض شو.
دا تعارض په ډیرو طریقو سره لرې کړې شوې دې:
① اول دا چه نبی کریم ﷺ کله سوال اوفرمائیلو.نو بعضو خلقو،،الله ورسوله أعلم،،اوونیل.او بعضو ،،یوم حرام،، اوونیل.خو دا بعید (او نا مناسب) معلومیږی.
② دویم جواب دا کیدې شي.چه ممکن ده.نبی کریم ﷺ دوه خل تپوس کړې وی.په رومبی خل دې حضراتو ،،الله ورسوله أعلم،،ونیلې وی.او په دویم خل ئې ،،یوم حرام،، ونیلې وی.خو سیاق او طرز د حدیث دا جواب هم لرې (او نا مناسب) ګنړی.
③ دریم جواب دا دې.چه کیدې شي.نبی کریم ﷺ دوه ورځې خطبه ورکړې وی.په رومبۍ ورځ خو صحابه کرامو رضي الله عنهم،،الله ورسوله أعلم،،ونیلې وی.او په دویمه ورځ د جواب معلومیدو په وجه ئې ،،یوم حرام،، ونیلې وی.خو دا هم بعید معلومیږی.
④ څلورم جواب دا دې.او هم دا اقرب (او مناسب) معلومیږی.چه د حضرت ابوبکره رضي الله عنه روایت مفصل اوحضرت ابن عباس رضي الله عنهما روایت مختصر اومجمل دې.د حضرت ابوبکره رضي الله عنه په روایت کښې دا دی.چه نبی کریم ﷺ کله اوفرمائیل.،،أى يوم هذا؟،، نو صحابه کرامو رضي الله عنهم ،،الله ورسوله أعلم،، اوونیل.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.،،أليس يوم النحر؟،، صحابو جواب ورکړو.،،بلى،،_ نو اوس د ټولو مختصر خلاصه دا راووتله.چه د نبی کریم ﷺ په جواب کښې صحابه کرامو رضي الله عنهم ،،یوم حرام،، اوونیل.د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په روایت کښې اصل مضمون باندې نظر اچولو سره اختصار سره تعبیر کړې شو.او اوونیلی شو.چه دنبی کریم ﷺ په جواب کښې صحابو رضي الله عنهم ،،یوم حرام،، اوونیل.والله اعلم.

---

[1] صحيح بخاری(٢٣٤/١) كتاب الحج. باب الخطبة أيام منى. رقم(١٧٣٩)_

قوله قَالَ فَأَيُّ شَهْرٍ هٰذَا فَسَكَتْنَا حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ فَقَالَ أَلَيْسَ بِذِي الْحِجَّةِ قُلْنَا بَلٰى: نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو.چه دا کومه میاشت ده؟ مونږ خاموش شو.تردې چه مونږ اوګنړل.چه ددې میاشت به بل څه نوم اوښائی.بیا ئې تپوس اوکړو.چه آیا دا ذوالحجه نه ده؟ مونږ اووئیل.ولې نه ده.

نبی کریم ﷺ سوالات څکه کول.چه صحابه کرام ښه متوجه شی.او د نبی کریم ﷺ خبرې اوریدو دپاره تیارشی.

قوله قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِي شَهْرِكُمْ هٰذَا فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا: نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.ستاسو وینې، مال او عزت په یو بل باندې داسې حرام دی.لکه څنګه ستاسو ددې ورځې حرمت، ستاسو په دې میاشت کښې، او ستاسو په دې ښار کښې (حرام دی).

یو اشکال او دهغې جواب: په تشبیه کښې ،،مشبه به، د ،،مشبه،، نه اقوی وی.دلته مشبه (چه حرمت د وینې او عزت اومال دې) د مشبه به (چه حرمت د ورځې او میاشت او ښار دی) نه اقوی دې؟

ددې جواب دا دې.چه په یو بل جهت سره دلته مشبه به د مشبه نه اقوی دې.هغه دې د حرمت شهرت، ددې خلقو په ذهن کښې د ورځې او میاشت او ښار حرمت زیات وو.او دا حرمت ددوی په مینځ کښې معروف او مشهور وو.او د جان ومال او عزت د جاهلیت په خلقو کښې هیڅ قدر نه وو.یوکس قتل کول، د یوکس مال لوټ کول، د یوکس عزت او حیا اخستل. ددوی د ګس لاس کار وو.په دې وجه نبی کریم ﷺ هغوی ته اوفرمائیل.چه لکه څنګه تاسو ورځ، میاشت او ښار محترم ګنړئ.او په دې کښې د ظلم نه خان ساتئ.دغه شان دا څیزونه هم حرام او قابل د احترام دی.په دې کښې هم د ظلم نه خان اوساتئ.(۱) والله اعلم.

قوله لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ: حاضر دې غائب ته اورسوی.

ددې نه معلومه شوه.چه کوم کس د مسئلې نه خبر وی.هغوی له پکار دی.چه هغوی ئې ناخبرو خلقو ته اوښائی.

قوله فَإِنَّ الشَّاهِدَ عَسٰى أَنْ يُبَلِّغَ مَنْ هُوَ أَوْعٰى لَهُ مِنْهُ: څکه ممکن ده چه حاضر سړې ئې یو داسې سړی ته اورسوی.چه هغه ددې خبرې د رسونکی نه زیات یادونکې او پوهیدونکې وی.

هم دا ترجمة الباب دې.یعنی ممکن ده.چه نبی کریم ﷺ لره په سترګو کتونکې کس، داسې سړی ته دین اورسوی.چه هغه دده نه افهم (زیات پوهیدونکې) او احفظ (زیات یاد ساتونکې) وی.او هم دغه شان شوی دی.د تابعینو په زمانه کښې بعضې داسې عالمان پیدا

---

(۱) فتح الباری (۱۵۹/۱)_

شوی دی چه هغوی د ډیرو صحابه کرامو ﷺ نه په حفظ او فهم کښې زیات اوچت وو ددې نه پس هم دا صورت حال پاتې شوې دې چه د تبع تابعینو په دور کښې بعضې داسې عالمان پیدا شو چه هغوی د ځان نه په وړاندې طبقه باندې اوچت وو. والله اعلم بالصواب.

۱۰- ((بَابُ الْعِلْمُ قَبْلَ الْقَوْلِ وَالْعَمَلِ))

((لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ﴾ (محمد:۱۹) فَبَدَأَ بِالْعِلْمِ ((وَأَنَّ الْعُلَمَاءَ هُمْ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ وَرَّثُوا الْعِلْمَ مَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ بِهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ)) ((وَقَالَ جَلَّ ذِكْرُهُ ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾ (فاطر:۲۸) وَقَالَ ﴿وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ﴾ (العنكبوت:۴۳) ﴿وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ﴾ (الملك:۱۰) ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ (الزمر:۹) وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ((مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ وَإِنَّمَا الْعِلْمُ بِالتَّعَلُّمِ وَقَالَ أَبُو ذَرٍّ لَوْ وَضَعْتُمُ الصَّمْصَامَةَ عَلَى هَذِهِ وَأَشَارَ إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ ظَنَنْتُ أَنِّي أُنْفِذُ كَلِمَةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ تُجِيزُوا عَلَيَّ لَأَنْفَذْتُهَا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ﴿كُونُوا رَبَّانِيِّينَ﴾ حُلَمَاءَ فُقَهَاءَ وَيُقَالُ الرَّبَّانِيُّ الَّذِي يُرَبِّي النَّاسَ بِصِغَارِ الْعِلْمِ قَبْلَ كِبَارِهِ))

تیرشوی باب سره مناسبت: په تیرشوی باب کښې د مبلغ او سامع ذکر وو. چونکه مبلغ (بکسر اللام) او مبلغ (بفتح اللام) د علم په ذریعه تعلیم او تعلم باندې قدرت حاصلولې شی په دې وجه ئې دلته د ((باب العلم قبل القول والعلم)) ترجمه منعقد کړې ده.(۱)

د ترجمة الباب مقصد او دتقدیم قسمونه: تقدم یا خو ذاتاً وی، یا زماناً او یا رتبةً وی. په تقدم ذاتی کښې مقدم، د موخر نه ذاتاً مخکښې وی. اګرچه د دواړو زمانه یوه وی. لکه د لاس او کنجۍ حرکت، چه زماناً اتحاد دې. خو ذاتاً د لاس حرکت د کنجۍ د حرکت نه مقدم دې ځکه چه کنجی د لاس په حرکت سره متحرك كيږی.

په تقدم زمانی کښې مقدم، د موخر نه د زمانې په اعتبار سره وړاندې وی. لکه د پلار زمانه د خوئی د زمانې نه مقدم ده.

په تقدم رتبی یا په تقدم بالرتبه والشرف کښې مقدم د موخر نه په مقام او مرتبه کښې فائق وی. اګرچه د زمانې په اعتبار سره موخر ولې نه وی. لکه څنګه چه نبی کریم ﷺ ته په صحابو باندې فوقیت (او برتری) حاصل وه. اګرچه ډیر صحابه کرام ددوی نه د سن او کال په اعتبار سره مشران وو.

د حضرت عباس ﷺ نه چا تپوس اوکړو. ((انت اکبر ام رسول الله ﷺ؟)) نو حضرت عباس ﷺ جواب ورکړو. ((هو اکبر منی وانا اسن منه))(۲) هغه زمانه لوئې دې. او زه د سن او کال په اعتبار

---

(۱) عمدة القاری (۲\۳۹)_
(۲) تهذیب الکمال (۱۴\۲۲۷) وروی أبوزرین: قیل للعباس: أیما أکبر أنت...[بقیه حاشیه په بل مخ....

سره د هغوی نه وراندې يم.
دعامو شارحينو رائې دا ده.چه د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې.چه علم دحصول په اعتبار سره د قول او عمل نه مقدم دې.مخکښې علم حاصلولې شى.ددې نه پس د عمل نمبر راخى.ددې نه پس د وعظ او تذکير او د درس تدريس نمبر راخى.
ذاتى اعتبار سره هم علم ته په عمل او قول باندې شرافت حاصل دې.ځکه چه د قول او عمل صحت په نيت باندې موقوف دې.او د نيت صحت په علم باندې موقوف دې.په دې طريقه ښکاره ده.چه علم ته په عمل باندې زماناً هم تقدم حاصل دې.او ددې نه دا هم معلومه شوه.چه علم ته په عمل باندې شرفاً او رتبتاً هم تقدم حاصل دې.
امام بخارى رحمه الله چه په دې باب کښې کوم آيات او آثار وغيره ذکرکړى دى.دوى په هغې باندې مجموعى طور باندې دلالت کوى.او هم دا اقرب معلوميږى.
علامه ابن المنير رحمه الله فرمائى.چه د امام بخارى رحمه الله ددې باب نه مقصد دا دې.چه علم د قول او عمل د صحت دپاره د شرط په درجه کښې دې. ترکومه پورې چه علم نه وى.تر هغه وخته پورې د قول او عمل اعتبار نه وى.ځکه چه علم د نيت مصحح دې.او نيت د عمل مصحح دې.چونکه دا خبره مشهوره ده.چه د عمل نه بغير علم نافع نه دې.په دې وجه دې باندې د تنبيه ضرورت پيدا شو.او په ترجمة الباب سره ئې اوښودل.چه علم ذاتاً د قول او عمل نه مقدم دې. (1)هم دا خبره علامه کرمانى او ابن بطال رحمهما الله فرمائيلې ده.(2)
علامه سندهى رحمه الله فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله په دې باب سره د قول او عمل په مقابله کښې د علم د شرف او مرتبې په اعتبار سره مقدم کيدل بيان کړې دې.تقدم زمانى بيانول مقصود نه دې.ځکه چه د باب لاندې کوم څه مذکور دى.د هغې نه تقدم بالشرف والرتبه معلوميږى.(3)
حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى.چه دلته تقدم زمانى مراد دې.او کوم څه چه د باب لاندې مذکور دى.هغه هم ددې مدعا د اثبات دپاره کافى او واضح دى.
ګويا د امام بخارى رحمه الله مقصد دا وهم لرې کول دى.چه چونکه په علم بلا عمل باندې وعيدونه وارد شوى دى.نو مقصر(کوتاهى کونکى) ته دسره علم حاصلول نه دى پکار.مصنف رحمه الله باب قائمولو سره دا اوښودل.چه ،،علم من حيث هوهو،،د عمل نه ذاتاً او زماناً مقدم دې.ترکومه پورې چه د عمل نه کولو تعلق دې.نو دا بالکل جدا څيز دې. چه دا موجب د تاوان او د وعيدونو مورد دې.(4) والله اعلم.

...دتيرمخ بقيه حاشيه] أم النبى ﷺ؟ فقال: هذا أكبر منى و أنا ولدت قبله...... رواه الطبرانى ورجاله رجال الصحيح. أنظر مجمع الزوائد (۲۷۰\۹) كتاب المناقب.باب ماجاء فى العباس عم رسول الله ﷺ ومن جمع معه من ولده.)_

(1) فتح البارى(۱۶۰\۱)_

(2) شرح الكرمانى(۲۹\۲، ۳۰)_

(3) حاشية السندى على البخارى(۴۳\۱)_

(4) تعليقات لامع الدرارى(۱۹\۲، ۲۰)_

قوله: لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ﴾ فَبَدَأَ بِالْعِلْمِ: خکه چه الله تعالی فرمائی،، نو تاسو پوهه شئ: چه د الله تعالی نه سوا بل څوك معبود نشته،، الله تعالی علم وړاندې بیان کړو.

د امام بخاری رحمه الله پخپل مقصد باندې استدلال: امام بخاری رحمه الله په قول او عمل باندې د علم په تقدم باندې استدلال دپاره دا آیت ذکرکړې دې.او دا استدلال د پوره آیت نه ثابتیږی.

﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾(۱) په دې آیت کښې مخکښې د علم ذکر فرمائیلې شوې دې.ددې نه پس دعمل یعنی د استغفار ذکر دې.ګویا چه استغفار په زړه سره وی.اوکه ژبې سره وی.دا به هغه وخت وی.کله چه علم صحیح وی.که علم صحیح نه دې.نو عمل به هم صحیح نه وی.

په دې آیت کښې براه راست خطاب اګرچه نبی کریم ﷺ ته دې.خو دا خطاب د نبی کریم ﷺ امت دپاره هم دې.(۲)

امام سفیان بن عیینه رحمه الله ددې آیت نه دعلم په فضیلت باندې استدلال کړې دې.(۳)

قوله: وَأَنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ: بلا شبه عالمان د انبیاو وارثان دی.

د حدیث مذکور تخریج: دا د حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه د یو حدیث ټکړه ده.چه دا امام احمد. ابوداؤد، ترمذی، دارمی پخپلو کتابونو کښې، او امام بخاری رحمه الله پخپل ،،تاریخ کبیر،، کښې موصولاً نقل کړې دې.(۴) ددې په سند کښې لږ شان اضطراب دې.(۵) خو حمزه کنانی رحمه الله ددې تحسین فرمائیلې دې.(۶)

د حدیث د مذکوره حصې راوړلو مقصد: چونکه امام بخاری رحمه الله دلته ددې د حدیث کیدو تصریح نه ده کړې.په دې وجه دا ددوی په تعالیقو کښې نه شمارلې کیږی.البته ددوی په ترجمه کښې ددې ذکرکول، ددې خبرې دلیل دې.چه ددې اصل موجود دې.د قرآن کریم آیت ﴿ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا﴾(۷) هم په دې باندې شاهد دې.(۸)

---

۱) سورة محمد:۱۹)_

۲) فتح الباری(۱۱۶۰۱)_

۳) حلیة الاولیاء(۳۰۵۱۷) ترجمة سفیان بن عیینه)_

۴) مسند احمد(۱۹۶۱۵) وسنن ابی داؤد. کتاب العلم. باب الحث علی طلب العلم. رقم(۳۶۴۱) و(۳۶۴۲) وجامع ترمذی، کتاب العلم، باب ماجاء فی فضل الفقه علی العبادة. رقم(۲۶۸۲) سنن ابن ماجه. المقدمة. باب فضل العلماء والحث علی طلب العم. رقم(۲۲۳) وسنن الدارمی(۱۱۰۱۱) المقدمة. باب فی فضل العلم والعالم. رقم(۳۴۲) والتاریخ الکبیر(۳۳۷۱۸) رقم(۳۲۲۹)_

۵) د اضطراباتو د تفصیل دپاره اوګورئ: عمدة القاری(۳۹۱۲، ۴۰)_

۶) فتح الباری(۱۱۶۰۱)

۷) فاطر:۳۲)_

۸) فتح الباری(۱۱۶۰۱)_

د نبي لغوي او اصطلاحي تعريف په دې حديث كښې عالمان د انبياو وارث ګرځولى شوى دى.
,,انبياء،، د ،،نبى،، جمع ده.نبى په لغت كښې خبر وركونكى ته وائى.او په اصطلاح كښې،،نبى،، د الله تعالى خبر وركونكى مخصوص كس ته وائى.دا ښكاره ده.چه خبر وركونكې هغه وخت خبر وركولې شى.چه وراندې نه هغه ته علم وى .د علم نه بغير خبر وركول ممكن نه دى. معلومه شوه.چه نبوت من حيث النبوت د صفات علميه څنو دې.په دې وجه امام بخارى رحمه الله د «العلم قبل القول والعمل» لاندې «وَأَنَّ الْعُلَمَاءَ هُمْ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ» ذكركړې دې.او فرمائيلى ئې دى.چه د حضرات انبياء عليهم السلام نه عالمان د علم ميراث حاصلوى.د مال دولت ميراث نه حاصلوى.هم دا ئې په «وإن الأنبياء لم يورثوا دينارا ولا درهما وإنما ورثوا العلم»[1] ونيلو سره واضح كړې دې.
چاسره چه څومره علم زيات وى.ګويا هغه ته د نبى ﷺ د وراثت نه هم دغومره حصه حاصل شوې ده.دلته په دې ارشاد كښې چه كوم صرف د علم ذكر دې.ددې نه علم صحيح او قوى مراد دې.چه ددې نه پخپله عمل ناشى او صادريږى.كه يوكس ټول كتابونه ږته كړى.او د عمل نه بې پرواه وى.نو هغه د شريعت په اصطلاح كښې علم نه دې.بلكه هغه وبال دې.په دې وجه ونيلې شى.چه علم هغه دې.كوم سره چه خشيت (يره) او تقوى پيدا شى.كله چه خشيت وى.نو عمل به هم دهغې مطابق وى.([2])

ايا «علماء امتى كانبياء بنى اسرائيل» حديث دې؟ عام واعظين «علماء أمتى كأنبياء بنى إسرائيل» د حديث په طور پيش كوى.خو د سند په اعتبار سره ددې هيڅ ثبوت نشته.د حديث امامانوعلامه دميرى،علامه زركشى،حافظ ابن حجرعسقلانى،حافظ سخاوى. او ملاعلى قارى رحمه الله ددې حديث نه انكاركړې دې.او فرمائيلى ئې دى.چه ددې هيڅ اصل نشته[3]
البته «إن العلماء هم ورثة الأنبياء» حديث، د هغې مضمون او معنى اداكولې شى.څكه چه هركله ددې امت عالمان د انبياو وارث اوګرځولى شو.نو ددوى به هغه كار وى.كوم چه به د بنى اسرائيلو انبياؤ كوو.څكه چه په بنى اسرائيلو كښې چه به كله يو نبى لاړلو.نو د هغه نه پس به الله تعالى دويم نبى تبليغ دپاره ليږلو.زمونږ د نبى ﷺ دا شان دې.چه ددوى نه پس د بل نوى نبى ضرورت پاتې نشو.البته د تبليغ ضرورت شته.الله تعالى دا كار د عالمانو نه واخستلو.نو كوم كار چه به د بنى اسرائيلو انبياؤ كوو.هغه ددې امت عالمان كوى.نو په «العلماء ورثة الأنبياء» سره په «علماء أمتى كأنبياء بنى إسرائيل» باندې استدلال كيدلې شى.او ونيلې كيدې شى.چه اګرچه ددې حديث لفظاً ثبوت نشته.خو دا معنى ثابت دې.

---

[1] د ..العلماء ورثة الأنبياء.. والا حديث جزء دې.او ددې تخريج لږ وراندې تير شوې دې.
[2] فضل البارى((۱۲/۳۷. ۳۸)_
[3] كشف الخفاء و مزيل الإلباس عما اشتهر من الأحاديث على ألسنة الناس(۶۴/۲)، والمصنوع فى معرفة الحديث الموضوع(ص۱۲۳)_

قوله وَرِثُوا الْعِلْمَ مَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ: دوى د علم ميراث پرېخودې دې.چاچه دا حاصل كړو.هغه لويه حصه حاصله كړله.

د لفظ ،،ورثوا،، تحقيق دا لفظ د باب تفعيل نه هم كيدې شى.او د مجرد نه هم كيدې شى.د باب تفعيل نه كيدل راجح دى.څكه چه د روايت سياق نه هم دا معلوميږى.((إن العلماء هم ورثة الأنبياء ،إن الأنبياء لم يورثوا دينارا ولا درهما، وإنما ورثوا العلم، فمن أخذه به أخذ بحظه أو بحظ وافر)) ((اللفظ للدارمي))

كه دا بالتشديد يعنى د باب تفعيل څنې وى.نو ددې ضمير به انبياء طرف ته راجع وى.او كه بالتخفيف يعنى د باب سمع نه وى.نو دا ضمير به علماء طرف ته راجع وى.( )

((مَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ)) **دا جمله خبر دې اوكه امر دې** كيدې شى.دا جمله معنى هم خبريه وى.مطلب دا دې.چه چا علم حاصل كړو.هغه ډير لوئې دولت حاصل كړو.او كيدې شى.چه لفظاً خبر وى.او معنى امر وى.مطلب دا دې.چه كه يوكس علم حاصل كړى.نو هغه له په ښه شان زيات مقدار كښې حاصلول پكار دى.والله اعلم.

قوله وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ بِهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ: چاچه هغه لاره اختيار كړله.په كوم سره چه هغه علم حاصلوى.نو الله تعالى به هغه دپاره دجنت لاره آسانه كړى.

ددې حديث تخريج دا مضمون لكه څنګه چه د حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه په روايت كښې وارد شوې دې.( ) دغه شان د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه هم منقول دى.كوم چه امام مسلم او امام ابوداوٴد رحمهما الله نقل كړې دې: ((عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ)) (اللفظ لمسلم)( )

) قدسبق تخريج هذا الحديث سابقاً فارجع إليه.)_

) فتح البارى(۱/۱۶۰)_

) دحضرت ابوالدرداء رضي الله عنه د حديث تخريج وړاندې د..وإن العلماء هم ورثة الأنبياء..لاندې تېرشوى دى)

) صحيح مسلم(۲/۳۴۵) كتاب الذكر والدعاء والتوبة والإستغفار. باب فضل الإجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر. و سنن أبى داوٴد. كتاب العلم. باب الحث على طلب العلم. رقم(۳۶۴۳). وجامع الترمذى كتاب العلم. باب فضل طلب العلم. رقم(۲۶۴۶) وكتاب القراءات. باب (بلا ترجمه. بعد باب ما جاء أنزل القرآن على سبعة أحرف)رقم(۲۹۴۵)..

دا حديث د ..من سلك طريقاً...... ټکړې نه بغير امام ابوداوٴد پخپل سنن كښې (كتاب العلم ..باب فى المعونة للمسلم.. رقم(۴۹۴۶). كښې امام ترمذى رحمه الله] بقيه حاشيه په بل مخ....

دا روايت امام بخارى رحمه الله پخپل كتاب كښې درج نكړو. خكه چه ددې په سند كښې معمولى شان اختلاف دې اختلاف دا دې چه دا روايت «الأعمش عن أبى صالح عن أبى هريرة» طريق سره نقل دې اوس په دې كښې كلام دې چه آيا امام اعمش د ابوصالح نه براه راست اوريدلې دې اوكه نه؟ خكه چه د ابوداؤد او ترمذى په يويو روايت كښې «حدثت عن أبى صالح» دې (١) چه ددې نه معلوميږى چه د اعمش او ابوصالح په مينځ كښې څوك واسطه شته. خو دا روايت امام مسلم رحمه الله په ډيرو طرقو سره نقل كړې دې په هغې كښې د ابواسامه په طريق كښې د «حدثنا أبو صالح عن أبى هريرة» تصريح موجود ده. (٢) نو كيدې شى چه اول اعمش په واسطه سره اوريدلې وى. او روستو ئې بلاواسطه اوريدلې وى. والله اعلم

ددې روايت مطلب دا دې چه كوم سړې دعلم د طلب دپاره سعى اوكړى او ددې په كوشش كښې لګيا وى. الله ﷻ به ددې اشتغال بالعلم په وجه دده دپاره دجنت لاره آسانه كړى. خكه چه كله علم حاصل كړى. نو ملكات فاضله به ده ته حاصل شى اعمال صالحه به ده ته معلوم شى. د الله تعالى محبت اوخشيت به دده په زړه كښې راشى. او دا ټول هغه امور دى. چه دا جنت ته بوتلونكى دى. په دې وجه به الله ﷻ دده دپاره دجنت لاره آسانه كړى

دلته هر ځائې كښې د علم فضيلت راروان دې. او دعمل قيد مذكور نه دې

قوله وَقَالَ جَلَّ ذِكْرُهُ ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾: (٣) او الله تعالى فرمائيلى دى. د الله تعالى په بنده ګانو كښې د الله تعالى نه عالمان يريږى

خشيت (يريدل) يو عمل دې. دا عمل د ،،علماء،، دپاره ثابت كړې شوې دې معلومه شوه. چه مخكښې علم راځى. بيا د عمل نمبر وى.

مذكوره ايت نه د علم د فضيلت اثبات: ددې نه فضيلت د علم هم راوځى. خكه چه خشيت يو مقصودى څيز دې. دا د عالمانو دپاره ثابت كړې شوې دې. معلومه شوه چه علم ته فضيلت حاصل دې. چه د علم نه بغير دسره مقصود نه حاصليږى والله اعلم

ايا علم سره خشيت لازم دې؟ دلته دا سوال پيدا كيږى چه بعضې خلق عالمان وى خو په دوى كښې خشيت نه وى؟ ددې جواب دا دې. چه دا په حقيقت كښې دسره عالم نه دې. ﴿مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا﴾ (٤)

دتيرمخ بقيه حاشيه] پخپل جامع كښې (كتاب الحدود باب ما جاء في الستر على المسلم. رقم١٤٢٥. و كتاب البر والصلة. باب ماجاء في السترة على المسلم. رقم١٩٣٠) كښې هم نقل كړې دې ـ

(١) سنن أبي داؤد. كتاب الأدب. باب في المعونة للمسلم. رقم(٤٩٤٦) و جامع ترمذى. كتاب البرّ والصلة. باب ماجاء في السترة على المسلم. رقم(١٩٣٠)ـ

(٢) صحيح مسلم(٣٤٥/٢) كتاب الذكر والدعاء. باب فضل الإجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر.ـ

(٣) فاطر:٢٨.)ـ

(٤) الجمعة:٥.)ـ

دا هم ونيلى شوى دى.چه په دې آيت كښې دا نه دى ونيلى شوى.چه په عالم كښې خشيت لازمى دې.بلكه دا ونيلى شوى دى.چه خشيت مطلقه كامله كه موندلې كيږى.نو په عالم كښې به موندلې كيږى.

تنبيه دلته دا وضاحت ضرورى ذې.چه د عالم كيدو دپاره دا ضرورى نه ده.چه كتابونه اووانى.اوعالم جوړشى.بلكه ضرورى داده.چه د يوعالم په صحبت كښې اوسيدلې وى.او علم ئې حاصل كړې وى.كه دهغه نه د كتابونو ونيلوسره حاصل كړې شى.او كه د كتابونو نه بغيردهغه د خبرو او وعظ اونصيحت نه استفاده اوكړى.اوعلم حاصل كړې شى.والله اعلم.

قوله: وَقَالَ ﴿وَمَا يَعْقِلُهَآ إِلَّا الْعٰلِمُوْنَ﴾:(١) او وې فرمائيل.چه دې بيان كړې شوى مثالونو باندې عالمان پوهيږى.ددې نه هم د علم فضيلت حاصل شو.

قوله: ﴿وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ﴾:(٢) او جهنميان به وائى.كه مونږ د اهل علمو پشان اوريدلې.او پوهيدلې.نو د جهنميانو نه به نه كيدو.

يعنى علم حاصليږى اوريدو سره، او غور اوفكر او تدبر كولو سره.دوى نه د سماع طريقه اختيار كړله.او نه ئې د عقل او غور اوفكر طريقه اختيار كړله.

قوله: وَقَالَ ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾:(٣) او وې فرمائيل: .چه آيا عالمان او بې علمه برابريدې شى؟!

په دې آيت مباركه كښې په عالم او غير عالم كښې څه فرق دې؟ حالانكه عمل تول كوى.ددې باوجود په عالم او غير عالم كښې فرق كړې شوې دې.چه دا ددې خبرې دليل دې.چه علم ته تقدم حاصل دې.

د علماو پشان كښې د ابن دريد رحمه الله اشعار: ابن دريد رحمه الله د عالمانو پشان كښې يو څو ډير ښه اشعار ونيلى دى: ~

أهلاً وسهلاً بالذين أحبهم	و أودهم فى الله ذى الآلاء
أهلاً بقوم صالحين ذوى تقى	غر الوجوه و زين كل ملاء
يسعون فى طلب الحديث بعفة	و توقر و سكينة و حياء
لهم المهابة و الجلالة و النهى	و فضائل جلت عن الإحصاء
و مداد ما تجرى به أقلامهم	أزكى و أفضل من دم الشهداء
يا طالبى علم النبى محمد	ما أنتم و سواكم بسواء(٤)

---

(١) العنكبوت:٤٣.)_

(٢)الملک:١٠.)_

(٣) الزمر:٩.)_

(٤) جامع بيان العلم وفضله لابن عبدالبر(١/٣٧) باب تفضيل العلماء على الشهداء.)_

قوله وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُرِدْ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ:
او نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: الله تعالی چه د کوم کس سره دخیر اراده فرمائی.هغه ته فقه او دین کښې پوهه ورکوی.

د مذکوره حدیث تخریج دا د حضرت معاویه رضی الله عنه د نقل شوی مرفوع روایت حصه ده.چه ددې تخریج امام بخاری رحمه الله روستو موصولاً کړې دې.(۱)

د اکثرو حضراتو په روایت کښې دلته لفظ د ..یفقهه.. دې. حالانکه د مستملی په روایت کښې ..یفهمه.. دې.(۲)

ددې دویم روایت تخریج ابن ابی عاصم په ..کتاب العلم.. کښې کړې دې.(۳)

د حدیث مطلب واضح دې.چه الله تعالی د چا سره دخیر اراده اوفرمائی.هغه ته علم دین او د دین پوهه ورکوی.او علم چونکه وړاندې راخی. او د عمل نمبر روستو راخی په دې وجه د علم فضیلت او ددې تقدم ثابت شو. والله اعلم.

قوله وَإِنَّمَا الْعِلْمُ بِالتَّعَلُّمِ: او علم خو په زده کولو سره راځی.

د مذکوره حدیث تخریج دا د یو مرفوع حدیث ټکړه ده.چه دا امام طبرانی او ابن ابی عاصم رحمهما الله د حضرت معاویه رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل کړې دې.«یا أیها الناس! تعلموا،إنما العلم بالتعلم، والفقه بالتفقه و من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین»(۴)

او دا ټکړه د حضرت ابوالدرداء او حضرت عبدالله بن مسعود رحمهما الله نه هم نقل ده.(۵) د ماهرو مفتیانو نه د تربیت مکمل کولو نه بغیر فتوی ورکول صحیح نه دی

ددې حدیث په بناء باندې حضرات فقهاو لیکلی دی.چه کوم سړې د فتوی د ماهرینو نه (مفتیانو حضراتو) نه د ترتیبت مکمل کولو نه بغیر صرف کتابونو کتلو سره فتوی ورکړی.د هغه د خبرې اعتبار نشته.(۶)ځکه چه فتوی ورکول په زده کولو سره راځی.

---

۱) اوګورئ دوو بابونو نه پس ..باب من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین.. ددې حدیث پوره تخریج به انشاءالله په مذکوره باب کښې کولې شی.)۔

۲) فتح الباری(۱۶۱۱)_

۳) فتح الباری(۱۶۱۱) و تغلیق التعلیق(۷۹۱۲)_

۴) فتح الباری(۱۶۱۱ وتغلیق التعلیق(۷۸۱۲)_

۵) روی البزار نحوه من حدیث ابن مسعود موقوفاً ورواه ابونعیم الأصبهانی مرفوعاً وفی الباب عن أبی الدرداء وغیره، فتح الباری(۱۶۱۱) وانظر تغلیق التعلیق(۷۸۱۲)_

۶) قال ابن عابدین رحمه الله..وقد رأیت فی فتاوی العلامة ابن حجر: سئل فی شخص یقرأ و یطالع فی الکتب الفقهیة بنفسه ولم یکن له شیخ، یفتی و یعتمد علی مطالعته فی الکتب، فهل یجوز له ذالک أم لا.. فأجاب بقوله: لا یجوز له الإفتاء بوجه من الوجوه، لأنه عامی جاهل لایدری ما یقول، بل الذی یأخذ العلم عن المشائخ المعتبرین لا یجوز له أن یفتی من کتاب ولا من کتابین، قال النووی رحمه الله: ولا من عشرة؛ فإن العشرة والعشرین قد یعتمدون کلهم علی مقالة ضعیفة فی المذهب، فلا یجوز تقلیدهم [بقیه حاشیه په بل مخ.....

صرف مطالعې سره د جوړ شوي يو محدث دلچسپه واقعه ابن الجوزي رحمه الله يو خاني ليکلى دى چه يو محدث وو. هغوى حديث ونيلې وو. «نهى عن الحلق قبل الصلاة يوم الجمعة»[۱] هغه خلقو ته اوونيل چه څلويښت کاله تيرشو چه زه د جمعې په ورځ د مونځ نه وړاندې سر نه خرايم؟ چا تپوس اوکړو چه سر ولې نه خرائې؟ وې ونيل چه په حديث کښې د «حلق فى يوالجمعة» ممانعت وارد شوى دى.[۲]

په اصل کښې وو ،، الحِلَق،، (بكسر الحاء المهملة وفتح اللام) چه دا د ..حلقة.. جمعه ده. دوى چونکه د يو عارف استاذ نه نه وو ونيلې. په دې وجه نې مخکښې لفظى تحريف اوکړو او ..حِلَق.. ئې ..حَلق.. اوونيل. او ددې نه پس په معنوى غلطئ کښې مبتلا شو. دا صرف په دې وجه اوشو. چه دوى په کتاب کتلو علم حاصل کړې وو. د استاذانو او مشائخو نه ئې علم نه وو حاصل کړې.[۳]

قوله وَقَالَ أَبُو ذَرٍّ لَوْ وَضَعْتُمُ الصَّمْصَامَةَ عَلَى هَذِهِ وَأَشَارَ إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ ظَنَنْتُ أَنِّي أُنْفِذُ كَلِمَةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ تُجِيزُوا عَلَيَّ لَأَنْفَذْتُهَا: حضرت ابوذر رضي الله عنه سټ طرف ته اشاره اوکړله. اووې فرمائيل. که تاسو په دې باندې توره کيږدئ. او زه پوهه شم. چه ستاسو زما په سټ باندې د تورې چلولو نه وړاندې زه د نبى کريم صلى الله عليه وسلم نه اوريدلې شوې يوه خبره اورولې شم. نو زه به دا ضرور اوروم.

.....دتيرمخ بقيه حاشيه] فيها، بخلاف الماهر الذى أخذ العلم عن أهله، وصارت له فيه ملكة نفسانية، فإنه يميز الصحيح من غيره، ويعلم المسائل وما يتعلق بها على الوجه المعتد به، فهذا هو الذى يفتى الناس ويصلح أن يكون واسطة بينهم و بين الله تعالى، و أما غيره فيلزمه إذا تسور هذا المنصب الشريف، التعزير البليغ، و الزجر الشديد الزاجر ذالک لأمثاله عن هذا الأمر القبيح الذى يؤدى إلى مفاسد لا تحصى والله تعالى أعلم، انتهى.. شرح عقود رسم المفتى، (ص۱۵، ۱۶) ضمن مجموعة رسائل ابن عابدين.)_

[۱] أخرج النسائى فى سننه(۱۱۷/۱) فى كتاب المساجد، باب النهى عن البيع والشراء فى المسجد وعن التحلق قبل صلاة الجمعة، من حديث عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما ولفظه ..أن النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن التحلق يوم الجمعة قبل الصلاة، وعن الشراء والبيع فى المسجد، و أخرجه ابوداؤد أيضاً فى أبواب الجمعة باب التحلق يوم الجمعة قبل الصلاة، رقم(۱۰۷۹) و ابن ماجه فى سننه(ص۷۹) ابواب الجمعة، باب ماجاء فى الحلق يوم الجمعة قبل الصلاة.)_

[۲] نقله ابن الجوزى فى ..تلبيس ابليس..(ص۱۱۵) عن الخطابى، وقد ذكره الخطابى فى معالم السنن، (۱۳/۲) ابواب الجمعة باب التحلق يوم الجمعة قبل الصلاة، رقم(۱۰۳۸)_

[۳] قال الخطيب فى الكفاية (ص۱۶۲، ۱۶۳) و يجب أن يكون حفظه مأخوذاً عن العلماء لا عن الصحف.. وقال سليمان بن موسى: ..لا تأخذوا العلم من الصحفيين.. وقال ثور بن يزيد: ..لا يفتى الناس صحفى ولا يُقرئهم مصحفى..)_

د مذكوره اثر تخريج د حضرت ابوذر ﷺ دا اثر امام دارمي پخپل سنن كښې (١)، ابو نعيم په حلية الاولياء كښې(٢)، اسحاق بن راهويه پخپل مسند كښې، او احمد بن منيع او محمد بن هارون پخپلو خپلو كتابونو كښې نقل كړې دي.(٣)

د حضرت ابوذر ﷺ د حق ګوئى او بيباكه واقعې تفصيل ددې قصې تفصل دا دې.چه حضرت ابوذر ﷺ شام كښې اوسيدو.دغه وخت حضرت معاويه ﷺ د حضرت عثمان ﷺ د طرفه ګورنر وو.د حضرت ابوذر ﷺ مشهوره فتوى وه.چه د ضرورت نه زيات مال او دولت جمع كول جائز نه دى.په دې كښې به حضرت ابوذر ﷺ ډيره سختى كوله.او ټول مالداران به ئې د آيت ﴿وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ﴾(٤) مصداق ګرځول.
حضرت معاويه ﷺ خليفة المسلمين حضرت عثمان ﷺ ته ددې خبرو اطلاع وركړله.هغوى حضرت ابوذر ﷺ مدينې ته راوغوښتلو.او د داسې قسمه فتوو وركولو نه ئې منع كړو.او پوهه ئې كړو.چه ددې نه هسې بيسه اختلاف پيدا كيږى.ددې نه پس د مصلحت په بناء باندې حضرت عثمان ﷺ دوى ته په ربذه كښې د مقيم كيدو حكم وركړو.حضرت ابوذر ﷺ هلته منتقل شو.او هلته ددوى وفات اوشو.
په دې دوران حضرت ابوذر ﷺ حج دپاره تشريف يوړلو.نو په منى كښې خلقو ددوى نه د مسئلو تپوسونه شروع كړل.دوى فتوى وركوله.چه يو سړى اووئيل.چه تاسو د فتوى وركولو نه، نه وئ منع كړې شوې؟ په دې باندې حضرت ابوذر ﷺ اوفرمائيل.چه آيا ته په ما باندې نګران مسلط كړې شوې ئې؟ بيا ددې نه پس دوى دا ارشاد اوفرمائيلو.كوم چه دلته كښې منقول دې.(٥)
ددې سړى منع كول غلط وو.ځكه چه اميرالمؤمنين دوى لره مطلقاً د مسئلو ښودلو نه نه وو منع كړى.بلكه دوى ئې د تشدد او خصوصى مسئلو نه منع كړې وو.
د حضرت ابوذر ﷺ د كلام مطلب دا دې.چه عالم ته كه يوه مسئله هم معلومه وى.او خلقو ته ددې ضرورت وى.نو دداسې سختئ او مصيبت په وخت كښې عزيمت دا دې.چه د مسئلې بيانولو نه منع نشى.په دې اثر كښې د علم فضيلت او اهميت طرف ته اشاره ده.

قوله: وَقَوْلِ النَّبِيِّ ﷺ: لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ: د نبى كريم ﷺ ارشاد دې.چه حاضر دې غائب ته اورسوى.دا عبارت زمونږ د متداول (موجوده) نسخو نه علاوه په نورو نسخو كښې نشته.ددې عبارت تفسير او تشريح د تيرشوى باب لاندې تيره شوې ده.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُوْنُوْا رَبَّانِيِّيْنَ حُلَمَاءَ فُقَهَاءَ: حضرت ابن عباس ﷺ

---

١) سنن الدارمى(١٤٦/١) المقدمة، باب البلاغ عن رسول الله ﷺ و تعليم السنن، رقم(٥٤٥)_
٢) حلية الاولياء، وطبقات الأصفياء(١٦٠/١) ترجمة أبى ذرالغفارى ﷺ_
٣) تغليق التعليق(٨٠/٢)_
٤) التوبة: ٣٤)_
٥) فتح البارى(١٦١/١)_

فرمائي چه رباني جوړ شئ: يعني حكيم، عالم او فقيه جوړشئ.
د مذكوره اثر تخريج د حضرت ابن عباس ﷺ دا اثر خطيب بغدادي رحمه الله پخپل كتاب ،، الفقيه والمتفقه،، (۱)كښې، ابن ابى عاصم رحمه الله پخپل ،،كتاب العلم،، كښې،(۲) ابن جرير طبري پخپل تفسيركښې(۳)،او بيهقي په ،،شعب الايمان ،، كښې (۴) موصولاً نقل كړي دي. او ابراهيم حربي رحمه الله هم دا تفسير دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه نقل كړي دي.(۵)

د نسخو اختلاف بيادلته په بعضو نسخو كښې خو د ،،ربانيين،،تفسير،،حكماء علماء فقهاء،، سره منقول دي.(۶) او په بعضو نسخو كښې ،،حلماء فقهاء،،وارد دي. (۷) او په بعضو نسخو كښې ،،حكماء فقهاء،، راغلي دي.(۸)

د ،،حكمت،، معنى ،،حكماء،، د حكيم جمع ده.دا دحكمت نه ماخوذ دي.د حكمت معنى بعضوحضراتو ،،قرآن كريم،، او ،،فهم قرآن،، بيان كړې ده.بعضو حضراتو ددې معنى ،،نبوت،، كړې ده.بعضو ،،فهم،، او بعضو ،،خشيت،، بيان كړې ده.او بعضې حضرات وائي چه حكمت «إصابة في القول والفعل»ته وائي.(۹)

حافظ ابن جرير طبري رحمه الله فرمائي: «....معناه: كأن جميع الأقوال التي قالها القائلون الذين ذكرنا قولهم في ذلك داخلاً فيما قلنا من ذالك، لأن الإصابة في الأمور إنما تكون عن فهم بها و علم و معرفة، وإذ كان ذالك كذالك، كان المصيب عن فهم منه بمواضع الصواب في أموره: فهماً خاشياً لله، فقيهاً عالماً، وكانت النبوة من أقسامه، لأن الأنبياء مسددون مفهمون و موفقون لإصابة الصواب في الأمور والنبوة بعض معاني الحكمة. فتأويل الكلام، يؤتي الله إصابة الصواب في القول والفعل من يشاء ومن يؤته الله ذالك فقد آتاه خيراً كثيراً»(۱۰)
خلاصه دا چه ،،حكمت،،په يوه معنى كښې منحصركول صحيح نه دي. بلكه د قرآن او سنت تولې خبرې،دعقل او پوهې او بصيرت سره متصف ټول امور حكمت كښې داخل دي.
عالم څه ته وائي؟ علماء د عليم جمعه ده.صاحب د علم ته وائي.په ظاهره دلته مقصود هغه

---

(۱) عمدة القاري(۴۳/۲) وتغليق التعليق(۸۰/۲)_
(۲) قاله الحافظ في الفتح(۱۶۱/۱) و تغليق التعليق(۸۱/۲) والعيني في العمدة(۴۳/۲)_
(۳) جامع البيان في تفسير القرآن للطبري(۲۳۲/۳) و تغليق التعليق(۸۱/۲)_
(۴) شعب الايمان(۳۰۰/۲) رقم(۱۸۵۶)_
(۵) تغليق التعليق(۸۱/۲) وعمدة القاري(۴۳/۲)_
(۶) لكه څنګه چه د هندوستان او پاكستان په متداولو نسخو كښې هم دغه شان دي._
(۷) كما صرح به العيني في العمدة(۴۳/۲)_
(۸) و على هذه النسخة شرح الحافظ ابن حجر والعيني رحمهما الله. انظر الفتح(۱۶۰/۱) والعمدة(۴۳/۲)_
(۹) جامع البيان للطبري(۶۰/۳)_
(۱۰) تفسير طبري(۶۱/۳)_

عالم دي.کوم چه خشیت الهی سره متصف وی.ځکه چه حقیقتاً عالم هم هغه دي.﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾ (١)

فقيه څوک دي؟ فقهاء: د فقيه جمع ده.د فقيه تعريف حضرت حسن بصري رحمه الله کړي دي.((إنما الفقيه الزاهد في الدنيا، البصير بدينه، المداوم على عبادة ربه))(٢)

د حلماء مطلب حلماء:دحليم جمع ده.حليم هغه کس ته وائي.کوم چه علمي وقار او حوصلې سره متصف وي.

د حضرت عطاء بن يسار رحمه الله نه منقول دي.((ما أووي شيء إلى شيء أزين من حلم إلى علم))(٣)

د نبي کريم ﷺ يو ارشاد کښې دی.((تعلموا العلم،وتعلموا له السكينة والوقار ،وتواضعوا لمن تتعلمون منه، ولا تكونوا جبابرة العلماء))(٤)

امام ليث بن سعد رحمه الله به فرمائيل:((تعلموا الحلم قبل العلم))(٥)

قوله: وَيُقَالُ الرَّبَّانِيُّ الَّذِي يُرَبِّي النَّاسَ بِصِغَارِ الْعِلْمِ قَبْلَ كِبَارِهِ: ونيلي شي چه ،،رباني،، هغه سړي دي.چه هغه د خلقو د ،،کبار علم،، نه وړاندې د ،،صغار علم،، په ذريعه تربيت اوکړي.

د رباني معنی: امام اصمعي او اسماعيلي رحمهما الله فرمائي.چه دا د ،،رب،، نه ماخوذ دې.ګويا رباني هغه سړی ته وائی.چه هغه د علم او عمل په سلسله کښې د رب حکم پوره کړی.(٦)

امام ثعلب رحمه الله فرمائي.چه دا د ،،تربيت،، نه ماخوذ دي.علماو ته ،،رباني،، ځکه وائي.چه هغوی د علم په ذريعه تربيت کوی.(٧) په دې کښې الف نون د مبالغې دپاره دی.(٨)

بعضو حضراتو د ،،رباني،، تعريف ((العالم الراسخ في العلم والدين)) کړې دې.(٩) بعضې حضرات وائی.((الذي يطلب بعلمه وجه الله تعالى))(١٠)

---

١) فاطر:٢٨)_

٢) حلية الأولياء(١٤٧/٢) وسير أعلام النبلاء(٥٧٦/٤)_

٣) جامع بيان العلم وفضله (١٥٢/١) باب جامع في آداب العالم والمتعلم.)_

٤) جامع بيان العلم وفضله (١٥١/١) باب جامع في آداب العالم والمتعلم.)_

٥) جامع بيان العلم وفضله(١٥٣/١)_

٦) فتح الباري(١٦١/١) والنهاية(١٨١/٢)_

٧) المصدر السابق)_

٨) المصدر السابق)_

٩) النهاية(١٨١/٢)_

١٠) المصدر السابق)_

او ځنې حضرات وائي: «العالم العامل المعلم»(١)

امام مجاهد رحمه الله فرمائي: «الربان: الجامع في العلم، والفقه: البصر بالسياسة والتدبير والقيام بأمور الرعية ومايصلحهم في دنياهم و دينهم»(٢)

د كبار علم او صغار علم مصداق دلته امام بخاري رحمه الله د بعضو اهل علمو نه چه د رباني كوم تفسير «الذي يربي الناس بصغار العلم قبل كباره» ذكر كړې دې په دې كښې د ,,كبار علم،، او ,,صغار علم،، مصداق كښې څلور اقواله دي: ① د ,,صغار علم نه مراد جزئيات دي او د ,,كبار،، نه كليات، ② د ,,صغار،، نه فروع مراد دي او د ,,كبار،، نه اصول. ③ د ,,صغار،، نه مقدمات او مبادي مراد دي او د ,,كبار،، نه مقاصد. ④ د ,,صغار،، نه واضحې مسئلې مراد دي او د ,,كبار،، نه دقيق (باريكې) مسئلې مراد دي.(٣) والله اعلم.

امام بخاري رحمه الله د مذكوره باب لاندې يو مرفوع حديث ولې ذكر نكړو؟ د مذكوره باب لاندې امام بخاري رحمه الله هيڅ يو مرفوع حديث د خپل شرط مطابق ذكر نكړو. بعضې حضرات فرمائي چه امام بخاري رحمه الله بياض (خالي ځائې) پريخودې وو چه يو مناسب روايت ملاو شي نو هغه به اوليكي. خو موقعه ملاونشوه. بعضې حضرات فرمائي چه دوى هيڅ بياض وغيره نه وو پريخودې. بلكه كوم آيات او آثار چه مذكور دي هم ددې نه ئې په خپلې مدعى باندې استدلال كولو باندې اكتفاء كړې ده.(٤)

اشتغال بالعلم د اشتغال بالنوافل نه افضل دې: دلته دا هم ممكن ده چه امام بخاري رحمه الله ددې ترجمة الباب نه يوې مسئلې طرف ته اشاره كړې وي. هغه مسئله دا ده چه اشتغال بالعلم د اشتغال بالنوافل نه افضل دې.

په دې مسئله كښې اختلاف: په دې مسئله كښې معمولي شان اختلاف دې. د امام ابوحنيفه، امام مالك، سفيان ثوري، امام شافعي رحمهم الله رائې دا ده چه علمي اشتغال په نوافلو كښې د مشغوليدو نه افضل دې. لكه چه د فقة حنفي په كتابونو كښې دي. «طلب العلم والفقه إذا صحت النية أفضل من جميع أعمال البر، وكذا الإشتغال بزيادة العلم إذا صحت النية، لأنه أعم نفعاً، لكن شرط أن لا يدخل النقصان في فرائضه»(٥)

دغه شان ابن وهب رحمه الله فرمائي: «كنتُ عند مالك بن أنس فجاءت صلاة الظهر أو العصر، وأنا أقرأ عليه، و أنظر في العلم بين يديه، فجمعت كتبي، وقمت لأركع، فقال لي مالك، ماهذا؟ قلت: أقوم للصلاة، قال: إن هذا

(١) المصدر السابق)_

(٢) تفسير الطبري(٢٣٣١٣)_

(٣) فتح البارى(١٦٢١١)_

(٤) فتح البارى(١٦٢١١) و عمدة القارى(٤٣١٢)_

(٥) قاله البزازية. نقله ابن عابدين فى حاشية ردالمختار(٢٨٩١٥) كتاب الخطر والإباحة)_

لعجب، فما الذى قمت إليه بأفضل من الذى كنت فيه إذا صحت النية»([1])

امام شافعى رحمه الله فرمائى «طلب العلم أفضل من الصلاة النافلة»([2])

امام سفيان ثورى رحمه الله فرمائى «ما من عمل أفضل من طلب العلم إذا صحت النية»([3]) او هم دوى فرمائى «لا أعلم من العبادة شيئاً أفضل من أن يعلم الناس العلم»([4])

د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه تپوس اوكړې شو «أى شئ أحب إليك؟ أجلس بالليل أنسخ أو أصلى تطوعا؟ قال: فنسخك (هكذا فى الأصل، ولعل المعنى، «فنسخك مسألة»،) تعلم بها أمر دينك، فهو أحب»([5])

خو د امام احمد رحمه الله يو مشهور روايت دا دې چه د فرائضو نه پس اوچته درجه د جهاد ده.لكه چه ابن قدامه رحمه الله نقل كړې دى «قال أبو عبد الله: لا أعلم شيئاً من العمل بعد الفرائض أفضل من الجهاد»([6])

بهرحال ائمه ثلاثه او جمهور علماء د علم د فضيلت قائل دى.د امام احمد بن حنبل رحمه الله يو روايت هم دا دې.او ددوى دويم روايت دا دې چه جهاد افضل دې.والله اعلم.

۱۱- ((بَابُ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُهُمْ بِالْمَوْعِظَةِ وَالْعِلْمِ كَيْ لَا يَنْفِرُوا))

ما قبل باب سره مناسبت: په ما قبل باب «باب العلم قبل القول والعمل» كښې د علم د حصول ترغيب او ددې د فضيلت بيان وو.په دې باب كښې د ،،تخول علم،، يعنى د علم په حصول كښې د رعايت ساتلو ذكر دې.چه ستړې والې او نفرت پيدا نشى.([7])

په حديث باب كښې صرف د ،،وعظ،، ذكردې.په ترجمة الباب كښې د،،علم،، اضافه ولې اوكړې شوه؟ امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې «يتخولهم بالموعظة والعلم» فرمائيلى دى.حالانكه په ترجمة الباب كښې د ،،علم،، ذكر نشته.ددې وجه دا ده.چه په حديث كښې

---

[1]) جامع بيان العلم وفضله(۱۲۲/۱) رقم(۱۱۶)_

[2]) جامع بيان العلم وفضله(۱۲۳/۱) رقم(۱۱۸) وحلية الأولياء(۱۱۹/۹) وروى عنه بلفظ آخر: ،،ليس بعد أداء الفرائض شئ أفضل من طلب العلم. قيل له. ولا الجهاد فى سبيل الله؟ قال: ،،ولا الجهاد فى سبيل الله،، تعليقات جامع بيان العلم و فضله(۱۲۳/۱)_

[3]) جامع بيان العلم وفضله(۱۲٤/۱) رقم(۱۱۹)_

[4]) جامع بيان العلم وفضله(۱۲٤/۱) رقم(۱۲۰)_

[5]) المجموع شرح المهذب(۲۱/۱) المقدمة، فصل: فى ترجيح الإشتغال بالعلم عى الصلاة والصيام وغيرهما من العبادات القاصرة على فاعلها.)_

[6]) المغنى لابن قدامة (۱۲٤/۹) كتاب الجهاد رقم(۷٤۱۶)_

[7]) عمدة القارى(٤۳/۲)_

اګرچه صرف د ، ،موعظة، ،ذکرد‌ې.د ، ،علم، ،ذکر نشته .خو چونکه وعظ هم يو قسم علم د‌ې.نو مصنف رحمه الله د ، ،تخول بالموعظه، ، نه تخول بالعلم مستنبط کړ‌ې د‌ې.او د ، ،والعلم، ، اضافه ئې کړ‌ې ده.(١)

د ، ،کي لا ينفروا، ، اضافه دغه شان امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب په آخر کښې د ، ،کي لاينفروا، ، اضافه کړ‌ې ده.دا اګرچه د باب د دويم حديث نه صراحت سره ثابت د‌ې.خو دد‌ې يوه فائده دا حاصله شوه.چه د باب په ړومبى حديث کښې د ، ،سآمة، ، تفسير معلوم شو.چه دد‌ې نه مراد نفرت د‌ې.په اصل کښې ، ،سآمة، ، ستړ‌ې کيدو ته وائ‌ې.او په ستړ‌ې کيدو باند‌ې نفرت مرتب کيږى.په د‌ې وجه دد‌ې تفسير نفرت سره اوکړ‌ې شو.(٢)

د امام بخارى رحمه الله مقصد د امام بخارى رحمه الله مقصد دد‌ې ترجم‌ې نه دا د‌ې.چه په وعظ و نصيحت او په تعليم او تبليغ کښې د سامعينو (اوريدونکو) د طبيعت او ستړ‌ې کيدو لحاظ ساتل پکار دى.کله چه نشاط (او طبيعت) وى.هغه وخت تعليم او تذکير (وعظ) کول پکار دى.اوکه نشاط نه وى.نو په داس‌ې وخت کښ‌ې تعليم او تذکير کول پکار نه دى.هس‌ې نه چه د علم نه نفرت پيدا شى.او د وعظ اوريدو نه طبيعت باند‌ې بوج شى.

حديث باب

٦٨-((حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ(٣) قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ فِي الْأَيَّامِ كَرَاهَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا))[٧٠ ، ٦٠٤٨]

رجال الحديث

① **محمد بن يوسف:** دا محمد بن يوسف بن واقد ضبى فريابى (بکسر الفاء و سکون راء و بمثناة تحت، و بموحدة)(٤) رحمه الله د‌ې.ابوعبدالله ددوى کنيت د‌ې.(٥)

دوى د يونس بن ابى اسحاق، فطر بن خليفه، اسرائيل بن يونس بن ابى اسحاق، ابراهيم بن ابى عبله، امام اوزاعى، مالك بن مغول، سفيان بن عيينه او خاص طور باند‌ې د سفيان

---

١) فتح البارى(١٦٢/١)_

٢) فتح البارى(١٦٢/١)_

٣) قوله: وعن ابن مسعود، الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى صحيحه(١٦/١) كتاب العلم، باب من جعل لأهل العلم أياماً معلومة، رقم(٧٠) وفى (٩٤٩/٢) كتاب الدعوات، باب الموعظة ساعة بعد ساعة، رقم(٦٤١١) ومسلم فى صحيحه(٣٧٧/٢) كتاب صفة المنافقين، باب الإقتصاد فى الموعظة، والترمذى فى جامعه، فى كتاب الأدب، باب ماجاء فى الفصاحة والبيان، رقم(٢٨٥٥)_

٤) المغنى(ص ٦١)_

٥) تهذيب الكمال(٥٢/٢٧، ٥٣)_

ثوری رحمه الله نه د حديثو علم حاصل کړې دې.
ددوی نه په روايت کونکو کښې امام بخاری، امام احمد بن حنبل، محمد بن يحي ذهلی، اسحاق کوسج، احمد بن عبدالله عجلی، سلمه بن شبيب، محمد بن مسلم بن واره رحمه الله وغيره حضرات دی.(١)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی.«كان الفريابي رجلاً صالحاً»(٢)
امام يحي بن معين رحمه الله فرمائی.چه فريابی د مؤمل بن اسماعيل. عبيدالله بن موسی. قبيصه او عبدالرزاق پشان ،،ثقه،، دې.(٣)

امام بخاری رحمه الله فرمائی.«حدثنا محمد بن يوسف وكان من أفضل أهل زمانه....»(٤)

ابو حاتم رحمه الله فرمائی.،،صدوق ثقة،،(٥)

امام نسائی رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(٦)

امام عجلی رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(٧)
ددې توثيقاتو په مقابله کښې بعضو حضراتو ددوی په بعضو احاديثو باندې کلام کړې دې.لکه چه ابن عدی رحمه الله فرمائی.«له من الثوري إفرادات»(٨)

دغه شان امام عجلی رحمه الله ددوی د توثيق کولو نه پس فرمائی.«وقال بعض البغداديين، أخطأ محمد بن يوسف في خمسين ومائة حديث من حديث سفيان»(٩)

دغه شان امام ابن معين رحمه الله ددوی يوحديث ذکرکړې دې.اوفرمائيلی ئې دی.«هذا باطل»(١٠)

خو حافظ ذهبی رحمه الله د ابن عدی قول نقل کړې دې.او فرمائيلی ئې دی. «قلت: لأنه لازمه مدة، فلاينكر له أن ينفرد عن ذاك البحر»(١١)

---

١) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٢٧\٥٣-٥٥) وسير أعلام النبلاء (١٠\١١٤، ١١٥)_
٢) تهذيب الكمال(٢٧\٥٦)_
٣) تاريخ الدارمی عن يحی بن معين(ص٦٣) رقم(١٠١)_
٤) تهذيب الكمال((٢٧\٥٧)_
٥) تهذيب الكمال٢٧\٥٨)_
٦) سير أعلام النبلاء(١٠\١١٦)_
٧) سير أعلام النبلاء(١٠\١١٦) و تهذيب الكمال(٢٧\٥٩)_
٨) الكامل لابن عدی(٦\٢٣٢)_
٩) تهذيب الكمال(٢٧\٥٩)_
١٠) هدی الساری(ص٤٤٢)_
١١) ميزان الاعتدال(٤\٧١)رقم(٨٣٤٠)_

او حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن عدى او عجلى وغيره كلام نقل كولو نه پس فرمائى. «اعتمده البخارى لأنه انتقى أحاديث وميزها»[1]

خلاصه دا ده.چه د حديثو جمهورو عالمانو ددوى توثيق كړې دې.تردې چه د كومو حضراتو نه په دوى باندې كلام منقول دې.هغوى هم ددوى توثيق كوى.[2] او كوم حضرات چه كلام كوى.هغوى ددوى په يو څو حديثونو باندې كلام كوى.په ټولو باندې نه كوى.بيا خصوصاً د صحيح بخارى په احاديثو باندې په دې وجه كلام نشى كيدې.چه هغه د امام بخارى رحمه الله براه راست (بلا واسطه) شيخ دې.او په بعضو مقاماتو كښې يوې واسطې سره حديث نقل كوى.نو دوى ته چونكه د خپل شيخ په صحيح او سقيم (متكلم فيه) رواياتو باندې علم شته.په دې وجه دوى د انتقاء او انتخاب او تميز نه پس حديث نقل كوى.والله اعلم.

يوه اهمه فائده: علامه كرمانى رحمه الله په دې مقام باندې فرمائيلى دى.چه د حديث باب په دې سند كښې د ،،محمد بن يوسف،، نه ،، محمد بن يوسف بيكندى،، مراد دې.چه دده كنيت ابو احمد دې.[3]

علامه عينى، حافظ ابن حجر او علامه قسطلانى رحمهم الله دده ترديد كړې دې.اوليكلى ئې دى.چه دلته محمد بن يوسف فريابى مراد دې.او دا قاعده ئې نقل كړې ده.چه كوم ځائې كښې امام بخارى رحمه الله مطلقاً محمد بن يوسف فرمائى.او نسبت نه ذكر كوى.هلته ،،فريابى،، مراد وى.اګرچه دوى د ،،بيكندى،، نه هم روايت كړې دې.[4]

② **سفيان:** دا مشهور امام سفيان بن سعيد ثورى رحمه الله دې.ددوى حالات د كتاب الايمان «باب علامة المنافق» لاندې تير شوى دى.[5]

فائده: ياد ساتئ:چه امام احمد رحمه الله دا حديث پخپل مسند كښې د ابن عيينه نه نقل كړې دې.[6] خو دلته سفيان ثورى مراد دې.ځكه چه فريابى اګرچه د دواړو شاګرد دې.خو چونكه سفيان ثورى رحمه الله سره دوى كافى وخت تير كړې وو.په دې وجه چه كله د ثورى نه روايت كوى.نو مطلقاً ئې ذكركوى.نو فريابى چه كوم ځائې كښې ،،سفيان،، د نسبت نه بغير

---

[1] هدى السارى(۴۴۲)_

[2] د ابن معين او عجلى رحمهما الله توثيقات خو پورته نقل كړې شوى دى.ابن عدى رحمه الله فرمائى.. وقد قدّم الفريابى فى سفيان الثورى على جماعة مثل عبدالرزاق و نظرائه. وقالوا: الفريابى أعلم بالثورى منهم..... والفريابى فيما تبين: هو صدوق لا بأس به . الكامل(۶/۲۳۲)_

[3] شرح الكرمانى(۲/۳۲)_

[4] عمدة القارى(۲/۴۴) وفتح البارى(۱/۱۶۲) و إرشاد السارى(۱/۱۶۸)_

[5] كشف البارى(۲/۲۷۸)_

[6] مسند أحمد(۱/۳۷۷(وفيه: حدثنا عبدالله و حدثنى أبى. ثنا سفيان...... و معلوم أن أحمد لم يرو عن الثورى. وإنما روى عن ابن عيينه. فإن ميلاده فى سنة ۱۶۴هـ وقد توفى الثورى فى ۱۶۱هـ .انظر حلية الأولياء (۹/۱۶۱، ۱۶۳)_

ذكر كړى هلته به سفيان ثورى رحمه الله مراد وى.(۱)

③ **الاعمش:** دا مشهور امام حديث، ابو محمد سليمان بن مهران الاعمش الكوفى رحمه الله دي. ددوى حالات د كتاب الايمان «باب ظلم دون ظلم» لاندې تيرشوى دى.(۲)

④ **ابووائل:** دا مشهور مخضرم تابعى حضرت ابووائل شقيق بن سلمه اسدى كوفى رحمه الله دي. ددوى حالات هم د كتاب الايمان «باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر» لاندې تير شوى دى.(۳)

⑤ **حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه:** د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حالات هم د كتاب الايمان «باب ظلم دون ظلم» لاندې تير شوى دى.(۴)

قوله: قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ فِي الْأَيَّامِ كَرَاهَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم به مختلفو ورځو كښې مونږ ته د نصيحت فرمائيلو دپاره زمونږ د احوالو رعايت ساتلو ددې خطرې نه چه مونږ ستړى نشو. زمونږ طبيعت كښې نفرت پيدا نشى.

د «يتخولنا» معنى: «يتخولنا» د تخول نه مشتق دي. ددې معنى اصلاح كول او حفاظت كول دى.(۵) «المتخول: المتعهد».

علامه خطابى رحمه الله فرمائى: «الخائل: القائم بالأمر والمتعهد له، ويقال: فلان خائل مال، وخال مال، إذا كان حسن القيام عليه»(۶)

امام اصمعى رحمه الله فرمائى چه دا لفظ «يتخوننا» دي.(۷) د «تخون» معنى هم «تعهد» او نګرانى كول دى.(۸) ددې ماخذ «خيانت» دي او د «تخون» معنى «إجتنب الخيانة» ده. لكه چه وئيلې شى «تحنث» او «تأثم»: «أى إجتنب الحنث والإثم» ګويا په دې كښې د «تجنب» خاصيت موجود دي.(۹)

---

۱) فتح البارى(۱۶۲/۱) وعمدة القارى(۴۴/۲)_
۲) كشف البارى(۲۵۱/۲)_
۳) كشف البارى(۵۵۹/۲)_
۴) كشف البارى(۲۵۷/۲)_
۵) قال فى النهاية(۸۸/۲): «يتخولنا» يتعهدنا. من قولهم: فلان خائل مال. وهو الذى يصلحه ويقوم به.»)_
۶) غريب الحديث للخطابى(۴۳۷/۲) واعلام الحديث(۱۹۴/۱)_
۷) النهاية(۸۸/۲) و عمدة القارى(۴۵/۲)_
۸) المصدر السابق)_
۹) فتح البارى(۱۶۲/۱)_

فرمائی چه ابوعمرو بن العلاء رحمه الله كله د امام اعمش نه ،،يتخولنا،، روايت كول واوريدل نو وي ونيل چه دا باللام نه دي بلكه بالنون دي.امام اعمش رحمه الله ددوی خبرې طرف ته هيڅ توجه ورنكړله.(١)

دغه شان ابوعبيد هروی رحمه الله په ،،كتاب الغريبين،، كښې د ابو عمرو شيباني نه نقل كړې دی.هغوی به فرمائيل چه صحيح لفظ ،،يتحولنا،، «بالحاء المهملة واللام» دې چه ددې معنی ده.«يتطلب أحوالنا التي ننشط فيها للموعظة»(٢)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه روايتاً ،،يتخولنا،، «بالخاء المعجمة وباللام» صحيح دي.خاص طور په دې وجه هم چه امام اعمش ددې په روايت كولو كښې متفرد نه دې.په راروان باب كښې ددوی متابعت منصور كوی.اګرچه نورې دواړه كلمې هم د معنی په لحاظ صحيح دی.خو كله چه د ،،يتخولنا،، معنی هم صحيح ده.او لفظاً هم دا اصح دې.نو په دې باندې هيڅ اعتراض كول پكار نه دی.(٣)

قوله: كَرَاهَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا: دا مفعول له دې.يعنې په مونږ باندې سترې كيدل راتلل به نبی كريم ﷺ نه خوښولو.په دې وجه به ئې زمونږ د طبيعتونو رعايت ساتلو.

،،علينا،، يا خو ،،الطارئة،، محذوف سره متعلق دې.چه دا به د ،،السآمة،، صفت وی.يعنې «كراهة السآمة الطارئة علينا» يا داسې اوونيلې شی.چه په ،،سآمة،، كښې چونكه د ،،مشقت،، معنی موجود ده.په دې وجه دا ،،على،، سره متعدی كړې شوې دې.او اصل صله محذوف ده.چه هغه ،،من الموعظة،، دې.اوس به تقدير د عبارت دا وی.«كراهة السآمة من الموعظة الثلاثة علينا»(٤)

د حديث باب ترجمة الباب سره مطابقت. د حديث باب ترجمة الباب سره منطبق كيدل ښكاره دی.څكه چه په ترجمه كښې د ،،تخول بالموعظة،، ذكر دې.او په حديث باب كښې دا صراحت سره مذكور دې.او په ترجمه كښې ،،كي لاينفروا،، دې.په دې جزء باندې د حديث جمله «كراهة السآمة علينا» دلالت كوی.څكه چه سترې كيدو باندې نفرت مرتب كيږی.ګويا امام بخاری رحمه الله د ،،سآمة،، تفسير په ترجمة الباب كښې ذكر كړې دې.چه ددې نه نفرت مراد دې.،،كما بيّنا سابقاً،،

---

١) فتح البارى(١١\١٦٢، ١٦٣)_

٢)فتح البارى(١\١٦٣) وعمدة القارى(٢\٤٥)_

٣) فتح البارى(١\١٦٣)_

٤) فتح البارى(١\١٦٣)_

دا هم کیدې شي چه امام بخاری رحمه الله د ترجمة الباب دوميې حصه يعنی «التخول بالموعظة والعلم» ددې حديث نه ثابت کړې وی او دويمه حصه «كى لا تنفروا»، ئې د راوان حديث نه ثابت کړې وی چه په هغې کښې ذکر دی «يسروا ولا تعسروا وبشروا ولا تنفروا» والله اعلم.

حديث باب

۶۹-((حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ(١) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا))[۶۱۲۵]

رجال الحديث

① محمد بن بشار: دا د حديثو مشهور امام محمد بن بشار بن عثمان عبدی بصری رحمه الله دې ابوبكر ددوی كنيت دې بندار ددوی لقب دی.(٢) د بندار معنی حافظ ده چونکه دی پخپله زمانه کښې د خپل وطن د حديثونو حافظ او جامع وو په دې وجه ددوی لقب بندار شو.(٣)

دوی د يزيد بن زريع، معتمر بن سليمان، عبدالعزيز بن عبدالصمد العمی. محمد بن جعفر غندر، بهز بن اسد، جعفر بن عون، حجاج بن منهال. روح بن عباده. ابوعاصم النبيل، عبدالرحمن بن مهدی، عفان بن مسلم، محمد بن عبدالرحمان الطفاوی. محمد بن عرعره. مکی بن ابراهيم، وكيع بن الجراح، يحي بن سعيد القطان. او ابوداؤد طيالسی رحمهم الله وغيره نه حديثونه روايت کړی دی.

ددوی نه روايت کونکو کښې اصحاب د اصول سته، ابراهيم حربی. بقی بن مخلد. ابو حاتم محمد بن ادريس الرازی، محمد بن اسحاق بن خزيمه. ابوزرعه. ابوالعباس السراج او زکريا ساجی رحمهم الله وغيره دی.(٤)

امام عجلی رحمه الله فرمائی.«بندار بصری، ثقة، كثير الحديث»(٥)

---

(١) قوله: عن أنس.. الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی صحيحه(٢\٩٠٥) فی كتاب الأدب. باب قول النبی ﷺ: يسروا ولا تعسروا. رقم(٦١٢٥) ومسلم فی صحيحه(٢\٨٣) فی كتاب الجهاد والسير. باب تأمير الإمام الأمراء على البعوث ووصية إياهم بآداب الغزو وغيرها._

(٢) تهذيب الكمال(٢٤\٥١١)_

(٣) تهذيب الكمال(٢٤\٥١١) وسير أعلام النبلاء(١٣\١٤٤)_

(٤) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٢٤\٥١١-٥١٤) وسير أعلام النبلاء(١٢\١٤٤، ١٤٥)_

(٥) تهذيب الكمال(٢٤\٥١٧) و سير أعلام النبلاء(١٢\١٤۶)_

امام ابن خزیمہ رحمه الله پخپل کتاب التوحید کښې فرمائی.«أخبرنا إمام أهل زمانه في العلم والأخبار محمد بن بشار....»[1]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.«صدوق»[2]

امام نسائی رحمه الله فرمائی.«صالح لا بأس به»[3]

امام ابن حبان رحمه الله فرمائی.«وكان ممن يحفظ حديثه ويقرؤه من حفظه»[4]

مسلمه بن قاسم رحمه الله فرمائی.«وكان ثقة مشهوراً»[5]

امام دارقطنی رحمه الله فرمائی.«من الحفاظ الأثبات»[6]

البته عمروبن علی الفلاس نه منقول دی.چه هغوی به دمحمد بن بشار رحمه الله تکذیب کولو.[7]

خو محدثینو ددوی تکذیب نه دې قبول کړې.لکه چه حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی«فما أصغى أحد إلى تكذيبه لتيقنهم أن بنداراً صادق أمين»[8]

دغه شان عبدالله بن الدورقی فرمائی.«كنا عند ابن معين، وجرى ذكر بندار، فرأيت يحيى لا يعبأ به ويستضعفه»[9] او ابن الدورقی فرمائی.«ورأيت القواريري لا يرضاه»[10]

خو عالمانو دا جرح هم نه ده قبول کړې.لکه چه ابوالفتح ازدی رحمه الله فرمائی.«بندار كتب الناس عنه، وقبلوه، وليس قول يحيى والقواريري مما يجرحه، وما رأيت ذكره إلا بخير وصدق»[11]

حافظ ذهبی رحمه الله د یحیی بن معین او د قواریری په طرزعمل باندې تبصره کړې ده.او فرمائیلی ئې دی.«قد احتج به أصحاب الصحاح كلهم، وهو حجة بلا ريب»[12]

---

[1] سير أعلام النبلاء(١٢\١٤٥)_

[2] تهذيب الكمال(٢٤\٥١٧)، وسير أعلام النبلاء(١٢\١٤٦)_

[3] تهذيب الكمال(٢٤\٥١٧)وسير أعلام النبلاء(١٢\١٤٧)_

[4] الثقات لابن حبان(٩\١١١)_

[5] تهذيب التهذيب(٩\٧٢)_

[6] المصدر السابق)_

[7] ميزان الإعتدال(٣\٤٩٠) وسير أعلام النبلاء(١٢\١٤٧) وتهذيب الكمال(٢٤\٥١٥)_

[8] ميزان الإعتدال(٣\٤٩٠) وقال الحافظ في هدى السارى(ص٤٣٧) :و ضعفه عمرو بن عى الفلاس، ولم يذكر سبب ذالک. فما عرّجوا على تجريحه.)_

[9] تهذيب الكمال(٢٤\٥١٥، ٥١٦) وسير أعلام النبلاء(١٢\١٤٧)_

[10] المصدر السابق)_

[11] المصدر السابق)_

[12] ميزان الإعتدال(٣\٤٩٠)_

دغه شان د على بن المدينى رحمه الله خوښې عبدالله فرمائى. چه ما د خپل پلار نه د «بندار عن ابن مهدى، عن أبي بكر بن عياش، عن عاصم عن زر، عن عبدالله، عن النبي ﷺ: تسحروا فإن في السحور بركة»[۱] په باره كښې تپوس اوكړو. نو على بن المدينى رحمه الله اوفرمائيل «هذا كذب حدثني أبو داؤد موقوفاً» او بيا دوى ددې سخت انكار اوكړو.[۲]

خو ښكاره ده. چه دا جرح هم هيڅ قابل اعتناء (او قابل اعتبار) نه ده ځكه چه

① اول خو ددې حديث متن مرفوعاً صحيح سند سره ثابت دې.[۳]

② دويمه دا چه پخپله امام على بن المدينى دا موقوفاً روايت كوى.[۴]

③ او دريمه داخبره هم ممكن ده. چه على بن المدينى دلته د ..كذب.. كوم لفظ استعمال كړې دې. دا د ..خطاء.. په معنى كښې وى. ځكه چه اهل حجاز دا د ..خطاء.. په معنى كښې استعمالوى. چه ددې تصريح ابن الانبارى رحمه الله كړې ده.[۵]

نو د على بن المدينى رحمه الله ..هذا كذب.. وئيل، ددوى په تكذيب باندې قطعى نه دې بلكه خطاء باندې محمول دې. او ښكاره خبره ده. چه د يوې نيمې خطايئ نه څوك هم نشى بچ كيدې. او نه د داسې قسمه خطايانو په وجه يو راوى مجروح كيدې شى. خاص طور باندې هغه راوى په كوم چه د اصول سته مصنفينو اعتماد كړې وى. او د پوره امت عالمانو دا حجت ګرځولې وى. والله اعلم.

---

[۱] أخرج بهذا السند النسائي في سننه(۳۰۳\۱) كتاب الصيام. باب الحث على السحور. وقال: وقفه عبيدالله بن سعيد. ثم ذكر حديث عبيدالله بن سعيد.)_

[۲] تهذيب الكمال(۵۱۵\۲۴) وسير أعلام النبلاء(۱۴۷\۱۲)_

[۳] هذا الحديث أخرجه البخاري في صحيحه(۲۵۷\۱) كتاب الصوم. باب بركة السحور من غير إيجاب. رقم(۱۹۲۳) و مسلم في صحيه(۳۵۰\۱) كتاب الصيام. باب فضل السحور وتاكيد استحبابه. رقم(۱۰۹۵) والنسائي في سننه(۳۰۳\۱) كتاب الصيام باب الحث في السحور. والترمذي في جامعه في كتاب الصوم. باب ماجاء في فضل السحور.....رقم(۷۰۸) كلهم من حديث أنس رضي الله عنه وقال الترمذي:.وفي الباب عن أبي هريرة. وعبدالله بن مسعود. و جابر بن عبدالله. و إبن عباس. و عمرو بن العاص. والعرباض بن سارية. وعتبة بن عبدالله. و أبي الدرداء رضي الله عنهم.)_

[۴] وقد رواه عبيدالله بن سعيد. شيخ النسائي أيضاً موقوفاً كما سبق تخريجه.)_

[۵] قال المرتضى الزبيدى رحمه الله في تاج العروس(۴۵\۱): قال ابن الانبارى. إن الكذب ينقسم إلى خمسة أقسام: إحداهن تغيير الحاكي ما يسمع. وقوله مالا يعلم نقلا و روايةً..... الثاني: أن يقول قولاً يشبه الكذب ولا يقصد به إلا الحق...... الثالث: بمعنى الخطء. وهو كثير في كلامهم.....والرابع: البطول. كذب الرجل: بمعنى بطل عليه أمله وما رجاه..... والخامس: بمعنى الإغراء.. وعلى الثالث (اى بمعنى الخطا) خرّجوا حديث صلاة الوتر: ..كذب أبومحمد.. أى خطأ. و في التوشيح: أهل الحجاز يقولون: كذبت بمعنى ..أخطأت. وقد تبعهم فيه بقية الناس.....)_

د محمد بن بشار رحمه الله وفات په ۲۵۲ﻫ كښې شوې دې.(۱) ،،رحمه الله تعالىٰ رحمة واسعة،،_

④ يحيى بن سعيد: دا مشهور امام سعيد بن يحيي بن سعيد بن فروخ القطان تميمى رحمه الله دې ددوى حالات د كتاب الايمان «باب من الايمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه» لاندې تيرشوى دى.(۲)

③ شعبه: دا امام شعبة بن الحجاج رحمه الله دې ددوى حالات هم مختصر د كتاب الايمان «باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» لاندې تيرشوى دى.(۳)

④ ابوالتياح: دا ابوالتياح (بفتح المثناة الفوقانية و تشديد التحتانية، وآخره حاء مهملة)(۴) يزيد بن حميد ضبعي بصرى رحمه الله دې.(۵)

دوى د حضرت انس بن مالك، عبدالله بن الحارث بن نوفل رضي الله عنهم نه علاوه د ابوعثمان نهدى، مطرف بن عبدالله بن الشخير، ابومجلز، ابوزرعه بجلي، او حسن بصرى رحمهم الله وغيره نه حديثونه روايت كوى. ددوى نه په روايت كونكو كښې سعيد بن ابى عروبه، شعبه، همام، حماد بن سلمه، حماد بن يزيد، اسماعيل بن عليه او ابوهلال راسبى رحمهم الله وغيره حضرات دى.(۶)

امام احمد رحمه الله فرمائى،،ثبت ثقة ثقة،،(۷)

امام يحي بن معين، ابوزرعه، نسائى رحمهم الله فرمائى،،ثقة،،(۸)

امام على بن المدينى رحمه الله فرمائى،،معروف،،(۹)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى،،صالح،،(۱۰)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په ،،كتاب الثقات،، كښې ذكركړې دې.(۱۱)

ابن سعد رحمه الله فرمائى «وكان ثقة وله أحاديث»(۱۲)

---

۱) تهذيب الكمال (۲۴\۵۱۸)_
۲) كشف البارى (۲\۱۲)_
۳) كشف البارى (۱\۶۷۸)_
۴) فتح البارى (۱\۱۶۳)_
۵) تهذيب الكمال (۳۲\۱۰۹)_
۶) د شيوخ او تلامذه دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال (۳۲\۱۰۹، ۱۱۰) وسير أعلام النبلاء (۵\۲۵۱)_
۷) تهذيب الكمال (۳۲\۱۱۰) وسير أعلام النبلاء (۵\۲۵۲)_
۸) تهذيب الكمال (۳۲\۱۱۰، ۱۱۱)_
۹) المصدر السابق)_
۱۰) المصدر السابق)_
۱۱) الثقات لابن حبان (۵\۵۳۴)_
۱۲) الطبقات لابن سعد (۷\۲۳۸)_

امام حاكم رحمه الله په ،،تاريخ نيسابور،، كښې ليكى ،،ثقة مامون،،[1]

ددوى وفات ۱۲۸ هـ كښې شوې دې.[2] ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

⑤ انس رضي الله عنه: د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان كښې د «باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه» لاندې تيرشوى دى.[3]

قوله قَالَ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا: نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه آسانى كوئ سختى مه كوئ خوشخبرى وركوئ نفرت مه پيداكوئ.

د عبارت تشريح امام نووى رحمه الله فرمائى چه د ،،يسّروا،، نه پس د ،،لاتعسّروا،، د تصريح فائده دا ده كه چرې يوكس سره صرف يو ځل د ،،يسر،، معامله شوې وى او خوځو ځله د ،،عسر،، شوې وى نو په هغه به هم ،،يسروا،، صادقيږى. اوس ،،لاتعسّروا،، فرمائيلو سره ني د ،،تعسير في جميع الأحوال،، نفى اوكړله. هم دا خبره د ،،بشّروا،، نه پس د ،،لاتنفّروا،، اضافه كښې هم ده.[4]

د ،،تبشير،، په مقابل كښې د ،،تنفير،، راوړلو نكته حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د ،،يسر،، او ،،عسر،، په مينځ كښې خو تقابل شته خو د ،،تبشير،، او ،،تنفير،، په مينځ كښې تقابل نشته. د ،،تبشير،، مقابله ،،انذار،، سره ده نو دلته د ،،تنفير،، په ځائې د ،،انذار،، ذكر كول پكار وو.[5]

ددې جواب پخپله حافظ رحمه الله وركړې دې چه چونكه په ابتداء د تعليم كښې ،،انذار،، (چه دا په حقيقت كښې اخبار بالشر دې) موجب د تنفير وى. په دې وجه دلته د ،،بشارت،، په مقابله كښې ،،نفرت،، ذكر شوې دې[6] او ،،تسكين،، د ،،تنفير،، عن مقابل دې.

حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى چه دلته د ،،بشروا،، په مقابله كښې د ،،انذار،، ذكر ځكه نه دې شوې چه ،،انذار،، پخپله په تبشير كښې داخل دې او د مقصد په لحاظ سره انذار د بشارت مقابل او ددې ضد نه دې بلكه د بشارت يو فرد دې. ددې وضاحت دا

---

[1] تهذيب التهذيب (۳۲۱/۱۱)_

[2] الكاشف (۳۸۱/۲) رقم (۶۲۹۲)_

[3] كشف البارى (۴/۲)_

[4] شرح النووى على صحيح مسلم (۸۲/۲) كتاب الجهاد والسير. باب تأمير الإمام الأمراء على البعوث و وصيته إياهم بآداب الغزو وغيرها . وفتح البارى (۱۶۳/۱)_

[5] فتح البارى (۱۶۳/۱)_

[6] المصدر السابق)_ ددې نه علاوه د كتاب الادب په روايت كښې امام بخارى رحمه الله د ،،و سكّنوا ولا تنفروا،، الفاظ نقل كړى دى. (صحيح البخارى (۹۰۴/۲) كتاب الأدب. باب قول النبى ﷺ: يسّروا ولا تعسّروا. رقم (۶۱۲۵)_

دي چه دلته په حديث شريف كښې د ،،يسّروا،، نه پس ،،ولا تعسّروا،، او د ،،بشّروا،، نه پس ،،ولا تنفّروا،، فرمائيلي شوى دى.ددې نه واضح طور باندې دا خبره معلوميږى.چه مقصد د يُسر او آسانتيا معامله ده.او د سختئ نه بچكول دى.چه دا د نفرت لاره ده.نو د ،،بشروا،، معنى دا شوه چه سختئ پيدا كولو سره خلقو كښې نفرت مه پيدا كوئ.بلكه په بشاشت تدبير سره ئې په كار باندې اولګوئ.ځكه چه مشكلاتو پيدا كولو سره مقصد فوت كيږى.او هركله چه مقصد په كارباندې لګول شو. نو شاباشې وركول، د احساناتو دباؤ اچول. او يرول او دهمكى وركول. او انذار نه كار اخستل او په لار راوستل ټول برابر دى.ځكه چه : طبيعتونو د مختلف كيدو په وجه ددوى د متاثره كولو طريقې مختلف كيږى.

بعضې خلق په مختصره شان خبره متاثره كيږى.بعضې په مختصر باندې صبر نه كوى. هغوى كښې د اطاعت جذبه پيدا كولو دپاره د الله تعالى د احساناتو او د شپې ورځې : نعمتونو تذكره كول پكار وى.بعضې طبيعتونه داسې وى.چه د انعاماتو او احساناتو تذكرې كولو سره نه متاثره كيږى.دوى لره په مقصد باندې راوستلو دپاره د تخويف او انذار او د وعيدونو اورولو، د يرولو او دهمكيانو ضرورت وى.معلومه شوه.چه ډير ځل انذار او تخويف هم بعضې ځايونو كښې د تبشير كار وركوى.نو ،،انذار،، د ،،تبشير،، مقابل او ضد نشو.بلكه په دې كښې شامل شو.(١)

حضرت علامه كشميرى رحمه الله ددې حديث مفهوم دا بيان كړې دې.چه انذار او بشارت يوځائې يوځائې اوساتلې شى.صرف وعيدونه اورول پكار نه دى.بلكه كوم ځائې چه : رحمت ذكر وى.هلته د نعمتونو تذكره هم وى.كوم ځائې چه تخويف وى.هلته د ترجيه (او اميد) معامله هم وى.چه خوف او رجاء (اميد) دواړه يوځائې وى.البته مناسب دا ده.چه : بشارت اړخ مقدم كړې شى.(٢)

يو اهم وضاحت يوه خبره په ذهن كښې كينول پكار دى.چه په حديث كښې د تيسير كوم حكم وركړې شوې دې.د هغې مقصد دا هيچرې نه دې.چه مداهنت اختيار كړې شى.چه يو شرعى منكر (او ناروا كار) اوكتلې شى.او هغه سره مصالحت كول، دا بالكل ناجائز دى.د نبى كريم ﷺ مقصد دا دې.چه د خلقو دين طرف ته راوستلو دپاره سختى اونكړې شى.په نرمئ او ملاطفت (مهربانئ) سره دين طرف ته دعوت وركړې شى.

مداهنت بل څيز دې.په دې كښې صراط مستقيم باندې د راوستلو كوشش نه كيږى.هلته سړې دا كوى.چه كوم خلق كار كوى.هغوى كولو ته پريخودلې شى.مونږ ته د نكير (منع كولو) او تنبيه كولو يا د ترغيب او تذكير ضرورت نشته.نو ددې اجازت نشته.

---

١) فضل البارى(١٢/٤٥، ٤٦)_
٢) انوار البارى(٣/٧٧)_

۱۲- ((بَاب مَنْ جَعَلَ لِأَهْلِ الْعِلْمِ أَيَّامًا مَعْلُومَةً))

ما قبل باب سره مناسبت په دوارو بابونو كښې مناسبت واضح دې.څكه چه وړاندې باب كښې د ((تخول بالموعظة والعلم)) ذكر دې.چه سترې والې او نفرت نه وى په دې باب كښې ددې سترې والي او نفرت دفع كولو طريقه ښودلې كيږى.چه د علم دپاره مخصوص ورځې مقرر كړې شى.(١)

د ترجمة الباب مقصد چونكه د علم د حصول په سلسله كښې د زمانې يا مكان په اعتبار سره تعين شرعاً ثابت نه دې.په دې وجه داسې قسمه تعين سره د بدعت توهم پيدا كيږى.ددې د دفع كولو دپاره امام بخارى رحمه الله دا باب قائم كړې دې.او دا بيانول غواړى.كه اهل علم د تعليم دپاره هفته كښې څه ورځ مخصوص او متعين كړى.نو دا تعين بدعت نه دې.په سنت كښې ددې اصل موجود دې. نبى كريم ﷺ به روزانه تعليم نه فرمئيلو د صحابه كرامو د طبيعت رعايت به ئې ساتلو.نو كه معلم د متعلمينو (او شاګردانو) دپاره څه وختونه مقرر كړى. نو هيڅ باك نشته.(٢)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى.دا هم ممكن ده.چه امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب كښې يوې نكتې طرف ته اشاره كړې وى.او هغه دا چه تعليم او تذكير دپاره څه ورځې مقررول، تقصير فى التبليغ (او كوتاهى) نه ده.(٣)

حديث باب

٧٠-((حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ (٤) قَالَ كَانَ عَبْدُ اللَّهِ يُذَكِّرُ النَّاسَ فِي كُلِّ خَمِيسٍ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ لَوَدِدْتُ أَنَّكَ ذَكَّرْتَنَا كُلَّ يَوْمٍ قَالَ أَمَا إِنَّهُ يَمْنَعُنِي مِنْ ذَلِكَ أَنِّي أَكْرَهُ أَنْ أُمِلَّكُمْ وَإِنِّي أَتَخَوَّلُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ كَمَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِهَا مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا))[ر:٦٨]

رجال الحديث

① عثمان بن ابى شيبه رحمه الله: دا عثمان بن محمد بن قاضى ابو شيبه ابراهيم بن عثمان عبسى كوفى رحمه الله دې.د مشهور محدث ابوبكر بن ابى شيبه رور دې لږ شيبه ددوى د نيكه د ابراهيم كنيت دې.او ددوى د پلار نوم محمد دې (٥).عام طور باندې دوى په عثمان بن

---

(١) عمدة القارى(٢:٤٧)_
(٢) لامع الدرارى(٢٣١٢)_
(٣) الأبواب و التراجم لصحيح البخارى(ص ٤٢)_
(٤) (قد مر تخريجه قبل حديث)_
(٥) تهذيب الكمال(١٩\٤٧٨) وسير أعلام النبلاء(١١\١٥٢)_

ابی شیبه او ددوی زوی په ابوبکر بن ابی شیبه نوم سره یادیږی.د علم د طلب په سلسله کښې ئې د مکې مکرمې او د ری سفر اوکړو ډیر حدیثونه ئې اوليکل..مسند.. او ..تفسير.. ددوی علمی یادگار دې.[1]

دوی د شریك بن عبدالله. جرير بن عبدالحميد. حمید بن عبدالرحمن. سفيان بن عيينه. طلحه بن يحي زرقي انصاری. عبدالله بن المبارك. عبدالرحمن بن مهدی. عبدة بن سليمان. عفان بن مسلم. قبیصه بن عقبه. ابو معاويه محمد بن خازم الضرير. هشیم بن بشير. وكيع بن الجراح او یزید بن هارون رحمهم الله وغيره نه د حدیثو روایت کړې دې.

ددوی نه امام بخاری. امام مسلم. امام ابوداؤد. امام ابن ماجه. ابو حاتم. ابراهيم حربي. بقي بن مخلد. ابو یعلی موصلی. ابو القاسم بغوی. محمد بن سعد او محمد بن يحي ذهلي رحمهم الله وغيره حضرات روایت کوی.[2]

ابوبکر الاثرم د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه د عثمان بن ابی شیبه په باره کښې تپوس اوکړو نو وې فرمائيل.((ماعلمت إلا خيرا)) او امام احمد رحمه الله ددوی تعریف اوکړو.[3]

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائی.،،ثقة مامون،،[4]

ابو حاتم رحمه الله فرمائی.،،هو صدوق،،[5]

امام عجلی رحمه الله فرمائی.،،عثمان كوفي ثقة،،[6]

د محمد بن عبدالله بن نمير رحمه الله نه ددوی په باره کښې تپوس اوشو.نو وې فرمائيل.((سبحان الله! ومثله يُسئل عنه؟ إنما يسئل هوعنا))[7]

ابن حبان رحمه الله دوی لره په ..کتاب الثقات.. کښې ذکر کړې دې.[8]

ددې توثيقاتو سره سره ددوی نه څه احادیث منكر هم رانقل دی.چه د هغې په وجه امام احمد رحمه الله څه نکير هم کړې دې.[9] . خطيب بغدادی رحمه الله د هغې احادیثو تتبع او تلاش کړې دې.او يوځائې ئې جمع کړی دی.او دهغې عذر ئې هم بيان کړې دې.[10]

---

[1] تهذيب الكمال(۱۹\۴۷۹)_

[2] د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(۱۹\۴۷۹ - ۴۸۱) وسير(۱۱\۱۵۲)_

[3] تهذيب الكمال(۱۹\۴۸۱) وسير أعلام النبلاء(۱۱\۱۵۲)_

[4] سير أعلام النبلاء(۱۱\۱۵۲)_

[5] تهذيب الكمال(۱۹\۴۸۲)_

[6] تهذيب الكمال(۱۹\۴۸۲)_

[7] تهذيب التهذيب(۷\۱۵۰)_

[8] الثقات لابن حبان(۸\۴۵۴)_

[9] هدى السارى(ص ۴۲۴) وميزان الإعتدال(۳\۳۶، ۳۷)_

[10] هدى السارى(ص ۴۲۴)_

سره ددې چه د علمي مقام او لوئې مرتبې مالك وو ددوى په مزاج كښې د مزاح ماده وه ترديې چه د قرآن كريم په آيت كښې به ئې تصحيف كولو او بيا به ئې د هغې توجيه كوله (۱) ،،سامحه الله تعالى،،

په ۲۳۹ھ كښې ددوى وفات اوشو (۲) ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

④ جرير رحمه الله: دا جرير بن عبدالحميد بن قرط ضبى رازى دې ابوعبدالله ددوى كنيت دې (۳)
دوى د منصور بن المعتمر، عبدالملك بن عمير، بيان بن بشير، مغيره بن مقسم، عاصم الاحول، سليمان التيمى، امام اعمش، ليث بن ابى سليم، عطاء بن السائب، هشام بن عروه، او يحي بن سعيد انصارى رحمهم الله وغيره نه حديثونه روايت كړى دى.
ددوى نه روايت كونكو كښې ابو خيثمه زهير بن حرب، اسحاق بن راهويه، سليمان بن حرب، عبدالله بن المبارك، ابوبكر بن ابى شيبه، عثمان بن ابى شيبه، على بن المدينى، قتيبه بن سعيد، محمد بن حميد رازى، محمد بن سلام بيكندى، يحي بن اكثم، يحي بن معين او ابوداؤد طيالسى رحمهم الله وغيره حضرات دى (۴)
امام يحي بن معين رحمه الله ددوى توثيق كړې دې (۵)

امام عجلى رحمه الله فرمائى ،،كوفى ثقة،، (۶)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ،،جرير ثقة،، (۷)

امام نسائى رحمه الله فرمائى ،،ثقة،، (۸)

عبدالرحمن بن يوسف بن خراش فرمائى ،،صدوق،، (۹)

ابوالقاسم لالكائى رحمه الله فرمائى ((مجمع على ثقته)) (۱۰)

ابن سعد رحمه الله فرمائى ((وكان ثقة كثير العلم يُرحَل إليه)) (۱۱)

---

(۱) تهذيب الكمال (۱۹\۴۸۶) وميزان الإعتدال (۳\۳۷) وسير أعلام النبلاء (۱۱\۱۵۲. ۱۵۳)_
(۲) ميزان الإعتدال (۳\۳۸)_
(۳) تهذيب الكمال (۱۴\۵۴۰)_
(۴) دشيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال (۱۴\۵۴۱- ۵۴۳) وسير أعلام النبلاء (۹\۱۰)
(۵) تاريخ الدارمى (ص ۵۱) (رقم\۵۰۱) و (ص ۶۰) (رقم\۸۸)_
(۶) تهذيب الكمال (۱۴\۵۵۰)_
(۷) المصدر السابق_
(۸) المصدر السابق_
(۹) المصدر السابق_
(۱۰) المصدر السابق_
(۱۱) الطبقات لابن سعد (۷\۳۸۱)_

ابن عمار موصلي رحمه الله فرمائي «حجة كانت كتبه صحاحاً»[1]

ابن حبان رحمه الله دوی لره په ،،كتاب الثقات،، كښې ذكر كړې دې.[2]

ابو احمد الحاكم رحمه الله فرمائي ،،هو عندهم ثقة،،[3]

علامه خليلي په ،،الارشاد،، كښې فرمائي ،،ثقة متفق عليه،،[4]

البته قتيبه دوی لره تشيع طرف ته منسوب كړې دې.[5] او بعضې حضرات فرمائي چه په آخرى عمر كښې ددوى په حافظه كښې تغير راغلې وو.[6]

تر كومه پورې چه حافظه كښې د تغير تعلق دې نو د امام يحي بن معين رحمه الله نه چه كله ددې په باره كښې تپوس اوكړې شو چه «كيف تروى عن جرير؟» نو وې فرمائيل «ألا تراه قد بين لهم أمرها»[7] يعنې ددوى كوم حديثونه چه د عاصم الاحول او اشعث په واسطه نقل دى په هغې كښې اختلاط واقع شوې دې چه د هغې تعين شوې دې نو د جرير په احاديثو كښې هيڅ كلام نشته والله اعلم.

په ١٨٨ﻫ كښې ددوى وفات اوشو.[8] ،،رحمه الله تعالىٰ رحمة واسعة،،_

④ **منصور رحمه الله**: دا مشهور محدث ابو عتاب منصور بن المعتمر السلمي الكوفي رحمه الله دې.[9]

دوی د ابو وائل، ربعي بن حراش، ابراهيم نخعي، امام مجاهد، سعيد بن جبير، امام شعبي، حسن بصرى، او عطاء بن ابى رباح رحمهم الله وغيره حضرات نه احاديث روايت كړى دى.ددوى نه ايوب سختياني، امام اعمش، سليمان تيمي، شعبه، سفيان ثورى، قاضى شريك، ابوعوانه، معتمر بن سليمان، او سفيان بن عيينه رحمهم الله پشان ډيرو حضراتو احاديث روايت كړى دى.[10]

امام ابوزرعه رحمه الله فرمائي «أثبت أهل الكوفة منصور ثم مسعر»[11]

---

[1] ميزان الإعتدال(١\٣٩٤) رقم(١٤٦٦)_

[2] تهذيب التهذيب(٢\٧٧)_

[3] تهذيب التهذيب(٢\٧٧)_

[4] المصدر السابق)_

[5] هدى السارى(ص٣٩٥) وتهذيب التهذيب(٢\٧٧)_

[6] المصدر السابق)_

[7] تهذيب التهذيب(٢\٧٦، ٧٧)_

[8] تهذيب الكمال(٤\٥٥١)_

[9] تهذيب الكمال(٢٨\٥٤٦، ٥٤٧)_

[10] د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٢٨\٥٤٧- ٥٤٩) وسيرأعلام النبلاء (٥\٤٠٢، ٤٠٣)_

[11] تهذيب الكمال(٢٨\٥٥٣)_

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی، ،ثقة، ،[۱] او هم دوی فرمائی «الأعمش حافظ يدلس و يخلط، و منصور أتقن منه لايخلط ولا يدلس»[۲]
امام عجلی رحمه الله فرمائی. «كوفي ثقة، ثبت في الحديث، كان أثبت أهل الكوفة، وكان حديثه القدم، لايختلف فيه أحد، متعبد، رجل صالح»[۳]
امام يحي بن معين رحمه الله فرمائی. «منصور أثبت من الحكم بن عتيبة و منصور من أثبت الناس»[۴]
امام يحي بن سعد القطان رحمه الله فرمائی. «كان منصور من أثبت الناس»[۵]
ش امام عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله فرمائی. «حفاظ الكوفة أربعة، عمرو بن مرة، و منصور، وسلمة بن كهيل، وأبوحصين»[۶]
امام سفيان ثوری رحمه الله فرمائی «ما خلفت بعدی بالكوفة آمن على الحديث من منصور»[۷]
امام سعد رحمه الله فرمائی. «وكان ثقة مأمونا كثيرالحديث رفيعا عاليا»[۸]
ابن حبان رحمه الله دوی لره په ، ،كتاب الثقات، ، كښې ذكركړې دې.[۹]
ددې ټولو توثيقاتو په مقابله كښې امام عجلی او حماد بن زيد رحمهما الله ددوی په باره كښې ذكر كړی دی.چه په دوی كښې تشيع وو.لكه چه امام عجلی رحمه الله فرمائی. «وكان فيه تشيع قليل ولم يكن بغال»[۱۰]
او حماد بن زيد رحمه الله فرمائی. «رأيت منصور بن المعتمر صاحبكم، وكان من هذه الخشبية، [۱۱] وما أراه كان يكذب، قلت: القائل الذهبي: الخشبية: هم الشيعة»[۱۲]

---

[۱]) المصدرالسابق)_
[۲]) تهذيب الكمال(۲۸\۵۵٤)_
[۳]) المصدرالسابق)_
[۴]) تهذيب الكمال(۲۸\۵۵۲)_
[۵])سيرأعلام النبلاء(۵\٤۰۷)_
[۶])سيرأعلام النبلاء(۵\٤۱۲)_
[۷]) المصدرالسابق)_
[۸])الطبقات لابن سعد(۶\۳۳۷)_
[۹])الثقات لابن حبان(۷\٤۷۳، ٤۷٤)_
[۱۰])تهذيب التهذيب(۱۰\۳۱۵)_
[۱۱])قال الزبيدى فى تاج العروس(۱۱\۲۳٤): ..والخشبية، محركة: قوم من الجهمية. قاله الليث. يقولون: إن الله تعالى لا يتكلم. وإن القرآن مخلوق. وقال ابن الأثير: هم أصحاب المختار بن أبى عبيد: ويقال: هم ضرب من الشيعة. قيل: لأنهم حفظوا خشبة زيد بن على حين صلب....وقال منصور بن المعتمر: إن كان من يحب عليا يقال له: خشبى فاشهدوا أنى ساحبه. قال الذهبي: قاتلوا مرة بالخشب فعرفوا بذالک.)_
[۱۲])سيرأعلام النبلاء(۵\٤۰۸)_

خو اول خو پخپله دا حضرات فرمائي چه تشيع كم وو.او په دوى كښې غلو نه وه.او حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي .((تشيعه حب وولاء فقط))(1)

په ١٣٢ھ كښې دوى وفات شو.(2)،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

④ ابووائل رحمه الله: دا ابو وائل شقيق بن سلمه اسدى كوفي رحمه الله دي.ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د ((باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لايشعر)) لاندې تير شوى دى.(3)

قوله كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ يُذَكِّرُ النَّاسَ فِي كُلِّ خَمِيسٍ : حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به هر زيارت خلقو ته نصيحت كولو.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تذكره وړاندې په كتاب الايمان كښې د ((باب ظلم دون ظلم)) لاندې شوې ده.(4)

قوله فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ لَوَدِدْتُ أَنَّكَ ذَكَّرْتَنَا كُلَّ يَوْمٍ: دوى ته يوكس اووئيل.اى ابو عبدالرحمن! زما خواهش دې چه تاسو مونږ ته روزانه نصيحت كوئ.

د ،،رجل،، نه څوک مراد دي؟ ددې مبهم ،،رجل،، نه مراد غالبا يزيد بن معاويه نخعي رحمه الله دې.(5) د كتاب الدعوات روايت نه هم دا معلوميږى.ځكه چه په هغې كښې ابو وائل فرمائي.: ((كنا ننتظر عبدالله، إذ جاء يزيد بن معاوية فقلنا: ألا تجلس؟ قال: لا ولكن أدخل، فأخرج إليكم صاحبكم وإلا جئت أنا فجلست، فخرج عبدالله، وهو آخذ بيده، فقام علينا، فقال: أما إني أخبر بمكانكم، ولكنه يمنعني من الخروج إليكم، أن رسول الله ﷺ كان يتخولنا بالموعظة في الأيام، كراهية السآمة علينا))(6)

په دې روايت كښې د يزيد بن معاويه نخعي ذكر راغلې دې.چه دوى حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په وعظ كولو باندې د راضى كولو كوشش كړې وو.په دې وجه عين ممكن ده.چه په روايت باب كښې د ،،رجل،، نه مراد هم دوى وى.

روزانه وعظ كول مناسب نه دى

قوله قَالَ أَمَا إِنَّهُ يَمْنَعُنِي مِنْ ذٰلِكَ أَنِّي أَكْرَهُ أَنْ أُمِلَّكُمْ وَإِنِّي أَتَخَوَّلُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ كَمَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِهَا مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا: وې فرمائيل.چه د روزانه وعظ او نصيحت نه زما دپاره مانع دا دې.چه ماته دا خوښه نه ده.چه زه تاسو په ستړى كيدو (او ستومانه كيدو) كښې مبتلا كړم.زه په نصيحت كولو كښې

---

(1) سير أعلام النبلاء(٥\٤٠٧)_
(2) تهذيب الكمال(٢٨\٥٥٥)_
(3) كشف البارى(٢\٥٥٩)_
(4) كشف البارى(٢\٢٥٧)_
(5) فتح البارى(١\١٦٤)_
(6) صحيح البخارى(٢\٩٥٩) كتاب الدعوات. باب الموعظة ساعة بعد ساعة. رقم(٦٤١١)_

ستاسو دپاره د موقعې او وخت رعايت کوم لکه څنګه چه به نبی کريم ﷺ زمونږه موقعه او وخت کتلو نومونږ ته به ئې نصيحت کولو هغوی ته هم دا يره وه چه مونږ ستړی نشو (او زمونږ نفرت پيدا نشی)

مطلب دا دې چه د کوم شوق اظهار تاسو کوئ په صحابه کرامو ﷺ کښې ددې نه زيات شوق او جذبه موجود وه ددې باوجود به نبی کريم ﷺ په تعليم او تذکير کښې زمونږ د طبيعت لحاظ ساتلو ستاسو ذوق او شوق د صحابه کرامو ﷺ د ذوق او شوق برابر نه دې هرکله چه هغوی د زړه د تنګيدو لحاظ ساتلو او د تعليم او موعظت عمل ئې جاری ساتلې دې نو زما دپاره څنګه مناسب کيدې شی چه بلا ناغه تعليم او تذکير جاری اوساتم لکه څنګه چه به د نبی کريم ﷺ د رغبت (او شوق) لحاظ ساتلو دغه شان زه هم رعايت کوم

۱۳- بَابٌ مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ

ما قبل باب سره مناسبت په تيرشوی باب کښې د هغه سړی حال مذکور دې چه هغه د تعليم او تذکير کار کوی او خلقو ته د دين خبرې ښائی هغوی په نفع او نقصان باندې پوهوی چونکه دا کار د ،،فقيه فی الدين،، دې په دې وجه مذکوره باب کښې د ،،فقيه فی الدين،، تعريف فرمائی.([1])

د ترجمة الباب مقصد حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائی چه د ترجمة الباب او ددې لاندې د ذکرشوی حديث نه دوه خبرې ښکاره کيږی:

① يودا چه ،،فقه فی الدين،، ډير لوئې خير دې.

② دويمه دا چه ،،فقه فی الدين،، د الله تعالى عطاء ده تردې چه نبی کريم ﷺ هم ،،وإنما أنا قاسم،، فرمائيلو سره ډيل عذر ښکاره کوی چه ددې نه د ،،فقه فی الدين،، عظمت او فضيلت ښکاره کيږی.([2])

حديث باب

٧- ((حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ قَالَ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ([3]) خَطِيبًا يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[1] عمدة القاری(۲\۷٤۸)_

[2] الأبواب و التراجم(ص٤٦)_

[3] قوله: ،،سمعت معاوية خطيباً،،: الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی صحيحه(۱\٤۳۹) فی كتاب فرض الخمس. باب قول الله تعالى ﴿ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ ﴾ رقم(۳۱۱۶) و(۱\٥۱٤) كتاب المناقب. باب (بدون ترجمة. بعد باب سؤال المشركين أن يريهم النبی ﷺ آية فأراهم انشقاق القمر)رقم(۳۶٤۱) و(۲\۱۰۸۷) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة. باب قول النبی ﷺ: لاتزال طائفة من أمتی ظاهرين على الحق. رقم(۷۳۱۲) و(۲\۱۱۱۱) كتاب التوحيد. باب قول الله تعالى ﴿إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ﴾ رقم(۷٤۶۰) ومسلم فی صحيحه (۱\۳۳۳) كتاب الزكاة. باب النهی عن المسألة و(۲\۱٤۳) كتاب الإمارة. باب قوله ﷺ: لاتزال طائفة من أمتی....و ابن ماجه فی سننه(ص۲۰) المقدمة. باب فضل العلماء الحث على طلب العلم. رقم(۲۲۱)

يَقُولُ مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللَّهُ يُعْطِي وَلَنْ تَزَالَ هَذِهِ الأُمَّةُ قَائِمَةً عَلَى أَمْرِ اللَّهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ)) [٣٩٣٨،٣٤٤٢،٦٨٨٢،٧٠٢٢]

رجال الحديث

① سعيد بن عُفير رحمه الله: دا سعيد بن كثير بن عفير رحمه الله دي. كله كله نيكه طرف ته نسبت كولو سره سعيد بن عفير ونيلي كيږى. لكه څنګه چه دلته كښې هم داسې دي. ابو عثمان ددوى كنيت دي. (1) دوى د انصار د موالى څخه دي. په ١۴۶هـ كښې ددوى ولادت اوشو (2) دوى د امام مالك، ليث بن سعد، سليمان بن بلال، عبدالله بن لهيعه، عبدالله بن وهب، يحي بن ايوب او يعقوب بن عبدالرحمن اسكندرانى رحمهم الله وغيره نه احاديث روايت كوى. ددوى نه په روايت كونكو كښې امام بخارى، امام ابن معين، عبدالله بن حماد آملى، يحي بن عثمان بن صالح، ابوالزنباع روح بن الفرج او احمد بن حماد زغبه رحمهم الله وغيره حضرات دى. (3)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى. ((لم يكن بالثبت، كان يقرأ من كتب الناس، وهو صدوق)) (4)

امام ابن معين رحمه الله فرمائى. ((ثقة لا بأس به)) (5)

امام نسائى رحمه الله فرمائى. ((سعيد بن عفير صالح)) (6)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى. ((وكان ثقة إماماً من بحور العلم)) (7)

امام حاكم رحمه الله فرمائى. ((إن مصر لم تخرج أجمع للعلوم منه)) (8)

امام بن معين رحمه الله فرمائى. ((رأيت بمصر ثلاث عجائب: النيل، والأهرام، وسعيد بن عفير)) (9)

حافظ ذهبى رحمه الله په دوى باندې تبصره كولو كښې ليكى. ((حسبك أن يحي إمام المحدثين انبهر لابن عفير)) (10)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په ..كتاب الثقات.. كښې ذكر كړې دې. (11)

---

(1) تهذيب الكمال (١١\٣۶، ٣٧)_

(2) سير أعلام النبلاء (١٠\٥٨٣)_

(3) دشيوخ اوتلامذه دتفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال (١١\٣٧، ٣٨) وسير أعلام النبلاء (١٠\٥٨٣)

(4) تهذيب الكمال (١١\٣٨)_

(5) تهذيب التهذيب (٤\٧٥)_

(6) المصدر السابق)_

(7) سير أعلام النبلاء (١٠\٥٨٤)_

(8) تهذيب التهذيب (٤\٧٥)_

(9) سير أعلام النبلاء (١٠\٥٨٤)_

(10) المصدر السابق)_

(11) الثقات لابن حبان (٨\٢۶۶)_

ابن يونس رحمه الله فرمائى. «كان سعيد من أعلم الناس بالأنساب، والأخبار الماضية، وأيام العرب والتواريخ، كان في ذالك كله شيئاً عجيباً، وكان مع ذالك أديباً فصيحاً، حسن البيان، حاضر الحجة، لا تمل مجالسة، ولا ينزف علمه، قال: وكان شاعراً مليح الشعر....»(١)

البته امام ابواسحاق سعدى جوزجانى رحمه الله ددوى په باره كښې فرمائيلى دى. «فيه غير لون من البدع، وكان مخلطاً غير ثقة»(٢) خو ابن عدى رحمه الله ددوى په ترديد كښې ليكلى دى. «هذا الذى قاله السعدى لا معنى له، ولم أسمع أحداً، ولا بلغنى عن أحد من الناس كلاماً فى سعيد بن كثير بن عفير وهو عند الناس صدوق، ثقة، وقد حدث عنه الأئمة من الناس، إلا أن يكون للسعدى أراد به سعيد بن عفير آخر، وأنا لا أعرف سعيد بن عفير غير المصرى....»(٣)

حافظ ابن عدى رحمه الله ددوى دوه منكر حديثونه نقل كړى دى. او فرمائيلى ئې دى. چه ماته سوا ددې دوو حديثونو نه زياتى بل كوم منكر روايت ملاو نشو. او په دې دواړو روايتونو كښې هم چه كوم نكارت راغلې دې. هغه ددوى د خوى عبدالله بن سعيد په وجه راغلې دې. ځكه چه سعيد بن عفير مستقيم الحديث دې.(٤) حافظ ذهبى رحمه الله ددې دواړو حديثونو نه علاوه يو بل حديث هم ذكر كړې دې. چه هغه منكر دې. خو ددې نكارت سبب ئې ددوى استاذ يحي بن ايوب ګرځولې دې.(٥)

او حافظ ذهبى رحمه الله دا هم فرمائى. «من كان فى سعة علم سعيد فلا غرو أن ينفرد....»(٦) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى. «لم يكثر عنه البخارى»(٧) يعنى اول خو ددوى منكر احاديث د شمير يو څو حديثونه دى. چه دا متعين او معلوم دى. ددې نه علاوه امام بخارى رحمه الله ددوى نه كثرت سره روايتونه هم نه دى نقل كړى.

په ٢٢٦ھ كښې ددوى وفات اوشو.(٨) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

④ ابن وهب رحمه الله: دا د حديثو او فقهې مشهور امام ابو محمد عبدالله بن وهب بن مسلم قرشى فهرى مصرى رحمه الله دې.(٩)

---

(١) تهذيب التهذيب(١١١\٤٠)_
(٢) الكامل لابن عدى(٤١١\٣)_
(٣) المصدر السابق)_
(٤) الكامل(٤١١\٣، ٤١٢)_
(٥) ميزان الإعتدال(١٥٥\٢)_
(٦) سير أعلام النبلاء(٥٨٥\١٠)_
(٧) هدى السارى(٤٠٦)_
(٨) سير أعلام النبلاء(٥٨٦\١٠)_
(٩) تهذيب الكمال(٢٧٧\١٦)_

دوى د ابن جريج، يونس بن يزيد ايلى، حنظله بن ابى سفيان، امام مالك ليث بن سعد، ابن لهيعه، حرمله بن عمران، اسامه بن زيد ليثى، حيوه بن شريح، موسى بن ايوب غافقى او افلح بن حميد رحمهم الله وغيره ډير حضراتو نه روايت كوى. ددوى نه روايت كونكو كښې ددوى د شيخ ليث بن سعد نه علاوه عبدالرحمن بن مهدى، احمد بن صالح، حارث بن مسكين، سحنون بن سعيد، يحي بن يحي ليثى، يونس بن عبدالاعلى، اصبغ بن الفرج او سعيد بن ابى مريم رحمهم الله وغيره ډير حضرات دى. (1)

عبدالله بن وهب رحمه الله په ١٢٥هـ كښې پيدا شو (2) د بعضو صغار تابعينو نه دوى ته لقاء حاصل ده. (3)

په دوى كښې د علم حاصلولو شوق څنګه پيدا شو؟ د خپل طالب علمۍ قصه ذكر كولو كښې فرمائى چه زه په شروع كښې عبادت طرف ته راغب ووم شيطان زما په زړه كښې وسوسه اچول شروع كړل او زه د حضرت عيسى عليه السلام په باره كښې سوچ كښې پريوتلم چه الله تعالى هغوى څنګه پيدا كړل. داسې قسمه نورو سوالونو زما په زړه كښې ځائ اونيولو. ما يو سړى ته شكايت اوكړو. هغوى اوفرمائيل «أطلب العلم»، نو د هغوى دا ارشاد زما د علم طلب كولو سبب جوړ شو. (4)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى: «عبدالله بن وهب صحيح الحديث، يفصل السماع من العرض، والحديث من الحديث، ما أصح حديثه وأثبته....» (5)

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى: «ثقة» (6)

امام ابو زرعه رحمه الله فرمائى: «نظرت في حديث ابن وهب نحو ثمانين ألف حديث، من حديثه عن المصريين وغيرهم، فما أعلم أني رأيت له حديثا لا أصل له، وهو ثقة» (7)

امام ابوحاتم رازى رحمه الله فرمائى: «هو صدوق صالح الحديث» (8)

امام ابن عدى رحمه الله فرمائى: «وعبدالله بن وهب من أجلة الناس ومن ثقاتهم....، ومن يكون له من

---

(1) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال(١٦\٢٧٧ ٢٨٢) وسير أعلام النبلاء (٩\٢٢٣ـ ٢٢٥)_

(2) سير أعلام النبلاء (٩\٢٣٢)_

(3) سير أعلام النبلاء (٩\٢٢٤)_

(4) جامع بيان العلم وفضله (١\١٢٩) باب تفضيل العلم على العبادة. رقم(١٢٨)_

(5) تهذيب الكمال (١٦\٢٨٢) والإنتقاء في فضائل الأئمة الثلاثة الفقهاء (ص٩٣)_

(6) تهذيب الكمال (١٦\٢٨٣) وسير أعلام النبلاء (٩\٢٢٦)_

(7) الإنتقاء (ص\٩٤) وتهذيب الكمال (١٦\٢٨٤) وسير أعلام النبلاء (٩\٢٢٥)_

(8) سير أعلام النبلاء (٩\٢٢٦) و تهذيب الكمال (١٦\٢٨٤)_

الأصناف مثل ما ذکرته أستغنی أن یذکر له شيء، ولا أعلم له حدیثاً منکراً إذا حدث عنه ثقة من الثقات» [1]

امام ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دی. او لیکلی ئې دی.

«وکان ممن جمع وصنف، وهو الذی حفظ علی أهل الحجاز ومصر حدیثهم، وعنی بجمع ما رووا من المسانید والمقاطیع، وکان من العباد....» [2]

ابن سعد رحمه الله فرمائی. «وکان کثیر العلم، ثقة فیما قال، حدثنا» [3]

امام عجلی رحمه الله فرمائی. «مصری، ثقة، صاحب سنة، رجل صالح، صاحب آثار» [4]

امام نسائی رحمه الله فرمائی. «ثقة، ما أعلمه روی من الثقات حدیثاً منکراً» [5]

ساجی رحمه الله فرمائی. «صدوق ثقة، وکان من العباد» [6]

خلیلی رحمه الله فرمائی. «ثقة متفق علیه» [7]

امام مالک رحمه الله به ابن وهب په ،،مفتی مصر،، او ،،فقیه مصر،، القابو سره یادولو. [8]

حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی. «یقولون إن مالکاً رحمه الله لم یکتب إلی أحد کتاباً یُعَنوِنُه بالفقیه إلا إلی ابن وهب» [9]

البته ابن عدی رحمه الله دوی لره په ،،الکامل،، کښې ذکرکړې دې. [10] او په دې کښې ئې د یحیی بن معین نه نقل کړی دی چه «ابن وهب لیس بذاك وابن جریج، کان یستصغره» [11]

د امام نسائی او امام احمد رحمهما الله جرح او د هغې تردید. امام نسائی رحمه الله فرمائی. «کان یتساهل فی الأخذ ولا بأس به» [12]

---

[1] الکامل (۴\۲۰۵)_

[2] الثقات (۸\۳۴۶) بتصرف ما وقع فی هذه العبارة من التحریفات، وانظر تهذیب الکمال (۱۶\۲۸۵) ومیزان الإعتدال (۲\۵۲۳)_

[3] الطبقات لإبن سعد (۷\۵۱۸)_

[4] تهذیب التهذیب (۶\۷۳)_

[5] تهذیب التهذیب (۶\۷۴) وسیر أعلام النبلاء (۹\۲۲۸)_

[6] تهذیب التهذیب (۶\۷۴)_

[7] المصدر السابق)_

[8] سیر أعلام النبلاء (۹\۲۲۷) وتهذیب التهذیب (۶\۷۳، ۷۴)_

[9] الإنتقاء (ص ۹۴)_

[10] الکامل (۴\۲۰۲)_

[11] الکامل (۴\۲۰۲)_

[12] تهذیب التهذیب (۶\۷۴)_

او امام احمد رحمه الله نه چه کله تپوس اوشو «أليس كان سيئ الأخذ؟» نو دوی اوفرمائيل «بلى»[1]
ترکومه پورې چه د ابن معين رحمه الله کلام دې نو د جمهورو عالمانو د توثيقاتو نه علاوه ددوی خپل توثيق هم وړاندې تير شوې دې نو ددې توثيقاتو په مقابله کښې ددې جرح هيڅ حيثيت نه پاتې کيږی
ترکومه پورې چه د امام احمد او امام نسائی رحمهما الله دوی لره د ‹‹سيئ الأخذ›› يا د ‹‹متساهل›› ګرځولو تعلق دې نو اول خو دا د تحمل حديث په يو مخصوص صورت باندې ره کول مقصود دی چه ددې د امام ابن وهب نه علاوه يو ډير لوئې جماعت قائل دې هغه صورت دا دې چه دوی د ‹‹اجازت حديث›› په بنياد باندې د ‹‹حدثنا›› په الفاظو سره ادا صحيح کيدو قائل وو او په دې باندې عامل وو.[2]
بيا دويمه خبره دا هم ده چه کوم ځائې کښې امام احمد رحمه الله ددوی د ‹‹سيئ الأخذ›› کيدو ذکر کوی هلته ورسره دا تصريح هم کوی چه «ولكن إذا نظرت في حديثه وما روى عن مالك وجدته صحيحاً»[3] «وفي بعض الروايات: ‹‹وما روى عن مشائخه وجدته صحيحاً››»[4]
او امام نسائی رحمه الله دوی لره اګرچه ‹‹متساهل فی الاخذ›› ګرځولي دې خو هغوی پخپله فرمائي «ثقة، ما أعلمه روى عن الثقات حديثاً منكراً»[5]
حافظ ابن عدی چه ددوی ذکر په ‹‹الكامل›› کښې کړې دې چه دا د ضعفاء د تذکرې دپاره مخصوص دې په دې باندې حافظ ذهبی رحمه الله تنقيد کړې دې او فرمائيلی ئې دی «تناكد[6] ابن عدى بإيراده في الكامل»[7]
حافظ ذهبی رحمه الله په دوی باندې تبصره کولو کښې بالکل صحيح فرمائيلی دی چه «وعبدالله: حجة مطلقاً، وحديثه كثير في الصحاح، وفي دواوين الإسلام، وحسبك بالنسائي وتعنته في النقد حيث يقول: وابن وهب ثقة، ما أعلمه روى عن الثقات حديثاً منكراً»[8]

---

[1] ميزان الإعتدال (٥٢٣/٢)_
[2] قال الساجي:...وكان يتساهل في السماع. لأن مذهب أهل بلده أن الإجازة عندهم جائزة. ويقول فيها: حدثني فلان.. تهذيب التهذيب(٧٤/٦). وقال الذهبي في السير(٢٣١/٩): هذا الفعل مذهب طائفة. و إن الرواية سائغة به. وبه يقول الزهري و إبن عيينة.. وقال في الميزان(٥٢١/٢): هذا مذهب الجماعة. وإن كان على عبدالله فيه عتب فابن عيينة شريكه فيه.)_
[3] الانتقاء(ص٩٣)_
[4] تهذيب الكمال(٢٨٢/١٦) وسير أعلام النبلاء(٢٢٦/٩) وميزان الإعتدال(٥٢٣/٢)_
[5] تهذيب التهذيب(٧٤/٦)_
[6] تناكد القوم: تعاسروا وضايق بعضهم بعضاً. المعجم الوسيط(٩٥١/٢)_
[7] ميزان الإعتدال(٥٢١/٢)_
[8] سير أعلام النبلاء(٢٢٨/٩)_

او هم دوی فرمائی ((ولقد تمحّل بعض الأئمة على ابن وهب في أخذه للحديث، وأنه كان يترخص في الأخذ، وسواء ترخص و رأى ذالك سائغاً أو تشدد، فمن يروي مائة ألف حديث، ويندر المنكر في سعة ما روى، فإليه المنتهى في الإتقان))(١)

د قضاء عهده مسترد کولو حیله ابن وهب رحمه الله لره حاکم وخت د قضاء عهدې قبلولو باندې مجبور کړو نو دوی پخپل ځان باندې جنون راوستلو او په دې طریقه ئې د قضاء عهدې قبلولو نه انکار اوکړو.(٢)

دابن وهب رحمه الله ډیر تصنیفات دی په هغې کښې ..کتاب الجامع.. ..کتاب البيعة.. المناسك.. المغازی.. الردة.. او ..تفسیر غریب الموطا.. مشهور دی.(٣) دوی د امام مالك رحمه الله نه د موطا هم روایت کړې دې او د موطا په مشهورو نسخو کښې ددوی نسخه خاص اهمیت لری.(٤)

د وفات واقعه ددوی د وفات واقعه داسې پیښه شوه چه ددوی په وړاندې ددوی خپل تصنیف ..أهوال القيامة.. اولوستلې شو ونیلې شی چه ړومبې بې هوشی او غوټه شان راغله او بیا هم په دې حال کښې وفات شو.(٥)

ددوی د وفات کال ١٩٧ هـ دې.(٦) ..رحمه الله تعالى رحمة واسعة..

③ **یونس رحمه الله**:(٧) دا یونس بن یزید ایلی قرشی رحمه الله دې ددوی کنیت ابویزید دې.(٨)
دوی د ابن شهاب زهری، نافع مولی د ابن عمر، قاسم بن محمد بن ابی بکر، عکرمه مولی ابن عباس، عمارة بن غزیه، او د خپل رور ابوعلی بن یزید رحمهم الله وغیره نه روایت کوی ددوی نه لیث بن سعد، یحی بن ایوب، نافع بن یزید، اوزاعی، جریر بن حازم، عبدالله بن المبارك، بقیة بن الولید، سلیمان بن بلال او محمد بن فلیح رحمهم الله وغیره ډیر حضرات روایت کونکی دی.(٩)

دوی د امام زهری رحمه الله په خدمت کښې دولس یا څوارلس کاله پاتې شوی دی.(١٠)

---

(١) المصدر السابق)_
(٢) سير أعلام النبلاء(٩\٢٣٤)_
(٣) سير أعلام النبلاء(٩\٢٢٥)_
(٤) مقدمة التعليق الممجد(ص١٨) ومقدمة أوجز المسالك((١\٣٦)_
(٥) الانتقاء(ص٩٤) وسير أعلام النبلاء(٩\٢٢٦)_
(٦) الكاشف(١\٦٠٦) رقم(٣٠٤٨)_
(٧) ددوی مختصر ترجمه په كشف الباری(١\٤٦٣) كښې تيره شوې ده._
(٨) تهذيب الكمال(٣٢\٥٥١، ٥٥٢) وسير أعلام النبلاء(٦\٢٩٧)_
(٩) دشيوخ اوتلامذه دتفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٣٢\٥٥٢، ٥٥٣) وسير أعلام النبلاء(٦\٢٩٨)
(١٠) تهذيب الكمال(٣٢\٥٥٣)_

امام ابن مبارک او عبدالرحمن بن مهدی رحمهما الله فرمائی: «کتابه صحیح»[1]
امام احمد رحمه الله فرمائی: «یونس أکثر حدیثاً عن الزهری من عقیل، وهما ثقتان»[2]
امام ابن معین رحمه الله فرمائی: «أثبت الناس فی الزهری: مالك و معمر و یونس، و......، و.....»[3]
او امام ابن معین رحمه الله فرمائی: «یونس ثقة»[4]
امام احمد بن صالح رحمه الله فرمائی: «نحن لا نقدم فی الزهری علی یونس أحداً»[5]
امام عجلی او امام نسائی رحمهما الله فرمائی: «ثقة»[6]
یعقوب بن شیبه رحمه الله فرمائی: «صالح الحدیث، عالم بحدیث الزهری»[7]
ابو زرعه رحمه الله فرمائی: «لا بأس به»[8]
ابن خراش رحمه الله فرمائی: «صدوق»[9]
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: «الإمام الثقة المحدث....»[10]
او هم دوی فرمائی: «ثقة حجة»[11]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: «ثقة، إلا أن فی روایته عن الزهری وهماً قلیلاً، وفی غیر الزهری خطأ»[12]
ابن حبان رحمه الله دوی لره په «کتاب الثقات» کښې ذکر کړې دې.[13]
د بعضو امامانو جرح او د هغې تردید: البته ابن سعد رحمه الله فرمائی: «وکان حلو الحدیث، کثیره، ولیس بحجة، و ربما جاء بالشئ المنکر»[14]

---

[1] تهذیب الکمال (۵۵٤/۳۲)_
[2] تهذیب الکمال (۵۵۵/۳۲)_
[3] المصدر السابق)_
[4] تاریخ الدارمی (ص۴۵) رقم ۲۱/_
[5] تاریخ الدارمی (ص۴۶) رقم ۲٤/_
[6] تهذیب الکمال (۵۵۷/۳۲)_
[7] المصدر السابق)_
[8] المصدر السابق)_
[9] المصدر السابق)_
[10] سیر أعلام النبلاء (۲۹۷/۶)_
[11] میزان الإعتدال (٤٨٤/٤) رقم (۹۹۲٤)_
[12] تقریب التهذیب (ص ۶۱٤) رقم (۷۹۱۹)_
[13] الثقات لابن حبان (۶٤۸/۷، ۶٤۹)_
[14] الطبقات لابن سعد (۵۲۰/۷)_

دغه شان امام وكيع رحمه الله دوى لره ،،سيئ الحفظ،، ګرځولي دي.(۱)

او امام احمد رحمه الله ددوى ځينې احاديث منكر ګرځولي دى.(۲)

خو حافظ ذهبي رحمه الله د ابن سعد او وكيع دواړو حضراتو جرحې رد كړي دي.لكه چه دوى فرمائي.«ثقة حجة، شذ ابن سعد فى قوله: ليس بحجة، وشذ وكيع فقال: سيئ الحفظ»(۳)

تركومه پورې چه د امام احمد رحمه الله دهغوى د بعضو احاديثو منكر ګرځولو تعلق دې نو كوم بو چه مكثر راوى وى.نو د هغه په احاديثو كښې څه نه څه منكر احاديث هم موجود وى.او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.«وثقه الجمهور مطلقاً، وإنما ضعفوا بعض روايته حيث يخالف أقرانه أو يحدث من حفظه، فإذا حدث من كتابه فهو حجة»(۴)

حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي.«قد احتج به أرباب الصحاح أصلاً وتبعاً»(۵)

او ابن سعد رحمه الله چه «ربما جاء بالشئ المنكر» فرمائيلي دي.په دې باندې رد كوى.او فرمائي.«ليس ذاك عند أكثر الحفاظ منكراً، بل غريب»(۶)

په ۱۵۹ھ كښې وفات شو.(۷)،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

④ ابن شهاب رحمه الله: د امام محمد بن مسلم بن عبيدالله بن شهاب زهرى رحمه الله مختصر حالات د ..بدء الوحى.. د دريم حديث لاندې تير شوى دى.(۸)

⑤ حميد بن عبدالرحمن رحمه الله: دا ابو ابراهيم بن حميد عبدالرحمن بن عوف رحمه الله دې ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د«باب تطوع قيام رمضان من الإيمان» لاندې تيرشوى دى.(۹)

⑥ حضرت معاويه رضي الله عنه: دا امير المؤمنين ابو عبدالرحمن معاويه بن ابى سفيان صخر بن حرب بن اميه بن عبدشمس بن عبدمناف بن قصى بن كلاب قرشي اموى مكى رضي الله عنه دې.(۱۰)

---

(۱) سير أعلام النبلاء(۶\۲۹۸)_

(۲) أنكر أبو عبدالله على يونس. فقال: كان يجيء عن سعيد بأشياء ليست من حديث سعيد. وضعف أمر يونس.وقال لم يكن يعرف الحديث. وروى الميمونى عن أحمد قال: روى يونس أحاديث منكرة. سير أعلام النبلاء.(۶\۲۹۹)_

(۳) ميزان الإعتدال(۴\۴۸۴) رقم(۹۹۲۴)_

(۴) هدى السارى(ص۴۵۵)_

(۵) سير أعلام النبلاء.(۶\۳۰۰)_

(۶) سير أعلام النبلاء.(۶\۳۰۰)_

(۷) الكاشف(۲\۴۰۴) رقم(۶۴۸۰)_

(۸) كشف البارى(۱\۳۲۶)_

(۹) كشف البارى(۲\۳۱۶)_

(۱۰) تهذيب الكمال(۲۸\۱۷۶، ۱۷۷) وسير أعلام النبلاء.(۳\۱۱۹، ۱۲۰)_

ددوی مور حضرت هند بنت عتبه بن ربیعه بن عبد شمس بن عبد مناف بن قصی رضي الله عنها ده.[1] ونیلی شی چه دوی د خپل پلار نه وړاندې د عمرة القضاء په موقع باندې مسلمان شوی وو خو د خپل مور پلار نه ډیره وېره وه. په دې وجه ئې اظهار نشو کولې تردې چه د فتح مکې په موقعه باندې دوی اسلام ښکاره کړو.[2]

د نبی کریم ﷺ نه علاوه حضرت ابوبکر(رض)، حضرت عمر(رض) او د خپلې خور حضرت ام المؤمنین ام حبیبه رضي الله عنها نه روایت کوی. ددوی نه روایت کونکو کښې د تابعینو نه سعید بن المسیب، ابو صالح السمان، ابو ادریس خولانی، ابو سلمة بن عبدالرحمن، عروة بن الزبیر، سالم بن عبدالله، محمد بن سیرین، سعید مقبری رحمهم الله وغیره حضرات دی. د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه حضرت ابن عباس، حضرت جریر، حضرت ابوسعید، حضرت نعمان بن بشیر او حضرت عبدالله بن الزبیر رضي الله عنهم ددوی نه روایات اخستې دی.[3]

حضرت معاویه رضي الله عنه ته د نبي کریم ﷺ سره د قرابت (رشته دارئ) تعلق سره د کاتب وحی کیدو شرف هم حاصل دې.[4]

حضرت معاویه رضي الله عنه دپاره د نبی کریم ﷺ دعاګانې حضرت عبدالرحمن بن ابی عمیره مزنی رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ نه نقل کوی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: «اللهم علمه الكتاب، و الحساب وقه العذاب».[5]

حضرت مسلمه بن مخلد رضي الله عنه نه مرفوعاً نقل دي: «اللهم علمه الكتاب، و مكن له في البلاد، وقه العذاب».[6]

د حضرت عبدالرحمن بن ابی عمیره رضي الله عنه نه نقل دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: «اللهم اجعله هادياً مهدياً واهد به».[7]

حضرت یونس بن میسره نه نقل دی چه نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما ته خطاب اوکړو. او د حضرت معاویه رضي الله عنه په سلسله کښې ئې اوفرمائیل: «أحضروه أمركم، و أشهدوه أمركم، فإنه قوي أمين».[8]

---

[1] المصدر السابق)_

[2] المصدر السابق)_

[3] دشیوخ اوتلامذه دتفصیل دپاره اوګورئ تهذیب الکمال(۱۲۸\۱۷۷. ۱۷۸) وسیر أعلام النبلاء(۱۳\۱۲۰)

[4] روی أحمد فی مسنده(۱\۳۳۵) عن ابن عباس:......قال: اذهب فادع لی معاوية. قال: وكان كاتبه...... أنظر سير أعلام النبلاء(۱۳\۱۲۳)_

[5] سير أعلام النبلاء(۱۳\۱۲٤)_

[6] سير أعلام النبلاء(۱۳\۱۲۵) وانظر مجمع الزوائد(۹\۳۵۶)_

[7] جامع الترمذي، كتاب المناقب، باب مناقب لمعاوية بن ابی سفیان رضي الله عنه رقم(۳۸٤۲) ومسند احمد(٤\۲۱۶)

[8] سير أعلام النبلاء(۱۳\۱۲۷) وانظر مجمع الزوائد(۹\۳۵۶)_

يو خل نبی کریم ﷺ حضرت معاويه رضي الله عنه خپل خان سره ردیف جوړ کړو او کینولو.او تپوس ني اوکړو «ما يليني منك؟» نو دوی عرض اوکړو «بطني يا رسول الله ﷺ» نبی کریم ﷺ اوفرمائيل «اللهم املأه علماً» په بعضو رواياتو کښې د «وحِلماً» اضافه هم ده.(١)

په سیاست او حکومت کښې د حضرت معاويه رضي الله عنه حصه حضرت معاويه رضي الله عنه د خپل رور حضرت يزيد بن ابی سفیان رضي الله عنه نه پس د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کښې د شام گورنر جوړ شو.د حضرت عمر رضي الله عنه نه پس حضرت عثمان رضي الله عنه دوی لره پخپل حال گورنر اوساتلو.دغه شان تقریباً شل کاله هغه په دې عهده باندې فائز پاتې شو.(٢)

حضرت عمر رضي الله عنه ته د مملکت د انتظام په سلسله کښې ددوی په صلاحیتونو باندې زبردست اعتماد وو.يو خل ني حضرت معاويه رضي الله عنه طرف ته اوکتل.او وې فرمائيل «هذا كسرى العرب»(٣) او هم دوی فرمائي «تعجبون من دهاء هرقل وكسرى وتدعون معاوية؟»(٤)

حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه فرمائي «ما رأيت أحداً بعد عثمان أقضى بحق من صاحب هذا الباب، يعني معاوية»(٥)

قبيصه بن جابر رضي الله عنه فرمائي «صحبتُ معاوية فما رأيت رجلاً أثقل حلماً، ولا أبطأ جهلاً، ولا أبعد أناةً منه»(٦) حضرت علی رضي الله عنه ارشاد فرمائي «لاتكرهوا إمرة معاوية، فلو قد فقدتموه لرأيتم الرؤوس تندر عن كواهلها»(٧)

د «مشاجرات صحابه رضي الله عنهم» حکم د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت نه پس چه د حضرت علی او حضرت معاويه رضي الله عنهما په مینځ کښې کوم څه واقعات مشاجرات (اختلافات) راپیښ شو.د هغې په باره کښې د اهل سنت والجماعت فیصله هم دا ده.چه حضرت علی رضي الله عنه په حق باندې وو.او حضرت معاويه رضي الله عنه ته اجتهادی لغزش (او خطاء) واقع شوې وو.(٨) خو ددې مشاجراتو (او اختلافاتو) په بنیاد باندې هیڅ چاته د بد ونیلو هیڅ گنجائش نشته.لکه څنگه چه د نورو صحابه کرامو حضراتو په باره کښې مونږه دا وايو.چه دا حضرات اگرچه معصوم نه دی.ددوی نه د خطاء صدور نه صرف دا چه واقع کیدې شی.بلکه د بعضو نه

---

(١)سير أعلام النبلاء(١٢٧\٣)_

(٢)تهذيب الكمال(١٧٨\٢٨، ١٧٩)_

(٣)سير أعلام النبلاء(١٣٤\٣)_

(٤)المصدر السابق)_

(٥)سير أعلام النبلاء(١٥٠\٣)_

(٦)سير أعلام النبلاء(١٥٣\٣)_

(٧)سير أعلام النبلاء(١٤٤\٣)_

(٨)انظر سير أعلام النبلاء(١٢٨\٣)_

صدور شوي هم دي خو تول صحابه ددې دنيا نه په داسې حالت کښې تلی دی.(وفات شوي دی) چه الله ﷻ ددوی نه راضی وو او هغوی تول په توله جنتيان دی.( )
نو په دې سلسله کښې د حضرت معاويه رضی الله عنه يا د بل کوم صحابی تذکره غلط طور باندې کولو سره خپل آخرت مه بربادوئ.

په ۴۰هـ کښې کله حضرت علی رضی الله عنه شهيد شو حضرت حسن رضی الله عنه د حضرت معاويه رضی الله عنه سره صلح اوکړله او د هغوی په لاس باندې ئې بيعت اوکړو په دې طريقه حضرت معاويه رضی الله عنه متفقه طور باندې امير منتخب شو.ددې نه پس ئې مسلسل شلو کالو پورې حکومت اوکړو.( )

د حضرت معاويه رضی الله عنه وصيت کله چه د وفات وخت رانيزدې شو نو تپوس ترې اوکړې شو چه تاسو څه وصيت کول غواړئ؟ نو وې فرمائيل.((اللهم أقل العثرة، واعف عن الزلة، وتجاوز بحلمك عن جهل من لم يرج غيرك، فما وراءك مذهب))ددې نه پس ئې دا شعر اووئيل.

هو الموت لا منجى من الموت والذى نحاذر بعد الموت أدهى وأفظع( )

(مرګ يو داسې اټل حقيقت دې.چه ددې نه هيڅ تيختنه نشته.بيا چه د مرګ نه روستو کومو خطراتو يره ده. هغه خو ډير زيات هولناك او تکليف ورکونکی دی).

ددې نه پس ئې وصيت اوفرمائيلو.((كنتُ أوضئ رسول الله ﷺ، فنزع قميصه و كسانيه، فرفعته، وخبأت قلامة أظفاره، فإذا مت فألبسوني القميص على جلدي، واجعلوا القلامة مسحوقة في عيني، فعسى الله أن يرحمني ببركتها))( )

د حضرت معاويه رضی الله عنه نه د نقل شوو احاديثو تعداد د حضرت معاويه رضی الله عنه نه ټول يوسل ديرش حديثونه نقل دی.چه په دې کښې متفق عليه حديثونه څلور دی.او بخاری په څلورو حديثونو سره او مسلم پنځو حديثونو سره متفرد دې.(5)

په رجب ٦۰هـ کښې ددوی وفات اوشو (6)،،رضی الله عنه وأرضاه، وأدخله فسيح جناته،،_

---

[1] قال السخاوي في فتح المغيث(٩٣\٤) وهم رضي الله عنهم باتفاق أهل السنة. عدول كلهم مطلقاً. كبيرهم وصغيرهم. لابس الفتنة أو لا. وجوباً لحسن الظن بهم. ونظراً إلى ماتمهد لهم من المآثر من امتثال أوامره بعده ﷺ و فتحهم الآقاليم. وتبليغهم عنه الكتاب والسنة وهداية الناس. ومواظبتهم على الصلوات. والزكوات. و أنواع القربات. مع الشجاعة. والبراعة. والكرم. والإيثار. والأخلاق الحميدة التي لم تكن في أمة من الأمم المتقدمة. وانظر المحلى لابن حزم(٦٥\١١)_

[2] سير أعلام النبلاء(١٣٧\٣)_

[3] سير أعلام النبلاء(١٦٠\٣)_

[4] سير أعلام النبلاء(١٢٦\٣)_

[5] سير أعلام النبلاء(١٢٦\٣) وخلاصة الخزرجي(ص ٣٨١)_

[6] خلاصة الخزرجي(ص ٣٨١)_

قوله عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ قَالَ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ: دلته امام زهری رحمه الله ،،قال حميد بن عبدالرحمن،، ونيلو سره روايت كوى. حالانكه په ..كتاب الاعتصام.. كښې د ،،اخبرني حميد،، الفاظ دى.(۱) او د مسلم په روايت كښې د ((حدثني حميد بن عبدالرحمن بن عوف)) الفاظ راغلى دى (۲) معلومه شوه چه دا حديث تحديث او اخبار سره نقل دې نو د انقطاع احتمال ختم شو

قوله سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ خَطِيبًا يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ: ما د حضرت معاويه رضي الله عنه نه واوريدل چه خطبه ئې وركوله.هغه فرمائى چه ما د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه واوريدل چه فرمائيل ئې ..چا سره چه الله تعالى دخير اراده اوفرمائى.هغه ته فقه فى الدين وركوى..

په عموم د ،،من،، باندې اشكال او دهغې جواب بعضې حضرات فرمائى چه په ،،من يرد الله به خيراً....،، كښې كه ..من.. عموم باندې محمول نكړې شى.بيا خو اشكال نه كيږى خكه چه په دې صورت كښې به د ،،بعض من أريد له الخير،، په معنى كښې شى.اوكه ..من.. پخپل عموم باندې اوساتلې شى.نو بيا اشكال كيږى.چه كوم ماشوم د بالغ كيدو نه وړاندې د ايمان په حالت كښې مړ شوې وى.نو هغه سره د خير اراده متعلق كيدل معلوم او منلى شوى دى.حالانكه هغه ته فقه فى الدين حاصل نشو؟

ددې جواب وركړې شوې دې.چه د اكثرو عموماتو پشان دا هم عام مخصوص منه البعض دې.او مطلب دا دې ،،من يرد الله به خيراً خاصاً....،، گويا چه دلته صفت محذوف دې.(۳)

علامه سندهى رحمه الله فرمائى.چه غوره توجيه دا ده.چه په ..خير.. كښې تنوين په تعظيم باندې محمول كړې شى.اوس به مطلب دا وى.((من يرد الله به خيراً عظيماً يفقهه فى الدين)) اوس هيڅ اشكال نه كيږى.

او دوى فرمائى.چه دا هم ممكن ده.چه ..خير.. مطلق اوساتلې شى.او غيرفقيه فى الدين د فقيه په مقابله كښې د عدم په درجه كښې اوګڼرلې شى.په دې صورت كښې به دا كلام مبالغة باندې محمول وى.ګويا چه كوم كس ته فقه فى الدين ورنكړې شو.هغه سره دخير اراده اونكړې شوه.(۴)

---

(۱) صحيح بخارى(۲\۱۰۸۷) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة. باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: لاتزال طائفة من أمتى ظاهرين على الحق..رقم(۷۳۱۲)_

(۲) صحيح مسلم(۱\۳۳۳) كتاب الزكاة. باب النهى عن المسألة)_

(۳) حاشية السندى على صحيح البخارى(۱\۴۴. ۴۵) وحاشية السندى على ابن ماجه(۱\۱۴۳) المقدمة. باب فضل العلماء والحث على طلب العلم. رقم الحديث(۲۲۰)_

(۴) المصدر السابق)_

او علامه سندهي رحمه الله فرمائي چه دلته به ،،من،، د مكلفينو په معنى باندې محمول كوو ځكه چه د شارع كلام د مكلفينو احوالو سره متعلق كيږي.نو هغه بچې كوم چه د بالغ كيدو نه وړاندې مړ شوې وي خو مؤمن وي.دغه شان هغه سړې چه هغه مسلمان وي.او اوس لا د مونځ وخت هم نه دې راغلې چه دهغه وفات اوشو.نو هغه ددې حديث په مصداق كښې دسره داخل نه دې.(١) ،،والله اعلم،،

قوله وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللَّهُ يُعْطِي: او زه صرف تقسيمونكې يم.او الله تعالى وركوى.

د مذكوره جملې نحوى تحقيق علامه طيبى رحمه الله فرمائى.،،وإنما أنا قاسم.....،، كښې واو حاليه دې.او دا د ،،يفقهه،،.د فاعل يا مفعول نه حال دې.كه د فاعل نه حال وى.نو مطلب به دا وى.چه زه په القاء د علم او په تبليغ د وحى كښې فرق نه كوم.او هيڅ چاته په بل باندې ترجيح نه وركوم.الله تعالى چه كوم كس ته څومره قدرې غواړى.وركوى.
اوكه د مفعول نه حال واقع وى.نو مطلب به دا وى.چه الله تعالى كوم كس ته فقه فى الدين وركول اوغواړى.نو هغه ته په معانيو د فهم استعداد وركوى. بيا په ما باندې د هر يو د استعداد مطابق د علم د القاء الهمام فرمائى.(٢)

يو اشكال او د هغې جواب دلته يو سوال دا پيدا كيږى.چه كه د صورت په اعتبار سره اوونيلې شى.نو نبى كريم ﷺ معطى (وركونكې) هم دې.او قاسم (تقسيمونكې) هم دې. اوكه د حقيقت په اعتبار سره اوكتلې شى.نو معطى او قاسم دواړه الله ﷻ دې. په دې وجه به دا فرق كول څنګه صحيح وى؟
ددې جواب دا دې.چه معطى په عرف كښې مالك ته وائى.او قاسم تقسيمونكى ته وائى. مراد دا دې.چه اصل مالك خو الله تعالى دې.او زه صرف د هغه د طرفه تقسيمونكې يم. لكه څنګه چه ذرائع، وسائط او كار كونكى (عمله) وى.په عرف كښې هم دغه شان ده.(٣)

ددې جملې دوه مطلبونه بيا ددې جملې دوه مطلبونه كيدې شى:① يو دا چه الله تعالى ماته علوم راكوى.هغه مالك دې.هغه خزانه زما په لاس كښې راكړې ده.زه د هغې نه تاسو باندې تقسيموم.② دويم مطلب دا كيدې شى.چه د علومو تقسيم خو زه كوم.په دې كښې هيڅ تفاوت او تفاضل نه كيږى.البته ددې پوهه او ادراك او په دې كښې عمق او ژور والې، دا الله تعالى وركوى.والله اعلم.

قوله وَلَنْ تَزَالَ هَذِهِ الْأُمَّةُ قَائِمَةً عَلَى أَمْرِ اللَّهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ: او دا جماعت به د الله تعالى په حكم باندې قائم وى.او ددوى د مخالفينو نه به دوى ته هيڅ نقصان نه كيږى.تردې چه د الله تعالى حكم راشى.

---

(١) حاشية السندى على صحيح البخارى(١١٤٤، ٤٥)_
(٢) الكاشف عن حقائق السنن للطيبى(١١\٣٥٨) كتاب العلم. الفصل الاول)_
(٣) فضل البارى(٢\٤٨) وفيض البارى(١\١٧١)_

ایا ټول امت به د الله تعالی په دین باندې قائم وی؟ ددې نه په ښکاره دا معلومیږی چه ټول امت به د الله تعالی په دین باندې قائم وی. حالانکه دا خلاف ظاهر او خلاف مشاهده دی. په دې وجه ونیلې شی. چه دلته پوره امت مراد نه دې بلکه د امت نه یو جماعت مراد دې. لکه چه د عمیر بن هانی رحمه الله په روایت کښې «لایزال من أمتی أمة قائمة بأمرالله.....» الفاظ دی.[1]

په حدیث کښې کوم یو جماعت مراد دې؟ دا طائفه او جماعت کوم چه به د الله تعالی په حکم باندې قائم وی. ددې نه کوم یو جماعت مراد دې؟ د مسلمانانو مختلفو طبقو خپلې خپلې طبقې ددې مصداق ګرځولې دی.

امام بخاری رحمه الله فرمائی. «وهم أهل العلم»[2]

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی. «إن لم یکونوا أهل الحدیث فلا أدری من هم؟»[3]

قاضی عیاض رحمه الله فرمائی. «أراد أحمد أهل السنة، ومن یعتقد مذهب أهل الحدیث»[4]

د بعضو روایاتو نه معلومیږی. چه ددې نه د مجاهدینو جماعت مراد دې. لکه چه د حضرت جابر بن سمره رضی الله عنه مرفوع روایت دې. «لن یبرح هذا الدین قائماً یقاتل علیه عصابة من المسلمین حتی تقوم الساعة»[5]

د حضرت جابر رضی الله عنه مرفوع روایت دې. «لا تزال طائفة من أمتی یقاتلون علی الحق ظاهرین إلی یوم القیامة»[6] د حضرت معاویه رضی الله عنه په یو روایت کښې دی. «...ولا تزال عصابة من المسلمین یقاتلون علی الحق....»[7].

د حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه په روایت کښې دی. «لا تزال عصابة من أمتی یقاتلون علی أمرالله قاهرین لعدوهم، لا یضرهم من خالفهم حتی تأتیهم الساعة وهم علی ذالك»[8] په دې ټولو روایاتو کښې تصریح ده. چه دا جماعت د مجاهدینو دې.

---

[1] صحیح بخاری(۱\۵۱٤) کتاب المناقب، باب (بلا ترجمة، بعد باب سؤال المشرکین أن یریهم النبی ﷺ آیة. فأراهم انشقاق القمر) رقم(۳۶٤۱) (۲\۱۱۱۱) کتاب التوحید، باب قول الله تعالی:﴿ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ﴾ ..رقم(۷٤۶۰)_

[2] صحیح بخاری(۲\۱۰۸۱) کتاب الإعتصام، باب قول النبی ﷺ: لا تزال طائفة من أمتی ظاهرین علی الحق یقاتلون. وهم أهل العلم)_

[3] شرح النووی(۲\۱٤۳) کتاب الإمارة، باب قوله ﷺ: لا تزال طائفة من أمتی ظاهرین علی الحق...و فتح الباری(۱\۱۶٤)_

[4] المصادر السابق)_

[5] صحیح مسلم(۲\۱٤۳) کتاب الإمارة، باب قوله ﷺ: لا تزال طائفة من أمتی ظاهرین علی الحق...)_

[6] المصدر السابق)_

[7] صحیح مسلم(۲\۱٤٤)_

[8] المصدر السابق)_

خو حقيقت دا دي چه په دې كښې د ..طائفه حقه.. نه عموم مراد دې چه په دې كښې ټول اهل حق داخل دى لكه چه امام نووى رحمه الله فرمائى

«يحتمل أن هذه الطائفة مفرقة بين أنواع المؤمنين، منهم، شجعان مقاتلون، و منهم: فقهاء، و منهم: محدثون، ومنهم: زهاد و آمرون بالمعروف و الناهون عن المنكر، ومنهم: أهل أنواع أخرى من الخير ولا يلزم أن يكونوا مجتمعين، بل قد يكونون متفرقين في أقطار الأرض»(١)

د حضرت كشميرى رحمه الله لطيف توجيه حضرت كشميرى رحمه الله فرمائى چه په حديث كښې چونكه د مجاهدينو تصريح موجود ده ددې باوجود امام احمد رحمه الله ددې مصداق ..اهل حديث.. يعنى ..اهل السنة.. گرځوى چه په دې باندې زه ډير حيران ووم بيا په تاريخى موادو باندې نظر كولو نه دا خبره په پوهه كښې راغله چه د مجاهدينو او اهل سنة والجماعة دواړو مفهوم خو جدا جدا دې خو د خارجى مصداق په لحاظ سره دواړه يو دى ځكه چه د جهاد فريضه هميشه اهل السنة والجماعة اداكړې ده نورو ډلو ته د جهاد توفيق نه دې شوې او خصوصيت سره د روافضو ډلې نه خو اكثرو اسلامى حكومتونو ته عظيم نقصانات رسيدلى دى.(٢)

دلته ددې لحاظ هم ساتل پكار دى چه د ..مجاهدين.. مراد اخستلو په صورت كښې به ..جهاد.. عام وى كه په توره او په نيزه وى او كه په قلم او ژبه وى د جهاد بالسيف په مقابله كښې د جهاد بالقلم واللسان اهميت څه كم نه دې ددې هميشه ضرورت راپيښيږى نو دا هم په ..جهاد.. كښې داخل دې.

قوله لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ: مخالفين به دوى ته نقصان نشى رسولې

ددې مطلب ددې دا مطلب نه دې چه اهل حق ته هيڅ نقصان د هيڅ يو طرفه هم نشى رسيدلې او دوى ته به څه تكليف او مصيبت نه راځى دوى ته تكليف رسيدلې شى د قيد او جيل مصيبتونه راپيښيدې شى د قتل حالت راتلې شى خو ددوى مشن او مهم هيڅ خوك ختمولې نشى.ددوى مهم به جارى وى او تر قيامته پورې به دا سلسله جارى وى

قوله حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ: تردې چه د الله تعالى حكم راشى

د ،،امرالله،، نه څه مراد دې؟ ددې ..امرالله.. نه په ظاهره ..قيامت.. مراد دې

په رواياتو كښې تعارض او دهغې دفعيه خو په دې باندې اشكال كيږى چه په حديث كښې دى.«لا تقوم الساعة حتى لا يقال في الأرض: الله الله»(٣) دغه شان په يو روايت كښې دى «لا تقوم الساعة على أحد يقول: الله الله»(٤) دغه شان په يو بل روايت كښې دى.«لا تقوم الساعة إلا على شرار

---

(١) شرح النووى على صحيح مسلم(١٤٣/٢)_

(٢) فيض البارى(١٧١/١، ١٧٢) و انوارالبارى(٨٢/٣)_

(٣) صحيح مسلم(٨٤/١) كتاب الإيمان. باب ذهاب الإيمان آخر الزمان)_

(٤) المصدر السابق)_

الناس»(۱) ددې روایاتو نه معلومیږی چه قیامت به هغه وخت قائمیږی کوم وخت چه ‹‹الله الله›› ویونکې هیڅ څوك نه وی او په ‹‹شرار الناس›› به قیامت قائمیږی حالانکه د حدیث باب نه معلومیږی چه تر قیامته پورې به دا ‹‹طائفة حقه›› قائمه وی په دواړه قسمه حدیثونو کښې تعارض معلومیږی؟

ددې جواب دا دې چه دلته د ‹‹امرالله›› نه مراد ‹‹قیامت›› نه دې بلکه هغه ‹‹ریح›› (هوا) مراد ده کوم چه به د یمن نه چلیږی لکه چه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په مرفوع روایت کښې دی «إن الله عزوجل یبعث ریحاً من الیمن ألین من الحریر فلا تدع أحداً فی قلبه، قال ابوعلقمه: مثقال حبة، وقال عبدالعزیز: مثقال ذرة من إیمان إلا قبضته»(۲) نو اوس په دواړه قسمو روایاتو کښې تعارض پاتې نشو.

بیا په کومو روایاتو کښې چه ‹‹حتی تقوم الساعة›› مذکور دې د هغې نه ‹‹حتی تقرب الساعة›› مراد دې.(۳)

د حدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت ترجمة الباب د حدیث باب په ړومبی جزء بندې مشتمل دې نو د حدیث ترجمة الباب سره مطابقت بالکل واضح دې بیا ددې دویم جزء په ‹‹اعطاء›› او ‹‹تقسیم›› باندې دلالت کوی کوم چه زکاة او خمس سره متعلق دې په دې وجه امام بخاری رحمه الله دا په ‹‹کتاب الخمس›› کښې او امام مسلم رحمه الله په ‹‹کتاب الزکاة›› کښې نقل کړې دې او ددې آخری جزء د قیامت علاماتو سره موافق دې په دې وجه امام بخاری رحمه الله دا حدیث په ‹‹کتاب الاعتصام›› کښې نقل کړې دې ددوی ذهن دې جهت طرف ته متوجه شوې دې چه په هره زمانه کښې به څوك نه څوك مجتهد ضرور وی.(۴) والله اعلم بالصواب.

۱۴- بَابُ الْفَهْمِ فِی الْعِلْمِ

ماقبل سره مناسبت علامه عینی رحمه الله فرمائی چه په ماقبل باب کښې د ‹‹تفقه فی الدین›› ذکر وو او په دې باب کښې ‹‹فهم فی العلم›› بیانوی په ‹‹تفقه›› کښې ‹‹فهم›› داخلیدل واضح دی.(۵)

د ترجمة الباب مقصد د ترجمة الباب مقصد څه دې؟ په دې کښې د عالمانو اختلاف دې

① علامه سندهی رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد دا ښودل دی چه ‹‹افهام››

(۱) صحیح مسلم(۲/۴۰۶) کتاب الفتن. باب قرب الساعة)_
(۲) صحیح مسلم(۱/۷۵) کتاب الإیمان. باب فی الریح التی تکون فی قرب القیامة من فی قلبه شیء من الإیمان)
(۳) شرح النووی علی صحیح مسلم(۲/۱۴۳) کتاب الإمارة. باب قوله ﷺ: لا تزال طائفة من أمتی ظاهرین علی الحق لا یضرهم من خالفهم)_
(۴) فتح الباری(۱/۱۶۴)_
(۵) عمدة القاری(۲/۵۲)_

مختلف وى.تردې چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما سره د صغيرالسن كيدو په هغه خبره پوهه شو.په كومې چه مشران حضرات پوهه نشو.علامه سندهى رحمه الله فرمائى.چه په دې كښې د ،،فضل الفهم،، بيانول مقصود نه دى.خكه چه د حديث په دې باندې هيڅ دلالت نشته.(١)

② حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى. چه ددې باب نه غرض ،،فضل الفهم فى العلم،، بيانول دى.حضرت شيخ الهند رحمه الله علامه سندهى رحمه الله طرف ته اشاره كړې ده.او فرمائيلى ئې دى.چه بعضو اهل تحقيق اعتراض كړې دې.چه په حديث كښې هيڅ يو لفظ په ،،فضل،، باندې دلالت كونكې موجود نه دې.خو دا اعتراض صحيح نه معلوميږى.خكه چه مؤلف قريب بعيد(يعنى لرې وراندې) د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دا حديث په مختلفو ابوابو كښې ذكر كړې دې.چه په دې كښې په فضل د فهم باندې دلالت كونكې لفظ متعددو رواياتو كښې موجود دې.روستو په كتاب العلم كښې د حضرت عمر رضي الله عنه دا ارشاد راروان دې.چه ((لأن تكون قلتها أحب إلى من أن يكون لى كذا و كذا))(٢) دا جمله په فضل د فهم باندې دلالت كوى.او د امام بخارى رحمه الله د عاداتو خنې ده.چه په مقصود باندې دلالت كونكې لفظ په يو حديث كښې موجود نه وى.خو كه هم دا حديث په يوه بله موقعه باندې چه كله راوستلې شى.نو هلته مقصود باندې دلالت كونكې لفظ موجود وى.نو هم دا د ترجمة الباب د اثبات دپاره كافى گنړلې كيږى.(٣)

③ حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى.چه ددې باب منعقد كولو نه مقصود دا دې.چه تفقه فى الدين د عالمانو د اعلى مراتبو خنې دې.كه دا مرتبه حاصل نشى.نو كم ازكم ددې نه ادنى مرتبه يعنى ،،فهم د مراد،، خو ضرور حاصلول پكار دى.خكه چه په حديث باب كښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د سوال په جواب باندې پوهيدل مذكور دى.او په دې باندې د حضرت عمر رضي الله عنه دا فرمائيل. چه كه تا جواب وركړې وې.نو زه به ډير زيات خوشحاله شوې ووم.دا د فهم او فطنت (ذهانت) په فضيلت باندې دلالت كوى.او ښكاره ده.چه دا ،،فقه،، نه ده. خكه چه ،،فقه،، خو استنباط د مسائلو او د شريعت دقائقو او د احكامو په علتونو باندې د مطلع كيدو نوم دې.

حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى.چه دا هم ممكن ده.چه دا د تيرشوى باب بيان وى.خكه چه ،،فقه،، او ،،فهم،، دوه جدا جدا څيزونه نه دى.بلكه دا دواړه يو دى.(٤)

④ حضرت شيخ الحديث مولانا محمد زكرياصاحب رحمه الله فرمائى.چه زما په نيز ددې باب نه د تدبر او مطالعې ترغيب وركول دى.او د مطالعې په طريقه باندې متنبه كول مقصود دى.چه په دې سلسله كښې قرائن او امارات ملحوظ اوساتلې شى.لكه څنگه چه د نبى

---

(١) حاشية السندى على صحيح البخارى(١\٤٥)_

(٢) صحيح بخارى(١\٢٤) كتاب العلم، باب الحياء فى العلم، رقم(١٣١)_

(٣) الأبواب والتراجم(ص\٤٦)_

(٤) لامع الدرارى(٢\٢٤)_

كريم ﷺ سوال، او د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ..جمار.. (د كجورو مغز) په لاس كښې كتلو سره مطلب او جواب باندې پوهيدل، په دې باندې واضح طور باندې دلالت كوى. (١) والله اعلم.

حديث باب

٧- ((حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ (٢) إِلَى الْمَدِينَةِ فَلَمْ أَسْمَعْهُ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا حَدِيثًا وَاحِدًا قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُتِيَ بِجُمَّارٍ فَقَالَ إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً مَثَلُهَا كَمَثَلِ الْمُسْلِمِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَقُولَ هِيَ النَّخْلَةُ فَإِذَا أَنَا أَصْغَرُ الْقَوْمِ فَسَكَتُّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هِيَ النَّخْلَةُ)) [ر: ٦١]

رجال الحديث

① علي رحمه الله: دا امير المؤمنين في الحديث، الحجة، امام ابوالحسن علي بن عبدالله بن جعفر بن نجيح سعدي بصرى رحمه الله دې چه دا په ابن المديني نوم سره مشهور دې. (٣)
دوى د خپل پلار نه علاوه د حماد بن زيد، هشيم بن بشير، معتمر بن سليمان، سفيان بن عيينه، جرير بن عبدالحميد، محمد بن جعفر غندر، يحي بن سعيد القطان او عبدالرزاق رحمهم الله نه روايت كړې دې. ددوى نه په روايت كونكو كښې امام احمد بن حنبل، امام بخارى، صالح بن محمد جزره، ابو مسلم الكجي، ابو القاسم بغوى، او عبدالله بن محمد بن ايوب الكاتب رحمهم الله دى. (٤) ددوى نه دده شيوخو هم روايتونه اخستي دى چه په دې كښې سفيان بن عيينه رحمه الله هم دې. (٥)
دا په اصل كښې د مديني منورې دې. هم په دې نسبت سره د ..ابن المديني.. په نوم سره مشهور دې. البته په ١٦١ هـ كښې بصره كښې پيدا شو. (٦)
امام ابو حاتم رازى رحمه الله فرمائى: ((كان ابن المديني علماً في الناس، في معرفة الحديث والعلل)) (٧)
سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائى: ((تلومنني على حب علي، والله، والله، لقد كنت أتعلم منه أكثر مما يتعلم

---

(١) لامع الدرارى (٢\٢٤١) والأبواب والتراجم لصحيح البخارى (ص ٤٢)_
(٢) قد سبق تخريج هذا الحديث، في باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا و أنبأنا)_
(٣) تاريخ بغداد (١١\٤٥٨) و تهذيب الكمال (٢١\٥)_
(٤) د شيوخ او تلامذه دتفصيل دپاره اوګورئ: تاريخ بغداد (١١\٤٥٨، ٤٥٩) و تهذيب الكمال (٢١\٦-٩) وسير أعلام النبلاء (١١\٤٢، ٤٣)_
(٥) سير أعلام النبلاء (١١\٤٣)_
(٦) الثقات لابن حبان (٨\٤٦٩) والأنساب للسمعانى (٥\٢٣٥) وسير أعلام النبلاء (١١\٤٣)_
(٧) تهذيب الكمال (٢١\٩)، وسير أعلام النبلاء (١١\٤٣)_

منی)) دغه شان یحي بن سعید القطان رحمه الله فرمائی ((ألناس یلوموننی فی قعودی مع علی، وأنا أتعلم منه أکثر مما یتعلم منی))[1]

امام نسائی رحمه الله فرمائی ((کان الله خلق علی بن المدینی لهذا الشان))[2]

امام بخاری رحمه الله فرمائی ((ما استصغرت نفسی عند أحد إلا عند علی بن المدینی))[3]

فزهیانی رحمه الله وغیره فرمائی ((أعلم أهل زمانه بعلل الحدیث: علی))[4]

صالح جزره رحمه الله فرمائی ((أعلم من أدرکت بالحدیث وعلله علی بن المدینی....))[5]

امام عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله فرمائی ((علی بن المدینی أعلم الناس بحدیث رسول الله ﷺ وخاصة بحدیث ابن عیینة))[6]

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی ((و أما علی بن المدینی: فإلیه المنتهی فی معرفة علل الحدیث النبوی، مع کمال المعرفة بنقد الرجال، وسعة الحفظ والتبحر فی هذا الشان، بل لعله فرد زمانه فی معناه....))[7]

البته دوی لره عقیلی په ..کتاب الضعفاء.. کښې ذکرکړې دې او لیکلی ئې دی ((جنح إلی ابن أبی دؤاد والجهمیة وحدیثه مستقیم إن شاء الله))[8] یعنی علی بن المدینی ابن ابی دؤاد معتزلی او جهمیه طرف ته مائل وو البته ددوی حدیثونه انشاءالله صحیح دی.

چونکه احمد بن ابی دؤاد معتزلی د خلق قرآن نه صرف قائل وو بلکه ددې داعی وو او ده د خلیفه په ذریعه عالمان په مختلفو ازمائښتونو کښې مبتلا کړی وو. د امام علی بن المدینی رحمه الله نه په دې موقعه باندې هغوی طرف ته څه میلان موندلې شوې وو چه د هغې په وجه عقیلی په دوی باندې کلام اوکړو او پخپل ..کتاب الضعفاء.. کښې ئې دوی ذکر کړل حالانکه دوی د خلق قرآن قائل نه وو او کوم میلان چه وو د هغې نه هم دوی توبه اوښکلې وه لکه چه محمد بن عثمان بن ابی شیبه رحمه الله فرمائی ((سمعتُ علی بن المدینی یقول قبل موته بشهرین، من قال: القرآن مخلوق، فهو کافر))[9]

---

[1])تاریخ بغداد(١١\٤٥٩(وتهذیب الکمال(٢١١٠)_

[2])سیر أعلام النبلاء(١١\٤٥)_

[3])سیر أعلام النبلاء(١١\٤٦) وتهذیب الکمال(٢١\١٤)_

[4]) سیر أعلام النبلاء(١١\٤٦) وتاریخ بغداد(١١\٤٦٣)_

[5])سیر أعلام النبلاء(١١\٤٩)_

[6])سیر أعلام النبلاء(١١\٥٠)_

[7])تهذیب الکمال(٢١\١٤)_

[8]) میزان الإعتدال(٣\١٤١)_

[9])کتاب الضعفاء الکبیر للعقیلی(٣\٢٣٥)_

[10])میزان الإعتدال(٣\١٤١) وسیر أعلام النبلاء(١١\٥٨) وتهذیب الکمال(٢١\٣٢)_

دغه شان علی بن المدینی رحمه الله په منبر باندې اودریږی او اعلان کوی ((من زعم أن القرآن مخلوق، أو أن الله لایری، أو لم یکلم موسی علی الحقیقة، فهو کافر))[١]

د حافظ ذهبی رحمه الله په عقیلی باندې سخت تنقید حافظ ذهبی رحمه الله د عقیلی ((سامحه الله تعالی)) په دې جسارت (او زړه ورتیا) باندې سخت تنقید کړی دې[٢]

دغه شان عبدالله بن احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی ((کان أبی حدثنا عنه، ثم أمسك عن اسمه، وکان یقول: حدثنا رجل، ثم ترك حدیثه بعد ذالك))[٣]

خو دا اعتراض هم قابل د توجه نه دې ځکه چه علی بن المدینی او د امام احمد په مینځ کښې ډیر زیات د محبت او الفت تعلق وو چه امام احمد رحمه الله به همیشه دوی ته د احترام او تعظیم په وجه کنیت سره یادولو. کله به ئې هم نوم نه اخستلو[٤]

---

[١])المصادر السابقة)_

[٢] د حافظ ذهبی رحمه الله دا تنقید په ډیرو فاندو باندې مشتمل دې په دې وجه ددې بوره عبارت نقل کولې شی. دوی په میزان الاعتدال (٣\١٤٠. ١٤١) کښې فرمائی ((وقد بدت منه هفوة ثم تاب منها. وهذا ابوعبدالله البخاری. وناهیک به. قد شحن صحیحه بحدیث علی بن المدینی. وقال ما استصغرت نفسی بین یدی أحد إلا بین یدی علی بن المدینی. ولو ترکت حدیث علی. وصاحبه محمد. و شیخه عبدالرزاق. وعثمان بن ابی شیبة، و إبراهیم بن سعد. وعفان. و أبان العطار. و إسرائیل. و أزهر السمان. وبهز بن أسد. و ثابت البنانی. وجریر بن عبدالحمید. لغلقنا الباب. و انقطع الخطاب. ولماتت الآثار. و استولت الزندقة. ولخرج الدجال. أفما لک عقل یا عقیلی. أتدری فیمن تتکلم! و إنما تبعناک فی ذکر هذا النمط لنذب عنهم. ولنزیف ما قیل فیهم. کأنک لا تدری أن کل واحد من هؤلاء أوثق منک بطبقات. بل و أوثق من ثقات کثیرین لم توردهم فی کتابک. فهذا مما لا یرتاب فیه محدث..

و أنا أشتهی أن تعرّفنی من هو الثقة الثبت الذی ما غلط ولا انفرد بما لا یتابع علیه. بل الثقة الحافظ إذا انفرد بأحادیث کان أرفع له. و أکمل لرتبته. و أدل علی اعتنائه بعلم الأثر. وضبطه دون أقرانه لأشیاء ما عرفوها. اللهم إلا أن یتبین غلطه و وهمه فی الشیٔ فیعرف ذالک. فانظر أول الشیٔ إلی أصحاب رسول الله ﷺ الکبار والصغار. ما فیهم أحد إلا وقد انفرد بسنة. فیقال له هذا الحدیث لا یتابع علیه؟ وکذالک التابعون. کل واحد عنده ما لیس عند الآخر من العلم. وما الغرض هذا. فإن هذا مقرر علی ما ینبغی فی علم الحدیث..

و إن تفرد الثقة المتقن یعدّ صحیحاً غریباً. و إن تفرد الصدوق ومن دونه یعدّ منکراً. و إن إکثار الراوی من الأحادیث التی لا یوافق علیها لفظاً أو اسناداً یصیره متروک الحدیث..

ثم ما کل أحد فیه بدعة. أو له هفوة. أو ذنوب یقدح فیه بما یوهن حدیثه. ولامن شرط الثقة أن یکون معصوماً من الخطایا والخطأ. ولکن فائدة ذکرنا کثیراً من الثقات الذین فیهم أدنی بدعة. أولهم أوهام یسیرة فی سعة علمهم أن یعرف أن غیرهم أرجح منهم و أوثق إذا عارضهم أو خالفهم. فزن الأشیاء بالعدل والورع)

[٣]) میزان الإعتدال(١٣\١٣٨)_

[٤])تهذیب الکمال(٢١\٩)_

کله چه به امام علی بن المدینی بغداد ته راتلونو د حلقې صدارت به دوی سنبالولو په دې موقعه به امام احمد بن حنبل او یحي وغیره حضرات راتلل پخپلو کښې به ئې مذاکره او مناظره کوله کله چه به په دوی کښې اختلاف شو نو دعلی بن المدینی قول به قول فیصل وو.(۱) بهرحال حفاظو او نقادو د حدیث تصریح کړې ده چه امام احمد رحمه الله په علی بن المدینی رحمه الله باندې کوم کلام کړې دې هغه صرف د خلق قرآن په مسئله کښې د نرمۍ اختیارولو په وجه دې چه ددې نه هم هغوی توبه اوښکلې وه لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي. «تكلم فيه أحمد ومن تابعه لأجل ما تقدم من إجابته في المحنة، وقد اعتذر الرجل من ذالك، وتاب وأناب»(۲)

په اصول حدیث باندې رومبې تصنیف امام علی بن المدینی رحمه الله هغه رومبې شخصیت دې چه دوی د اصول حدیث په مختلفو انواعو باندې د ټولو نه وړاندې مختلف کتابونه اولیکل.(۳) امام نووي رحمه الله لیکلي دي چه ددوي د دوو سوو نه زیات تصانیف دي.(۴) امام حاکم رحمه الله د یو څو کتابونو نومونه لیکلي دي.(۵)

د امام علی بن المدینی وفات په «سُرَّ من رأى» (سامرًا) کښې ۲۳۴ھ کښې اوشو.(۶) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

۲ **سفیان** رحمه الله: دا امام سفیان بن عیینه رحمه الله دې ددوی حالات په «بدء الوحی» کښې رومبی حدیث په ضمن کښې مختصر(۷) او په کتاب العلم کښې د «باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا» لاندې تفصیل سره ذکر شوی دی.

۳ **ابن ابی نجیح** رحمه الله: دا ابویسار عبدالله بن ابی نجیح (بفتح النون وكسر الجيم، وبعدها ياء مثناة تحتية وآخره حاء مهملة) ثقفی مکی دې دابو نجیح نوم یسار دې چه دا د حضرت اخنس بن شریق رضی الله عنه مولی وو.(۸)

دوی د خپل پلار ابو نجیح مکی، امام مجاهد، عطاء بن ابی رباح، طاوس، او سالم بن

---

(۱) تهذیب الأسماء واللغات(۱\۳۵۱) وتاريخ بغداد(۱۱\۴۶۳)_

(۲) تهذیب التهذیب(۷\۳۵۶)_

(۳) اوګورئ: لمحات من تاريخ السنة وعلوم الحديث..للشيخ عبدالفتاح أبو غدة رحمه الله..(ص۱۰۱، ۱۰۲)_

(۴) تهذیب الأسماء واللغات(۱\۳۵۰)_

(۵) معرفة علوم الحديث(ص۷۱) النوع العشرون: فقه الحديث. ډاکټر اکرام الله امدادالحق د علی بن المدینی رحمه الله د څلویښتو کتابونو ذکر کړې دې اوګورئ: الإمام علی بن المدینی و منهجه فی نقد الرجال(ص۲۶۲، ۲۷۹)_

(۶) تاريخ بغداد(۱۱\۴۷۲، ۴۷۳)_

(۷) کشف الباری(۱\۲۳۸)_

(۸) تهذیب الکمال(۱۶\۲۱۵، ۲۱۶) وسیر أعلام النبلاء(۶\۱۲۵)_

عبدالله بن عمر رحمهم الله وغیره نه روایت کوی ددوی نه امام شعبه، سفیان ثوري، سفیان بن عیینه، ابن علیه، روح بن القاسم، ابراهیم بن نافع مکی او هشام دستوانی رحمهم الله وغیره روایت کوی (۱)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي «ابن نجیح ثقة، كان أبوه من خيار عباد الله» (۲)

امام یحي بن معین، امام ابو زرعه، او امام نسائی رحمهم الله فرمائي ،،ثقة،، (۳)

د ابوحاتم رحمه الله نه چه کله تپوس اوکړې شو «ابن أبي نجيح عن مجاهد أحب إليك أو خصيف عن مجاهد؟» نو وی فرمائیل ،،ابن أبي نجيح أحب إلي، إنما يقال لابن أبي نجيح القدر، وهو صالح الحديث،، (۴)

ابن سعد رحمه الله فرمائي «كان ثقة كثير الحديث» (۵)

امام عجلي رحمه الله فرمائي ،،ثقة،، (۶)

ابن حبان رحمه الله دوی لره په ،،کتاب الثقات،، کښې ذکر کړې دې (۷)

حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي ،،ثقة،، (۸) او هم دوی فرمائي «هو من الأئمة الثقات» (۹)

ابن ابی نجیح متهم بالقدر وو؟ د ابن ابی نجیح اگرچه ټولو حضراتو توثیق کړې دې خو دې متهم بالقدر وو.

لکه چه امام بخاری رحمه الله فرمائي «عبدالله بن أبي نجيح كان يتهم بالاعتزال والقدر» (۱۰)

امام علي بن المدیني رحمه الله فرمائي «أما الحديث فهو فيه ثقة وأما الرأي فكان قدريا معتزليا» (۱۱)

جوزجاني رحمه الله هم دوی په متهم بالقدر کښې شمار کړې دې (۱۲)

یعقوب سدوسي رحمه الله فرمائي «هو ثقة قدري» (۱۳)

---

(۱) دشیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال (۱۶/۲۱۶) وسیر أعلام النبلاء (۶/۱۲۵)_

(۲) تهذيب الكمال (۱۶/۲۱۷)_

(۳) المصدر السابق)_

(۴) المصدر السابق)_

(۵) الطبقات لابن سعد (۵/۴۸۳)_

(۶) تهذيب التهذيب (۶/۵۵)_

(۷) الثقات لابن حبان (۷/۵)_

(۸) الكاشف (۱/۶۰۳) رقم (۳۰۲۰)_

(۹) ميزان الإعتدال (۲/۵۱۵)_

(۱۰) المصدر السابق)_

(۱۱) المصدر السابق)_

(۱۲) المصدر السابق)_

(۱۳) سير أعلام النبلاء (۶/۱۲۵)_

امام يحي بن سعيد القطان رحمه الله فرمائى ((كان من رؤوس الدعاة إلى القدر))[1]

ابن سعد رحمه الله فرمائى ((ويذكرون أنه كان يقول بالقدر))[2]

ددې اقوالو نه معلومه شوه چه عبدالله بن ابى نجيح نه صرف دا چه قدرى وو بلكه ..دعاة الى القدر.. خني وو.

يو اشكال او د هغې جواب سوال دا دې چه امام بخارى رحمه الله ددوى نه استدلال او احتجاج څنګه اوكړو. حالانكه مبتدع راوى كوم چه داعى وى. دهغه نه روايت او احتجاج كول صحيح نه دي؟[3]

① ددې يو جواب دا دې چه ممكن ده چه هغوى د خپل بدعت نه توبه اوبنكلې وى لكه چه حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى. ((ولعله رجع عن البدعة))[4]

دغه شان جوزجانى چه كله عبدالله بن ابى نجيح، زكريا بن اسحاق، شبل بن عباد، ابن ابى زنب او سيف بن سليمان په قدريه كښې شمار كړو نوحافظ ذهبى رحمه الله اوفرمائيل ((هؤلاء ثقات، وما ثبت عنهم القدر، أولعلهم تابوا))[5]

② دويم جواب دا دې چه كه راوى مبتدع ..داعى الى البدعة.. وى نو د هغه د روايت نه احتجاج صحيح نه دې.[6] خو كه داسې راوى ثقه او ضابط وى او ددې روايت نه دده د بدعت تائيد نه كيږى او دا روايت ددې مبتدع نه علاوه د بل چا نه نقل نه وى نو دده روايت به قابل قبول وى.[7] لكه څنګه چه امام بخارى رحمه الله د داسې ډيرو حضراتو نه روايت قبول

---

[1] حاشيه سبط ابن العجمى على الكاشف(۶۰۳\۱) رقم(۳۰۲۰)_

[2] الطبقات(۴۸۳\۵)_

[3] هدى السارى(ص۳۸۵) الفصل التاسع. وتعليقات..الرفع والتكميل فى الجرح والتعديل(ص ۱۴۴. ۱۴۵)_

[4] سيرأعلام النبلاء(۱۲۶\۶)_

[5] ميزان الإعتدال(۵۱۵\۲)_

[6] قال ابن الصلاح فى علوم الحديث(ص ۱۱۴. ۱۱۵):......وقال قوم تقبل روايته إذا لم يكن داعية إلى بدعته ولا تقبل إذا كان داعية وهذا مذهب الكثيرأو الأكثر من العلماء. وحكى بعض أصحاب الشافعى رحمه الله خلافاً بين أصحابه فى قبول رواية المبتدع. إذا لم يدع إلى بدعته. وقال: أما إذا كان داعية فلا خلاف بينهم فى عدم قبول روايته. وقال أبو حاتم بن حبان البستى أحد المصنفين من أئمة الحديث: الداعية إلى البدع لايجوز الإحتجاج به عند أئمتنا قاطبة. لا أعلم بينهم فيه خلافاً. وهذا المذهب الثالث أعدلها وأولاها. والأول (أى رد رواية المبتدع مطلقاً) بعيد مباعد للشائع عن أئمة الحديث. فإن كتبهم طافحة بالرواية عن المبتدعة غير الدعاة. وفى الصحيحين كثير من أحاديثهم فى الشواهد والأصول. والله اعلم.)_

[7] قال الحافظ رحمه الله: ..فالمعتمد: أن الذى ترد روايته. من أنكر أمراً متواتراً من الشرع معلوماً من الدين بالضرورة. أو اعتقد عكسه. و أما من لم يكن بهذه الصفة. وانضم إلى ذالک ضبطه لما يرويه مع ورعه وتقواه فلا مانع من قبوله. نزهة النظر(ص۸۸)_

كړې دي چه هغوی نه صرف دا چه مبتدع وو بلکه د رؤوس المبتدعين نه وو.او خپل مذهب طرف ته به ئې خلقو ته دعوت هم ورکولو لکه عمران بن حطان. عبدالحميد بن عبدالرحمن حماني وغيره چه د بدعت د داعيانو نه وو (1)

په روايت د حديث کښې د بدعت قادحه او غيرقادحه تفصيل او حافظ ابن حجر رحمه الله د بدعت قادحه او بدعت غيرقادحه په تفصيلاتو کښې لاندې ليکى ((وعلى هذا إذا اشتملت رواية المبتدع سواء كان داعية أم لم يكن، على ما لا تعلق له ببدعته أصلاً، هل ترد مطلقاً؟ أو تقبل مطلقاً؟ مال ابوالفتح القشيرى إلى تفصيل آخر فيه (2) فقال: إن وافقه غيره فلا يلتفت إليه هو، إخماداً لبدعته وإطفاءً لناره، وإن لم يوافقه أحد ولم يوجد ذالك الحديث إلا عنده مع ما وصفنا من صدقه وتحرزه عن الكذب واشتهاره بالدين وعدم تعلق ذالك الحديث ببدعته فينبغي أن تقدم مصلحة تحصيل ذالك الحديث ونشر تلك السنة على مصلحة إهانته وإطفاء بدعته، والله اعلم)) (3)

دريمه خبره دا ده چه دوی لره صرف امام يحي بن سعيد القطان رحمه الله په ""دعاة إلى القدر"" کښې شمار کړې دي.ددوی نه علاوه باقي ټولو دوی لره قدري ګرځولې دې خو په ""دعاة"" کښې د کيدو تصريح ئې نه ده کړې.غالباً د امام بخاری رحمه الله په نيز ددوی صرف قدري کيدل ثابت دی.داعی کيدل ئې ثابت نه دی.لکه چه د حافظ سخاوی او حافظ عراقی رحمهما الله شعر: ~

..............ورووا : : عن أهل بدع في الصحيح ما دعوا

(يعنی.....ائمه نقاد د حديث. مثلاً امام بخاری او مسلم رحمهما الله وغيره پخپل ""صحيح"" کښې د بعضو داسې اهل بدعت نه روايت نقل کړې دي چه هغوی د خپل بدعت داعيان نه وو). په تشريح کښې د ډيرو راويانو نومونه ذکرکړی دی.چه هغوی کښې بدعت وو خو هغوی داعيان نه وو.په دغه نومونو کښې هغوی د عبدالله بن ابی نجيح نوم هم ذکرکړې دي.(4)

غالباً د حافظ مزی رحمه الله په نيز هم ددوی ""داعي الى القدر"" نه کيدل راجح دی خکه چه دوی د آئمهٔ رجال نه په توثيق کولو باندې اکتفاء کړې ده.البته ضمناً ئې د ابو حاتم نه توثيق سره ددوی ""مائل الى القدر"" کيدل نقل کړی دی.او د يحي القطان د ""داعی الى القدر"" قول دوی نه دې ذکرکړې.(5)

---

(1) تدريب الراوی(۱\۳۲۶)_

(2) حکی السخاوی عن ابن دقيق العيد ما مال إليه القشيری. أنظر فتح الحديث(۱۲،۶۰ ۶۱)_

(3) هدی الساری((ص۳۸۵)_

(4) فتح المغيث للسخاوی(۲\۶۶)_

(5) تهذيب الکمال(۱۶\۲۱۷، ۲۱۸)_

د تدليس الزام او دهغې تحقيق بيا دوی لره امام نسائی رحمه الله په مدلسينو کښې شمار کړې دې.لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی.«وذكره النسائی فيمن كان يدلس»[1]

او حافظ رحمه الله فرمائی.«أكثر عن مجاهد، وكان يدلس عنه، وصفه بذلك النسائی»[2]

دغه شان حافظ رحمه الله فرمائی.«ثقة رمی بالقدر و ربما دلس»[3] خو ددوی تدليس مضر نه دې.خکه چه:

① اول خو به دوی په عامو حديثونو کښې تدليس نه کولو.بلکه صرف د امام مجاهد رحمه الله په احاديثو کښې به ئې تدليس کولو.[4] بيا ئې ددوی په عامو حديثونو کښې هم نه کولو.بلکه صرف د امام مجاهد د تفسير سماع دوی ته حاصل نه وه.نو د تفسير په روايت کښې به د تدليس نه کار اخستلو.[5] چونکه دا د امام مجاهد رحمه الله د خاص الخاص شاگردانو څنې دې.[6] په دې وجه عالمانو ددوی د تفسير د رواياتو هم تصحيح کړې ده.لکه چه امام وکيع رحمه الله فرمائی.«كان سفيان يصحح تفسير ابن ابی نجيح»[7]

② دويم دا چه علامه قطب الدين حلبی رحمه الله فرمائی.«أكثر العلماء أن المعنعنات التی فی الصحيحين منزلة منزلة السماع»[8]

د ابن ابی نجيح رحمه الله وفات په ۱۳۱ھ يا ۱۳۲ھ کښې اوشو.[9] رحمه الله تعالى رحمة واسعة_

③ **مجاهد رحمه الله:** دا شيخ القراء والمفسرين ابو الحجاج مجاهد بن جبر مکی قرشی مخزومی رحمه الله دې.[10]

---

[1] تهذيب التهذيب(٦\٥٥)_

[2] تعريف أهل التقديس بمراتب الموصوفين بالتدليس(ص٢٨)_

[3] تقريب التهذيب(ص٣٢٦) رقم(٣٦٦٢)_

[4] كما يدلّ عليه قول الحافظ .. أكثر عن مجاهد، وكان يدلّس عنه......تعريف أهل التقديس(ص٢٨)_

[5] قال يحی بن سعيد:..لم يسمع ابن ابی نجيح التفسير عن مجاهد. قال ابن حبان: ابن ابی نجيح نظير ابن جريج فی كتاب القاسم بن ابی بزة عن مجاهد فی التفسير، رويا عن مجاهد من غير سماع.. تهذيب التهذيب(٦\٥٤)_

[6] كما يدلّ عليه قول الحافظ .. أكثر عن مجاهد.....تعريف أهل التقديس(ص٢٨)_

[7] تهذيب الكمال(١٦\٢١٧)_

[8] فتح المغيث للعراقی(ص٨١، ٨٢) وفتح المغيث للسخاوی(١\٢١٨) قال السخاوی:..يعنی إما لمجيئها من وجه آخر بالتصريح أو لكون المعنعن لا يدلس إلا عن ثقة، أو عن بعض شيوخه، أو لوقوعها من جهة بعض النقاد المحققين سماع المعنعن لها....)_

[9] تهذيب الكمال(١٦\٢١٨)_

[10] تهذيب الكمال(٢٧\٢٢٨)_

دوی د حضرت ابن عباس، حضرت ابوهریره، حضرت عائشه، حضرت سعد بن ابی وقاص، حضرت عبدالله بن عمرو، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت رافع بن خدیج، حضرت جابر، حضرت ابو سعید خدری، حضرت ام هانیؓ نه روایت د حدیث کړې دي.

ددوی نه په روایت کونکو کښې عکرمه، طاؤس، عطاء (وهم من أقرانه) عمرو بن دینار، ابوالزبیر، ابن ابی نجیح، منصور بن المعتمر، اعمش، ایوب سختیانی، قتاده او فطر بن خلیفه رحمهم الله وغیره دی.(۱)

بعضو حضراتو هغه روایات مرسل ګرځولي دي.کوم چه دوی د حضرت سعد بن ابی وقاص، حضرت معاویه او کعب بن عجرهؓ نه روایت کوی.(۲) او بعضو حضراتو د حضرت عائشهؓ نه ددوی د سماع هم انکار کړې دي.(۳) خو صحیح خبره دا ده.چه دوی ته دحضرت عائشهؓ نه سماع حاصل ده.(۴) په صحیح بخاری کښې ددې تصریح موجود ده.(۵)

خصیف رحمه الله فرمائی.((وكان أعلمهم بالتفسير مجاهد.....))(۶)

امام یحي بن معین او ابوزرعه رحمهما الله فرمائی.((ثقة))(۷)

امام عجلی رحمه الله فرمائی.((مكي تابعي ثقة))(۸)

ابن حبان رحمه الله فرمائی.((وكان فقيها عابداً ورعاً متقناً))(۹)

امام ابن سعد رحمه الله فرمائی.((وكان فقيهاً عالماً ثقة كثير الحديث))(۱۰)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.((امام في القراءة والتفسير حجة))(۱۱)

په امام مجاهد باندې د تدلیس الزام او د هغې تحقیق: علامه ابوالعباس نباتی صاحب ،،النیل

---

(۱) دشیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال(۲۷\۲۲۹- ۲۳۲) وسیرأعلام النبلاء(۱٤\٤٥٠)_

(۲)تهذیب التهذیب(۱۰\٤٤)_

(۳) امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی..لم يسمع مجاهد من عائشة.. تهذیب الکمال(۲۷\۲۳۲)_

(٤) امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی...سمع مجاهد من عائشة.. سیرأعلام النبلاء(۱٤\٤٥۱)_

(۵)صحیح بخاری(۱۱\۲۳۸، ۲۳۹) کتاب العمرة، باب کم اعتمر النبی ﷺ، رقم(۱۷۷۵)، (۱۷۷٦) و(۱۲\٦۱۰) کتاب المغازی، باب عمرة القضاء، رقم(٤۲۵۳)، (٤۲۵٤)_

(٦)تهذیب الکمال(۲۷\۲۳۳)_

(۷)المصدر السابق)_

(۸)تهذیب التهذیب(۱۰\٤٤)_

(۹) الثقات لابن حبان(۵\٤۱۹)_

(۱۰)الطبقات(۵\٤٦۷)_

(۱۱)الکاشف(۱۲\۲٤۰، ۲٤۱) رقم(۵۲۸۹)_

مل الكامل،، ليكلى دى چه ابن حبان بستى رحمه الله امام مجاهد لره پخپل كتاب الضعفا، كښې ذكركړې دې ددې نه علاوه ئې چا هم په كتاب الضعفا، كښې نه دې ذكركړې [1]

ددې جرح په رد كولو كښې علامه نباتى رحمه الله فرمائى «ومجاهد ثقة بلا مدافعة» [2]

دغه شان امام ترمذى رحمه الله په كتاب العلل كښې ليكلى دى «ومجاهد معلوم التدليس...» [3]
گويا امام مجاهد رحمه الله په معروف (او مشهورو) مدلسينو كښې دې خو حافظ ابن حجر رحمه الله

فرمائى «ولم أر من نسبه إلى التدليس» [4]

البته د امام مجاهد نه منقول دى چه دوى اوفرمائيل «خرج علينا علي» [5]
كه د علماو د تصريح مطابق ددوى د حضرت على رضي الله عنه نه سماع ثابت نشته [6] بيا خو به دا جمله ،،دال على التدليس،، وى.كنى عين ممكن ده.چه دوى ته د حضرت على رضي الله عنه نه سماع حاصل وى.ځكه چه غالب دا ده.چه ددوى پيدائش د ١٨هـ او ٢١هـ په مينځ كښې شوې دې.[7] نو د حضرت على رضي الله عنه (چه ددوى شهادت په ٤٠هـ كښې شوې دې) نه ددوى سماع څه لرې نه ده.نو دا د تدليس څه واضح دليل نه دې.
خلاصه دا چه امام مجاهد رحمه الله بالاتفاق حجت او امام دې.او په دې باندې هيڅ قسمه څه كلام موثرنشته.لكه چه امام ذهبى رحمه الله فرمائى «وأجمعت الأمة على إمامة مجاهد والإحتجاج به» [8]

دامام مجاهد رحمه الله وفات دراجح قول مطابق په ١٠٤هـ كښې اوشو.[9] ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،

⑤ ابن عمر رضي الله عنهما: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حالات په كتاب الايمان كښې د «باب الإيمان وقول النبي ﷺ: بني الإسلام على خمس» لاندې تيرشوى دى.[10]

---

[1] ميزان الإعتدال(٤٣٩\٣) رقم(٧٠٧٢) قال الشيخ محمد عوامة: فإن كان كتاب الضعفاء هو كتاب المجروحين كما هو مشهور فنسبة ذالك إلى ابن حبان فيها نظر. إذ لا شئ في المجروحين. و إن كانا كتابين مختلفين. كما يقوله شيخنا المحقق عبدالله الصديق الغمارى و يؤكده. فيقبل. والله اعلم. تعليقات على الكاشف(٢٤١\٢)_

[2] ميزان الإعتدال(٤٣٩\٣) رقم(٧٠٧٢)_

[3] تهذيب التهذيب(٤٤\١٠)_

[4] تهذيب التهذيب(٤٤\١٠)_

[5] المصدر السابق)_

[6] قال أبو زرعة: مجاهد عن علي مرسل.. تهذيب التهذيب(٤٤\١٠)_

[7] تعليقات على الكاشف(٢٤١\٢)_

[8] ميزان الإعتدال(٤٤٠\٣)_

[9] الكاشف(٢٤١\٢) رقم(٥٢٨٩)_

[10] كشف البارى(٦٣٧\١)_

قوله قَالَ قَالَ لِي ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ: سفيان رحمه الله فرمائي چه ماته ابن ابى نجيح رحمه الله اوفرمائيل.

په مسند حميدى كښې د ,,سفيان حدثنا ابن ابى نجيح،، الفاظ دى.(١) چه په دې سره د تدليس شبه ختميږى.

قوله قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَلَمْ أَسْمَعْهُ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا حَدِيثًا وَاحِدًا: امام مجاهد رحمه الله فرمائي چه ما د (مكې نه) مدينې پورې د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په صحبت كښې سفر اوكړو.ما ددوى نه ددې پوره سفر په دوران كښې سوا د يو حديث نه بل حديث داسې واونه ريدو چه نبى كريم ﷺ طرف ته ئې نسبت كولو سره بيان كړې وى.

د حضرت ابن عمر رضى الله عنهما په روايت كښې احتياط دا احتياط فى الروايت دې.چه د ابن عمر پشان عاشق رسول صحابى. د مكې مكرمې نه مدينې منورې ته سفر كوى.او مجاهد د هغوى خاص شاګرد د سفر ملګرې دې.هغه فرمائي.چه په پوره لاره كښې ئې صرف يو حديث بيان كړو.حالانكه هغه چه به څومره خبرې هم بيانولې.هغه به ټول احاديث وو.خو نبى كريم ﷺ طرف ته په نسبت كولو كښې ئې احتياط كولو.

قوله قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُتِيَ بِجُمَّارٍ: وې فرمائيل چه مونږ د نبى كريم ﷺ سره وو.چه هغوى (ﷺ) ته د كجورو مغز راوړلى شو.

قوله فَقَالَ إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً مَثَلُهَا كَمَثَلِ الْمُسْلِمِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَقُولَ هِيَ النَّخْلَةُ فَإِذَا أَنَا أَصْغَرُ الْقَوْمِ فَسَكَتُّ: نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.چه بې شكه په ونو كښې يوه ونه داسې ده.چه هغه د مسلمان پشان ده.ما اراده اوكړله.چه اوښايم.چه هغه د كجورې ونه ده.خو ما اوكتل.چه زه په دې جماعت كښې د ټولو نه كشر يم.نو خاموش شوم.

مطلب دا دې.چه هسې نه نبى كريم ﷺ ناراضه شي.چه مشران حضرات په مجلس كښې موجود دى.د هغوى په وړاندې دې خبرې ولې اوكړې؟ په دې خيال سره زه خاموش شوم.

قوله قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هِيَ النَّخْلَةُ: نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.چه دا د كجورې ونه ده.

دلته امتحان اوشو.د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په ذهن كښې جواب راغې. دا ,,**فهم فى العلم**،، دې.دا بله خبره ده.چه د ادب په وجه خاموش شو.

د حديث ترجمة الباب سره مطابقت د علامه سندهى رحمه الله د قول مطابق چونكه د باب مقصد د افهامو مختلف كيدو بيانول دى.په دې وجه دلته كښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د كم

---

(١) مسند الحميدى(٢\٢٩٨) رقم الحديث (٦٧۶)_

عمره كيدو باوجود پوهيدل، او د نورو حضراتو نه پوهيدل، د افهامو په دې اختلاف باندې واضح دليل دې.

د شيخ الهند رحمه الله په نيز چونكه ،،فضيلت د فهم،، بيانول مقصود دى. نو دا حديث په په فضيلت د فهم باندې داسې دال وى.چه ددې په دويم طريق كښې د حضرت عمر رضي الله عنه دا ارشاد موجود دې ((لأن تكون قلتها أحب إلى من أن يكون لى كذا و كذا))([1])

دغه شان حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى.چه ددې باب نه مقصود د ،،تفقه،، د اعلى مراتبو نه كيدل بيانول دى.نو دلته چونكه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما پوهه شو.او په دې باندې د حضرت عمر رضي الله عنه دخوشحالئ اظهار مرتب كيږى.په دې وجه ددې نه د فهم فضيلت خو ثابتيږى.البته استنباط د مسائلو او د شريعت په دقائقو باندې اطلاع كومه چه ،،فقه،، ده.او دا د ،،فهم،، نه اعلى ده.ددې اثبات نه دې.ددې ذكر په تيرشوى باب كښې شوې دې.

د حضرت شيخ الحديث رحمه الله د قول مطابق چونكه مقصود د باب د مطالعې طريقه خودل او د مطالعې ترغيب وركول دى.او دا خبره د نبى كريم صلى الله عليه وسلم ،،جمار،، (د كجورو مغز) په لاس كښې اخستل، او د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دغور او فكر او تدبر كولو سره د جواب پوهيدو نه واضح كيږى.والله اعلم بالصواب.

تنبيه: په دې حديث باندې تفصيلى كلام د ((باب قول المحدث حدثنا أو أخبرنا و أنبأنا)) لاندې شوې دې.

١٥-((بَابُ الِاغْتِبَاطِ فِي الْعِلْمِ وَالْحِكْمَةِ))

ماقبل باب سره مناسبت: ددې نه وړاندې امام بخارى رحمه الله ((باب الفهم فى العلم)) قائم كړې وو او اوس ئې ((باب الاغتباط فى العلم و الحكمة)) قائم كړې دې.په دواړو كښې مناسبت په دې طريقه دې.چه څومره د يوكس په فهم د علم كښې اضافه وى.هغومره به دهغه په خوشحالئ او غبطه كښې اضافه وى.څكه چه كله د يوكس په فهم كښې اضافه وى.نو د هغه نظر وړاندې زياتيږى.او هغه سرې به په نظر كښې ساتى.كوم چه د فهم په اعتبار سره زيات قوى وى.دې به خواهش كوى.چه زه هم دهغه په شان شم.هم دا غبطه ده.([2])

په ترجمة الباب كښې د علم او حكمت دواړو ذكركولو وجه: بيا په ترجمة الباب كښې امام بخارى رحمه الله د ،،علم او حكمت،، دواړو ذكركړې دې.حالانكه په حديث باب كښې صرف دحكمت ذكر دې.كه دا دواړه مترادف وى.نو بيا دا عطف تفسيرى دې.او بنودل مقصود دى. چه په حديث كښې د ،،حكمت،، نه مراد ،،علم،، دې.او كه د دواړو په مينځ كښې فرق اوكړې شى.نو دا به عطف الخاص على العام وى.او د ،،علم،، د لفظ په اضافې سره دا اشاره مقصود ده.چه د ،،حكمت،، حصول د علم په حصول باندې موقوف دې.([3]) والله اعلم.

---

[1] صحيح البخارى(٢٤\١) كتاب العلم. باب الحياء فى العلم.رقم١٣١)_

[2] عمدة القارى(٥٤\٢)_

[3] فتح البارى(١٦٦\١) و إرشاد السارى(١٧١\١)_

د ..حكمت.. په باره كښې تفصيل وړاندې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د ارشاد «كونوا ربانيين حكماء، علماء، فقهاء» لاندې مونږ بيان كړې دې

قوله: وَقَالَ عُمَرُ تَفَقَّهُوا قَبْلَ أَنْ تُسَوَّدُوا: حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي چه د سردار جوړيدو نه وړاندې تفقه حاصل كړئ.

..تُسَوَّدُوا..: دا د ..سَوَّدَ يُسَوِّدُ تَسْوِيْدًا.. (باب تفعيل) نه د مضارع مجهول جمع مذكر حاضر صيغه ده.سردار جوړيدل. د ثلاثى مجردو نه ..سَادَ يَسُوْدُ سُوْدَدًا وسِيَادَةً.. راځى.(١)

د حديث نه د حضرت عمر رضي الله عنه مقصد د حضرت عمر رضي الله عنه مقصد دا دې چه سيادت (سردارى) او رياست (حكومت) كله كله د تفقه او تعلم نه مانع جوړيږى.ځكه چه د لوئى جوړيدو نه پس متعلم جوړيدو سره سړې طبعاً شرميږى.په دې وجه ته د سيادت د حصول نه وړاندې علم حاصل كړه.(٢)

امام شافعى رحمه الله فرمائى.«إذا تصدر الحدث فاته علم كثير»(٣) يعنى كله چه يو نوعمر د رياست په ګدئ باندې كينى.نو هغه د ډيرو علومو نه محرومه كيږى. هم دا مفهوم امام يحيي بن معين رحمه الله نه هم نقل دې.(٤)

ابو عبيد رحمه الله پخپل ..غريب الحديث.. كښې ددې مطلب دا بيان كړې دې.چه ته په ماشوموالى (كم عمرئ) كښې د سردار جوړيدو نه وړاندې علم حاصل كړه.ګنى بيا به ته د خپلو كشرانو نه په علم حاصلولو كښې شرم محسوسوې.نو ته به جاهل پاتې شې.(٥)

شمرلغوى د ..تسوّدوا.. ترجمه په ..تزوجوا.. سره كړې ده.ځكه چه كله سړې نكاح اوكړى.او بيا خاص طور باندې كله چه دده اولاد پيدا شى.نو د خپل كور د خلقو ..سيد..(سردار) جوړيږى.(٦) په ده باندې ذمه داريانې راځى.په دې وجه د نكاح نه وړاندې علم حاصل كړه.
علامه كرمانى رحمه الله دا احتمال هم ښكاره كړې دې.چه دا د ..سواد لحيه.. نه ماخوذ دې. ګويا دنوجوان ياځوان په ګيره كښې د ډير توروالى نه وړاندې د علم حاصلولو حكم مقصود دې.يا د پوخ عمر سړى ته حكم كول مقصود دى.چه هغه دګيرې د ويختو سپين والى طرف ته د مائل كيدو نه وړاندې علم حاصل كړى.(٧) خو په دې احتمال كښې تكلف دې.(٨)

---

١) عمدة القارى(٢\٨٤)_
٢) فتح البارى(١\١٦٦)_
٣) المصدر السابق)_
٤) عمدة القارى(٢\٥٥)_
٥) فتح البارى(١\١٦٦)_
٦) المصدر السابق)_
٧) شرح الكرمانى(٢\٤١) و فتح البارى(١\١٦٦)_
٨) فتح البارى(١\١٦٦)_

د حضرت عمر رضي الله عنه د اثر ترجمة الباب سره مطابقت ابن المنير رحمه الله فرمائي.چه په دې اثر كښې سيادت (او سردارى) د علم د ثمراتو څخه ګرځولې شوې دې.او طالب علم ته ونيلى شوى دى.چه دې د سيادت درجې ته درسيدو نه وړاندې زيادت د علم غنيمت اوګڼړى.چه استحقاق د سيادت ثابت شى.كوم چه سبب د اغتباط دې.(١)

حافظ رحمه الله فرمائي.چه زما په نيز مطابقت داسې دې.چه رياست اګرچه عادةً د غبطه سبب جوړيږى.خو حديث شريف په دې باندې دلالت كوى.چه د غبطې بنياد دوه څيزونه دى.يو علم دې.او بل جود (سخاوت) دې.بيا جود هم هغه وخت محمود دې.كله چه علم سره وى.ګويا حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي.چه د رياست او سياست د حصول نه وړاندې علم حاصل كړه.چه كله په تا باندې رشك اوكړې شى.نو دا رشك كول په حقه دى. دغه شان ګويا حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي.چه ته د رياست په حصول كښې جلد بازى مه كوه.چه ددې په وجه عادتاً (عام طور باندې) سړې د علم د طلب نه پاتې كيږى.بلكه د رياست طلب پريږده.او علم حاصل كړه.چه ته په حقيقت كښې قابل د رشك جوړ شې.(٢) والله اعلم.

قوله: قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَبَعْدَ أَنْ تُسَوَّدُوا: ابو عبدالله يعنى امام بخارى رحمه الله فرمائي.چه كله سردار جوړ كړې شې.ددې نه پس هم علم حاصل كړه.

امام بخارى رحمه الله ددې ښودلو دپاره د مذكوره جملې اضافه فرمائيلې ده.چه د حضرت عمر رضي الله عنه د قول «تفقهوا قبل أن تسودوا» دا نه اوګڼړلې شى.چه ..بعد السيادة.. علم حاصل نكړې شى.(٣)

د حضرت عمر رضي الله عنه د اثر تخريج: دا اثر ابن عبدالبر رحمه الله په ..جامع بيان العلم وفضله.. كښې (٤)، ابن ابى شيبه رحمه الله په ..مصنف.. كښې (٥)، بيهقى رحمه الله په ..المدخل.. كښې (٦)، او په ..شعب الايمان.. كښې (٧) دارمى رحمه الله پخپل ..سنن.. كښې (٨)او ابن ابى خيثمه رحمه الله په ..كتاب العلم.. كښې (٩)كښې موصولاً تخريج كړې دې.

قوله: وَقَدْ تَعَلَّمَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كِبَرِ سِنِّهِمْ: د نبى كريم ﷺ اصحابو په كبرسنئ (لوئې عمر) كښې تعليم حاصل كړې دې.

---

(١) المتوارى على تراجم البخارى(ص٥٦)_

(٢) فتح البارى(١\١٦٦)_

(٣) فتح البارى(١\١٦٦)_

(٤) جامع بيان العلم وفضله(١\٣٦٦، ٣٦٧) رقم(٥٠٨) و(٥٠٩)_

(٥) المصنف لابن ابى شيبة(٥\٢٨٥) كتاب الأدب. باب ما جاء فى طلب العلم وتعليمه. رقم(٢٦١٠٧)_

(٦) كذا فى عمدة القارى(٢\٥٥) وتغليق التعليق(٢\٨٢)_

(٧) شعب الإيمان(٢\٢٥٥) باب فى طلب العلم. رقم(١٦٦٩)_

(٨) سنن الدارمى(١\٩١) المقدمة. باب فى ذهاب العلماء. رقم(٢٥٠)_

(٩) تغليق التعليق(٢\٨٢)_

دا جمله هم د امام بخارى رحمه الله د قول ،، وبعد أن تسودوا،، تتمه او ددې علت دې.مطلب دا دې چه د سيادت حاصليدو نه پس د علم حاصلولو نه مه منع كيږئ.بلكه دا سلسله جارى ساتئ.ځكه چه علم خو د مهد نه لحد (د غيږې نه لحد) پورې طلب كولې شى.حضراتو صحابه كرامو رضى الله عنهم چه كله ايمان نه وو راوړلې.او د جاهليت دور وو.هغوى ته معلم د خير هم نه وو ملاو شوې.او نه د هغوى علم طرف ته رغبت (او شوق) وو.د ايمان راوړلو نه پس الله تعالى دوى ته علم هم وركړو.او د علم رغبت او شوق ئې هم وركړو.هغوى ددې د ضرورت په لحاظ سره د سيادت حاصليدو نه پس هم علم حاصل كړو.

لكه چه د حضرت ابن عباس رضى الله عنهما حديث په بخارى شريف كښې دې.فرمائى: «كنتُ أقرئ رجالاً من المهاجرين، منهم عبدالرحمن بن عوف»[1] دغه شان په يو روايت كښې دى «كنت أقرئ عبدالرحمن بن عوف»[2]

نو دا سيادت دې په علم حاصلولو كښې مانع جوړ نشى.اصل هم دا دې.چه تاسو دا علم وړاندې حاصل كړئ.خو كه تاسو وړاندې حاصل نكړې شو.نو ،،بعد أن تسودو،، هم حاصلول ضرورى دى.والله أعلم.

حديث باب

۷۳-((حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ عَلَى غَيْرِ مَا حَدَّثَنَاهُ الزُّهْرِيُّ قَالَ سَمِعْتُ قَيْسَ بْنَ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ([3])قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَسُلِّطَ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ الْحِكْمَةَ فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا))

[١٣٤٣، ٦٧٢٢، ٦٨٨٦]

رجال الحديث

① حميدى رحمه الله: دا امام ابوبكر عبدالله بن الزبير حميدى مكى رحمه الله دې.ددوى حالات د

---

[1])صحيح بخارى(١٠٠٩\٢) كتاب الحدود. باب رجم الحبلى من الزنا إذا أحصنت. رقم(٦٨٣٠)_

[2]) صحيح بخارى(١٠٨٩\٢) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة. باب ماذكر النبى صلى الله عليه وسلم وحض على انفاق أهل العلم..... رقم(٧٣٢٣)_

[3]) قوله:.عبدالله بن مسعود..الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه(١٨\١) كتاب الزكاة. باب إنفاق المال فى حقه. رقم(١٤٠٩) و(١٠٥٧\٢) ألأحكام. باب أجر من قضى بالحكمة. رقم(٧١٤١). (١٠٨٨\٢) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة. باب ما جاء فى إجتهاد القضاة بما أنزل الله تعالى. رقم(٧٣١٦) ومسلم فى صحيحه(٢٧٢\١) كتاب فضائل القرآن. باب فضل من يقوم بالقرآن ويعلمه. و ابن ماجه فى سننه. فى كتاب الزهد. باب الحسد. رقم(٤٢٠٨)_

بدءالوحى دړومبى حديث لاندې اختصار سره (١)او په كتاب العلم كښې د «باب قول المحدث حدثنا أو أخبرنا و أنبأنا» لاندې تفصيل سره تيرشوى دى.

③ **سفيان رحمه الله:** دا امام سفيان رحمه الله دې.ددوى تذكره هم د بدءالوحى دړومبى حديث لاندې اختصار سره(٢)او د «باب قول المحدث حدثنا......» لاندې تفصيل سره ذكر شوى دى.

④ **اسماعيل بن ابى خالد رحمه الله:** دا تابعى محدث اسماعيل بن ابى خالد احمسى بجلى كوفى رحمه الله دې.ددوى مختصر تذكره په كتاب الايمان كښې د «المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» لاندې تير شوى دى.(٣)

④ **قيس بن ابى حازم رحمه الله:** دا مشهور مخضرم تابعى قيس بن ابى حازم احمسى بجلى كوفى رحمه الله دې.ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د «باب قول النبى ﷺ: الدين النصيحة لله ولرسوله ولأئمة المسلمين وعامتهم»لاندې تيرشوى دى.(٤)

⑤ **حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه:** د حضرت عبدالله بن مسعود هزلى رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان كښې د «باب ظلم دون ظلم» لاندې ذكر شوى دى.(٥)

قوله: قَالَ حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ عَلَى غَيْرِ مَا حَدَّثَنَاهُ الزُّهْرِيُّ:

سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائى.چه مونږ ته اسماعيل بن ابى خالد په داسې الفاظو سره حديث واورولو.چه دا دهغې الفاظو نه علاوه وو.كومو سره چه زهرى مونږ ته حديث بيان كړې وو. د «عَلَى غَيْرِ مَا حَدَّثَنَاهُ الزُّهْرِيُّ» **مطلب او ددې تصريح مقصد:** مطلب دا دې.چه سفيان بن عيينه دا روايت د اسماعيل بن ابى خالد نه هم نقل كوى.او د زهرى نه هم. د زهرى روايت په بخارى شريف كښې په،،من سالم عن أبيه،، طريق سره نقل دې.(٦) دغه شان په مسلم كښې

---

(١)كشف البارى(٢٣٧/١)_

(٢)كشف البارى(٢٣٨/١)_

(٣)كشف البارى(٦٧٩/١)_

(٤)كشف البارى(٧٦/٢)_

(٥)كشف البارى(٢٥٧/٢)_

(٦)أخرجه البخارى فى صحيحه(١١٢٣/٢) فى كتاب التوحيد، باب قول النبى ﷺ: رجل آتاه الله القرآن فهو يقوم به آناء الليل والنهار..... رقم(٧٥٢٩) عن طريق، على بن عبدالله، عن سفيان، عن الزهرى..... كما أخرجه البخارى أيضاً فى صحيحه(٧٥١/٢) فى كتاب فضائل القرآن، باب اغتباط صاحب القرآن، رقم(٥٠٢٥) عن طريق..أبى اليمان عن شعيب عن الزهرى..... بدون واسطة سفيان،)_

هم دا روايت منقول دي.(۱) حالانكه اسماعيل دا روايت د قيس بن ابى حازم په واسطې سره د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل كوى.په دواړو روايتونو كښې د سند سره سره الفاظو كښې هم څه قدرې فرق شته.(۲)

د «على غيرما حدثنا الزهرى» تصريح نه غرض يو خو متعدد طرقو طرف ته اشاره ده.چه دا د روايت د تقويت سبب دې.دويمه ددې شبهې ازاله مقصود ده.چه څوك د سفيان مختلفو سندونو ته په كتلو سره سند كښې اضطراب او نه ګنړى.(۳) والله اعلم.

قوله قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى.چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.چه صرف د دوو سړو په خصلتونو باندې رشك كيدل پكار دى.

د حسد نه حقيقى معنى مراد ده.او كه غبطه مراد ده؟ په ترجمة الباب كښې امام بخارى رحمه الله د ،،اغتباط،، لفظ استعمال كړې دې.حالانكه په حديث كښې د ،،حسد،، لفظ دې.امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب سره دا ښودلې ده.چه په حديث كښې ،، حسد،، حقيقى معنى كښې نه دې.بلكه د ،،غبطه،، په معنى كښې دې.

ددې دليل دا دې.چه امام بخارى رحمه الله هم دا روايت په ،،فضائل القرآن،، كښې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت كړې دې.چه د هغې الفاظ دا دى.«لاحسد إلا فى اثنتين: رجل علمه الله القرآن، فهو يتلوه آناء الليل و آناء النهار، فسمعه جار له، فقال: ليتنى أوتيتُ ما أوتى فلان فعملت مثل ما يعمل»(۴) دا الفاظ په دې خبره باندې دلالت كوى.چه دلته ،،حسد،، مراد نه دې.په كوم كښې چه د بل كس د نعمت زوال مطلوب وى.بلكه غبطه مراد ده.چه په دې كښې د زوال نه بغير د هغه د نعمت خپل ځان دپاره دحصول تمنا او خواهش كيږى.

دغه شان د ابو كبشه انمارى رضي الله عنه اوړد حديث دې.«وعبد رزقه الله علماً ولم يرزقه مالاً فهو صادق النية، يقول: لوأن لى مالاً لعملت بعمل فلان، فهو بنيته، فأجرهما سواء......»(۵)

دلته دا احتمال هم شته.چه ،،حسد،، پخپله حقيقى معنى كښې وى.خو په دې صورت كښې به استثناء منقطع وى.او مطلب به دا وى.چه حسد خو په هيڅ صورت كښې هم

---

(۱) أخرجه مسلم فى صحيحه(۲۷۲۱۱) فى كتاب فضائل القرآن، باب فضل من يقوم بالقرآن ويعلمه، عن طريق، أبى بكر بن أبى شيبة وعمرو الناقد، وزهير بن حرب عن سفيان، عن الزهرى عن سالم عن أبيه.....كما أخرجه عن يونس عن الزهرى، أيضاً)_

(۲) د الفاظو د فرقونو دپاره تيرې شوې حوالې اوګورئ)_

(۳) شرح الكرمانى(۲۱۲ ۴۲)_

(۴) صحيح البخارى(۷۵۱۱۲) كتاب فضائل القرآن، باب إغتباط صاحب القرآن، رقم(۵۰۲۶)_

(۵) أخرجه الترمذى (واللفظ له) فى جامعه، فى كتاب الزهد، باب ماجاء مثل الدنيا مثل أربعة نفر، رقم(۲۳۲۵)، وابن ماجه فى سننه، فى كتاب الزهد، باب النية، رقم(۴۲۲۸)_

صحيح نه دي.البته دا دوه خصلتونه محمود دی.چه په دې كښې هم حسد نشته.نو په هيڅ څيز كښې حسد مه كوئ.([1])
بيا دلته د ،،اثنتين،، لفظ دې.او مراد ،،خصلتين،، دې.په اكثرو رواياتو كښې هم دغه شان دي.([2]) نو وروستو به ،،رجل آتاه الله،، كښې رجل مرفوع وئيلې شي.په اصل كښې دا دې نه وړاندې به ،،خصلة،، مضاف محذوف وی.چه دا مبتدا ده.دا حذف كړې شو.او مضاف اليه ددې قائم مقام كړې شو. او په دې باندې ئې د مضاف اعراب وركړل.([3]) البته د ،،كتاب الاعتصام،، په روايت كښې ،،اثنين،، د مذكر لفظ دې.([4]) ګويا ،،رجلين اثنين،، مراد دې.نو ددې نه پس به ،،رجل،، د بدليت په بناء باندې مجرور وئيلې شي.([5]) والله اعلم.

قوله رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَسُلِّطَ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ: يو د هغه سړی په خصلت باندې چاته چه الله تعالى دولت وركړې وی.او هغه دحق په سلسله كښې خرچ كولو باندې مسلط شوې وی.

،،سُلِّطَ،، د ابوذر په روايت كښې هم دغه شان دې.حالانكه د نورو حضراتو په رواياتو كښې ،،سلطه،، دې.،،هلكة،، په فتحې د هاء او لام سره دې.

د دولت مندو عام طور باندې دا حال وی.چه دهغه دولت د هغه په زړه باندې خوړ (او چاپيره) وی.خو ددې سړی دا كيفيت بيان كړې شوې دې.چه الله تعالى څنګه ده ته مال وركړې دې.دغه شان ئې په حق لاره كښې ده ته د خرچ كولو توفيق هم وركړې دې.

په حق لاره كښې ټول مال خرچ كول اسراف نه دې: ددې ځائې نه يوه خبره بله هم معلومه شوه.چه كه الله تعالى يوكس ته مال وركړی.او هغه ټول په ټوله په حق لاره كښې خرچ كړی.نو دې ته به اسراف نشی وئيلې.

قوله وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ الْحِكْمَةَ فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا: او دويم دهغه سړی په خصلت باندې،چه هغه ته الله تعالى د قرآن او حديث علم وركړې وی.هغه ددې موافق فيصله كوی.او خلقو ته ئې ښائی.

دلته د حكمت ذكر دې.حالانكه په بعضو رواياتو كښې د ،،قرآن،، ذكر دې.((رجل علمه الله القرآن فهو يتلوه آناء الليل و آناء النهار.....))([6])

---

[1] فتح البارى(١٦٧\١)-
[2] المصدر السابق)_
[3] المصدر السابق)_
[4] كذا قاله الحافظ فى الفتح(١٦٧\١)_
[5] فتح البارى(١٦٧\١)_
[6] صحيح البخارى(٧٥١\٢) كتاب فضائل القرآن. باب إغتباط صاحب القرآن. رقم(٥٠٢٦)_

يو سوال او دهغې جواب دلته يوسوال دا دې.چه ددې دوو څيزونو د تخصيص څه وجه ده؟ حالانكه رشك په نورو صفاتو باندې هم كيدې شى؟

① ددې يو جواب دا دې.چه ددې دوارو صفاتو د اهميت په وجه نبى كريمﷺ د مبالغې په طور اغتباط دې دوارو كښې محصور اوفرمائيلو.حقيقت كښې نه دې.نور صفات هم قابل د غبطې كيدې شى.خو ددې دوارو په مقابله كښې هغه گويا كالعدم دى.

② دويم جواب دا دې.چه دا دواړه د انسان د ټولو خصلتونو (او خوبيانو) عنوان دې.څكه چه په انسان كښې به خوبيانې يا داخل وى.يا به خارجى وى .په خارجى خوبيانو كښې دټولو نه لويه خوبى دا ده.چه هغه سره مال وى.او هغه دخير په لاره كښې خرچ كوى.په داخلى خوبيانو كښې د ټولو نه اهمه خوبى دا ده.چه دده سره علم او حكمت وى.او هغه ددې مطابق فيصله اوكړى .او تعليم وركړى.گويا نبى كريمﷺ دا دواړه خوبيانې د مثال په طور فرمائيلى دى.والله اعلم.

۱۶-((بَابُ مَا ذُكِرَ فِي ذَهَابِ مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْبَحْرِ إِلَى الْخَضِرِ وَقَوْلِهِ تَعَالَى هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا))[الكهف:٦٦]

ما قبل باب سره مناسبت: ددې نه وړاندې باب قائم كړې شوې وو.((باب الاغتباط فى العلم والحكمة)) او اوس ئې د ((باب ذهاب موسى فى البحر إلى الخضر)) باب قائم كړې دې.په دواړو بابونو كښې ① مناسبت دا دې.چه كوم څيز قابل د غبطې وى.د هغې په حاصلولو كښې مشقت اوچتولې شى.(۱)

② دغه شان يو مناسبت دا دې.چه په وړاندې باب كښې د حضرت عمرؓ اثر وو.چه ((تفقهوا قبل أن تسودوا))اوس په دې باب كښې دا بيانولې شى.چه اوگورئ! حضرت موسىؑ د سيادت په اوچت مقام باندې فائز وو.خو ددې باوجود د علم د طلب نه بند نشو.(۲)

د ترجمة الباب مقصد حافظ ابن حجرؒ فرمائى.چه ددې ترجمې منعقد كولو مقصد د علم د طلب په سلسله كښې د مشقت برداشت كولو ترغيب وركول دى.(۳)

شاه ولى الله صاحبؒ فرمائى.چه ددې باب نه مقصد د علم د حصول دپاره د ..رحله،، (سفر) اثبات دې.څكه چه علم دپاره سفر د حضرات صحابه كرامو ؓ او د تابعينو ؒ په زمانه كښې معهود نه وو.بلكه دغه حضراتو به د خپل خپل ښار دعالمانو علم حاصلولو.بيا كله چه كتابونه مدون شو.او دا كتابونه په مختلفو ښارونو كښې خواره شو.نو خلقو ددې د

---

(۱) عمدة القارى(۵۸/۲) وفتح البارى(۱۶۸/۱)_

(۲) المصادر السابق)_

(۳) فتح البارى(۱۶۸/۱)_

حصول دپاره سفرې شروع کړلې.دغه شان د ،،رحله،، عادت شروع شو.ددې ،،رحله،، دپاره مؤلف يو صحيح او قوى اصل دلته بيان کړې دې.(١)

يو اشكال او د هغې توجيهات. خو په دې باندې اشكال كيږى.چه امام بخارى رحمه الله ددې نه دوه بابونه روستو «باب الخروج فى طلب العلم» منعقد كړې دې.او هم دا حديث ئې دوباره راوړلې دې.او حضرت شاه صاحب رحمه الله چه كوم مقصد بيان كړې دې. دا د «باب الخروج.....» سره زيات مناسب دې؟

ددې اشكال نه خلاصې په دې طريقه ممكن دې.چه داسې اوونيلې شى. چه ددې باب نه مقصود ،،خروج فى البحر،، بيانول دى.د راروان باب نه مطلق خروج ثابتول مقصود دى.(٢)

حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى.چه د مذكوره باب نه د ،،تعلم بعد السيادة،، اثبات مقصود دې.چه دا يو خاص او اهم صورت دې.او په راروان باب كښې ،،خروج فى طلب العلم،، عام دى.اوس هيڅ قسمه څه تكلف نشته. او امام بخارى رحمه الله په نورو موقعو كښې هم دغه شان كړى دى.چه د تيرشوى باب متعلق د يو امر تحقيق او تكميل ئې په دويم باب كښې كړې دې.نو په تيرشوى باب كښې «قد تعلم أصحاب النبى ﷺ فى كبر سنهم» مجملاً د ترجمې لاندې ذكركړې شوې وو.اوس ئې دهغې تكميل بالاستقلال اوكړو.او دا ئې ثابته كړله.چه اوګوره! حضرت موسى عليه السلام سيد السادات وو.خو سره ددې ئې د علم د تعلم دپاره پخپل شوق خومره جدوجهد اوكړو.او علم هم هغه كوم چه د ضرورى علم نه زياتى او دحضرت كليم الله د علم نه مفضول وو.(٣)

حضرت شيخ الهند رحمه الله چه د الله تعالى قول ﴿هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا﴾(٤) د ترجمې جزء جوړ كړې دې.ددې په توجيه كښې فرمائى.چه ،،خيال هغه طرف ته ځى.چه حضرت موسى عليه السلام كيدې شى.چه په غرض د تعلم تشريف نه وى اوړلې.بلكه د حضرت خضر د ملاقات او دهغوى د علم د مشاهدې په شوق كښې تشريف اوړلې وى.لكه چه سيدالمرسلين عليه السلام هم «يرحم الله موسى! لوددنا لو صبر حتى يقص علينا من أمرهما»(٥) فرمائيلو سره د شوق اظهار فرمائيلې دې.غالباً هم ددې خيال رد كولو په غرض مؤلف ترجمة الباب سره د الله تعالى قول ﴿هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا﴾ ذكركړې دې.والله تعالى اعلم.(٦)

---

(١) شرح تراجم أبواب البخارى(ص١٥)_

(٢) الأبواب والتراجم، ازشيخ الهند رحمه الله (ص٤٨)_

(٣) المصادرالسابق)_

(٤) الكهف\٦٦)_

(٥) صحيح البخارى(٢٣\١) كتاب العلم. باب مايستحب للعالم إذا سئل: أى الناس أعلم؟ فيكل العالم إلى الله. رقم(١٢٢)_

(٦) الأبواب والتراجم(ص٤٨)_

حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی.چه زما په نیز ددې باب مقصد د علم د طلب دپاره د سمندري سفر جواز بیانول دی.خکه چه د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حدیث «لا یرکب البحر إلا حاج أو معتمر أو غاز في سبیل الله»[1] نه په ښکاره حصر معلومیږی.ددې توهم د لرې کولو دپاره ئې دا باب قائم کړې دې.او ددې نه روستو په کتاب البیوع کښې «باب التجارة في البحر»[2] ئې هم ددې مقصد دپاره قائم کړې دې.[3] والله اعلم.

دا هم ممکن ده.چه امام بخاری رحمه الله دا باب د دوو موقوف آثارو تقویت دپاره قائم کړې وی.

① یو اثر د ابو العالیه رحمه الله دې.«أن موسی التقی بالخضر في جزیرة من جزائر البحر»[4]

② او دویم اثر د ربیع بن انس رحمه الله دې.«انجاب الماء عن مسلك الحوت، فصار طاقة مفتوحة، فدخلها موسی علی أثر الحوت حتی انتهی إلی الخضر»[5]دا دواړه آثار اګرچه موقوف دی.خو ددې رجال ثقات دی.نو د هغې د تقویت ښکاره کولو او اثبات دپاره ئې دا باب قائم کړې دې.[6]

په ترجمة الباب باندې یو اشکال او د هغې جواب: د ترجمة الباب الفاظ «ذهاب موسی في البحر إلی الخضر» په دې خبره باندې دال دې.چه حضرت موسی علیه السلام د حضرت خضر علیه السلام سره د ملاقات دپاره د سمندر سفر اوکړو.حالانکه دوی د هغه سره ملاقات دپاره د اوچې سفر کړې وو.لکه چه د «فانطلقا یمشیان»[7] او د «حتی أتیا الصخرة»[8] الفاظ دال دی.سمندری سفر دوی حضرت خضر علیه السلام سره د ملاقات دپاره نه، بلکه د ملاقات نه پس ئې هغوی سره (یوځائې) کړې وو.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه په دې کښې یا خو د ،،البحر،، نه وړاندې مضاف محذوف دې.یا د ،،الخضر،، نه وړاندې مضاف محذوف دې. یعنی «ذهاب موسی في ساحل البحر إلی الخضر» مراد دې.یا «ذهاب موسی في البحر إلی مقصد الخضر» مراد دې.[9]

---

[1] سنن أبي داؤد، کتاب الجهاد، باب في رکوب البحر في الغزو، رقم(۲٤۸۹)_

[2] صحیح البخاری(۱\۲۷۷) رقم الباب_

[3] تعلیقات لامع الدراری(۲\۲۹)_

[4] فتح الباری(۱\۱۶۸)_

[5] المصادر السابق)_

[6] تعلیقات لامع الدراری(۲\۳۰)_

[7] صحیح البخاری(۱\٤۸۲) کتاب أحادیث الأنبیاء باب حدیث الخضر مع موسی علیهما السلام رقم(۳٤۰۱)

[8] صحیح البخاری(۱\٤۸۲) کتاب أحادیث الأنبیاء باب حدیث الخضر مع موسی علیهما السلام رقم(۳٤۰۱)_

[9] فتح الباری(۱\۱۶۸)_

① په رومبي صورت کښې به مطلب دا وی.چه موسی ﷺ د حضرت خضر ﷺ سره د ملاقات په غرض سره د بحر د ساحل (د سمندر د غاړې) سفر اوکړو.
② په دويم صورت کښې به مطلب دا وی.چه موسی ﷺ په سمندر کښې د حضرت خضر ﷺ د مقصد لاندې تابع جوړ شوې روان وو.
ياد ساتئ چه دلته د محذوف ،،ساحل،، نه علاوه ،،ناحية،، يا ،،جانب،، هم راوښکلې کيدې شي.د دريو واړو مفهوم يوشان دې.په دې وجه د يو د راجح ګرځولو ضرورت نشته.
بيا بعضو حضراتو فرمائيلی دی.چه په رومبی صورت کښې د «ذهاب موسى فى ساحل البحر» نه پس ،،إلى الخضر،، وئيل. د ضرورت نه يوه زياتی خبره ده.(١)
خو دا اعتراض څکه صحيح نه معلوميږی.چه حضرت موسی ﷺ کوم سفر اختيار کړې وو. دهغې مطلب د علم د طلب په سلسله کښې حضرت خضر ﷺ سره ملاويدل وو.نو د «ذهاب موسى فى ساحل البحر» نه پس ،،إلى الخضر،، په مقصد باندې دلالت کونکې کلمه ده.دا به د ضرورت نه زياتی خبره نشی ګرځولې.
دغه شان په دويم صورت يعنی د «ذهاب موسى فى البحر إلى مقصد الخضر» دتاويل په صورت کښې هم اعتراض شوې دې.چه حضرت موسی ﷺ کوم سفر کړې وو.د هغې مقصد د حضرت خضر ﷺ نه حصول د علم وو.لکه څنګه آيت کريمه ﴿هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰ أَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا﴾(٢) دلالت کوی.نو د ،،إلى مقصد الخضر،، وئيلو په ځائې ،،إلى مقصد التعليم،، وئيل پکار وو.(٣)
خو دا اعتراض هم صحيح نه معلوميږی.چه حضرت موسی ﷺ په اصل کښې د علم د طلب دپاره وتلې وو.او دا علم دوی لره د حضرت خضر ﷺ نه حاصلول وو.په دې وجه دوی دملاقات نه پس د ،،اتباع،، اجازت واخستلو.په دوی باندې يو څو شرطونه کيخودې شو. شرطونه قبول شو.نود،،اتباع،، اجازت ملاوشو.اوس حضرت موسی ﷺ د حضرت خضر ﷺ تابع شو.اوس که د يومقصد دپاره حضرت موسی ﷺ د حضرت خضر ﷺ د تابع کيدو په حيثيت سره دوی سره سفر کوی.نو په دې کښې څه باك دې؟
حافظ رحمه الله دويم احتمال دا ذکرکړې دې.چه دلته د حضرت موسی ﷺ سفر ...ی (په اوچه) هم شوې دې.دا بری سفر حضرت خضر ﷺ سره د ملاقات دپاره شوې دې.دغه شان ددوی سفر بحری هم شوې دې.دا بحری سفر د حضرت خضر ﷺ په معيت کښې شوې دې.د دواړو سفرونو نه مقصود تحصيل دعلم دې.دلته چه کوم «ذهاب موسى فى البحر إلى الخضر» وئيلو سره بحری سفر مخصوص بالذکر کړې دې.ددې مقصد د بری سفر نه انکار نه دې. بلکه مقصد

---

(١) ايضاح البخاری(۵/۶۶)_
(٢) الکهف_
(٣) ايضاح البخاری(۵/۶۶)_

يعنى تحصيل د علم كوم چه دوارو سفرونو سره متعلق دې.ددې دپاره سفر كول.او دا ,,بحرى،، سره مختص كول. دا د ,,اطلاق الكل على البعض،، د قبيل خنې دې.يا د ,,تسمية السبب باسم المسبب،، د قبيل خنې دې.(١) مطلب دا دې.چه ددې نه انكار نه دې.چه د حضرت موسى ﷺ سفر برى شوې دې.او ددې نه هم انكار نه دې.چه د حضرت موسى ﷺ ملاقات حضرت خضر ﷺ سره په بر (اوچه) كښې شوې دې.خو د حضرت موسى ﷺ مقصد يعنى علم حاصلول د دوارو سفرونو يعنى د برى او بحرى سفرونو د مجموعې نه حاصل شو.چه مخكښې ئې برى سفر اوكړو.بيا ئې بحرى سفر اوكړو.په دې وجه دلته د كل يعنى د علم د تحصيل اطلاق په جزء يعنى صرف په ,,بحرى سفر،، باندې اوكړې شو.يا دا چه بحرى سفر چونكه د علم د تحصيل سبب جوړ شوې دې.په دې وجه باندې د مسبب اطلاق اوكړې شو.

ابن رشيد ﷫ فرمائى.چه حضرت موسى ﷺ د حضرت خضر ﷺ په طلب كښې د بر نه پس حقيقتاً د بحر رخ كړې وو.او بحرى سفر كولو نه پس ئې هغوى سره ملاقات كړې وو.په دې وجه امام بخارى ﷫ دلته د ,,فى البحر،، قيد لګولې دې.(٢)

حافظ ﷫ ددې په تائيد كښې فرمائى.چه په حديث كښې «فكان يتبع أثر الحوت فى البحر» راغلې دې.(٣) په دې كښې د ,,فى البحر،، ظرف څه سره متعلق دې؟ په دې باره كښې دوه احتمالات دى.

① يو دا چه د ,,فى البحر،، تعلق د ,,يتبع،، فاعل يعنى حضرت موسى ﷺ سره وى.نو په دې صورت كښې به مطلب دا وى.چه حضرت موسى ﷺ د تلونكى كب په طلب كښې د سمندر سفر اوكړو.

② دويم احتمال دا دې.چه د ,,فى البحرى،، تعلق د ,,الحوت،، سره وى.نو په دې صورت كښې به مطلب دا وى.چه كوم كب په سمندر كښې تلې وو.د هغې په طلب كښې حضرت موسى ﷺ روان شو.په دې صورت كښې به د حضرت موسى ﷺ سفر د حضرت خضر ﷺ د طلب دپاره برى وى.بحرى به نه وى.(٤)

حافظ ﷫ فرمائى. چه په دې دوارو احتمالاتو كښې د ابن رشد په نيز ړومبې احتمال قوى دې.او هغه دا فرمائى.چه د حضرت خضر ﷺ په تلاش كښې حضرت موسى ﷺ د سمندر سفر كړې وو.ددې تائيد امام بخارى ﷫ د خپل ,,ترجمة الباب،، په ذريعه فرمائى.

ددې احتمال تائيد د ابو العاليه او ربيع بن انس، دوو موقوفو اثارو په ذريعه سره كيږى.

---

(١) فتح البارى (١٦٨/١)_
(٢) المصدر السابق)_
(٣) كما فى حديث الباب.)_
(٤) فتح البارى (١٦٨/١)_

چه ابو العاليه د عبد بن حميد نه نقل كړى دى.«ان موسى التقى بالخضر في جزيرة من جزائر البحر»[1] ښكاره ده.چه يوې جزيرې ته رسيدو دپاره سمندرى سفر ضرورى دې.

د ربيع بن انس روايت هم عبد بن حميد نقل كړې دې.«انجاب الماء عن مسلك الحوت، فصار طاقة مفتوحة فدخلها موسى على أثر الحوت حتى انتهى إلى الخضر»[2] يعنى كب چه كومه لاره اختيار كړله.د هغه ځائې نه اوبه اخوا شوې.اود يو كهلاو سرنګ صورت ئې اختيار كړو.موسى ﷺ كب پسې روستو په دې سرنګ كښې داخل شو.تردې چه حضرت خضر ﷺ سره ملاو شو. ددې نه هم معلوميږى.چه حضرت خضر ﷺ سره د ملاقات دپاره دوى د سمندر سفر كړې وو.والله اعلم.

ابن المنير ﷫ فرمائى.چه دلته ,,الى،، په معنى د ،،مع،، دې.[3] لكه څنګه چه په ﴿وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَالِكُمْ﴾[4] كښې ,,الى،، د ،،مع،،په معنى كښې دې.نو اوس مطلب واضح دې.او «ذهاب موسى في البحر مع الخضر» بې اعتراضه دې.

حضرت شيخ الهند ﷫ فرمائى.چه آسانه دا ده.چه ،،الى،، او ،،بحر،، پخپله ښكاره معنى باندې پريخودې شى.او دا اوونيلې شى.چه د ،،إلى الخضر،، نه وړاندې واو د عطف ذكر نكړې شو.چه د سامع په فهم باندې اعتبار كولو سوه ډير ځل واو د عطف نه ذكركوى.[5] نو اوس به مطلب دا وى.چه «ذهاب موسى في البحر وإلى الخضر»

په دې توجيه باندې يو اشكال دا كيدې شى.چه حضرت موسى ﷺ د سمندر سفر روستو كړې وو.مخكښې ئې د اوچې سفر كړې وو.چه په هغې كښې ئې حضرت خضر ﷺ سره ملاقات كړې وو؟ ددې جواب دا دې.چه بحرى سفر چونكه ډير زيات خطرناك او مشكل وى.نو ددې د اهميت په وجه ئې ددې ذكر مقدم كړو.

دا هم وئيلې كيدې شى.چه بحرى سفر چونكه اصلى مقصود وو.څكه چه علم هم ددې په ذريعه حاصل شو.په دې وجه ئې دا مقدم ذكركړو.او برى سفر په حقيقت كښې وسيله وه.په دې وجه ئې دا مؤخر كړو.

دا هم وئيلې كيدې شى.چه د امام بخارى ﷫ مقصد چونكه دلته بحرى سفر د علم د طلب دپاره ثابتول دى.په دې وجه دوى بحرى سفر وړاندې ذكر كړو.والله اعلم بالصواب.

---

[1])المصدر السابق)_

[2])المصدر السابق)_

[3])فتح البارى(١٦٨\١)_

[4])النساء٢\)_

[5])الأبواب والتراجم(ص٤٨)_

حديث باب

((حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ غُرَيْرٍ الزُّهْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ حَدَّثَ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ خَضِرٌ فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ (١) فَدَعَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ إِنِّي تَمَارَيْتُ أَنَا وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى الَّذِي سَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ شَأْنَهُ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَمَا مُوسَى فِي مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ قَالَ مُوسَى لَا فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَى مُوسَى بَلَى عَبْدُنَا خَضِرٌ فَسَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَيْهِ فَجَعَلَ اللَّهُ لَهُ الْحُوتَ آيَةً وَقِيلَ لَهُ إِذَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَارْجِعْ فَإِنَّكَ سَتَلْقَاهُ وَكَانَ يَتَّبِعُ أَثَرَ الْحُوتِ فِي الْبَحْرِ فَقَالَ لِمُوسَى فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ قَالَ ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا فَوَجَدَا خَضِرًا فَكَانَ مِنْ شَأْنِهِمَا الَّذِي قَصَّ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي كِتَابِهِ)) [۷۸، ۲۲۷۷، ۲۱۳۷، ۲۵۷۸، ۳۱۰۴، ۳۳۹۴، ۳۲۲۰، ۳۳۲۸ - ۳۳۵۰، ۳۳۹۵، ۷۰۳۰]

رجال الحديث

① **محمد بن غرير الزهري** رحمه الله: دا ابو عبدالله يا ابو عبدالرحمن محمد بن غُرير (بضم الغين وبالراءين المهملتين بينهما ياء تحتانية ساكنة) بن الوليد بن ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف قرشي زهري مدني دې.د غُريري په نسبت سره مشهور دې.(٢)

---

(١) قوله:..أبي بن كعب..الحديث أخرجه البخاري في صحيحه أيضاً في (١٧\١، ١٨) كتاب العلم. باب الخروج في طلب العلم، رقم و(٢٣\١) كتاب العلم. باب مايستحب للعالم إذا سئل: أى الناس أعلم؟ فيكل العلم إلى الله. رقم(١٢٢) و(٣٠٢\١) كتاب الإجارة. باب إذا استاجر أجيراً على أن يقيم حائطاً يريد أن ينقض: جاز. رقم(٢٢٦٧) و(٣٧٧\١) كتاب الشروط مع الناس بالقول. رقم(٢٧٢٨) و(٤٦٣\١) كتاب بدءالخلق. باب صفة إبليس وجنوده. رقم(٣٢٧٨)، (٤٨١\١، ٤٨٢) كتاب أحاديث الأنبياء. باب حديث الخضر مع موسى عليهما السلام رقم(٣٤٠٠) و(٣٤٠١) و(٦٨٧\٢، ٦٩٠) كتاب التفسير سورة الكهف. باب: وإذ قال موسى لفتاه لا أبرح حتى أبلغ مجمع البحرين أو أمضى حقبا. رقم(٤٧٢٥)، باب فلما بلغا مجمع بينهما نسيا حوتهما. فاتخذ سبيله في البحر سربا. رقم)٤٧٢٦) و باب فلما جاوزا قال لفتاه آتنا غداءنا.... رقم(٤٧٢٧) و(٩٨٧\٢) كتاب الأيمان والنذور. باب إذا حنث ناسياً في الأيمان. رقم(٦٦٧٢) و(١١١٤\٢) كتاب التوحيد. باب قول الله تعالى. تؤتي الملك من تشاء..... رقم٧٤٧٨) ومسلم في صحيحه. في كتاب الفضائل. باب من فضائل الخضر. رقم(٦١٦٣- ٦١٦٨) والترمذي في جامعه. في كتاب تفسيرالقرآن. باب ومن سورة الكهف. رقم(٣١٤٩) و(٣١٥٠)_

(٢) تهذيب الكمال(٢٦\٢٦٨)_

دوى د ابو نعيم الفضل بن دكين، مطرف بن عبدالله مدنى او يعقوب بن ابراهيم بن سعد زهرى رحمهم الله نه روايت كوى.ددوى نه امام بخارى، عبدالله بن شبيب مدنى، ابو جعفر محمد بن احمد بن نصر ترمذى رحمهم الله روايت كوى.(١)
ابن حبان رحمه الله دوى لره په ،،كتاب الثقات،، كښې ذكركړې دې.(٢)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.،،صدوق،،(٣)
تنبيه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه سمعانى رحمه الله په ،،الانساب،، كښې ليكلى دى.چه ددوى د پلار غرير اصل نوم عبدالرحمن دې.چه دا په غُرير لقب سره مشهور دې.(٤)
خو دا په ظاهر كښې د حافظ رحمه الله تسامح ده.ځكه چه علامه سمعانى د اسحاق بن غرير بن المغيره بن حميد بن عبدالرحمن بن عوف زهرى د تذكرې لاندې نقل كړى دى.چه د ،،غرير،، نوم عبدالرحمن بن المغيره دې.(٥) او زيربحث راوى محمد بن غرير بن الوليد بن ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف دې.علامه سمعانى رحمه الله ددې نه روستو ددوى تذكره هم په دې نوم سره كړې ده.او ددوى د شيوخو او شاگردانو ذكر ئې كړې دې.(٦) دا د ،،غرير،، په نوم دوه مختلف افراد دى.يو د مغيره ځوئې دى.هم ددوى نوم عبدالرحمن دې. دويم د وليد ځوئې دې.كوم چه دلته د زيربحث راوى پلار دې.والله اعلم.
يوه بله تنبيه: حافظ ابن حجر رحمه الله د ،،الزهره،، په حواله نقل كړى دى.چه امام بخارى رحمه الله ددوى نه پنځه حديثونه روايت كړى دى.(٧) خوابو نصركلابازى رحمه الله فرمائى.چه ددوى صرف درې حديثونه په صحيح بخارى كښې دى.يو په كتاب العلم كښې، يو په كتاب الزكاة كښې، او يو د بنى اسرائيل په بحث كښې لاندې (٨)،،رحمه الله تعالى رحمةً واسعةً،،_

② **يعقوب بن ابراهيم** رحمه الله: دا ابويوسف يعقوب بن ابراهيم بن سعد بن ابراهيم بن

---

١) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوگورئ: تهذيب الكمال(٢٦\٢٦٨، ٢٦٩)_
٢) قاله المزى فى تهذيب الكمال(٢٦\٢٦٩) والحافظ فى تهذيب التهذيب(٩\٣٩٦) والخزرجي فى ،،الخلاصة،، (ص٣٥٥) وسبط ابن العجمى فى تعليقاته على الكاشف(٢\٢١٠) رقم(٥١٠٨) قال الشيخ محمد عوامة،،ولم أره فى المطبوع من ،،الثقات،، قلت: ولم أجد أيضاً طول بحثى فى المحدثين من كتاب الثقات المطبوع.)_
٣) تقريب التهذيب(ص٥٠١) رقم(٦٢١٦)_
٤) تهذيب التهذيب(٩\٣٩٦)_
٥) الأنساب للسمعانى(٤\٢٨٨) نسبة ،،الغريرى،،)_
٦) المصدرالسابق)_
٧) تهذيب التهذيب(٩\٣٩٦)_
٨) قاله العينى فى العمدة(٢\٦١) وانظر لحديثه صحيح البخارى(١١\٢٠٠) كتاب الزكاة باب قول الله تعالى، لايسألون الناس إلحافاً. وحكم الغنى. رقم((١٤٧٨) و(١١\٤٩٨) كتاب المناقب. باب ذكر أسلم وغفار و مزينة وجهينة وأشجع. رقم(٣٥١٣)_

عبدالرحمن بن عوف قرشي زهری مدنی نزیل بغداد دې.(١)

دوی دخپل پلار ابراهيم بن سعد، شعبه، عاصم بن محمد عمری، محمد بن اخي الزهری، عبدالملك بن الربيع بن سبرة الجهني، عبيده بن ابي رائطه، ليث بن سعد، عبدالعزيز بن المطلب، سيف بن عمرضبي، او شريك بن عبدالله نخعي رحمهم الله نه روايت كوى.

ددوی نه په روايت كونكو كښې امام احمد بن حنبل، اسحاق بن راهويه، ابوخيثمه زهير بن حرب، على بن المديني، محمد بن غرير الزهرى، محمد بن يحي ذهلي، يحي بن معين، او يعقوب بن شيبه سدوسي رحمهم الله پشان د علم حديث ستنې (لوې عالمان) دی.(٢)

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى.، ثقة،(٣)

امام عجلى رحمه الله فرمائى.، ثقة،(٤)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.، صدوق،(٥)

امام دارقطني رحمه الله دوى لره ثقه ګرځولې دې.(٦)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په ، كتاب الثقات، كښې ذكركړې دې.(٧)

ابن سعد رحمه الله فرمائى.((وكان ثقة مأموناً.....وكان يقدم على أخيه في الفضل والورع والحديث))(٨)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.، حجة ورع،(٩)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.، ثقة فاضل،(١٠)

په سن ٢٠٨هـ كښې دوى وفات شو.(١١)، رحمه الله تعالى رحمة واسعة،_

④ ابي رحمه الله: ددوى تذكره په كتاب الايمان كښې د ((تفاضل أهل الإيمان في الأعمال)) لاندې مختصر ذكر شوې وه.(١٢) دلته لږ په تفصيل سره ذكر كولې شى.دا د يعقوب بن ابراهيم

---

(١) تهذيب الكمال(٣٠٨\٣٢)_

(٢) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٣٠٨\٣٢، ٣٠٩) وسيرأعلام النبلاء(٤٩١\٩، ٤٩٢)_

(٣) تاريخ الدارمى(٢٣٠) رقم(٨٨٥)_

(٤) تهذيب الكمال(٣١٠\٣٢)_

(٥) المصدرالسابق)_

(٦) سنن الدارقطني(٥٩\١) كتاب الطهارة، باب استقبال القبلة في الخلاء، رقم٢)_

(٧) الثقات لابن حبان(٢٨٤\٩)_

(٨) الطب لابن سعد(٣٤٣\٧)_

(٩) الكاشف(٣٩٣\٢)رقم(٦٣٨٤)_

(١٠) تقريب التهذيب(٦٠٧) رقم(٧٨١١)_

(١١) تهذيب الكمال(٣١١\٣٢)_

(١٢) كشف البارى(١٢٠\٢)_

پلار ابراهيم بن سعد بن ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف زهرى قرشى مدنى دې.ددوى كنيت ابو اسحاق دې.(١)

دوى د خپل پلار سعد بن ابراهيم، عبدالله بن جعفر مخرمى، امام زهرى، هشام بن عروه، شعبه، صالح بن كيسان، صفوان بن سليم او ابن اخى الزهرى رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.

ددوى نه ابراهيم بن حمزه زبيرى، سعد بن ابراهيم، يعقوب بن ابراهيم، عبدالله بن مسلمه قعنبى، عبدالله بن وهب مصرى، عبدالرحمن بن مهدى،عبدالصمد بن عبدالوارث، وكيع بن الجراح، يزيدبن هارون او يحي بن يحي نيسابورى رحمهم الله وغيره نه روايت دحديث كوى.(٢)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى.،،ثقة،،(٣)او هم دوى فرمائى.«أحاديثه مستقيمة»(٤)

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى.،،ثقة حجة،،(٥)

امام عجلى رحمه الله فرمائى.،،مدنى ثقة،،(٦)

ابوحاتم رحمه الله فرمائى.،،ثقة،،(٧)

ابن خراش رحمه الله فرمائى.،،صدوق،،(٨)

ابن سعد رحمه الله فرمائى.«وكان ثقة كثير الحديث وربما أخطأ فى الحديث»(٩)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.«أحد الأعلام الثقات»(١٠)

ددوى په ثقاهت باندې كلام: بعضو حضراتو په دوى باندې معمولى كلام هم كړې دې.كله چه د يحي بن سعيد رحمه الله په وړاندې ددوى او د عقيل تذكره اوشوه.نو هغوى پخپل خاص انداز سره دا ښكاره كړله.چه دوى ضعيف دى.خو امام احمد رحمه الله فرمائى.«أيش ينفع هذا؟هؤلاء ثقات،لم يخبرهما يحى»(١١)يعنى د داسې قسمه تضعيف هيڅ فائده نشته.ځكه چه دې د ثقاتو ځنې دې.يحي بن سعيد رحمه الله دوى معلوم كړى نه دى.

---

(١) تهذيب الكمال(٨٨/٢)_

(٢) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٨٨/٢-٩٠)وسير أعلام النبلاء(٣٠٥/٨)_

(٣)تهذيب الكمال(٩٠/٢)_

(٤)المصدر السابق)_

(٥)تهذيب الكمال(٩١/٢) وسير أعلام النبلاء(٣٠٥/٨) وتهذيب التهذيب(١٢١/١) والكامل لابن عدى(٢٤٧/١)

(٦)تهذيب الكمال(٩٢/٢)_

(٧) المصدر السابق)_

(٨)المصدر السابق)_

(٩)الطبقات لابن سعد(٣٢٢/٧)_

(١٠)ميزان الإعتدال(٣٣/١) رقم(٩٧)_

(١١)الكامل لابن عدى(٢٤٦/١)_

ابن عدی رحمه الله بعضې داسې احاديث ذكركړی دی.كوم چه دې د امام زهری رحمه الله نه روايت كوی.او دهغې په سندونو كښې د امام زهری رحمه الله دويم شاگرد ددوی سره اختلاف كوی.خو امام ابن عدی رحمه الله ددغه حديثونو ذكركولو نه پس فرمائی:«ولعل من تكلم في إبراهيم بن سعد من ذكرنا بعض الصحابة فيه ماتكلم فيه تحاملا عليه فيما قاله فيه، وإبراهيم بن سعد من ثقات المسلمين، حدث منه جماعة من الأئمة ممن هم أكبر سناً منه، وأقدم موتاً منه....»(١)او هم ددوی فرمائی:«ولإبراهيم بن سعد أحاديث صالحة مستقيمة عن الزهري وعن غيره، ولم يتخلف أحد من الكتابة عنه بالكوفة والبصرة وبغداد، وهو من ثقات المسلمين»(٢)

حافظ ذهبی رحمه الله ددوی غريب احاديث ذكركولو نه پس فرمائيلی دی:«إبراهيم بن سعد ثقة بلا ثنيا، قد روى عنه شعبة مع تقدمه وجلالته»(٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:«ثقة حجة تكلم فيه بلا قادح»(٤)

ددوی احاديث اصحابو د اصول سته قبول كړی دی.او دهغې نه ئې احتجاج او استدلال كړې دې.(٥)

په ١٨٣هـ كښې ددوی وفات اوشو.(٦)«رحمه الله تعالى رحمة واسعة»_

④ صالح رحمه الله:دا ابومحمد يا ابوالحارث صالح بن كيسان مدنی رحمه الله دې.ددوی حالات په كتاب الايمان كښې د «باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال» لاندې ذكر شوی دی.(٧)

⑤ ابن شهاب رحمه الله: دا امام محمد بن مسلم بن عبيدالله بن شهاب زهری رحمه الله دې.ددوی حالات د بدءالوحی د دريم حديث لاندې ذكر شوی دی.(٨)

⑥ عبيدالله بن عبدالله رحمه الله: دا مشهور فقيه عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود رحمه الله دې.ددوی حالات هم د بدءالوحی پنځم حديث لاندې ذكر شوی دی.(٩)

⑦ عبدالله بن عباس رضی الله عنهما: د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما حالات د بدءالوحی

---

(١)الكامل(١\٢٤٨، ٢٤٩)_
(٢)الكامل(١\٢٥٠)_
(٣)ميزان الإعتدال(١\٣٤) رقم(٩٧)_
(٤)تقريب التهذيب(ص٨٩) رقم(١٧٧)_
(٥)هدى السارى(ص٣٨٨)_
(٦) الكاشف(١\٢١٢) رقم(١٣٨)_
(٧)كشف البارى(٢\١٢١)_
(٨)كشف البارى(١\٣٢٦)_
(٩)كشف البارى(١\٤٦٦)_

خلورم حديث لاندې، (۱)او په كتاب الايمان كښې د «باب كفران العشير وكفر دون كفر» لاندې ذكر شوې دې.(۲)

⑧ الحر بن قيس ﷺ: دا حضرت حُر بن قيس بن حصن بن حذيفه بن بدر فزارى ﷺ دې.دا د حضرت عيينه بن حصن ﷺ وراره دې.نبى كريم ﷺ چه كله د غزوۀ تبوك نه راواپس شو.دغه وخت د بنو فزاره وفد راغلې وو.چه په هغې كښې حضرت حر بن قيس ﷺ هم وو. حضرت حُر بن قيس ﷺ د فضل او كمال والا خلقو نه وو.د حضرت عمر ﷺ مقربين او ددوى د خصوصى حضراتو نه وو.دكومو نه چه به حضرت عمر ﷺ رائې او مشوره اخستله.(۳)

په صحيح بخارى كښې ددوى تذكره د موسى او دخضر عليهما السلام د قصې نه علاوه په يو بله موقعه هم راغلې دې.په هغې كښې ذكر دى.چه حضرت عيينه بن حصن ﷺ د خپل وراره حر بن قيس ﷺ سره ايسار شو.او هغه ته ئې اووئيل.چه د حضرت عمر ﷺ په دربار كښې د تلو دپاره اجازت راواخله.هغوى اجازت راواخستلو. نو عيينه بن حصن حضرت عمر ﷺ ته خطاب اوكړو.او وې وئيل.«يا ابن الخطاب! فوالله ماتعطينا الجزل ولا تحكم بيننا بالعدل» حضرت عمر ﷺ سخت ناراضه شو.حضرت حُر بن قيس ﷺ فوراً عرض اوكړو«يا أمير المؤمنين! إن الله قال لنبيه ﷺ: ﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ﴾ وإن هذا من الجاهلين» فرمائى.چه كله حضرت عمر ﷺ دا آيت واوريدو.نو غصه ئې فوراً سړه شوه.«وكان وقافاً عند كتاب الله»(۴)

⑨ ابى بن كعب ﷺ:دا مشهور صحابى سيدالقراء حضرت ابى بن كعب ﷺ دې.د انصارو قوم خزرج سره ددوى تعلق دې.(۵) ابوالمنذر او ابوالطفيل دواړه ددوى كنيتونه دى.(۶) په بيعت عقبۀ ثانيه كښې شريك وو.د بدر سره په نورو غزواتو كښې هم د نبى كريم ﷺ سره شريك پاتې شوې دې.(۷)

ددوى نه په صحابه كرامو كښې حضرت ابوايوب، حضرت ابن عباس، حضرت ابو موسى

---

۱) كشف البارى(۱\۴۳۵)_

۲) كشف البارى(۲\۲۰۵)_

۳) تفصيل دپاره اوګورئ: الإصابة(۱\۳۲۴)_

۴) صحيح البخارى(۲\۶۶۹) كتاب التفسير، سورة الأعراف، باب: خذ العفو وأمر بالعرف و أعرض عن الجاهلين،رقم(۴۶۴۲)و(۲\۱۰۸۲) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة، باب الإقتداء بسنن رسول الله ﷺ، رقم(۷۲۸۶)

۵) تهذيب الكمال(۲\۲۶۲) وتهذيب الأسماء واللغات(۱\۱۰۸) والإصابة(۱\۱۹)_

۶) المصادر السابق)_

۷) المصادر السابق)_

اشعری، حضرت انس بن مالك، حضرت عمر، حضرت ابوهریره، حضرت سلیمان بن صرد، حضرت سهل بن سعد الساعدی، عبدالله بن الحارث بن نوفل رضی الله عنهم روایت کوی.

دغه شان د تابعینو نه حضرت ابوالعالیه ریاحی، زر بن حبیش اسدی، سعید بن المسیب، ابو ادریس خولانی، ابو عثمان نهدی، عبید بن عمیر لیثی، عطاء بن یسار، او عماره بن عمرو بن حزم انصاری رحمهم الله وغیره حضرات روایت کوی.(١)

د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه بعضې فضائل او امتیازات: د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه یو اهم فضیلت دا دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دوی ته قرآن واورولو. او وې فرمائیل چه الله تعالی ماته ستانوم اخستې دې. او د قرآن اورولو حکم ئې راکړې دې.(٢)

نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: «استقرءوا القرآن من أربعة، من عبدالله بن مسعود، فبدأ به، وسالم مولى أبي حذيفة، وأبي بن كعب، ومعاذ بن جبل»(٣)

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښې چه کومو حضراتو قرآن کریم جمع کړو. حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه د هغه حضراتو ځنې وو. حضرت انس رضی الله عنه فرمائی: «جمع القرآن على عهد النبي صلى الله عليه وسلم أربعة كلهم من الأنصار، أبي، ومعاذ بن جبل، وأبو زيد، وزيد بن ثابت»(٤)

حضرت عمر رضی الله عنه دوی ته په ،،سیدالمسلمین،، معزز لقب سره رابللې دې.(٥)

واقدی رحمه الله فرمائی: «أول من كتب لرسول الله صلى الله عليه وسلم حين قدم المدينة أبي بن كعب، وهو أول من كتب في آخر الكتاب: فلان بن فلان»(٦)

نبی کریم صلی الله علیه وسلم دوی ته ،،سیدالانصار،، وئیلې دې.(٧)

د بیمارو د کفارې کیدو فضیلت اوریدو نه پس حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه د الله تعالی نه دعا اوکړله: «اللهم إني أسألك حمى لا تمنعني خروجا في سبيلك، ولا خروجا إلى بيتك، ولا مسجد نبيك صلى الله عليه وسلم» نو دا دعا داسې قبوله شوه چه همیشه به ددوی جسم ګرم وو.(٨)

---

١) تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال(٢/٢٦٣، ٢٦٤) و تهذیب الأسماء(١/١٠٩) وسیرأعلام النبلاء(١/٣٩٠)_

٢) قال النبي صلى الله عليه وسلم لأبي: إن الله أمرني أن أقرأ عليك، لم يكن الذين كفروا، قال: وسماني؟ قال: نعم، فبكى.، صحيح البخاري(١/٥٣٧) كتاب المناقب، باب مناقب أبي ابن كعب رضي الله عنه. رقم(٣٨٠٩)_

٣) صحيح البخاري(١/٥٣١) كتاب فضائل أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم، باب مناقب سالم مولى أبي حذيفة رضي الله عنه. رقم(٣٧٥٨)_

٤) صحيح البخاري(١/٥٣٧) كتاب المناقب، باب مناقب زيد بن ثابت رضي الله عنه، رقم(٣٨١٠)_

٥) الإصابة(١/١٩) وتهذيب الكمال(٢/٢٦٩) وتهذيب الأسماء واللغات(١/١٠٩)_

٦) تهذيب الأسماء واللغات(١/١٠٩)_

٧) تهذيب الكمال(٢/٢٦٨) وسير أعلام النبلاء(١/٣٩٦)_

٨) تهذيب الكمال(٢/٢٦٨) وسير أعلام النبلاء(١/٣٩٢)_

نبی کریم ﷺ د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه تپوس اوکړو.چه د قرآن کریم د ټولو نه عظیم آیت کوم یو دې؟ حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه جواب ورکړو.چه ،،آیت الکرسی،، دټولو نه عظیم آیت دې.نبی کریم ﷺ د مسرت (او خوشحالۍ) اظهار اوکړو.او ددوی په سینه باندې ئې لاس راښکلو.او وې فرمائیل.«ليهنك العلم أبا المنذر»[1] نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.«أقرؤهم لكتاب الله أبي»[2]

معمر رحمه الله فرمائی.«عامة علم ابن عباس من ثلاثة: عمر، وعلي، وأبي»[3]

حضرت مسروق رحمه الله فرمائی.«كان أصحاب القضاء من أصحاب رسول الله ﷺ ستة: عمر، وعلي، وعبدالله، وأبي، وزيد، وأبوموسى»[4]

دحضرت ابی بن کعب رضی الله عنه په سن د وفات کښې ډیر اختلاف دې. واقدی رحمه الله فرمائی. «رأيت أهله وغير واحد يقولون: مات في سنة اثنتين وعشرين بالمدينة، وقد سمعت من يقول: مات في خلافة عثمان سنة ثلاثين، وهو أثبت الأقاويل عندنا»[5] حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی.«والأكثر أنه مات في خلافة عمر»[6]

خلاصه دا چه ددوی د وفات په باره کښې مختلف اقوال دی.«أقل ما قيل سنة١٩ هـ، وأكثر ما قيل سنة٣٢هـ»[7] الله اعلم.

فائده (ددوی د مرویاتو تعداد): د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه تقریباً یوسل څلور شپیته (یعنی ۱۶۴) حدیثونه رانقل دی.په دې کښې متفق علیه حدیثونه درې دی.او امام بخاری رحمه الله په دریو حدیثونو کښې او امام مسلم رحمه الله په اوو حدیثونو کښې متفرد دې.[8] ،،والله اعلم.،، رضي الله تعالى عنه وأرضاه،،_

---

[1]) صحيح مسلم، كتاب صلاة المسافرين، باب فضل سورة الكهف و آية الكرسي، رقم(١٨٨٥)_
[2])جامع الترمذي(، كتاب المناقب، باب مناقب معاذ بن جبل و زيد بن ثابت و أبي بن كعب وأبي عبيدة بن الجراح رضي الله عنهم، رقم(٣٧٩١)_
[3])سير أعلام النبلاء(٣٩٨/١)_
[4]) تهذيب الأسماء واللغات(١٠٩/١) والإصابة(١٩/١)_
[5])طبقات ابن سعد(٥٠٢/٣)_
[6])الإستيعاب بهامش الإصابة(٥٢/١)_
[7]) تقريب التهذيب(ص٩٦) رقم(٢٨٣) وتعليقات الكاشف(٢٢٩/١)رقم(٢٣١)_
[8])تهذيب الأسماء واللغات(١٠٩/١) وسير أعلام النبلاء(٤٠٢/١) وخلاصة الخزرجي(ص٢٤) البته په دې آخرى ماخذ کښې د بخارى د منفرد احاديثو تعداد څلور دې.والله اعلم_

قوله: أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى: د حضرت ابن عباس او حضرت حر بن قيس بن حصن فزارى رضي الله عنهما په مينځ كښې په دې خبره باندې جګړه شوه.چه د حضرت موسى عليه السلام ،، صاحب،، (ملګرې) څوك وو؟

مطلب دا دې.چه حضرت موسى عليه السلام دچا په طلب كښې سفر كړې وو.او د هغه په باره كښې قرآن كريم كښې وارد دى. ﴿فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا.....﴾(١)نو دا څوك دې؟

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وينا دا وه.چه دا حضرت خضر عليه السلام وو.اوحضرت حُر بن قيس رضي الله عنه ددې انكار كولو.او هغه د يوبل كس نوم اخستلو.هغه د بل كوم كس نوم اخستلو؟ په هيڅ يو روايت كښې ددې تصريح نه ملاويږى.(٢)

دلته اختلاف تاسو ګورئ.چه د حضرت ابن عباس او حضرت حر بن قيس رضي الله عنهم په مينځ كښې واقع دې.ددې نه پس د فيصله كونكى ذكر دې.چه هغه حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه دې.

دلته اختلاف په صاحب د موسى عليه السلام كښې دې، وړاندې يو بل اختلاف هم دې بيا دلته اختلاف د موسى عليه السلام د صاحب په تعين كښې دې.حالانكه روستو امام بخارى رحمه الله په ((باب ما يستحب للعالم إذا سئل: أى الناس أعلم؟ فيكل العلم إلى الله))(٣) كښې. دغه شان په كتاب التفسير كښې (٤) روايت نقل كړې دې.چه په هغې كښې يو بل اختلاف دې.دا اختلاف د دوو تابعينو حضرت سعيد بن جبير او د نوف بكالى رحمهما الله په مينځ كښې واقع شوې دې.او اختلاف په دې خبره كښې دې.چه د ،،موسى،، نه څوك مراد دې؟ د حضرت سعيد بن جبير رحمه الله وينا وه.چه دا موسى بن عمران دې.كوم چه د بنى اسرائيلو مشهور پيغمبر تير شوې دې.او د نوف بكالى دعوه دا وه.چه د ،،موسى،، نه مراد موسى بن ميشا بن أفرائيم بن يوسف بن يعقوب عليهما السلام دې.(٥) ددې دويم اختلاف فيصله كونكې حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دې.

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ خَضِرٌ فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ فَدَعَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ إِنِّي تَمَارَيْتُ أَنَا وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى الَّذِي سَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ شَأْنَهُ قَالَ نَعَمْ:

---

١)سورة الكهف\٦٥)_

٢)فتح البارى(١\١٦٩)_

٣)صحيح بخارى(١\٢٣) كتاب العلم، رقم الحديث(١٢٢)_

٤) صحيح البخارى(٢\٦٨٧، ٦٨٨) كتاب التفسير، سورة الكهف، باب: و إذ قال موسى لفتاه لا أبرح حتى أبلغ مجمع البحرين أو أمضى حقبا، رقم(٤٧٢٥)، باب: فلما بلغا مجمع بينهما نسيا حوتهما..... رقم(٤٧٢٦)، وباب: فلما جاوزا قال لفتاه آتنا غداءنا لقد لقينا من سفرنا هذا نصبا، رقم(٤٧٢٧)_

٥)فتح البارى(١\١٦٩)_

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل چه دا خضر دې.دوى دواړو سره حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه تيرشو.حضرت ابن عباس هغوى متوجه كړل او عرض ئې اوكړو.چه زما او زما د دوست په مينځ كښې د موسى عليه السلام او دهغه د ..صاحب.. په باره كښې اختلاف شوې دې.د كوم سره چه د ملاقات لاره دوى د الله تعالى نه غوښتلې وه.آيا تاسو د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه د هغوى څه ذكر اوريدلې دې؟ هغوى اوفرمائيل چه آو.

قوله سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَمَا مُوسَى فِي مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ قَالَ مُوسَى لَا:
حضرت ابى ابن كعب رضي الله عنه فرمائى.چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل.چه دا ئې فرمائيل.چه يوځل موسى عليه السلام د بنى اسرائيلو په جمات كښې تشريف ايخودې وو.چه يو سړې هغوى ته راغې.او دهغه نه ئې تپوس اوكړو.چه تاسو څوك داسې سړې پيژنئ.چه هغه ستاسو نه زيات علم لرى؟ موسى عليه السلام اوفرمائيل.چه نه. (نه پيژنم).

دا سوال كونكې سړې څوك وو.د هغه د نوم تصريح په هيڅ يو روايت كښې نه ملاويږى.(١)

د حضرت موسى عليه السلام ځپل ځان ته اعلم وئيل حضرت موسى عليه السلام د ځپل ځان نه د زيات علم والا سړى كومه نفى كړې وه.هغه صحيح وه.ځكه چه هغه د الله تعالى په جليل القدر رسولانو كښې دې.ښكاره ده.چه نبى او رسول نه زيات علم والا هيڅ څوك نشى كيدې.خو چونكه هغه ته دا ښودل مقصود وو.چه د الفاظو په استعمال كښې د احتياط ضرورت دې.په داسې موقعو باندې ..الله اعلم.. وئيلو سره حقيقى علم الله تعالى طرف ته منسوب كول پكار دى.په دې وجه دې باندې عتاب (او ملامتيا) اوشوه.(٢)

قوله فَأَوْحَى اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى مُوسَى بَلَى عَبْدُنَا خَضِرٌ: الله تعالى حضرت موسى عليه السلام طرف ته وحى راوليګله.چه ولې نشته! زمونږ بنده خضر ستا نه زيات علم لرى.

حضرت خضر عليه السلام

د لفظ ..خضر.. ضبط ..خضر..د خاءِ معجمه په فتحې او د ..ضاد.. په كسرې سره هم ضبط كړې شوې دې.او د ..خاء.. كسرې او د ..ضاد.. سكون سره هم وئيلې شوې دې.(٣)

خضر لقب دې اوكه نوم؟ ..خضر.. دا لقب دې.نوم نه دې.

په خضر سره د ملقب كيدو وجه په ..خضر.. سره د ملقب كيدو څه وجه ده؟ امام بخارى رحمه الله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه مرفوعاً نقل كړى دى.((انما سمّي الخضر، لأنه جلس على فروة بيضاء،

---

(١) فتح البارى(١٦٩/١)_

(٢) فعتب الله عليه إذ لم يردّ العلم إليه..... صحيح البخارى(٤٨٢/١) كتاب أحاديث الأنبياء، باب حديث الخضر مع موسى عليهما السلام، رقم(٣٤٠١)_

(٣) المغنى(ص٢٧، ٢٨)_

فإذا هي تهتز من خلفه خضراء»(١)

امام عبدالرزاق رحمه الله دا حديث پخپل مصنف كښې خپل سند سره نقل كړې دې او په دې كښې د ..فروة.. د تفسير اضافه هم شته «الفرو: الحشيش الأبيض وما أشبهه»(٢) دا غالباً عبدالرزاق پخپله تفسير كړې دې (٣)

امام حربى رحمه الله فرمائى «الفروة من الأرض: قطعة يابسة من حشيش»(٤) په دې تفسير سره هم د امام عبدالرزاق د قول تائيد كيږى.

امام ابن الاعرابى فرمائى «الفروة: أرض بيضاء ليس فيها نبات»(٥)

امام خطابى رحمه الله اوددوى اتباع كونكو نوروحضراتوپه دې تفسير باندې اعتماد كړې دې (٦)

ددې خلاصه دا ده چه حضرت خضر عليه السلام ته ..خضر.. ځكه اووئيلې شو چه هغه به كله په اوچه گيا، يا په بې اوبو اوبې گيا زمكه باندې كيناستلو .نو دغه گيا يا زمكه به سرسبزه او شينكې جوړه شوه.

په دې لقب سره د ملقب كيدو يوه وجه امام مجاهد رحمه الله نه هم منقول ده «لأنه كان إذا صلى أخضر ما حوله»(٧)چه هغه به كله هم يو ځائې كښې مونځ كولو.نوګيرچاپيره زمكه به سرسبزه كيدله.

د حضرت خضر عليه السلام نوم او نسب: د حضرت خضر عليه السلام په نوم كښې او ددوى د پلار په نوم كښې هم ډير اختلاف دې.بعضو ددوى نوم ..بليا.. ښودلې دې.بعضو ..الياس.. بعضو ..اليسع.، بعضو ..عامر..او بعضو ..خضرون.. ښودلې دې.

د راجح قول مطابق ددوى نسب نامه داسې ده «بليا: بفتح الباء الموحدة، بعدها لام ساكنة، و بعدها ياء تحتانية وبعدها ألف، بن ملكان بن فالغ بن عابر، بن شالخ، بن أرفشخذ بن سام، بن نوح عليه السلام»(٨)

د حضرت خضر عليه السلام نبوت او ولايت: حضرت خضر عليه السلام ولى وو. او كه نبى وو. اوكه رسول وو؟

---

(١)صحيح البخارى(٤٨٣/١١) كتاب أحاديث الأنبياء، باب حديث الخضرمع موسى عليهما السلام. رقم (٣٤٠٢) وجامع الترمذى. كتاب التفسير. سورة الكهف. رقم(٣١٥١)_

(٢)فتح البارى(٤٣٣/٦) كتاب أحاديث الأنبياء، باب حديث الخضر مع موسى عليهما (السلام)_

(٣)قال عبدالله بن أحمد بعد أن رواه عن أبيه عنه: أظن هذا تفسيراً من عبدالرزاق. انتهى.و جزم بذالك عياض. فتح البارى(٤٣٣/٦)_

(٤)فتح البارى(٤٣٣/٦)_

(٥)المصدر السابق)_

(٦) غريب الحديث للخطابى(٢٢٢/١)، والفائق للزمخشرى(١٠٣/٣) والنهاية لابن الأثير(٤٤١/٣)_

(٧) فتح البارى(٤٣٣/٦)_

(٨) تفصيل دپاره اوګورئ: فتح البارى(٤٣٣/٦)_

په دې کښې اختلاف دې يو جماعت چه په هغوی کښې امام ابوالقاسم قشيرى رحمه الله هم دې.ددې خبرې قائل دې.چه حضرت خضر عليه السلام ولى وو.(١)

البته بيا په اهل علمو کښې دا اختلاف دې.چه آيا هغه رسول هم وو.او که نه؟(٢) ابن عطيه بغوى رحمه الله د اکثرو اهل علمو نه نقل کړى دى.چه هغه نبى وو.

امام قرطبى رحمه الله فرمائى.چه د جمهورو په نيز حضرت خضر عليه السلام نبى وو.آيت هم په دې باندې دلالت کوى.خکه چه هيڅ يو نبى د غير نبى نه تعليم نه حاصلوى.او په دې وجه هم چه د باطن په احکامو باندې انبياء کرام د وحى په ذريعه خبريدې شى.(٣)

د جمهورو عالمانو په نيز ددوى نبى کيدل پخپله قرآن کريم کښې د ذکر شوو واقعاتو نه ثابت دې.خکه چه د حضرت خضر عليه السلام نه په دې سفر کښې چه څومره واقعات ثابت دى.د هغې نه بعضې خو قطعى طور باندې خلاف شرع دى.او د شريعت د حکم نه استثناء د وحى الهى نه بغير کيدې نشى.چه دا د نبى او پيغمبر سره مخصوص دې.ولى ته هم په کشف يا الهام سره بعضې څيزونه معلوميدې شى.خو هغه څه حجت نه وى.د هغې په بناء باندې د ظاهر شريعت هيڅ حکم نشى بدليدلې.په دې وجه دا متعين کيدې شى.چه حضرت خضر عليه السلام د الله تعالى نبى او پيغمبر وو.دوى ته د وحى الهى په ذريعه بعضى خاص هغه احکام ورکړې شوى وو.کوم چه د ظاهر شريعت خلاف وو. هغوى چه هرڅه اوکړل.ددې استثنائى حکم لاندې ئې اوکړل.(٤) پخپله ددوى د طرفه ددې اظهار هم د قرآن کريم په دې جمله کښې اوشو.﴿وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي﴾(٥)

بيا بعضې حضرات ددوى د ،،ملك،، (فرښته) کيدو قائل دى.لکه چه ابن کثير دا قول علامه ماوردى طرف ته منسوب کړې دې.(٦)

حضرت خضر عليه السلام تر اوسه پورې ژوندې دې اوکه ددوى وفات شوې دې؟ دا مسئله هم ډيره اختلافى پاتې شوې ده.امام نووى، ابن صلاح، او حضرات صوفيه ددې خبرې قائل دى.چه حضرت خضر عليه السلام تر اوسه پورې ژوندې دې.لکه چه حافظ ابن الصلاح رحمه الله فرمائى.((هو حي عند جمهور العلماء، والعامة معهم في ذالك، وإنما شذ بإنكاره بعض المحدثين))(٧)

---

(١) فتح البارى(٦/٤٣٤)_
(٢) المصدر السابق)_
(٣) الجامع لأحكام القرآن(١١/١٦)_
(٤) معارف القرآن(٥/٦١٢)_
(٥) الكهف/٨٢)_
(٦) تفسير ابن كثير(٣/٩٩) تحت قوله تعالى: و أما الجدار.....)_
(٧) فتح البارى(٦/٤٣٤) وشرح النووى على صحيح مسلم(٢/٢٦٩) كتاب الفضائل. باب من فضائل الخضر عليه السلام وتهذيب الأسماء واللغات(١/١٧٧)_

امام نووی رحمه الله ددوی په اتباع کښې زیاتی دا هم لیکلی دی.((جمهور العلماء على أنه حي موجود بين أظهرنا، و ذالك متفق عليه عند الصوفية و أهل الصلاح و المعرفة، وحكاياتهم في رؤيته، والإجتماع به، والأخذ عنه، و سؤاله و جوابه، و وجوده في المواضع الشريفة و مواطن الخير أكثر من أن تحصر و أشهر من أن تستر))[1]

خو ددوی په مقابله کښې د اکثرو محدثینو په دې باندې اتفاق دې چه حضرت خضر علیه السلام اوس ژوندې نه دې.د هغوی وفات شوې دې.([2])

د حیات (ژوند) نه په انکار کونکو کښې امام بخاری. ابراهیم حربی. ابو جعفر بن المنادی.ابو یعلی بن الفراء،ابوطاهر العبادی اوابوبکربن العربی وغیره ډیر حضرات دی.([3])

ددوی دحیات د منکرینو او مثبتینو دلائل د حیات د منکرینو ① یو اهم دلیل هغه روایت دې کوم چه دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دې.هغه فرمائی.((صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات ليلة صلاة العشاء في آخر حياته، فلما سلم قام، فقال: أرأيتكم ليلتكم هذه؟ فإن على رأس مائة سنة منها لا يبقى ممن هو على ظهر الأرض أحد))[4] هم ددې مفهوم حدیث د حضرت جابر رضی الله عنه نه هم نقل دې.([5])

مثبتین د حیات ددی ① جواب ورکوی.چه په دې حدیث کښې د ،،على ظهر الأرض،، قید دې.حالانکه حضرت خضر علیه السلام دغه وخت په سمندر کښې وو.([6])

② یا دا چه ددې حدیث د عموم نه حضرت خضر علیه السلام مخصوص دې.لکه څنګه چه ابلیس او حضرت عیسی علیه السلام ددې نه مستثنی دی.([7])

② د حیات د منکرینو یو دلیل د الله تعالی ارشاد هم دې.﴿وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ الْخُلْدَ﴾([8]) خو ښکاره ده.چه مثبتین د حیات د حضرت خضر علیه السلام د دوام او خلود قائل نه دی.نو ددې نه استدلال صحیح نه دې.

③ دحیات دمنکرینو یو دلیل د قرآن آیت دې.﴿وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ ۚ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي ۖ قَالُوا

---

[1] المصادر السابق)_
[2] فتح الباری(۶\۴۳۴)_
[3] المصادر السابق)_
[4] صحيح مسلم. كتاب فضائل الصحابة. باب بيان معنى قوله: على رأس مائة سنة لا يبقى. نفس منفوسة ممن هو موجود الآن. رقم(۶۴۷۹) و(۶۴۸۰)_
[5] صحيح مسلم. كتاب فضائل الصحابة. باب بيان معنى قوله: على رأس مائة سنة.....رقم(۶۴۸۱-۶۴۸۴)_
[6] فتح الباری(۶\۴۳۴)_
[7] المصادر السابق)_
[8] الأنبياء(۳۴)_

اَقۡرَرۡنَاؕ قَالَ فَاشۡهَدُوۡا وَاَنَا مَعَكُمۡ مِّنَ الشّٰهِدِيۡنَ﴾(۱) هم دا مفهوم په یو روایت کښې هم دې:«ما بعث الله نبياً إلا أخذ عليه الميثاق: لئن بعث محمد وهو حي ليؤمنن به ولينصرنه.....»(۲)

استدلال په دې طريقه دې چه ددې آیت او حدیث په رو سره الله تعالی چونکه د هر نبی نه دا عهد اخستې دې چه که د نبی کریم ﷺ زمانه ملاو شی نو ایمان راوړلو سره سره به نصرت هم لازمی وی په دې وجه لازما د حضرت خضر ؑ نه هم عهد اخستې شوې دې. ځکه چه هغه هم نبی دې. که هغه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې وو نو د نبی کریم ﷺ د نصرت او اعانت دپاره حاضر ولې نشو. که داسې وې نو د روایاتو نه به ضرور معلومه شوې وه.(۳)

خو مثبتین د حیات وئیلې شی چه په روایاتو کښې ذکر راتلل ضروری نه دې. دیره ممکن ده چه حضرت خضر ؑ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې وی. او په غزواتو کښې هم شریك شوې وی.

حافظ ابن حجر رحمه الله زیاتی نور دلائل او شواهد هم ذکرکړی دی. او مثبتین د حیات: مستدرك حاکم د یو روایت نه استدلال کوی:

«....ثنا عباد بن عبدالصمد عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: لما قبض رسول الله ﷺ أحدق به أصحابه، فبكوا حوله و اجتمعوا، فدخل رجل أصهب اللحية، جسيم، صبيح، فتخطى رقابهم، فبكى، ثم التفت إلى أصحاب رسول الله ﷺ فقال: إن في الله عزاء من كل مصيبة، وعوضاً من كل فائت، وخلفاً من كل هالك، فإلى الله فأنيبوا، وإليه فارغبوا، و نظرة إليكم في البلاء، فانظروا، فإنما المصاب من لم يجبر، و انصرف، فقال بعضهم لبعض: تعرفون الرجل؟ فقال أبوبكر وعلى: نعم، هذا أخو رسول الله ﷺ الخضر ؑ»(۴)

خو دا حدیث قابل د استدلال نه دې. ځکه چه په دې کښې دحضرت انس رضي الله عنه نه روایت کونکې راوی عباد بن عبدالصمد د حد نه زیات ضعیف او ناقابل اعتبار دې(۵) امام حاکم رحمه الله هم ددې تخریج کړې دې او فرمائیلی ئې دی:«هذا شاهد لما قبله، وإن كان عباد بن عبدالصمد ليس من شرط هذا الكتاب»(۶)

---

۱) آل عمران\۸۱_

۲) عزاه ابن کثیر فی البدایة والنهایة(۲\۳۰۶) مبعث رسول الله ﷺ تسليماً كثيراً. وذكر شئ من البشارات بذالك) و إبن حجر في فتح الباری(۶\۴۳۴) إلى صحيح البخاری. ولم أجده فيه بعد بحث كثير. والله اعلم. وانظر الدر المنثور(۲\۴۷، ۴۸)_

۳) فتح الباری(۶\۴۳۴)_

۴) المستدرک للحاکم(۳\۵۷) کتاب المغازی. تعزية الخضر عند وفاته ﷺ)_

۵) عباد بن عبدالصمد. أبو معمر. عن أنس بن مالك. بصري واه. قال البخاري. منكر الحديث...و وهاه ابن حبان وقال....حدثنا عباد بن عبدالصمد عن أنس بنسخة أكثرها موضوعة..... وقال ابوحاتم: عباد ضعيف جداً. وقال ابن عدي. عامة ما يرويه في فضائل علي. وهو ضعيف. غال في التشيع. ميزان الإعتدال(۲\۳۶۹) رقم(۴۱۲۸)

۶) المستدرک(۳\۵۸)_

④ دغه شان يو استدلال د مسلم شريف د يو حديث نه هم دې چه هغه د حضرت ابوسعيد خدرى رضی الله عنه نه نقل دې. هغه فرمائى. «حدثنا رسول الله ﷺ يوماً حديثاً طويلاً عن الدجال، فكان فيما حدثنا قال: يأتى وهو محرم عليه أن يدخل نقاب المدينة، ينتهى إلى بعض السباخ التى تلى المدينة، فيخرج إليه يومئذ رجل هو خير الناس أو من خير الناس، فيقول له: أشهد أنك الدجال الذى حدثنا رسول الله ﷺ حديثه، فيقول الدجال، أرأيتم إن قتلت هذا ثم أحييته أتشكون فى الأمر؟ فيقولون: لا قال: فيقتله ثم يحييه، فيقول حين يحييه، والله ما كنت فيك قط أشد بصيرة منى الآن، قال: فيريد الدجال أن يقتله، فلا يسلط عليه»[1]

ددې حديث په آخر كښې د امام مسلم شاګرد، د صحيح مسلم راوى ابو اسحاق فرمائى: «يقال إن هذا الرجل هو الخضر عليه السلام»[2] دا حديث اګرچه صحيح دې. خو په دې كښې د ..رجل.. خضر عليه السلام كيدل متيقن نه دى. د ابو اسحاق قول په دې سلسله كښې حجت نه دې.

⑤ د مثبتين حيات يو دليل هغه واقعه ده. كومه چه يعقوب بن سفيان پخپل تاريخ كښې او ابو عروبه د رياح بن عبيده په طريق سره نقل كړې ده. «رأيت رجلاً يماشى عمر بن عبد العزيز معتمداً على يديه، فلما انصرف، قلت له، من الرجل؟ قال: رأيته؟ قلت: نعم، قال: أحسبك رجلاً صالحاً، ذاك أخى الخضر، بشرنى أنى سأولى وأعدل»[3]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى. «لا بأس برجاله، ولم يقع لى إلى الآن خبر ولا أثر بسند جيد غيره»[4] خو پخپله حافظ رحمه الله ددې په جواب كښې فرمائى. «وهذا لا يعارض الحديث الأول فى مائة سنة، فإن ذالك قبل المائة»[5]

ددې نه علاوه هم مثبتين د حيات د مختلفو رواياتو نه استدلال كوى. خو حقيقت دا دې چه د سند په لحاظ سره هغې كښې يو روايت هم صحيح نه دې.[6]

البته د حضرات صوفيه وينا ده. چه بې شميره خلقو حضرت خضر عليه السلام كتلې دې او هغه سره

---

[1] صحيح مسلم(۲/۴۰۲) كتاب الفتن، باب ذكر الدجال_

[2] المصدر السابق)_

[3] فتح البارى(۶/۴۳۶)_

[4] المصدر السابق)_

[5] المصدر السابق)_

[6] ددې رواياتو دپاره اوګورئ: فتح البارى(۶/۴۳۶) قال ابن كثير: وذكروا فى ذالك حكايات و آثاراً عن السلف وغيرهم وجاء ذكره فى بعض الأحاديث، ولا يصح شئ من ذالك. تفسير القرآن العظيم. (۳/۹۹)،، وقال ابن الجوزى: قال ابن المنادى:....و جميع الأخبار فى ذكر الخضر واهية الصدور والأعجاز. لا تخلو من أمرين إما أن تكون أدخلت بين حديث بعض الرواة المتأخرين استغفالاً. وإما أن يكون القوم عرفوا حالها فرووها على جهة التعجب. فنسبت إليهم على وجه التحقيق..... الموضوعات لابن الجوزى(۱/۱۹۹)_

ئې ملاقات كړې دې.

راجح مذهب خلاصه دا ده چه دواړو طرف ته څومره دلائل دی. دا پخپله مدعا باندې قطعي او واضح نه دی په دې وجه خاص يو طرف ته د اصرار كولو ضرورت نشته. البته په دې مقام باندې راجح د محدثينو مذهب معلوميږي.

يوه اهمه خبره دلته دا خبره هم د يادولو ده چه د حضرت خضر ﷺ مرګ او ژوند سره زمونږ څه اعتقادی يا عملی مسئله متعلق نه ده. ځكه چه قران او حديث كښې ددې متعلق هيڅ صراحت او وضاحت نه دې شوې. په دې وجه په دې كښې د زيات بحث او تمحيص كولو هم ضرورت نشته. او نه خاص د يوطرف يقين كول مونږ دپاره ضروري دی. والله اعلم

((فَسَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَيْهِ فَجَعَلَ اللَّهُ لَهُ الْحُوتَ آيَةً وَقِيلَ لَهُ إِذَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَارْجِعْ فَإِنَّكَ سَتَلْقَاهُ وَكَانَ يَتَّبِعُ أَثَرَ الْحُوتِ فِي الْبَحْرِ فَقَالَ لِمُوسَى فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ قَالَ ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا فَوَجَدَا خَضِرًا فَكَانَ مِنْ شَأْنِهِمَا الَّذِي قَصَّ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي كِتَابِهِ))

نو موسى ﷺ هغه پورې د رسيدو د لارې تپوس اوكړو. الله تعالى يو كب هغوی دپاره نشانه مقرر كړله. او وې فرمائيل چه كله كب ورك شی. نو واپس شه. ته به هغه سره ملاو شې. حضرت موسى ﷺ په سمندر (په غاړه غاړه) ددې كب په نشان باندې روان شو. ددوی خادم (حضرت يوشع) هغوی ته اووئيل. چه كله مونږ صخره (غټ كانړی) سره ايسار شوی وو. نو ما نه د كب قصه بيانول هيرشو. او شيطان زما نه هيره كړله. چه زه تاسو ته د هغې ذكر اوكړم. حضرت موسى ﷺ اوفرمائيل. چه مونږه هم ددغه ځائې په تلاش كښې وو. بيا دواړه په تلاش كښې د خپلو خپو په نشانونو راواپس شو. هلته ئې خضر ﷺ سره ملاقات اوشو. بيا هغه قصه تيره شوه. كومه چه الله تعالى پخپل كتاب كښې بيان كړله.

ايا علم باطن د علم ظاهر نه افضل دې؟ دلته بعضو خلقو وئيلی دی. چه حضرت موسى ﷺ د شريعت يعنى د ظاهر عالم وو. او حضرت خضر ﷺ د باطن عالم وو. د ظاهر عالم ته د باطن عالم شاګرد جوړيدو دپاره وئيلې شی. او د هغوی نه د علم حاصلولو حكم وركولې شی. معلومه شوه. چه علم باطن يعنى علم طريقت، د علم ظاهر يعنى د علم شريعت نه افضل دې.

① حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی. چه دا غلطه ده. علم باطن يا علم طريقت خو پخپله د شريعت جزء دې. شريعت د ظاهرى اصلاح او د باطنى اصلاح د علم نوم دې. په شريعت كښې د اعمالو او معاملاتو صحيح كيدو سره د اخلاقو د صحيح كيدو او د زړه د تزكيۀ هم حكم دې. معلومه شوه. چه شريعت علم ظاهر او علم باطن ته جامع دې. طريقت چه دا په علم باطن سره تعبير كولې شی. دا د شريعت يو جزء دې. او دا خبره معلومه او مسلم (منلې شوې) ده چه جزء د كل نه افضل نه وی.

② دويمه خبره دا ده. چه حضرت موسى ﷺ دعلم ظاهر او علم باطن جامع وو. د علم شريعت او علم طريقت حامل وو. هغه چه حضرت خضر ﷺ ته ورغلې وو. هغه د علم طريقت يا علم باطن زده كولو ته نه وو ورغلې. هغه خو يو څو تكوينى امور وو. چه دهغې نه علم

ظاهر سره تعلق وو او نه علم باطن سره. ددغه تكويني امورو علم حضرت موسى ﷺ ته نه كيدل. ددوى دپاره څه عيب يا نقص نه دې.(۱)
د حضرت خضر ﷺ په واقعه كښې دا اوشو چه بعضې څيزونه كوم چه زماناً يا مكاناً د حضرت خضر ﷺ په اعتبار سره بعيد (لرې) وو. هغه د حضرت خضر ﷺ دپاره قريب (نزدې) وو. حضرت خضر ﷺ ته د هغې علم اوشو. او حضرت موسى ﷺ ته د هغې علم اونشو. لكه چه بادشاه مكاناً بعيد وو. نو حضرت موسى ﷺ ته د هغه د حالاتو علم نه وو. دغه شان كوم بچې (ماشوم) چه حضر خضر ﷺ قتل كړو. د هغه كفر زماناً بعيد وو. او حضر خضر ﷺ ته الله تعالى ددې علم وركړو. دغه شان هغه خزانه كومه چه مدفون وه. حضرت موسى ﷺ دپاره دهغې علم بعيد وو. د حضرت خضر ﷺ دپاره نيزدې وو. دغه شان زماناً يا مكاناً ددې څيزونو حضرت خضر ﷺ دپاره قريب كيدل. او ددې علم كيدل. په دې سره د حضرت موسى ﷺ په مقابله كښې د حضرت خضر ﷺ فضيلت نه ثابتيږى. او دا به نشى ونيلې چه خضر ﷺ د طريقت او باطن عالم وو. او موسى ﷺ د هغې د زده كولو دپاره هغوى ته ورغلې وو. حضرت موسى ﷺ خو پخپله جامع د شريعت او طريقت وو. هغه خو پخپله د ظاهر او باطن د علم نه ښه واقف وو. دا تكويني امور وو. چه ددې حضرت موسى ﷺ ته علم نه وو او حضرت خضر ﷺ ته وو. ددې علم نه كيدل د حضرت موسى ﷺ د علم د نقص دليل نه دې.
تر كومه پورې چه د حضرت موسى ﷺ حضرت خضر ﷺ ته د ورتلو تعلق دې. نو ددې وجه افضليت نه دې. بلكه تعليم او تاديب دې. چه بيا دپاره په تكلم كښې احتياط كوه.

كه شيخ د ناجائز حكم اوكړى نو مريد دپاره دهغې كول جائز نه دى بعضې خلقو دلته دا استدلال هم كړې دې. چه كه شيخ د ناجائز كار حكم وركړى. نو مريد له هغه كول پكار دى. گنى محرومه به شى. حضرت خضر ﷺ دلته درې كارونه اوكړل. حضرت موسى ﷺ ته په هغې باندې اعتراض شو. او ددې اعتراض نتيجه دا شوه. چه هغه د علم د حصول نه منع كړې شو. ددې نه جاهلانو دا نتيجه اوښكلې ده. چه كه شيخ د خلاف شريعت كار حكم وركړى. او مريد د هغې تعميل اونكړى. نو هغه محرومه كولې شى.

دا استدلال هم قطعاً غلط دې ① اول خكه چه حضرت موسى ﷺ ، الله تعالى حضرت خضر ﷺ ته وراوليگلو. او دا معلومه ده. چه الله تعالى خپل پيغمبر د يو خلاف شريعت كار كونكى ته ورليگلو دپاره نشى راضى كيدې. نو دلته دا ونيل اصلاً غلط دى. چه حضرت خضر ﷺ ناجائز كارونه اوكړل. خكه چه د حضرت خضر ﷺ متبع د شريعت كيدل. د الله تعالى هغه كره د مقررولو نه ثابتيږى.
بيا ددې خبرې لحاظ ساتل هم پكار دى. چه د حضرت خضر ﷺ شريعت به جدا وى. او دهغې احكام جزئيه او فرعيه به جدا وى. او د حضرت موسى ﷺ شريعت به جدا وى. او ددې احكام او مسائل او فروع به جدا وى. په دې وجه حضرت موسى ﷺ ته اشكال اوشو. ښكاره ده. چه د حضرت خضر ﷺ شريعت او احكام د جدا كيدو په وجه هغه مورد د الزام نه

---

(۱) بيان القرآن (۱۲۷/۱-۱۳۲) سورة الكهف.

دى.دغه شان د حضرت موسىؑ شريعت او احكام جدا كيدو په وجه دا هم مورد دالزام نشى كيدې.
دلته چه د كوم شيخ د اطاعت خبره شروع ده.چه كه هغه د شريعت خلاف حكم وركړى.نو هغه اومنلې شى.او هيڅ اعتراض اونكړې شى نو
① اول خو ددې شيخ الله تعالى كوم خانې نوم اخستې دې.چه دهغې نه دا ثابته شى.چه دې د شريعت خلاف خبره كونكې نه دې.
② دويمه خبره دا ده.چه دلته خو شريعت يو دې.دا خبره خو نه ده.چه دشيخ شريعت د محمدرسول اللهﷺ د شريعت نه جدا بل يو شريعت وى.اوس كه شيخ د شريعت خلاف حكم وركوى.نو د «لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق» مطابق به دهغه خبره رد كول واجب وى.
③ البته كه څه مبهم خبره وى.چه په هغې كښې د تاويل گنجائش وى.نو هغه بله خبره ده. دلته د كفر بواح او د هغه امر خبره كولې شى.چه د هغې په عدم جواز كښې هيڅ شبه موجود نه ده.

ايا د شيخ اكبر ابن عربى رحمه الله په نيز ولايت د نبوت نه افضل دې؟ شيخ اكبر محى الدين ابن عربى رحمه الله د ولايت او نبوت نه بحث كولو كښې فرمائيلى دى.چه ولايت د نبوت نه افضل دې.حافظ ابن تيميه رحمه الله په دې باندې سخت ترديد كړې دې.او ابن عربى ئې كفر او الحاد ته رسولې دې.(۱)
خو صحيح خبره دا ده.چه د ابن عربى مقصد دا نه دې.چه ولى د نبى نه افضل وى.د هغوى مقصد دا دې.چه په نبى كښې دننه يو شان د نبوت وى.او يو شان د ولايت وى.د نبى شان ولايت ددوى د شان نبوت نه افضل وى.په غير نبى كښې كه څه ولايت اوموندې شى.نو هغې ته د نبى د نبوت نه افضل نشى ونيلې كيدې.او نه ابن عربى ونيلى دى.
حضرت مجدد الف ثانى رحمه الله پخپلو مكتوباتو كښې ددې هم ترديد كړې دې.او فرمائيلى ئې دى.چه په نبى كښې دننه چه كوم شان د ولايت او شان نبوت دواړه وى.هغې كښې شان د نبوت د شان ولايت نه افضل وى.(۲) ،،والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب،،_

۱۷- بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ

د تيرشوى باب سره ددې باب مناسبت په دواړو بابونو كښې مناسبت ① دا دې.چه په تيرشوى باب كښې د حضرت ابن عباس رضى الله عنهما په حضرت حر بن قيس رضى الله عنه غلبه مذكور ده.چه دا د حضرت ابن عباس د كمال علم په وجه اوشوه.او په دې باب كښې دا مذكور دى.چه دا علم او فضل حضرت ابن عباس رضى الله عنهما ته د نبى كريمﷺ په دعا سره حاصل شو.(۳)

---

(۱) مجموع فتاوى شيخ الإسلام(۲۰٤/۱۲-۲٤۷)_
(۲) مكتوباب مجدد الف ثانى)_
(۳) عمدة القارى(۶۵/۲)_

④ دويمه وجه د مناسبت دا بيان كړې شوې ده.چه په تيرشوى باب كښې دا مذكور دى.چه حضرت موسىؑ د حضرت خضرؑ نه دهغې علم استفاده اوكړله.كوم چه دوى سره نه وو.او په دې باب كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د نبى كريم ﷺ نه د علم كتاب د استفادې ذكر دې.(١) والله اعلم.

د ترجمة الباب مقصد حافظ ابن حجر او علامه عينى رحمهما الله فرمائى.په دې كښې اشاره ده.چه ددې الفاظو استعمال د نورو خلقو دپاره كيدې شى.دا جواز د ابن عباس رضي الله عنهما خصوصيت نه دې.هم دا وجه ده.چه په حديث كښې د ترجمې الفاظ كيخودې شو.او دا نې اونه وئيل.چه ددې دعائيه كلمو تعلق د يو خاص ذات سره دې.ددې معنى په لحاظ سره د ..علمه.. مرجع به څوك مخصوص سړې نه وى.(٢)

حافظ رحمه الله فرمائى.چه دا هم كيدې شى.چه مرجع ابن عباس رضي الله عنهما وى.دكوم ذكر چه په تيرشوى باب كښې راغلې دې.او په دې طريقه اشاره اوشوه.چه د حر بن قيس په مقابله كښې د ابن عباس رضي الله عنهما كاميابى د پيغمبر ﷺ ددې دعا اثر وو.(٣)

حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى.چه ددې واقعې نه د علم او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د دواړو عظمت او فضيلت بداهت سره معلوميږى.په دې وجه مؤلف دا روايت په كتاب العلم او په مناقبو د ابن عباس رضي الله عنهما دواړو ځايونو كښې ذكر كړې دې.ددې سره دا هم په فهم كښې راځى.چه علم د اللهﷻ خاص انعام او عطاء ده.لكه څنګه چه په ((باب من يرد الله به خيراً يفقهه فى الدين)) كښې اوس مذكور شو.نو سړې چه هر څومره ذهين او فهيم وى.او په تعلم د علم كښې څومره هم جدوجهد (او محنت) اوكړى.هيڅ كله هم قابل د اعتماد نه دې.بلكه توجه او التجا الى الله ضرورى ده.ددې نه بغير د خير د ارادې دا نعمت نشى ملاويدې. يعنى په ضرورياتو د تعلم كښې دعا او التجا الى الله هم ده.په دې وجه فهم او سعى سره ددې هم ډير زيات حاجت دې.(٤)

حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى.چه په دې كښې دې خبرې طرف ته اشاره ده.چه كوم كس سره د كتاب علم دې.هغه ګويا د نبى كريم ﷺ د سينې مباركې نه استفاده كوى.ګويا چه ددې سړى سينه د نبى كريم ﷺ د سينې سره منضم (او پيوست) ملاو شوې ده.لكه څنګه چه نبى كريم ﷺ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما خپلې سينې مباركې سره ملاو كړې وو.او دعا نې ورته كړې وه.(٥)

حضرت شيخ الحديث مولانامحمد زكريا صاحب رحمه الله فرمائى.چه ددې باب مقصد نبى

---

(١) المصدر السابق)_

(٢) فتح البارى(١٦٩\١) وعمدة القارى(٦٥\٢)_

(٣) فتح البارى(١٦٩\١)_

(٤) الأبواب والتراجم از حضرت شيخ الهند قدس سره(ص٤٩)_

(٥) لامع الدرارى مع تعليقاته(٣٢\٢)_

كريم ﷺ د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دپاره كومه دعا كړې ده.د هغې سبب طرف ته اشاره كول دى.دغه سبب يا خو د نبى كريم ﷺ خدمت دې.چه هغوى د نبى كريم ﷺ دپاره د اودس اوبه ايخودې وې.يا دهغوى حسن ادب دې.چه نبى كريم ﷺ هغوى خپل خان سره برابر اودرولو.خو هغه شاته شو.او اودريدو.ددې دواړو سببونو ذكر روستو راروان دې.(١)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى.چه دا هم ممكن ده.چه امام بخارى رحمه الله ددې نه د استاذ او د شيخ ادب بيان كړې وى.چه استاذ له پكار دى.چه خپلو طالبانو دپاره دعا كوى.لكه څنګه چه نبى كريم ﷺ دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دپاره دعا اوكړله.(٢) او هم دوى فرمائى.چه دا هم ممكن ده.چه امام بخارى رحمه الله دا باب چه مطلق ساتلې دې.دا د فائدو د تكثير په غرض سره ايخودې وى.چه په دې كښې د استاذ دعا كول هم داخل دى.او د طالب علم دعا طلب كول هم داخل دى.(٣) والله أعلم.

حديث باب

٧٥-((حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ(٤) قَالَ ضَمَّنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ))
[١٤٣، ٣٥٤٦، ٦٨٤٢]

رجال الحديث

① أبو معمر رحمه الله:دا عبدالله بن عمرو بن ابى الحجاج منقرى بصرى دې.ابو معمر ئې كنيت دې.او د ،،مقعد،، په لقب سره مشهور دې.(٥)

دوى د جرير بن عبدالحميد، عبدالعزيز بن محمد دراوردى، عبد الوهاب ثقفى، ملازم بن عمرو حنفى نه علاوه د عبدالوارث بن سعيد نه روايت دحديثو كوى.خاص طور باندې دوى د عبدالوارث نه ښه استفاده اوكړله.په اصول سته كښې چه ددوى څومره روايات نقل دى.

---

(١) تعليقات لامع الدرارى(٣١/٢، ٣٢) والأبواب والتراجم لصحيح البخارى(ص٤٣)_

(٢) الأبواب والتراجم لصحيح البخارى(ص٤٣)_

(٣) المصدر السابق)_

(٤)قوله:..عن إبن عباس.. الحديث أخرجه البخارى(أيضاً فى (٢٦/١) كتاب الوضوء. باب وضع الماء عند الخلاء. رقم(١٤٣) وفى(٥٣١/١) كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ (المناقب) باب ذكر ابن عباس رضى الله عنهما رقم(٣٧٥٦) وفى (١٠٨٠/٢) فاتحة كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة. باب(بدون ترجمة) رقم(٧٢٧٠). ومسلم فى صحيحه فى كتاب فضائل الصحابة. باب من فضائل عبدالله بن عباس رضى الله عنهما رقم(٦٣٦٨) والنسائى فى السنن الكبرى(٥/١١٥، ٥٢) كتاب المناقب. باب: عبدالله بن العباس بن عبدالمطلب خيرالأمة وعالمها وترجمان القرآن رضي الله عنه. رقم(٨١٧٧- ٨١٧٩) و ابن ماجه فى سننه. فى المقدمة. باب فى فضائل أصحاب رسول الله ﷺ. فضل ابن عباس. رقم(١٦٦)_

(٥) تهذيب الكمال(٣٥٣/١٥)وسير أعلام النبلاء(٦٢٢/١٠)_

قول دعبدالوارث په واسطې سره دی.[1]

ددوی نه په روایت کونکو کښې امام بخاری، امام ابوداوٗد، امام ابوزرعه، امام ابو حاتم، امام دارمی، امام ذهلی، عباس دوری، او محمد بن واره رحمهم الله وغیره ډیر دحدیثو ستنې (ډیرلوې محدثین) دی.[2]

امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی، ،ثقة ثبت،،[3] او هم دوی فرمائی.((ثقة نبیل عاقل))[4]

علی بن المدینی رحمه الله فرمائی.((قد کتبت کتب عبدالوارث من ولده عبدالصمد، وأنا أشتهی أن أکتبها من أبي معمر))[5]

حافظ ذهبی رحمه الله د علی بن المدینی رحمه الله د مذکوره قول قدر او قیمت ښکاره کولو دپاره فرمائی.((یقول علی مثل هذا القول مع أنه قد بقی أیضاً عبدالوارث و سمع منه جملة أحادیث))[6]

یعقوب بن شیبه رحمه الله فرمائی.((کان ثقة ثبتاً، صحیح الکتاب وکان یقول بالقدر ....))[7]

امام عجلی رحمه الله فرمائی.((أبومعمر ثقة، یری القدری))[8]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.((صدوق متقن قوی الحدیث، غیر أنه لم یکن یحفظ، وکان له قدر عند أهل العلم))[9] ابو زرعه رحمه الله فرمائی.((ثقة حافظ، یعني أنه کان متقناً مصرا لکتبه))[10]

ابن حبان رحمه الله دوی لره په ، ،کتاب الثقات،، کښې ذکرکړې دې.[11]

ددې ټولو توثیقاتو سره تاسو دلته دا هم اوکتل چه دې قدری وو.ددې باوجود ددوی احادیث اصحابو داصول سته قبول کړل.او پخپلو کتابونو کښې ئې دا روایت هم کړل.ځکه چه دې داعی الی البدعة نه وو.لکه چه امام ابوداوٗد رحمه الله فرمائی.((وکان لا یتکلم فیه))[12] یعنی هغه به د ، ،قدر،، په باره کښې کلام هم نه کولو.

---

[1]) حاشية ابن العجمي على الكاشف(٥٧٩\١) رقم(٢٨٧٨)_
[2]) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٣٥٣\١٥) وسير أعلام النبلاء(٦٢٢\١٠)_
[3]) تهذيب الكمال(٣٥٤\١٥)و سير أعلام النبلاء(٦٢٢\١٠)_
[4]) المصادر السابق)_
[5])تهذيب الكمال(٣٥٥\١٥) وسير أعلام النبلاء(٦٢٣\١٠)_
[6])سير أعلام النبلاء(٦٢٣\١٠)_
[7])تهذيب الكمال(٣٥٥\١٥) وسير أعلام النبلاء(٦٢٣\١٠)_
[8])المصادر السابق)_
[9])تهذيب الكمال(٣٥٦\١٥) وسير أعلام النبلاء(٦٢٣\١٠، ٦٢٤)_
[10])المصادر السابق)_
[11])الثقات لابن حبان(٣٥٣\٨، ٣٥٤)_
[12])تهذيب الكمال(٣٥٥\١٥)وسير أعلام النبلاء(٦٢٣\١٠)_

په ۲۲۴ھ کښې ددوی وفات اوشو.(۱) ،،رحمه الله،،_

۴ **عبدالوارث** رحمه الله: دا عبدالوارث بن سعيد بن ذكوان تميمى عنبرى تنورى بصرى رحمه الله دې. ابو عبيده ددوی کنیت دې.(۲)

دوی دیزید الرشك، ایوب سختیانی، ایوب بن موسی، شعیب بن الحجاب، عمرو بن عبيد، داؤد بن ابی هند، عبدالعزیز بن صهیب، عبدالله بن ابی نجيح، سليمان تيمى، ابو عمرو بن العلاء او سعید بن ابی عروبه رحمهم الله وغیره حضراتو نه روایت د حدیثو کوی.

ددوی نه په روایت کونکو کښې ددوی خوئی عبدالصمد بن عبدالوارث، ابو معمر المقعد (وهو راوية كتبه)، مسدد بن مسرهد، قتيبه بن سعيد، بشر بن هلال الصواف، عبيدالله بن عمر القواريرى، او على بن المدينى رحمهم الله وغيره حضرات دى.(۳)

امام ابو زرعه رحمه الله فرمائی: ،،ثقة،،(۴)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی: ((ثقة صدوق، ممن يعد مع ابن علية، و بشر بن المفضل، و وهيب، يعد من الثقات، هو أثبت من حماد بن سلمة))(۵)

امام نسائی رحمه الله فرمائی: ((ثقة ثبت))(۶)

ابن سعد رحمه الله فرمائی: ((كان ثقة حجة))(۷)

ابن حبان رحمه الله فرمائی: ((كان قدرياً، متقناً في الحديث، كان شعبة يقول: يعرف الإتقان في قفاه))(۸)

ابن معين رحمه الله فرمائی: ((هو مثل حماد بن زيد في أيوب))(۹)

دابن معین رحمه الله چه کله تپوس اوکړې شو: ((من أثبت شيوخ المصريين؟)) نو وې فرمائیل ((عبدالوارث، وسمى جماعة))(۱۰)

---

(۱) الكاشف(۱\۵۷۹) رقم(۲۸۷۸)_
(۲) تهذيب الكمال(۱۸\۴۷۸) وسير أعلام النبلاء(۸\۳۰۰)_
(۳) دشيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(۱۸\۴۷۸-۴۸۱) وسير أعلام النبلاء(۸\۳۰۰، ۳۰۱)_
(۴) تهذيب الكمال(۱۸\۴۸۳) وسير أعلام النبلاء(۸\۳۰۴)_
(۵) تهذيب الكمال(۱۸\۴۸۳)_
(۶) المصدر السابق)_
(۷) الطبقات الكبرى(۷\۲۸۹)_
(۸) الثقات لابن حبان(۷\۱۴۰)_
(۹) تهذيب الكمال(۱۸\۴۸۲) وسير أعلام النبلاء(۸\۳۰۴)_
(۱۰) المصادر السابق)_

ددې تولو توثيقاتو باوجود په دوی باندې د قدری کيدو الزام هم دې. حافظ ذهبی رحمه الله ددوی قدری کيدل جزم سره نقل کړی دی. حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی. «وإليه المنتهى في التثبت إلا أنه قدري متعصب لعمرو بن عبيد»[1]

او هم دوی فرمائی. «وكان عالماً مجوداً، من فصحاء أهل زمانه، ومن أهل الدين والورع، إلا أنه قدري مبتدع»[2] او هم دوی فرمائی. «ثبت صالح لكنه قدري»[3]

د حماد بن زيد رحمه الله نه منقول دی. چه هغه به د عبدالوراث نه د روايت کولو نه منع کول.[4]

يزيد بن زريع رحمه الله به فرمائيل. «من أتى مجلس عبد الوارث فلا يقربني»[5]

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی. «ثقة ثبت رمي بالقدر، ولم يثبت عنه»[6]

ددې نفی بنياد په اصل کښې دعبدالوارث د خوئی عبدالصمد دا قول دې. چه هغه به قسم سره ونيل: «إنه لمكذوب على أبي، وما سمعت قط يعني القدر وكلام عمرو بن عبيد»[7]

غالباً په دوی باندې د قدری کيدو الزام دې. دا په دې وجه لګيدلې وو. چه ده به دعمرو بن عبيد معتزلی تعريف کولو. او د هغه نه به ئې روايتونه اخستل. لکه چه هغه به ونيل: «لولا أنني أعلم أنه صدوق ما حدثت عنه»[8] او هم دوی به فرمائيل: «أن يوماً من عمرو بن عبيد أكبر من عمر أيوب السختياني ويونس وابن عون»[9]

که په دوی باندې د قدری کيدو الزام ثابت هم شی. بيا هم چونکه دې داعی نه وو. په دې وجه به ددوی احاديث مقبول وی. لکه چه جمهورو محدثينو او اصحابو داصول ستة ددوی احاديث قبول کړی دی. او کله چه د حضرت عبدالله بن المبارک نه تپوس اوکړې شو: «كيف رويت عن عبد الوارث وتركت عمرو بن عبيد؟» نو دوی اوفرمائيل. «إن عمراً كان داعياً»[10]

په محرم ۱۸۰هـ کښې ددوی وفات اوشو.[11] رحمه الله تعالى رحمة واسعة۔

---

[1] ميزان الإعتدال(۲\۶۷۷) رقم(۵۳۰۷)_
[2] سير أعلام النبلاء.(۸\۳۰۱)_
[3] الكاشف(۱\۶۷۳) رقم(۳۵۱۰)_
[4] تهذيب الكمال(۱۸\۴۸۳) وسير أعلام النبلاء.(۸\۳۰۳)_
[5] سير أعلام النبلاء.(۸\۳۰۳)_
[6] تقريب التهذيب(ص۳۶۷) رقم(۴۲۵۱)_
[7] هدى السارى(ص۴۲۲)_
[8] المصدر السابق)_
[9] سير أعلام النبلاء.(۸\۳۰۲)_
[10] سير أعلام النبلاء.(۸\۳۰۲)_
[11] سير أعلام النبلاء(۸\۳۰۴)_

③ خالد رحمه الله: دا مشهور محدث ابو المنازل (بضم الميم و كسر الزاى، وقيل بفتح الميم أيضاً)[1] خالد بن مهران حذاء بصرى رحمه الله دي.[2]
دوى د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه زيارت كړې دې.[3] دوى دانس بن سيرين، محمد بن سيرين، حفصه بنت سيرين، حسن بصرى، ابو عثمان نهدى، ابوالعاليه رياحى، عطاء بن ابى رباح، عطاء بن ابى ميمونه. او ابو رجاء عطاردى رحمهم الله وغيره حضراتو نه روايت د حديث كوى.
او ددوى نه روايت كونكو حضراتو كښې ابو اسحاق فزارى، اسماعيل بن عليه. بشر بن المفضل، حفص بن غياث، حماد بن زيد، حماد بن سلمه، سفيان ثورى[4] سليمان الاعمش، شعبه بن الحجاج، عبدالله بن المبارك، عبدالوارث بن سعيد، محمد بن جعفر غندر، محمد بن سيرين (وهو شيخه) معتمر بن سليمان، منصور بن المعتمر او ابواسحاق سبيعى رحمهم الله وغيره دى.[5]

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى.. «ثبت».[6]

امام نسائى او يحي بن معين رحمهما الله فرمائى.. «ثقة».[7]

حافظ ذهبى رحمه الله دوى لره «الإمام الحافظ الثقة»[8] او «الحافظ أحد الأئمة»[9] او «ثقة إمام» گرخولې دې.[10]

ابن سعد رحمه الله د فهد بن حيان قيسى نه نقل كوى. «وكان خالد ثقة، رجلاً مهيباً، لايجترئ عليه أحد، وكان كثير الحديث»[11]

البته امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى. «يكتب حديثه ولايحتج به»[12]

---

[1] تقريب التهذيب (ص ١٩١) رقم (١٦٨٠)_
[2] تهذيب الكمال (١٧٧/٨)_
[3] المصدر السابق)_
[4] كذا فى تهذيب الكمال (١٧٩/٨) وليس فيه ذكر سفيان بن عيينة. وذكر الذهبى فى السير ابن عيينة (١٩١/٦) ولم يذكر الثورى. فليحقق.)_
[5] دشيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوگورئ: تهذيب الكمال (١٧٨/٨-١٨٠) وسير أعلام النبلاء (١٩١/٦، ١٩٢)
[6] تهذيب الكمال (١٨٠/٨)_
[7] المصدر السابق)_
[8] سير أعلام النبلاء (١٩٠/٦)_
[9] ميزان الإعتدال (٦٤٢/١) رقم (٢٤٦٦)_
[10] الكاشف (٣٦٩/١) رقم (١٣٥٦)_
[11] الطبقات الكبرى لابن سعد (٢٥٩/٧، ٢٦٠)_
[12] تهذيب الكمال (١٨٠/٨)_

دغه شان امام شعبه، ابن عليه او حماد بن زيد رحمهم الله هم دوى باندې لږ كلام كړې دې.(۱)
خو حقيقت دا دې چه په دوى باندې كومه جرح شوې ده. جمهور نقادو د حديث دا ردكړې ده. لكه چه ابن العجمى رحمه الله فرمائى: «قال ابن الهادى فى، طبقاته،: ولم يقبل هذا القول منه فيه ولا فى غيره من الأثبات»(۲)
ښكاره ده چه امام احمد، ابن معين او نسائى وغيره دوى لره ،،ثقه،، او ،،ثبت،، گرخوى. نو د ابو حاتم مبهم جرح څنگه موثر كيدې شى؟ بيا تركومه پورې چه د شعبه د كلام تعلق دې نو حافظ ابن حجر رحمه الله د هغې وجه بيانوى ،او ليكى چه:
«وتكلم فيه شعبة وابن علية إما لكونه دخل فى شئ من عمل السلطان، أو لما قال حماد بن زيد: قدم علينا قدمة من الشام فكأنا أنكرنا حفظه»(۳)
حافظ ذهبى رحمه الله د ابو حاتم او شعبه رحمهما الله اقوال نقل كوى او فرمائى: «ما التفت أحد إلى هذا القول أبدا»(۴) او شعبه چه كله د خالدحذاء په باره كښې كلام اوكړو نو عباد بن عباد او حماد بن زيد دواړه دوى ته راغلل او وې وئيل: «مالك! أجننت! أنت أعلم، وتهددناه» نو شعبه بيا كلام كول پريخودل.(۵)
البته حماد بن زيد چه كوم دا وئيلى دى چه د شام نه د واپس راتلو نه پس ددوى په حافظه كښې څه تغير راغلې وو.ممكن ده چه دا بالكل د آخرى عمر خبره وى.ځكه چه ټولو اصحابو د اصول سته او نورو محدثينو ددوى د احاديثو نه احتجاج او استدلال كړې دې.(۶) والله اعلم.
په ،،حذاء،، لقب سره د مشهور كيدو وجه: دوى پخپله پيزار جوړونكې يا خرڅونكې نه وو.بلكه ① دوى چونكه د ،،حذائينو،،(پيزار جوړونكو او خرڅونكو) سره كيناستو پاسيدو.په دې وجه ددوى نوم ،،حذاء،، مشهور شو.
② بعضې حضرات دا وائى چه دوى به ،،حذائين،، سره كيناستلو.او هغوى ته به ئې هدايت وركولو.«احذ على هذا النحو»(په دې طريقه باندې گنډل كوئ.داسې پيزار جوړوئ).په دې وجه د دوى نوم ،،حذاء،، شو. ③ يو قول دا هم دې چه دوى د بنى مجاشع يوې ښځې سره نكاح اوكړله.او خپل خان سره بوتلله.او په حذائين علاقه كښې ئې اوسيدل اختيار

---

(۱) ميزان الإعتدال(۱\۶۴۳) رقم(۲۴۶۶)_
(۲) حاشية ابن العجمى على الكاشف(۱\۳۶۹)_
(۳) هدى السارى(ص ۴۰۰)_
(۴) ميزان الإعتدال(۱\۶۴۳) رقم(۲۴۶۶)_
(۵) ميزان الإعتدال(۱\۶۴۳) وسير أعلام النبلاء(۶\۱۹۱)_
(۶) هدى السارى(ص ۴۰۰)_

کړل په دې وجه ددوی نوم ،،حذاء،، مشهور شو.([1])

په ۱۴۱ھ یا ۱۴۲ھ کښې ددوی وفات اوشو.([2]) ،،رحمه الله تعالی رحمة واسعة،،_

عکرمه رحمه الله: دا مشهور امام حدیث او تفسیر ابو عبدالله عکرمه ،،مولی د عبدالله بن عباس،، مدنی رحمه الله دې.دوی د مغرب بربری خاندان سره تعلق لرې.د حصین بن ابی الحر العنبری غلام وو.دوی حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته هبه کړو.([3])

حضرت عکرمه رحمه الله د حضرت عبدالله بن عباس، حضرت جابر، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن عمرو، عقبه بن عامر جهنی، معاویه بن ابی سفیان، یعلی بن امیه، حضرت ابوهریره، او حضرت ابو قتاده رضي الله عنهم نه روایت د حدیث کړې دې.دوی د حضرت عائشه، حضرت علی، حضرت ابوبکرصدیق، حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنهم نه هم روایت کړې دې خو محدثینو تصریح کړې ده.چه دده دې حضراتو نه کوم روایتونه دی.هغه مرسل دی.([4])

ددوی نه روایت کونکو کښې ابراهیم نخعی، امام شعبی، عمرو بن دینار، ابو الزبیر مکی، قتاده، مطر الوراق، موسی بن عقبه، ایوب سختیانی، اشعث بن سوار، حمید الطویل، خالدالحذاء، امام اعمش، سماك بن حرب، عاصم بن بهدله، عاصم الاحول، فطربن خلیفه او لیث بن ابی سلیم رحمهم الله وغیره حضرات دی.([5])

جابر بن زید رحمه الله فرمائی.((عكرمة مولى ابن عباس هذا أعلم الناس))([6])

د سعید بن جبیر رحمه الله نه تپوس اوکړې شو.((تعلم أحداً أعلم منك؟))نو دوی اوفرمائیل:((نعم عكرمة))([7])

امام قتاده رحمه الله فرمائی.((أعلم التابعين أربعة....وكان أعلمهم بالتفسير))([8])

ایوب سختیانی رحمه الله فرمائی.((لولم يكن عندي ثقة لم أكتب عنه))([9])

عمرو بن دینار رحمه الله فرمائی.((ما رأيت مثل عكرمة قط))([10])

---

[1] سير أعلام النبلاء(۱۹۲\۶)_
[2] تهذيب الكمال(۱۸\۱۸)_
[3] تهذيب الكمال(۲۶۴\۲۰، ۲۶۵)وسير أعلام النبلاء(۱۲\۵، ۱۳)_
[4] حاشيه ابن العجمي على الكاشف(۳۳\۲) رقم(۳۸۶۷)_
[5] دشيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(۲۶۵\۲۰-۲۶۹)وسير أعلام النبلاء(۱۳\۵، ۱٤)
[6] تهذيب الكمال(۲۷۲\۲۰) وسير أعلام النبلاء(۱۶\۵) وهدى السارى(ص٤۲۸)_
[7] سير أعلام النبلاء(۱۶\۵) و تهذيب الكمال(۲۷۲\۲۰) وهدى السارى(ص٤۲۹)
[8] تهذيب الكمال(۲۷۲\۲۰) وسير أعلام النبلاء(۱۷\۵)وهدى السارى(ص٤۲۹)_
[9] سير أعلام النبلاء(۱۸\۵) وهدى السارى(ص٤۲۹) و تهذيب الكمال(۲۷۵\۲۰)_
[10] هدى السارى(ص٤۲۹)_

سلام بن مسكين رحمه الله فرمائى. «كان عكرمة من أعلم الناس بالتفسير»[1]

سفيان ثورى رحمه الله فرمائى. «خذوا التفسير من أربعة» او په دوى كښې ئې د عكرمه ذكر هم اوكړو.[2] امام بخارى رحمه الله فرمائى «ليس أحد من أصحابنا إلا احتج بعكرمة»[3]

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى. «إذا رأيت إنسانا يقع في عكرمة فاتهمه على الإسلام»[4]

امام نسائى رحمه الله فرمائى. «ثقة»[5]

ابو حاتم رحمه الله فرمائى. «ثقة»[6]

او هم دوى فرمائى. «أصحاب ابن عباس عيال على عكرمة»[7]

امام اسحاق بن راهويه رحمه الله فرمائى. «عكرمة عندنا إمام أهل الدنيا»[8]

امام على بن المدينى رحمه الله فرمائى. «كان عكرمة من أهل العلم، ولم يكن في موالى ابن عباس أغزر علما منه»[9] ابو بكر بن ابى خيثمه رحمه الله فرمائى. «كان عكرمة من أثبت الناس فيما يروى ولم يحدث عمن هو دونه أو مثله، أكثر حديثه من الصحابة رضي الله عنهم»[10]

دا ددوى تعديل او توثيق او د امامت شان سره متعلق يو څو اقوال دى. حالانكه ددوى د معدلينو او ثناخوانو فهرست كافي اوږد دي. ددې توثيقاتو او تعديلاتو سره په دوى باندې لويو لويو اكابرو حضراتو كلام هم كړې دې. حافظ ابن حجر رحمه الله په تهذيب التهذيب او هدى السارى كښې دغه ټول جروح رانقل كړى دى. او دهغې جواب ئې وركړې دې او ثابته كړې ئې ده. چه په دوى باندې هيڅ يوه جرح ثابت او منقول نه ده.

په حضرت عكرمه باندې درې الزامات او دهغې تحقيق او ترديد د حافظ ابن حجر رحمه الله د بيان مطابق چه په دوى باندې كوم كلام شوې دې. هغه درې قسمه الزامات دى:

① يو دا چه دوى لره بعضو حضراتو مثلاً حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دروغژن ګرځولې دې. لكه چه ددوى نه منقول دى. چه دوى خپل مولى نافع ته خطاب كولو. او وې فرمائيل:

---

[1] تهذيب الكمال(۲۰\۲۷۲) وهدى السارى(ص۴۲۹)_

[2] تهذيب الكمال(۲۰\۲۷۴) وسير أعلام النبلاء(۵\۱۸) وهدى السارى(ص۴۲۹)_

[3] تهذيب الكمال(۲۰\۲۸۹) وسير أعلام النبلاء(۵\۳۱) وهدى السارى(ص۴۲۹)_

[4] تهذيب الكمال(۲۰\۲۸۸) وسير أعلام النبلاء(۵\۳۱) وهدى السارى(ص۴۲۹)_

[5] تهذيب الكمال(۲۰\۲۸۹) وسير أعلام النبلاء(۵\۳۱) وهدى السارى(ص۴۲۹)_

[6] المصادر السابق)_

[7] تهذيب الكمال(۲۰\۲۸۹) وسير أعلام النبلاء(۵\۳۲) وهدى السارى(ص۴۲۹)_

[8] هدى السارى(ص۴۲۹)_

[9] تهذيب الكمال(۲۰\۲۸۹) وسير أعلام النبلاء(۵\۳۱) وهدى السارى(ص۴۲۹)_

[10] هدي السارى(ص۴۲۹)_

«لاتكذب على كما كذب عكرمة على عبدالله بن عباس»[1]
دغه شان دا خبره د سعيد بن المسيب رحمه الله نه هم نقل كولې شي چه دوى خپل مولى ،،برد،، ته هم دا خبره كړې ده.[2] دغه شان على بن عبدالله بن عباس نه چه كله تپوس اوكړې شو چه عكرمه ولې تړلې شوې دې؟ نو دوى جواب وركړو «إنه يكذب على أبى»[3] دغه شان پو څو اقوال نور هم منقول دى چه په هغې كښې عكرمه طرف ته د كذب نسبت شوې دې.[4]
حافظ ابن حجر رحمه الله ددې ټولو اقوالو تفنيد (اوتحقيق) كړې دې او ثابته كړې ئې ده چه (دا قول) د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما او د نورو حضراتو نه اول خو صحيح سند سره ثابت نه دې. دويمه دا چه ،،كذب،، كښې هم ډير احتمالات ممكن دى. مثلاً دا چه د ،،كذب،، معنى دلته دروغ نه دى بلكه ،،خطاء،، ده. چه دا د اهل حجاز په نيز مستعمل دې.[5]
پخپله عكرمه رحمه الله فرمائى. «أرأيت هؤلاء الذين يكذبونى من خلفى أفلا يكذبونى فى وجهى»[6] او حضرت عكرمه رحمه الله يوځل ابو امامه بن سهل بن حنيف ته اووئيل: «يا أبا أمامة، أذكرك الله، هل سمعت ابن عباس يقول: ماحدثكم عنى عكرمة فصدقوه، فإنه لم يكذب على؟ فقال أبو أمامة: نعم»[7]
حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى: «فأما قولهم: كذاب، فليس مما يثبت به جرح حتى يتبين ما قاله»[8]
② دويم الزام په دوى باندې دا دې چه ددوى عقيده د خارجيانو پشان وه. لكه چه په دوى باندې امام مالك كوم نكير كړې دې. هغه هم په دې وجه دې چه امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى «والذى أنكر عليه مالك إنما هو بسبب رأيه»[9]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه ددوى نه قطعى طور باندې د خارجيانو عقيده ثابت نه ده. البته ممكن ده چه په بعضو مسئلو كښې ئې موافقت وى. په دې وجه دوى طرف ته د خارجى كيدو نسبت كړې شوې وى.[10] حافظ عجلى رحمه الله فرمائى. «مكى تابعى ثقة، برىء مما

---

[1] نقله الذهبى فى ميزان الإعتدال ثم ردّه. أنظر(٣\٩٧) رقم(٥٧١٦)_
[2] ميزان الإعتدال(٣\٩٦) و تهذيب الكمال(٢٠\٢٨٠)_
[3] تهذيب الكمال(٢٠\٢٨٠)_
[4] هدى السارى(ص٤٢٥، ٤٢٦)_
[5] هدى السارى(ص٤٢٧، ٤٢٨)_
[6] هدى السارى(ص٤٢٨)_
[7] تهذيب الكمال(٢٠\٢٧١)_
[8] التمهيد(٢\٣٤)_
[9] تهذيب الكمال(٢٠\٢٨٩)_
[10] هدى السارى(ص٤٢٨)_

يرميه به الناس من الحرورية»(١)

③ دريم الزام دا دي چه ده به د امراء (حاكمانو) نه جوائز او هدايا قبلولې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا څه داسې جرح نه ده چه ددوى روايتونه رد كړې شى.هغه فرمائى.

«وهذا الزهرى قد كان فى ذالك أشهر من عكرمة، ومع ذالك فلم يترك أحد الرواية عنه بسبب ذالك»(٢)

معلومه شوه چه په دوى باندې كوم كلام شوې دې.د هغې هيڅ اعتبار نشته.هم دا وجه ده چه د اصول سته د اصحابو نه د امام مسلم رحمه الله نه سوا ټولو ددوى احاديث د احتجاج او استدلال په طور قبول كړى دى.او امام مسلم رحمه الله هم ددوى حديثونه قبول كړى دى.خو مقروناً ئې ذكر كړى دى.(٣)

په آخر كښې د عكرمه رحمه الله په دفاع كښې يو څو جامع اقوال نقل كولې شى

① ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى: «عكرمة مولى ابن عباس: من جلة العلماء، لايقدح فيه كلام من تكلم فيه، لأنه لاحجة مع أحد تكلم فيه»(٤)

② محمد بن نصر مروزى رحمه الله فرمائى.«اجمع عامة أهل العلم على الإحتجاج بحديث عكرمة، واتفق على ذالك رؤساء أهل العلم للحديث من أهل عصرنا، منهم أحمد بن حنبل وإسحاق بن راهويه، وأبوثور، ويحى بن معين.....»(٥)

③ امام ابن جرير طبرى رحمه الله فرمائى.«ولم يكن أحد يدفع عكرمة عن التقدم فى العلم بالفقه والقرآن وتأويله، وكثرة الرواية للآثار، وأنه كان عالماً بمولاه، وفى تقريظ جلة أصحاب ابن عباس إياه و وصفهم لهم بالتقدم فى العلم، وأمرهم الناس بالأخذ عنه ما بشهادة بعضهم تثبت عدالة الإنسان، ويستحق جواز الشهادة، ومن ثبتت عدالته، لم يقبل فيه الجرح، و ما تسقط العدالة بالظن، و بقول فلان، لمولاه: لاتكذب على، وما أشبهه، من القول الذى له وجوه، وتصاريف ومعان، غيرالذى وجهه إليه أهل الغباوة، ومن لاعلم له لتصاريف كلام العرب»(٦) او هم دوى فرمائى.«لوكان كل من ادعى عليه مذهب من المذاهب الرديئة ثبت عليه ما ادعى به و سقطت عدالته و بطلت شهادته بذالك: للزم ترك أكثر محدثى الأمصار، لأنه ما منهم إلا وقد نسبه قوم إلى ما يرغب به عنه»(٧)

---

(١) تهذيب الكمال(٢٨٩\٢٠)_
(٢) هدى السارى(ص٤٢٨)_
(٣)هدى السارى(ص٤٢٥)_
(٤)التمهيد(٢٧\٢)_
(٥)التمهيد(٣٣\٢) وهدى السارى(ص٤٢٩)_
(٦) هدى السارى(ص٤٢٩)_
(٧) هدى السارى(ص٤٢٨)_

④ ابن حبان رحمه الله فرمائی: «كان عكرمة من علماء الناس في زمانه بالقرآن والفقه.... ولا يجب على من شم رائحة العلم أن يعرج على قول يزيد بن أبي زياد، حيث يقول: دخلت على علي بن عبد الله بن عباس، وعكرمة مقيد على باب الحش، قلت: من هذا؟ قال: إن هذا يكذب على أبي، ومن أمحل المحال أن يجرح العدل بكلام المجروح، لأن يزيد بن أبي زياد ليس ممن يحتج حديثه، ولا بشئ يقوله أيوب بن رزين، عن نافع قال: سمعت ابن عمر يقول: يا نافع، لا تكذب علي كما يكذب عكرمة على ابن عباس، قلت: القائل ابن حبان، أما عكرمة فحمل أهل العلم عنه الحديث في الأقاليم كلها، وما أعلم أحداً ذمه بشئ إلا بدعابة كانت فيه»[1]

⑤ ابن عدی رحمه الله فرمائی: «وعكرمة مولى ابن عباس لم أخرج ههنا من حديثه شيئاً، لأن الثقات إذا رووا عنه، فهو مستقيم الحديث، إلا أن يروي عنه ضعيف، فيكون قد أتي من قبل ضعيف لا من قبله، ولم يمتنع الأئمة من الرواية عنه، وأصحاب الصحاح أدخلوا أحاديثه إذا روى عنه ثقة في صحاحهم، وهو أشهر من أن يحتاج أن أخرج حديثاً من حديثه، وهو لا بأس به»[2]

په ۱۰۴ھ، یا ۱۰۵ھ، یا ۱۰۶ھ، یا ۱۰۷ھ کښې ددوی وفات اوشو.[3] ،، رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،

⑤ **ابن عباس رضي الله عنهما:** د حضرت عبدالله بن عبّاس رضي الله عنهما حالات د بدءالوحی د څلورم حدیث. او په کتاب الایمان کښې د «باب كفران العشير وكفر دون كفر» لاندې تیرشوی دی.[4]

قوله: قَالَ ضَمَّنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ زه خپل خان سره اولګولم

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په مناقبو کښې هم دا حدیث ذکرکړې شوې دې.په هغې کښې اضافه ده.«قَالَ ضَمَّنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إلى صدره»[5] چه نبی کریم ﷺ زه خپلې سینې مبارکې سره اولګولم.حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په دغه وخت بالغ شوې خو نه وو.البته صبی ممیز (او پوهه ماشوم) وو.ددې نه معلومه شوه.چه د شفقت په طور رشته دار ماشومان سینې سره لګول جائز دی.[6]

---

[1] الثقات لابن حبان(۲۲۹/۵، ۲۳۰)_
[2] الكامل لابن عدى(۲۷۱/۵، ۲۷۲)_
[3] تهذيب الكمال(۲۹۱/۲۰، ۲۹۲)_
[4] كشف البارى(۴۳۵/۱) و(۲۰۵/۲)_
[5] صحيح البخارى(۵۳۱/۱) كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ (المناقب) باب ذكر ابن عباس رضى الله عنها رقم(۳۷۵۶)_
[6] فتح البارى(۱۷۰/۱)_

قوله وَقَالَ اللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ: او نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اې الله! ده ته د کتاب علم ورکړې.

د علومو منتقل کولو یو صورت نبی کریم ﷺ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما خپلې سینې مبارکې سره اولګولو او دا عظیمه د عا ئې اوکړله.چه اې الله! ده ته د کتاب علم ورکړې.په کتاب کښې دننه ټول دینی امور او احکام شرعیه راځی.ددې عمل نه دا معلومه شوه.چه د احکام شرعیه او د علوم دینیه سرچشمه د نبی ﷺ سینه مبارکه ده.چاته هم چه دا دولت ملاوشی.د نبی کریم ﷺ د سینې نه به ملاویږی.دچا سینه چه څومره هم د نبی کریم ﷺ سره اتصال او نیزدیکت لری.هغومره به هغه باندې د علومو فیضان کیږی.او نبی کریم ﷺ سره د اتصال او قرب دارومدار په اتباع سنت، د الله تعالی په احکامو پوره کولو باندې دې

دلته ئې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما خپلې سینې مبارکې سره ملاوکړو.او افاضه د علومو ئې اوفرمائیله.او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په طلب باندې ئې یو څیز راوبنکلو.دهغه په څادر کښې ئې کیخودو.او ارشاد ئې اوفرمائیلو.چه دا خپلې سینې سره اولګوه.چه په دې سره د حضرت ابوهریره رضی الله عنه سینه د نبوی علومو خزانه جوړه شوه.([1])

د علومو منتقل کولو هم دا طریقه د الله جل جلاله په نیابت کښې حضرت جبرئیل علیه السلام د نبی کریم ﷺ سره اختیار کړې وه.([2]) د امت په صالحینو کښې د بعضو اهل الله عمل هم داسې قسمه پاتې شوې دې.

په یو روایت کښې د،،علمه الکتاب،،په ځائې ،،علمه الحکمه،،وارد دې ددې روایت په یو طریق کښې د،،**الکتاب**،، په ځائې د،،**الحکمة**،، ذکر راغلې دې.([3]) اګرچه د حکمت په تفسیر کښې عالمانو ډیر اقوال ذکر کړی دی.مثلاً قرآن، عمل بالقرآن، سنت، د قول صحیح والې، خشیت، فهم عن الله، عقل، ما یشهد العقل بصحته، نور یفرق بین الالهام والوسواس، سرعة الجواب مع الاصابة، وغیره خو په ظاهره دلته کښې ،،کتاب الله،، او ،،فهم د قرآن مراد دې.([4]) والله اعلم.

د نبی کریم ﷺ د دعا سبب نبی کریم ﷺ چه په حضرت ابن عباس رضی الله عنهما باندې دا مخصوص شفقت اوکړو.او خاص دعا ئې اوکړله.ددې سبب څه وو؟

په احادیثو کښې دوه واقعې ملاویږی.د یو تعلق خدمت سره دې.او د دویمې تعلق ادب او احترام سره دې.دواړه واقعات د دعا سبب کیدې شی:① یوه واقعه خو دا ده.چه نبی کریم ﷺ د قضاءحاجت د ضرورت دپاره تشریف یوړو.نو حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د آرام په

---

[1] انظر الإصابة(۲۰۷\٤)_

[2] كما فى حديث عائشة (ما نقله) البخارى فى صحيحه(۲\۱، ۳) كتاب بدء الوحى، الحديث الثالث، رقم(۳): فأخذنى فغطنى حتى بلغ منى الجهد، وقد فعل ذالك ثلاثاً.)_

[3] صحيح البخارى(۵۳۱\۱۱) كتاب المناقب، باب ذكر ابن عباس رضى الله عنهما رقم(۳۷۵۶)_

[4] فتح البارى(۱۷۰\۱۱)_

غرض سره لوځې د اوبو ډك كيخودو نبى كريم ﷺ چه تشريف راوړو تپوس ئې اوكړو چه اوبه چا ايخودې دى؟ معلومه شوه چه ابن عباس رضي الله عنهما ايخودې دى نو نبى كريم ﷺ خوشحاله شو او دعا ئې اوكړله.(۱)

د نبى كريم ﷺ د دعا سبب په دې عمل كښې د اصل دعا سبب دا خبره ده چه كله نبى كريم ﷺ د قضاء حاجت دپاره بيت الخلاء ته تشريف يوړو نو حضرت ابن عباس رضي الله عنهما سوچ اوكړو چه هركله زه دلته حاضر يم نو ما له څه خدمت كول پكار دى. په دې سلسله كښې درې صورتونه راوړاندې شو ① اوبه راخستل. او بيت الخلاء كښې حاضريدل. ② د بيت الخلاء دروازې نه بهر نبى كريم ﷺ ته نيزدې اوبه ايخودل. ③ يا د هغوى په غوښتلو باندې اوبه حاضرول نو په دې كښې ړومبې صورت د بې پردګئ وو. په دريم صورت كښې د حكم په تعميل كښې د تاخير خطره وه البته په دويم صورت كښې د ستر (او پردې) رعايت هم وو. او فورى طور باندې د خلاء نه بهر ته تشريف راوړلو نه پس. اوبو سره استنجا كښې د هغوى اعانت هم كيدو نو هم دا ئې اختيار كړو. په حقيقت كښې دا ددوى د ذكاوت او هوښيارتيا خبره وه. د ..جزاء من جنس العمل.. په اصول باندې نبى كريم ﷺ د،،اللهم علمه الكتاب،، دعا اوفرمائيله. يعنى الله تعالى دې دوى ته نور هم زيات فهم سليم او هوښيار توب وركړى.(۲)

ددې نه معلومه شوه چه د بزرګانو خدمت او ددې په صله كښې د دعاګانو حصول. د علم دپاره معاون دې. او په دې كښې مدد وركوى.

غالباً دا واقعه هغه وخت راپيښه شوه. كله چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما يوه شپه نبى كريم ﷺ سره د خپلې ترور حضرت ميمونه رضي الله عنها په نمبر كښې تيره كړې وه. چه د نبى كريم ﷺ د شپې معمولات اوګورى. چه د نبى كريم ﷺ د شپې عبادت څنګه دې؟ څومره ركعتونه ادا كوى. كوم وخت دې؟ وغيره وغيره.(۳)

② دويمه واقعه په مسند احمد كښې نقل ده. چه نبى كريم ﷺ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د تهجدو په مانځه كښې خپل خان سره برابر اودرولو حضرت ابن عباس رضي الله عنهما شاته شو. او اودريدو. نبى كريم ﷺ بيا برابر كښې اودرولو. هغه بيا شاته شو. نبى كريم ﷺ د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه تپوس اوكړو چه هركله زه تا وړاندې كوم نو ته ولې شاته كيږې؟ حضرت ابن

---

(۱) عن ابن عباس أن النبى ﷺ دخل الخلاء. فوضعت له وضوءاً. قال: من وضع هذا؟ فأخبر. فقال: اللهم فقهه فى الدين. صحيح البخارى(۱\۲۶) كتاب الوضوء. باب وضع الماء عند الخلاء. رقم(۱۴۳)_

(۲) ايضاح البخارى(۵\۷۱)_

(۳) أنظر صحيح البخارى(۱\۲۲) كتاب العلم. باب السمر فى العلم. رقم(۱۱۷).. دلته دا شبه اونكړې شى چه په داسې كمره كښې چه هلته كښې د دوو سړو ښځو خاني هم مشكل سره ملاويږى د يو دريم انسان د كور د معاملاتو جائزه اخستلو دپاره د شپې په وخت قيام كول. څنګه صحيح كيدې شى؟ وجه دا ده چه په يو روايت كښې دا تصريح موجود ده. چه حضرت ميمونه رضى الله عنها په دې موده كښې په حالت د حيض كښې وه. فتح البارى(۲\۴۸۲) كتاب الوتر)_

عباس رضی الله عنه جواب ورکړو چه ((أو ينبغي لأحد أن يصلى حذاءك وأنت رسول الله ﷺ))؟(۱) آیا د یوکس دپاره دا مناسب ده.چه ستاسو یعنی د الله د رسول ﷺ په برابر کښې اودریږی.او مونځ اوکړی؟ په دې باندې نبی کریم ﷺ د علم او فهم د زیاتوالی دعا ورکړله.

حاصل دا چه د حدیث نه دا خبره ثابته شوه.چه د فهم او ذکاوت (هوښیارتوب) او محنت نه علاوه د بزرګانو دعاګانې هم دعلم د حصول دپاره ډیرې زیاتې ضروری دی.او ددې دعاګانو د حاصلولو ذریعه دا ده.چه د بزرګانو خدمت اوکړې شی.او دهغوی د ادب او احترام پوره لحاظ اوکړې شی.لکه څنګه چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د رسول اکرم ﷺ نه د ,,علم کتاب.، دعا حاصل کړله.او په صحابه کرامو کښې ئې علمی اعتبار سره یو امتیازی مقام حاصل کړو.په تفسیر د قرآن کښې خو د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مقام واضح دې. په فقه د دین کښې چه کوم مقام دوی ته ملاو شو.هغه هم د چا نه پټ نه دې.نن خاص طور باندې د فقه شافعی مدار د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په مرویاتو او اجتهاداتو باندې دې.

په حدیث باب او ترجمة الباب کښې انطباق بالکل واضح دې.والله اعلم.

۱۸- ((بَاب: مَتَى يَصِحُّ سَمَاعُ الصَّغِيرِ))

تیرشوی باب سره ربط او مناسبت: په تیرشوی باب کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په حق کښې د نبی کریم ﷺ دعا مذکور وه.دغه وخت حضرت ابن عباس رضی الله عنهما صبی ممیز (پوهه ماشوم) وو.او په دې باب کښې د سماع په سلسله کښې د هوښیار ماشوم حال مذکور دې.(۲) داسې هم وئیلې شی.چه په تیرشوی باب کښې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.او دعاګانې ئې حاصلې کړې.او د بالغ کیدو نه پس ئې دغه دعاګانې نقل کړلې.او د هغوی په نقل باندې پوره پوره اعتماد اوکړې شو.حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دغه وخت صغیر وو.په دې وجه ئې ددې نه فوراً پس د((مَتَى يَصِحُّ سَمَاعُ الصَّغِيرِ)) باب قائم کړو.(۳)

د ترجمة الباب مقصد: دټولو نه وړاندې دلته کښې په دې پوهه شئ:چه وړاندې تاسو وئیلی دی.چه یو تحمل د حدیث دې.او یو اداء د حدیث ده.تحمل د حدیث سماع ته وائی.او اداء د حدیث,روایت کولو اواسماع دحدیث ته وائی.دلته د ,,سماع.، نه هم دا ,,تحمل.، مراد دې.

علامه سندهی رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله دلته دوه جزئی واقعات ذکرکړی دی.ددې د مجموعی نه معلومیږی.چه د تحمل د صحت او سماع دپاره هیڅ حد معین نه دې.بلکه مطلق سن تمیز . تعقل سن صحت سماع، او تحمل دې.(۴)

---

(۱) مسند احمد(۱\۳۳۰)_

(۲) عمدة القاری(۲\۶۷، ۶۸)_

(۳) ایضاح البخاری(۵\۷۲، ۷۳)_

(۴) حاشیة السندی علی صحیح البخاری(۱\۴۶)_

د حضرت شيخ الهندﷺ هم دا رائې ده.(۱)
حضرت شاه ولی اللهﷺ هم دې ته نيزدې خبره کړې ده.هغه فرمائي.چه په دې کښې څو هيڅ اختلاف نشته.چه اداء حديث دپاره عاقل او بالغ کيدل ضروري دی.البته دتحمل دپاره بالغ کيدل ضروري نه دی.کوم صبی چه قريب البلوغ وی.او د خير او شر په مينځ کښې فرق کولې شی.د هغه تحمل صحيح دې.د مؤلف مقصد ددې اثبات دې.(۲)
د تحمل حديث په عمر کښې د علماو اختلاف او د هغوی دلائل اوس د حضرت شاه ولی اللهﷺ په حوالې سره دا خبره تيره شوه.چه د اداء حديث دپاره دعاقل او بالغ کيدو شرط متفق عليه دې.په دې کښې د هيڅ چا اختلاف نشته.البته بعضې حضرات د بلوغ نه وړاندې د تحمل حديث نه هم منع کوی.او وائی.چه د بالغ کيدو نه وړاندې دتحمل حديث هيڅ اعتبار نشته.(۳) خو د جمهورو په نيز د بلوغ نه وړاندې تحمل صحيح دې.(۴)
بيا ددې عمر په تحديد کښې اختلاف دې.کوم چه د سماع مقبول کيدو دپاره ضروری يا مستحب دې.بعض حضرات، خاص طور باندې اهل کوفه څو ددې خبرې قائل دی.چه د شلو کالو نه وړاندې سماع او تحمل حديث کول پکار نه دی.(۵) امام ابو عبدالله زبيری ﷺ دا عمر مستحب ګرځوی.(۶) موسی بن هارونﷺ فرمائي.«أهل البصرة يكتبون لعشر سنين، وأهل الكوفة لعشرين، وأهل الشام لثلاثين»(۷) امام يحي بن معينﷺ فرمائي.چه عمر د تحمل حديث پنځلس کاله دې.(۸) امام يزيد بن هارونﷺ ديارلس کاله حد خودلې دې.(۹)
موسی بن هارون حمالﷺ فرمائي.چه کله ماشوم په غوا او نورو خاروو کښې فرق اوکړې شی.نو دا عمر د تحمل دې.(۱۰) قاضی عياضﷺ فرمائي.«قد حدّد أهل الصنعة فى ذالك أن أقله سنّ محمود بن الربيع»(۱۱)او د بخاری په روايت کښې دده پنځه کاله کيدل مذکور دی.نو ګويا عمر د تحمل پنځه کاله دی.

---

(۱) الأبواب والتراجم(ص۴۹)_
(۲) شرح تراجم أبواب البخاری(ص۱۵)_
(۳) وعليه ابو منصور محمد بن المنذر بن محمد المراکشی الفقيه الشافعی. انظر فتح المغيث للسخاوی(۱۳۴/۲)_
(۴) انظر علوم الحديث لابن الصلاح(ص۱۲۸) النوع الرابع والعشرون. معرفة كيفية سماع الحديث وتحمله وصفة ضبطه.)_
(۵) علوم الحديث(ص۱۲۸، ۱۲۹)_
(۶) علوم الحديث(۱۲۸) وفتح المغيث للسخاوی(۱۳۷/۲) والكفاية(ص۵۵)_
(۷) الكفاية(ص۵۵)_
(۸) الكفاية(ص۶۳)_
(۹) المصدر السابق)_
(۱۰) الكفاية(ص۶۵)_
(۱۱) الإلماع(ص۵۸)_

حافظ ابن الصلاح رحمه الله فرمائي: «التحديد بخمس هو الذى استقر عليه عمل أهل الحديث المتأخرين»[1] او هم دوى فرمائي چه كوم ماشوم د پنځو كالو يا ددې نه زيات وى.نو هغه دپاره د ..سمع.. لفظ استعماليږى.او كوم چه ددې نه وړوكې وى.هغه دپاره د ..سمع.. لفظ نه استعماليږى.بلكه د ..حضر..يا د ..احضر.. لفظ استعماليږى.([2])

حافظ ابن الصلاح رحمه الله فرمائي.چه د تحديد كولو په ځائې دا اوكتلې شى.چه دا ماشوم خطاب باندې پوهيږى.او جواب وركولې شى.نوكوم ماشوم چه هغه د پنځو كالو هم نه وى.خو د خطاب او جواب صلاحيت لرى.نو د هغه سماع صحيح ده.او دا عين ممكن ده.چه يوكس د پنځو كالونه زيات وى.خو د خطاب او جواب اهليت نه لرى.نو د داسې كس د سماع اعتبار نشته.([3]) دا امام احمد بن حنبل رحمه الله په ..عقل او ضبط.. سره تعبير كړې دې. چه كوم ماشوم هوښيار شى.او د ضبط (حفظ) صلاحيت لرى.د هغه سماع صحيح ده.([4])

جمهور چه د بلوغ قيد نه لګوې.او نه د يو عمر تحديد كوى.د هغوى دليل هغه روايات دى.كوم چه د صغار صحابه مثلاً حضرات حسنين، عبدالله بن جعفر بن ابى طالب، عبدالله بن الزبير، عبدالله بن عباس، نعمان بن بشير، سائب بن يزيد، مسور بن مخرمه، انس بن مالك، مسلمه بن مخلد، عمر بن ابى سلمه، يوسف بن عبدالله بن سلام، ابو الطفيل او حضرت عائشه رضي الله عنها وغيره نه نقل دى.محدثينو ددوى په رواياتو كښې دا تفريق چرته هم نه دې كړې.چه دا روايات د بلوغ نه وړاندې دى.او دا روايات د بلوغ نه د روستو دى.([5])

امام ابن معين رحمه الله چه د پنځلسو كالو كوم تحديد كړې دې.د هغوى استدلال د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د واقعې نه دې.چه نبى كريم ﷺ هغوى لره په غزوۀ بدر كښې د شركت نه منع كړې وو.او بيا كله چه د غزوۀ احد موقعه راغله.نو په هغې كښې ئې د شركت اجازت وركړې وو.څكه چه دغه وخت هغه د پنځلسو كالو شوې وو.([6])

خو امام احمد رحمه الله فرمائي.چه د پنځلسو كالو قيد قتال دپاره خو بالكل صحيح دې.څكه چه په دې كښې د جسمانى قوت، او دجنګى مهارت ضرورت وى.او په تحمل د حديث كښې خو د عقل او ضبط ضرورت وى.كه په يوكس كښې عقل او ضبط موجود وى.نو هغه دپاره د سماع حديث اجازت دې.او دهغه سماع معتبر ده.([7])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه ابن معين رحمه الله كوم د پنځلسو كالو تحديد كړې دې.په هغې

---

[1] علوم الحديث(ص ۱۳۰)_

[2] المصدر السابق)_

[3] أنظر علوم الحديث لابن الصلاح(ص ۱۳۰)_

[4] الكفاية(ص ۶۳)_

[5] فتح المغيث للسخاوى(۲\۱۳۵، ۱۳۶)_

[6] فتح البارى(۱\۱۷۱) والكفاية(ص ۶۲)_

[7] فتح البارى((۱\۱۷۱) والكفاية(ص ۶۳)_

كښې دوه احتماله كيدې شي:

① يو دا چه هغه د پنځلسو كالو عمر د ابتداء طلب دپاره مناسب خيال كوی.چه په پنځلسو كالو كښې بچی ته طلب د حديثو كول پكار دې.دا معنی صحيح كيدې شی.

② دويم احتمال هغه دې.كوم چه متبادر(او ښكاره) دې.چه هغه د پنځلسو كالو عمر لازمی گرځوی.او وائی.چه كوم ماشوم د پنځلسو كالو نه وړاندې كوم يو حديث واوريدو.او هغه ئې ياد كړو.د هغې اعتبار نشته.نو دا معنی قابل قبول نه ده.([1])

حافظ رحمه الله فرمائی.چه ابن عبدالبر رحمه الله په دې خبره باندې د اهل علمو اتفاق نقل كړې دې.چه په ماشوم والی كښې اوريدلې شوې روايت،كه روستو اداكړې شی.نو هغه مقبول دې.په دې وجه د ابن معين رحمه الله د قول روميئ معنی دلته مراد ده.دويمه معنی مراد نه ده.([2])
والله اعلم.

حديث باب

۷۶-((حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ ([3]) قَالَ أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى حِمَارٍ أَتَانٍ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ الِاحْتِلَامَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِمِنًى إِلَى غَيْرِ جِدَارٍ فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ وَأَرْسَلْتُ الْأَتَانَ تَرْتَعُ فَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ فَلَمْ يُنْكَرْ ذَلِكَ عَلَيَّ))
[۳۷۱ ، ۸۲۳ ، ۱۷۵۷ ، ۴۱۵۰]

رجال الحديث

① اسماعيل بن ابی اويس رحمه الله: ددوی حالات په كتاب الايمان كښې د «باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال» لاندې تيرشوی دی.([4])

---

[1] فتح الباري(۱۷۱/۱)_

[2] المصدر السابق)_

[3] قوله:عن عبدالله بن عباس:الحديث أخرجه البخاري أيضاً في (۷۱/۱) كتاب الصلاة. فاتحة أبواب سترة المصلي. باب سترة الإمام سترة من خلفه. رقم(۴۹۳) و(۱۱۹/۱) كتاب الأذان. باب وضوء الصبيان. ومتى يجب عليهم الغسل والطهور. وحضورهم الجمعة والعيدين والجنائز وصفوفهم. رقم(۸۶۱) و(۲۵۰/۱) كتاب جزاء الصيد.باب حج الصبيان. رقم(۱۸۵۷) و(۶۳۳/۲) كتاب المغازي. باب حجة الوداع. رقم(۴۴۱۲) ومسلم في صحيحه. في كتاب الصلاة. باب سترة المصلي....رقم(۱۱۲۴-۱۱۲۷) والنسائي في سننه. في كتاب القبلة. باب ذكر ما يقطع الصلاة وما لا يقطع إذا لم يكن بين يدي المصلي سترة. رقم(۷۵۵) وأبوداؤد في سننه. في كتاب الصلاة. باب من قال: الحمار لايقطع الصلاة.رقم(۷۱۵-۷۱۷) والترمذي في جامعه. في كتاب الصلاة. باب ماجاء لايقطع الصلاة شئ.رقم(۳۳۷)و ابن ماجه في سننه. في كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها. باب ما يقطع الصلاة. رقم(۹۴۷)_

[4] كشف الباري(۱۱۳/۲)_

② مالك رحمه الله: دا مالك بن انس رحمه الله دي.ددوی حالات په کتاب الایمان کښې د «باب من الدين الفرار من الفتن» لاندې تیرشوی دی.([1])

③ ابن شهاب رحمه الله: دا امام محمد بن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب زهری رحمه الله دې.ددوی مختصر حالات د بدءالوحی د دریم حدیث لاندې تیر شوی دی.([2])

④ عبیدالله بن عبدالله بن عتبه رحمه الله: دا دمدینې منورې د فقهاء سبعه څخه مشهور فقیه عبیدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود هذلی مدنی رحمه الله دې.ابوعبدالله ددوی کنیت دې.([3])

دوی دحضرت عائشه، حضرت ابوهریره، فاطمه بنت قیس، ابو واقد لیثی، زید بن خالد جهنی، حضرت ابن عباس (چه دوی سره ئې اوږد صحبت اختیار کړې دې) حضرت عبدالله بن عمر، حضرت ابوسعید، حضرت نعمان بن بشیر، حضرت میمونه، حضرت ام سلمه رضي الله عنهم نه روایت کوی.

ددوی نه ددوی رور عون بن عبدالله بن عتبه، ضمره بن سعید مازنی، عراك بن مالك، موسی بن ابی عائشه، ابوالزناد، صالح بن کیسان، خصیف جزری، او سالم ابو النضر رحمهم الله وغیره روایت کوی.([4])

واقدی رحمه الله فرمائی.«....وكان ثقة فقيها كثير الحديث والعلم شاعرا»([5])

امام عجلی رحمه الله فرمائی.«....تابعي، ثقة، رجل صالح، جامع للعلم، وهو معلم عمر بن عبدالعزيز»([6])

امام ابو زرعه رحمه الله فرمائی.«ثقة مامون امام»([7])

ابن حبان رحمه الله دوی لره په ،،کتاب الثقات،، کښې ذکرکړې دې.او فرمائیلی ئې دی: «من سادات التابعين»([8])

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«....كان من بحور العلم»([9])

---

[1])کشف الباری(۲\۸۰)_
[2])کشف الباری(۱\۳۲۶)_
[3])تهذیب الکمال(۱۹\۷۳) وسیر أعلام النبلاء(۴\۴۷۵)_
[4]) دشیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال(۱۹\۷۳، ۷۴) وسیر أعلام النبلاء(۴\۴۷۵، ۴۷۶)
[5])الطبقات لابن سعد(۵\۲۵۰)_
[6])تهذیب الکمال(۱۹\۷۵) وسیر أعلام النبلاء(۴\۴۷۶)_
[7])المصادر السابق)_
[8])الثقات لابن حبان((۵\۶۳)_
[9])الکاشف(۱\۶۸۲) رقم(۳۵۶۲)_

امام زهری رحمه الله فرمائی: «.... امام عبیدالله بن عبدالله، فكنت إذا لقيته أتفجر منه بحراً و كنت أظن أني قد علمت العلم، فلما جالسته رأيت أني كنت في شعاب من العلم»([1])

امام طبری رحمه الله فرمائی: «كان مقدماً في العلم والمعرفة بالأحكام و الحلال و الحرام وكان مع ذالك شاعراً مجيداً»([2])

ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی: «أحد الفقهاء العشرة ثم السبعة الذين تدور عليهم الفتوى، وكان عالماً فاضلاً مقدماً في الفقه، تقياً شاعراً محسناً لم يكن بعد الصحابة إلى يومنا فيما علمت فقيه أشعر منه ولا شاعر أفقه منه»([3]) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: «ثقة فقيه ثبت»([4])

يوه د عبرت واقعه اصحابو د سير ليکلی دی چه دوی ته به څنګه نور حضرات اهل علم و فضل، کسب د فيض دپاره حاضريدل. دغه شان به حضرت علی بن الحسين زين العابدين رحمه الله هم راتلو. هغه به کيناستلو. او عبيدالله بن عبدالله به په مانځه کښې مشغوليدو. او ددوی عادت وو چه کله به په مانځه کښې مشغول شو نو بيا به نې هيڅ چا طرف ته توجه نه کوله. يو کس دوی ته اووئيل: «يأتيك ابن بنت رسول الله ﷺ فتحبسه هذا الحبس؟» نو دوی اوفرمائيل: «اللهم غفراً، لابد لمن طلب هذا الشأن أن يعنى» يعنی الله ﷻ دې ما معاف کړی. خو حقيقت دا دې چه څوك هم علم پسې اوڵګی. هغه په مشقت کښې ضرور پريوځی.([5])

ددوی وفات په ۹۴هـ يا ۹۵هـ يا ۹۸هـ يا ۹۹هـ کښې اوشو.([6])، رحمه الله تعالى رحمة واسعة_

⑤ **عبدالله بن عباس رضی الله عنهما**: د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما حالات د بدء الوحی د څلورم حديث لاندې([7]) او په کتاب الايمان کښې د «باب كفران العشير وكفر دون كفر» لاندې تيرشوی دی.([8])

قوله: قَالَ أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى حِمَارٍ أَتَانٍ: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه زه په يوې خرې باندې سور راغلم.

---

[1] تعليقات تهذيب الكمال(۱۹\۷۶) نقلاً عن تاريخ أبي زرعة الدمشقي(۵۲۱)_
[2] تهذيب التهذيب(۷\۲٤)_
[3] المصدر السابق)_
[4] تقريب التهذيب(ص۳۷۲) رقم(٤۳۰۹)_
[5] سير أعلام النبلاء(٤\۳۸۸) ترجمة علي بن الحسن زين العابدين. و(٤\٤۷۸)ترجمة عبيدالله بن عبدالله بن عتبة بن مسعود.)_
[6] تهذيب الكمال(۱۹\۷۶)_
[7] كشف الباري(۱\٤۳۵)_
[8] كشف الباري(۲\۲۰۵)_

د ،،حمار اتان،، تحقیق د ،،حمار،، اطلاق په جنس باندې کیږی.که مذکر وی اوکه مؤنث وی (۱) د ،،أتان،، اطلاق ،،أنثی الحمار،، باندې کیږی.(۲) ،،حمار أتان،، دواړه مجرد دی.،،أتان،، یاخو ،،حمار،، نه بدل دې.یا ددې صفت دې.(۳)

بعضو حضراتو دا اضافت سره هم ونیلې دې.(۴) خو په دې باندې اشکال دا دې.چه په دې کښې ،،إضافة الشیٔ إلی نفسه،، راځی؟ ددې جواب دا کیدې شی.چه دا د کوفینود مسلک مطابق دې.چه هغوی دا وائی.چه صرف د لفظ د اختلاف په صورت کښې هم اضافت صحیح دې.اګرکه دواړه په یوه معنی کښې وی.(۵)

د ،،حمار،، نه پس ،،اتان،، راوړلو سره ئې دا اوښودل.چه دا حمار د ،،انثی،، دجنس خنې دې ،،حمارة،، بالتاء ئې اونه ونیل.علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه ،،حمارة،، ئې ځکه اونه ونیل.چه کیدې شی.چه څوك احتمال پیدا کړی.او خیال اوکړی.چه دا تاء د وحدت ده.(۶)

خو علامه برماوی رحمه الله دا ردکړې دې.او ونیلی ئې دی.چه ،،حمار،، هغه اسم جنس نه دې.دکوم په واحد او جمع کښې چه د تاء په وجود او عدم وجود سره فرق کولې شی.بلکه ،،حمار،، اسم مفرد دې.(۷)

صحیح خبره دا ده.کومه چه علامه عینی رحمه الله ذکرکړې ده.چه په اصل کښې د ،،حمارة،، اطلاق لکه څنګه چه د ،،انثی،، اتان دپاره کیږی.دغه شان د ،،فرس هجین،،(۸) دپاره هم کیږی.نو د ،،حمارة،، ونیلو په صورت کښې دا احتمال هم پیدا کیدو.چه دا ،،فرس هجین،، وی.حالانکه دا ،،اتان،، یعنی د انثی د قبیل نه ،،حمار،، دې.(۹) بیا دا خبره هم ده.چه د ،،حمار،، اطلاق د ،،انثی الحمار،، دپاره شاذ هم دې.(۱۰)

نکته ابن الاثیر جزری رحمه الله فرمائی.چه دلته د ،،حمار،، نه پس ،،اتان،، راوړلې شوې دې.

---

(۱) عمدة القاری(۲\۶۹)_

(۲) مختارالصحاح(ص ٤) وعمدة القاری(۲\۶۹)_

(۳) عمدة القاری(۲\۶۹) وفتح الباری(۱\۱۷۱)_

(۴) فتح الباری((۱\۱۷۱) وعمدة القاری(۲\۶۹)_

(۵) وشرط الکوفیة فی الجواز اختلاف اللفظ فقط من غیر تاویل.... انظر جمع الجوامع وشرحه همع الهوامع (۲\٤۹) وانظر ایضاً الأشمعونی مع حاشیته للصبیان(۲\۲۵۰)_

(۶) شرح الکرمانی(۲\۵۰)_

(۷) شرح القسطلانی(۱\۱۷۵)_

(۸) الهجین من الخیل: ما تلده برذونة من حصان عربی (یعنی مور ئې د عجمی نسل اسپه وی.او پلار ئې عربی النسل وی) انظر المعجم الوسیط(۲\۹۷۵)_

(۹) عمدة القاری(۲\۶۹)_

(۱۰) ذکره الجوهری.انظر فتح الباری(۱\۱۷۱) وعمدة القاری(۲\۶۹)_

ددي نه دا خبره معلوميږي.چه د انثى حمار مرور قاطع د صلاة نه دي.او هركله چه د ..حمير انثى..مرور قاطع نه دي.نو انسان چه اشرف او اكمل دي.دده د انثى مرور به څنګه قاطع د صلاة كيدي شي؟(١)
ابن الاثير جزري رحمه الله دا خبره د يوې نكتې حيثيت خو لري.خو د نورو رواياتو معارض ده.
بېكاره ده.چه د رواياتو معارض دپاره قياس كافى نه دي.(٢) بلكه ددي دپاره خو روايات
پكاردى.كله چه روايت موجود وى.نو دهغې په تائيد كښې قياس پيش كولې شي.والله اعلم

قوله وَأَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ الِاحْتِلَامَ: په دغه ورځو كښې زه بلوغ ته نيزدې ووم.

د نبى كريم ﷺ د وفات په وخت د ابن عباس رضي الله عنهما عمر د نبى كريم ﷺ د وفات په وخت د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څومره عمر وو؟ په دې كښې اختلاف دې.د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه يو روايت منقول دې.په هغې كښې دوى فرمائى.((توفي النبى ﷺ وأنا ابن عشر سنين))(٣)دغه شان ددوى نه منقول دى.((جمعت المحكم في عهد رسول الله وقبض وأنا ابن عشر حجج))(٤) او هم ددوى منقول په يو بل روايت كښې دى.((توفي رسول الله ﷺ وأنا ابن خمس عشرة سنة، وأنا ختين))(٥)
او واقد او زبير بن بكار رحمهما الله فرمائى.چه د نبى كريم ﷺ د وفات په وخت د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما عمر ديارلس كاله وو.ددې وجه دا ده.چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د هجرت نه درې كاله وړاندې په شعب ابى طالب كښې پيدا شوې وو.كوم وخت چه بنوهاشم سره قريشو مقاطعه كړې وه.دهجرت لس كاله اوددې نه وړاندې درې كاله، دا ټول ديارلس كاله شو.(٦)
دغه شان مصعب الزبيرى رحمه الله په نيز حضرت ابن عباس دغه وخت د څوارلسو كالو وو هم په دې باندې امام شافعى رحمه الله جزم كړې دې.(٧) ديوقول مطابق دوى د شپاړسو كالو وو.(٨)
د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما يو روايت د ابو العاليه په طريق سره بيهقى نقل كړې دې.چه په هغې كښې دوى فرمائى.((قرأت المحكم على عهد رسول الله ﷺ وأنا ابن ثنتى عشرة))(٩)
دغه شان دا ټول شپږ اقواله جوړيږى.① لس كاله، ② دولس كاله ③ ديارلس كاله، ④ څوارلس كاله، ⑤ پنځلس كاله، ⑥ شپاړس كاله.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه په دې

---

١) النهاية لابن الأثير (٢١\١) مادة أتن.)_
٢)فتح البارى ((١٧١\١)_
٣)مسند احمد(١\٢٥٣، ٢٨٧)_
٤)مسند احمد(١\٣٣٧)_
٥)مسند ابى داؤد الطيالسى(ص٣٤٣) رقم(٢٦٤٠)_
٦)سير أعلام النبلاء(٣\٣٣٥، ٣٣٦)_
٧)فتح البارى(٩\٨٤) كتاب فضائل القرآن. باب تعليم الصبيان القرآن.)_
٨)المصدر السابق)_
٩)المصدر السابق)_

کښې د شپارسو او دولسو کالو روایات سنداً ثابت نه دی.په باقی اقوالو کښې تطبیق کیدې شی.(١)

راجح قول خلاصه دا چه د اکثرو اهل سیر او محققینو په نیز ددوی عمر د نبی کریم ﷺ د وفات په وخت دیارلس کاله وو.والله اعلم.

قوله وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِمِنًى إِلَى غَيْرِ جِدَارٍ: رسول الله ﷺ په منی کښې بغیر د آړ (سترې) نه مونځ کولو.
دا د حجة الوداع واقعه ده.(٢)

د ،،الی غیر جدار،، **مطلب** د امام شافعی او دنورو ډیرو عالمانو رائې دا ده.چه د ،،**الی غیر جدار**،، معنی ،،**الی غیر سترة**،، ده.یعنی د هغوی مخې ته هیڅ ستره نه وه.(٣) ددې دوه قرینې دی:① عقلی قرینه، ② نقلی قرینه.

قرینه نقلیه دا ده.چه بزار رحمه الله یو روایت نقل کړې دې.په هغې کښې دی:،،**والنبی ﷺ یصلی المکتوبة لیس لشیء یستره**،،(٤) او عقلی قرینه دا ده.چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دا بنودل غواړی. چه ،،مرور بین یدی المصلی،، قاطع د مونځ نه دې.که هلته ستره وې.نو د ابن عباس رضی الله عنهما دا وینا ،،چه زه په حمار باندې سور د نبی کریم ﷺ په وړاندې تیر شوم،،دده مقصد ته به مفیده نه وه.ځکه چه دا ونیلې کیدې شو.چه هلته مونځ قطع کول ځکه موجود نشو.چه نبی کریم ﷺ سترې طرف ته مونځ کولو.او ،،مرور بین المصلی والسترة،، او نه موندې شو.
خو د امام بخاری، امام نووی او علامه عینی رحمهم الله رائې دا ده.چه د ،،الی غیرجدار،،معنی ،،**الی سترة غیر جدار**،، ده.یعنی هلته ستره وه.خو دا ستره ،،جدار،، نه وو.(٥) ځکه امام بخاری رحمه الله په دې حدیث باندې په ،،ابواب السترة المصلی،،کښې ترجمه منعقد کړې ده.،،**باب سترة الإمام سترة من خلفه**،،(٦)خو دلائلو ته په کتلوسره رومبۍ رائې راجح معلومیږی.والله اعلم.

---

١) فتح الباری(ج...ص ٨٤) كتاب فضائل القرآن. باب تعليم الصبيان القرآن. و(١١\٩٠) كتاب الإستئذان. باب الختان بعد الكبر ونتف الإبط.)_

٢) والحق أن ذالک كان في حجة الوداع. قاله الحافظ في فتح الباری(١\٥٧٢) كتاب الصلاة. ابواب سترة المصلى. باب سترة الإمام سترة من خلفه.)_

٣)ذكره البيهقي في السنن الكبرى(٢\٢٧٣، ٢٧٧) كتاب الصلاة. باب من صلى إلى غيرسترة. وباب الدليل على أن مرورالحمار بين يديه لايفسد الصلاة. وانظر فتح الباری(١\١٧١)_

٤)فتح الباری(١\١٧١)_

٥)امام نووی رحمه الله د حدیث باب د فوائدو لاندې لیکی: وفی هذا الحديث: أن صلاة الصبي صحيحة. وأن سترة الإمام سترة لمن خلفه...شرح النووی على صحيح مسلم(١\١٩٦) كتاب الصلاة. باب سترة المصلى. وانظر عمدة القاری(٤\٢٧٦) كتاب الصلاة. أبواب سترة المصلى. باب سترة الإمام سترة من خلفه.)

٦)(ج١\١٧١)_

قوله فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ: زه د يو صف په وړاندې تير شوم.
دلته ابهام دې او د كتاب الحج په روايت كښې د ،،صف اول،، تصريح موجود ده.(۱)

قوله وَأَرْسَلْتُ الْأَتَانَ تَرْتَعُ فَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ فَلَمْ يُنْكَرْ ذَلِكَ عَلَيَّ: ما خره د څرلو دپاره پريخودله او پخپله صف كښې داخل شوم.ما باندې ددې عمل په وجه چا نكير اونكړو.
حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه زه په حالت د سوريدو كښې د صف په وړاندې تيرشوم. يو طرف ته كوز شوم او په صف كښې شامل شوم.او سورلۍ مې پريخودله.چه څرن اوكړي. (گيا اوخري) چا په دې سلسله كښې ما باندې نكير اونكړو.نه د مونځ په حالت كښې او نه د مانځه نه پس، نه په اشارې سره او په صريح كلام سره، معلومه شوه.چه د مونځ گزار مخې ته د خرې په تيريدو مونځ نه فاسديږي.او هركله چه خرې سره نه فاسديږي.نو د ښځې په تيريدو به په درجه اولى نه فاسديږي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما استدلال: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما پخپل مقصد باندې د نكير نه كولو نه استدلال كړې دې.خو په دې باندې اشكال كيدې شي.چه خلق چونكه په مانځه كښې مشغول وو.په دې وجه ئې نكيراونكړې شو.نود عدم نكير نه څنگه استدلال كيدې شي؟
ددې جواب ① دا دې.چه دلته حضرت ابن عباس رضي الله عنهما مطلقاً د نكير نفى كوى.كه په مانځه كښې وي.اوكه روستو د مانځه نه وي.كه د مانځه نه روستو نكير موجود شوې وې.نو هغه مطلقاً نفى ولې فرمائيله.
② او په مانځه كښې نكير بالقول مشكل دى.خكه چه خبره كول جائز نه دى.خو په اشارې سره خو نكير ممكن وو.هركله چه د مطلق نكير نفى ده.نو معلومه شوه.چه په هيڅ شان هم نكير نه دې موجود شوې.(۲)

ترجمة الباب سره انطباق: وړاندې ذكر شوى دى.چه ددې باب قائمولو مقصد دا ښودل دى.چه دصحت تحمل او سماع دپاره هيڅ حد معين نه دې.بلكه په هوښيارتيا او پوهې باندې موقوف دې.چه كه ماشوم سن تميز(د هوښيار توب عمر) او تعقل ته اورسيږي.نو د هغه تحمل صحيح دې.
حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دلته د خپل بلوغ نه وړاندې واقعه كومه چه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم حال سره متعلق ده. نقل كړې ده.د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د نبى كريم صلى الله عليه وسلم فعل او حال نقل كول داسې دى.لكه قول نقل كول. لكه څنگه چه د قول نقل كول معتبر دى.دغه شان د فعل او حال نقل كول هم معتبر دى.خكه چه په دريو واړو څيزونو كښې هيڅ فرق نشته.(۳)

---

۱) ....حتى سرت بين يدى بعض الصف الأول. صحيح البخارى(۱/۲۵۰) كتاب جزاء الصيد، باب حج الصبيان. رقم(۱۸۵۷)_
۲) فتح البارى(۱/۱۷۲)_
۳) فتح البارى(۱/۱۷۲)_

بهرحال د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د كم عمره كيدو باوجود ددوى روايت واخستلې شو.او ددې نه د مسائلو استخراج اوكړې شو.نو ترجمه ثابته شوه.كه ماشوم هوښيار او عقلمند وى.او هغه د بلوغ نه وړاندې اوريدلې شوې خبره د بلوغ نه پس بيان كړى.نو د هغې اعتبار به كولې شى.(۱) والله اعلم.

حديث باب

۷۷-((حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ قَالَ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنِي الزُّبَيْدِيُّ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ(۲) قَالَ عَقَلْتُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَجَّةً مَجَّهَا فِي وَجْهِي وَأَنَا ابْنُ خَمْسِ سِنِينَ مِنْ دَلْوٍ))[۱۸٦، ۵۹۹۳]

رجال الحديث

① محمد بن يوسف رحمه الله: دا ابو احمد محمد بن يوسف بيكندى بخارى رحمه الله دې.(۳) محمد بن يوسف فريابى مراد نه دې.ځكه چه دلته د محمد بن يوسف شيخ ابو مسهر دې.حالانكه ابومسهرد بيكندى د شيوخو ځنې دې.د فريابى په شيوخو كښې نه دې.(۴)

دوى دامام احمد بن حنبل، ابو اسامه حماد بن اسامه، حيوة بن شريح، سفيان بن عيينه، ابو جعفر عبدالله بن محمد نفيلى، ابو مسهر عبدالاعلى بن مسهر، عثمان بن ابى شيبه، نضر بن شميل، او كيع بن جراح رحمهم الله نه حديثونه روايت كړى دى.ددوى نه امام بخارى، احمد بن سيار مروزى، حريث بن عبدالرحمن بخارى، او عبيدالله بن واصل بخارى رحمهم الله روايت كړې دې.(۵)

حافظ خليلى رحمه الله فرمائى.((ثقة متفق عليه))(۶)

---

(۱) ايضاح البخارى(۵\۷۴)_

(۲) قوله:عن محمود بن الربيع..الحديث أخرجه البخارى ايضاً فى(۱\۳۱)كتاب الوضوء باب استعمال فضل وضوء الناس، رقم(۱۸۹) وفى(۱\۱۱۶)كتاب الأذان، باب من لم يرد السلام على الإمام، و اكتفى بتسليم الصلاة، رقم(۸۳۹) وفى(۱\۱۵۸)كتاب التهجد، باب صلاة النوافل جماعة، رقم(۱۱۸۵) وفى(۲\۹۴۰)كتاب الدعوات، باب الدعاء للصبيان بالبركة ومسح رؤوسهم، رقم(۶۳۵۴) وفى(۲\۹۵۰)كتاب الرقاق، باب العمل الذى يبتغى به وجه الله، رقم(۶۴۲۲)، ومسلم فى صحيحه فى كتاب المساجد، باب الرخصة فى التخلف عن الجماعة لعذر، رقم(۱۴۹۸)، وابن ماجة فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب المج فى الإناء، رقم(۶۶۰) وفى كتاب المساجد والجماعات، باب المساجد فى الدور، رقم(۷۵۴)_

(۳) تهذيب الكمال(۲۷\۶۳، ۶۴)_

(۴) جزم بذالک البيهقى وغيره، فتح البارى(۱\۱۷۲) وعمدة القارى(۲\۷۱)_

(۵) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(۲۷\۶۴)_

(۶) تهذيب التهذيب(۹\۵۳۸)_

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ((ثقة))(١)

صاحب د خلاصة الخزرجی فرمائی: ،،موثق،،(٢)

په کتب د رجالو کښې ددوی حالات ډیر کم دی.،، رحمه الله تعالی رحمة واسعة،،_

③ ابومسهر رحمه الله: دا د اهل شام شيخ امام ابومسهر عبدالاعلی بن مسهر بن عبدالاعلی بن مسهر غسانی دمشقی رحمه الله دې.(٣)

دوی د سعید بن عبدالعزیز، عبدالله بن العلاء، سعید بن بشر، معاویه بن سلام، مالك بن انس، اسماعیل بن عیاش، محمد بن مهاجر، او سفیان بن عیینه رحمهم الله نه روایت دحدیثو کړې دې.

ددوی نه په روایت کونکو کښې مروان بن محمد طاطری، یحي بن معین، احمد بن حنبل، محمد بن عائذ، عبدالرحمن بن ابراهیم دُحیم، احمد بن آبی الحواری، محمد بن یحي ذهلی، امام بخاری، ابو حاتم رازي او

ابراهیم بن دیزیل رحمهم الله وغیره دی.(٤)

خلیفه مامون الرشید دوی د ،،خلق قرآن،، په سلسله کښې بغداد ته راوغوښتلو او جلاد ته ئې حواله هم کړو.خو ددوی د استقامت په قدم کښې لغزش(اوړچ)رانغې.خلیفه دوی لره قتل خو نکړو.خو په جیل کښې ئې محبوس (قید) کړو.تردې چه په جیل کښې ددوی وفات اوشو.(٥)

امام احمد بن حنبل رحمه الله به ددوی ډیر تعریف کولو.او فرمائیل به یې: ((رحم الله أبا مسهر، ما كان أثبته!))(٦)

ددوی استاذ سعید بن عبدالعزیز رحمه الله فرمائی:((ما شبهتك فی الحفظ إلا بجدك أبي ذرامة، ماكان يسمع شيئاً إلا حفظه))(٧)

د امام ابو داؤد رحمه الله په وړاندې چه کله یوکس د ابومسهر په باره کښې اووئیل:((كان متكبراًفي نفسه)) نو امام ابو داؤد اوفرمائیل.

---

(١)تقريب التهذيب(ص٥١٥) رقم(٦٤١٧)_

(٢)خلاصة تذهيب تهذيب الكمال(ص٣٦٥)_

(٣)تهذيب الكمال(٣٦٩\١٦)_

(٤) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال(٣٧٠\١٦- ٣٧٣) وسير أعلام النبلاء (٢٢٨\١٠، ٢٢٩)_

(٥)طبقات ابن سعد(٤٧٣\٧)_

(٦)تهذيب الكمال(٣٧٣\١٦) وسير أعلام النبلاء(٢٣١\١٠)_

(٧)تهذيب الكمال(٣٧٤\١٦)وسير أعلام النبلاء(٢٣٢\١٠)_

«كان من ثقات الناس، رحم الله أبا مسهر، لقد كان من الإسلام بمكان....»(۱)

امام يحي بن معين، ابو حاتم، او عجلى رحمهم الله فرمائى ،،ثقة،،(۲)

حافظ خليلى رحمه الله فرمائى: «ثقة حافظ إمام متفق عليه»(۳)

امام حاكم رحمه الله فرمائى: «إمام ثقة»(۴)

ابن وضاح رحمه الله فرمائى: «كان ثقة فاضلاً»(۵)

ابن حبان رحمه الله فرمائى: «كان من الحفاظ المتقنين وأهل الورع فى الدين»(۶) او هم دوى فرمائى: «وكان إمام أهل الشام فى الحفظ والإتقان، ممن عنى بأنساب أهل بلده وأنبائهم، وإليه كان يرجع أهل الشام فى الجرح والتعديل لشيوخهم»(۷)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى: «ثقة فاضل»(۸)

په ۲۱۸ھ كښې وفات شوى وو.(۹) رحمه الله تعالى رحمةً واسعةً.

④ محمد بن حرب: دا ابوعبدالله بن حرب خولانى حمصى الابرش كاتب الزبيدى رحمه الله دى.(۱۰)

دوى محمدبن زياد الهانى بحيربن سعد، عمربن وربه، محمد بن الوليد الزبيدى، صفوان بن عمرو، امام اوزاعى، حفص بن سليمان، شعيب بن ابى حمزه، عبدالملك بن جريج، او عبيدالله بن عمرالعمرى رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.

د دوى نه روايت كونكو كښې ابومسهر، عبدالاعلى بن مسهر، محمدبن وهب بن عطيه، اسحاق بن راهويه، كثيربن عبيد، محمدبن مصفى، خالدبن خلى الكلاعى، حيوة بن شريح اوهشام بن عمار رحمهم الله وغيره حضرات دى.(۱۱)

---

(۱) تاريخ بغداد(۱۱\۷۵) وتهذيب الكمال(۱۶\۳۷۵)_

(۲) تهذيب الكمال(۱۶\۳۷۳)_

(۳) تهذيب التهذيب(۶\۱۰۱)_

(۴) المصدر السابق_

(۵) المصدر السابق_

(۶) قاله ابن حبان فى كتاب الضعفاء له فى ترجمة عمرو بن واقد، تهذيب التهذيب(۶\۱۰۱)_

(۷) الثقات لابن حبان(۸\۴۰۸)_

(۸) تقريب التهذيب (ص،۲۳۲) رقم ۳۷۳۸)_

(۹) الكاشف (۱\۶۱۱) رقم ۳۰۸۲)_

(۱۰) تهذيب الكمال(۲۵\۴۴)_

(۱۱) دشيوخو او شاگردانو دپاره اوگورئ، تهذيب الكمال(۲۵\۴۴و۴۶) وسير أعلام النبلاء(۹\۵۷و۵۸)_

امام احمد رحمه الله فرمائى.«ليس به بأس»(١)
امام يحيى بن معين،امام نسائى،امام عجلى،محمدبن عوف الطائى اوعثمان بن سعيد دارمى رحمهم الله فرمائى.«ثقة»(٢)
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.«صالح الحديث»(٣)
خُشنام بن صديق رحمه الله فرمائى.«وكان من خيار الناس»(٤)
ابن حبان رحمه الله دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.(٥)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.«ثقة»(٦)
په ١٩٣هـ كښې دوى وفات شوى وو(٧) رحمه الله رحمة واسعة.

⑨ الزبيدي: دوى قاضى ابوالهذيل محمدبن الوليد بن عامر الزبيدى الحمصى رحمه الله دى.(٨)
دوى د نافع مولى ابن عمر،مكحول،عمروبن شعيب،امام زهرى،سعيد مقبرى،عبدالرحمن بن القاسم او سعدبن ابراهيم رحمهم الله وغيره نه دحديثو رويت كړې دې.
د دوى نه چه چا روايت كړې دې.په هغو كښې امام اوزاعى،شعيب بن ابى حمزه،فرج بن فضاله،بقية بن الوليد،محمدبن حرب،عبدالله بن سالم او عتبه به حماد رحمهم الله وغيره حضرات دى.(٩)
امام يحي بن معين رحمه الله د دوى توثيق كړې دې.اودزهرى رحمه الله په احاديثوكښې ئې دوى ته سفيان بن عيينه په مقابله كښې ترجيح وركړې ده.(١٠)
امام اوزاعى رحمه الله دوى د زهرى رحمه الله په ټولوشاګردانوكښې فائق ګرځولې دې.(١١)
امام ابوزرعه،اما عجلى،اوامام نسائى رحمهم الله فرمائى.«ثقة»(١٢)

---

(١)تهذيب الكمال(٢٥\٤٦)-
(٢)تاريخ عثمان بن سعيدالدارمى(ص.٨٠) رقم ٩١و٩٢) وتهذيب الكمال(٢٥\٤٦)_
(٣)تهذيب الكمال(٢٥\٤٧)_
(٤)المصدرالسابق)_
(٥)الثقات لابن حبان(٩\٥٠)_
(٦)تقريب التهذيب(٤٧٣) رقم ٥٨٠٥)_
(٧)الكاشف(٢\١٦٣) رقم ٤٧٨٦)_
(٨)تهذيب الكمال(٢٦\٥٨٦و ٥٨٧)_
(٩)ددوى د شيوخواوتلامزو دپاره اوګورئ (٢٦\٥٨٧و ٥٨٨) وسير أعلام النبلاء(٦\٢٨١)_
(١٠)تهذيب الكمال(٢٦\٥٨٨) وسير أعلام النبلاء(٦\٢٨١)_
(١١)تهذيب الكمال(٢٦\٥٨٩) وسير أعلام النبلاء(٦\٢٨١)_
(١٢)تهذيب الكمال(٢٦\٥٨٩) وسير أعلام النبلاء(٦\٢٨٢)_

امام علی بن مدینی رحمه الله فرمائی: «ثقة ثبت»(۱)

دُحیم رحمه الله فرمائی: «شعیب بن أبی حمزة ثقة ثبت یشبه حدیثه حدیث عقیل والزبیدی فوقه»(۲)

ابن سعد رحمه الله فرمائی: «وکان ثقة إن شاء الله وکان أعلم أهل الشام بالفتوی والحدیث..»(۳)

ابن حبان رحمه الله فرمائی: «وکان من الحفاظ المتقنین والفقهاء فی الدین أقام مع الزهری عشر سنین حتی احتوی أکثر علمه وهو من الطبقة الأولی من أصحاب الزهری»(۴)

محمد بن عوف رحمه الله فرمائی: «الزبیدی من ثقات المسلمین وإذا جاءك الزبیدی عن الزهری فاستمسك به»(۵) امام ابوداود رحمه الله فرمائی: «لیس فی حدیثه خطأ»(۶)

امام احمد رحمه الله فرمائی: «کان لا یأخذ إلا عن الثقات»(۷)

امام خلیلی رحمه الله فرمائی: «ثقة حجة إذا کان الراوی عنه ثقة»(۸)

امام ذهبی رحمه الله فرمائی: «ثبت»(۹)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: «ثقة ثبت»(۱۰)

په کال ۱۴۹ هـ کښې دوی وفات شوی وو(۱۱)

⑤ الزهري: دوی ابوبکر مسلم بن عبیدبن عبدالله بن شهاب زهری رحمه الله دی ددوی مختصر حالات په بدء الوحی کښې د دریم نمبر حدیث لاندې تیرشوی دی.(۱۲)

⑥ محمودبن الربیع رضی الله عنه: دوی حضرت محمود بن الربیع بن سراقه بن عمرو خزرجی انصاری رضی الله عنه دی. ددوی کنیت ابونعیم اوابومحمد خودلې شوې دې. راجح دا دہ چه ددوی

---

(۱) المصادر السابقة)_
(۲) تهذیب الکمال(۲۶\۵۹۰)_
(۳) الطبقات لابن سعد(۷\۴۶۵)-
(۴) الثقات لابن حبان (۷\۳۷۳)_
(۵) تهذیب الکمال(۲۶\۵۹۰)_
(۶) المصدر السابق)_
(۷) تهذیب التهذیب(۹\۵۰۳)_
(۸) المصدر السابق)_
(۹) الکاشف (۲\۲۲۸) رقم ۵۱۹۹)_
(۱۰) تقریب التهذیب(ص.۵۱۱) رقم ۶۳۷۲)_
(۱۱) الکاشف(۲\۲۲۸) رقم (۵۱۹۹)_
(۱۲) کشف الباری(۱\۳۲۶)_

كنيت ابومحمد دې.اوابونعيم د محمودبن لبيد كنيت دې.(١)
بعضې حضراتودوى په بنوعبدالاشهل كښې ګرځولى دى.(٢) خودا صحيح نه ده.ځكه چه دعبدالاشهل تعلق دقبيله اوس سره وو.اودې خزرجى دې.(٣)
دوى دنبى ﷺ په زمانه كښې ډير ماشوم وو.په كوم كال چه نبى ﷺ وفات شوې وو.نوهغه وخت دوى د پنځوكالو وو.(٤)
په مدينه منوره كښې اوسيدل.اود بيت المقدس سفر ئې كړې وو.دوى دحضرت عباده بن صامت رضي الله عنه خوم وو.(٥)
دوى مداعبة يا تبركاً ددوى په مخ باندې دخولې نه اوبه چړكاو كړې.دا خبره به هغوى په حديث مبارك كښې بيانوله.

چونكه دوى صغيرالسن وو.ځكه ددوى اكثرروايات د صحابه كرامو رضي الله عنهم نه دى.(٦)
دوى د نبى ﷺ نه علاوه دحضرت عباده بن صامت،حضرت عتبان بن مالك او حضرت ابوايوب انصارى رضي الله عنهم نه هم روايت كوى.
د دوى نه حضرت انس بن رضي الله عنه ابوبكربن انس بن مالك،رجاء بن حيوة ،ابن شهاب زهرى .مكحول شامى،او هانى بن كلثوم رحمهم الله روايت كړې دې.(٧)
په كال ۹۹ھ كښې وفات شوى وو.(٨) رضى الله عنه وأرضاه.

قوله: قال عقلت من النبى ﷺ مجة مجها فى وجهى وأنا ابن خمس سنين من دلو: حضرت محمودبن ربيع رحمه الله فرمائى.چه ماته د نبى ﷺ هغه د خولې اوبه يادې دې.كومې چه نبى ﷺ ديوډول نه راخستې وې.اوزما په مخ ئې راشيندلې وې .په هغه وخت كښې زه د پنځو كالو ووم.

«مجة» خوله كښې اوبه اچول،

اهل لغت فرمائى.چه «المج:إرسال الماء من الفم مع نفخ»(٩)

---

(١)الإصابة(٣٨٦\٣)_
(٢)قاله ابن عبدالبر رحمه الله فى الإستيعاب (بهامش الإصابة (٤٢١\٣)_
(٣)الإصابة(٣٨٦\٣)_
(٤)أخرجه الطبرانى من طريق محمود بن الربيع قال توفى النبى ﷺ وأنا إبن خمس سنين أنظر الإصابة (٣٨٦\٣)
(٥)تهذيب الكمال(٣٠١\٢٧)_
(٦)تقريب التهذيب(ص،٥٢٢) رقم (٦٥١٢)_
(٧) د دوى دشيوخو اوتلامذو دپاره اوګورئ تهذيب الكمال(٣٠١\٢٧)_
(٨) الكاشف(٢٤٦\٢) رقم ٥٣٢٠)_
(٩)عمدة القارى(٧٢\٢)_

بعضې حضرات فرمائي چه د ((مج)) دپاره ((إرسال الماء من بعيد)) شرط دې.[1]

په دې جمله كښې ((لى وجهى)) د ((مجة)) نه حال دې.((أى ملقت مجة مجهاحال كونهالى وجهى))[2]

نبى كريم ﷺ د محمود بن ربيع رضي الله عنه په مخ باندې دخولې نه اوبه يا خود تبريك دپاره پرش كړې وې خكه چه نبى ﷺ به د صحابو رضي الله عنهم بچوسره تبريك كولو اودبركت په غرض به ئې دهغوى په مخونو باندې لاس رابنكل.اوكله به ئې تحنيك كولو.(يعنى په خوله كښې به ئې قجوره پسته كړه.اوبيا به ئې هغ ماشوم ته په خوله كښې وركړه) اويا نبى ﷺ د دوى په مخ باندې دخولې خوبه د لوبو په طورباندې شيندلې وې.يعنى دلوبواوټوقوپه غرض نبى ﷺ دوى سره داسې كاركړې وو.[3]

قوله وأنا ابن خمس سنين:زه د پنځو كالو ووم.

دا دوفات نبوى دكال واقعه ده.امام بخارى رحمه الله په تاريخ صغيركښې اوامام طبرانى په خپل سند سره روايت نقل كړې دې.((توفى النبى ﷺ وأنا ابن خمس سنين))[4]

ابن حبان رحمه الله ليكلى دى.چه د دوى وفات په ۹۹ھ كښې شوې وو.اوددوى عمر څلورنوى كاله وو.[5] په دې سره هم ددې تائيد كيږى.

قوله:من دلو: د نسائى په روايت كښې ((من دلو)) معلق دې.[6]

د ابن حبان رحمه الله په روايت كښې د ((معلقة)) لفظ دې.[7]

په يو روايت كښې د ((من دلو)) په ځائې ((من بئر)) الفاظ راغلى دى.[8] په دواړوكښې تطبيق دادې.چه اوبه دډول په ذريعه دكوهى نه راوويستې شوې.اونبى ﷺ دډول نه اوبه اوڅكلې.[9]

يواعتراض اودهغې جواب دلته علامه مهلب بن ابى صفره رحمه الله په امام بخارى رحمه الله باندې اعتراض كړې دې.چه دامام بخارى رحمه الله دپاره پكار وو.چه ددې حديث په ځائې دحضرت ابن الزبير رضي الله عنهما واقعه نقل كړې وه.په كومه كښې چه هغوى دخپل پلارپه باره كښې دا نقل كړې دى.چه كله هغوى په خپل اس باندې د بنوقريظه د طرف نه راتلو.نوماته هغه وخت ياد

---

[1])القائل هوخالدبن جنبة: كما ذكر الهروى انظرالنهاية لابن الأثير وتعليقاته (۲۹۷/٤)_

[2])عمدة القارى(۷۲/۲)_

[3])عمدة القارى(۷۲/۲) وفتح البارى(۱۷۲/۱)_

[4])التاريخ الصغير(ص.۷٤) وتهذيب التهذيب(٦۳/۱۰) والإصابة(۳۸٦/۳)_

[5])الثقات لابن حبان(۳۹۸/۳)_

[6])السنن الكبرى للنسائى(٤۳۸/۳) كتاب العلم باب متى يصح سماع الصغير) رقم ٥۸٦٥)_

[7])فتح البارى(۱۷۳/۱)_

[8])صحيح البخارى(۱٥۸/۱) كتاب التهجدباب صلاة النوافل جماعة رقم ۱۱۸٥)_

[9])فتح البارى(۱۷۳/۱)_

دي.(۱) په هغه وخت کښې د ابن الزبير رضي الله عنه عمر درې يا څلور کاله وو.(۲)
علامه بدرالدين زرکشى رحمه الله ددې جواب ورکړې دې.کيدې چه دا روايت دامام بخارى رحمه الله
د شرط مطابق نه وو.ځکه ئې دا روايت نه دې ذکرکړې.(۳)
خودا جواب صحيح نه دې.ځکه چه دا قصه په بخارى کښې په کتاب المناقب کښې ذکرده.(۴)
ددې صحيح جواب علامه ابن المنير رحمه الله ورکړې دې.چه په اصل کښې دامام بخارى رحمه الله مقصد دسنن نبويه نقل کول وو.که په حديث باب کښې د دخولې نه د اوبو شيدنلوذکرنه وو.صرف دومره وه.((رأيت النبى ﷺ)) يا داسې قسم بل څه مضمون وو.نودا به د مطلب دپاره مفيد نه وو.دهغې نه به زيات نه زيات دا ثابتيدل.چه راوى صحابى دې. او هغوى نبى ﷺ ليدلې وو.احوال واقعيه وجوديه دامام بخارى رحمه الله په مقاصدوکښې نه دى. داسې نه ده چه واقعه په دنياکښې پيښه شوې وى.اوامام بخارى رحمه الله هغه ذکرکوى. بلکه دوى خودنبى ﷺ د سنتو ذکرکول غوارى.
چونکه دابن الزبير رضي الله عنه په واقعه کښې صرف دخپل پلار دتلو راتلو .ليدو او ياد ساتلو ذکر وو.په هغې کښې د نبى ﷺ د سنتو څه ذکر نه وو.ددې وجې دهغه ذکرپه دې مقام کښې صحيح نه وو.حالانکه دمحمود بن ربيع رضي الله عنه په روايت کښې د نبى ﷺ يوعمل منقول دې ددې نه فقهاؤ اومحدثينو رحمهم الله ډيراحکام مستنبط کړى دى.نوپه دې باب کښې د محمودبن ربيع رضي الله عنه روايت نقل کولو مفيد وو.دحضرت عبدالله بن الزبير رضي الله عنهما روايت مفيد نه وو والله أعلم.(۵)
فائده ابن الرشيد دابن المرابط رحمه الله نه نقل کړى دى.چه ابومسهرعبدالاعلى بن مسهر محمدبن حرب په دې روايت کښې متفرد دې.
خودا خبره صحيح نه ده.ځکه چه امام نسائى په ،،سنن کبرى،، کښې د ،،**محمدبن المصفى عن محمدبن حرب**،، په طريق سره امام بيهقى په ،،**المدخل**،، کښې د **محمدبن جوصاعن سلمة بن الخليل عن محمدبن حرب**)) په طريق سره.دغه شان ابوالتقى ،،**وهوبفتح المثناة وكسر القاف**،، **هشام بن**

---

(۱)عن عبدالله بن زبير رضي الله عنهما قال كنت يوم الأحزاب جعلت أنا وعمربن أبى سلمة فى النساء فنظرت فإذا أنا بالزبيرعلى فرسه يختلف بنى قريظة مرتين أوثلاثاً فلما رجعت قلت يا أبت رأيتک تختلف وقال:أوهل رأيتنى ؟ قلت نعم... صحيح البخارى (۵۲۷\۱) كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ (المناقب) باب مناقب الزبيربن العوام رضي الله عنه رقم ۳۷۲۰)_
(۲)فتح البارى(۱۷۳\۱) وانظرأيضاً فتح البارى (۸۱\۷) كتاب فضائل الصحابة رضي الله عنهم باب مناقب الزبيربن العوام)
(۳)عمدة القارى(۷۳\۲) وفتح البارى(۱۷۳\۱)_
(۴)صحيح البخارى(۵۲۷\۱) كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ (المناقب) باب مناقب الزبيربن العوام رضي الله عنه رقم ۳۷۲۰)
(۵)فتح البارى(۱۷۳\۱) وعمدة القارى(۷۲\۲و ۷۳)_

عبدالملك يزيد عن محمدبن حرب،، په طريق سره روايت كړې دې.لكه چه ابومسهرپه دې روايت كښې متفرد نه دې.بلكه كم نه كم درې حضرات ددوى متابعين دى.

البته دا ونيلى شى چه د زبيدى نه روايت كونكو كښې محمدبن حرب متفرد دې.(۱)

ترجمة الباب سره دحديث مطابقت مذكوره روايت دترجمة الباب سره بيخي منطبق دې.ځكه چه په دې كښې محمودبن ربيع دخپل ماشومتوب واقعه بيانوى.په كوم سره چه دنبى ﷺ دحال علم ورته شوې وو.دغه شان ددې روايت نه عالمانو ﷺ ډيرمسائل مستنبط كړى دى. خوددې روايت نه دې دا نشى ګنړلې.چه د سماع اوتحمل دپاره د پنځوكالوتحديد دې.لكه څنګه چه بعضې حضراتوپه دې روايت سره د پنځوكالوپه تحديدباندې استدلال كړې دې.په حديث كښې يا دبخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې چرته هم دا نشته.چه دصحت تحمل اوسماع دپاره دپنځوكالوتحديددې.(۲)البته ددې روايت په رڼرا كښې دا ونيلى شى چه د پنځوكالوپه عمركښې ماشوم ضبط كولې شى.اوپه مطالبوباندې پوهيږى.دا عين ممكن ده. چه يوماشوم دپنځوكالونه وى.خوپه هغه كښې عقل وى.اودتميزصلاحيت په كښې وى. ددا سې ماشوم سماع دجمهورو په نيزصحيح ده.دغه شان دا هم ممكن ده.چه يوماشوم د پنځوكالونه د زيات عمروى.خوپه هغه كښې عقل.تميزاوضبط موجود نه وى.په دې صورت كښې دهغه دتحمل څه اعتبار نشته.((كما سبق تفصيل ذلك في فاتحة هذا الباب))والله أعلم بالصواب.

فائده دبخارى په عامونسخوكښې دلته ((متى يصح سماع الصغير))الفاظ دى.اود كشمينى رحمه الله په نسخه كښې ((الصبي الصغير)) الفاظ راغلى دى.(۳)

امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې دوه روايتونه ذكركړى دى. يو د حضرت ابن عباس رضي الله عنه دهغې نه د((سماع الصبي)) ثبوت كيږى.اوبل د حضرت محمود بن الربيع رضي الله عنه.ددې نه د ((سماع الصغير)) ثبوت كيږى.ځكه چه ((صبي)) نابالغه ماشوم ته وائى.چه وركوټې بچې وى دا هم ممكن ده.چه دا اوونيلى شى.چه دلته دصغيرنه مراد نابالغه دې.په دې صورت كښې به دواړه روايتود ((صغير)) لفظ سره متعلق شى.

كه دا دويم احتمال مراد واخستې شى.نوبخارى په ټولونسخوكښې چه كومه ترجمه موجود ده. يعنى ((سماع الصغير)) دا به راجع وى.اوكه دا احتمال وانه اخستې شى.نوبيا به د كشمينى رحمه الله نسخه ((الصبي الصغير)) ترجمه مناسب وى.(۴)

---

(۱)عمدة القارى(۷۱۲/۲) وفتح البارى(۱۷۲/۱)_

(۲)فتح البارى(۱۷۳/۱)_

(۳)فتح البارى(۱۷۱/۱)_

(۴)فتح البارى(۱۷۲/۱)_

۱۹=بَاب الْخُرُوجِ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ وَرَحَلَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ إِلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُنَيْسٍ فِي حَدِيثٍ وَاحِدٍ

د مخکنی باب سره مناسبت علامه عینی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دلته ((طلب العلم)) مطلقاً ذکرکړې دې.دې دپاره چه بری اوبحری دواړو سفرونو ته شامل شي.(۱)
اوپه دواړو روايتونوکښې مناسبت دادې.چه په مخکنی باب کښې دحضرت ابن عباس رضي الله عنه په خاروی باندې سوریدل اوراتلل اوپه مونځ کښې شرکت کول اوبیا خپل شاګردته ددې واقعه خبر ورکول ذکردی.په کوم کښې چه د طلب العلم او((خروج فی طلب العلم)) معنی ښکاره وه.په دې طريقه په دواړو بابونوکښې مناسبت پيدا شو.(۲)
البته علامه عینی رحمه الله دلته په امام بخاری رحمه الله باندې دا اعتراض کړې دې.که دا ترجمه د ((باب ما ذکر فی ذهاب موسیٰ عليه السلام فی البحر إلی الخضر)) سره متصل وه.نوزيات مناسب به وو.دې دپاره چه دعلم دطلب دبحری اوبری سفرونومسئله په يوځائې کښې راغلې وه.په مينځ کښې امام بخاری رحمه الله دوه بابونوذکرکړی دی.اوبيا ئې وريسې دا باب راوړې دې.دامناسب نه وه.(۳)
خودا اشکال په هغه وخت کښې صحيح وو.که د ((باب ما ذکر فی ذهاب موسیٰ عليه السلام فی البحر إلی الخضر)) مقصد دعلم دطلب دپاره د بحری سفرجواز بيانول وو.
اوکه ددوی مقصد هغه وی.کوم چه مونږ دحضرت شيخ الهند رحمه الله نه نقل کړې دې.چه د ترجمې مقصد دا ((تعلم بعد السيادة)) اثبات وی.نوپه دې صورت کښې دا اشکال نه واردیږی
خوحضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائی.چه په اصل کښې امام بخاری ددې باب نه وړاندې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوحر بن قيس رضي الله عنه مناظره ذکرکړې ده.په هغې کښې دا وو.چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د ،،حر،، په مقابله کښې اوګټله.نوامام بخاری رحمه الله ددې ګټلوجې ته په باريکه طريقه باندې اشارې کولودپاره ((باب قول النبی صلی الله عليه وسلم اللهم علمه الکتاب)) ترجمه قائمه کړه.اودحضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت ئې ذکرکړو.اودا ئې اوخودله.چه چونکه نبی صلی الله عليه وسلم دوی دپاره دعلم کتاب دعا کړې وه.خکه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوګټله.
بيا چونکه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا دعا دنبی صلی الله عليه وسلم نه په صغرسنی کښې اوريدلې وه.ددې وجې دامام بخاری رحمه الله ذهن يوې بلې مسئلې ته منتقل شو.اوهغه مسئله د((سماع الصغير)) ده.ددې وجې امام بخاری رحمه الله دهغې نه پس دادويمه مسئله شروع کړه اوکله چه د دواړو نه فارغ شو.نوبيا ئې هم هغه ((رحلة فی طلب العلم)) مسئله بيان کړه.چه اول ده ((رحلة بحرية)) ذکر

---

(۱)عمدة القاری(۲/۷۳)_
(۲)المصدر السابق_
(۳)المصدر السابق_

وو اواوس د «رحلة برية» مسئله راوړه.لکه چه دا دواړه ابواب اجنبی نه دی.بلکه د «باب ما ذکر...» د توابع اولواحقوخنی دی.نود دواړو مسئلوپه مینځ کښې څه اجنبی فاصل نشته.(¹)
د ترجمة الباب مقصد دترجمة الباب مقصدا بیانوی.چه دطلب علم دپاره سفرکول جائز دی. اویا دې استحباب بیانول مقصود دی.ددې وضاحت دا دې.چه وړاندې امام بخاری رحمه الله دعلم اهمیت اوددې دتحصیل مختلفې طریقې بیان کړې.دکومونه چه دعلم ضرورت محسوس شو.اودا واضحه شوه.چه ددین اودنیا هیڅ یوکاردعلم نه بغیرممکن نه دې.تردې چه دنیاوی کارونه تجارت اوزراعت هم دعلم محتاج دی.نود دین معامله خوددې زیاته اهمه اوواضحه ده.
هرکله چه علم دومره ضروری دې.نوکه تاته په خپل ځائې کښې علم نه حاصلیږی.نوبهرته تلل به ضروری وی.چه هلته ته دعالمانو ﷺ نه خپل علمی ضروریات پوره کړې شې.
خوددې باوجود د سفر معامله چه مختلفو روایاتو کښې کتلی شی.څه ممنوع غوندې بنکاریده.نبی ﷺ فرمائیلی دی.«السفر قطعة من العذاب يمنع أحدكم طعامه وشرابه ونومه فإذا قضى نهمته فليعجل إلى أهله» (²)
دغه شان د نبی ﷺ ارشاد دې.«لا يركب البحر إلا حاج أو معتمر أو غازيا في سبيل الله» (³)
دغه شان نبی ﷺ فرمائیلی دی.«لا تشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد» (⁴)
ددېنه مراد اګرچه خاص مواقع دی.لیکن دالفاظو داطلاق نه ممانعت معلومیږی.
ددې رواتوپه رنړا کښې دتحصیل علم سفرمشتبه وو.دلته بیا دا هم دسوچ خبره ده.چه بیا دلته دا خبره هم د غورده.چه د نبی ﷺ په زمانه کښې اودصحابه کرامو رضي الله عنهم په زمانه کښې دتحصیل علم دپاره سفرشوې وو که نه؟که نه وو شوې .بلکه صحابه کرامو رضي الله عنهم هم په خپل خپل ځایونوکښې دعلم تحصیل کولو.نوبیا زمونږ دپاره دا خبره نورهم ګرانیږی.ځکه چه سوال پیدا کیږی.چه دتحصیل علم دپاره بهرته تلل جائزدی که نه؟بیا د وچې دسفراجازت دې که د دریاب دسفر هم،دغه شان نزدې مقاماتو ته تلی شی.اوکه لرو ته هم.ددې مقصد دپاره امام بخاری د«الخروج في طلب العلم» ترجمه قائمه کړه.چه سفرکه د نزدې وی اوکه د لرې.دوچې وی اوکه د سمندر،دعلم دضرورت تقاضا دا ده.چه کوم ځائې پورې ضرورت

---

¹)الكنز المتوارى فى معادن لامع الدرارى وصحيح البخارى (تعليقات لامع الدرارى(١٢-٣٠٠)_
²)صحيح بخارى(١\٢٤٢و ٢٤٣) كتاب العمرة باب السفر قطعة من العذاب رقم ١٨٠٤)_
³)السنن لابى داود كتاب الجهاد باب فى ركوب البحر فى الغزو رقم ٢٤٨٩)-
⁴)الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه(١\١٥٨) كتاب التطوع (التهجد) باب فضل الصلاة فى مسجد مكة والمدينة رقم ١١٨٩) ومسلم فى صحيحه فى كتاب الحج باب فضل المساجد الثلاثة رقم ٣٣٨٤ والنسائى فى سننه فى كتاب المساجد باب ما تشد الرحال إليه من المساجد رقم٧٠١) وأبوداود فى كتاب المناسك باب فى إتيان المدينة رقم ٢٠٣٣)_

پوره کيږي هغه ځاني پوري دي خي
ددې دپاره امام بخاري رحمه الله په دوو څيزونو استدلال کړې دې.يوخونې د عهدصحابو رضي الله عنهم نه نظيرپيش کړو.چه حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه د حضرت عبدالله بن انيس رضي الله عنه نه د يو داسې حديث اوريدو دپاره تلې وو.کوم چه هغه ته په واسطه سره رسيدلې وو.د يوې مياشتې سفر کړې وو.دې دپاره چه دهغوی سند عالي شي.«وسيأتي تفصيل ذلك قريباً»
دامام بخاري رحمه الله دويم استدلال دحديث باب نه دې.چه خلاصه ئې دا ده.چه علم داسې ناشنا دولت دې.چه انسان ډيرعلم زده کړي.خوبيا هم دبې احتياجئ اظهارنشي کولې. حضرت موسى عليه السلام ددې باوجود چه کمال علمي ورته حاصل وو.دا ورته معلوم شوه.چه دالله تعالى يو بنده سره زما نه زيات علم دې. نوهغه سره دملاويدو دپاره د لارې تپوس کوي.اودملاقات نه پس دهغوی شرطونه قبلوي.دا دواړه واقعات ئې پيش کړل.اوامام بخاري رحمه الله دا اوخودل.چه دعلم دطلب دپاره سفر صرف مطلوب نه بلکه ضروري دې.(١)
خوپه دې قصه باندې استدلال په دې خبره باندې مبني دې.چه داپخوانو پيغمبرانوعليهم السلام شريعت د دې امت په حق کښې شريعت دې.دا مسئله مختلف فيها ده.
جمهورعالمان رحمهم الله فرمائي.چه «ما قص الله تعالى علينا من غير إنكار ، أوقصه رسول الله صلى الله عليه وسلم من غيرإنكار فيه فإنه يلزمنا على أنه شريعة رسولنا صلى الله عليه وسلم» (٢) يعنی کوم څيز چه الله تعالى يا نبي صلى الله عليه وسلم بغيرد انکار نه نقل کړې وي.هغه په مونږ باندې په دې حيثيت باندې لازم دې.چه هغه زمونږ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم شريعت دې.
بيا په دې صحابو رضي الله عنهم کښې صرف يوحضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه واقعه نه ده.بلکه داسې ډيرمثالونه ملاويږي.
حضرت ابوايوب انصاري،دحضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه نه صرف ديوحديث اوريدودپاره دمدينې نه مصر ته سفرکړې وو.کوم چه د يوې مياشتې مزل وو.(٣)
حضرت عبيدالله بن عدي رحمه الله دحضرت علي رضي الله عنه نه دحديث اوريدو دپاره د مدينې طيبې نه دعراق سفر کړې وو.کوم چه د يوې مياشتې مسافت وو.(٤)
حضرت ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه ته چه د نبي صلى الله عليه وسلم کوم تعليمات او احاديث رسيدلي وو.هغوی د خپلې علاقې نه سفرکړې وو.اودنبي صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضرشوې وو.اود نبي صلى الله عليه وسلم نه براه

---

(١) لامع الدراري (٢٩٩/٢و ٣٠٠) وإيضاح البخاري(٧٧/٥و ٧٨)_
(٢) دتفصيل دپاره وګورئ(أصول بزدوي مع كشف الأسرار(٢١٢/٣و ٢١٧) باب شرائع من قبلنا)_
(٣) الحديث أخرجه الحميدي في مسنده (١٨٩/١و ١٩٠) أحاديث أبي ايوب أنصاري وأحمد في مسنده (١٥٣/١) والحاكم في معرفة علوم الحديث (٧و٨) وابن عبدالبر في جامع بيان العلم وفضله (٣٩٢/١) باب ذكرالرحلة في طلب العلم رقم ٥٦٧) ونص الحديث من ستر مؤمناً في الدنيا على هزية ستره الله يوم القيامة (اللفظ للحميدي)_
(٤) رواه الخطيب كذا في فتح الباري (١٧٥/١)_

راست معلومات کړی وو. دحضرت ضمام رضی الله عنه قصه وړاندې تیره شوې ده.(۱) ددې نه چه خنګه د قرائت علی الشیخ ثبوت کیږی. دغه شان د رحلة فی العلم ثبوت هم کیږی.
امام بخاری رحمه الله د طلب علم دپاره دسفرپه باره کښې دحضرت جابر رضی الله عنه قصې ته اشاره کړې ده.فرمائی.

قوله رحل جابر بن عبدالله مسیرة شهر إلی عبدالله بن أنیس فی حدیث واحد: حضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه حضرت عبدالله بن انس رضی الله عنه طرف ته د یوحدیث دپاره د یوې میاشتې سفر کړې وو.

دذکرشوی حدیث تخریج اونص دحدیث داحدیث امام بخاری رحمه الله په «الأدب المفرد» کښې او«خلق أفعال العباد» کښې (۲)امام احمدبن حنبل رحمه الله په خپل مسند کښې (۳)وطبرانی رحمه الله په معجم اوسط کښې (۴)ابویعلی فی خپل مسند کښې (۵)خطیب بغدادی پ..رحلة.. کښې (۶)ابن ابی عاصم په کتاب السنة کښې (۷)حاکم په مستدرک کښې (۸)امام بیهقی په ..کتاب الاسماء والصفات..کښې (۹)اوابن عبدالبر رحمه الله په جامع بیان العلم وفضله کښې (۱۰) تخریج کړې دې.

«عن جابربن عبدالله رضی الله عنه قال: بلغنی حدیث عن رجل من أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم سمعه من رسول الله صلی الله علیه وسلم فی القصاص ولم أسمعه فابتعت بعیراً فشددت رحلی علیه ثم سرت شهراً حتی قدمت مصر فأتیت عبدالله بن أنیس فقلت للبواب قل له جابرعلی الباب فقال أبن عبدالله؟ قلت نعم فأتاه فأخبره فقام یطأ ثوبه حتی خرج إلی فاعتنقنی واعتنقته فقلت له حدیث بلغنی عنك سمعته من رسول الله صلی الله علیه وسلم ولم أسمعه فی القصاص فخشیت أن أموت أوتموت قبل أن أسمعه، فقال عبدالله: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول یحشرالله العباد أو قال الناس عراة غرلاً بهماً قال قلنا مابهماً؟ قال لیس معهم شئ ثم ینادیهم بصوت یسمعه من بعد کما یسمعه من قرب أنا

(۱)کتاب العلم باب القراءة والعرض علی المحدث)_
(۲)الأدب المفرد رقم ۹۷۰) وخلق أفعال العباد (ص.۹۰) تعلیقات جامع العلم وفضله (۳۸۹\۱) باب ذکر الرحلة فی طلب العلم)_
(۳)مسندأحمدبن حنبل(۴۹۵\۳)_
(۴)مجمع الزوائد(۳۴۵\۱۰و ۳۴۶) کتاب البعث باب ماجاء فی الحساب)_
(۵)تعلیقات جامع بیان العلم وفضله (۳۸۹\۱)_
(۶)کتاب الرحلة للخطیب(ص.۱۰۹) تعلیقات جامع بیان العلم وفضله (۳۸۹\۱)_
(۷)تعلیقات جامع بیان العلم وفضله (۳۸۹\۱)_
(۸)المستدرک للحاکم (۴۳۷\۲و ۴۳۸) کتاب التفسیر.سورة حم المومن و(۵۷۴\۴و ۵۷۵) کتاب الأهوال)_
(۹)الأسماء والصفات للبیهقی (ص.۷۸و ۷۹) تعلیقات جامع بیان العلم وفضله (۳۹۰\۱)_
(۱۰)جامع بیان العلم وفضله (۳۸۹\۱و ۳۹۲) باب ذکرالرحلة فی طلب العلم رقم ۵۶۵و ۵۶۶)_

الملك أنا الديان لا ينبغي لأحد من أهل الجنة أن يدخل الجنة ولا ينبغي لأحد من أهل النار أن يدخل النار، وعنده مظلمة حتى أقصه منه، حتى اللطمة قال قلنا كيف ذا وإنما نأتي الله غرلاً بهماً؟ قال بالحسنات والسيئات، قال وتلى رسول الله ﷺ ﴿ٱلْيَوْمَ تُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۚ لَا ظُلْمَ ٱلْيَوْمَ ۚ﴾ (اللفظ للحاكم في مستدركه)

امام حاکم رحمه الله فرمائي. «صحيح الإسناد ولم يخرجاه» (۱)

حافظ ذهبي رحمه الله ددوی تصدیق کړې دې.اوفرمائي. «صحيح» (۲)

حافظ نورالدين هيثمي رحمه الله فرمائي. «رواه أحمد ورجاله وثقوا ورواه الطبراني في الأوسط بنحوه» (۳)

حافظ منذري رحمه الله فرمائي. «رواه أحمد بإسناد حسن» (۴)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي. «وإسناده صالح» (۵)

دابن بطال رحمه الله يووهم: دلته دامام ابن بطال رحمه الله نه يو وهم شوې دې.هغوی فرمائي.چه ددې نه مراد «حديث الستر على مسلم» دې.دا خبره صحيح نه ده.بلکه هغه يوبل حديث دې.په کوم کښې چه سفرکونکې حضرت ابوايوب انصاری رضی الله عنه دې.اوچاته چه ئې سفرکړې وو.هغه حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه وو. (۶)

دمعلقات بخاری رحمه الله متعلق يوه قاعده اوپه هغې اعتراض: علامه بدرالدين زرکشي رحمه الله دلته اعتراض کړې دې.چه دا معلومه ده.چه امام بخاری رحمه الله کوم روايت معلقه په صيغه دجزم يعنې معروف سره راوړی.هغه صحيح وی.اوکوم روايتونه چه په صيغه د تمريض يعنې مجهول راوړی.هغه ضعيف وی. (۷)

داقاعده دلته ماتيږی.ځکه چه دحضرت جابر رضی الله عنه په دې واقعه باندې دلته په صيغه د جزم «ورحل جابر بن عبدالله ..» ذکرکړې دې.حالانکه ددې يوه بله حصه «يحشر الله العباد، فيناديهم

---

(۱) المستدرک للحاکم (۲\۴۳۸)_

(۲) تلخيص المستدرک للذهبي المطبوع بذيل المستدرک (۲\۴۳۸)_

(۳) مجمع الزوائد (۱۰\۳۴۶) کتاب البعث باب ماء في الحساب)_

(۴) الترغيب والترهيب (۴\۴۰۴) کتاب البعث وأهوال القيامة)_

(۵) فتح الباري (۱\۱۷۴)_

(۶) قدذکرنا هذا الحديث ومن أخرجه بالتفصيل في هذا الباب فارجع إليه إن شئت)_

(۷) قال ابن الصلاح وينبغي أن نقول ما كان ذلک ونحوه بلفظ فيه جزم وحكم به على من علقه عنه فقد حكم بصحته عنه.مثاله ... فكل ذلک حكم منه على من ذكره عنه بأنه قدقال ذلک ورواه فلن يستجير إطلاق ذلک إلا إذا صح عنده ذكره عنه لأن مثل هذه العبارات تستعمل في الحديث الضعيف أيضاً علوم الحديث (ص.۲۴و ۲۵)_

بصوت يسمعه من بعد كما يسمعه من قرب،أنا الملك أنا الديان»امام بخارى رحمه الله په كتاب التوحيد كښې ذكركړې ده.(١) چه دا ئې نقل كړې دې نودوى دتمريض صيغه استعمال كړې ده.
«ويذكر عن جابر رضي الله عنه عن عبدالله بن أنيس قال....» نوپه دې طريقه دا قاعده ماتيږى.(٢)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه په اصل كښې ددې حديث دوه مضمونونه دى.ديوتعلق درحلة فى طلب العلم سره دې.اودبل تعلق د كلام البارى بصوت سره دې.ددې حديث شواهد موجود دى.په مختلفو اسنادو سره دا ثابت دې.نوددې حديث درجه دحسن ده.خكه چه دا خبرواحد دې.نوددې نه په صيغه د جزم سره رحلة فى طلب العلم ثابتوى.اوپه مسئله دكلام كښې چونكه د قطعى حديث ضرورت وو.په هغې كښې خبرواحد كافى نه وى.نوكله چه ئې د صوت مسئله ذكركوله.نوهلته ئې د تمريض صيغه استعمال كړه.«وهذا من دقة نظره رحمة الله عليه» (٣)
خوپه دې باندې اشكال كيږى.چه دامام بخارى رحمه الله خپل رجحان دې ته دې.چه الله تعالى د صوت سره كلام كوى.دوى په كتاب خلق افعال العباد او په صحيح بخارى كښې په كتاب التوحيد كښې دا مسئله واضحه كړې ده.نودا خبره صحيح نه معلوميږى.چه هغوى دصوت په مسئله كښې عدم صلاحيت احتجاج طرف ته اشارې كولودپاره د تمريض صيغه استعمال كړې وى.
ددې صحيح جواب دا دې.چه امام بخارى رحمه الله په كوم خائې كښې چه د تمريض صيغه استعمال كړې.نوهلته دهغوى منشاء صرف د سند ضعف نه وى.بلكه دهغې يوسبب اختصار هم وى.اوامام بخارى رحمه الله چه كله روايت بالمعنى كوى.يا د حديث په الفاظوكښې اختصاركوى.نوپه داسې موقع باندې هم كله «يروى» او «يذكر» په صيغه د تمريض سره ذكركوى.(٤)
په كتاب التوحيد كښې امام بخارى رحمه الله چونكه اختصارفى الحديث كړې دې.نوخكه ئې هلته په «يُذكر» سره ددې حديث ذكركړې دې.والله اعلم.

[٨]حَدَّثَنَا أَبُو الْقَاسِمِ خَالِدُ بْنُ خَلِيٍّ قَاضِي حِمْصَ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ أَخْبَرَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (٥) أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ

---

(١) صحيح البخارى(١١١٤/٢) كتاب التوحيدباب قول الله تعالى ﴿ ولاتنفع الشفاعة عنده إلا من أذن له ﴾_
(٢) فتح البارى(١٧٤/١) وشرح القسطلانى(١٧٧/١)_
(٣) فتح البارى(١٧٤/١)_
(٤) النكت على ابن الصلاح (التقييد ولاإيضاح لما أطلق وأغلق من كتاب إبن الصلاح) للعراقى (٣٦) وتعليقات نورالدين عر على علوم الحديث لابن الصلاح (٢٥)_
(٥) سبق تخريج هذا الحديث قبل بابين باب ما ذكر فى ذهاب موسى فى البحر إلى الحضر)_

بن كعب فدعاه ابن عباس فقال إني تماريت أنا وصاحبي هذا في صاحب موسى الذي سأل السبيل إلى لقيه هل سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يذكر شأنه فقال أبي نعم سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يذكر شأنه يقول بينما موسى في ملإ من بني إسرائيل إذ جاءه رجل فقال أتعلم أحدا أعلم منك قال موسى لا فأوحى الله عز وجل إلى موسى بلى عبدنا خضر فسأل السبيل إلى لقيه فجعل الله له الحوت آية وقيل له إذا فقدت الحوت فارجع فإنك ستلقاه فكان موسى صلى الله عليه يتبع أثر الحوت في البحر فقال فتى موسى لموسى أرأيت إذ أوينا إلى الصخرة فإني نسيت الحوت وما أنسانيه إلا الشيطان أن أذكره قال موسى ذلك ما كنا نبغي فارتدا على آثارهما قصصا فوجدا خضرا فكان من شأنهما ما قص الله في كتابه [ر: ٧٤]

رجال الحديث

① ابوالقاسم خالدبن خلی: دا قاضی ابوالقاسم خالدبن خلی (١) الکلاعی الحمصی رحمه الله دی.(٢)

دوی د محمدبن حرب خولانی، محمدبن حمیر، سلمه بن عبدالملک العوصی، حارث بن عبیده کلاعی، جراح بن ملیح بهرانی اوبقیة بن الولید رحمهم الله وغیره دحدیث روایت کوی.

ددوی نه روایت کونکوکښې امام بخاری، امام ابوزرعه دمشقی، ابراهیم بن مسلم طرطوسی، محمدبن مسلم بن داره رازی، محمدبن عوف طائی، او خپله ددوی خوئې محمدبن خالد خلی رحمهم الله وغیره حضرات دی.(٣)

امام بخاری رحمه الله فرمائی.«صدوق» (٤)

امام نسائی رحمه الله فرمائی.«لیس به بأس» (٥)

امام دارقطنی رحمه الله فرمائی.«لیس شيء ینکر» (٦)

خلیلی رحمه الله فرمائی.«ثقة» (٧)

---

(١) «خلی» په ددو طریقو سره ضبط شوې دې. بفتح الخاء وکسر اللام المخففة وسکون الیاء بدون التشدید کما فی الکاشف للذهبی (٣٦٣/١) رقم ١٣١٢ وانظر الإستدراک فی آخر الکاشف (٥٨٣/٢) وبفتح الخاء وکسر اللام المخففة وتشدید الیاء بوزن علی کما فی التقریب (٨٧) رقم ١٦٢٤)_

(٢) تهذیب الکمال (٥٠/٨ و ٥١) وسیر أعلام النبلاء (١١٠/٦٤٠)_

(٣) دا استاذانو او شاګردانو د تفصیل دپاره اوګورئ «تهذیب الکمال (٥١/٨) وسیر أعلام النبلاء (١١٠/٦٤٠)_

(٤) تهذیب الکمال (٥١/٨)_

(٥) المصدر السابق وسیر أعلام النبلاء (١١٠/٦٤٠)_

(٦) تهذیب الکمال (٥١/٨ و ٥٢)_

(٧) تهذیب التهذیب (٨٦/٣)_

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«كان من نبلاء العلماء»(١)

دغه شان دوی فرمائی.«ثقة»(٢)

ابن حبان رحمه الله دوی په کتاب الثقات کښې ذکر کړی دی.(٣)

دوی د وفات کال يقينی طور باندې معلوم نه دې.حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی. غالباً په ٢٢٠ه نه پس دوی وفات شوی دی.(٤)

دوی په ٢١٨ه کښې وفات شوی وو.(٥) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

② محمدبن حرب:دوی محمدبن حرب خولانی حمصی ابرش رحمه الله دی.ددوی حالات اوس په مخکښې باب کښې تیرشو.

③ اوزاعی:دوی د شام مشهور عالم،فقيه او امام عبدالرحمن بن عمرو بن ابی عمرو يُحمد اوزاعی شامی رحمه الله دی.ددوی کنیت ابوعمرو دې.(٦)

امام اوزاعی رحمه الله مستقل د يومکتب فکربانی وو.دائمه اربعه پشان خلق ددوی په مذهب باندې عمل کونکی وو.روسته د نورو مذاهبوپشان ددوی مذهب هم ختم شو.(٧)

دوی په تبع تابعينوکښې وو.(٨)

دوی په تابعينوکښې د عطاء بن ابی رباح،قتادة،نافع مولی ابن عمر،امام زهری،اومحمدبن المنكدر رحمهم الله نه استفاده کړې ده.

دغه شان ئې د حسان بن عطيه،امام اعمش،عبدالملك بن عبدالعزيزبن جريج،عبده بن ابی لبابه،علقمه بن مرثد،عمروبن شعيب،محمدبن الوليد الزبيدی.مكحول شامی،يحيی بن سعيدانصاری،اويحيی بن ابی كثير رحمهم الله وغيره ډيروحضراتونه هم د حديث روايت کړې دې.

ددوی نه په روايت کونکوکښې ابواسحاق فزاری،اسماعيل بن عياش،ابوضمره انس بن عياض،بشربن بكر تنيسی،بقية بن الوليد،خارجه بن مصعب،سفيان ثوری،امام شعبه، عبدالله بن المبارك،عبدالرحمن بن ابی الزناد،عبدالرزاق بن همام،عبيدالله بن موسى

---

(١) سير أعلام النبلاء (١٠\٦٤٠)_

(٢) الكاشف (٢\٣٦٣) رقم ١٣١٢)_

(٣) الثقات لابن حبان (٨\٢٢٥)_

(٤) سير أعلام النبلاء (١٠\٦٤١)_

(٥) الكاشف (١\٦١١) رقم ٣٠٨٢)_

(٦) تهذيب الكمال(١٧\٣٠٧و ٣٠٨)_

(٧) كان له مذهب مستقل مشهورعمل به فقهاء الشام مدة وفقهاء الأندلس ثم فنى .سيرأعلام النبلاء(٧\١١٧) وتهذيب الأسماء واللغات(١\٢٩٩)_

(٨) التهذيب للنووی(١\٢٩٩)_

عبسى.عيسى بن يونس، قتاده ،((وهو من شيوخه)) مالك بن انس.محمدبن حرب خولانى.
امام زهرى(وهو من شيوخه) معافى بن عمران موصلى الهقل بن زياد((وهو أثبت الناس فيه)) وكيع
بن الجراح.يحى بن سعيد القطان.يحيى بن ابى كثير.((وهو من شيوخه)) اويونس بن يزيد
ايلى رحمهم الله وغيره دى(١)
امام عبدالرحمن بن مهدى رحمه الله فرمائى.((الأئمة فى الحديث أربعة الأوزاعى،ومالك وسفيان
الثورى،وحماد بن زيد رحمهم الله))(٢)
دغه شان دوى فرمائى.((ماكان بالشام أحد أعلم بالسنة من الأوزاعى))(٣)
سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائى.((كان الأوزاعى إمام أهل زمانه))(٤)
امام بخارى رحمه الله د عيسى بن يونس رحمه الله نه نقل كوى.((كان الأوزاعى حافظاً))(٥)
امام عجلى رحمه الله فرمائى.((ثقة من خيار الناس))(٦)
امام مالك رحمه الله فرمائى.((كان إماماً يقتدى به))(٧)
يعقوب بن شيبه رحمه الله فرمائى.((والأوزاعى ثقة ثبت))(٨)
امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى.((ثقة ما أقل ما روى عن الزهرى))(٩)
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.((إمام متبع لما سمع))(١٠)
ابن سعد رحمه الله فرمائى.((وكان ثقة مأموناً صدوقاً فاضلاً خيراً كثير الحديث والعلم والفقه حجة))(١١)
ابن حبان رحمه الله فرمائى.((وكان من فقهاء الشام وقرائهم وزهادهم ومرابطيهم))(١٢)

---

(١) ددوى د شيوخواوتلامذو د تفصيل دپاره اوگورى.تهذيب الكمال(١٧\٣٠٨و ٣١٢) وتهذيب النووى(١\٢٩٩) وسير أعلام النبلاء(٧\١٠٨و ١٠٩)_
(٢)تهذيب الكمال(١٧\٣١٣) وتهذيب النووى(١\٣٠٠)_
(٣)المصادر السابقة)_
(٤)تهذيب الكمال(١٧\٣١٤) وتهذيب الكمال(٦\٢٤٠)_
(٥)التاريخ الصغير(١١٧)_
(٦)تعليقات تهذيب الكمال(١٧\٣١٦) نقلاً عن ثقات العجلى(الورقة:٣٣) وانظر تهذيب التهذيب(٦\٢٤١)-
(٧)سير أعلام النبلاء(٧\١١٢)_
(٨)تهذيب الكمال(٦\٢٤١)_
(٩)تهذيب الكمال(١٧\٣١٣)_
(١٠)تهذيب الكمال١٧\٣١٤)_
(١١)طبقات ابن سعد(٧\٤٨٨)_
(١٢)الثقات لابن حبان(٧\٦٣)_

فلاس رحمه الله فرمائی «الأوزاعي ثبت»(۱)

امام ذهبی رحمه الله فرمائی «الأوزاعي إمام ثقة وليس هو في الزهري كمالك وعقيل»(۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی «ثقة جليل»(۳)

دامام اوزاعی رحمه الله وفات د راجح قول مطابق په ۱۵۷ھ کښې شوې وو.(۴) رحمه الله تعالى رحمة واسعة، د دوی د تفصیلی حالاتو دپاره د .. سیر اعلام النبلاء .. مراجعت اوکړئ.(۵)

④ الزهري: دوی امام محمد بن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب زهری رحمه الله دی. ددوی حالات په «بدء الوحي» کښې د دریم حدیث لاندې تیرشوی دی.(۶)

⑤ عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود: د دوی حالات د «باب متى يصح سماع الصغير» باندې لاندې تیرشوی دی.

⑥ ابن عباس رضي الله عنهما: دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حالات په «بدء الوحي» کښې د خلورم حدیث لاندې تیرشوی دی.(۷) اوپه «كتاب الإيمان» کښې د «باب كفران العشير وكفر دون كفر» لاندې تیرشوی دی.(۸) څه حالات اوس د «باب متى يصح سماع الصغير» لاندې تیرشو.

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې هم هغه حدیث ذکرکړې دې. کوم چه ئې په «باب ما ذكر في ذهاب موسى عليه السلام في البحر إلى الخضر عليه السلام» لاندې راوړې وو. دحدیث پوره تشریح هلته تیره شوې وه.

۲۰=بَاب فَضْلِ مَنْ عَلِمَ وَعَلَّمَ

دمخکنی باب سره ربط: مخکښې باب «باب الخروج في طلب العلم» کښې دمتعلم اومعلم حال ذکرووو. په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله ددوی فضیلت بیانوی.(۹)

د ترجمة الباب مقصد: ترجمة الباب دهغه کس په فضیلت کښې دې. چه هغه دتعلیم اوتعلم یعنی په خپله دزده کولواوبل ته د خودلوفضیلتونو لره جمع کونکې وی. په دې تمثیل کښې

---

(۱) تهذيب التهذيب(۶\۲٤۱)_
(۲) ميزان الإعتدال(۲\۵۸۰)_
(۳) تقريب التهذيب(۳٤۷) رقم ۳۹۶۷)_
(٤) تهذيب الكمال(۱۷\۳۱۵) وسير أعلام النبلاء،(۷\۱۲۷و ۱۲۸)_
(۵) ددوی د تفصیلی حالاتودپاره اوګورئ سیر أعلام النبلاء(۷\۱۰۷و ۱۳٤)_
(۶) کشف الباری(۱\۳۲۶)_
(۷) کشف الباری(۱\٤۳۵)_
(۸) کشف الباری(۲\۲۰۵)_
(۹) عمدة القارى(۲\۷۶)_

((فعلم وعلم)) په سياق دمدح كښې بيانولوسره دا خبره ښكاره كوى.چه عالم متعلم د مجرد عالم نه په فضيلت كښې غوره دې.اوهم دا د ترجمې مقصد دې.

دلته دې دا خبره واضحه وى.چه دترجمة الباب مقصد دمجموعة امرينو فضيلت دې. د احدُ الامرين فضيلت نه دې.يعنى د((باب فضل من علم وعلم)) مطلب دې.((فضل من علم فضل من علم))نه دې.بلكه مطلب دا ((فضل من علم ثم علم))دې.(١)

[٧٠]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى (٢) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ مِنَ الْهُدَى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيرِ أَصَابَ أَرْضًا فَكَانَ مِنْهَا نَقِيَّةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ فَأَنْبَتَتِ الْكَلَأَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيرَ وَكَانَتْ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ الْمَاءَ فَنَفَعَ اللَّهُ بِهَا النَّاسَ فَشَرِبُوا وَسَقَوْا وَزَرَعُوا وَأَصَابَتْ مِنْهَا طَائِفَةً أُخْرَى إِنَّمَا هِيَ قِيعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ كَلَأً فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِي دِينِ اللَّهِ وَنَفَعَهُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذَلِكَ رَأْسًا وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللَّهِ الَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ

قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ قَالَ إِسْحَاقُ وَكَانَ مِنْهَا طَائِفَةٌ قَيَّلَتِ الْمَاءَ قَاعٌ يَعْلُوهُ الْمَاءُ وَالصَّفْصَفُ الْمُسْتَوِي مِنَ الْأَرْضِ

رجال الحديث

① محمد بن علاء: ابوكريب محمدبن العلاء بن كريب همدانى كوفى رحمه الله دى.(٣)

په ١٦١هـ كښې پيدا شوې وو.(٤)

دوى دهشيم،ابوبكربن عياش،يحيى بن ابى زائده،عبدالله بن المبارك ، اسماعيل بن عليه، سفيان بن عيينه،حفص بن غياث،ابواسامه بن حمادبن اسامه ابومعاويه ضرير،يونس بن بكير،محمدبن فضيل بن غزوان ،وكيع بن الجراح اويحى بن يمان رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.

ددوى نه په روايت كونكوكښې اصحاب اصول سته،محمدبن يحيى ذهلى،ابوزرعه، ابوحاتم رازى،ابن ابى الدنيا ،بقى بن مخلداندلسى، ابو عروبه،محمدبن هارون رويانى، ابويعلى موصلى اوجعفربن محمدفريابى رحمهم الله وغيره ډير حضرات دى.(٥)

---

(١) الأبواب والتراجم ازشيخ الهندقدس سره (ص.٤٩)_

(٢) قوله : عن أبي موسى رضي الله عنه الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الفضائل باب بيان مثل ما بعث النبى صلى الله عليه وسلم من الهدى والعلم رقم (٥٩٥٣)_

(٣) تهذيب الكمال(٢٦\٢٤٣)_

(٤) سير أعلام النبلاء (١١\٣٩٤)_

(٥) دشيوخ اوشاګردانو دپاره اوګورئى .تهذيب الكمال(٢٦\٢٤٣و ٢٤٦) وسير أعلام النبلاء (١١\٣٩٤و ٣٩٥)

امام نسائي فرمائي .«لابأس به»(١)

دغه شان دوی فرمائي .«ثقة»(٢)

ابوعمرو الخفاف رحمه الله فرمائي .«ما رأيت من المشائخ بعد إسحاق بن ابراهيم أحفظ من أبي كريب»(٣)

ابراهيم بن ابی طالب رحمه الله فرمائي .«لم أر بعد أحمد بن حنبل رحمه الله أحفظ من أبي كريب»(٤)

ابوحاتم رحمه الله فرمائي .«صدوق»(٥)

مسلمه بن قاسم رحمه الله فرمائي .«كوفي ثقة»(٦)

ابن حبان رحمه الله دوی په كتاب الثقات كښې ذكر كړی دی.(٧)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي .«ثقة حافظ»(٨)

په كال ۲۴۸ھ كښې وفات شوی وو.(٩) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

④ **حمادبن أسامه:** دوی ابواسامه حمادبن اسامه بن زيد قرشي كوفي دی.(١٠)
دوی د هشام بن عروه، امام اعمش، سعيدبن ابی عروبه، شعبه، سفيان ثوری، سليمان بن المغيره، مالك بن مغول، مجالد بن سعيد، شريك بن عبدالله نخعي، ابوبرده بريد بن عبدالله بن ابی برده، عبدالرزاق بن همام، عبيدالله بن عمر، فضيل بن غزوان، وليدبن كثير، يحيى بن المهلب رحمهم الله وغيرنه روايت حديث كړی دی.
اوددوی نه روايت كونكوكښې عبدالرحمن بن مهدی، امام شافعي، قتيبه بن سعيد، امام احمد، امام اسحاق، ابوخيثمه، ابراهيم بن سعيدجوهری، احمدبن الفرات، محمود بن غيلان، ابوبكر بن ابی شيبه، عثمان بن ابی شيبه، علی بن المدينی، محمدبن عبدالله بن نمير، ابو كريب، محمدبن العلاء، امام يحی بن معين، محمدبن المثنى، اومحمدبن يوسف بيكندی رحمهم الله وغيره ډيرحضرات دی.(١١)

---

(١) تهذيب الكمال (٢٦/٢٤٧)_
(٢) المصدر السابق)_
(٣) المصدر السابق)_
(٤) المصدر السابق)_
(٥) سير أعلام النبلاء (١١/٣٩٥)_
(٦) تهذيب الكمال (٩/٣٨٦)_
(٧) الثقات (٩/١٠٥)_
(٨) تقريب التهذيب (٥٠٠) رقم ٦٢٠٤)_
(٩) الكاشف (٢/٢٠٨) وسير أعلام النبلاء (٩/٢٧٧)_
(١٠) تهذيب الكمال (٧/٢١٧و ٢١٨) وسير أعلام النبلاء (٩/٢٧٧)-
(١١) د شيوخ اوملامذو دپاره اوگورئ، تهذيب الكمال (٧/٢١٨و ٢٢٢) وسير أعلام النبلاء (٩/٢٧٧و ٢٧٨)_

امام احمد رحمه الله فرمائی: «أبو أسامة ثقة كان أعلم الناس بأمور الناس وأخبار أهل الكوفة وما كان أرواه عن هشام بن عروة»[1]

دغه شان دوی فرمائی: «كان ثبتاً ما كان أثبته لا يكاد يخطئ»[2]

دغه شان دوی فرمائی: «أبو أسامة أثبت من مائة مثل أبي عاصم كان أبو أسامه صحيح الكتاب ضابطاً للحديث كيساً صدوقا»[3] امام یحیی بن معین رحمه الله دوی «ثقة» گرځولی دی.[4]

سفیان رحمه الله فرمائی: «ما بالكوفة شاب أعقل من أبي أسامة»[5]

ابن سعد رحمه الله فرمائی رضي الله عنه «كان ثقة مأموناً كثير الحديث يدلس ويبين تدليسه وكان صاحب سنة وجماعة»[6] امام عجلی رحمه الله فرمائی: «كان ثقة وكان يعد من حكماء أصحاب الحديث»[7] ابن قانع رحمه الله فرمائی: «كوفي صالح الحديث»[8]

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړی دی.[9]

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی «حجة عالم أخباري»[10] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: «ثقة ثبت ربما دلس وكان بأخرة يحدث من كتب غيره»[11]

خنګه چه د علماء جرح وتعدیل اقوال ستاسو وړاندې دی. ټولو ددوی توثیق کړې دې. البته په دوی باندې دوه الزامات دی. یو دا چه دوی به تدلیس کول. دویمه دا چه سرقه د حدیث ئې کولو دابن سعد قول ذکر شو. دوی فرمائی رضي الله عنه «يدلس ويبين تدليسه» دغه شان د حافظ ابن حجر رحمه الله قول وړاندې نقل شو. «ربما دلس»

دغه شان ازدی د سفیان بن وکیع نه نقل کړی دی: «إني لأعجب كيف جاز حديث أبي أسامة كان أمره

---

[1] تهذيب الكمال(۷\۲۲۲) وسير أعلام النبلاء(۹\۲۷۸)_

[2] المصادر السابقة)-

[3] المصادر السابقة)_

[4] تارخ الدارمی(۹۲) رقم ۲٤۲)_

[5] تهذيب الكمال(۷\۲۲۳) وسير أعلام النبلاء(۹\۲۷۸)_

[6] الطبقات لابن سعد(۶\۳۹۵)_

[7] تهذيب التهذيب(۳\۳)_

[8] تهذيب التهذيب(۳\۳)_

[9] الثقات لابن حبان(۶\۲۲۲)_

[10] الكاشف(۱\۳٤۸) رقم ۱۲۱۲)_

[11] تقريب التهذيب(۱۷۷) رقم ۱٤۸۷)_

بيناً وكان من أسرق الناس لحديث جيد»(۱)
ددې الزاماتودا جواب دې چه ترځو پورې د تدليس تعلق دې نوورسره دابن سعد رحمه الله قول تيرشو چه «ويبين تدليسه» يعنی هغوی به خپل تدليس بيانولو. نو په داسې صورت کښې څه عيب نشته.
ترکومې پورې چه د سفيان بن وکيع رحمه الله دقول تعلق دې نوسفيان پخپله ضعيف دې (۲) اود دوی نه نقل کونکې ازدی هم ضعيف دې.(۳)
حافظ ذهبی رحمه الله ددوی تذکره په «ميزان الإعتدال» کښې کړې ده. اود «إنى لأعجب..» ددې قول نسبت ئې سفيان ثوری ته کړې دې.(۴) حالانکه د دې قائل سفيان ثوری رحمه الله نه دې بلکه سفيان بن وکيع دې.(۵)
ددې باوجودحافظ ذهبی رحمه الله فرمائی «أبوأسامة لم أورد له شئ فيه ولكن ليعرف أن هذا القول باطل»(۶)
خلاصه دا چه ابواسامه ثقه اوثبت راوی. داصول سته اصحابو ددوی احاديث په اتفاق قبول کړی دی.(۷) په ۲۰۱ھ کښې وفات شوې وو.(۸)
۳ بريدبن عبدالله: ددوی مختصره تذکره په «كتاب الإيمان» کښې د «باب أى الإسلام أفضل؟» لاندې تيره شوې ده.(۹)
دوی ابوبرده بريدبن عبدالله بن ابی بردة بن ابی موسی الاشعری کوفی رحمه الله دی.(۱۰)

---

(۱)تهذيب التهذيب(۳\۳)_
(۲)الكاشف(۱\۲۲۹) رقم ۲۰۰۵)_
(۳)الأزدى:هو ابوالفتح محمدبن الحسين الأزدى الموصلى.له ترجمة فى ميزان الإعتدال(۳\۵۲۳)..
قال الحافظ فى هدى السارى (ص.۴۰۰) فى ترجمة خثيم بن عراک الغفارى .. وشذ الأزدى فقال منكر الحديث . وغفل أبومحمد بن حزم فاتبع الأزدى وأفرط فقال لا تجوز الرواية عنه وما درى أن الأزدى ضعيف فكيف يقبل منه تضعيف الثقات)..
وانظر الرفع والتكميل للإمام اللكنوى وتعليقات شيخنا الفاضل العلامة عبدالفتاح أبوغدة رحمهما الله تعالى (ص.۲۱۷و ۲۷۴)_
(۴)ميزان الإعتدال(۱\۵۸۸) رقم ۲۲۳۵)_
(۵)هدى السارى(۳۹۹) وتهذيب التهذيب(۳\۳)_
(۶)ميزان الإعتدال(۱\۵۸۸) رقم ۲۲۳۵)_
(۷)هدى السارى(ص.۳۹۹)_
(۸)الكاشف(۱\۳۴۸) رقم ۱۲۱۲)_
(۹)كشف البارى(۱\۶۹۰)_
(۱۰)تهذيب الكمال(۴\۵۰)_

دوى دخپل نيكه.حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه دخپل پلارعبدالله بن ابى برده.حسن بصرى.
عطاء بن ابى رباح.ابوايوب صاحب انس رحمهم الله نه روايت كړې دې.
اوددوى نه روايت كونكى ابواسامه حمادبن اسامه.سفيان ثورى.سفيان بن عيينه.عبدالله
بن المبارك.حفص بن غياث.على بن مسهر. ابونعيم. ابومعاويه.ضرير.يحى بن سعيد
اموى رحمهم الله وغيره حضرات دى.(١)

ابن معين اوعجلى رحمهماالله فرمائى.((ثقة))(٢)

امام ابوداوداوامام ترمذى رحمهماالله هم دوى لره ثقه ګرځولې دى.(٣)

امام نسائى رحمه الله فرمائى.((ليس به بأس))(٤)

خودامام نسائى رحمه الله نه دا هم منقول دى.((ليس بذاك القوى))(٥)

امام احمد رحمه الله فرمائى.((بريد يروى أحاديث مناكير))(٦)

ابن حماد رحمه الله فرمائى.((ليس بذاك القوى))(٧)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.((ليس بالمتين يكتب حديثه))(٨)

خلاصه دا چه بعضې امامانود رجالو مثلاً امام يحيى بن معين.امام ترمذى.امام
عجلى.اوامام ابوداود رحمهم الله مطلقاً ددوى توثيق كړې دې. حالانكه نورو عالمانو رحمهم الله ددوى
لره غوندې تضعيف كړې دې.

دامام نسائى نه چه((ليس بذاك القوى))تضعيف منقول دې.نوورسره ((ليس به بأس)) توثيق هم
مروى دې.

بيا حافظ رحمه الله دا تصريح كړې ده.چه امام نسائى په((ليس بذاك القوى))سره د راوى غيرحافظ
ته اشاره كوى.(٩)

---

(١) دشيوخ اوتلامذه دپاره اوګورئ تهذيب الكمال(٥٠/١٤)_
(٢) تهذيب الكمال(٥١/١٤)_
(٣) تهذيب التهذيب(٤٣٢/١١)_
(٤) تهذيب الكمال(٥١/١٤)_
(٥) الضعفاء والمتروكين للنسائى(ص.٢٨٦)_
(٦) الضعفاء للعقيلى(١٥٨/١١)_
(٧) الكامل لابن عدى(٦٢/١٢)_
(٨) تهذيب الكمال(٥١/١٤)_
(٩) قال الحافظ فى هدى السارى(ص.٣٨٦) ترجمة أحمدبن بشيرالكوفى. فأما تضعيف النسائى له فمشعربانه
غير حافظ).

امام احمد رحمه الله بعضې وخت د «مناكير» اطلاق په ..افراد.. اوغرائب ..باندې هم كوى.[1]

دلته كښې هم دا خبره ده خكه چه ددوى احاديث اصحاب اصول سته قبول كړى دى.[2]

حافظ ابن عدى رحمه الله فرمائى: «روى عنه الأئمة والثقات ولم يرو عنه أحد أكثرمما رواه ابوأسامة وأحاديثه عنه مستقيمة وهوصدوق وقد أدخله أصحاب الصحاح فيها ..وأرجوأن لايكون به بأس».[3]

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: «وهوصدوق موثق».[4]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى: «احتج به الأئمة كلهم وأحمد وغيره يطلقون المناكيرعلى الأفراد المطلقة».[5]

دوى د ۱۴۰ھ نه پس وفات شوى وو.[6] رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

④ **ابوبُردة**: ددوى نوم عامريا حارث دې. دوى دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه خوئې دې او بريدبن عبدالله چه ددوى راوى دې ددوى نيكه دې.

ددوى حالات په «كتاب الإيمان باب أى الإسلام أفضل» لاندې تيرشوى دى.[7]

⑤ **حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه**: ددوى حالات هم په مذكوره باب كښې تيرشوې دى.

قوله: مَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ مِنَ الْهُدَى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيرِ أَصَابَ أَرْضًا: الله تعالى چه دهدايت اوعلم خبرې راكړې دى. اوزه ئې راليږلې يم. ددې مثال د تيزباران دې چه په زمكه باندې اووريږى.

«مثل» دصفت عجيبه دپاره راځى. دلته هم دا معنى مراد ده.[8]

اوكله «مثل» د «قول سائر» دپاره استعمالوى. يعنى هغه كلام كوم چه د يوې خاص واقعه سره تعلق ساتى. اوهغې طرف ته په كښې اشاره وى.[9] لكه «تابط شرًا»

قوله: الْهُدَى: دهدايت لفظ مشترك طورباندې د ارشاد يعنى «إراءة الطريق» اوتوفيق

---

[1] الرفع والتكميل فى الجرح والتعديل(ص.۲۰۱و ۲۰۲)_

[2] هدى السارى(ص.۳۹۲)_

[3] الكمال لابن عدى(۶۳/۲و ۶۴)_

[4] تعليقات تهذيب الكمال (۵۴/٤) نقلاً عن تاريخ الإسلام للذهبى)_

[5] هدى السارى(۳۹۲)_

[6] سيرأعلام النبلاء(۲۵۲/۶)_

[7] كشف البارى(۶۹۰/۱)_

[8] فتح البارى(۱۷۶/۱)_

[9] المصدرالسابق)_

اوتائيد اوحفظ اوعصمت يعنى ((ايصال الى المطلوب)) دپاره استعماليږى.(١)
كله چه نبى كريم ﷺ يا قرآن يا عاموخلقو ته نسبت اوشى.نومراد ترې اولنئ معنى وى.يعنى
((اراءة الطريق)) لكه ﴿وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ (٢) او ﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ﴾ (٣)
﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ (٤)
اوكه الله تعالى طرف ته منسوب وى.نوكله خو هم دا ((اراءة الطريق)) معنى مراد وى.لكه
﴿وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ﴾ (٥) واما ثمود فهديناهم فاستحبوا العمى على الهدى (٦) اوكله دتوفيق اوتائيد په
معنى كښې يعنى دويمه معنى (ايصال الى المطلوب) كښې استعماليږى.لكه آيت كريمه
دې.﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ﴾ (٧)

قوله: الْعِلْمِ: ددې نه مرادهغه علم دين دې.كوم چه الله تعالى د نبى ﷺ په قلب باندې نازل كړې وو.يعنى قران عظيم.كوم ته چه وحى متلو وائى.دغه شان داحاديثو په صورت كښې چه ئې د نبى ﷺ په زړه باندې القاء كړې ده.كوم ته چه وحى غيرمتلو وائى.

قوله: الْغَيْثِ الْكَثِيرِ: غيث هغه باران ته وائى.كوم چه ډيرد فائدې وى.(٨)
نبى كريم ﷺ خپل علوم ربانيه كوم چه دوى ته وركړې شوى وو.اوهغه هدايت كوم چه دوى ته وركړې شوې وو.دهغه باران سره تشبيه وركړه.كوم چه د قحط سالئ په زمانه كښې راځى.اوپه ښه شان سره خلق هډوبوى.نولكه څنګه چه دغه باران په مړه زمكه كښې ژوند پيدا كوى.دغه شان كله چه نبى ﷺ پيغمبرجوړشو.نوپه دنياكښې دجهالت تيرې خورې شوې وې.خلق دهدايت تګى وو.خوهغوى ته دهدايت چينه معلومه نه وه.الله تعالى د نبى كريم ﷺ په ذريعه د هدايت باران اوكړو.په كوم سره چه مړه زړونه ژوندى شول.

قوله: أَصَابَ أَرْضًا فَكَانَ مِنْهَا نَقِيَّةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ فَأَنْبَتَتِ الْكَلَأَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيرَ: هغه باران كله چه په زمكه باندې اوشو.نوبعضې زمكې ښې وې.اوبه ئې جذب كړې.اوپه هغې كښې ښه ګياه او شينكئ پيدا شوه.
باران چه كله په زمكه اوشو.نو دزمكې د مختلفوحصو په اعتبار سره مختلف ثمرات او

(١) د تفصيل دپاره اوګورئ روح المعانى (١١١/٩ و ٩٢)_
(٢) سورة الشورى:٥٢)_
(٣) الإسراء:٩)_
(٤) سورة البقرة:٢)_
(٥) البلد:١٠)_
(٦) فصلت:١٨)_
(٧) القصص:٥٦)_
(٨) الغيث:المطر.. وقيل هو المطر الخاص بالخير الكثير النافع .. تاج العروس(٩٣٧/١١)_

آثار مرتب شول. یوه حصه د داسې زمکې وه. کومه چه «نقية» یعنی زرخیزه وه.

«نقية» دبخاری په تولونسخوکښې هم دغه شان «نقية» په نون اوقاف سره ده.(۱) مراد زرخیزه زمکه ده. اوپه مسلم شریف کښې د«نقية»په ځائې «طيبة»واقع شوې ده.(۲) دغې معنی هم زرخیزه زمکه ده.

دامام خطابی ،حمیدی رحمهما الله وغیره په روایت کښې دی.«ثغبة(بالثاء المثلثة المفتوحة والغين المعجمة المكسورة بعدها باء موحدة خفيفة مفتوحة»ضبط کړې ده.(۳)

خطابی رحمه الله فرمائی.«ثغبة» هغه کندوته وائی.کوم چه په غرونو او کاڼړو کښې وی.په کوموکښې چه د باران اوبه جمع کیږی.(۴)

قاضی عیاض رحمه الله فرمائی.چه دا«رواية» هم غلط دې.اومعناً هم غلط دې.ځکه چه دلته نې«نقية»ونیلی دی.دطائفه اولی صفت کول مقصود دی. او که «ثغبة»اوګرځولې شی.نودا به د دویمې ډلې صفت شی.(۵)

په یوروایت کښې «بقعة»هم راغلی دی.دکوم معنی چه «طائفة»ده.(۶)

ابن رجب رحمه الله فرمائی.چه په یو روایت کښې «بقية»،بالباء الموحدة مكان النون،، راغلی دی.(۷)

ابن رجب رحمه الله فرمائی.چه ددې معنی «القطعة الطيبة»ده.اودا معنی صحیح ده.لکه څنګه چه ونیلی شی.«فلان بقية الناس»یعنی په نیکانوکښې خواوس بس فلانې پاتې شوې دې.(۸) والله أعلم.

قوله: الْكَلَأَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيرَ: «كلاء»مطلقاً ګیاه ته وائی.برابره ده که شنه ګیاه وی اوکه وچه.او«عشب»شنې ګیاه ته وائی.(۹) لکه چه دا «من قبيل عطف الخاص على العام»دې.(۱۰)

---

(۱)فتح الباری(۱۷۶/۱)_
(۲)صحيح مسلم كتاب الفضائل باب بيان مثل ما بعث النبى ﷺ من الهدى والعلم رقم ۵۹۵۳)_
(۳)فتح الباری(۱۷۶/۱) وأعلام الحديث للخطابى(۱۹۷/۱)_
(۴)أعلام الحديث(۱۹۸/۱)_
(۵)فتح الباری(۱۷۶/۱)_
(۶)المصدر السابق)_
(۷)فتح الباری(۱۷۶/۱)_
(۸)المصدر السابق)_
(۹)مختار الصحاح (ص،۵۷۵) ماده ک.ل.و(ص،۴۳۲) ماده ع. ش. ب)_
(۱۰)فتح الباری(۱۷۶/۱)_

قوله وَكَانَتْ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتْ الْمَاءَ فَنَفَعَ اللَّهُ بِهَا النَّاسَ فَشَرِبُوا وَسَقَوْا وَزَرَعُوا: او بعضې زمكې سخته كانړيچنه وه.چه اوبه ايسارې كړې.الله تعالى په هغې سره هغه خلقو ته فائده ورکړه.چاچه پخپله اوڅكلې او(څاروباندې نې) اوڅكولې.اوكركرونده نې پرې اوكره.

«اجادب»دا خلاف القياس ،،جدب،، «بفتح الدال المهملة» جمع ده.«وهى الأرض الصلبة التى لا ينصب منها الماء» يعنى جندب داسې زمكې ته وائى. كومه چه كلكه او سخته وى.اوپه هغې كنبې دننه اوبه نشى تلې.(١)

ذا ذكرشوې روايت د اكثرو حضراتود روايت مطابق دې.اودابوذر رضي الله عنه په روايت كښې «إخاذات» «بكسر الهمزة وبالخاء والذال المعجمتين بينهما ألف وآخره مثناة من فوق قبلها ألف» راغلى دې.(٢)دا د«إخاذة»جمع ده.حوض ته وائى.(٣)

بيا اسماعيلى دابوكريب نه «أحارب» نقل كړى دى.(٤) خوخطابى رحمه الله فرمائى.«ليست هذه الرواية بشئ»(٥)

بعضودا «أجارد» لوستې دې.كوم چه د «جرداء» جمع ده.«جرداء» داسې اوچتې زمكې ته وائى.په كومه كښې چه څه نه رازغونيږى.(٦)

امام خطابى رحمه الله فرمائى.كه دا لفظ روايةً ثابت شى.نومعنى نې صحيح كيدې شى.

صاحب دمطالع دا ټول اختلافات روايةً ثابت كړى دى.(٧) حالانكه په صحيحينوكښې صرف دوه قسم روايات ثابت دى.يعنى «أجادب»او«إخاذات»(٨)

قولــه: زَرَعُــوا: دلتـه دا لفظ د«زرع»نـه مـشتق دې.حالانكـه دمـسلم پـه روايت كښې «رعوا»راغلې دې.(٩)

---

(١)فتح البارى(١\١٧٦) وتاج العروس(١\١٧٧)_
(٢)فتح البارى(١\١٧٦)_
(٣)تاج العروس (١\١٧٧)_
(٤)فتح البارى(١\١٧٦) وأعلام الحديث (١\١٩٨)_
(٥)المصادرالسابقة)_
(٦)المصادرالسابقة)_
(٧)فتح البارى(١\١٧٦)_
(٨)المصدرالسابق)_
(٩)صحيح مسلم كتاب الفضائل باب بيان مثل ما بعث النبى صلى الله عليه وسلم من الهدى والعلم رقم ٥٩٥٣)_

کوم چه د ((رعی)) یعنی څرولونه مشتق دي. امام نووی رحمه الله فرمائي. دواړه معانی صحیح دی.(۱)

قوله وَأَصَابَتْ مِنْهَا طَائِفَةً أُخْرَى إِنَّمَا هِيَ قِيعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ كَلَأً: اوبه بعضي داسې زمکه باندې باران اووريږی. کوم چه صفا ميدان وی چه نه اوبه اوساروی. اونه په هغې کښې گیاه راټوکیږی.

قوله قِيعَانٌ: دا ((قاع)) جمع ده. د ((قاع)) معنی ده ((الأرض المتسعة المستوية)) او بعضې وائی ((الأرضة الملساء)) اوبعضې وائی ((الأرض التي لا تنبت))(۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله دلته دا درې واړه معانی جمع کړی دی. اوليکلی دی ((الأرض الملساء التي لاتنبت))(۳) یعنی هغه سخت میدان په کوم کښې چه څه نه راټوکیږی.

قوله فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِي دِينِ اللَّهِ وَنَفَعَهُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ: دا دهغه کس مثال دې چا چه دالله تعالی په دین کښې پوهه پیدا کړه. اوالله تعالی چه په کوم څیزه رالیږلې یم. هغه ته ئې په دې سره فائده اورسوله. نوهغه پخپله زده کړو اونورو ته ئې اوخودل.

د ((فقه)) معنی په لغت کښې د فهم راځی.

((فَقِهَ يَفْقَهُ فِقْهاً)) پوهیدل. ((فَقُهَ يَفْقُهُ فَقَاهَةً)) فقیه جوړیدل. ((فَقَهَ فَقْهاً وفِقْهاً)) پیژندل.(۴)

بیا صاحب العین اوعلامه هروی رحمهما الله فرمائی. چه دفقه شرعی اوفقه فی الدین دپاره ((فقُه)) بضم القاف، استعماليږی. اوابن درید رحمه الله فرمائی. چه ((فقِه)) بکسر الفاء، استعماليږی.(۵)

ابن التین رحمه الله فرمائی. چه دلته روایت بالکسر دي. مگر مناسب ضمه ده.(۶)

امام نووی رحمه الله فرمائی. روایت دواړه قسمه دي. خوضمه مشهوره ده.(۷)

اوس که دا ((فقه)) بالضمه وی. نوبیا خو څه اشکال نشته. ځکه چه روایت بضم القاف دي اودلته

---

(۱) شرح النووی علی صحیح مسلم (۲۴۷/۲)۔
(۲) عمدة القاری (۷۸/۲)۔
(۳) فتح الباری (۱۷۷/۱)۔
(۴) تفصیل دپاره اوگورئ لسان العرب (۵۲۲/۱۳)۔
(۵) عمدة القاری (۷۸/۲) وشرح نووی لمسلم (۲۴۷/۲) کتاب الفضائل باب بیان مثل ما بعث النبی ﷺ من الهدی والعلم رقم ۵۹۵۳)۔
(۶) فتح الباری (۱۷۷/۱)۔
(۷) شرح نووی لصحیح مسلم (۲۴۷/۲)۔

چه کومه معنی مراد ده. یعنی «فقه فی الدین» ددې دپاره هم بضم القاف استعمالیږی.نو روایت دلغت مطابق دې.

اوکه بالفرض د ابن التین رحمه الله خبره معتبره اوګنړلې شی.چه روایت بکسر القاف دې.نوبیا چونکه د ابن درید د تصریح مطابق «فقه» بکسر القاف ،د «فقاهت فی الدین» دپاره راځی.نوبه روایت اولغت کښې به مطابقت اوشی. (۱) والله أعلم.

قوله: وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذَلِكَ رَأْسًا وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللَّهِ الَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ: اودهغه کس مثال چه سرئې اوچت نکړو.اوتوجه ئې اونکړه،اونه ئې د الله تعالی دا هدایت قبول کړو. کوم چه ما راوړې دې.

په مثال اوممثل له کښې مطابقت: دلته یواشکال دا کیږی.چه دلته په مثال اوممثل له په مینځ کښې مطابقت نشته.ځکه چه په مثال کښې درې څیزونه ذکردی.یعنی «① أرض نقية طيبة قبلت الماء وأنبت الكلأ والعشب الكثير ② ارض جدباء أمسكت الماء ③ قيعان لاتمسك ماء ولا تنبت كلاء»

اوپه ممثل له کښې صرف دوه څیزونه ذکردی.«① من فقه فی دین الله ونفعه مابعثنی الله به فعلم وعلم ② اومن لم يرفع بذلك رأسا ولم يقبل هدى الله الذى أرسلت به»

ددې اشکال یوجواب خودا ورکولې شی.چه دلته څنګه په مثال کښې درې څیزونه مذکور دی.په ممثل له کښې هم درې څیزونه مذکور دی.

په زمکه کښې ددرې قسمونو پشان به په ممثل له کښې درې قسمونه داسې جوړیږی.چه یو خو«من فقه فی دين الله» دې.دویم قسم «من نفعه مابعثنى الله به فعلم وعلم»اودریم قسم «من لم يرفع بذلك رأسا ولم يقبل هدى الله الذى أرسلت به» دې.

دغه شان چه درې قسمونه اوګرځولی شی.نود «نفعه» نه به وړاندې یو«من» موصوله مقدرګنړلې شی.اوداسې په کلام دعربوکښې وی.دحضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه شعردې.

قوله: أمن يهجو رسول الله منكم ويمدحه وينصره سواء: آیا په تاسوکښې چه څوک د نبی صلی الله علیه وسلم هجو کوی.هغه اوهغه کس څوک چه ستاسوتعریف اومدح کوی.دواړه برابریدې شی؟!

په دې شعرکښې د «يمدحه»نه وړاندې «من»موصوله مقدر دې.لکه چه اصل عبارت داسې دې.«أمن يهجو رسول الله منكم ومن يمدحه وينصره سواء» ددې تفصیل نه به تاسو پوهه شوې ئې.

---

(۱) شرح نووی (۲\۲۴۷) وعمدة القاری (۲\۷۸)_

چه په مثال اوممثل له كښې مطابقت موجود دې.
لكه چه په مثال اوممثل له كښې به د تطبيق صورت دا وى.

(۱)((من فقه في دين الله)) په مقابله د ((أجادب أمسكت الماء فنفع الله بها الناس))

(۲)((من نفعه بما بعثني الله به فعلم وعلم)) په مقابله د ((أرض نقية قبلت الماء فأنبتت الكلأ والعشب))

(۳)((من لم يرفع بذالك رأسا ولم يقبل هدى الله)) په مقابله د ((قيعان لاتمسك ماء ولاتنبت كلأ))[1]

البته دلته دا سوال كيدې شى.چه ((نفعه)) نه وراندې ئې ((من)) ولې حذف كړو.اودا ئې په ((فقه)) باندې ولې عطف كړو؟

ددې جواب دا دې.چه په دې حذف كښې يو باريكه اشاره ده.چه دعلم په دې دواړو صورتونو كښې د نفعې رسولووصف مشترك دې.اګرچه نوعيت د انتفاع مختلف دې.

داصل اشكال دويم جواب دا وركولې شى.چه تقسيم ثنائى اوګرځولې شى.هغه داسې چه لكه څنګه په ممثل له كښې دوه څيزونه دى.((من فقه في دين الله ونفعه ما بعثني الله به فعلم وعلم)) او ((من لم يرفع بذلك رأسا ولم يقبل هدى الله الذى أرسلت به))

دغه شان په مثال كښې هم ددوو څيزونو اعتباراوكړې شى.[2]

علامه طيبى رحمه الله فرمائى.چه په حديث كښې صرف ددو طرفونو ذكر دې.يو د ((أعلى في الهداية)) اوبل د ((أعلى في الضلال)) ددې په مينځ كښې چه كومې چه دوه درجې دى.يعنى ((من انتفع بالعلم ولم ينفع به غيره)) او ((من نفع به غيره ولم ينتفع بنفسه)) هغه متروك دې.د ((أعلى في الهداية)) درجه ئې د ((من فقه في دين الله)) عنوان سره او ((أعلى في الضلال)) ئې په ((من لم يرفع بذلك رأسا)) په عنوان سره ذكركړو.اود عطف تفسيرى پشان ئې د ((فقه)) نه پس ((ونفعه بما بعثني الله به)) اود ((لم يرفع بذلك رأسا)) نه پس ئې ((ولم يقبل هدى الله الذى أرسلت به)) ذكركړو.په كوم سره چه دجانبيوواضح اوپوره تصور مخامخ راغلو.چه اعلى درجه هدايت يافته هغه كس دې.چاچه علم حاصل كړو.اوبيا ئې پخپله په هغې باندې عمل اوكړو.اونوروته ئې دهدايت لاره اوخودله. دغه شان ((أعلى في الضلال)) هغه كس دې.چا چه د پيغمبراسلام ﷺ د راوړى اسلام قبلولو خولويه خبره.ده.دتكبرپه وجه ئې سر پورته هم نكړو چه هغې ته اوګورى.

نوڅنګه چه په ممثل له كښې دوه څيزونه دى.دغه شان په مثال كښې هم دوه څيزونه دى.يو دفائدې زمكه اوبله د هغه زمكه چه فائده نه وركوى.بيا لكه څنګه چه د فائدې د زمكې دوه صورتونه دى.يو هغه چه پخپله هم فائده اخلى.اونورو ته هم فائده وركوى.اوبله

---

[1] شرح الكرمانى(۲\۵۸)_
[2] شرح الكرمانى(۲\۵۸)_

هغه چه صرف نورو ته فائده ورکوی اوپخپله فائده نه اخلی.(۱)

علامه سندهی رحمه الله فرمائی چه په حدیث کښې د «کمثل الغیث الکثیر أصاب أرضا..» نه «ارض مقید» مراد ده یعنی «ارض هی محل الانتفاع» اودا قید ئې د سامع په فهم باندې پریخودې دې ځکه چه په تفصیل کښې چه د کومو دوو صورتونوذکردې.هغه هم دقابل انتفاع صورتونه دی.دغه شان چه کومې زمکې سره مقابله شوې ده.هغه ناقابل انتفاع ده.لکه چه دلته هم دوه قسمونه ذکر دی.یو«أرضاً هی محل الانتفاع»اودویمه «قیعان لاتمسک ماء ولاتنبت کلأ» ددې تشریح مطابق «أصابت منها طائفة أخری» مرجع «أصاب أرضاً» ده.کوم چه په ابتداء دکلام کښې ذکردې.اوپه «أصابت منها» کښې د «منها» د ضمیرمرجع«مطلق أرض» ده.«ارض نقیة مجموعه.«کماهوالظاهر»

خلاصه دا شوه.چه د باران کوم مثال چه ئې ورکړې دې.اود زمکې تقسیم ئې کړې دې.دا دوو قسمونو ته شامل ده.یوه قابل انتفاع اوبله ناقابل انتفاع،اوبیا ئې قابل انتفاع اومحل انتفاع په دوو قسمونوکښې تقسیم کړې ده.یوهغه قسم دې.چه په هغې کښې کوم باران وریږی.دهغې د فواندو او ثمراتوته نه فائده اخستې شی.اوبل قسم هغه دې.چه بعینه هم دهغه اوبو نه فائده اخستې شی.لکه چه دا په دې خبره باندې تنبیه ده.چه دکوموخلقو دعلم نه فائده اخستې شی.هغه په دوه قسمه دی.یوقسم خلق هغه دی.چه دهغوی دعلم د فواندو او ثمراتونه فائده اخستې شی.لکه علماء مجتهدین، اویوقسم هغه خلق دی.چه بعینه دهغوی دعلم نه فائده اخستې شی.لکه اصحاب حفظ روایت،ځکه چه دوی بعینه علوم منتقل کوی.دعلومو فوائد اوثمرات نه منتقل کوی.(۲)والله أعلم.

دغه شان په مثال اوممثل له کښې تطبیق کیږی.اوهیڅ قسم اشکال باقی نه پاتې کیږی.

قوله: قَالَ أَبُوعَبْدِاللّٰهِ قَالَ إِسْحَاقُ:ابوعبدالله یعنی امام بخاری رحمه الله فرمائی.چه امام اسحاق بن راهویه رحمه الله فرمائیلی دی.

قوله: اسحاق بن راهویه رحمه الله: دا مشهور دفقة اوحدیث امام اسحقاق بن ابراهیم بن مخلد خظلی مروزې نزیل نیسابور دې ابویعقوب ددوی کنیت دې.اوداابن راهویه په نوم باندې مشهور دې.(۳)

کله چه ددوی نه تپوس اوشو.چه دوی ته ولې ابن راهویه وئیلی شی.نودوی اوفرمائیل.چه زما پلارد مکې معظمې په لارکښې پیدا شوې وو.دسفرملګرو ورته راهویه وئیل شروع کړو.ددوی پلاربه خپل دا لقب بدګڼرلو.اوابن اسحاق رحمه الله ته په دې کښې څه بدیت نه ښکاریدل.(۴)

---

(۱)شرح الطیبی (۱|۳۱۱) کتاب الإیمان باب الإعتصام بالکتاب والسنة.الفصل الأول)_
(۲)حاشیة السندی علی الصحیح البخاری(۱|۲۶و ۲۸)_
(۳)تهذیب الکمال(۲|۳۷۳) وفتح الباری(۱|۱۷۷)_
(۴)تهذیب الکمال(۲|۳۷۹)_

د راهویه رحمه الله تلفظ ((راهويه)) څنګه چه د ((اسامي)) په لفظ کښې د اهل عربيت او محدثينو اختلاف دې.اهل عربيت ددې آخرى جزء ((وَيْه)) لولي. يعنى ((بفتح الواو وسكون الياء التحتانية وبعدها هاء مكسورة)) او((واو)) نه وړاندې حرف باندې فتحه وائي.يعنى ((راهَوَيه))[1]

حالانكه محدثين رحمهم الله ((راهُويه)) وائي.يعنى په ((هاء)) باندې ضمه وائي.اوددې نه پس په واو باندې سكون.ددې نه پس په ((ياء)) باندې فتحه، او په آخركښې ((هاء)) باندې سكون وائي.[2]

په ۱۶۱ھ کښې ولادت شوې وو.[3]

دوى د فضل بن موسى سينانى،فضيل بن عياض،معتمربن سليمان، ابوخالد الاحمر. جريربن عبدالحميد،سفيان بن عيينه،ابومعاويه الضرير، محمدبن جعفرغندر،اسماعيل بن عليه،وكيع بن الجراح،نضرين شميل، يحيى بن سعيد القطان،عبدالرحمن بن مهدى، اوعبدالرزاق بن همام صنعانى رحمهم الله نه علاوه د نورو ډيروحضراتونه دحديث روايت كړې دې.

اوددوى نه دحديث روايت كونكوكښې،ددوى خپل شيخ،يحى بن آدم او بقية بن الوليد دى دغه شان ددوى اقران امام احمد،امام ابن معين،هم ددوى نه روايت كوى.ددوى نه علاوه امام بخارى،امام مسلم،امام ابوداود،امام نسائى،امام ترمذى،احمدبن سلمه،محمدبن نصرمروزى، جعفر فريابى، او ابوالعباس السراج رحمهم الله وغيره حضراتوددوى نه د حديث روايت كړې دې.[4]

دامام احمد رحمه الله نه چه كله دامام اسحاق بن راهويه رحمه الله په باره كښې تپوس اوشو نو وې فرمائيل.((مثل إسحاق يسأل عنه؟ إسحاق عندنا إمام))[5]

دغه شان دوى به فرمائيل.((لاأعرف لإسحاق في الدنيا نظيرا))[6]

امام نسائى رحمه الله فرمائى.((ابن راهويه أحد الأئمة ثقة مأمون))[7]

---

[1])وسيبويه:بكسرالسين المهملة وسكون الياء المثناة من تحتها وفتح الباء الموحدة والواو وسكون الياء الثانية وبعدها هاء ساكنة .. هكذا يضبط أهل العربية هذا الإسم ونظائره مثل نفطويه عمرويه وغيرهما.... وفيات الأعيان لابن خلكان (٣\٤٦٥) ترجمة سيبويه:ولكن ابن خلكان قد ضبط ..راهويه.. بسكون الهاء بعدالألف انظر وفيات الأعيان (١\٢٠٠) وهويخالف ما ذكر من ضبط سيبويه ونظائره فتنبه)_

[2])تاج العروس للزبيدى(١\٣٠٥) مادة ..سيب..)_

[3])سيرأعلام النبلاء (١١\٣٥٩)_

[4])دشيوخ اوتلامذو دپاره اوګورئ ((تهذيب الكمال (٢\٣٧٣و ٣٧٧) وسيرأعلام النبلاء(١١\٣٥٩و ٣٦٠)_

[5])تهذيب الكمال(٢\٣٨٢) وسيرأعلام النبلاء(١١\٣٧٢)_

[6])المصادرالسابقة)_

[7])سيرأعلام النبلاء(١١\٣٧٢) وتهذيب الكمال(٢\٣٨٣)_

سعيد بن ذویب رحمه الله فرمائی.«ما أعلم على وجه الأرض مثل إسحاق»[۱]
ابن خزیمه رحمه الله فرمائی.«والله لو كان إسحاق في التابعين لأقروا له بحفظه وعلمه وفقهه»[۲]
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«أحد الأئمة الأعلام ثقة حجة»[۳]
دغه شان دوی فرمائی.«قد كان مع حفظه إماماً في التفسير رأساً في الفقه، من أئمة الإجتهاد»[۴]
ابن حبان فرمائی«وكان إسحاق من سادات زمانه فقهاً وعلماً وحفظاً ونظراً ممن صنف الكتب وفرع السنن وذب عنها وقمع من خالفها»[۵]
خلاصه دا چه دامام اسحاق بن راهویه په ثقاهت،عدالت اوحجیت باندې اتفاق دې.
خوامام ابوداود رحمه الله فرمائی.«إسحاق بن راهويه، تغير قبل أن يموت بخمسة أشهر سمعت منه في تلك الأيام فرميت به»[۶]
حافظ ذهبی رحمه الله ددې دیرسخت تردید کړې دې.هغوی فرمائی.«هذه حكاية منكرة وفي الجملة فكل أحد يتعلل قبل موته غالباً ويمرض فيبقى أيام مرضه متغير القوة الحافظة ويموت إلى رحمة الله على تغيره ثم قبل موته يسير يختلط ذهنه ويتلاشى علمه فإذا قضى زال بالموت حفظه فكان ماذا؟ أيمثل هذا يلين عالم قط؟كلا والله ولا سيما مثل هذا الجبل في حفظه وإتقانه»[۷]
ددې نه پس هغوی دوه منکر حدیثونه ذکرکړی دی.په کوموکښې چه احتمال شته.چه نکارت دامام اسحاق بن راهویه رحمه الله په وجه نه وی.بلکه دبل یو راوی په وجه وی.(۸) اوکه د امام اسحاق بن راهویه رحمه الله په وجه نکارت تسلیم کړې شی.نوبیا هم دهغوی ثقاهت، حفظ واتقان ته څه نقصان نه رسوی.ددې وجې حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«ومع حال إسحاق وبراعته في الحفظ يمكن أنه لكونه كان لا يحدث إلا من حفظه جرى عليه الوهم في حديثين من سبعين ألف حديث، فلو أخطأ منها في ثلاثين حديثاً لما حط ذلك رتبته عن الإحتجاج به أبداً، بل كون إسحاق تتبع حديثه، فلم يوجد له خطأ قط سوى حديثين يدل على أنه أحفظ أهل زمانه»[۹]

---

[۱])المصادر السابقة)_
[۲])المصادر السابقة)-
[۳])ميزان الإعتدال(۱۸۲\۱ و ۱۸۳)_
[۴])سير أعلام النبلاء(۳۷۵\۱۱)_
[۵])الثقات لإبن حبان(۱۱۶\۸)_
[۶])ميزان الإعتدال(۱۸۳\۱)_
[۷])سير أعلام النبلاء(۳۷۷\۱۱ و ۳۷۸)_
[۸])سير أعلام النبلاء(۳۷۸\۱۱ و ۳۷۹)_
[۹])سير أعلام النبلاء(۳۷۹\۱۱)_

دامام اسحاق بن راهويه رحمه الله وفات په ۲۳۸ھ كښې شوې وو.(۱) ((رحمه الله رحمة واسعة))

قوله كَانَ مِنْهَا طَائِفَةٌ قَيَّلَتْ الْمَاءَ: يعنى امام اسحاق بن راهويه رحمه الله د ((قبلت)) په خائې ((قيلت)) روايت كړې دې.

ابن بطال، اصيلى، اوقرطبى رحمهم الله فرمائى چه دا تصحيف دې.صحيح روايت ((قبلت)) دې.(۲)

چونكه نورو عالمانو رحمهم الله د ((قيلت)) روايت هم صحيح كړې دې. او توجيه ئې كړې ده.چه ددې معنى ((شربت)) ده.خكه چه ((قيل)) ((شرب نصف النهار)) ته وائى.ونيلى شى.((قيلت الإبل، أى شربت فى القائلة)).(۳)

خوامام قرطبى رحمه الله په دې باندې اعتراض كړې دې.چه دلته خود مطلق شرب معنى صحيح كيدې شى.خود ((نصف النهار)) په قيد سره دمقيد كولوخه معنى ده؟ (۴)

خوددې جواب دا وركولې شى.چه د ((قيل)) معنى اګرچه ((شرب نصف النهار)) سره مختص ده.خومجازاً كه دمطلق شرب دپاره استعمال شى.په دې كښې څه حرج نشته.(۵) لكه څنګه چه د ((مشفر)) لفظ په اصل كښې د اوښ د شونډې دپاره استعماليږى.خومجازاً دانسان د شونډې دپاره هم استعماليږى. (۶)

ابن دريد رحمه الله فرمائى.چه دلته د ((قيلت)) معنى صحيح ده.خكه چه كله په يوځائې كښې اوبه جمع شى.نو ونيلى شى.((قيل الماء فى المكان المنخفض)).(۷)

خوعلامه قرطبى رحمه الله ددې ترديد كړې دې.اوفرمائيلى ئې دى.چه په دې صورت كښې به د تمثيل معنى فاسده شى.خكه چه ((اجتماع الماء)) چه په كومه زمكه كښې وى.هغه د دويمې ډلې مثال دې.حالانكه دلته كلام د اولنى قسم سره متعلق دې.چه اوبه جذب كړى.اوګياه راوټوكوى.(۸)

علامه قطب الدين اوعلامه كرمانى رحمهما الله فرمائى.چه دامام اسحاق بن راهويه رحمه الله

---

(۱)تهذيب الكمال(۳۸۸/۲)_
(۲)شرح صحيح البخارى لابن بطال(۱۶۴/۱) وفتح البارى(۱۷۷/۱)_
(۳)تاج العروس(۹۲/۸) وفتح البارى(۱۷۷/۱)_
(۴)فتح البارى(۱۷۷/۱)_
(۵)فتح البارى(۱۷۷/۱)_
(۶)تاج العروس(۳۰۸/۳)_
(۷)فتح البارى(۱۷۷/۱)_
(۸)المصدر السابق)_

روايت دلته د ((تهلت)) او ((تيلت)) اختلاف سره متعلق نه دې بلکه مقصود دا دې چه نورو راويانو ((وكان منها نقية تهلت الماء)) نقل کړې دې حالانکه امام اسحاق رحمه الله د ((نقية)) په ځائې د ((طائفة)) لفظ نقل کړې دې.(١)

علامه کرمانی رحمه الله فرمانی چه په بعضې نسخوکښې دلته د ((قال إسحاق)) په ځائې ((عن أبي أسامة)) زيادت هم شته. دصغانی په نسخ کښې داسې ده.(٢) نوګويا چه مطلب به دا شی چه محمدبن العلاء شيخ بخاری رحمه الله د خپل استاذ ابواسامه حمادبن اسامه نه ((وكان منها نقية تهلت الماء)) نقل کړې دې حالانکه اسحاق بن راهويه رحمه الله شيخ دامام بخاری رحمه الله هم دخپل شيخ ابواسامه حمادبن سلمه نه ((وكان منها طائفة تهلت الماء)) نقل کړې دې.(٣) ((والله أعلم))

قوله: قَاعٌ يَعْلُوهُ الْمَاءُ: ((قاع)) هغه زمکې ته وائی چه اوبه پرې اوخيژی. ايساريږی نه.

امام بخاری رحمه الله په دې سره دوو خبروته اشاره کول غواړی. يوه دا چه حديث شريف کښې دقيعان کوم لفظ راغلې دې هغه جمع دې. دهغې مفرد ((قاع)) دې.

امام بخاری رحمه الله د ((قاع)) تفسيربيانول غواړی چه دا هغه زمکه ده. په کومه باندې چه اوبه پورته ورخيژی او تيريږی.(٤)

قوله: وَالصَّفْصَفُ الْمُسْتَوِي مِنَ الْأَرْضِ: ((صفصف)) هموارې زمکې ته وائی.

امام بخاری رحمه الله چه په حديث کښې کوم د ((قيعان)) لفظ تشريح اوکړه. نوسمدستی دهغوی ذهن دقرآن پاك آيت ﴿فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا﴾ طرف ته منتقل شو. اوددوی عادت دا دې چه کله حديث شريف تشريح کوی. نو ورسره ورسره د قرآن کريم دالفاظ تشريح هم کوی. ددې وجې نې د ((قاع)) دتفسير سره سره ((إستطرادًا)) د ((صفصف)) تفسيرهم اوکړو.(٥)

۲۱=((بَاب رَفْعِ الْعِلْمِ وَظُهُورِ الْجَهْلِ))

د مخکنی باب سره ربط اومناسبت: ددې باب نه په مخکنی باب کښې دعالم اومتعلم د فضيلت ذکروو. په کوم کښې چه دتحصيل علم فضيلت اوبيا دعلم فضيلت ته اشاره وه. اوپه دې باب کښې د علم د پورته کيدو ذکردې. کوم چه جهل لره مستلزم دې په دې باب کښې

---

(١) عمدة القارى(٨٠\١٢)_
(٢) فتح البارى(١٧٧\١)_
(٣) شرح كرمانى(٥٨\٢)_
(٤) عمدة القارى(٨١\٢) وفتح البارى(١٧٧\١)_
(٥) عمدة القارى(٨١\٢)_

تحذیر او تنبیه سره دجهل مذمت ذکر دي.«وبالضد تتبین الأشیاء»(۱)

د ترجمة الباب مقصد حافظ ابن حجر فرمائی چه دامام بخاری رحمه الله مقصد دعلم زده کولو ترغیب ورکول دی.ځکه چه علم به په هغه وخت کښې پورته کیږی چه عالمان رحمهم الله ختم شی.اوچه ترڅو پورې عالمان باقی وی علم به باقی وی اودعلم پورته کیدل دقیامت دعلاماتوځنې ده.(۲) نوسړی لره پکار دی.چه ددې نه ځان اوساتی.ځکه چه قیامت به په داسې وخت کښې راځی.چه په دنیا کښې به دالله تعالی ذکرپاتې نه وی اوالله تعالی به دخپلو بندګانونه خفه وی.

حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائی.چه دمؤلف غرض تعلیم اوتبلیغ دي.ځکه چه دعلم پورته کیدل اوجهل ظهورد قیامت د علاماتوځنې دی.لکه څنګه چه په باب کښې ذکر شوو دواړو احادیثوکښې تصریح موجود ده.اود اشراط الساعة انسداد اودهغې نه پرهیزکول ضروری دی.نود علم پورته کیدواوجهل انسداد هم په دې صورت کښې کیدې شی چه په تعلیم او تبلیغ کښې کوشش اوکړې شی.ځکه چه دظهورجهل به هم دا صورت وی چه عالمان ختم شی.اوجاهلان باقی پاتې وی.«کما ورد فی الحدیث» اوددې تدارک دعلم داشاعت نه بغیرنشی کیدې (۳)

قوله وَقَالَ رَبِيعَةُ لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ عِنْدَهُ شَيْءٌ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ يُضَيِّعَ نَفْسَهُ: امام ربیع رائی رحمه الله فرمائی.دیوداسې کس دپاره چه هغه سره دعلم هیڅ څه حصه نه وی دا صحیح نه دی.چه خپل ځان ضائع کړی.

ربیعه رائی :دوی د مدینې منورې مفتی.اودخپلې زمانې عالم.امام.ربیعه بن ابی عبدالرحمن فروخ قرشی تمیمی مدنی رحمه الله دی.چه د ربیعة الرائی په نوم باندې مشهور دی.(۴)

دوی دحضرت انس.حضرت سائب بن یزید.رضی الله عنهما نه علاوه دسعیدبن المسیب.حرث بن بلال بن الحارث.یزیدمولی خنظله بن قیس زرقی. عطاء بن یسار.قاسم بن محمد.سلیمان بن یسار.سالم بن عبدالله. عبدالرحمن بن الاعرج.مکحول شامی.عبدالله بن دینار رحمهم الله وغیره نه د حدیثو روایت کوی.

ددوی نه یحی بن سعیدانصاری.سلیمان تمیمی.سهیل بن ابی صالح. اسماعیل بن امیه.اوزاعی.شعبه.سفیان ثوری.حمادبن سلمه .فلیح بن سلیمان. لیث بن سعد.مسعربن کدام.عبدالله بن المبارک اوسفیان بن عیینه رحمهم الله وغیره حضرات روایت کوی

امام مالک رحمه الله ددوی په خصوصی شاګردانو کښې وو(۵)

---

(۱) عمدة القاری(۱۲/۸۱)_

(۲) المصادر السابقة)_

(۳) الأبواب والتراجم ازحضرت شیخ الهند (۴۹و ۵۰)_

(۴) تهذیب الکمال(۹/۱۲۳) وسیرأعلام النبلاء(۶/۸۹)_

(۵) دشیوخ اوتلامذو دپاره اوګورئ ((تهذیب الکمال(۹/۱۲۴و ۱۲۵)وسیرأعلام النبلاء(۶/۸۹و ۹۰)

امام احمد، امام عجلی، ابوحاتم، او امام نسائی رحمهم الله فرمائی «ثقة» (۱)
یعقوب بن شیبه رحمه الله فرمائی «ثقة ثبت أحد مفتی المدینة» (۲)
سوار بن عبدالله عنبری رحمه الله فرمائی «ما رأیت أحداً أعلم من ربیعة الرأی قلت ولا الحسن وابن سیرین، قال ولا الحسن وابن سیرین» (۳)
ابن سعد رحمه الله فرمائی «وکان ثقة کثیر الحدیث وکانوا یتقونه لموضع الرأی» (۴)
حافظ خطیب بغدادی رحمه الله فرمائی «کان فقیهاً عالماً حافظاً للفقه والحدیث» (۵)
حافظ ذهبی رحمه الله نقل کړی دی چه حافظ ابن الصلاح رحمه الله فرمائیلی دی «إنه تغیر فی الآخر» (۶)
دغه شان دوی نقل کړی دی چه ابوحاتم بن حبان رحمه الله دوی لره په «ذیل کتاب الضعفاء» کښې ذکر کړی دی. (۷)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی چه په دوی کښې هیڅ قسم جرح عالمانو ده قبوله کړې بلکه ددې په خلاف ټولو عالمانو رحمهم الله د دوی په روایاتو استدلال او احتجاج کړې دې. (۸)
ترکومې پورې چه دابن سعد رحمه الله دقول تعلق دې چه «کانوا یتقونه لموضع الرأی» نودا قابل قبول نه ده. ځکه چه په کومه رائې سره هغه مطعون کولې شی. هغه.. فقه.. ده. دکومې په باره کښې چه امام مالک رحمه الله فرمائیلی دی. «ذهبت حلاوة الفقه منذ مات ربیعة بن ابی عبدالرحمن» (۹)
دغه شان عبدالعزیز بن ابی سلمه رحمه الله فرمائی. «یا أهل العراق تقولون: ربیعة الرأی والله ما رأیت أحداً أحفظ لسنة منه» (۱۰)
تنبیه: مؤرخینو دامام ربیعه رحمه الله په باره کښې یوه خوندوره واقعه لیکلې ده. چه ددوی پلار عبدالرحمن بن فروخ هغه وخت دجهاد دپاره تلې وو. کوم وخت کښې چه دوی دمور په خیټه کښې وو. کله چه دوی تلل. نودخپلې بی بی سره ئې دیرش زره اشرفۍ پریخودې وې. اوویش

---

(۱) تهذیب الکمال (۹/۱۲۵) وسیر أعلام النبلاء (۶/۹۱)_
(۲) المصدر السابق)_
(۳) تهذیب الکمال (۹/۱۲۹) وسیر أعلام النبلاء (۶/۹۱)_
(۴) تهذیب الکمال (۹/۱۳۰)_
(۵) تاریخ بغداد (۸/۴۲۱)_
(۶) میزان الإعتدال (۲/۴۴)_
(۷) المصدر السابق)_
(۸) میزان الإعتدال (۲/۴۴)_
(۹) تهذیب الکمال (۹/۱۳۰)_
(۱۰) تهذیب الکمال (۹/۱۲۹)-

کاله پس دوی دغازی په حیثیت واپس راغلو.نوپه خپل کورکښې ئې داوویشتوکالو یوخوان اولیدو.په غصه شو.اوخپل خوی ته هم غصه شو.چه دا کس زما کور ته ننوځي. تردې چه د ګاوندخلق راجمع شول.امام مالك رحمه الله ته چه خبر اوشو نوهغه هم خان سره مشائخ اوتلامذه راوستل او دخپل استاذ مدد ته راوریسدلو په دې دوران کښې ددوی بی بی دې اوپيژندل. اوپه دې طریقه صلح اوشوه.

ابوعبدالرحمن بن فروخ دخپلې بی بی نه هغه اوویش زره درهم طلب کړې.کومې چه نې ورته ورکړې وې.هغوی ورته اوونیل.هغه پیسې محفوظ دی.تاسو مسجد نبوی ته لاړ شئ اومونځ اوکړئ.هغوی چه جماته لاړو.نومونځ ئې اوکړو.اودمانځه نه پس ئې ډیره لویه حلقه اولیده.چه دهغې استاذ ربیعه وو.هغوی سرښکته کړې وو.اوناست وو.دوی دخلقونه تپوس اوکړو.دا څوك دې؟خلقو ورته اوونیل.دا ربیعه بن ابی عبدالرحمن دې.دوی ډیرخوشحاله شو. اوچه واپس کورته راغلو.نوخپلې بی بی ته ئې دخپلې خوشحالئ اظهار اوکړو د دوی بی بی ترې تپوس اوکړه.چه اوس ښائې.ستاسو هغه دیرش زره روپئ زیاتې خوښې دی که دخپل خوی دا مرتبه.دوی ورته اوونیل.چه زمادا درجه زیاته خوښه ده.بی بی ورته اوونیل.ما هغه ټول مال دخپل خوی دعلم په خرچ کولوباندې خرچ کړې دې.دوی ورته اوونیل.چه دا خبره ده.نوتا مال نه دې ضائع کړې.(١)

خوحافظ ذهبی رحمه الله دا قصه په څو وجوهاتوسره موضوع اودخان نه جوړه شوې ګرځولې ده.(٢) «والله أعلم»

دامام ربیعة الرأی وفات په ١٣٦ھ کښې شوې وو.«رحمه الله تعالیٰ رحمة واسعة»

دامام ربیعة الرأی د ذکرشوی اثر تخریج دامام ربیعة الرای دا اثرامام بخاری رحمه الله پخپله په تاریخ کبیر(٣) امام بیهقی په «المدخل» کښې(٤) اوخطیب بغدادی په «الجامع لأخلاق الراوی وآداب السامع» کښې موصولاً تخریج کړې دې. (٥)

د ذکرشوی اثرمطلب اود ترجمة الباب سره مناسبت علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی.چه ددې اثر مطلب دا دې.که په یوکس کښې دعلم قابلیت،اودهغې دفهم اواستعداد وی.نودهغه دپاره دعلم طلب اوپه علم کښې مشغوله کیدل دنورو په مقابله کښې زیات ضروری دی.ده دپاره دعلم په طلب کښې زیات کوشش پکاردې.که هغه دعلم په طلب کښې کوشش نه کوی. نوخپل خان به تاوانی کړی.(٦)

---

(١)تاریخ بغداد(٤٢١\٤) وتهذیب الکمال(١٢٦\٩و ١٢٧)_
(٢)سیرأعلام النبلاء(٩٤\٦و ٩٥)_
(٣)التاریخ الکبیر(٢٨٧\٣) رقم ٩٧٦)-
(٤)تغلیق التعلیق (٢٨٧\٢) رقم ٩٧٦)_
(٥)الجامع لأخلاق الراوی وآداب السامع (ص.١٧١) باب ذکرأخلاق الراوی ودأبه وما ینبغی له إستعماله مع أتباعه وأصحابه مبلغ السن الذی یستحسن التحدیث معه رقم ٧٣٥)_
(٦)شرح صحیح البخاری لابن بطال(١٦٥\١)_

ددې تشريح د ترجمة الباب سره دې طريقه باندې انطباق دې.چه که دا کس ددې باوجود چه باصلاحيته دې.اواستعداد په کښې شته.بيا هم دعلم طلب نه کوى.نودا به رفع علم سبب شى.کوم چه د اشراط ساعت په علاماتو کښې ده.(١)

علامه کرمانى رحمه الله فرمانى.چه دامام بخارى رحمه الله ددې اثرمطلب د علم خورول اودتبليغ ترغيب دې.که عالم علم نه خوروى.اوهم په دغه حالت کښې مړ شو.نود رفع علم اوظهور جهل موجب به شى.(٢)

علامه تيمى رحمه الله فرمانى.چه ددې اثرمطلب دا دې.عالم دپاره خپل تشهيرپکار دې.دې دپاره چه خلق راشى.اودده نه استفاده اوکړې شى.ترڅو پورې چه خلقو ته علم نه وى.چه فلانې دشريعت داحکاموعالم دې.نوهغوى به دهغه د علم نه استفاده څنګه اوکړى؟په داسې صورت کښې چونکه افاده او استفاده نشى کيدې.نوګويا چه دې خپل ځان ضائع کوى.اوکله چه افاده اواستفاده نه وى.نورفع دعلم اوظهوردجهل به کيږى.(٣)

بعضې عالمانو رحمهم الله فرمائيلى دى.چه دعالمانودشان سره نه ښائى.چه دوى دنيادارو ته ځى راځى.دوى لره پکاردى.چه دخپل علم تعظيم اوتوقير اوکړى.اوخپل ځان ضائع اوسپک نکړى.(٤)

دا معنى اګرچه فى نفسه صحيح بلکه ډيره ښه ده.خو په ظاهره ددې د ترجمة الباب سره مناسبت نشته.(٥) البته علامه عينى رحمه الله ددې دمناسبت توجيه دا کړې ده.چه کله دنيادارو سره دده تګ راتګ زيات وى. نو د عالمانو رحمهم الله علمى وقاراوعزت به ختميږى.اونتيجه به ئې دا راوځى.چه د ده اشتغال بالعلم به په مزه مزه کميږى.بلکه بيخى به ختم شى.کوم چه به د رفع علم اوظهورجهل سبب اوګرځى.(٦)

[٨٠\٨١] حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ وَيَثْبُتَ الْجَهْلُ وَيُشْرَبَ الْخَمْرُ وَيَظْهَرَ الزِّنَا

رجال الحديث

① عمران بن مسيرة: دا ابوالحسن عمران بن ميسرة منقرى بصرى ادمى دې.(٧)

---

(١) عمدة القارى(٨١\٢) وفتح البارى(١٧٨\١)_

(٢) شرح الكرمانى(٥٩\٢)_

(٣) شرح الكرمانى(٥٩\٢)_

(٤) عمدة القارى(٨١\٢) وفتح البارى(١٧٨\١)_

(٥) فتح البارى(١٧٨\١)_

(٦) عمدة القارى(٨١\٢)_

(٧) تهذيب الكمال(٣٦٣\٢٢)_

دوى دعبدالوارث بن سعيد ،محمدبن فضيل،معتمربن سليمان.يحيى بن زكريابى زائده، يحيى بن يمان،حفص بن غياث.ابوخالدبن الاحمر. ابو معاويه الضريراوعبادبن العوام رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.

اود دوى نه روايت كونكوكښې امام بخارى،امام ابوداود.امام ابوزرعه . امام ابوحاتم رازى.امام ابوخليفه رحمهم الله وغيره دى(١)

امام دارقطنى رحمه الله ددوى توثيق كړې دى.(٢)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.(٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((ثقة))(٤)

په ٢٢٣هـ كښې وفات شوى وو.(٥) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

② عبدالوارث:دا عبدالوارث بن سعيدبن ذكوان تميمى بصرى رحمه الله دې.ددوى حالات مخكښې د ((باب قول النبى ﷺ اللهم علمه الكتاب)) لاندې تيرشوى وو.

③ ابوالتياح: دا ابوالتياح يزيدبن حميدضبعى بصرى رحمه الله دې.ددوى حالات هم په كتاب العلم كښې د((باب ماكان النبى ﷺ يتخولهم بالموعظة وعلم كى لاينفروا))لاندې تيرشوى وو

④ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه:د دوى حالات په ((كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه)) لاندې تيرشوى دى.(٦)

قوله قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ وَيَثْبُتَ الْجَهْلُ وَيُشْرَبَ الْخَمْرُ وَيَظْهَرَ الزِّنَا: رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه دقيامت په علاماتوكښې دا علامه ده.چه علم به پورته كړې شى.اوجهل به ښكاره شى. او شراب به څكلى شى.اوزنا به عامه شى.

قوله أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ:دا د((ان)) اسم دې.څكه منصوب دې.

په دې روايت كښې ((يرفع العلم)) دې.اوپه مخكنى روايت كښې ((يقل العلم)) راغى.دتطبيق دپاره خوبه يا دا وئيلى شى.چه په اول كښې به په علم كښې قلت پيدا شى.اوبيا په آخر كښې به بيخى ختم شى.لكه چه په راروان حديث كښې د ابتدائى حالت بيان وو.اوپه دې

(١) دشيوخ اوتلامذو دپاره اوګورئ(تهذيب الكمال(٢٢\٣٦٣)_

(٢) تهذيب التهذيب(٨\١٤٢)_

(٣) الثقات لابن حبان(٨\٤٩)_

(٤) تقريب التهذيب(ص.٤٣٠) رقم ٥١٧٤)_

(٥) كشف البارى(٢\٤١)_

(٦) كشف البارى(٢\٤١)_

حديث كښې د انتهائى حالت بيان دې يا به داسې ونيلى شى چه په اولنى حديث كښې چه د «قلت» كوم ذكر دې دهغې نه عدم مراد دې نو په دواړو احاديثو كښې څه تعرض نشته
دعلم دپورته كيدوصورت دعلم دپورته كيدوصورت دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما په حديث كښې وارد شوې دې «قال سمعت رسول الله ﷺ يقول إن الله لا يقبض العلم انتزاعاً ينتزعه من العباد، ولكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى إذا لم يبق عالماً اتخذ الناس رؤساً جهالاً فسئلوا فأفتوا بغير علم فضلوا وأضلوا» (١)
ددې نه معلومه شوه چه دعلم پورته كيدوصورت به دا وى چه عالمان به وفات كيږى او دهغوى په ځائې به دهغوى د علم حاملين نه وى نو دعلماؤ دوفات سره به علم هم ختميږى خود بعضې رواياتونه معلوميږى چه علم به براه راست د سينونه پورته شى قران پاك به د سينونه اوخى.
ابن ابى شيبه رحمه الله په «مصنف» كښې د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه اثر نقل كړې دې «أول ما تفقدون من دينكم الأمانة وآخر ما تفقدون منه الصلاة وسيصلى قوم ولا دين لهم، وإن هذا القرآن الذى بين أظهركم كأنه قد نزع منكم قال قلت: يا عبدالله كيف وقد أثبته الله فى قلوبنا؟ قال يسرى عليه فى ليلة فترفع المصاحف وينزع ما فى القلوب ثم تلا ﴿وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ﴾ إلى آخر الآية» (٢)
هم دا روايت امام طبرانى رحمه الله هم نقل كړې دې دهغې الفاظ دا دى. «ولينزعن القرآن من بين أظهركم قال يا أبا عبد الرحمن ألسنا نقرأ القرآن وقد أثبتناه فى مصاحفنا قال يسرى على القرآن ليلاً فيذهب من أجواف الرجال فلا يبقى فى الأرض منه شئ» (٣)
ابن ماجه دحضرت حذيفه رضي الله عنه نه حديث نقل كړى دى. «قال رسول الله ﷺ يدرس الإسلام كما يدرس وشى الثوب حتى لا يدرى ما صيام ولا صلاة ولا نسك، ولا صدقة وليسرى على كتاب الله عزوجل فى ليلة فلا يبقى فى الأرض منه الحديث» (٤)

---

(١) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه (٢٠/١١) كتاب العلم باب كيف يقبض العلم رقم ١٠٠) وفى (١٠٨٦/٢) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة باب ما يذكر من ذم الرأى وتكلف القياس رقم ٧٣٠٧) وأخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب العلم باب رفع العلم وقبضه وظهور الجهل والفتن فى آخر الزمان رقم ٦٧٩٦ و ٦٧٩٩) وأخرجه النسائى فى السنن الكبرى (٤٥٦/٣) كتب العلم باب كيف يرفع العلم رقم (٥٩٠٧ و ٥٩٠٨) وأخرجه الترمذى فى جامعه فى كتاب العلم باب ما جاء فى ذهاب العلم رقم ٢٦٥٢) وأخرجه ابن ماجه فى كتاب السنة (المقدمة) باب إجتناب الرأى والقياس رقم (٥٢)_

(٢) المصنف لابن أبى شيبة (٥٠٥/١٧) كتاب الفتن باب ما ذكر فى فتنة الدجال رقم ٣٧٥٧٤)_

(٣) قال الهيثمى رحمه الله رواه الطبرانى ورجاله رجال الصحيح غير شداد بن معقل، وهو ثقة مجمع الزوائد (٣٢٩/٧ و ٣٣٠) كتاب الفتن باب ثان فى أمارات الساعة)_

(٤) سنن لابن ماجه كتاب الفتن باب أشراط الساعة رقم ٤٠٤٩)_

په دې دواړه قسمه رواياتوکښې که دترجيح لار اختيارکړې شي نوداسې به ونيلې شي چه دصحيحينوروايت ته ترجيح حاصله ده
بيا که دواړه قسمه رواياتوکښې تطبيق اوکړې شي نودواړه صورتونه به راپيښيږي.چه اول به عالمان وفات شي اودهغوی د علومو حاملين به پاتې نشي.نودهغوی علم به ختم شي اوبيا به په آخرکښې د اجواف رجال او اوراقو نه هم پورته کړې شي.«والعلم عندالله تعالیٰ» دتطبيق دا صورت راجح دې په دې کښې دخه قسم حديث ترك ته ضرورت نه پيښيږي

قوله وَيَثْبُتَ الْجَهْلُ: په بعضې رواياتوکښې د «يثبت» په ځاني«يبث» راغلي دې ( ) يعنی جهل به خورشي.

دغه شان په يوروايت کښې «ينبت» راغلی دی.(٢) يعنی «بالنون بدل المثلثة من النبات»

ابن رجب رحمه الله «ينث» (٣)هم نقل کړې دې.ددې معنی هم خورول اواشاعت دې.خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا روايت په صحيحينوکښې په يوکښې هم نشته.(٤)
د ثبوت جهل نه خو يا مراد دا دی.چه عالمان به ختم شي.اودهغوی نه بين اودهغوی دعلومو حاملين به پاتې نشي.نوجهل به خور شي.يا دا مطلب دې چه دښځو پيدائش به زيات شي.ځکه چه په ښځو کښې جهل زيات وی.

قوله وَيُشْرَبَ الْخَمْرُ وَيَظْهَرَ الزِّنَا: اوشراب به ځکلې شي.اوزنا به زياته شي.دلته سوال پيدا کيږی.چه د شرابو ځکل د قيامت دعلاماتونه څنګه شمارلې شي.حالانکه نفس شرب خو په هره زمانه کښې موجود دې.په خپله نبی ﷺ په بعضې کسانوباندې په دې کښې حدجاری کړې وو.
ددې يوجواب دا دې.چه دقيامت په علاماتوکښې مطلق شرب مراد نه دې.بلکه د شرب عموم او کثرت مراد دې.(٥)
يوجواب دا ورکړې شوې دې.چه دلته صرف شرب خمرد قيامت نښه نه ده ګرځولې شوې.بلکه شرب خمراوشيوع زنا وغيره مجموعه د قيامت نښه ګرځولې شوې ده.(٦)
د«يشرب الخمر»نه کثرت شرب مراد اخستل ددې وجې دی.چه د بخاری په يوروايت کښې

---

١) کما فی بعض النسخ من صحيح مسلم حکاها النووی فی شرحه لمسلم (٣٤٠/٢) کتاب العلم باب رفع العلم وقبضه)
٢)شرح الکرمانی(٦٠/٢) وفتح الباری(١٧٨/١)_
٣)فتح الباری(١٧٨/١)_
٤)المصدرالسابق)_
٥)شرح کرمانی(٦٠/٢)_
٦)المصدرالسابق)_

دى.«ويكثرشرب الخمر» (۱)دغه شان د«يظهرالزنا» نه هم مطلق ظهورمراد نه دې بلکه شيوع مراد ده.لکه څنګه چه دمسلم په روايت کښې «يفشو» لفظ راغلې دې.(۲)
علامه عينى رحمه الله اګرچه ددې نه انکارکړې دې چه مطلق په مقيد باندې حمل کړې شى.(۳) خوحقيقت دا دې چه دلته مطلق په مقيد باندې محمول دې.څکه چه سياق په دې خبره دلالت کوى.چه نبى ﷺ د داسې څيزونو خبرورکول غواړى.چه هغه د وړاندې نه معهود نه وو. بنکاره خبره ده.چه د نبى ﷺ په زمانه کښې نفس شرب خمر اونفس زنا موجود وه دنوى څيزخبر ورکول اود قيامت دعلاماتونه ګرځيدوصلاحيت خوپه هغه صورت کښې وى.چه په دغه شرب خمراوزنا کښې يوه نوې خبره پيدا شى.اوهغه نوې کارددې کثرت اوشيوع ده.(۴)
«والله أعلم»

[۸۱] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ (۵) قَالَ لَأُحَدِّثَنَّكُمْ حَدِيثًا لَا يُحَدِّثُكُمْ أَحَدٌ بَعْدِي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَقِلَّ الْعِلْمُ وَيَظْهَرَ الْجَهْلُ وَيَظْهَرَ الزِّنَا وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ وَيَقِلَّ الرِّجَالُ حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ [۴۹۳۳و۵۲۵۵و۶۴۲۳]

رجال الحديث

① مسدد:دا مسدد بن مسرهد اسدى رحمه الله دې.ددوى حالات کتاب الايمان کښې د«باب من الإيمان أيحب لأخيه مايحب لنفسه» لاندې تيرشوى دى.(۶)

② يحيى:دا يحى بن سعيدالقطان رحمه الله دې.ددوى حالات هم په پورتنى باب کښې تير شوى دى

③ شعبه:دا امام شعبه بن الحجاج رحمه الله دې.د دوى حالات د«كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» لاندې تيرشوى دى.(۷)

④ قتاده: دا امام قتاده بن دعامه سدوسى رحمه الله دې.ددوى حالات هم په «كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه» لاندې تيرشوى دى.(۸)

---

۱)صحيح البخارى(۷۸۷\۲) كتاب النكاح باب يقل الرجال ويكثر النساء رقم (۵۲۳۱)_
۲)صحيح مسلم كتاب العلم باب رفع العلم وقبضه رقم (۶۷۸۶)_
۳)عمدة القارى(۸۲\۲)_
۴)شرح القسطلانى(۱۸۱\۱)_
۵)قوله: عن أنس رضى الله عنه هذا الحديث هوالذى قبله وقد سبق تخريجه سابقاً)_
۶)كشف البارى(۲\۲)_
۷)كشف البارى(۶۷۸\۱)_
۸)كشف البارى(۳\۲)_

⑤ انس رضي الله عنه: داحضرت انس بن مالك رضي الله عنه دي.ددوى حالات هم د ذكرشوى باب لاندي تيرشوى دى

قوله لَأُحَدِّثَنَّكُمْ حَدِيثًا لَا يُحَدِّثُكُمْ أَحَدٌ بَعْدِي: زه تاسوته داسي حديث اوروم.چه زمانه پس به درته بل څوك هغه شان حديث واونه روى.

بعضي عالمان رحمهم الله فرمائي.چه حضرت انس رضي الله عنه چونكه ډيرعمرخاوند شوي وو دهغوى په ژوندكښي په صحابو رضي الله عنهم كښي بل څوك باقي نه وو.خكه هغوى اوفرمائيل.چه زمانه پس به دا حديث تاسوته بل څوك واونه روى.([1])

خوپه دي باندي اشكال كيږى.چه په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښي دټولونه په آخركښي حضرت ابوالطفيل عامربن واثله دوسى رضي الله عنه دي.ددوى وفات دصحيح قول مطابق په ۱۱۰ھ كښي شوي وو.([2])

علامه كرمانى رحمه الله فرمائي.عين ممكن ده.چه نبى ﷺ دوى ته خودلى وى.چه په ټولوكښي په آخركښي به ته دا حديث اوروي.ستانه پس به بل څوك ددي روايت نه كوى.([3])

دا هم ممكن ده.چه دحضرت انس رضي الله عنه په ګمان كښي دا حديث دهغوى نه سوا بل چادنبى ﷺ نه نه دي اوريدلي.ددي وجي هغوى دخپل ګمان مطابق اوونيل.چه «لايحدثكم احدبعدى»([4])

يواحتمال دا هم دي.چه دا خطاب اهل بصرۀ سره خاص وو.خكه چه حضرت انس رضي الله عنه په بصره كښي اوسيدل.هلته دوى په ۹۳ھ كښي وفات شوى وو.([5])

په هغه وخت كښي په صحابو رضي الله عنهم كښي داسي صحابى رضي الله عنه نه وو.چه هغه په مروياتوكښي دا حديث وو.نومطلب دا شو.چه زما نه پس به په بصره كښي دا حديث تاسو ته څوك بيان نكړى.([6])

ابن بطال رحمه الله فرمائي.چه حضرت انس رضي الله عنه دا په هغه زمانه كښي بيان كړي وو.په كومه زمانه كښي چه په زمانه كښي تغيرراغلي وو.حاكمان بدل شوي وو دهغوى دطرفه د ظلم اوزياتي بازارګرم وو.خلق ويريدل.اودحق ښكاره كولونه په آرام ناست وو.نولكه چه دحضرت انس رضي الله عنه د دي فرمان مطلب دا دي.چه اوس زمانه داسي ده.چه زمانه پس به درته داسي حديث څوك بيان نكړى.په كوم كښي چه ددوى په اعمالواوكرداربانديي تنقيد

---

[1] شرح ابن البطال(۱\۱۶۵)_

[2] وبه ختم الصحابة رضي الله عنهم فى الدنيا مات سنة عشرومأئة عى الصحيح الكاشف(۱\۵۲۷) رقم ۲۵٤۸)_

[3] شرح الكرمانى(۲\۶۰۱)_

[4] المصدرالسابق)_

[5] وآخرمن مات منهم بالبصرة أنس بن مالك رضي الله عنه علوم الحديث لابن الصلاح (ص.۳۰۱) النوع التاسع والثلاثون معرفة الصحابة رضي الله عنهم وانظرالكاشف (۱\۲۵۶) رقم ٤۷۷)_

[6] عمدة القارى (۲\۸٤) وفتح البارى(۱\۱۷۹)_

وى.اوپه كوم سره چه ددوى تنقيص كيږى.دا تمهيدنې برابركړو.اوبيا نې دقيامت علامات بيانول شروع كړل.(١) ((والله أعلم))

قوله مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَقِلَّ الْعِلْمُ وَيَظْهَرَ الْجَهْلُ: دقيامت په علاماتوكښې دا ده.چه علم به ختم شى.اوجهل به زيات شى.په وړاندينى حديث كښې ((يرفع)) راغلې وو.او دلته ((يقل)) راغلې دې.د دواړو په مينخ كښې تطبيق هلته تيرشوې دې.

قوله وَيَظْهَرَ الزِّنَا: اودزنا ظهوربه اوشى.يعنى ددې شيوع به پيدا شى.

قوله وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ وَيَقِلَّ الرِّجَالُ: اوښځې به زياتې شى.اوسړى به كم شى.ددې كثرت وجه څوبه يا دا وى.چه فتنې به ډيرزياتې شى.زيات جنګونه به كيږى.اوسړى چونكه جنګيږى.نوهغوى به قتليږى.نوپه دې طريقه به ښځې زياتې شى.(٢)

ابوعبدالملك رحمه الله فرمائى.چه دا دې خبرې ته اشاره ده.چه فتوحات به زيات شى. او وينځې به زياتې شى.ديويوسړى سره به څو څو وينځې وى.(٣)

خوذكرشوې سبب قابل نظردې.ځكه چه ددې نه معلوميږى.چه دښځواو وينځوبه كثرت شى.خودسړو دقلت په دې كښې څه اشاره نشته.(٤) حالانكه د ابوموسى اشعرى رضي الله عنه په حديث كښې تصريح ده.چه ((يرى الرجل الواحد يتبعه أربعون إمرأة يلذن به من قلة الرجال وكثرة النساء))(٥)

ظاهره دا ده.چه دا يومستقل علامت دې.دا په سبب باندې مبنى نه دې. هغه داسې چه په آخره زمانه كښې به دالله تعالى په حكم سره ښځې زياتې پيدا كيږى.اوسړى كم.(٦)

چونكه عام طور په ښځوكښې جهل وى.ددې وجې دكثرت نساء علامت د رفع علم اوظهور جهل سره زبردست مناسبت هم شته.(٧)

قوله حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ: تردې چه پنځوسو ښځوبه صرف يوكفالت كونكې وى.

ددې دوه مطلبه كيدې شى.يوه دا چه خلق به د شريعت دحدود څه پرواه نه كوى.جهالت به

---

(١)شرح ابن البطال(١٦٥\١)_

(٢)فتح البارى(١٧٩\١) وعمدة القارى(٨٤\٢)_

(٣)المصدالسابق)_

(٤)فتح البارى(١٧٩\١)_

(٥)صحيح البخارى(١٩٠\١) كتاب الزكاة باب الصدقة قبل الرد)_

(٦)فتح البارى(١٧٩\١)_

(٧)المصادر السابقة)_

عام شی اویویوکس به پنځوس پنځوس ښځې په خپله نکاح کښې ساتی.لکه څنګه چه دبعضې بد دینه مالدارانونه نقل دی.(١)

دویم مطلب دا دې چه دښځو دکثرت په وجه به دهغوی نګرانی کونکې څوك نه وی.نود یویو کس په ذمه به پنځوس ښځې وی.چه هغه به دهغوی نګرانی کوی.(٢)

بیاد خمسین دلته حقیقی معنی هم کیدې شی.اومجازی هم.یعنی کنایة عن الکثرة هم مراد کیدې شی.(٣) ددویمې معنی تائید دحضرت ابوموسی اشعری ﷛ په روایت سره کیږی.په کوم کښې چه د«ویری الرجل الواحد یتبعه أربعون إمرأة یلذن به» الفاظ راغلی دی

دلته دا خبره هم قابل غور ده.چه «حتی یکون لخمسین إمرأة القیم واحد» دنکره راوړو په ځائې معرفه ذکرشوې ده.اګرچه ظاهر نکره ده.ددې وجې دا ده. چه په اصل کښې دې کښې لام دعهد دپاره دې.اواشاره آیت ﴿ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾(٤)طرف ته ده.(٥)

دامورخمسه د تخصیص وجه دلته دقیامت په علاماتو کښې د پنځوخیزونو ذکردې.یعنی ① قلت علم.② ظهورجهل ③ شرب خمر④ ظهورزنا.⑤ کثرت نساء قلت رجال.ددې پنځو خیزونو د تخصیص وجه دا خودلې شوې ده.چه اصلاح د معاش.اومعاد په پنځوخیزونوپه حفاظت اوصیانت باندې موقوف ده.اوپه حدیث کښې د ذکرشوو پنځوذکرچه دا دقیامت علامات دی.په دې خبره دلیل دې.چه په هغه پنځو خیزونوکښې به اختلال پیدا شی.په کوموچه دمعاش اومعاد اصلاح اوفلاح موقوف ده.

هغه پنځه خیزونودکومو چه حفاظت ضروری دې.دا دی.① دین② عقل③ نسب④ مال .ددنیااواخرت دکامیابئ دپاره په دې کښې دهریوخیزحفاظت ضروری دې.

چه کله په حدیث کښې ذکرشوی خیزونه ښکاره کیږی.نوددې خیزونو حفاظت به نه کیږی. ځکه چه درفع علم اوظهورجهل په صورت کښې ددین حفاظت ممکن نه دې.دشرب خمرپه وجه دعقل په حفاظت کښې خلل پیدا کیږی.دغه شان دا دمال په حفاظت کښې هم خلل پیدا کوی.اوشیوع زنا د نسب اومال په حفاظت کښې مخل دې.اوقلت رجال د نفس اومال دواړو دحفاظت دپاره مخل دې.(٦) «والله أعلم»

---

(١)فتح الباری(١١\١٧٩)_
(٢)المصدرالسابق)_
(٣)فتح الباری(١١\١٧٩) وعمدة القاری(٢\٨٤)_
(٤)النساء:٣٤)_
(٥)فتح الباری(١١\١٧٩) وعمدة القاری(٢\٨٥)_
(٦)عمدة القاری(٢\٨٥) وفتح الباری(١١\١٧٩)_

۲۲= باب فضل العلم

د مخکنی باب سره ربط اومناسبت په دې اوسابقه باب کښې مناسبت بيخى ښکاره دې.ځکه چه مخکنى باب کښې هم د علم ذکروو.اوپه دې باب کښې هم.اګرچه په هرباب کښې په يوجدا صفت سره ذکردې.په اولنى باب کښې دعلم درفع ذکروو.اوپه دې باب کښې د علم د فضل ذکردې.(۱)

داسې مناسبت هم بيانولې شى.چه په مخکنى باب يعنى ((باب رفع العلم وظهورالجهل)) کښې دتعليم اوتعلم ترغيب مقصود وو.اوپه دې باب کښې دعلم فضيلت بيانوى.هم د دغه تعليم اوتعلم ترغيب مقصود دې.

د تکرارفى الترجمة اعتراض اود ترجمة الباب مقصد امام بخارى رحمه الله دا باب مکرر منعقدکړې دې.ځکه چه دکتاب العلم په ابتداء کښې هم بعينه دا باب تيرشوې دې.هلته مونږ ددې پوره تفصيل ذکرکړې دې.((فارجع اليه إن شئت))
دلته دهغې خلاصه زده کړئ.

علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه په صحيح نسخوکښې دکتاب العلم په ابتداء کښې د((باب فضل العلم)) وجود نشته.نود تکرارفى الترجمة اعتراض هډو واردېږى نه.(۲)

اوکه تسليم کړې شى.چه هلته د((باب فضل العلم)) ذکرشته.نوهلته د((فضل علم)) نه فضل دعالمانو عليهم السلام مراد دې.اوپه مذکوره باب کښې ..فضل علم.. مراد دې.(۳)
علامه کرمانى رحمه الله ددې اعتراض دا جواب ورکړې دې.چه دکتاب العلم په شروع کښې فضيلت علم مراد دې.اودلته ((فضله)) يعنى زياتى علم مراد دې.(۴)
حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا توجيه اختيارکړې ده.(۵)
دغه شان علامه سندهى رحمه الله هم دا توجيه اختيارکړې ده.هغوى فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله دلته ((باب فضل العلم)) منعقدکړې دې.مطلب دا دې.چه ددې فضل سره به څه کولې شى؟دحديث پاک نه معلومېږى.که دچا سره زياتى علم وى نوروته ئې خودل پکاردى.
خودلته سوال دا دې.چه آيا په دې عالم کښې دا هم ممکن ده.چه علم زيات شى.اوبيا ته د ورکولو نوبت راشى.يا دا دعالم مثال اوعالم خواب خبره ده؟علامه سندهى رحمه الله فرمائى.چه دعلم د زيادت صورت دا کيدې شى.چه ديوعالم سره زياتى کتابونه وى.نوهغه نوروته

---

(۱)عمدة القارى(۲/۸۵)_
(۲)عمدة القارى(۲/۳و ۸۵)_
(۳)عمدة القارى(۲/۸۵)_
(۴)شرح کرمانى(۲/۳)_
(۵)فتح البارى(۱/۱۸۰)_

ملكاً يا عارية وركړي.دغه شان كه ديوشيخ نه استفاده كوی.اوپخپله دشيخ مرتبې ته رسيدلې وی.نونوروته دهغه نه د انتفاع موقع ورکړی.(١)

حضرت شيخ الهند رحمه الله هم دا توجيه اختيارکړې ده هغوی فرمائی.دا ترجمه بعينه دكتاب العلم په شروع كښې تيره شوې ده.ددې وجې شارحينو رحمهم الله فرمانيلی دی.چه دفضل دوه معانی دی.«فضيلت» او«فاضل عن الحاجة»په اول باب كښې اوله معنی اوپه دويم باب كښې دويمه معنی مراد ده.دې سره دتكرارشبه په آسانتيا سره دفع شوه.خودترجمې په مقصود كښې اوپه حديث «ثم أعطيت فضلی عمر بن الخطاب» كښې كوم چه په دې باب كښې مذكور دې.ددې په تطبيق كښې دعالمانو رحمهم الله كلمات مختلف دی.

زمونږ په نيز راجح اواقرب دا ده.چه دترجمې نه دمؤلف مقصود دا دې. چه كوم علم چه ديوكس دضرورت نه زياتی وی.دهغې څه حكم دې؟مثلاً يو مفلس،معذور اومجبور داسې وی.چه دهغه دزكاة حج،اوجهاد ادا كولونه قدرت وی.اونه طاقت،بلكه په انده زمانه كښې هم بيخی نااميده يا عادة نااميده وی.اويا په معاملاتوكښې نې مزارعت، مساقات، مضاربت، تجارت ،رهن اواجارې ته نه حاجت وی اونه توقع.نوداسې كس دپاره ددې عباداتو او معاملاتو علم حاصلول څنگه دی.اوددې دزده كولودپاره خپل وختونه لگول او ددې دپاره سفركول،په عبادت كښې داخل دې اوكه په مالايعنيه كښې به شمارلی شی.او دعلم زده كولوچه كوم فضيلت اوتاكيد تيرشو.دې په هغې كښې داخل دې كه مستثنی دی.

حديث مذكوره فی الباب نه د دغه علم زائده اوفاضل عن الحاجة حكم معلوم شو.چه علم مطلقاً مفيد اومطلوب دې.غاية ما فی الباب كوم علم چه دكوم كس په حق كښې ضروری نه وی.اودهغه په كار نه راځی.هغه دې نورته اورسوی.دعلم دزده كولونه مقصود صرف عمل نه وی.بلكه تبليغ اوتعلم هم يواهم مقصود دې.

خلاصه دا چه دمؤلف ددې باب نه مقصود د تبليغه اوتعلم اهميت اوفضيلت مقصود دې.لكه څنگه چه د ا بواب سابقه اولاحقه نه هم معلومه ده.والله تعالى اعلم.(٢)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی.(٣) چه ددې تائيدپه ابن ماجه كښې دحضرت ابوذر رضی الله عنه دمرفوع روايت نه هم كيږی.«يا أبا ذر، لأن تغدو فتعلم آية من كتاب الله خير لك من أن تصلی مائة ركعة ولأن تغدو فتعلم بابا من العلم عمل به اولم يعمل، خير من أن تصلی ألف ركعة»(٤)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی.چه زما په نيزدلته دا احتمال هم شته.چه دامام بخاری رحمه الله مقصود دزيات علم ترغيب وركول دی.يعنی دا نه ده.چه صرف په قدردحاجت باندې سرې اكتفاء اوكړی.ځكه چه نبی صلی الله عليه وسلم دلته په قدردحاجت پې نه دی ځكلی.بلكه

---

(١)حاشية السندی علی صحيح البخاری(١/٤٩)_

(٢)الأبواب والتراجم لشيخ الهندقدس الله روحه (ص.٥١و ٥٠)_

(٣)الكنزالمتواری فی معادن لامع الدراری وصحيح البخاری)_

(٤)سنن ابن ماجه كتاب (السنة) باب فضل من تعلم القرآن وعلمه رقم ٢١٩)_

دومره ئې اوڅکل. چه ((حتی خرج من تحت أظفاره)) لکه چه مصنف رحمه الله دلته په ترجمة الباب سره دحضرت انس رضي الله عنه دمرفوع حديث تائيد اوکړو. ((منهومان لايشبعان منهوم فى العلم لايشبع منه))[1] بيا کوم حضراتو چه دلته د ((فضل)) نه مراد ((فضيلت)) اخستې دې په هغوى باندې اشکال واردېږي چه په روايت کښې خو هډو دخه فضيلت اومنقبت ذکر نشته.

دا حضرات دا ورکوى. چه په روايت کښې ذکردى. چه نبى صلى الله عليه وسلم خپله جوته حضرت عمر رضي الله عنه ته ورکړه اوچه نبى صلى الله عليه وسلم هغه استعمال کړې وې. دا زبردست فضيلت دې.

حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى. چه حديث شريف په دې باندې دلالت کوى. چه دعلم زده کول اوحاصلول لکه چه د نبى صلى الله عليه وسلم د استعمال کړى څيز حاصلول دى. ښکاره خبره ده. چه دا دعلم ښکاره فضيلت دې.[2]

دغه شان ابن المنير رحمه الله هم دا بيان کړى دى. اوفرمائى. چه دحديث شريف نه دفضيلت اثبات په دې طريقه دې. چه په دې کښې دعلم نه هغه د نبى صلى الله عليه وسلم په جوتې سره کومه چه ئې دوى ته ورکړه دهغې په حصې سره تعبير کړې دې. اوهم دا خبره دفضيلت دپاره کافى ده.[3]

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى. چه ددې حديث په راوړلو کښې دتکرار يوجواب دا هم ورکولې شى. چه دکتاب العلم په ابتداء کښې ..فضل علم.. د رفع درجاتو په اعتبار سره مراد وو. ځکه چه هلته آيت کريمه .. ﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾[4] ئې راوړې دې. اودلته فضل علم په دې اعتبار سره دې. چه دا د نبى صلى الله عليه وسلم فضله ده.[5] والله اعلم

تنبيه علامه کرمانى رحمه الله دکتاب العلم په ابتداء کښې هم هغه توجيه کړې ده. کومه چه مونږ بيان کړه. يعنى هلته فضيلت اودلته فضله مراد ده. خوکله چه دې باب ته رارسيدلې دې. نو هغوى د فضل نه فضيلت مراد اخستې دى. اوددې تقرير ئې کړې دې.[6] فتنبه

[۸۲] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ(٧) قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

---

[1] شعب الإيمان للبيهقى (۷/۲۷۱) الحادى والسبعون من شعب الإيمان باب فى الزهد وقصر الأمل رقم ۱۰۲۷۹)

[2] لامع الدرارى (۲/۳۱۰)_

[3] المتوارى على تراجم أبواب البخارى (ص۱۰۶)-

[4] المجادلة:۱۱)-

[5] الكنز المتوارى (۲/۳۱۰)_

[6] شرح كرمانى (۲/۶۳)_

[7] قوله أن ابن عمر رضى الله عنهما الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه (۱/۵۲۰) فى كتاب المناقب فضائل أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم باب مناقب عمربن الخطاب أبى حفص القرشى العدوى رضي الله عنه رقم ۳۶۸۱ كتاب التعبير، باب اللبن رقم ۷۰۰۶) وباب إذا جرى اللبن فى أطرافه وأظافيره رمق ۷۰۰۷ وأخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب فضائل الصحابة رضي الله عنهم باب من فضائل عمر رضي الله عنه رقم ۶۱۹۰و ۶۱۹۱) وأخرجه الترمذى فى جامعه فى كتاب الرؤيا باب (فى رويا النبى صلى الله عليه وسلم اللبن والقمص) رقم ۲۲۸٤ وفى كتاب المناقب (باب رؤيا النبى صلى الله عليه وسلم فى شربه من قدح اللبن وإعطانه عمر فضله رقم ۳۶۸۷)_

بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ فَشَرِبْتُ حَتَّى إِنِّي لَأَرَى الرِّيَّ يَخْرُجُ فِي أَظْفَارِي ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَبْنَ الْخَطَّابِ قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَهُ يَارَسُولَ اللَّهِ قَالَ الْعِلْمَ [۸۲، ۳۶۸۱ و ۷۰۰۶ و ۷۰۰۷ و ۷۰۲۷ و ۷۰۳۲]

رجال الحديث

① سعيدبن عفير: دوى سعيدبن كثيربن عفير رحمه الله دې. دوى خپل نيكه طرف ته منسوب دى ددوى حالات هم په كتاب العلم كښې د «باب من يرد الله به خيرا يفقهه فى الدين» لاندې تيرشوى دى.

② ليث بن سعد: دا امام ليث بن سعد رحمه الله دې. ددوى حالات په «بدء الوحى» كښې د دريم حديث لاندې تيرشوى دى.(¹)

③ عُقيل: دا عقيل بن خالدبن عقيل ايلى رحمه الله دې. ددوى مختصر حالات په «باب بدء الوحى» كښې ددريم حديث لاندې تيرشوى دى.(²) خودلته ئې مونږ لږ په تفصيل سره بيانوو دا عقيل بن خالدبن عقيل ايلى رحمه الله دې د دوى ډيرمختصرحالات د باب بدء الوحى دريم حديث لاندې تيرشوى وو.(³) خودلته مونږ لږ غونډې په تفصيل سره ددوى حالات ذكركوو دوى د ابان بن صالح. حسن بصرى. خپل پلارخالدبن عقيل. زيد بن اسلم. سلمه بن كهيل. عراك بن مالك. عكرمه مولى ابن عباس. عمروبن شعيب. قاسم بن محمدبن ابى بكر الصديق. نافع مولى ابن عمر. هشام بن عروه. يحيى بن ابى كثير اوخاص كرامام زهرى رحمهم الله وغيره نه د حديث روايت كړې دې.

اوددوى نه روايت كونكوكښې جابربن اسماعيل حضرمى. ضمام بن اسماعيل. عبادبن كثير ثقفى. عبدالله بن لبيعه. امام ليث بن سعد. مفضل بن فضاله. نافع بن يزيد. اويونس بن يزيد ايلى رحمهم الله وغيره دى.(⁴)

امام احمداونسائى رحمهما الله فرمائى. «ثقة»(⁵)

ابن سعد رحمه الله فرمائى. «وكان ثقة»(⁶)

امام ابوزرعه رحمه الله فرمائى. «صدوق ثقة»(⁷)

(¹)كشف البارى (۱/۳۲٤)_
(²)كشف البارى (۱/۳۲۵)
(³)كشف البارى (۱/۳۲۵)_
(⁴)داستاذانواوشاگردانودتفصيل دپاره اوگورئ تهذيب الكمال (۲۰/۲٤۲و ۲٤۳)_
(⁵)تذيب الكمال (۲۰/۲٤۳)_
(⁶)تهذيب الكمال (۲۰/۲٤۳)_
(⁷)تهذيب الكمال (۲۰/۲٤٤)_

امام عجلی رحمه الله فرمائی.«ثقة»([1])
امام ابن معین رحمه الله فرمائی.«عقیل ثقة»([2])
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.«ثقة ثبت»([3])
امام ابوحاتم رحمه الله نه چه کله تپوس اوشو.«عقیل بن خالد أحب إلیك أم یونس» نودوی ورته اوفرمائیل.«عقیل أحب إلی من یونس،عقیل لا بأس به»([4])
دغه شان کله چه ددوی نه د عقیل اومعمرپه باره کښې تپوس اوشو.«أیهما أثبت؟» نو دوی اوفرمائیل.«عقیل أثبت کان صاحب کتاب»([5])
آجری امام ابوداود رحمه الله نه د عقیل بن خالداوقرة بن جبریل په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل.«عقیل أعلی منه مئة مرة»([6])
ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکرکړی دی.([7])
البته په دوی باندې د ابن حاتم اویحیی بن سعیدالقطان رحمهما الله د طرفه جرح هم منقول ده
ابوحاتم رحمه الله فرمائی.«لم یکن بالحافظ کان صاحب کتاب محله الصدق»([8])
دغه شان کله چه د یحیی القطان رحمه الله وړاندې د عقیل اوابراهیم به سعد ذکر اوشو نو هغوی داسې انداز اختیارکړو.لکه چه دواړه ضعیف دی.([9])
ترکومې پورې چه د ابوحاتم رحمه الله دکلام تعلق دې.نوهغه ددوی د ثقاهت او تثبت نفی نه کوی.بلکه په «کان صاحب کتاب ومحله الصدق» سره ددوی توثیق اوتثبیت ښکاره کیږی.دغه شان پورته پخپله ددوی نه د عقیل توثیق نقل شوې دې.
ترکومې پورې چه د یحیی القطان رحمه الله د کلام تعلق دې.نوامام احمد رحمه الله ددې تردید کوی اوفرمائې.«أی شئ ینفع هذا؟ هولاء ثقات لم یخبرهما یحیی»([10])

---

[1])تهذیب الکمال(۷\۲۵۶)_
[2])میزان الإعتدال (۳\۸۹) وفی روایة ابن أبی مریم ثقة حجة تهذیب التهذیب(۷\۲۵۶)_
[3])تهذیب التهذیب(۲۹۶) رقم ۴۶۶۵)_
[4])تهذیب الکمال(۲۰\۲۴۴)_
[5])المصدرالسابق)_
[6])تعلیقات علی تهذیب الکمال(۲۰\۲۴۵)-
[7])الثقات لإبن حبان (۷\۳۰۵)_
[8])میزان الإعتدال(۳\۸۹) رقم ۵۷۰۶)_
[9])المصدرالسابق)_
[10])المصدرالسابق)_

بيا دا خبره دي هم معلومه وى چه په صحيح بخارى كښې دعقيل ټول روايات دامام زهرى رحمه الله نه مروى دى.(۱)

دغه شان امام يحيى بن معين رحمه الله د امام زهرى رحمه الله په روايانوكښې دوى د ټولونه مضبوط راوى ګرځولي دي.(۲)

خلاصه دا چه شوه چه عقيل بن خالد ثقه ثبت اوحجت دې او كومو حضراتوچه په دوى باندې كلام كړې دې هغه قابل قبول نه دى هم دا وجه ده چه اصحاب صحاح ستة ددوى روايات د احتجاج او استدلال په طور قبول كړى دى.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((أحد الثقات الأثبات من أصحاب الزهرى إعتمده الجماعة))(۳)

حافظ ذهبى رحمه الله چه په دوى باندې كوم كلام شوې دې دهغې رد كوى اوليكى ((عقيل ثبت حجة وإنما ذكرناه لئلا يتعقب علينا...))(۴)

ددوى وفات په ۱۴۱ھ يا ۱۴۲ھ ۱۴۴ كښې شوې دې.(۵) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

④ ابن شهاب: دا امام محمدبن مسلم بن عبيدالله بن شهاب زهرى رحمه الله دې ددوى مختصرحالات د بدء الوحى د دريم حديث لاندې تيرشوى دى.(۶)

⑤ حمزه بن عبدالله بن عمر: دا حمزه بن عبدالله بن عمر بن الخطاب رحمه الله دې ابوعماره د دوى كنيت دې.دوى د سالم بن عبدالله بن عمرحقيقى ورور وو.(۷)

دوى دخپل پلارحضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنهما.دخپلې ترور حضرت حفصې او عائشې رضى الله عنهما نه روايت كوى.او دوى نه روايت كونكوكښې عبيدالله بن ابى جعفرمصرى.عتبه بن مسلم. امام زهرى او موسى بن عقبه رحمهم الله وغيره دى.(۸)

ابن سعد رحمه الله فرمائى.((وكان ثقة قليل الحديث))(۹)

---

(۱) كما يظهرمن رموز المزى فى تهذيب الكمال(۲۰\۲۴۲)_اويونس بن يزيدايلى رحمه الله فرمائى.((ما أحد أعلم بحديث الزهرى م عقيل)) ()ميزان الإعتدال(۳\۸۹) رقم ۵۷۰۶)_

(۲) قال ابن معين.أثبت من روى عن الزهرى مالک بن أنس ثم معمر.ثم عقيل.وقال أيضاً أثبت الناس فى الزهرى مالک بن أنس ومعمر ويونس وعقيل وشعيب بن ابى حمزة وسفيان بن عيينة تهذيب الكمال (۲۰\۲۴۳) وفى تاريخ الدارمى(۴۵) رقم ۲۱ .. وعقيل ثقة نبيل الحديث عن الزهرى رحمه الله)_

(۳) هدى السارى(ص.۴۲۵)_

(۴) ميزان الإعتدال(۳\۸۹) رقم ۵۷۰۶)_

(۵) تهذيب الكمال(۲۰\۲۴۵)_

(۶) كشف البارى (۱\۳۲۶)_

(۷) تهذيب الكمال(۷\۳۳۰ و ۳۳۱) وتقريب التهذيب(۱۸۰) رقم ۱۵۲۴)_

(۸) داستاذانواوشاګردانودتفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال (۷\۳۳۱)_

(۹) الطبقات لابن سعد(۵\۳۰۳)_

امام عجلي رحمه الله فرمائي. ((مدني تابعي ثقة)) (١)
امام علي بن المديني رحمه الله فرمائي. ((سمعت يحيى بن سعد يقول فقهاء أهل المدينة إثنا عشر)) بيا نې دوی په هغوی کښې شمارکړو. (٢)
ابن حبان رحمه الله دوی په کتاب الثقات کښې ذکر کړی دی. (٣)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائي. ((ثقة إمام)) (٤) رحمه الله رحمة واسعة.

⑥ ابن عمر رضي الله عنهما: دا حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې. ددوی حالات په کتاب الايمان کښې د ((باب الإيمان وقول النبي صلى الله عليه وسلم بني الإسلام على خمس)) لاندې تيرشوی دی. (٥)

قوله: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي. چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدل. چه زه اوده ووم. ماته د پيو پيالئ راوړې شوه.

قوله: فَشَرِبْتُ حَتَّى إِنِّي لَأَرَى الرِّيَّ يَخْرُجُ فِي أَظْفَارِي: نو ما دا بنه اوڅکل. تردې چه ما موړ والې اوکتلو. چه زما د نوکانو نه اوځی.

((أری)) داخو یا د رویت نه دې. په معنی د ,,العلم،، یعنی د افعال قلوب ځنې دې. په دې صورت کښې به دا د دوو مفعولو تقاضا کوی. دلته یومفعول ((الري)) دې. او دويم مفعول ((يخرج في أظفاري)) دې. اوکه دا د افعال قلوب ځنې نه وی. نو د یو مفعول تقاضا به کوی. چه هغه دلته کښې ((الريّ)) دې. او د ((يخرج في أظفاري)) دا جمله به حال وی. (٦)

((الرِّيّ)) (د رائې مهمله په کسرې او د یا په شدسره) دا د ((رَوِيَ يَروِي)) مصدر هم دې. او اسم هم دې په مصدر کښې ,,ري،، په فتحې سره هم نقل کړې شوې دې. (٧)

((يخرج في اظفاري)) اظفار د ظُفر (بضم الظاء المعجمة) جمع ده. په یو روایت کښې د ((يخرج من أظفاري)) الفاظ راغلې دی. (٨)

---

(١) تهذيب الكمال (٧\٣٣١)_
(٢) تهذيب الكمال (٧\٣٣٢)_
(٣) الثقات لابن حبان (١٤\١٦٨)_
(٤) الكاشف (١\٣٥١) رقم ١٢٣٧)_
(٥) الكاشف (١\٣٥١) رقم ١٢٣٧)_
(٦) عمدة القاري (٢\٨٦)_
(٧) المصدر السابق_
(٨) كمافي رواية عساكر. قال الحافظ في الفتح (١١\١٨٠) والعينى فى العمدة (٢\٨٦) وانظر صحيح البخارى (٢\١٠٣٧) كتاب التعبير، باب اللبن، رقم (٧٠٠٦)_

او په يو بل روايت كښې «يخرج من أطرافه» الفاظ دى.(١) ددې دواړو روايتونو نه معلومه شوه چه دلته ..في.. د ..من.. په معنى كښې دې.

دا هم ممكن ده چه «فى» په معنى د «على» وى.لكه څنګه چه په ﴿وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ﴾(٢) كښې په «على جذوع النخل» معنى كښې دې.(٣) نواوس مطلب دا شو چه ما دومره پئ اوڅكل.اوزه دومره موړ شوم چه زما په هريوبند كښې دهغه آثاربښكاره شول.

قوله ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ:بيا ما خپله پاتې شوې عمربن الخطاب رضی الله عنه ته وركړه.

قوله قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ:صحابه كرامو رضی الله عنهم عرض وكړو.يارسول الله تاسو ددې څه تعبيراوباسئ.

قوله قَالَ الْعِلْمَ:نبى ﷺ اوفرمائيل.ددې تعبيرعلم دې.

د پيو نه علم مراد اخستلووجه د پيو په صورت كښې علم مثاليه دې.ددې دتمثيل وجه دا ده. چه پئ اوعلم په كثرت نفع كښې مشترك دى.(٤) دغه شان دا خبره هم ده.چه دواړه سبب دصلاح دې.پئ دانسان د خوراك،اودده د قوت او صلاح ذريعه ده.دغه شان ددنيا اوآخرت د صلاح ذريعه اود روحونو غذا ده.(٥)

مهلب رحمه الله فرمائى.چه په خوب كښې د پئو ليدل سنت،فطرت،علم اوقرآن په اهليت دال دى.ددې وجې په دنيا كښې ماشوم ته د ټولونه اولنې څيزدا ملاويږى.هم دا څيزدده معدې ته رسى.اوهم ددې په وجه دده ژوند قائم وى.هم داوصف په علم كښې هم دې.په كوم باندې چه د زړونو د حيات دارومدار دې.هم په دې حيثيت سره دپيو دعلم سره مناسبت او مشاكلت ښكاره دې.

بيا د پيو دلالت په ژوند باندې هم دې.څكه چه په ماشوموالى كښې د ژوند دارومدارهم په پيو باندې وى.كله ددې دلالت په ثواب باندې هم وى.څكه چه دا د جنت په نعمتونوكښې دى.په جنت كښې به د پيو وله (نهر) هم وى.كله ددې دلالت په مال حلال باندې هم كيږى. څكه چه په پيو كښې هغه پاكوالې اوشفافيت وى.كوم چه د حلال مال خاصيت دې.

نبى ﷺ دحضرت عمر رضی الله عنه په باره كښې د پيو تعبيرپه علم سره څكه وركړو.چه نبى ﷺ ته دحضرت عمر رضی الله عنه د فطرت اودين د صحت علم وو.اوپه علم فطرت كښې دننه دزيادت نوم شته.(٦) والله اعلم.

---

(١)صحيح بخارى(١٢\١٠٣٧) كتاب التعبير. باب إذا جرى اللبن فى أطرافه و أظافيره. رقم(٧٠٠٧)_

(٢)طه:٧١)_

(٣)عمدة القارى(٢\٨٦)_

(٤)عمدة القارى(٢\٨٧) وفتح البارى(١١\١٠٨)_

(٥)عمدة القارى(٢\٨٧)_

(٦)شرح ابن البطال (٩\٥٣٠) كتاب التعبيرباب اللبن)_

څوفوائد ① ددې حديث نه معلومه شوه چه كوموخلقوته الله تعالى دولت باطنى وركړې وى هغوى لره پكار دى چه هغه خلقوكښې داستعداد مطابق تقسيم كړى
② دغه شان دا ترې هم په پوهه كښې راځى چه استاذانولره پكاردى چه كله كله د خپل خوراك نه پاتې شوې څيزشاګردانوته وركوى.په دې سره داستاذانومحبت پيدا كيږى. او دهغوى په زړونوكښې د بركت سبب ګرځى.

يوه شبه اودهغې جواب دلته دې چاته دا شبه نه كيږى.چه نبى ﷺ خپله پاتې شوې جوته حضرت عمر رضي الله عنه ته وركړه.په كوم سره چه د حضرت عمر رضي الله عنه فضيلت په ټولوتردې چه په حضرت ابوبكر رضي الله عنه باندې هم ثابتيږى.نوددې جواب دا دې.چه بيشكه چه ددې واقعه نه دحضرت عمر رضي الله عنه علمى كمال ثابتيږى.خودا حضرت صديق رضي الله عنه ته په نسبت سره نه دې.بلكه يو جزئى فضيلت دې.په دې سره دحضرت ابوبكر رضي الله عنه په مقابله كښې افضليت نه لازميږى. ځكه چه حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته كلى فضيلت حاصل دې.

فائده حضرت شاه ولى الله رحمه الله په ازالة الخفاء كښې دحضرت عمر رضي الله عنه علمى مقام ښه واضح كړې دې.(١)

۲۳=بَابُ الْفُتْيَا وَهُوَوَاقِفٌ عَلَى الدَّابَّةِ وَغَيْرِهَا

«فتيا» بضم الفاء اسم مصدر دې.دځه مسئلې جواب ته وائى.لكه څنګه چه ورته ..فتوى.. وئيلې شى.(٢) د..هو..ضمير.مفتى طرف ته راجع دې.(٣) كوم چه د ..فتيا..نه معلوميږى.

..دابة.. اګرچه په لغت كښې «كل ما مشى على الأرض» ته وائى.خوپه عرف كښې دسورلۍ ځناورباندې ددې اطلاق كيږى.

دمخكنى باب سره مناسبت ددې نه وړاندينى باب كښې دعلم فضل ذكروو.او..فتوى..هم علم دې.ددې وجې ددواړو بابونومناسبت ښكاره دې.(٤)

دترجمې مقصد حضرت شاه ولى الله رحمه الله فرمائى.چه د فتوى وركولوپاره.چه مفتى په يو ځائې باندې په اطمينان سره ناست وى.اوهلته هغه دخپل علمى مجلس دعالمانو رحمهم الله سره مشوره هم كوى.اولى اومناسب دې.اواحتياط تقاضا هم دا ده.خودا به هم جائز وى.چه په ولاړه ولاړه يا په روانه سوال كونكى ته مسئله اوښائى.نوكه په سورلۍ سور وى.يا ولاړ وى.ټول جائز دى.اودنبى ﷺ نه ثابت دى.(٥)

حضرت شيخ الهند رحمه الله هم تقريباً چه دا خبره كړې ده.دوى فرمائى.چه د قضاء تعلم اوافتاء وغيره امورمتعلقه بالعلم مقتضى سكون او اطمينان اوحسن ادب دې اود حضرت امام

---

(١)إزالة الخفاء عن خلافة الخلفاء (٨٥/٢–١٤٠)_
(٢)عمدة القارى(٨٧/٢) وفتح البارى(١٨٠/١)_
(٣) فتح البارى (١٨٠/١)_
(٤)فتح البارى(١٨٠/١)_
(٥)شرح تراجم أبواب البخارى(ص.١٥٠)_

مالك وغيره امامانو ﷺ نه هم داسې منقول دى.نوغيراطمينانى حالت مثلاً ركوب .قيام اوسيركښې دافتاء وغيره كراهيت ته خيال تلې شو غالباً چه په ترجمة الباب كښې ددې خيال مدافعت مقصود دې.(١)

حضرت گنگوهى رحمه الله فرمانى چه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په يوحديث كښې نبى ﷺ ارشاد فرمائيلې دې «إياكم أن تتخذوا ظهوردوابكم منابر،فإن الله إنما سخرها لكم لتبلغكم إلى بلد لم تكونوا بالغيه،إلا بشق الأنفس،وجعل لكم الأرض،فعليها فاقضوا حاجتكم»(٢)

ددې نه معلومه شوه چه سورلئ په لاره كښې اودرول اوپه هغې باندې سوريدل نه دى پكار.كه څه ضرورت پيښ شى.نوزمكې ته راكوزيدل پكار دى.

نوامام بخارى رحمه الله دا اوخودله چه په سورلئ باندې سوروى.اويوعالم د سوال جواب وركوې.نوپه دې كښې څه حرج نشته.ځكه چه دعلم د اشاعت په غرض داسې كول ضرورى دى.(٣) دا اگرچه حقيقت دې.چه دجواب فتوى دپاره دذهن استحضار ضرورى دې.خودا په هغه وخت كښې ضرورى دې.چه په مسئله باندې سوچ كول غواړى.اوكه مسئله مستحضره وى.نوبيا په بيانولوكښې څه حرج نشته.

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه پورتنې روايت په كوم كښې چه ددې نه منع شوې ده.چه څورلئ نه منبرجوړ كړې شى.ددې مطلب دا دې.چه مخامخ په سورلئ مه كينئ.چه تقريرپرې كوئ.اونه د فتوى وركولودپاره په دابة باندې سوريږئ.ددې دامطلب نه دې.كه په دابه باندې د سورلئ په حالت كښې كه د مسئلې تپوس اوشى.يا دڅه خاص شرعى مصلحت په وجه په دابه باندې دوعظ اوتقريرپه غرض ركوب اوكړې شى.نودا عمل به ناجائز وى اودجواب وركولو دپاره به د دابه نه راكوزيدل لازمى وى.بهرحال دنهى تعلق د اعتياد سره دې.چه ددې عادت نه دى جوړول پكار.دمطلق استعمال سره نه دې.كه دضرورت اوشرعى مصلحت دوجې وى.نودا نهى نه وارديږى.(٤) والله اعلم.

[٨٣] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ (٥) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ

---

(١) الأبواب والتراجم لشيخ الهند رحمه الله (٥١)_
(٢) سنن أبى داود كتاب الجهادباب فى الوقوف على الدابة رقم ٢٥٦٧)_
(٣) لامع الدرارى (٢/٣١٢)_
(٤) إيضاح البخاري(٥/٩٣)-
(٥) قوله: عن عبدالله بن عمروبن العاص.الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى صحيحه (١/٢٣و ٢٤) كتاب العلم باب السوال والفتيا عند رمى الجمار رقم ١٢٤ و فى (١/٢٣٤) كتاب الحج باب الفتيا على الدابة عند الجمرة رقم ١٧٣٦و ١٧٣٨) وفى (٢/٩٨٦) كتاب الأيمان والنذور باب إذا حنث ناسياً فى الإيمان رقم ٦٦٦٥ وأخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الحج باب جواز تقديم الذبح على الرمى والحلق على الذبح وعلى الرمى وتقديم الطواف عليها كلها رقم ٣١٥٦ و ٣١٦٣) وأخرجه ابوداود فى سننه فى كتاب المناسک باب فيمن قدم شيئاً قبل شئ فى حجه رقم ٢٠١٤ وأخرجه الترمذى فى جامعه فى كتاب الحج باب ما جاء فيمن حلق قبل أن يذبح أو نحر قبل أن يرمى رقم ٩١٦ وأخرجه ابن ماجه فى سننه فى كتاب المناسک باب من قدم نسكاً قبل نسک رقم ٣٠٥١)_

فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ فَقَالَ اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ فَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ فَمَا سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ افْعَلْ وَلَا حَرَجَ

[۱۲۴ و ۱۶۴۹ و ۱۶۵۱ و ۶۲۸۸]

رجال الحديث

① مالك: دامام مالك بن انس رحمه الله دي.ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د «باب من الدين الفرار من الفتن» لاندې تيرشوې دى.[1]

② ابن شهاب: دا امام محمدبن مسلم بن عبيدالله بن شهاب زهرى رحمه الله دي.ددوى مختصرحالات په بدء الوحى كښې د دريم حديث لاندې تيرشوى دى.[2]

③ عيسى بن طلحه بن عبدالله: دا ابومحمد عيسى بن طلحه بن عبيدالله قرشى تيمى مدنى رحمه الله دي.[3]

دوى دخپل پلارحضرت طلحه بن عبدالله ،حضرت معاويه،حضرت ابوهريره حضرت عبدالله بن عمروبن العاص ،حضرت معاذبن جبل اوحضرت عائشې رضي الله عنهم وغيره نه روايت كوى. اوددوى نه روايت كونكوى كښې محمدبن ابراهيم تيمى،محمدبن عبدالرحمن ،امام زهرى،يزيدبن ابى حبيب اوددوى ورارهٔ اسحاق بن يحيى اوطلحه بن يحيى رحمهم الله وغيره روايت كوى.[4]

اسماعيل: دا ابوعبدالله بن ابى اويس اصبحى مدنى رحمه الله دي.ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د «باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال» لاندې تيرشوى دى.[5]

ابن سعد رحمه الله دوى د اهل مدينې په طبقه اولى كښې ذكركړى دى.اوفرمائيلى ئې دى.«كان ثقة كثير الحديث»[6]

امام يحيى بن معين ،نسائى،اوعجلى رحمهم الله فرمائى.«ثقة»[7]

---

[1] كشف البارى(۲\۸۰)_

[2] كشف البارى(۱\۳۲۶)_

[3] تهذيب الكمال(۲۲\۶۱۵) وسير أعلام النبلاء (۴\۳۶۷)_

[4] د شيوخ اوتلامذهٔ دپاره اوګورئ (تهذيب الكمال .(۲۲\۶۱۵و ۶۱۶) وسير أعلام النبلاء (۴\۳۶۷)_

[5] كشف البارى (۲\۱۱۳)_

[6] الطبقات الكبرى لابن سعد(۵\۱۶۴)_

[7] تهذيب الكمال(۲۲\۶۱۶)_

ابن حبان رحمه الله فرمائیلی دی.«کان من أفاضل أهل المدینة وعقلاءهم وأسخیاءهم»[1]

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«من الحکماء العقلاء»[2] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.«ثقة فاضل»[3]

د حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله په دورخلافت کښې غالباً په ۱۰۰ھ کښې وفات شوې وو.[4] رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: د دوی حالات په کتاب الایمان کښې د «باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده» لاندې تیرشوی دی.[5]

فائده العاص. به په یاء سره .العاصی.. ونیلی شی.یا بغیرد یاء نه؟

① اخفش صغیرفرمائی.چه دا هم د یاء سره دې.اوددې حذف جائز نه دې. حالانکه عوام ئې د یاء په حذف سره وائی.

② اونحاس رحمه الله فرمائی.چه دا دټولونحاتو نه خلاف مذهب دې.مطلب دا دې چه دا داسماء منقوصة څنې دې.نوپه دې کښې د یاء اثبات او حذف دواړه جائز دې.[6]

③ علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه دجمهوروپه نیزدا په یاء سره لیکلی شی. اود اهل عربیت په نیزدافصیح دې.حالانکه په ډیروکتابونوکښې د یاء په حذف سره واقع دې.قران کریم کښې قراءت سبعه کښې هم په دې طریقه راغلې دې.مثلاً «الکبیر المتعال»[7]

④ علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه بعضې حضراتودا اجوف ګرځولې دې.[8] نوپه دې صورت کښې په آخر کښې د یاء د وجود هډو څه سوال نه پیدا کیږی.

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ: نبی کریم صلی الله علیه وسلم په حجة الوداع په موقع دخلقودپاره په منی کښې وقوف کړې وو. خلقوبه د دوی نه تپوسونه کول.

دنبی صلی الله علیه وسلم دې آخری حج ته حجة الوداع ،حجة التمام،حجة الاسلام،حجة البلاغ، ونیلی شی.[9]

---

[1] الثقات لابن حبان(۵\۲۱۲)_
[2] الکاشف (۲\۱۱۰) رقم ۴۳۷۷)_
[3] تقریب التهذیب(۴۳۹) رقم ۵۳۰۰)_
[4] تهذیب الکمال(۲۲\۶۱۷)_
[5] کشف الباری(۱\۶۷۹)_
[6] تاج العروس (۱۰\۲۴۵) وتبصیرالمنتبه بتحریرالمشتبه (۳\۸۸۹ و ۸۹۰) وتعلیقات الإکمال للشیخ عبدالرحمن بن یحیی المعلمی الیمانی (۶\۲۲)_
[7] الرعد:۹)_
[8] شرح الکرمانی(۲\۶۳) وعمدة القاری(۲\۸۹)_
[9] تاریخ الخمیس (۲\۱۴۸) وعمدة القاری(۱۸\۳۶)_

حجة الوداع څو ورته ددې وجې وائی چه نبی ﷺ ددې حج په موقع صحابه کرام ﷺ رخصت کړی وو ((لعلی لا أراکم بعد عامی هذا))(1)

حجة التمام ورته ددې وجې ونیلی شی چه په دې موقعه باندې آیت کریمه ﴿وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ (2) نازل شوې دې.(3)

اوحجة الاسلام ورته ددې وجې وائی چه دا دنبی ﷺ د حج فریضه وه دحج دفرضیت نه پس نبی ﷺ هم دا حج ادا کړې وو.(4)

اوحجة البلاغ ورته څکه وائی چه نبی ﷺ په دې حج کښې کومه خطبه ونیلې وه په هغې کښې نې فرمائیلی وو ((اللهم هل بلغت؟ اللهم هل بلغت؟))(5) والله اعلم.

قوله فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ فَقَالَ اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ فَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ فَمَا سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ افْعَلْ وَلَا حَرَجَ:

یوکس راغلو. اوعرض نې اوکړو.زما خیال نه وو.اود ذبحې نه وړاندې مې حلق اوکړو. نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.قربانی وکړه.څه باك نشته.یوکس راغلو.اوعرض نې وکړو.زما خیال نه وو.د رمی نه وړاندې مې قربانی وکړه.نبی ﷺ اوفرمائیل.رمی اوکړه.څه باك نشته. دنبی ﷺ نه چه دیوڅیزدتقدیم اوتاخیرپه باره کښې چه کوم تپوس هم شوې وو.نونبی ﷺ به ورته فرمائیل.څه باك نشته.

دیوم النحر څلورمناسک اوپه دې کښې د ترتیب حکم په یوم النحر کښې څلور کارونه کولی شی.① رمی② نحر.③ حلق یا قصر④ اوطواف زیارت.

ددې څلورو واړه مناسکو ترتیب هم دا دې.کوم چه ذکرشو.د نبی ﷺ نه ددې په ترتیب سره ادا کول ثابت دی.(6) اودا ترتیب مطلوب اومقصود هم دې.

---

(1) جامع الترمذی.کتاب الج باب ماجاء فی الإفاضة من عرفات)_

(2) المائدة:۳)_

(3) صحیح البخاری (۱۱\۱) کتاب الإیمان باب زیادة الإیمان ونقصانه رقم ٤٥ کتاب المغازی باب حجة الوداع رقم ٤٤٠٧) وفی (۲\٦٦۲) کتاب التفسیر.سورة المائدة باب ﴿الیوم أکملت لکم دینکم﴾ رقم ٤٦٠٦) وفی(۲\۱۰۷۹) فاتحة کتاب الإعتصام رقم ۷۲٦۸)_

(4) عن زیدبن أرقم ﷺ أن النبی ﷺ غزا تسع عشرة غزوة وأنه حج بعدما هاجر حجة واحدة لم یحج بعدها حجة الوداع.صحیح البخاری(۲\٦۳۲) کتاب المغازی باب حجة الوداع رقم ٤٤٠٤)_

(5) صحیح البخاری ب(۱\۲۳٤) کتاب الحج باب الخطبة دیام منی رقم ۱۷۳۹)_

(6) کما فی حدیث جابرالطویل عند مسلم فی صحیحه فی کتاب الحج باب حجة النبی ﷺ رقم ۲۹۵۰) ففیه ذکر الأمورالثلاثة سوی الحلق وذکرالحلق فی حدیث أنس ﷺ عندمسلم فی صحیحه فی کتاب الحج باب بیان أن السنة یوم النحر أن یرمی ثم ینحر ثم یحلق... رقم ۳۱۵۲)_

البته په دې خبره کښې اختلاف دې چه دا ترتیب واجب دې که مسنون؟
① دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزدقارن اومتمتع دپاره داولنو درې څیزونو په ترتیب سره ادا کول واجب دی.په طواف کښې ترتیب واجب نه دې.که دا مقدم کوی اوکه مؤخر کوی.یا ئې په مینځ کښې ادا کوی.دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد مفرد دپاره ذبح اوباقی درې څیزونو کښې ترتیب ضروری نه دې.ځکه چه په ده باندې قربانی واجب نه ده.([1])
② امام مالک رحمه الله فرمائی.چه که حلق په رمی باندې مقدم کړی.نوپه ده باندې دم دې.خوکه حلق په نحر باندې یا نحر په رمی باندې مقدم کړی.نوپه ده باندې څه واجب نه دی.لکه چه ددوی په نیز د رمی اوحلق په مینځ کښې ترتیب واجب دې.چه اول دې رمی کولې شی.اوبیا حلق.اوپه باقی څیزونوکښې ترتیب مسنون دې.واجب نه دې.([2])
③ امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په دې څلورو واړه څیزونوکښې ترتیب مسنون دې.که دترتیب نه خلاف دا افعال ادا کړې شی برابره ده که په هیره وی اوکه په حکم باندې د جهل دوجې وی.یا په قصد وی.د اصح روایت مطابق په ده باندې څه واجب نه دی.([3])
امام احمد رحمه الله فرمائی.که په ذکرشوواموروکښې ئې ترتیب په قصد سره پریخودل.نود یو روایت مطابق دم شته.اودبل روایت مطابق په ده باندې دم نشته.اوکه په هیره یا په حکم باندې د جهل دوجې ئې د ترتیب خلاف عمل اوکړو.نوځه پرې واجب نه دی.([4])
دصاحبینو رحمهما الله هم دا مسلک دې.چه په دې مناسکوکښې ترتیب واجب نه دې.نو ددې اموربه تقدیم اوتاخیرسره څه نه واجبیږی.([5])
لکه چه د جمهورو په نیز په څه درجه کښې ترتیب ساقطیږی.اوامام ابوحنیفه رحمه الله د ترتیب د وجوب قائل دې.
دجمهوردلیل یوخوحدیث باب دې.په دې کښې دنبی ﷺ نه د تقدیم حلق علی الذبح په باره کښې تپوس شوې دې.اونبی ﷺ فرمائیلی دی.«اذبح ولاحرج» دغه شان د نحرقبل الرمی په باره کښې ترې تپوس شوې دې.نو نبی ﷺ ورته فرمائیلی دی.«ارم ولاحرج» دغه شان دحدیث په آخرکښې راوی وائی.«فما سئل النبی ﷺ عن شئ قدم ولا أخر إلا قال افعل ولاحرج»
د دې حضراتو استدلال دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما په حدیث باندې هم دې.«أن النبی ﷺ سئل فی حجته فقال ذبحت قبل أن أرمی فأومأ بیده قال ولاحرج، قال حلقت قبل أن أذبح فأومأ بیده ولاحرج»([6])

---

[1] هدایه مع فتح القدیر(۲/۴۶۹) باب الجنایات :البحرالرائق (۳/۲۴) وبدائع الصنائع (۲/۱۵۸)_
[2] المغنی (۳/۲۳۱)_
[3] المجموع شرح المهذب(۸/۱۶۰) و(۸/۲۱۶)_
[4] المغنی(۳/۲۳۰)_
[5] هدایه مع فتح القدیر(۲/۴۶۹) والبحرالرائق (۳/۲۴و ۲۵) وبدائع الصنائع (۲/۱۵۸)_
[6] صحیح البخاری(۱/۱۸) کتاب العلم باب من أجاب الفتیا بإشارة الید والرأس رقم ۸۴) وقدأخرجه فی مواضع کثیرة أنظررمق ۱۷۲۱و ۱۷۲۳) ورقم ۱۷۳٤و ۱۷۳۵و رقم ۶۶۶۶)_

هم دا مفهوم دحضر على .(١) حضرت اسامه بن شريك.(٢) حضرت جابر(٣) حضرت قيس بن سعد رضي الله عنهم (٤) نه مروى دى.

دامام ابوحنيفه رحمه الله استدلال دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په فتوى باندې دې.كومه چه ابن ابى شيبه نقل كړې دې.((من قدم شيأمن حجه أوأخره فليهرق لذلك دماً))(٥)

په دې روايت كښې ابراهيم بن مهاجر راوى دې.اومحدثينو رحمهم الله دده تضعيف كړې دې.(٦) خوهم دا روايت امام طحاوى رحمه الله په شرح معانى الآثاركښې نقل كړې دې.دهغې په يوطريق كښې د ابراهيم بن مهاجر واسطه موجود نه ده.(٧)

ابن ابى شيبه هم دا مفهوم د ابوالشعثاء بن جابربن زيد (٨) سعيد بن جبير(٩) اوابراهيم نخعى (١٠) رحمهم الله نه هم نقل كړې دې.

تركومې پورې چه د ((إفعل ولاحرج)) حديث تعلق دې.نوامام ابوحنيفه رحمه الله ((حرج)) د ((إثم)) په معنى كښې اخلى.لكه چه په دې طريقه د ترتيب په فساد كښې دگناه نفى شوې ده.دكفارې نفى نه ده شوې.(١١)

دلته د غورقابله نكته دا ده.چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما يوطرف ته د ((لاحرج)) حديث نقل كوى.اوددې باوجود دوى د وجوب جزاء فتوى وركوى .په دواړوكښې د تطبيق هم دا صورت دې.چه ((لاحرج)) د نفى ((إثم)) په معنى كښې دې.

ددې قرينه دا هم ده.چه كله داسې قسم سوالونونه زيات شو.نو نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.چه گناه خو د يومسلمان په عزت اخستوكښې دې.(١٢) دلته حرج د گناه په معنى كښې دې.هم دا

---

(١) مصنف ابن ابى شيبة (٣٤٦\٣) كتاب الحج باب فى الرجل يحل قبل أن يذبح)_

(٢) سنن أبى داود كتاب المناسک باب فيمن قدم شيأ فى حجه رقم ٢٠١) ومصنف ابن ابى شيبة (٣٤٦\٣ رقم ١٤٩٦٣)_

(٣) مصنف ابن ابى شيبة(٣٤٥\٣) رقم ١٤٩٥٩)_

(٤) مصنف ابن ابى شيبة (٣٤\٣) رقم ١٤٩٦٥)_

(٥) المصنف لابن أبى شيبة (٣٤٥\٣) كتاب الحج باب فى الرجل يحلق قبل أن يذبح رقم ١٤٩٥٤)_

(٦) قال القطان والنسائى ليس بالقوى وقا أحمد لا بأس به انظرالكاشف (٢٢٥\١١ و ٢٢٦) وانظرتهذيب التهذيب(١٦٧\١١ و ١٦٨) وميزان الإعتدال(٦٧\١١) رقم ٢٢٥)_

(٧) شرح معانى الآثار (٤٩٣\١١) كتاب مناسک الحج باب من قدم من حجه نسكاً قبل نسک قال الحافظ فى الدراية (٤١\٢) وأخرجه الطحاوى من وجه آخر أحسن منه عنه)_

(٨) منصف ابن ابى شيبة (٣٤٥\٣) رقم ١٤٩٥٣)_

(٩) مصنف ابن ابى شيبة (٣٤٥\٣) رقم ١٤٩٥٥)-

(١٠) مصنف ابن ابى شيبة (٣٤٥\٣) رقم ١٤٩٥٧و ١٤٩٥٨)-

(١١) فتح القدير(٤٦٩\٢)_

(١٢) عن اسامة بن شريک قال خرجت مع النبى صلى الله عليه وسلم حاجاً فكان الناس يأتونه فمن قال يارسول الله سعيت قل أن أطوف أوقدمت شيأ أو أخرت شئاً فكان يقول لا حرج إلا على رجل إقترض عرض رجل مسلم وهو ظالم فذلک حرج وهلک ..سنن أبى داود كتاب المناسک باب فمين قدم شيأ قبل شئ فى حجه رقم ٢١٠٥)_

وجه وه كله چه صحابه كرامو ﷺ د نبي ﷺ نه خطبه واوريده نوخپل افعال ئې د ترتيب خلاف بياموندل.ددې وجې هغوى سره دګناه ويره شوه ددې خيال داصلاح دپاره نبي ﷺ اوفرمائيل ((لاحرج))(١)

حقيقت دا دې چه د نبي ﷺ سره دصحابه كرامو ﷺ دحج دا اولنئ موقع وه اوترډېره وخته پورې دمناسك حج صحيح علم چاته نه وو ددې وجې د فساد ترتيب ګناه پورته كړې شوه ددې تائيد په شرح معانى الآثاركښې دحضرت ابو سعيد خدري ﷺ په روايت سره كيږي په كوم كښې چه نبي ﷺ د مختلفو سوالاتوپه جواب كښې ((لاحرج)) فرمائيل اوبيا ئې اوفرمائيل.((عبادالله وضع الله عزوجل الحرج الضيق وتعلموا مناسككم فإنها من دينكم))(٢)

ددې نه معلومه شوه.چه نبي ﷺ په دې مقام كښې دحرج كومه نفي كړې ده دا ددې وجې وو.چه دمناسك حج علم عام نه وو.خودا د وجوب جزاء اودم سره منافي نه ده (٣)

هم دا وجه ده.چه حضرت ابن عباس ﷺ د((لاحرج)) والا حديث راوى دې اوپه خپلهفتوى كښې د وجوب دم تصريح كوى.

دحضرت اسامه بن شريك په روايت كښې هم دې طرف ته اشاره ده.چه دلته د ((حرج)) نه مراد ((اثم)) دې.ځكه چه نبي ﷺ فرمائى((لاحرج لاحرج، إلا على رجل اقترض عرض رجل مسلم وهو ظالم فذلك الذى حرج وهلك))(٤)

ګورئ په حالت داحرام كښې كه يوكس ته د بيمارئ يا تكليف دوجې دحلق ضرورت پېښ شي.دقرآن په نص دا جائز ده.(٥)

اوپه ده باندې څه ګناه نشته.خوددې باوجود ددې عمل په وجه په ده باندې په اتفاق سره جزاء واجب ده.(٦)

دحجة الوداع په موقع چونكه د صحابه كرام ﷺ يوه لويه ډله د نبي ﷺ سره په اول ځل حج ادا كولو.اودمناسك حج نه كماحقه واقفيت نه وو ددې وجې دفساد ترتيب ګناه پورته كړې شوه.اوپه ((لاحرج)) ئې هم دې رفع اثم بيان كړو.اګرچه دم بيا هم واجب دې.

ددې تقريرنه معلومه شوه.چه دعدم اثم حكم په هغه وخت كښې وو.په كوم وخت كښې چه د مناسك حج په صحيح طريقه باندې واقفيت نه وو.اوس چونكه دمناسك ټول تفصيلات

---

(١)انظر الكوكب الدرى وتعليقاته (١٢١/٢و ١٢٢)_

(٢)شرح معانى الآثار(٤٩٢/١) كتاب المناسک باب من قدم نسکاً قبل نسک)_

(٣)المصدر السابق)_

(٤)سنن أبى داود كتاب المناسک باب فيمن قدم شيأ قبل شئ فى حجه رقم ٢٠١٥)_

(٥) قال الله تعالى ﴿ ولاتحلقوا روسكم حتى يبلغ الهدى محله.فمن كان منكم مريضاً أو به أذى من رأسه ففديه ممن صيام أو صدقة أو نسک..﴾ البقرة:١٩٦)_

(٦)بدائع الصنائع (١٩٢/٢) فصل:وأما ما يجرى مجرى الطيب....)_

مخامخ راغلي دي.نواوس جهل څه عذر نه دې.نوکه نن د داسې جهالت په وجه ترتيب فاسد شي.نونه يواځې دا چه دم به واجب وى بلکه ګناه به هم وى. والله اعلم.

امام طحاوى رحمه الله داامام ابوحنيفه رحمه الله په مسلك باندې د آيت كريمه نه ﴿وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ﴾ (١) باندې استدلال كړې دې. چه ددې آيت په رڼا كښې نحر په حلق باندې مقدم كول ضرورى دى.تقديم حلق على النحر جائز نه دى اودا اجماعى مسئله ده.نوهركله چه دمحصر دا حكم دې.نود قارن وغيره به هم دا حكم وى.چه حلق قبل النحر به صحيح نه وى.اودمخالفت په صورت كښې به دم واجب وى.(٢)

دحديث د ترجمة الباب سره انطباق دلته ترجمة الباب ((باب الفتيا وهو واقف على الدابة وغيرها)) دې.دعلامه عينى اوقسطلانى وغيره په نسخوكښې هم داسې دى.(٣) اودكرمانى اوحافظ ابن حجر رحمهما الله په نسخوكښې د ((وغيرها)) لفظ نشته.(٤) كه دا لفظ موجود وى.اوكه نه وى.په حديث باب كښې د ((وقف في حجة الوداع بمنى للناس)) الفاظ خوشته.د دابه وغيره څه ذكرنشته.نوپه ترجمة الباب كښې اوپه حديث مذكوركښې به مطابقت څنګه وى؟

علامه عينى اوقسطلانى رحمهما الله په نسخوكښې چونكه د ((وغيرها)) لفظ راغلې دې ددې وجې هغوى د روايت د اطلاق نه ترجمة ثابته كړې ده. نو فرمائى.چه ((وقف)) دخپل عموم په وجه وقوف على الدابة وغيرالدابة دواړو ته شامل دې.كيدې شى.چه نبى ﷺ په دابه وو.اوكيدې شى.چه په دابه نه وو. (٥)

خودحافظ ابن حجراوكرمانى رحمهما الله په نسخوكښې چونكه د ((وغيرها)) لفظ نشته.صرف ((باب الفتيا وهو واقف على الدابة)) ذكردى.ددې وجې دې ته ضرورت پيښ شو.چه هغه خپله ترجمه په روايت سره ثابته كړى.اوپه روايت كښې د وقوف على الدابه څه ذكرنشته.بلكه په هغې كښې خو مطلقاً ..وقف.. ذكردې.نودامام بخارى رحمه الله ترجمه به څنګه ثابتيږى؟

---

(١) البقرة:١٩٦)_

(٢) شرح معانى الآثار(٤٩٣/١) قال الكاسانى رحمه الله فى بدائعه (١٥٨/٢) ولأبى حنيفه رحمه الله الإستدلال بالمحصر إذا حلق قبل الذبح لأذى فى رأسه أنه تلزمه الفدية بالنص فالذى يحلق رأسه بغير الأذى به أولى ولهذا قال أبوحنيفة بزيادة التغليظ فى حق من حلق رأسه قبل الذبح بغير أذى حيث قال لا يجزئه غيرالدم وصاحب الأذى مخير بين الدم والطعام والصيام.كما خيره الله تعالى وهذا هو المعقول لأن الضرورة سبب لتخفيف الحكم وتيسيره فالمقول أن يجب فى حال الإختيار بذلک السبب زيادة غلظ لم يكن فى حال العذر فأما أن يسقط من الأصل فى غيرحالة العذر ويجب فى الة العذر فممتنع)_

(٣) عمدة القارى(٨٨/٢) وارشاد السارى(١٨٢/١)_

(٤) شرح الكرمانى(٦٣/٢) وفتح البارى(١٨٠/١)_

(٥) عمدة القارى (٨٨/٢) وإرشاد السارى(١٨٢/١)_

حافظ ابن حجر رحمه الله جواب ورکړې دې چه امام بخاری رحمه الله د روایت نوروطرقو ته اشاره کړې ده.په کتاب الحج کښې روایت دې ((وقف رسول الله ﷺ على ناقته ..))(۱) نو د مصنف رحمه الله ترجمه ثابته شوه (۲)

په دې باندې اشکال دې چه په روایت کښې خو د ((ناقة)) ذکردې اوپه ترجمة کښې د ((دابة)) ذکردې اوپه دابه اوناقه کښې فرق وی.ځکه چه ناقه خاص دابه ته وائی او د دابه اطلاق په هرخناورکیږی

ددې جواب دا دې.اګرچه په لغت کښې د دابة اطلاق ((مايدب على الأرض)) باندې کیږی خوپه عرف کښې په مرکوب باندې کیږی.اوناقه هم احدی المرکوبات ده.(۳) نو هرکله چه په یو مرکوب باندې اودریدل اودجواب ورکول جواز ثابت شو.نودنورو مرکوبات باندې د سورلی په حال کښې جواب ورکول پخپله ثابت شو.

علامه عینی رحمه الله په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې دا اعتراض کړې دې چه دا څنګه خبره ده چه دعوی دلته ده.اودلیل هلته؟ یعنی دعوی خوپه کتاب العلم کښې ده.اودلیل په کتاب الحج کښې دې.(۴)

خودا اعتراض صحیح نه دې.ځکه چه دا د تراجم ابواب په سلسله کښې دامام بخاری رحمه الله د جاری اصولوځنی دې.(۵)

علامه عینی رحمه الله اګرچه دلته اودغه شان په ((باب السفر في العلم)) کښې په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې سخت تنقید کړې دې.اوپه دې اصل باندې ئې رد کړې دې.(۶) خوپخپله دوی په ((باب من حمل جارية صغيرة على عنقه في الصلاة)) په ترجمة الباب کښې د((على عنقه)) اثبات هم په دې اصل په مدد سره کړې دې.(۷) دغه شان په باب((تسوية الصفوف عند الإقامة وبعدها)) کښې هم دا اصل استعمال کړې دې.(۸) دغه شان په باب((باب التقاضي والملازمة في المسجد)) کښې هم ددې اصل ذکرکړې دې.(۹) والله اعلم وعلمه اتم واحکم.

---

(۱) صحيح البخاري(۱\۲۳٤) کتاب الحج باب الفتيا على الدابة عند الجمرة رقم ۱۷۳۸)_
(۲) فتح الباري(۱\۱۸۰و ۱۸۱)_
(۳) فتح الباري(۱\۱۸۰)_
(۴) عمدة القاري(۲\۸۸)_
(۵) الأبواب والتراجم (ص.۸) أصل نمبر ۶ ومقدمة لامع الدراري (ص.۳۵۷) الأصل الحادي عشر من أصول التراجم)
(۶) عمدة القاري(۲\۸۸) و(۲\۱۷۷و ۱۷۸)_
(۷) عمدة القاري(٤\۳۰۱) کتاب الصلاة أبواب سترة المصلی)_
(۸) عمدة القاري (۵\۲۵۳) کتاب الأذان)_
(۹) عمدة القاري (٤\۲۲۸) کتاب الصلاة)_

٢٤- باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس

په مخکنی اودې باب کښې مناسبت ښکاره دې چه په دواړو بابونوکښې د فتوی ذکر دې.

د ترجمة الباب مقصد حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دلته د «**فتوی بالإشارة**» جواز بیانوی. اګرچه په دې زمانه کښې احوط دا ده چه په اشاره باندې فتوی ورنکړې شی.(١)

مطلب دا دې چه په حقیقت کښې مستفتی دجواب داجمال نه غلطه فائده اخلی نوپه اشارې سره خوبه په طریق اولی غلطه فائده اخستې شی. ځکه چه کیدې شی ځوك دا سوچ اوکړی چه په اشاره سره فتوی ورکول به جائز نه وی. نوامام بخاری رحمه الله دا جواب بیان کړو. اودا ئې اووئیل چه کله په یوځائې کښې دخطرې ویره نه وی نوپه اشارې سره په جواب ورکولوکښې څه حرج نشته. خوچه په کوم ځائې کښې د مستفتی د ګډبډ کولوویره وی. اومفتی دا ګنړی چه مستفتی به دهوکه وکړی. نوپه اشارې سره جواب ورکول نه دی پکار. بلکه ښکاره جواب ورکول پکار دی.

حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائی. چه نبی ﷺ به په تعلیم اوتبلیغ کښې ډیراهتمام کولو په ایضاح اوافهام کښې به ئې دهرممکن اړخ خیال ساتلو. تردې چه بعضې وخت به ئې درې درې ځله ارشاد فرمائیل.(٢) اوکله به ئې د بل غرض دپاره د دومره تکرارنه کاراخستلو چه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته به ددې وینا نوبت راغلو. «لیته سکت»(٣)

ددې تقاضا دا وه. چه دسوال جواب. اوتعلیم اوتبلیغ. په واضح انداز کښې. په غیرمبهم الفاظواوعباراتوکښې ادا کړې شی. صرف په اشاروباندې اکتفاء نشی کولې. نوامام بخاری رحمه الله دا اوخودله. که یوطرف ته دنبی ﷺ نه په تعلیم کښې .زیات وضاحت. دافهام اهتمام منقول دې. نوبل طرف ته دنبی ﷺ نه په اشارو کښې جواب ورکول هم منقول دی. اصل کښې چه څنګه موقع به وه. هغه شان به ئې کول. که په خبره کښې به خفاء وه. نوښکاره وضاحت به ئې کولو. اوکه خبره به ښکاره وه. صرف په اشاره به کارکیدو. نوپه خپلو اشارو سره به ئې جواب ورکولو. نوکه دمستفتی دمفتی نه د څه آسانې خبرې تپوس اوکړی. دکوم جواب چه په

---

(١) شرح تراجم أبواب البخاری)_

(٢) عن أنس عن النبی ﷺ أنه کان إذا تکلم بکلمة أعادها ثلاثاً حتى تفهم عنه... صحیح البخاری (١/٣٥) کتاب العلم باب من أعاد الحدیث ثلاثاً لیفهم عنه رقم ٩٥)_

(٣) عن أبی بکرة قال کنا عند رسول الله ﷺ فقال ألا أنبئکم بأکبر الکبائر؟ ثلاثاً.. الإشراک بالله وعقوق الوالدین. وشهادة الزور. أو قول الزور. وکان رسول الله ﷺ متکئاً فجلس فما زال یکررها حتى قلنا لیته سکت.. صحیح مسلم کتاب الإیمان باب الکبائر وأکبرها رقم ٢٥٩) وانظر الجامع للترمذی کتاب الشهادات باب ما جاء فی شهادة الزور رقم ٢٣٠١ وأبواب تفسیرالقرآن باب ومن سورة النساء رقم ٣٠١٩) ومسند أحمد (٥/٣٦ و ٣٧)_

اشاره ورکول کافی کیږی نوپه دې کښې څه باك نشته
..هرسخن نکتے وهرنکته مکانے دارد.. (١)

[٨٣] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ (٢) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ فِي حَجَّتِهِ فَقَالَ ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ قَالَ وَلَا حَرَجَ قَالَ حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ وَلَا حَرَجَ
[١٦٣٤و ١٦٣٦و ١٦٤٧و ١٦٤٨و ٦٢٨٩]

رجال الحديث

① موسى بن اسماعيل: دا ابوسلمه موسى بن اسماعيل تبوذکی بصری رحمه الله دی د دوی مختصر حالات په بدء الوحی کښې د څلورم حدیث لاندې تیرشوی دی.(٣) مونږ به دلته لږ په تفصیل سره ددوی حالات ذکرکوو.

ددوی د ابراهیم بن سعد الزهری، جریربن حازم، جویریه بن اسماء، حماد بن زید، حماد بن سلمه، داود بن ابی الفرات، سلام بن ابی مطیع، شعبه بن الحجاج، عبدالله بن المبارک، عبدالعزیز بن مسلم، عبدالوارث بن سعید. معتمربن سلیمان، مهدی بن میمو او ابوعوانه الوضاح بن عبدالله وغیره حضراتو نه روایت د حدیث کوی.

اود دوی نه روایت کونکوکښې امام بخاری، ابوداود، ابرایهم حربی، احمدبن منصور رمادی، ابوزرعه رازی، ابوحاتم رازی، او یعقوب بن شیبه رحمهم الله وغیره دی.(٤)

امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی: «ثقة مامون»(٥)

ابوالولید طیالسی رحمه الله فرمائی: «ثقة صدوق»(٦)

---

(١) الأبواب والتراجم (ص۵۱)_

(٢) قوله عن ابن عبس، الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى صحيحه (١١\٢٣٢ و ٢٣٣) كتاب الحج باب الذبح قبل الحلق رقم (١٧٢١ و ١٧٢٣) و(١١\٢٣٤ و) كتاب الحج باب إذا رمى بعد ما أمسى أو حلق قبل أن يذبح ناسياً أو جاهلاً رقم ١٧٣٤ و ١٧٣٥) و(١٢\٩٨٦) كتاب الأيمان والنذور باب إذا حنث ناسياً فى الأيمان رقم ٦٦٦٦) وأخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الحج باب جواز تقديم الذبح على الرمى والحلق على الذبح وعلى الرمى وتقديم الطواف عليها كلها رقم ٣١٦٤ وأخرجه النسائى فى سننه فى كتاب المناسك باب الرمى بعد المساء رقم ٣٠٦٩) وأخرجه أبوداود فى سننه فى كتاب المناسك باب الحلق والتقصير رقم ١٩٨٣) وأخرجه ابن ماجه فى سننه فى كتاب المناسك باب من قدم نسكاً قبل نسك رقم ٣٠٤٩ و ٣٠٥٠)

(٣) كشف البارى (١\٤٣٣ و ٤٣٤)_

(٤) د شيوخ اوتلازمذه دپاره اوګورئ تهذيب الكمال (٢٩\٢٢ و ٢٤)_

(٥) تهذيب الكمال (٢٩\٢٤)_

(٦) تهذيب الكمال (٢٩\٢٥)_

ابن سعد رحمه الله فرمائى: «كان ثقة كثير الحديث»[1]
ابن حبان دوى په كتاب الثقات كښې ذكر كړى دى.او ليكلى ئې دى: «كان من المتقنين»[2]
ابن حزم رحمه الله فرمائى: «ثقة إمام مشهور»[3]
عجلى رحمه الله فرمائى: «بصرى ثقة»[4]
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: ثقة ثبت»[5]
دغه شان دوى فرمائى: «الحافظ الحجة أحد الأعلام»[6]
البته ابن خراش رحمه الله په دوى باندې كلام كوى.اوپه مبهم انداز كښې فرمائى: «صدوق وتكلم الناس فيه»[7]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى: «كذا قال ولم يفسر ذلك الكلام»[8] مطلب دا دې چه دچا توثيق موجود وى.په هغه باندې مبهم جرح څه اثرنه كوى.نو دابن خراش رحمه الله دكلام څه اعتبارنشته
حافظ ذهبى رحمه الله په ميزان الاعتدال كښې ددوى د ذكركولونه پس ليكى: «لم أذكرإها سلمة للين فيه،لكن لقول ابن خراش فيه، صدوق وتكلم الناس فيه قلت القائل الذهبى نعم تكلموا فيه بأنه ثقة ثبت رافضى»[9]
په كال ٢٢٣هـ كښې وفات شوى دى.[10] رحمه الله تعالى رحمة واسعة.
④ وهيب: دا وهيب بن خالد بن عجلان باهلى بصرى رحمه الله دې.د دوى حالات په كتاب الايمان كښې د «باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال» لاندې تيرشوي دې.[11]
⑤ ايوب: دا ايوب بن ابى تميمه كيسان سختيانى بصرى رحمه الله دې.د دوى حالات په كتاب

---

[1] الطبقات لابن سعد (٧\٣٠٦)_
[2] الثقات لابن حبان (٩\١٦٠)_
[3] المحلى (٦\٢٠١)_
[4] تعليقات تهذيب الكمال(٢٩\٢٦)_
[5] الكاشف (١٢\٣٠١) رقم ٥٦٧٧)_
[6] ميزان الإعتدال(١٤\٢٠٠) رقم ٨٨٤٧)_
[7] المصدر السابق)_
[8] هدى السارى (ص.٤٤٦)_
[9] ميزان الإعتدال(١٤\٢٠٠) رقم ٨٨٤٧)_
[10] تهذيب الكمال(٢٩\٢٦)_
[11] كشف البارى(١٢\١١٨)_

الايمان كښې د «باب حلاوة الإيمان» لاندې تيرشوى دى (١)

④ عكرمه: دا عكرمه مولى عبدالله بن عباس رحمه الله دې ددوى تفصيلى حالات په كتاب العلم كښې د «باب قول النبى ﷺ اللهم علمه الكتاب» لاندې تيرشوى دى

⑤ ابن عباس رضي الله عنهما: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حالات په بدء الوحى كښې دځلورم نمبرحديث لاندې اوپه كتاب الايمان كښې د«باب كفران العشير وكفر دون كفر» لاندې تيرشوى دى (٢)

قوله أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ فِي حَجَّتِهِ فَقَالَ ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ قَالَ وَلَا حَرَجَ: دنبى ﷺ نه دحج په موقع باندې تپوسونه شوى وو. يوكس تپوس وكړو چه ما د رمى نه وړاندې ذبح كړې ده. نبى ﷺ په لاس سره اشاره وكړه او وې فرمائيل څه باك نشته.

كيدې شى چه نبى ﷺ اشاره اوقول دواړه جمع كړى وى. په دې طريقه چه په لاس ئې اشاره كړې وى. اوپه ژبه ئې «لاحرج» فرمائيلى وى.

دا هم كيدې شى. چه «لاحرج» دا د اشارې شرح وى. يعنى نبى ﷺ چه په لاس باندې كومه اشاره كړې وه. ددې مطلب دا وو. چه «لاحرج» په تقديم اوتاخير كښې څه باك نشته. دا دويمه معنى دامام بخارى رحمه الله د ترجمې سره زياته مناسب ده. (٣)

قوله قَالَ حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ وَلَا حَرَجَ: يوكس اووئيل ما د ذبحې نه وړاندې حلق كړې دې. نبى ﷺ د لاس په اشارې سره اوفرمائيل. څه باك نشته.

[٨٣] حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ عَنْ سَالِمٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُقْبَضُ الْعِلْمُ وَيَظْهَرُ الْجَهْلُ وَالْفِتَنُ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْهَرْجُ فَقَالَ هَكَذَا بِيَدِهِ فَحَرَّفَهَا كَأَنَّهُ يُرِيدُ الْقَتْلَ

رجال الحديث

① المكى بن ابراهيم: دا امام مكى بن ابراهيم بن بشير بن فرقد تميمى حنظلى بلخى دې. ددوى كنيت ابوالسكن دې. بعضې حضراتو ددوى د نيكه نوم فرقد بن بشير خودلې دې. (٤)

---

١) كشف البارى (٢٦١٢)_

٢) كشف البارى (١\٤٣٥) و (٢\٢٠٥)_

٣) فتح البارى (١\١٨١)_

٤) تهذيب الكمال (٢٨\٤٧٦) وسير أعلام النبلاء (٩٥٤)_

په كال ۱۲۲ه كښې پيدا شوې وو

دوى دامام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك. يزيدبن ابى عبيد. بهزبن حكيم. عبدالله بن سعيد بن ابى هند. ابن جريج. حنظله بن ابى سفيان. ايمن بن نابل. فطربن خليفه. هشام الدستوائى. اوعثمان بن الاسود. رحمهم الله وغيره نه روايت كوى

ددوى نه روايت كونكو كښې امام احمدبن حنبل. امام بخارى. عبيدالله بن قواريرى. يحيى بن معين. محمدبن بشار. بندار بن ابراهيم بن يعقوب جوزجانى. اوعبدالصمد بن غالب رحمهم الله وغيره حضرات دى.[1]

امام مكى بن ابراهيم رحمه الله دامام بخارى رحمه الله په خصوصى استاذانو كښې وو تردې چه دامام بخارى رحمه الله په صحيح بخارى كښې چه كوم ثلاثيات دى. په هغې كښې يوولس احاديث هم ددوى نه مروى دى.[2]

ددوى دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله سره ډيرعقيدت وو. دوى فرمائى. «كان أبوحنيفة أعلم أهل الأرض»[3]

كردرى اوموفق په «مناقب» كښې نقل كړى دى. چه يوخل امام مكى بن ابراهيم درس وركولو نودوى اوفرمائيل «حدثنا أبوحنيفة...» يوكس اوويل اووې ونيل «حدثنا عن ابن جريج ولا تحدثنا عنه» مكى بن ابراهيم ډيرسخت خفه شو. په مخ باندې ئې ددې آثاربنكاره شول هغه كس توبه اوويسته. اود پښيمانتيا اظهارئې اوكړو. خوحضرت مكى بن ابراهيم رحمه الله اوفرمائيل «إنا لا نحدث السفهاء حرمت عليك أن تكتب عنى قم من مجلسى» نوترڅوپورې چه هغه دمجلس نه پاسيدلې نه وو. دوى حديث نه اورول. د هغه د پاسيدو نه پس دوى اوفرمائيل. «حدثنا أبوحنيفة..» اودرس ئې جارى كړو.[4]

امام احمدبن حنبل اوامام عجلى رحمهما الله فرمائى. «ثقة»[5]

---

[1] دشيوخ اوتلامذو دپاره اوګورئ تهذيب الكمال (۲۸\۴۷۷، ۴۷۹) وسيرأعلام النبلاء (۱۹\۵۵۰ و ۵۵۱)۔

[2] مقدمة لامع الدرارى (ص. ٦٤) و(١٠٢ و١٠٣) وأخرج عنه البخارى الأربعة الأول من الثلاثيات والسادسة والسابعة والحادية عشرة والثانية عشرة. والرابعة عشرة والسابعة عشرة والتاسعة عشرة)) دامام مكى بن ابراهيم نه علاوه دنورو ثلاثياتو مكمل تخريج به هم وراندې په ((باب إثم من كذب على النبى ﷺ)) داولنى ثلاثى روايت لاندې راشى۔

[3] البداية والنهاية (١٠\١٢٣)۔

[4] مناقب الإمام الأعظم للإمام الموفق بن احمد المكى (١١\٢٠٣ و ٢٠٤) الباب التاسع فى حفظ لسانه وورعه ونفواه ومناقب الإمام الأعظم للإمام محمدبن محمد بن شهاب المعروف بابن البزازالكردرى (١١\٢٢٥ و بذيل مناقب الموفق) الفصل الرابع فى أخلاقه)۔

[5] تهذيب الكمال (٢٨\٤٧٩) وسيرأعلام النبلاء (١٩\٥٥١)۔

امام یحی بن معین رحمه الله فرمائی.«صالح»([1])
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.«محله الصدق»([2])
امام نسائی رحمه الله فرمائی.«لیس به بأس»([3])
امام محمدبن سعد رحمه الله فرمائی.«وکان ثقة ..وکان ثبتاً في الحديث»([4])
امام دارقطنی رحمه الله فرمائی«ثقة مامون»([5])
مسلمه رحمه الله فرمائی.«ثقة»([6])
خلیلی رحمه الله فرمائی.«ثقة متفق عليه»([7])
په کال ۲۱۵ھ کښې وفات شوی وو.([8])

② **خنظله بن ابی سفیان:** دا خنظلة بن ابی سفیان جُمحی قرشی مکی دې.د دوی مختصر حالات په کتاب الایمان کښې د«باب الإیمان وقول النبی ﷺ بنی الإسلام علی خمس» لاندې تیرشوی دی.([9])

③ **سالم:** دا سالم بن عبدالله بن عمر رحمه الله دې.د دوی جالات په کتاب الایمان کښې د «باب الحیاء من الإیمان» لاندې تیرشوی دی.([10])

④ **حضرت ابوهریره رضی الله عنه:** ددوی حالات په کتاب الایمان کښې د «باب أمور الإیمان»لاندې تیرشوی دی.([11])

قوله: قَالَ يُقْبَضُ الْعِلْمُ وَيَظْهَرُ الْجَهْلُ وَالْفِتَنُ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ: نبی ﷺ اوفرمائیل.چه علم به پورته شي.اوجهالت اوفتنې به غالبې شي.اوپه هرج کښې به زیادت اوشي.

---

[1])المصادر السابقة)_
[2])المصادر السابقة)_
[3])المصادر السابقة)_
[4])الطبقات لابن سعد(۳۷۳\۷)_
[5])تهذيب الكمال(۴۸۱\۲۸) وسير أعلام النبلاء (۵۵۲\۹)_
[6])تهذيب التهذيب(۲۹۵\۱۰)_
[7])المصدر السابق)_
[8])الكاشف (۲۹۳\۲) رقم ۵۶۲۱)_
[9])کشف الباری(۶۳۶\۱)_
[10])کشف الباری(۱۲۸\۲)_
[11])کشف الباری(۶۵۹\۱)_

قوله قِيلَ يَارَسُولَ اللّٰهِ وَمَا الْهَرْجُ: تپوس اوشو. يارسول الله هرج څه څيز دې؟

قوله فَقَالَ هَكَذَا بِيَدِهِ فَحَرَّفَهَا كَأَنَّهُ يُرِيدُ الْقَتْلَ: نبى ﷺ په لاس سره اشاره وکړه. لکه چه نبى ﷺ لاس کوږ کړو اوخودل. د نبى ﷺ مراد قتل وو

مطلب دا چه نبى ﷺ په لاس سره اشاره اوکړه اوتحريف ئې اوکړو. يعنى لاسونه ئې کاږه کړل داسې اشاره ئې اوکړه څنګه توره وهونکې لاس اوچتوى

((كأنه يريد القتل)) جمله دحنظله په شاګردانوکښې دچا اضافه شوې تفسيرى جمله ده. ځکه چه دا روايت ابوعوانه د عباس دورى عن ابى عاصم عن حنظلة په طريق سره نقل کړې دې.

عباس دورى وائى ((وأرنا أبوعاصم كأنه يضرب عنق الإنسان)) (١)

د ((هرج)) معنى دهرج اصلى معنى ديوڅيز اتساع اوکثرت دې. هم ددې وجې د اختلاط اوفتنې دپاره هم استعمال شوې دې. (٢)

علامه کرمانى رحمه الله فرمائى. چه ((هرج)) معنى فتنه ده. ددې نه د قتل معنى اخستل مجازاً صحيح دى. ځکه چه هرج دقتل د لوازماتوڅخه دې. البته که د هرج معنى د قتل د لغت نه ثابته شى نوبيا به دا ددې حقيقى معنى وى. (٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه علامه کرمانى رحمه الله نه ذهول شوې دې. ځکه چه وړاندې په کتاب الفتن کښې دا روايت راغلې دې. (٤) په هغې کښې راوى دا تصريح هم کړې ده. چه داهل حبشه ژبه کښې د هرج معنى قتل دې. (٥)

[٨٦] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ فَاطِمَةَ عَنْ أَسْمَاءَ (٦) قَالَتْ أَتَيْتُ عَائِشَةَ وَهِيَ تُصَلِّي فَقُلْتُ مَا شَأْنُ النَّاسِ فَأَشَارَتْ إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا

---

(١) فتح البارى (١٨٢/١)_

(٢) النهاية (٢٥٧/٥)_

(٣) شرح الكرمانى (٦٦/٢)_

(٤) صحيح البخارى (١٠٤٦/٢و ١٠٤) كتاب الفتن باب ظهور الفتن رقم ٧٠٦٥) رقم ٧٠٦٥و ٧٠٦٦)_

(٥) فتح البارى (١٨٢/١)_

(٦) قوله عن أسماء: الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى (٣٠/١و ٣١) كتاب الوضوء باب من لم يتوضأ إلا من الغشى المثقل رقم (١٨٤) وى (١٢٦/١) كتاب الجمعة (الصلاة) باب من قال فى الخطبة بعد الثناء أما بعد رقم ٩٣٢) وفى (١٤٤/١) كتاب الكسوف (الصلاة) باب صلاة النساء مع الرجال فى الكسوف رقم ١٠٥٣) وباب من أحب العتاقة فى كسوف الشمس رقم ١٠٥٤) وفى (١٤٥/١) كتاب الكسوف باب قول الإمام فى خطبة الكسوف (أما بعد رقم ١٠٦١) وفى (١٦٥/١) كتاب السهو رقم ١٠٥٤) باب الإشارة فى الصلاة رقم (١٢٣٥) وى (١٨٣/١) كتاب الجنائز باب ما جاء فى عذاب القبر رقم ١٣٧٣) وفى (٣٤٢/١) كتاب العتق باب ما يستحب من العتاقة فى الكسوف والآيات رقم ٢٥١٩) و(٢٥٢٠) وفى (١٠٨٢/٢) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة باب الإقتداء بسنن رسول الله ﷺ رقم ٧٢٨٧) ومسلم فى صحيحه فى كتاب الكسوف باب ما عرض على النبى ﷺ فى صلاة الكسوف من أمرالجنة والنار رقم ٢١٠٣و ٢١٠٨) والنسائى فى كتاب الكسوف باب التشهد والتسليم فى صلاة الكسوف رقم ١٤٩٨ وابن ماجه فى سننه وفى كتاب إقامة اللصلاة باب ما جاء فى صلاة الكسوف رقم ١٢٦٥)_

النَّاسِ قِيَامٌ فَقَالَتْ سُبْحَانَ اللَّهِ قُلْتُ آيَةٌ فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا أَيْ نَعَمْ فَقُمْتُ حَتَّى تَجَلَّانِي الْغَشْيُ فَجَعَلْتُ أَصُبُّ عَلَى رَأْسِي الْمَاءَ فَحَمِدَ اللَّهَ عَزَّوَجَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْ شَيْءٍ لَمْ أَكُنْ أُرِيتُهُ إِلَّا رَأَيْتُهُ فِي مَقَامِي حَتَّى الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي قُبُورِكُمْ مِثْلَ أَوْ قَرِيبَ لَا أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ يُقَالُ مَا عِلْمُكَ بِهَذَا الرَّجُلِ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ أَوْ الْمُوقِنُ لَا أَدْرِي بِأَيِّهِمَا قَالَتْ أَسْمَاءُ فَيَقُولُ هُوَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى فَأَجَبْنَا وَاتَّبَعْنَا هُوَ مُحَمَّدٌ ثَلَاثًا فَيُقَالُ نَمْ صَالِحًا قَدْ عَلِمْنَا إِنْ كُنْتَ لَمُوقِنًا بِهِ وَأَمَّا الْمُنَافِقُ أَوْ الْمُرْتَابُ لَا أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ فَيَقُولُ لَا أَدْرِي سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ شَيْئًا فَقُلْتُهُ

[۱۸۲و ۸۸۰و ۱۰۰۵و ۱۰۰٦و ۱۰۱۲و ۱۱۷۸و ۲۳۸۳و ۲۳۸۴و ٦۸۵۷و ۷۱۲]

رجال الحديث

① **موسى بن اسماعيل:** ددوى حالات اوس هم ددې باب كښې داولنى حديث لاندې تيرشول.

② **وهيب:** دا وهيب بن خالد بن عجلان باهلى بصرى رحمه الله دې.ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د «باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال» لاندې تيرشوى دى.[1]

③ **هشام:** دا هشام بن عروه رحمه الله دې.ددوى اجمالى حالات په بدء الوحى كښې د دويم حديث لاندې [2] اوتفصيلى حالات په كتاب الايمان كښې د«باب أحب الدين إلى الله أدومه» لاندې تيرشوى دى.[3]

④ **فاطمه:** دا فاطمه بنت المنذربن الزبير بن العوام قرشيه اسديه ده.[4]
داد هشام بن عروه بن الزبيرالعوام بى بى ده اوددوى نه په عمركښې دولس ديارلس كاله مشره وه.[5]
دوى د خپلې نيا حضرت اسماء بنت ابى بكر.حضرت عمره بنت عبدالرحمن انصاريه او حضرت ام سلمه رضي الله عنها روايت كوى.
ددوى نه روايت كونكوكښې ددوى د خاوند هشام بن عروه.نه علاوه محمد بن اسحاق بن

---

[1] كشف البارى(۲\۱۱۸)_
[2] كشف البارى(۱\۲۹۱)_
[3] كشف البارى(۱\۲۹۱)_
[4] تهذيب الكمال(۳۵\۲٦۵)_
[5] تهذيب الكمال وتعليقاته (۳۵\۲٦٦)_

يسار او محمد بن سوقه ﷫ دى.([1])

امام عجلى ﷫ فرمائى «مدنية تابعية ثقة»([2])

حافظ ابن حجر﷫ فرمائى «ثقة»([3])

ابن حبان دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.([4]) والله اعلم.

⑤ **اسماء رضى الله عنها:** د دا حضرت ابوبكر صديق ﷜ لور حضرت اسماء بنت ابى بكر ﷣ ده.دحضرت زبيربن العوام اهليه وه.([5])

دهجرت نه تقريباً اوويشت كاله وړاندې پيدا شوې وه.([6]) په شروع كښې تقريباً د اوولس سړو نه پس مسلمانه شوې وه.([7]) دهجرت په موقع باندې حضرت عبدالله بن زبير﷠ د دوى په خيټه كښې وو.([8]) دوى په مدينه منوره كښې په مهاجرينوكښې د ټولونه اولنې مولود وو.([9])

دوى ته ذات ا لنطاقين هم وئيلى شى.څكه چه د نبى ﷺ اوحضرت ابوبكرصديق ﷜ د هجرت په موقع دوى خپل څادر دوه ټكړې كړې وو.اوپه هغه يوه ټكړه ئې د سفرتوښه دان تړلې وو.نبى ﷺ په دغه موقع فرمائيلى وو.«أبدلك الله بنطاقك هذا نطاقين فى الجنة»([10])

دحضرت زبير﷜ سره چه كله ددې نكاح اوشوه.نوپه هغه وخت كښې حضرت زبير﷜ سره څه نه وو.دوى به ټول كارترډې چه د خپل اس خسمانه هم په خپله كوله.روسته حضرت ابوبكر﷜ دوى ته يوغلام وركړو.نود اس د خسمانې نه دا فارغه شوه.([11])

حضرت اسماء د عزم اوهمت ستن وه.حجاج بن يوسف اوحضرت عبدالله بن زبير﷠ د جنګ په موقع كله چه حجاج دې قتل كړو.اوپه سولئ زوړوند كړو.نوپه هغه څائې باندې حضرت اسماء تيره شوه.په هغه وخت كښې دا نابينا شوې وه.وې وئيل «أما آن للراكب أن ينزل؟» آيا ددې شهسوار د راكوزيدو وخت لانه دې شوې.حجاج اووئيل.ددې منافق خبره

---

[1] دشيوخ اوتلامذه دحالاتودپاره اوګورئ تهذيب الكمال (۲۶۵\۳۵)_

[2] تهذيب الكمال(ص.۷۵۲) رقم ۸۶۵۸)_

[3] تقريب التهذيب (ص.۷۵۲) رقم ۸۶۵۸)_

[4] الثقات لابن حبان (۳۰۱\۵)_

[5] تهذيب الكمال(۱۲۳\۳۵)_

[6] الإصابة (۲۳۰\٤)_

[7] تهذيب الكمال(۱۲٤\۳۵و ۱۲۵)_

[8] تهذيب الكمال(۱۲۳\۳۵)_

[9] تقريب التهذيب (۳۰۳) رقم ۳۳۱۹)_

[10] تهذيب الكمال (۱۲٤\۳۵)_

[11] الإصابة (۲۳۰\٤)_

كوى حضرت اسماء رضي الله عنها ورته اوونيل.«والله ما كان منا لتأكان صواماً قواماً براً» هغه ورته اوونيل .
واپس لاړه شه.ته دبوډاتوب دوجې ستا عقل زائله شوې دې.
وائى چه حجاج كله دې د سولئ نه راكوز كړو نود يهوديانو په قبرستان كښې ئې اوغورځولو. اوبيا ئې حضرت اسماء رضي الله عنها راغوستله.حضرت اسماء رضي الله عنها انكاراوكړو.نوحجاج دوباره قاصد وراوليږلو.چه راشه ګنې د ويختونه به دې په رابنكلو رابنكلو راولو.حضرت اسماء رضي الله عنها بيا انكاراوكړو.حجاج پخپله راغلو.اووې ونيل.ګوره ماد الله تعالى دشمن سره څه اوكړو؟ حضرت اسماء رضي الله عنها ورته جواب وركړو.آو ما اوليدل.چه تا دهغه دنيا برباد كړه.اوهغه ستا آخرت تباه كړو. او نور ئې ورته اوونيل.چه ماته معلومه شوې ده.چه ته عبدالله بن الزبير رضي الله عنه پورې دخندا كولوپه وجه هغه ته «ابن ذات النطاقين» وائې.واوره.يقيناً زه «ذات النطاقين» يم.ما دخادرپه يو حصه باندې د نبى ﷺ د سفرتوښه دان تړلې وو.اوبله حصه مې د عامو ښځو پشان د خپل سرباندې اچولې وو.او اوس واوره.چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى.چه په ثقيف كښې به يو دروغژن وى.اويو مفسد ،دروغژن خو مونږ اوكتل. اود مفسد په باره كښې زما دا يقين دې.چه هم ته ئې.حجاج لا جوابه شو.اودهغه ځائې نه پاسيدل.(١)

دحضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه د شهادت نه څه لس يا شل ورځې پس د سلو كالوپه عمر كښې په ٧٣ﻫ كښې حضرت اسماء رضي الله عنها وفات شوه.(٢) تردغه وخته پورې نه خو ددوى غاښ پريوتې وو.اونه ئې په عقل كښې څه كمې راغلې وو.(٣)

حضرت اسماء رضي الله عنها د نبى ﷺ نه روايت كوى.او ددوى نه روايت كونكوكښې د ابوالزبير نيكه،تدرُس،طلحه بن عبدالله بن عبدالرحمن ،عباد بن حمزه ،عباد بن عبدالله بن الزبير، عبدالله بن الزبير،عبدالله بن عباس،عروه بن الزبير،قاسم بن محمد ثقفى، ابوواقد الليثى،صفيه بنت شيبه،اوفاطمه بنت المنذربن الزبير رحمهم الله دى.(٤)

دحضرت اسماء رضي الله عنها نه ټول شپږ پنځوس احاديث مروى دى.په دې كښې څوارلس احاديث متفق عليه دى.په څلوروكښې بخارى اوپه څلوروكښې مسلم متفرد دى.(٥) رضى الله عنها وارضاها.

---

١)صحيح مسلم كتاب فضائل الصحابة رضي الله عنهم باب ذكر كذاب ثقيف ومبيرها رقم ٦٤٩٦)_
٢)المصدرالسابق)_
٣)المصادرالسابقة)_
٤)تهذيب الكمال(١٢٣\٣٥)_
٥)خلاصة الخزرجى (ص،٤٨٨) وقال الذهبى :مسندها ثمانية وخمسون حديثاً إتفق لها البخارى ومسلم على ثلاثة عشر حديثاً وانفردالبخارى بخمسة أحاديث ومسلم بأربعة سيرأعلام النبلاء (٢٩٦\٢) د ذخائرالمواريث (٣٤٧\٣، و ٣٥١) په تتبع سره معلومه شوه.چه پنځلس دى.اوامام بخارى په څلوروااوامام مسلم په څلوروكښې متفرد دى.والله اعلم)_

قوله قَالَتْ أَتَيْتُ عَائِشَةَ وَهِيَ تُصَلِّي: حضرت اسماء رضي الله عنها فرمائى چه عائشي رضي الله عنها ته ورغلم اوهغې مونځ كولو

دا صلاة الكسوف وو په ۹هـ كښې دحضرت ابراهيم د وفات په ورځ نمر تندر اونيولو (١) نبى ﷺ جمات ته تشريف راوړلو د ماښخه وخت نه وو خود صلاة الكسوف دپاره د صحابه كرامو رضي الله عنهم ډير لوې شمار جمع شوې وو په دې موقع باندې حضرت اسماء رضي الله عنها دخپلې خورحضرت عائشي رضي الله عنها حجرې ته ورداخله شوه حضرت عائشي رضي الله عنها په دغه وخت كښې مونځ كولو اوهم دخپلې حجرې نه ئې اقتداء كړې وه حالانكه نبى ﷺ په جمات كښې د جماعت مونځ كولو

قوله فَقُلْتُ مَا شَأْنُ النَّاسِ فَأَشَارَتْ إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا النَّاسُ قِيَامٌ فَقَالَتْ سُبْحَانَ اللَّهِ: ما تپوس اوكړو په خلقو څه شوى دى؟ يعنى بې وخته مونځ كوى؟ نوهغې آسمان طرف ته اشاره اوكړه يعنى دې طرف ته ې اشاره اوكړه چه دا مونځ د نمر د تندر نيولوپه وجه كولې شى خلق په حالت دقيام كښې وو. حضرت عائشي رضي الله عنها سبحان الله اووئيل يعنى سبحان الله ئې اووئيل اوآسمان طرف ته ئې اشاره اوكړه اوغالباً سبحان الله ئې ددې وجې وئيلې وو چه حضرت اسماء رضي الله عنها ته معلومه شى چه دا په دې وخت كښې په ژبه جواب نشى وركولې (٢)

قوله قُلْتُ آيَةٌ فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا أَيْ نَعَمْ: ما تپوس اوكړو آيا څه نښه يا علامه ښكاره شوې ده؟ نوهغې دسريه خوزولو سر اشاره اوكړه چه آو.

قوله فَقُمْتُ حَتَّى تَجَلَّانِي الْغَشْيُ فَجَعَلْتُ أَصُبُّ عَلَى رَأْسِي الْمَاءَ: زه اودريدم ترڅې چه په ما باندې د بې هوشۍ حالت غالب شو نوما په خپل سر باندې اوبه واچولې

داكثرو حضراتو په نيز دا «علانى» دې اود كريمه په نسخه كښې «تجلانى» دې (٣) ددې معنى پټول دى «غشى» د اغماء يو صورت دې د انسان په حواسوكښې سكوت راشى قوت دراكه كارنه كوى (٤) دلته د «علانى الغشى» يا «تجلانى الغشى» نه ددې ابتدائى مقدمات مراد دى

---

(١) فتح البارى(٥٢٩\٢) كتاب الكسوف باب الصلاة فى كسوف الشمس)۔

(٢) قال الكاسانى فى بدائع الصنائع (٢٣٥\١) وإن أخبربخبر فقال ألحمدلله أ. أخبر بما يتعجب منه فقال سبحان الله فإن لم يرد جواب المخبرلم تقطع صلاته وإن أراد جوابه قطع عند أبى حنيفة ومحمد وعند أبى يوسف لا يقطع وإن أراد به الجواب)_

(٣) فتح البارى(١٨٣\١)_

(٤) الغشى هو تعطل القوى المحركة والحساسة لضعف القلب من الجوع أو الوجع وإجتماع الروح الحيوانى كله إليه)

دغشى تكامل مراد نه دې كه داسې وه نو حضرت اسماء رضي الله عنها به په دغه حالت كښې په خپل سر باندې اوبۀ څنګه اچولې حالانكه دا فرمائى «حتى علانى الغشى فجعلت أصب على رأسى الماء» هم ددې ځانې نه عالمانو رحمهم الله دا اخذ كړې دې چه غشى متكامل نه وى يعنى داسې غشى وى چه په هغې كښې حواس سالم وى.نو اودس پرې نه ماتيږى (١) امام بخارى رحمه الله په دې باندې په كتاب الوضوء كښې «باب من لم يتوضأ إلا من الغشى المثقل» ترجمه منعقد كړې ده.(٢)

قوله فَحَمِدَ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْ شَيْءٍ لَمْ أَكُنْ أُرِيتُهُ إِلَّا رَأَيْتُهُ فِي مَقَامِي :بيا نبى ﷺ دالله تعالى حمد اوثناء بيان كړه.اوبيا ئې اوفرمائيل.كوم څيزونه چه ماته وړاندې نه وو خودلى شوى هغه ټول څيزونه ماته په دې مقام كښې اوخودلى شول.

يعنى نبى ﷺ ته په صلاة الكسوف په دوران كښې دټولوغيبى څيزونه مشاهده اوكړې شوه. هغه مشاهده چه په عالم دنيا كښې وى.نشى كولې.

دا مشاهده په ظاهره دعالم مثال وه.ځكه چه په دې عالم كښې څومره څيزونه دى.نوپه عالم مثال كښې ددې شبيه اومثال موجود وى.دا يو مستقل عالم دې.كوم چه شاه ولى الله رحمه الله په تفصيل سره بيان كړې دې.(٣)

قوله: حَتَّى الْجَنَّةُ وَالنَّارُ:تردې چه ماته جنت او دوزخ اوخودلى شول.

دلته يواشكال دې.هغه دا چه داسې قسم كلام د ترقۍ دپاره استعماليږى . ونيلى شى چه ما دا ليدل دى دا ليدلى تردې چه دا مې هم ليدلى دى.اودلته دترقۍ معنى په پوهه كښې نه راځى.ځكه چه نبى ﷺ په ليلة المعراج كښې جنت او دوزخ دواړه كتلى وو.

ددې جواب دا دې.چه دلته د عالم سفلى بيان دې.چه په دې كښې زه موجود ووم اوماته ډيرغيبى څيزونه اوخودلى شول.تردې چه جنت او دوزخ راته هم اوخودلى شول.اوپه شب معراج كښې دوى ته د بل عالم مشاهده كړې شوې وه.

دويم جواب دا كيدې شى.چه دجنت اودوزخ مشاهده په ليلة المعراج كښې دوى ته شوې وه.خوپه صلاة الكسوف كښې چه په كوم مخصوص كيفيت اوطريقه ورته ددې مشاهده اوشوه.دغه شان ورته په شب معراج كښې نه وه شوې.په دې صورت كښې به د ترقۍ تعلق دمخصوص صفت سره وى.

دريم جواب دا كيدې شى.چه داد امور عظام غايت وو.مطلب دا چه د مانځه په دوران كښې ماته د لويو لويو كارونو مشاهده اوكړې شوه.تردې چه دجنت او جهنم هم.نودا د رؤيت غايت نه دې.بلكه د دامورعظام غايت دې.(٤) والله اعلم.

---

(١) شرح صحيح البخارى لابن بطال (١/١٦٨)_

(٢) صحيح بخارى (١/٣٠و ٣١)_

(٣) حجة الله البالغة (١/١٥و ٥٦) باب ذكر عالم المثال)_

(٤) حاشية السندى على صحيح البخارى (١/٥٠)-

دجنت او جهنم وجود ددې روايت نه معلومه شوه.چه جنت او دوزخ دواړه موجود دی.داهل سنت والجماعت دا متفقه عقيده ده.چه جنت او دوزخ پيدا شوی دی.په معتزله او قدريه كښې بعضې كسانوددې نه انكاركړې دې.اووائی.چه الله تعالى جنت او دوزخ لا تراوسه پورې نه دی پيدا كړی.بلكه د قيامت په روځ به ئې پيدا كوی.(١)

خودا مذهب بيخی باطل دې.ځكه چه دقرآن او سنت بې شميره نصوص دی.كوم چه دا فاسد مذهب باطلوی.(٢)

بعضې خلق وائی.چه مونږ خوددنيا ټوله جعرافيه معلومه كړه.خوپه يوځائې كښې راته هم جنت اودوزخ ملاؤ نشو.خوددوی دا دعوی بيخی غلطه ده.ځكه چه نن بلكه هره ورځ نوې نوې انكشافات كيږی.هم ددې علم جديد د دعويدارو دا اعتراف دې.چه مونږته دا خبره وړاندې دا معلومه نه وه.اوس راته معلومه شوه.ددې اعتراف نه پس ددوی د دې دعوا څه قيمت پاتې كيږی.چه مونږ ته د دنيا جعرافيه معلومه كړې ده؟

اوس پورې لږه موده وړاندې صرف شپږ براعظم وو.او اوس پوره يو براعظم معلوم كړې شو.دكوم نوم چه انټارکټيكا دې.اودا عين ممكن ده.چه صبا ته يو نه بلكه څو براعظم معلوم كړې شی.نوآيا د داسې تحقيق په بنياد دا وئيلی شی.چه مونږ دټولې دنيا جعرافيه معلومه كړه.په دې كښې چرته هم دجنت او دوزخ نوم اونښه نشته؟ !!.

بيا دې دلته دا خبره هم ياده وی.چه داهل سنت والجماعت عقيده ده.چه جنت اودوزخ دواړه پيدا شوی دی.دا دعوا نه ده.چه هم په دې دنيا كښې دی. كه بالفرض ستاسو خبره تسليم كړې شی.چه واقعی تاسود دنيا ګوټ ګوټ اولټول.نوبيا هم دا چرته لازميږی.چه جنت اودوزخ هم په دې دنيا كښې بيا موندئ .ځكه چه دا خوپه دې عالم دنيا كښې نه دی.بلكه په بل عالم كښې دی.دكوم نه چه تاسو خبرنه ئې.

دلته يوسوال دا پيدا كيږی.چه نبی ﷺ خودا فرمائی.چه ماته د صلاة الكسوف په دوران كښې جنت اودوزخ اوخودلی شول.اوښكاره ده.چه صلاة الكسوف نبی ﷺ هم په دې دنيا كښې كړې وو.نوجنت او دوزخ به هم دلته وی.

دا سوال بيخی سطحی اوبې بنياده دې.ګورئ سره ددې چه نبی ﷺ به په دې دنيا كښې موجود وو.اوروزانه به ورته دبلې دنيا ډيرې خبرې خودلې شوې.نوكه جنت او دوزخ هم كوم چه د بلې دنيا څيزونه دی.په دې دنيا كښې اوخودلی شول.په دې كښې څه محال دې.اونه دا لازم ده.چه جنت او دوزخ هم ددې دنيا سره متعلق دی.دبلې دنيا يوكس د نبی ﷺ په خدمت كښې روزانه حاضريږی.د پيغام راوړلو فريضه ئې ادا كوله.اونبی ﷺ به ئې د حقائقو نه خبرول.اوصحابه كرامو ﷺ ته به هغه په وخت كښې معلومه شوه.كله چه به نبی ﷺ هغوی ته پخپله خبر وركړو.نوكه په دې دنيا كښې نبی ﷺ ته جنت اودوزخ خودلی شوی وی.په دې كښې د څه اشكال خبره نشته.

---

(١)شرح العقيدة الطحاوية لابن العز الحنفي (ص.٤٢٠)_

(٢)د دلائلودپاره اوګورئ شرح العقيدة الطحاوية (ص.٤٢١و ٤٢٤)_

قوله فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي قُبُورِكُمْ: ماته د وحى په ذريعه دا اوخودلې شوه چه تاسو به په خپلو قبرونوكښې په امتحان كښې اچولې شئ.
ددې نه د قبر دسوال اوجواب اثبات كيږى.
مسئله د عذاب قبر د اهل سنت والجماعت متفقه عقيده ده.چه دمرګ نه پس اهل ايمان ته په قبركښې لذت اوخوشحالى اونعمتونه ملاويږى.اوكافران منافقان او ګناهګاران په عذاب كښې اخته كولې شى.(1) چونكه په اهل قبوركښې دكافرانواوعصاة مومنين كثرت وى.د دې وجې تغليباً د ،،عذاب قبر،، عنوان اختياركړې شو.(2)
بيا دقبر اطلاق په كنده باندې هم كيږى.په كوم كښې چه د مړى جوثه دفن كولې شى.په آيت كريمه ﴿وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ﴾(3) كښې هم دا معنى استعمال شوې ده.دغه شان د دې اطلاق د مرګ نه پس په برزخى مقام باندې هم كيږى.نوكه يو كس په حسى كنده كښې دفن نكړې شى.نودهغه دپاره هم راحت او نعمت اوثواب اوعقاب ثابت دې.
لكه چه داهل سنت والجماعت په نيزد مرګ نه پس حيات برزخى شروع كيږى.په دې كښې حيات كښې كه چاته حسى كنده ملاؤ شى.نوهم په هغې كښې ګنى بغيردكندې نه هم په دې باندې د ثواب اوعذاب ترتب كيږى.
ددې په مقابله كښې خوارج،بعضې معتزله مثلاً ضراربن عمرو، بشر المريسى،وغيره د عذاب قبر نه مطلقاً انكار كوى.(4)
امام بخارى رحمه الله په كتاب الجنائز كښې په عذاب قبر باندې مستقل باب قائم كړې دې.(5) انشاء الله دا بحث به په تفصيل سره هلته راشى.

قوله مِثْلَ أَوْ قَرِيبَ لَا أَدْرِي أَيَّ ذَٰلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ: دا امتحان به د مسيح دجال سره نزدې نزدې يا ددې مماثل وى.دلته يو روايت خوهم دا دې.يعنى ((مثل)) او((قريب)) كښې هريوغيرمنون دې.(6) په دې صورت كښې به د ((مثل)) او((قريب)) دوارو اضافت ((فتنة المسيح الدجال)) ته وى.البته په دې صورت كښې به د مضاف اومضاف اليه په مينځ كښې د ((من)) اضافه وى.ددې وجې بعضې حضراتود مضاف اومضاف اليه په مينځ كښې دحرف جار اظهارجائزګرخولې دې.(7)

---

(1) العقية الطحاوية وشرحها (٣٩٦.)_
(2) شرح العقائد النسفية مع النبراس (٣١٥)_
(3) التوبة: ٨٤)_
(4) فتح البارى(٢٣٣\٣) كتاب الجنائز باب ما جاء فى عذاب القبر)_
(5) صحيح البخارى (١٨٣\١) كتاب الجنائز باب ما جاء فى عذاب القبر)_
(6) فتح البارى(١٨٣\١)_
(7) فتح البارى(١٨٣\١) وهمع الهوامع (٥٢\٢) مبحث الإضافة مسئلة لا يفصل بين المتضافيين)-

دويم روايت دا دې چه ((مثل)) غيرمنون دې او((قريباً)) منون دې (١) په دې صورت كښې به دمثل اضافت بغيردواسطه د ..من.. نه فتنة طرف ته وي يعنى ((مثل فتنة الدجال)) او((قريباً)) چونكه منون دې نوخكه به دې سره ..من)) وائى يعنى ((قريباً من فتنة الدجال))

((لاأدرى أى ذلك قالت أسماء)) دا جمله معترضه ده.شك داسماء رضي الله عنها نه دې بلكه داسماء رضي الله عنها نه روايت كونكې ته دې ممكن ده چه فاطمې ته شك وي.اودا راجع ده اودا هم ممكن ده چه شك هشام ته وي خكه چه د كتاب الجمعة په يو روايت كښې هم په دې حديث كښې وړاندې جمله ده ((فأما المؤمن أوقال الموقن)) په دې كښې د هشام د شك تصريح ده.(٢) والله اعلم

قوله المسيح الدجال:مسيح.(بفتح الميم وكسرالسين المهملى وبعدها ياء ساكنى ثم حاء مهملى) دوه دي.يو مسيح الهداية اوبل مسح الضلالة.

مسيح الهداية خو حضرت عيسى عليه السلام اومسيح الضلالة مسيح الدجال ته وائى

بعضې حضرات فرمائى.چه دمسيح اطلاق په حضرت عيسى عليه السلام باندې كيږى اود مسيح (بكسرالميم وتشديد السين المهملى المكسورى كسكين)) اطلاق په دجال باندې كيږى

بعضې حضرات فرمائى.چه په دجال باندې د مسح ((بالحاء المهملة))اطلاق نه كيږى بلكه په ده ته مسيخ ((بالخاء المعجمة)) وئيلى شى.خوپه ظاهره دا تحريف دې.

بعضې حضرات فرمائى.چه په حضرت عيسى عليه السلام اودجال باندې د مسيح بالتخفيف اطلاق هم كيږى.اود مسيخ بالتشديد پشان د سكين اطلاق هم كيږى.

دجال ته دمسيح ونيلو وجه يا خودا ده.چه دې به ((ممسوح العين)) وي.يا ددې وجې هغه به زمكه مسح كوى.يعنى د يوخوا نه به بل طرف ته په منډه خى اومنتقل كيږى.اويا ورته ددې وجې مسيح وائي.چه دې به ((ممسوح عن كل خيروبركة)) وى.يعنى دده نه هرخيراوبركت پاك كړې شوې دې.(٣)

ده ته دجال خكه وائى.چه دې به د ټولونه زيات فريبى او دروغژن وى. خكه چه دا د ..دجل. نه وتلې دې.دكوم معنى چه فريب اود دروغو وينا ده.(٤)

حضرت عيسى عليه السلام ته چه مسيح وائى.نوپه دې كښې اختلاف دې.بعضې وائى چه دا د عبرانئ ژبې لفظ دې په اصل كښې ..مشيحا..دې چه معنى ئې مبارك دې.بعضې حضراتو

---

(١)فتح البارى(١٨٣/١)_

(٢)صحيح بخارى (١٢٦) كتاب الجمعة باب من قال فى الخطبة بعد الثناء أما بعد: رقم ٩٢٢) خوچونكه په دې جمله كښې بلكه په اكثرو رواياتوكښې خه تصريح نشته ددې وجې په ظاهره داسې ښكاره.چه داشك دفاطمې ته پيداشوې وى.لكه چه د ((لاأدرى أى ذلک قال الأسماءرضى الله عنها)) نه ښكاره ده.

(٣) د تفصيل دپاره اوګورئ تاج العروس (٢٢٤/٢) مادة ..مسيح..)_

(٤)تاج العروس (٣١٨/٧) مادة رجل)_

ددې معنی صدیق خودلې ده (١)

صاحب دقاموس علامه مجدالدین فیروز آبادی د «مسیح» د اشتقاق په باره کښې په خپل کتاب «شوارق الأسرار شرح مشارق الأنوار للصاغانی» کښې دغه شان په خپل شرح د بخاری کښې پنځوس اقوال ذکرکړی دی اوپه خپل تفسیر «بصائرذوی التمییزلی لطائف کتاب الله العزیز» کښې شپږ پنځوس اقوال ذکرکړی دی (٢) «من أراد التفصیل فلیرجع إلی هذه الکتب»

دنبی ﷺ دارشاد مطلب دا دې چه په قبرکښې اهل قبر په لوئ ازمائش کښې اخته کړې شی دوی د دې ازمائش تشبیه د دجال د فتنې سره تشبیه ورکړه.څکه چه د دجال فتنه به لویه فتنه وی.الله تعالی به هغه ته په ډیرو څیزونوباندې قدرت ورکړې وی یوکس به قتل کړی.بیا به ئې دوه ټکړې کړی.اوبیا به ئې د دوباره ژوندی کیدو حکم ورکړی هغه به دوباره ژوندې شی.اوبیا به ورته په هغه باندې قدرت نه وی.دهغه په لاس به کله زمکه تکه شنه او زرخیزه شی.اوکله به وچه کیږی.هغه به دخان سره دجنت او دوزخ شبیه په لاس کښې اخستې وی.اوګرځی به.د زمکې خزانې به دهغه سره ګرځی.د آسمان نه به دهغه په اشاره باندې باران وریږی.زمکه به دهغه په حکم باندې بوټې راوباسی.په اصل کښې به دا ټول هرڅه دالله تعالی په حکم سره وی.

دې به یوکس ته اووائی.که زه ستا مورپلار راژوندی کرم.ته به په ما ایمان راوړې.هغه به هان اووائی.نودهغه په حکم به دوه شیطانان د هغه د مورپلارپه شکل کښې متمثل شی.اوښکاره شی.اودا به ورته اووائی.آو بچې دا ستا رب دې دې اومنه.(٣)

دقبر فتنه یا آزمائش دا دې.چه کله مرده په قبر کښې کیخودې شی.نوده ته به دوه فرښتې راشی.چه دهغوی نومونه نکیراومنکر دی.هغوی به ددې کس نه دده د رب.دین او محمد ﷺ په باره کښې تپوس کوی.صاحب دایمان به صحیح جوابونه ورکړی اوڅوک چه ایماندار نه وی.هغه به جواب نشی ورکولې.دهغه وخت نه به په ده باندې د ثواب اونعمتونو اود عقاب اوعذاب سلسله شروع شی.(٤)

قوله يُقَالُ مَا عِلْمُكَ بِهَذَا الرَّجُلِ: اوبه ونیلی شی تاته ددې سړی په باره کښې څه علم دې؟

---

١) تاج العروس (٢٢٤/٢و ٢٢٥)-

٢) قاموس المحيط مع شرحه تاج العروس (٢٢٤/٢و ٢٢٦)_

٣) ددجال په باره کښې احادیث تقریباً د حدیثونه ټولوکتابونوکښې موجود دی دلته چه کومې خبرې اولیکلې شوې ددې دپاره اوددې نه علاوه د نور تفصیل دپاره اوګوری سنن ابن ماجه كتاب الفتن باب فتنة الدجال وخروج عيسى بن مريم وخروج ياجوج وماجوج رقم ٤٠٧٧)_

٤) عن أبي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ إذا قبر الميت. أو قال أحدكم أتاه ملكان أسودان أزرقان يقال أحدهما المنكر وللآخر النكير. جامع الترمذی كتاب الجنائز باب ما جاء فی عذاب القبر رقم ١٠٧١) وانظر السنن لابن داود كتاب السنة باب المسئلة فی القبروعذاب القبر رقم ٤٧٥٣) من حديث البراء بن عازب ﷺ)

دلته به د رسول الله د الفاظو په ځائې د ((هذا الرجل)) تعبيراختيارکړې شى.ددې نه ابتلاء اوامتحان مقصود دې.ځکه چه د رسول الله ﷺ ونيلو صورت کښې خوبه د جواب اوحجت تلقين وى.(۱) دلته الله دې نکړى سپکوالي مقصود نه دې.

قوله: بِهٰذَا الرَّجُلِ: هذا محسوس طرف ته داشارې کولودپاره دې.حالانکه دلته څوک محسوس نشته.نوددې مشار اليه به څه وى.ددې باره کښې د عالمانو ﷫ مختلف اقوال دى.

① بعضې حضرات فرمائى.چه دلته د ,,هذا،، اشاره هغه څيزطرفته ده.کوم چه په ذهن کښې معهوداوپروت دې.لکه چه معنوى طور چه کوم څيز حاضر وې.هغه د مبالغې په طور محسوس اومبصراوګرځولې شو.اوهغې طرف ته اشاره اوکړې شوه.(۲)

② بعضې عالمان ﷫ فرمائى.چه د مړى او رسول الله ﷺ په مينځ کښې به حجابات لرې کړې شى.د نبى ﷺ مشاهده به ورته کولې شى.اودا به ترې تپوس کولې شى.چه ددې سړى په حق کښې ته څه وائې.(۳)

اوپه دې رفع حجاب کښې څه استبعاد نشته.نبى ﷺ د معراج د شپې نه پس چه کله نبى ﷺ اهل مکې ته د دې واقعه خبر ورکړو.نوکافرانوترې د امتحان په طور د مسجد اقصى په باره کښې تپوس وکړو.الله تعالى ورته حجات لرې کړل.او نبى ﷺ ورته اوخودل چه د مسجد اقصى اوصاف دا دى.(۴)

اګرچه دا احتمال صحيح دې.ليکن د هيڅ روايت نه دعدم ثبوت په وجه حافظ ابن حجر او علامه قسطلانى رحمهما الله فرمائى.چه داسې خبرې په احتمال سره نه ثابتيږى.بيا خاص کردار چه دا مقام،مقام دامتحان هم دې.دلته که رفع د حجاباتواوکړې شى.اود نبى ﷺ مشاهده ورته اوکړې شى.نوبيا به امتحان څه پاتې شى؟ (۵)

③ بعضې حضراتوفرمائيلى دى.چه هلته به ورته د نبى ﷺ شبيه اوخودلې شى. د نبى ﷺ مثال او صورت به ورته مخامخ کړې شى.اوتپوس به ترې اوکړې شى. دا به محسوس اومبصروى.(۶)

④ قاضى عياض ﷫ فرمائى.چه دا احتمال هم شته.چه د نبى نوم واخستې شى.اوتپوس ترې اوکړى لکه څنګه چه دا احتمال هم شته.چه د نبى ﷺ مثال اوصورت ورته مخامخ کړې شى.(۷)

---

(۱) شرح الكرمانى(۲\۶۹)-
(۲) مرقاة المفاتيح (۱\۱۹۹) باب إثبات عذاب القبر الفصل الأول)_
(۳) شرح القسطلانى (۲\۴۶۴) كتاب الجنائزباب ما جاء فى عذاب القبر)_
(۴) السيرة الحلبية (۱\۳۷۹) باب ذكرالإسراء والمعراج وفرض الصلوات الخمس)_
(۵) ارشادالسارى للقسطلانى(۲\۴۶۴) كتاب الجنائز باب ماجاء فى عذاب القبر ومرقاة المفاتيح (۱\۱۹۹) باب إثبات عذاب القبر الفصل الأول)_
(۶) الكنزالمتوارى فى معادن لامع الدرارى وصحيح البخارى (۲\۳۱۵)_
(۷) إكمال المعلم للأبى (۳\۵۸)_

⑤ دا هم کیدې شي چه په دې کښې یوه خبره هم نه وي.بلکه د نبي ﷺ اوصاف ورته بیان کړې شي.ددې تائید ددې روایت نه هم کیږي.چه الفاظ ئې دا دي.«ما هذا الرجل الذي بعث فیکم» (۱) ښکاره ده.چه داوصاف بیانولونه پس معقول په منزله دمحسوس ګرځي.نوځکه دلته د اشارې په استعمالولوکښې څه حرج نشته.

حاصل دا چه بدیهي اوعلم ضروري په طوربه مړي ته دا علم اوشي.چه تپوس دمحمد ﷺ په باره کښې کولې شي.

قوله فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ أَوِ الْمُوقِنُ لَا أَدْرِي بِأَيِّهِمَا قَالَتْ أَسْمَاءُ فَيَقُولُ هُوَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى فَأَجَبْنَا وَاتَّبَعْنَا هُوَ مُحَمَّدٌ ثَلَاثًا: مومن یا یقین کونکې کس به اووائي.حضرت اسماء رضي الله عنها فرمائي. چه ماته معلومه نه ده.خوبه اووائي.چه دا محمد دالله تعالی رسول دې. دوی مونږ ته په معجزاتواوآیاتونوباندې راغلي وو.مونږ هغه قبول کړل او د دوی تابعداري مواوکړه.دا محمد ﷺ دې.داسې به درې ځله اووائي.

د«هومحمد» جواب نه معلومیږي.چه فرشتې سوال کوي.نو نوم ورته نه اخلي.ګنې د «هومحمد»وئیلو به څه ضرورت وي؟

تنبیه دلته په روایت کښې اختصاردې.چه صرف یو سوال ذکردې.ګنې په روایاتوکښې درې سوالونه راغلي دي.«ما دینك؟» او «من ربك» راوي د اختصار په وجه حذف کړي دي.(۲)

قوله فَيُقَالُ نَمْ صَالِحًا: نواوبه وئیلې شي.چه په آرام او اطمینان سره اوده شه

«صالحاً»د صالح نه دې.اوپه دې کښې دفائدې مضمون ملحوظ وي.یوځیزبه هغه وخت کښې صالح وي.چه په هغې کښې فائده وي.دلته دصالحاً مطلب دا دې.چه ته په آرام اواطمینان سره اوده شه.الله تعالی به فی الجمله تاته فائده اورسوي.اګرچه پوره فائده به جنت ته د تلو نه پس وي.خودهغې سلسله به د اوس نه شروع کیږي.

دحضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه په روایت کښې د«ثم نم نومة العروس فیکون فی أحلی نومة نامها أحد حتی یبعث» الفاظ راغلي دي.(۳) اودحضرت ابوهریره رضي الله عنه په حدیث کښې دي.«ثم نم نومة العروس الذي لا یوقظه إلا أحب أهله إلیه، حتی یبعثه الله من مضجعه ذلك» (۴)

قوله قَدْ عَلِمْنَا إِنْ كُنْتَ لَمُوقِنًا بِهِ: مونږ ته خو معلومه وه.چه ته په دې خبره یقین ساتې.

---

(۱) السنن لأبي داود کتاب السنة باب المسألة فی القبر وعذاب القبر رقم ۴۷۵۳)۔
(۲) سنن أبي داود کتاب السنة باب المسئلة فی القبروعذاب القبررقم ۴۷۵۳)۔
(۳) رواه سعید بن منصور کذا فی فتح الباري (۲۳۸/۳) کتاب الجنائزباب ماجاء فی عذاب القبر)۔
(۴) جامع الترمذي کتاب الجنائز باب ماجاء فی عذاب القبر رقم ۱۰۷۱)۔

دا علم دالله تعالى دطرفه نه وركړې شوې وى.اودا هم كيدې شى.چه دا فرشتې دهرمومن حالات وينى اوګورى اوپه دې طريقه دوى ته دا علم حاصل شوې وى.اوكيدې شى.چه دده مخ نه دا اندازه كيدې شى دايمان نور دا ښائى.چه دا كس په نبى ﷺ باندې ايمان راوړونكې دې

قوله وَأَمَّا الْمُنَافِقُ أَوِ الْمُرْتَابُ لَا أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ فَيَقُولُ لَا أَدْرِي سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ شَيْئًا فَقُلْتُهُ: پاتې شو منافق مرتاب(شك كونكې) معلومه نه ده چه اسماء رضي الله عنها څه فرمائيلى دى.نوهغه به اووائى.ماته معلومه نه ده البته ما دخلقو نه څه وينا اوريدلې وه.ما به هم هغه وينا كوله

منافق هغه دې چه دهغه په زړه ايمان نه وى.په ظاهره ايماندار وى. او مرتاب هغه دې چه هغه په د څو وجوهاتو دوجې اسلام خوښوى.څوڅه وجوهات ددې نه منع كونكى هم موجود وى( ) كله چه دمنافق يا مرتاب نه تپوس اوكړې شى.چه دا څوك دې.هغه به او وائى ماته معلومه نه ده چه دا څوك دې.البته دا چه خلقو يوه خبره كوله. او ماهم دهغوى په تابعدارئ كښې هغه خبره كوله.يعنى لكه چه هغه به اووائى. چه زما ايمان د جذرقلب نه نه وو.دخلقو په ليدلو باندې ما هم دخپل غرض او مفادو په خاطر محمد رسول الله وئيلې وو.

ايا دقبر سوال ددې امت سره مخصوص دې؟ ددې حديث نه معلومه شوه.چه په قبركښې به تپوس كولې شى.آيا دا د دې امت سره خاص دې.اوكه عام دې؟

حكيم ترمذى رحمه الله د نوادرالاصول د مصنف رحمه الله رائې دا ده.چه دقبر سوال ددې امت سره خاص دې.دهغوى قول دې چه د نبى ﷺ نه وړاندې څومره انبياء عليهم السلام مبعوث شوى دى.هغوى تبولوامت دين حق طرف ته رابلل.كه هغوى به قبول كړو.نوديره ښه ګنى دالله تعالى عذاب به نافرمان ختم كړل.كله چه نبى ﷺ مبعوث شو.نوالله تعالى د دنيا عذاب پورته كړو.البته د عذاب قبر سلسله ئې قائمه كړه.نوكله چه سړې دعالم برزخ نه تيريږى دده نه به دا سوال كيږى.مومن به كاميابيږى.اوچه څوك مومن نه وى.هغه به په عذاب كښې اخته كيږى.( )

دڅه احاديثودظاهرنه هم ددې رائې تائيد كيږى.په صحيح مسلم كښې د حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه مرفوع روايت دې.((إن هذه الأمة تبتلى فى قبورها))( )

دغه شان په مسنداحمد كښې دحضرت عائشې رضي الله عنها مرفوع حديث دې.

((وأما فتنة القبرفبى تفتنون وعنى تسئلون))( )

( )إيضاح البخارى (٩٩/٥)_

( )كتاب الروح لابن القيم (ص.١٣٧) المسئلة الثانية عشرة : وهو أن سوال منكر ونكير هل هو مختص بهذه الأمة أن يكون لها ولغيرها (طبعة مكتبة نصيربجوار إدارة الأزهرالشريف تحقيق وتعليق محمد انيس عبادة ومحمد فهمى السرجانى)_

( )صحيح مسلم كتاب الجنة وصفتها ودهلها رقم ٧٢١٣)_

( )مسند احمد (١٤٠/٦)_

ابن عبدالبر رحمه الله په دې كښې توقف اختيار كړې دې.(١)
اوابن القيم رحمه الله فرمائي چه دا سوال ددې امت پورې خاص نه دې بلكه د مخكنو امتونو نه به هم دا سوال كيږي.(٢)
تركومې پورې چه دهغه احاديثو تعلق دې.دكوم نه چه په ظاهره دا معلوميږي.چه دا سوال به ددې امت نه كيږي.نويه دې كښې د نبى ﷺ د قبركيفيت دامتحان په طوربيان شوې دې دتيرو شوو امتونو نه د سوال نفى په كښې نشته.(٣)
ايا دقبر تپوس به دهركس نه كيږى كه صرف دمومن نه؟ بيا په دې كښې اختلاف دې چه آيا دا سوال به دهرمومن اوكافر نه كيږى اوكه صرف دهغه خلقونه به كيږى.كوم چه د اسلام دعويدار وى.برابره ده كه په حق وى اوكه په باطله.دعبيدبن عمير رحمه الله دا ډيرلوې تابعى دې.ددوى نه امام عبدالرزاق رحمه الله نقل كړى دى.چه دوى فرمائى «**إنما يفتن رجلان مومن ومنافق وأما الكافر فلا يسأل عن محمد ولا يعرفه**»(٤)
حافظ ابن عبدالبراوحافظ سيوطى رحمهما الله هم دا رائې اختياركړې ده.(٥)
حالانكه علامه ابن القيم.حكيم ترمذى.امام حافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده.چه دا تپوس به دمومن اوكافرهريوكس نه كيږى.(٦)
ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى.چه آثاراو روايات په دې باندې دال دى.چه په قبركښې به د سوال ازمانښ صرف دمومن دپاره وى.يادهغه منافق دپاره دچا شمارچه په اهل قبله كښې كيږى.اوتركومې پورې چه دكافرجاحد تعلق دې نو دهغه نه به د رب .دين اونبى په باره كښې څه تپوس نه كيږى.صرف داهل اسلام اهل قبله نه به سوال كيږى.بيا به اهل ايمان ته دالله تعالى د طرف نه تثبيت نصيب شى.اواهل باطل به ګدوډ شى.(٧)
ابن القيم رحمه الله فرمائى.چه دا سوال به دهركس نه كيږى.كه مومن وى اوكه كافر وى.

---

(١) كتاب الروح (ص.١٣٧)_
(٢) كتاب الروح (ص.١٣٨)_
(٣) كتاب الروح (ص.١٣٨و ١٣٩) وفتح البارى (٢٤٠١٣) كتاب الجنائزباب ماجاء فى عذاب القبر)_
(٤) مصنف عبدالرزاق (٥٩٠١٣) كتاب الجنائز باب فتنة القبر).
تنبيه:وقع فى المصنف ههنا عبدالله بن عمربدل عبيدالله بن عمير.والثانى هوالصواب.والأول تصحيف وانظر التمهيد (٢٥٢١٢٢) وفتح البارى (٢٣٩١٣) كتاب الجنائز باب ماجاء فى عذاب القبر وانظرأيضاً طلوع الثريا بإظهارماكان خفياً المطبوع فى ضمن الحاوى للفتاوى (١٧٨١٢)_
(٥) التمهيد(٢٥٢١٢٢و ٢٥٤) وطلوع الثريا بإظهارماكان خفياً المطبوع فى ضمن الحاوى للفتاوى (١٧٨١٢) وردالمختار(٦٢٩١١) كتاب الجنائزباب مطلب فى سوال ملكين هل هو عام لكل أحد أولا؟)_
(٦) كتاب الروح (ص.١٣٢) المسئلة الحادية عشرة وفتح البارى(٢٣٩١٣) كتاب الجنائز باب ماجاء فى عذاب القبر)
(٧) التمهيد(٢٥٢١٢٢)_

ددوی اولنۍ دلیل دا دې چه دالله تعالی ارشاد دې. ﴿يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ ۙ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ﴾(١)

دا آیت کریمه د عذاب قبر په باره کښې نازل شوې وو. لکه څنګه چه په بخاری شریف کښې ددې تصریح ده (٢)

ددې آیت نه معلومه شوه چه الله تعالی به مومنان ثابت قدم کړی. اوظالمان به ګمراه کړی. ظالم دخپل عموم په وجه کافرانوته هم شامل دې.

دویم دلیل په صحیح بخاری کښې دحضرت انس رضی الله عنه روایت دې. په هغې کښې دی. «وأما المنافق والكافر فيقال له ما كنت تقول في هذا الرجل؟...»(٣)

دریم دلیل دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت دې. دوی فرمائی. «شهدت مع رسول الله ﷺ جنازة فقال رسول الله ﷺ يا أيها الناس إن هذه الأمة تبتلى في قبورها فإذا الإنسان دفن فتفرق عنه أصحابه جاءه ملك في يده مطراق فأقعده قال ما تقول في هذا الرجل ؟ فإن كان مومناً قال أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمداً عبده ورسوله .. وإن كان كافراً أو منافقاً يقول له ما تقول في هذا الرجل ..»(٤)

څلورم دلیل دحضرت براء بن عازب رضی الله عنه اوږد حدیث دې. په هغې کښې دی «وإن الكافر.. فذكر موته قال وتعاد روحه في جسده ويأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان له من ربك؟»(٥)

ایا په قبرکښې به دماشومانونه تپوس کیږی؟ په دې مسئله کښې هم اختلاف دې. چه آیا په قبرکښې به د ماشومانو نه تپوس کیږی که نه؟

بعضې حضرات فرمائی. چه دماشومانونه به هم تپوس کیږی. څکه چه په هغوی باندې دجنازې مونځ کیږی. دهغوی دپاره دعا کولې شی. دالله تعالی نه دا سوال کولې شی. چه دوی دعذاب قبراوفتنې دقبر نه محفوظ کړه. (٦)

په موطاامام مالك کښې دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه نقل دی. چه دوی په یوماشوم باندې دجنازې مونځ اوکړو. اوبیا ئې دعا اوکړه. «اللهم أعذه من عذاب القبر»(٧)

---

(١) ابراهيم: ٢٧)_

(٢) صحيح البخاری (١\١٨٣) كتاب الجنائز باب ماجاء فی عذاب القبر رقم ١٣٦٩) و(٢\٦٨٢) كتاب التفسير سورة ابراهيم باب يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت ..) رقم ٤٦٩٩)_

(٣) صحيح البخاری (١\١٨٤) كتب الجنائز باب ماجاء فی عذاب القبر رقم ١٣٧٤٠)_

(٤) مسندأحمد (٣\٤ و ٤) قال ابن القيم الذی رواه ابن ماجه والإمام احمد (كتاب الروح ١٣٣) هكذا قال وقدتتبعت سنن أبی ابن ماجه فلم أجد الحديث عن أبی سعيدالخدری رضی الله عنه عنده والله أعلم)_

(٥) السنن لأبی داود كتاب السنة باب المسئلة فی القبر رقم ٤٧٥٣)_

(٦) كتاب الروح لابن القيم (ص.١٣٩) المسئلة الثالثة عشرة)_

(٧) موطاء إمام مالک كتاب الجنائز باب ما يقول المصلی علی الجنازة رقم ١٨)_

دغه شان دحضرت عائشي رضي الله عنها په باره کښې منقول دی چه ددوی په خواه کښې د يوماشوم جنازه تيره شوه نوهغه په ژړا شوه کله چه دهغوی نه تپوس اوشو نو وې فرمائيل «هذا الصبي يبكيت له شفقة عليه من ضمة القبر»[1]

البته ددې رائې د قائلينووينا ده چه الله تعالى به ددوی عقل مکمل کړی چه په هغې سره به دوی په معامله پوهه شی.اودوی ته به دجواب الهام اوکړې شی.[2]

نورحضرات فرمائی چه دهغه ماشوم نه به څه تپوس نه کيږی.ځوك چه مميز نه وی.البته چه کوم ماشوم مميز وی.اورسول اومرسل پيژنی.نودهغه نه به تپوس کيږی چه په تاسوکښې راليږلې شوې دا کس ځوك دې؟[3]

دا حضرات فرمائی.چه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په حديث کښې چه د کوم عذاب ذکردې نوددې نه عقوبت اوسزا مراد نه ده.بلکه بغيردعقوبت اوسزا نه تکليف محسوسول دی لکه څنګه چه په حديث کښې راغلی دی.«إن الميت ليعذب ببكاء أهله عليه»[4]دلته دا مراد نه دې چه دژوندې کس په ګناه به ده ته عذاب ملاويږی.ځکه چه ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى﴾[5] يومنلې شوې قانون دې.البته ددې بکاء اونوحه په وجه به مړې تکليف محسوسوی دغه شان قبرښکاره خبره ده.چه د هموم اوآرلامُ اوارمانونومرکز دې.کيدې شی چه په بچی باندې ددې اثروی.ددې وجې ددې نه د بچ کيدو دعا کولې شی.ددې نه ئې په «أعذه من عذاب القبر» سره تعبيراوکړو.لکه څنګه چه د نبی صلى الله عليه وسلم ارشاد دې.«السفر قطعة من السقر»[6] ښکاره ده چه په دې حديث کښې د عذاب نه عقوبت مراد نه دې.بلکه دسفر تکليفونه او مشقتونه مراد دی.لکه چه په عذاب کښې د عقوبت په مقابله کښې عموم دې.[7]

بعضې حضراتو په دې باره کښې توقف اختيارکړې دې.علامه دسوقی فرمائی «وهو الحق لأنه لم يرد نص بشيء»[8]

صاحب ددرمختارفرمائی.«والأصح أن الأنبياء لايسئلون ولاأطفال المؤمنين وتوقف الإمام في أطفال المشركين»[9]

---

[1] كتاب الروح (۱۳۹)_

[2] المصدرالسابق)_

[3] المصدرالسابق)_

[4] صحيح البخاری (۱۷۱/۱) كتاب الجنائزباب قول النبی صلى الله عليه وسلم يعذب الميت ببعض بكاء أهله عليه إذا كان النوح من سننه رقم ۱۲۸٦)_

[5] الفاطر:۱۸)_

[6] صحيح بخاری (۴۲۱/۱) كتاب العمرة (الحج) باب السفرقطعة من السقر رقم ۱۸۰٤)_

[7] كتاب الروح لابن القيم (ص.۱٤۰و ۱٤۱)_

[8] أوجزالمسالك (۲۲۹/٤) كتاب الجنائز.باب مايقول المصلى على الجنازة)_

[9] الدرالمختارمع رد المحتار(٦۲۹/۱) كتاب الجنائزمطلب فى سوال الملكين هل هو عام لكل أحد أولا؟)_

علامه شامی رحمه الله فرمائی چه د درمختار دمصنف رحمه الله دقول «ومن لا يسأل ينبغي أن لا يلقن» نه په اشارې سره دا معلوميږي چه په قبرکښې به دټولونه تپوس نه کيږي.البته په «السراج الوهاج» کښې ئې ددې په خلاف ونيلي دي.په هغې کښې دي«كل ذى روح من بنى آدم يسئل فى القبر بإجماع أهل السنة لكن يلقن الرضيع الملك وقيل لا، بل يلهمه الله تعالىٰ كما ألهم عيسى عليه السلام فى المهد»(١)

علامه شامی رحمه الله فرمائی.چه داجماع خبره محل دنظردې.ځکه چه ابن عبدالبر رحمه الله خو فرمائی. چه تپوس به صرف دمومن اومنافق نه کيږي.د کافرنه به نه کيږي.(٢)

فائده علامه شامی رحمه الله دعلامه سيوطی رحمه الله نه نقل کوی.چه د لاندينی کسانونه به په قبرکښې تپوس نه کيږي.«الشهيد والمرابط والمطعون والميت من الطاعون بغيره إذا كان صابراً محتسباً والصديق والأطفال والميت يوم الجمعة أوليلتها والقارى كل ليلة تبارك : الملك وبعضهم ضم إليها السجدة والقارئ فى مرض موته قل هوالله أحد»

بعضې حضراتو پيغمبران عليهم السلام هم په دې کښې شمارکړی دی.ځکه چه ددوی درجه بنکاره خبره ده.چه د صديقينونه پورته ده.(٣) والله اعلم.

د احاديث باب ترجمة الباب سره انطباق په دې باب کښې لکه ځنګه چه تاسو اوکتل.درې احاديث ذکرکړی دی. او باب ئې قائم کړې دې.«باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس»

په دې کښې په اولنی حديث کښې په «فأومأ بيده قال ولاحرج» اوپه دويم حديث کښې دی «فقال هكذا بيده فحرفها» دا دواړه حديثونه مرفوع دی.اوپه دې کښې صراحةً د اشارة باليد ثبوت دې.

په دريم حديث کښې دحضرت عائشې رضي الله عنها «إشارة بالرأس» ذکرده.خوپه دې باندې اشکال کيدې شی.چه د مصنف رحمه الله مدعا ترې نه ثابتيږي.ځکه چه دا خونه د نبی ﷺ فعل دې. اونه په دې باندې تقريرثابت دې.

ددې جواب دا دې.چه حضرت عائشې رضي الله عنها په نبی ﷺ پسې روسته دمانځه په حالت کښې اشاره کړې وه.اونبی ﷺ چه به ځنګه وراندې ليدل کول دغه شان به ئې روسته هم ليدل کول.نود حضرت عائشې رضي الله عنها په فعل باندې د نبی ﷺ تقريرثابت شو.(٤)

دا هم ډيره ممکن ده.چه حضرت عائشې رضي الله عنها ټوله قصه نبی ﷺ ته بيان کړی وی.نوپه دې صورت کښې څه اشکال نه پاتې کيږي.والله اعلم

---

(١) ردالمختار (٦٢٩/١)_

(٢) المصدر السابق_

(٣) ردالمحتار (٦٢٩/١) كتاب الجنائزمطلب ثمانية لايسئلون فی قبورهم)_

(٤) الكنز المتوارى (٣١٣/٢)_

۲۵=بَاب تَحْرِيضِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى أَنْ يَحْفَظُوا الْإِيمَانَ

وَالْعِلْمَ وَيُخْبِرُوا مَنْ وَرَاءَهُمْ وَقَالَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ قَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْجِعُوا إِلَى أَهْلِيكُمْ فَعَلِّمُوهُمْ

دباب سابق سره ربط ددې باب دمخکښې باب سره دا مناسبت دې چه په باب سابق کښې د سوال اوجواب په ذريعه دعلم په خپله زده کول اوبل ته خودل اوښو ظاهره ده چه دا سوال اوجواب کوم چه په حقيقت کښې تعليم اوتعلم دې.دتحريض اوترغيب نه خالي نه دې.(۱)

د ترجمة الباب مقصد حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائي.چه ددې ترجمې نه هم دتعليم اوتعلم تاكيد مقصود دې.اوتعليم اوتبليغ دحفظ نه بغيرممكن نه دی.ددې وجې نې دحفظ هم تاكيد اوكړو.اومعلومه شوه.چه اهل علم لره پكاردی.چه متعلم ته په حفظ اوتبليغ كښې دتاكيد كولونه كوتاهي نه كوی.والله اعلم.(۲)

بعضې حضرات فرمائي.چه ((بلغوا عني ولوآية)) نه چه كوم ايهام وو چه صرف دقرآني آيتونوتبليغ دې كولې شي.دهغې د رد طرف ته اشاره ده.چه په تعليم اوتبليغ كښې تعميم دې.كه هغه قرآني آيت وی.اوكه حديث نبوی وی.

خوحضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائي.چه دا غرض صحيح نه معلوميږی.ځكه چه ددې دپاره نې وړاندې ((باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب)) مستقل باب قائم كړې دې

حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائي.چه ددې ترجمې نه زما په نيز غرض دا دې.چه دتبليغ دپاره دا ضروری نه دی.چه مبلغ دې كامل عالم وی.بلكه كه يوكس پوره عالم نه وی نوده‌غه دپاره هم تبليغ كول جائزدی.ځكه چه مالك بن حويرث اووفد عبدالقيس د نبی ﷺ سره څو ورځې پاتې شوی وو.په دغه ورخوكښې چه دغه خلق څه زده كړی وو نبی ﷺ ورته دهغې د تعليم اوتبليغ حكم كړې وو.وفد عبدالقيس ته نې دلته صرف د اته خبرود تبليغ حكم كړې دې.(۳) والله اعلم.

قوله وَقَالَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ قَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْجِعُوا إِلَى أَهْلِيكُمْ فَعَلِّمُوهُمْ: حضرت مالك بن حويرث رضي الله عنه فرمائي چه مونږ ته نبی ﷺ حكم اوكړو.چه دخپل كورخلقوته واپس لاړشئ اوهغوی ته علم اوښائي

حضرت مالك بن الحويرث رضي الله عنه: دا دنبی ﷺ صحابی حضرت مالك بن الحويرث بن

---

(۱) عمدة القاری (۱۲/۹۹)_
(۲) الأبواب والتراجم (۵۱/۵۲)_
(۳) الكنز المتواری (۲/۳۱۶) وتقرير بخاری شريف (۱/۱۸۷)_

حشيش بن عوف بن جندع ليثی رضی الله عنه دې ابوسليمان ئې كنيت دې.ددوی دنسب نامې په بيانولوکښې بعضې حضرات اختلاف کړې دې.(١)

دوی د نبی ﷺ په خدمت کښې دخپلوهمزولو څو خوانانوسره حاضرشوې وو.اوتقريبا شل ورځې ايسارشوې وو.ددې نه پس نبی ﷺ دوی ته تعليم ورکړو اوخپل وطن ته ئې واپس اوليږل.(٢)

دوی په بصره کښې اوسيدل.(٣)

دوی دنبی ﷺ نه روايت کوی.او ددوی نه روايت کونکی .سوار حرمی. نصربن عاصم ليثی. ابوعطيه.اوابوقلابه جرمی رحمهم الله دی.(٤)

ددوی نه اصول سته مصنفينو رحمهم الله احاديث نقل کړی دی.(٥)

ددوی نه ټول پنځلس احاديث مروی دی.په دې کښې دوه متفق عليه دی. او په يوحديث کښې امام بخاری اوبه يوکښې امام مسلم متفرد دی.(٦)

ابن عبدالبر رحمه الله ليکلی دی:((سكن البصرة ومات بها سنة أربع وتسعين))(٧)

خوحافظ ذهبی رحمه الله په ((تجريد أسماء الصحابة رضی الله عنهم)) کښې ((سنة أربع وسبعين)) فرمائيلی دی.(٨)

دغه شان ابن سکن رحمه الله هم په دې باندې جزم کړې دې.(٩)

وجه دا ده.چه په بصره کښې په اتفاق سره د ټولونه په آخرکښې وفات شوې صحابی حضرت انس رضی الله عنه وو.اودهغوی وفات په ۹۳ھ کښې شوې دې.نويه بصره کښې که دحضرت مالك بن الحويرث رضی الله عنه وفات په ۹۴ھ کښې شوې وو. نوآخری صحابی رضی الله عنه به حضرت مالك بن الحويرث وو.حضرت انس بن مالك رضی الله عنه به نه وو.ددې وجې ((أربع وتسعين)) د ((اربع وسبعين)) سره تصحيف دې.(١٠) والله اعلم. ((رضی الله عنه وأرضاه))

د ذکرشوی تعليق تخريج دحضرت مالك بن الحويرث رضی الله عنه دا تعليق دهغوی د يواوږد حديث يوه ټکړه ده.دا حديث امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کښې تقريباً نهه خله مفصل او

---

(١)تهذيب الكمال(١٣٢/٢٧و ١٣٣) وتهذيب التهذيب(١٣/١٠و ١٤)_

(٢)الإصابة (٣٤٢/٣)_

(٣)الإستيعاب بهامش الإصابة (٣٧٤/٣)_

(٤)دشيوخ اوتلامذه دپاره اوګورئ تهذيب الكمال(١٣٣/٢٧)_

(٥)المصدرالسابق)_

(٦)تهذيب الأسماء واللغات (٨٠/٢) وخلاصة الخزرجی (٣٦٧)_

(٧)الإستيعاب بهامش الإصابة (٣٧٤/٣)_

(٨)تهذيب التهذيب (١٤/١٠) وحاشية سبط ابن العجمی علی الكاشف (٢٣٤/٢) رقم ٥٢٤٦)_

(٩)الإصابة (٣٤٣/٣) وتهذيب التهذيب(١٤/١٠)_

(١٠)تهذيب التهذيب (١٤/١٠)_

مختصراً ذکرکړې دي [1] دلته چه کوم الفاظ ذکردی هغه بعینه په ((کتاب الأدب)) کښې ((باب رحمة الناس والبهائم)) کښې موجود دی. [2]

د ذکرشوی تعلیق مقصد د ذکرشوی تعلیق نه دامام بخاری رحمه الله مقصد د ترجمة الباب اثبات دی چه په دې حدیث کښې نبی ﷺ حضرت مالك بن الحويرث رضی الله عنه اودهغه ملګری خپلوکورونوته واپس اولیږل.اوځه چه ني دلته کتلی وو.اوزده کړی وو. دا حکم نې ورته اوکړو چه دا دخپلې علاقې خلقو ته اوښائي.

[۸۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَتَرْجِمُ بَيْنَ ابْنِ عَبَّاسٍ ([3]) وَبَيْنَ النَّاسِ فَقَالَ إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنِ الْوَفْدُ أَوْ مَنِ الْقَوْمُ قَالُوا رَبِيعَةُ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ أَوْ بِالْوَفْدِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامَى قَالُوا إِنَّا نَأْتِيكَ مِنْ شُقَّةٍ بَعِيدَةٍ وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هَذَا الْحَيُّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ وَلَا نَسْتَطِيعُ أَنْ نَأْتِيَكَ إِلَّا فِي شَهْرٍ حَرَامٍ فَمُرْنَا بِأَمْرٍ نُخْبِرُ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا نَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ أَمَرَهُمْ بِالْإِيمَانِ بِاللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَحْدَهُ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا الْإِيمَانُ بِاللَّهِ وَحْدَهُ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَإِقَامُ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ وَصَوْمُ رَمَضَانَ وَتُعْطُوا الْخُمُسَ مِنَ الْمَغْنَمِ وَنَهَاهُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ شُعْبَةُ رُبَّمَا قَالَ النَّقِيرِ وَرُبَّمَا قَالَ الْمُقَيَّرِ قَالَ احْفَظُوهُ وَأَخْبِرُوهُ مَنْ وَرَاءَكُمْ [رقم: ۵۳]

رجال الحديث

① **محمدبن بشار**:دا مشهورامام حدیث محمدبن بشاربن عثمان بن عبدی بصری رحمه الله دي.ددوی کنیت ابوبکراولقب ،،بندار،، دي.ددوی حالات مخکې په کتاب العلم کښې د ((باب ماكان النبي ﷺ يتخولهم بالموعظة والعلم كي لاينفروا)) لاندې تیرشوی دی.

② **غندر**:دا هم د حدیثو مشهورامام ابوعبدالله محمدبن جعفرهذلی رحمه الله دي.چه د ..غندر.. په لقب سره مشهوردې.د دوی حالات په کتاب الایمان کښې د ((باب ظلم دون

---

[1])صحيح البخارى (۸۷\۱۱) كتاب الأذان باب من قال ليؤذن فى السفر موذن واحد رقم ۶۲۸) و(۸۸\۱۱) باب الأذان للمسافرإذا كانوا جماعة .. رقم ۶ ۳۰) و(۶۲۱) و(۹۰\۱۱) باب إثنان فما فوقها جماعة رقم ۶۵۸) و(۹۵\۱۱) باب إذا استوو فى القراءة فليؤمهم أكبرهم رقم ۶۸۵. و(۱۱۳\۱۱) باب للمكث بين السجدتين رقم ۸۱۹) و(۳۹۹\۱۱) كتاب الجهاد والسير.باب سفرالإثنين رقم ۲۸٤۸ و(۸۸۸\۱۲) كتاب الأدب باب رحمة للناس والبهائم رقم ۶۰۰۸) وفاتحة كتب أخبارالآحاد باب ماجاء فى إجازة خبرالواحد الصدوق رقم ۷۲٤۶)

[2])انظرالتعليقة السابقة)_

[3])ددې حدیث تخریج په کشف الباری (۱۲ ۶۹۶) ((کتاب الإيمان باب أداء الخمس من الإيمان)) لاندې تیرشوې دي)_

قلم» لاندې تيرشوى دى (١)

③ **شعبه:** دا امير المومنين فى الحديث شعب بن الحجاج بن الورد العتكى بصرى دې.د دوى حالات په باب ،،باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده،، لاندې ذكرشوې دې(٢)

④ **ابوجمره:** دا ابو جمره نصر بن عمران ضُبعى بصري دې.د دوى حالات په كتاب الايمان كښې د«باب أداء الخمس من الإيمان» لاندې تيرشوى دى.(٣)

⑤ **حضرت عبدالله بن عباس** رضي الله عنهما: ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د«باب كفران العشير وكفر دون كفر» لاندې تيرشوى دى.(٤)

قوله: **قَالُوا إِنَّا نَأْتِيكَ مِنْ شُقَّةٍ بَعِيدَةٍ**: وفد عبدالقيس اووئيل.موتاسوته د لرې مسافت نه يا د لرې مزل كړې دې.اوراغلى يو.

«شقة» بضم الشين وبكسرها. ددې معنى ..بعد.. دې.بعضې حضرات فرمائى.چه «شقة» لرې سفريا مسافت بعيده ته وائى.په دې صورت كښې به دلته د «بعيدة» صفت.صفت كاشفه وى.

بعضې حضرات فرمائى.چه «شقة» سفرته وائى.ونيلى شى.«فلان بعيد الشقة» يعنى «بعيد السفر» دشقة معنى ناحية هم ده.

په دې صورتونوكښې به دا صفت احترازى وى.ځكه چه سفريا ناحيه كله نزدې وى.اوكله لرې وى.(٥)

قوله **وَنَهَاهُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ شُعْبَةُ رُبَّمَا قَالَ النَّقِيرِ وَرُبَّمَا قَالَ الْمُقَيَّرِ**: دامام شعبه رحمه الله دا مطلب نه دې.چه زما استاذ ابوجمره به كله د.دباء ،،حنتم.. او..مزفت.. ذكركولونه پس نقيرذكركولو.اوكله د..مقير.. لفظ وئيل.

بلكه مطلب دا دې.چه زما استاذ ابوجمره. درې څيزونه ،حنتم، دباء، او مزفت ذكركول. اوكله به ئې د..النقير..زيادت هم كولو.اوكله به ئې د.. مزفت .. په ځائې ..مقير.. وئيل.ځكه چه ..مزفت.. او..مقير.دواړه يو څيز دې.(٦) والله اعلم بالصواب.

---

(١) كشف البارى(٢٥٠/٢)_
(٢) كشف البارى(٦٧٨/١)_
(٣) كشف البارى(٧٠/٢)_
(٤) كشف البارى(٢٠٥/٢)_
(٥) النهاية (٤٩٢/٢) ومجمع بحار الأنوار(٢٤١/٣) تاج العروس (٣٩٦/٦)_
(٦) فتح البارى(١٨٤/١) وعمدة القارى(١٠٠/٢)_

حديث عبدالقيس مكمله تشريح په كتاب الايمان كښې د «باب أداء الخمس من الإيمان» لاندې تيره شوې ده [1] «فارجع إليه إن شئت».

۲۶=بَاب الرِّحْلَةِ فِي الْمَسْأَلَةِ النَّازِلَةِ وَتَعْلِيمِ أَهْلِهِ

رحلة، بكسر الراء، ارتحال او سفرته وائى او.. رُحلة،، بالضم. طرف ته وائى كوم ته چه سفركولې شى حافظ فرمائى چه دلته ..رحلة.. ..رحلة.. بكسرالراء او..رحلة بفتح الراء هم راغلې ده په معنى د «المرأة الواحدة» هم راغلې ده [2]

د مخكنى باب سره مناسبت په تيرشوى باب كښې تحريض على العلم وو. دتحريض په نيتجه كښې طالب علم دمختلفوخايونوسفركوى بياخاص كرچه كله څه واقعه اوواقعه پيښه شى نوبيا وتل ضرورى شى. ددې وجې ئې دلته د «رحلة فى المسئلة النازلة» باب قائم كړو [3]

د تكرارفى الترجمة شبه اودهغې جواب ددې نه وړاندې امام بخارى د «باب الخروج فى طلب العلم» باب قائم كړې وو. اواوس دوى «باب الرحلة فى المسئلة النازلة» قائم كړو په ظاهره دا تكرار دې.

ددې جواب دا دې چه سابقه باب عام وو. په مطلق خروج فى العلم باندې دال وو اودا ترجمه خاص ده. په دې كښې دڅه واقعې اوحادثې په پيښيدو باندې دتل مقصود دى. نو تكرار نشو. [4]

د ترجمې مقصد حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى. كه د يوې مسئلې ضرورت پيښ شى اوحكم معلوم نه وى. دعالم نه د معلومولوپاره دې سفراوكړى. اوخپلواهل علموته دې هم تعليم وركړى. دا نه چه سكوت اوختياركړى. اوكينى. ددې نه دتعليم اوتعلم تاكيداوضرورت معلوميږى. والله اعلم. [5]

مطلب دا دې چه په احكام شرعيه كښې جهل چونكه عذرنه دې. ددې وجې كوشش كول پكاردى. اوعلم حاصلول پكاردى. «فإنما شفاء العى السوال» [6]

تنبيه دلته تاسوګورئ چه د ترجمې په آخر كښې «وتعليم أهله» هم شته. دا صرف د كريمې په نسخه كښې دى.

---

[1] كشف البارى (۲/۶۹٤و ۹۲۷)_
[2] فتح البارى (۱/۱۸٤)_
[3] عمدة القارى (۲/۱۰۰)_
[4] شرح الكرمانى (۲/۳۷و ۳٤)_
[5] الأبواب والتراجم (ص۵۲)_
[6] الكنز المتوارى (۲/۳۱۸)_

حافظ ابن حجراوعلامه عينى رحمهما الله فرمائى چه ددې حذف كول صحيح دى.ځكه چه دتعليم اهل په باره كښې امام بخارى وړاندې «باب تعليم الرجل أمته وأهله» مستقل باب قائموى [1]

خودلته دا وئيلې شى چه هغه ترجمه كومه چه راتلونكې ده.عام ده. او مذكوره ترجمه خاص ده ددې مقصد خودا دې چه دضرورى مسئلې دپاره چه كوم سفراوكړې شى.نود مسئلې معلوميدونه پس هغه خپل اهل ته هم خودل پكاردى.اوپه راروانه ترجمه كښې ئې مطلقاً دا خودلى دى.چه دخپلې وينځې اوبنځې دتعليم اهتمام كول پكار دى.والله اعلم.

[٨٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ [2] أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لِأَبِي إِهَابِ بْنِ عَزِيزٍ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي تَزَوَّجَ فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ مَا أَعْلَمُ أَنَّكِ أَرْضَعْتِنِي وَلَا أَخْبَرْتِنِي فَرَكِبَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ وَنَكَحَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ [١٩٤٧ ،٢٤٩٧، ٢٥١٦و ٢٥١٧ ،٢٥١٧و ٤٨١٦]

رجال الحديث

① محمدبن مقاتل ابوالحسن: دا ابوالحسن محمدبن مقاتل مروزى بغدادى مكى دې.ددوى لقب ..رخ،، دې.ددوى حالات په كتاب العلم كښې د«باب ما يذكر في المناولة وكتاب أهل العلم بالعلم إلى البلدان» لاندې تيرشوى دى.

② عبدالله: دا امام عبدالله بن المبارك خنظلى رحمه الله دې.ددوى مختصر حالات په بدء الوحى كښې دپنځم حديث لاندې تيرشوى دى.[3]

③ عمربن سعيدبن ابى حسين: دا عمربن سعيدبن ابى حسين قرشى نوفلى مكى دې[4]

---

[1] فتح البارى(١/١٨٤) وعمدة القارى(٢/١٠٠)_

[2] قوله عن عقبة بن الحارث: الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى (١/٢٧٦) كتاب البيوع باب تفسير المشبهات رقم ٢٠٥٢) و(١/٣٦٠) كتاب الشهادات باب إذا شهد شاهد أوشهود بشئ رقم ٢٦٤٠) و (١/٣٦٣) كتاب الشهادات باب شهادة الإماء والعبيد رقم ٢٦٥٩) وباب شهادة المرضعة رقم ٢٦٦٠) و(٢/٧٦٤و ٧٦٥) كتاب النكاح باب شهادة المرضعة رقم (٥١٠٤) والنسائى فى سننه ى كتاب النكاح باب الشهادة فى الرضاع رقم ٣٣٣٢) وأبوداود فى سننه فى كتاب القضاء باب الشهادة على الرضاع رقم ٣٦٠٣و ٣٦٠٤) والترمذى فى جامعه فى كتاب الرضاع باب ماجاء فى شهادة المرأة الواحدة فى الرضاع رقم ١١٥١)

[3] كشف البارى(١/٤٦٢)_

[4] تهذيب الكمال(٢١/٣٦٤)_

دوى دطاوس به كيسان، عبدالله بن ابى مليكه، القاسم بن محمد، عبدالرحمن بن القاسم بن محمد، محمدبن المنكدر، اوعطاء بن ابى رباح رحمهم الله وغيره نه روايت كوى
او ددوى نه روايت كونكوكښې سعيدبن سلام، سفيان ثورى، ورح بن عباده، ابوعاصم النبيل، عبدالله بن داود خريبى، عبدالله بن المبارك، عيسى بن يونس، اويحيى القطان رحمهم الله وغيره دى.(١)

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى: «ثقة من أمثل من يكتبونه منه»(٢)

امام يحيى بن معين اوامام نسائى رحمهما الله فرمائى: «ثقة»(٣)
امام عجلى، ابن البرقى اومحمدبن مسعود بن العجمى رحمهم الله هم ددوى توثيق كړې دې (٤)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى: «صدوق»(٥)
ابن حبان رحمه الله دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.(٦) رحمه الله رحمة واسعة

④ عبدالله بن ابى مليكه: دا ابوبكرعبدالله بن عبيدالله بن ابى مليكه زهيربن عبدالله بن جدعان تيمى قرشى دې. ابومحمد هم ددوى كنيت دې.(٧)

⑤ عقبه بن الحارث: د عقبه بن الحارث بن عامربن نوفل قرشى نوفلى مكى رضي الله عنه دې. دفتح مكې په موقع باندې مسلمان شوې وو.
محدثين فرمائى چه ددوى كنيت ،،ابوسروعه،، دې. دعلم الانساب په عالمانوكښې دې علماء وائى چه ،،ابوسروعه،، دعقبه ورور وو. اودواړه د فتحې مكې په موقع مسلمانان شوى وو.
ابوحاتم رحمه الله فرمائى چه ابوسروعه عقبه بن الحارث د حضرت خبيب بن عدى رضي الله عنه قاتل وو. دې مقتدم دې. اوعقبه بن الحارث كوم چه دابن ابى مليكه رحمه الله ... روايت كوى دا متاخردې.
بعضې حضراتو عقبه بن الحارث اوابوسروعه دواړه مورشريك ورونړه ګرځولى دى.
حافظ ابن حجر رحمه الله دمحدثينو رحمهم الله قول راجح ګرځولې دې چه ابو سروعه هم د عقبه كنيت دې. اودا يوكس دې.(٨)

---

(١) دشيوخ اوتلامذة دپاره اوګورئ تهذيب الكمال(٢١\٣٦٥)_
(٢) تهذيب الكمال(٢١\٣٦٦)_
(٣) تهذيب الكمال (٢١\٣٦٦) وتهذيب التهذيب (٧\٤٥٣)_
(٤) تهذيب الكمال(٧\٤٥٣)_
(٥) المصدرالسابق)_
(٦) الثقات لابن حبان (٧\١٦٦و ١٦٧)_
(٧) كشف البارى(٢\٥٤٨)_
(٨) دتفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال (٢٠\١٩٢و ١٩٤) وتهذيب التهذيب (٧\٢٣٨و ٢٣٩) والإصابة (٢\٤٨٨) وتهذيب الأسماء واللغات (١\٣٣٦)_

حضرت عقبه بن الحارث رضي الله عنه دنبي ﷺ نه علاوه دحضرت ابوبكرصديق اوحضرت جبيربن مطعم رضي الله عنهما نه هم روايت كوي.

اودوى نه روايت كونكوكښې ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف.عبدالله بن ابى ابى مليكه.اوعبيدالله بن ابى مريم مكى رحمهم الله دى.(١)

ددوى نه په شماريوخواحاديث مروى دى.امام بخارى رحمه الله ددوى درې حاديث نقل كړى دى اوامام مسلم رحمه الله د دوى څه حديث نه دې نقل كړې.(٢)

دامام مسلم او ابن ماجه رحمهما الله نه علاوه باقى د اصول سته مصنفينو رحمهم الله ددوى د احاديثو تخريج كړې دې.

قوله أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لِأَبِي إِهَابِ بْنِ عَزِيزٍ: حضرت عقبه بن ابى مليكه رضي الله عنه دابواهاب بن عزيز لورسره نكاح كړې وه.

ددې ميرمن نوم ..غنيّهُ دې.ام يحى ئې كنيت دې.(٣) دا كنيت د كتاب الشهادات په يو روايت كښې راغلې دې.(٤)

ابواهاب بن عزيزبن قيس تميمى .دا صحابى رضي الله عنه دې.وئيلى شى.چه په مسجد حرام كښې د ټولونه وړمبئ ددوى دجنازې مونځ شوې وو.(٥)

عزيز ((بفتح العين المهملة وزايين منقوطين بينهما ياء تحانية)) په وزن د كريم دې.دا تصغيرنه دې.(٦)

قوله فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ: يوه ښځه دې ته راغله.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه ددې نوم ماته معلوم نشو.(٧)

قوله فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي تَزَوَّجَ: هغې اووئيل.چه ماعقبه اوده جينئ ته چاسره چه ده نكاح كړې ده.تئ وركړې دې.

مطلب دا چه دا دواړه په خپلو كښې رضاعى ورور خور دې.

قوله فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ مَا أَعْلَمُ أَنَّكِ أَرْضَعْتِنِي وَلَا أَخْبَرْتِنِي: عقبه اووئيل.چه ماته معلومه نه ده.چه تا ماته پئ راكړى دى.اونه ما ته تا خبر راكړې دې.

---

(١) دشيوخ اوتلامذه دپاره اوګورئ تهذيب الكمال (١٩٣/٢٠)_

(٢) ذخائرالمواريث فى الدلالة على مواضع الحديث (٣١٧/٢) وخلاصة الخزرجى (ص.٢٦٨)_

(٣) فتح البارى(١٨٤/١)-

(٤) صحيح البخارى (٣٦٣/١) كتاب الشهادات باب شهادة الإماء والعبيد رقم ٢٦٥٩)_

(٥) النظرالإصابة (١٤/١و ١٢)_

(٦) فتح البارى(١٨٤/١و ١٨٥) والإصابة (١١١/٤)_

(٧) فتح البارى (١٨٥/١)_

مطلب دا كه د رواج مطابق د رضاعت ضرورت پيښ شوې وو.اوماته دې پۍ راكړې وو. نوكم ازكم ماته خوبه دې خودلې وو.چه زه ستا رضاعى مور يم.

قوله فَرَكِبَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ فَسَأَلَهُ: هغه مدينې منورې ته اورسول الله ته سفراوكړو.اواورسيدلو.اود نبى ﷺ نه نې تپوس اوكړو.

چونكه په زړه كښې نې شك شو.اوتسلى ورته نه ملاويده.ددې وجې هغوى دمكې معظمې نه چرته چه ډيره وو.دهغې نه مدينې منورې ته سفر اوكړو.چه د رسول الله ﷺ نه د مسئلې تپوس اوكړى.اوعمل پرې اوكړى.(١)

قوله فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ: نبى ﷺ ورته اوفرمائيل.چه ته څنګه هغه ښځه په خپله نكاح كښې ساتې. حالانكه داسې خبره شوې ده.چه هغه ستا خور ده.

ايا په رضاعت كښې د يوې ښځې ګواهى معتبره ده؟: په دې خبره كښې اختلاف دې.ك مرضعه ګواهى وركړى.نويواځې ددې ګواهى معتبره ده كه نه؟

امام احمد ،امام اسحاق،امام اوزاعى،اوامام زهرى ﷺ فرمائى.چه دمرضعة ګواهى څنله هم معتبره ده.دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوطاوس رحمه الله نه هم دا منقول دى.

دامام اوزاعى رحمه الله نه يوقول دا هم معتبر دې.كه مرضعه دتزويج نه وړاندې ګواهى وركړى. نومعتبره ګڼى نه ده.

امام مالك رحمه الله فرمائى.چه د رضاعت داثبات دپاره د دووښځوشهادت معتبر دې.د سړى وجود په كښې ضرورى نه دې.

امام شافعى رحمه الله فرمائى.چه د رضاعت په باب كښې كم ازكم د څلورو ښځوګواهى ضرورى ده.دا د امام شعبى اوعطاء رحمهما الله نه هم مروى دى.

امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى.چه د رضاعت د اثبات دپاره هم دشهادت نصاب ضرورى دې.يعنى دوه سړى يا يوسړې اودوه ښځې،ددې نه بغيررضاعت نه ثابتيږى.(٢)

امام احمد رحمه الله وغيره دحديث باب نه استدال كوى.چه دلته صرف د يوې ښځې ګواهى ده.اونبى ﷺ ددې په وجه دخپلې بى بى پريخودوحكم كوى.

احناف ﷺ په دې باب كښې په آيت كريمه ﴿وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ﴾ (٣)

تركومې پورې چه حديث باب تعلق دې.نوجمهوردا په تنزه.تورع اواحتياط باندې محمول كوى.ددې جواب حاصل دا دې.چه صرف د مرضعې په شهادت باندې بيلتون كول عام قانون نه دې.اونه شريعت حرمت ثابتوى. البته په دې سره يوقسم شك اوشبه ضرور پيدا

---

(١) فتح البارى(١\١٨٥)_

(٢) عمدة القارى(٢٠\١٩٩) كتاب النكاح باب شهادة المرضعة)_

(٣) البقرة:٢٨٢)_

کیږی نښکاره ده.چه دشبهې پیدا کیدو نه پس به دغه بی بی سره په مخالطت کښې انبساط نه وی چونکه دټول عمرمعامله ده.نوهمیشه دپاره به انقباض باقی وی.دکوم چه په امور معاشرت اوتربیت اولاد باندې بداثرغورځیږی.نود «الحلال بين والحرام بين وبينهما مشتبهات» [۱] او«دع مايريبك إلى مالا يريبك» [۲] خیال نې اوساتل.

اونبی ﷺ ورته د تقوی اوورع په بناء باندې «کیف وقد قیل» او«دعها عنك» [۳] اوفرمائیل محقق ابن الهمام او علامه سرخسی رحمهماالله هم دا جواب اختیار کړې دې.[۴]

علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله د شیخ خیرالدین رملی رحمه الله بحرالرائق د حاشیة په حواله سره نقل کړې دی.چه هغوی لیکلی دی.صرف دیوې ښځې شهادت دیانة معتبر دې اوقضاء معتبر نه دې.په قضا اودیانت کښې فرق دا دې.چه ترڅوپورې معامله عدالت ته نه وی رسیدلې.نوترهغه وخته پورې به هم د دیانت اعتبار وی.اودمفتی نه که ددې په باره کښې استفتاء اوشی.نومفتی به د دیانت په اعتبارسره فتوی ورکوی.البته معامله عدالت ته اورسیده. نو قاضی به ددې اعتبارنه کوی.ځکه چه دقاضی فیصله صرف دښځې په ګواهئ باندې نشی کولې.

په نبی ﷺ کښې دواړه حیثیونه وو.نبی ﷺ مفتی هم وو.اوقاضی هم.اوس دا کتل پکار دی.چه نبی ﷺ دا فیصله په کوم حیثیت سره ورکړې وه.که دقضاء په حیثیت سره نې ورکړې وی.نوبیشکه د جواب ورکولو ضرورت به وی. او قرائن ددې مقتضی دی.چه نبی ﷺ د قضاء په حیثیت سره دا فیصله نه وه کړې.بلکه د افتاء په حیثیت سره نبی ﷺ دا فیصله کړې وه.

که چرته دا فیصله قضاء وه.نوحضرت عقبه رضی الله عنه چه ورته ځنګه خبر ورکړو.نبی ﷺ به ترې اعراض نه کولو.بلکه سمدستی به نې فیصله کوله. حالانکه په روایاتوکښې دی.چه نبی ﷺ د خبرې اوریدونه پس اعراض اوکړو.[۵] کله چه دوی دوباره بلکه په بعضې روایاتوکښې دریم اوځلورم ځل اصرار اوکړو.نونبی ﷺ اوفرمائیل.«کیف وقد قیل!»[۶]

دغه شان که دا فیصله قضاء وه.نونبی ﷺ به خامخا ګواهی مجلس ته راغوستې وه.اوبیا به نې حکم کولو.خودلته څه هم نه دی شوی.

---

[۱])صحیح البخاری(۱۳۱۱) کتاب الإیمان باب فضل من إستبرأ لدینه رقم ۵۲)_

[۲])جامع الترمذی کتاب صفة القیامة باب (بدون ترجمة) رقم ۲۵۱۸) وسنن النسائی کتاب الأشربة باب الحث علی ترک الشبهات رقم ۷۵۱٤)_

[۳])کما فی روایة أخرجها البخاری فی صحیحه (۳۶۳۱۱) کتاب الشهادات باب شهادة المرضعة رقم ۲۶۶۰)_

[۴])المبسوط للسرخسی(۱۶۹۱۱۰) کتاب الإستحسان وفتح القدیر(۳۲٤۱۳) وآخر کتاب الرضاع)_

[۵])ففی روایة البخاری فی صحیحه (۳۶۳۱۱) کتاب الشهادات باب شهادة الإماء والعبید(فذکرت ذلک للنبی ﷺ فأعرض عنی قال فتنحیت فذکرت ذلک له ...)_

[۶])کما فی روایة الدارمی فی سننه(۲۱۰۱۲) کتاب النکاح باب شهادة المرأة الواحدة علی الرضاع رقم ۲۲۵۵)

خلاصه دا شوه چه دعلامه خيرالدين رملي رحمه الله دقول مطابق دلته نبي؟ قضاء دا فيصله نه ده کړې بلکه دیانة ئې فيصله کړې وه لکه چه په داسې صورت کښې قضاء نه بلکه ديانة تفريق ضروري دې
اومحقق ابن الهمام رحمه الله په نيزدلته ديانة هم تفريق ضروري نه دې صرف تورعاً اوتنزيهاً ئې ورته د تفريق حکم کړې وو.(١)
بيا امام سرخسي رحمه الله دا هم فرمائي چه په حديث باب کښې چه دکومې ښځې دګواهۍ ذکردې پکار ده چه دا دچا په نيز هم صحيح نشي خکه چه په روايتوکښې راځي چه عقبه بن حارث رضي الله عنه فرمائي «تزوجت بنت أبي إهاب ، فجاءت سوداء تستطعمنا فأبينا أن نطعمها فجاءت من الغد تشهد على الرضاع...» امام سرخسي رحمه الله فرمائي چه «ومثل هذه الشهادة تكون من ضغن فلا تتم الحجة بها»(٢)

قوله: فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ رضي الله عنه: نوحضرت عقبه رضي الله عنه خپله بي بي جدا کړه په «فارق» کښې دا احتمال هم شته چه نبي صلى الله عليه وسلم تفريق وکړو. اودا احتمال هم شته چه حضرت عقبه رضي الله عنه ورته طلاق ورکړو. اوجدا ئې کړه.(٣)

قوله: وَنَكَحَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ: اودوي ښځې دبل چا سره نکاح وکړه.
ددغه کس نوم «ظريب» خودلې شوې دې.(٤)

د ترجمة الباب اثبات دحديث باب نه ترجمة الباب ښکاره ثابتيږي «فركب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم بالمدينة» يعني حضرت عقبه رضي الله عنه ته چه کومه مسئله پيښه شوې وه ددغې دحکم معلومولو دپاره دمدينې منورې سفر وکړو. په اکثرونسخوکښې چونکه «باب الرحلة في المسئلة النازلة» دې. اوزيادت په کښې نشته. ددې وجې د حديث نه د ترجمة الباب بيخي ښکاره دې.
البته دکريمه په نسخه کښې د «وتعليم أهله» زيادت دې. ددې وجې که دا نسخه غلطه اوګرخولې شي. لکه څنګه چه حافظ ابن حجراوعلامه عيني رحمهما الله کړې دی. نوبيا د څه جواب ضرورت نشته.
اوکه دا زيادت صحيح اوګنړلې شي. نوونيلې شي چه حضرت عقبه رضي الله عنه چه واپس کورته راغلې وی. نوهغوی به خامخا خپل کورواله د نبي صلى الله عليه وسلم دجواب نه خبر کړی وی. اوبيا به ئې مفارقت اختيار کړې وی. والله اعلم وعلمه اتم واحکم

(١) فضل البارى (٢\٨٨و ٨٩)_
(٢) المبسوط للسرخسى (١٠\١٦٩) كتاب الإستحسان)_
(٣) فضل البارى (٢\٨٩)_
(٤) فتح البارى (١\١٨٥)_

۲۷=بَابُ التَّنَاوُبِ فِي الْعِلْمِ

تناوب د باب تفاعل مصدر دې.ددې معنی ده نوبت په نوبت يعنی وار په وار.نودتناوب فی العلم مطلب شو.دعلم حاصلولودپاره نوبت مقررکول.(۱)

د مخکنی باب سره مناسبت په باب سابق کښې د طلب علم دپاره د رحلة ذکروو بنکاره خبره ده.چه دعلم دطلب دپاره سفرکول زيات حرص وی.په دې باب کښې واريه واريعنی نوبت مقرر کولوسره د علم دطلب دپاره تلل ذکردی.کوم چه شدت حرص فی طلب العلم باندې دليل دې.(۲)

د ترجمة الباب مقصد حضرت شيخ الهندرحمه الله فرمائی.چه ددې باب مقصد دا دې.که د ضروری شغلونو په وجه د علم دحاصلولوفرصت نه وی.نوپه طريقه د تناوب علم زده کول پکار دی.اوکه عالم ته په خپله نشی ورتلې.نوديومعتمد په ذريعه دې علم حاصل کړی.(۳)

حضرت شيخ الحديث رحمه الله صاحب فرمائی.چه زما په نيز دا هم ممکن ده.چه حضرت امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی.چه دعلم طلب اګرچه فرض دې.ليکن ددې فرضيت دا خبره نه لازموی.چه دنورو ضروورياتونه دې سړې بيخی فارغ وی.بلکه دنورو ضروورياتو سره سره هم علم حاصلول صحيح دی.دحافظ ابن حجررحمه الله دکلام نه ددې تائيد کيږی.حافظ فرمائی (۴) چه دطالب علم دپاره د علم په طلب کښې د معاش د طلب نه غافله کيدل نه دی پکار.خودې سره سره دې دا خبره هم ياده وی.چه په کومه ورځ دې د علم مجلس ته نشی تلې.نوچه په دغه ورځ چه کوم حالات پيښيږی.دهغې نه د خبريدو انتظام ئې کړې وی وجه دا ده.چه دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه واقعه دلته ذکرده.ددې په يوطريق کښې دا تصريح ده چه حضرت عمر رضی الله عنه په دغه وخت کښې سوداګری کوله.(۵)

[۸۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَقَالَ ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ثَوْرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ(۱) قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الْأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ وَهِيَ مِنْ عَوَالِي

---

(۱) فتح الباری(۱۸۵\۱)-

(۲) المصدر السابق)_

(۳) الأبواب والتراجم (ص.۵۲)_

(۴) فتح الباری(۱۸۶\۱)-

(۵) الکنز المتواری فی معادن لامع الدراری وصحيح البخاری(۳۱۹\۲)_

(۱) قوله عن عمر رضی الله عنه:الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی صحيحه (۳۳۴\۱) کتاب المظالم والغصب باب الغارفة والعلية المشرفة وغير المشرفة فی السطوح وغيرها رقم ۲۴۶۸ کتاب التفسير.سورة التحريم باب تبتغی مرضات أزواجک رقم ۴۹۱۳ وباب ((وإذ أسرالنبی إلی بعض أزواجه حديثا..)) رقم ۴۹۱۴) و(۷۳۱\۲) باب قوله ﴿ إن تتوبا إلی ا لله فقد صغت قلوبکما رقم ۴۹۱۵) فی (۷۸۰\۲و ۷۸۲) کتاب النکاح باب موعظة الرجل إبنته لحال زوجها رقم ۵۱۹۱ (۷۸۵\۲) ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

الْمَدِينَةِ وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِخَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ وَغَيْرِهِ وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ فَنَزَلَ صَاحِبِي الْأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا فَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَدَثَ أَمْرٌ عَظِيمٌ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ طَلَّقَكُنَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَا أَدْرِي ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ قَالَ لَا فَقُلْتُ اللّٰهُ أَكْبَرُ[۲۳۳۶و ۲۶۲۹و ۴۸۹۵و ۴۹۲۰و ۵۵۰۵ و ۶۸۲۹و ۶۸۳۵]

رجال الحديث

① ابواليمان: دا ابواليمان الحكم بن نافع بهرانی حمصی رحمه الله دي. ددوی حالات وړاندي د باب بدء الوحی دشپږم حديث لاندي تيرشوی دی.(1)

② شعيب: دا ابوبشر شعيب بن ابی حمزه قرشی اموی رحمه الله دي. ددوی مختصر حالات هم په باب بدء الوحی كښي د شپږم حديث لاندي تيره شوي ده.(2)

③ الزهري: دامام محمدبن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهری رحمه الله دي ددوی مختصر حالات په بدء الوحی كښي د دريم حديث لاندي تيری شوی دی.(3)

ابوعبدالله: ددوی نه مراد امام بخاری رحمه الله دي.

④ ابن وهب: دا امام عبدالله بن وهب مصری رحمه الله دي. ددوی حالات هم په كتاب العلم كښي د«باب من يرد الله به خيرا يفقهه فی الدين» لاندي تيرشوی دی.

⑤ يونس: دا يونس بن يزيد ايلی قرشی رحمه الله دي. ددوی حالات مختصراً د باب بدء الوحی كښي د پنځم نمبر حديث لاندي تيرشوی دی.(4) اوتفصيلاً په كتاب العلم كښي د

.....بقيه حاشيه د تيرمخ] كتاب النكاح باب حب الرجل بعض نسائه أفضل من بعض رقم (۵۲۱۸) وفی (۲\۶۸و ۸۶۹) كتاب اللباس باب ما كان النبی ﷺ يتجوز من اللباس والبسط رقم ۵۸۴۳) وفی (۲\۱۰۷۷)كتاب أخبارالآحاد باب ما جاء فی إجازة خبرالواحد الصدوق رقم ۷۲۵۶) وفی (۲\۱۰۷۸) كتاب أخبارالآحاد باب قول الله تعالى ﴿ لا تدخلوا بيوت النبی إلا أن يؤذن لكم ﴾ رقم ۷۲۶۳) ومسلم فی سننه صحيحه فی كتاب الطلاق باب فی الإيلاء وإعتزال النساء وتخيرهن وقوله تعالى ﴿ وإن تظاهرا عليه ﴾ رقم ۳۶۹۱و ۳۶۹۶) والنسائی فی سننه فی كتاب الصيام باب كم الشهر وذكر الإختلاف على الزهری فی الخبر عن عائشة رضی الله عنها رقم ۲۱۳۴ وفی كتاب الطلاق باب الإيلاء رقم ۳۴۸۵ والترمذی فی جامعه فی كتاب التفسير باب ومن سورة التحريم رقم ۳۳۱۸)_

(1) كشف الباری(۱\۴۷۹)_
(2) كشف الباری(۴۸۰)_
(3) كشف الباری(۱\۳۲۶)_
(4) كشف الباری(۱\۴۶۳)_

«باب من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين» لاندې تيرشوی دی.

⑥ عبيدالله بن عبدالله بن ابي ثور: دا عبيدالله بن عبدالله بن ابی ثور قرشی مدنی دې د بنو نوفل سره ددوی تعلق دې.[۱]

دوی دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما اوحضرت صفيه بنت شيبه رضي الله عنها نه روايت کوی.اود دوی نه روايت کونکې محمدبن جعفربن زبيراوامام زهری رحمهما الله دی.[۲]

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«وثق»[۳]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.«ثقة»[۴]

ابن حبان رحمه الله دوی په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دی.[۵]

فائده دا راوی د يوبل راوی عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود رضي الله عنه سره په خپل نوم. دپلاراونيکه په نوم کښې شريك دې.اودحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کولوکښې هم شريك دې.البته ددغه دويم راوی په صحيحينوکښې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه ډير روايتونه مروی دی.اوپه صحيحينوکښې عبيدالله بن عبدالله بن ابی ثورنه د دې حديث باب نه سوا بل حديث نشته.[۶]

يوه بله فائده خطيب بغدادی ليکلی دی.چه عبيدالله بن عبدالله بن ابی ثورد ابن عباس رضي الله عنهما نه سوا دبل چا نه روايت نه دې کړې.اوددوی نه د زهری نه سوا بل چا روايت نه دې کړې.[۷] خود پورتنی تفصيل نه دا معلومه شوه.چه دوی دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه علاوه دحضرت صفيه بنت شيبه نه هم روايت کړې دې.دغه شان د دوی نه روايت کونکوکښې محمدبن جعفربن الزبير رحمه الله هم دې.[۸] والله اعلم. رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

⑦ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما: ددوی حالات په باب بدء الوحی کښې د دخلورم نمبر حديث لاندې تيرشوی دی.[۹] په «كتاب الإيمان باب كفران العشير وكفر دون كفر»

---

۱) تهذيب الكمال(۱۹\۶۸)_

۲) داستاذانواوشاګردانو تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال(۱۹\۶۸)_

۳) الكاشف(۱۱\۶۸) رقم ۳۵۶۰)_

۴) تقريب التهذيب(ص.۳۷۲) رقم ۴۳۰۷)_

۵) الثقات لابن حبان(۵\۶۵)_

۶) عمدة القاری(۲\۱۰۳) وفتح الباری(۱\۱۸۵)_

۷) قاله الخطيب فی المكمل انظر تهذيب التهذيب(۷\۲۱)_

۸) محمدبن جعفربن الزبير عن صفية بن شيبة..د رواياتودپاره اوګورئ ((سنن أبی داود كتاب المناسك باب الطواف الواجب رقم ۱۸۷۸) وسنن ابن ماجه من استلم الركن بمحجنه رقم ۲۹۴۷)_

۹) كشف الباری(۱\۴۳۵)_

لاندې تیرشوی دی. (١) دغه شان څه حالات په «كتاب العلم باب متى يصح سماع الصغير؟» کښې اود «أنا يومئذ ناهزت الإحتلام» دتشریح لاندې تیرشوی دی.

⑧ عمر رضي الله عنه: دحضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه مختصرحالات هم په بدء الوحی کښې د اولنی حدیث لاندې (٢) اوپه «كتاب الإيمان باب زيادة الإيمان ونقصانه» لاندې تیرشوی دی. (٣)

قوله قال أبوعبدالله، وقال ابن وهب أخبرنا يونس: امام بخاری رحمه الله دا حدیث دلته په دوو سندونو سره نقل کړې دې. یوابوالیمان عن شعیب عن الزهری په طریق سره، کوم چه موصول دې. اوبل د ابن وهب عن یونس عن الزهری په طریق سره کوم چه معلق دې.

دلته چه ئې کوم الفاظ ذکرکړی دی. هغه د ابوالیمان عن شعیب په طریقه سره نقل شوی الفاظ دی. دابن وهب عن یونس الفاظ نه دی. ځکه چه دلته اصل مقصود «كنت أنا وجار لي من الأنصار في بني أمية بن زيد وهي من عوالي المدينة، كنا نتناوب النزول على رسول الله صلى الله عليه وسلم» الفاظ دی.

اودا ابوالیمان عن شعیب په طریق سره منقول دی. دابن وهب عن یونس په طریق کښې «نتناوب» خبره موجود نه ده. بلکه هغوی «عن ابن عباس قال لم أزل حريصاً على أن أسأل عمر بن الخطاب عن المرأتين...» الفاظونه شروع کړې ده. (٤)

د ابن ابی وهب دا تعلیق ابن حبان په خپل صحیح کښې «محمد بن الحسن بن قتيبة عن حرملة بن يحيى عن ابن وهب» په سند سره موصولاً نقل کړې دې. (٥)

دلته یو سوال دا پیدا کیږی. چه هرکله دلته د ابوالیمان عن شعیب د طریق الفاظ دی. نود ابن وهب عن یونس د طریق تعلیقاً ذکرکولوڅه مقصد دې؟

ددې جواب دا دې. چه دا روایات ئې تعلیقاً راوړلو. په دې کښې دا خودل مقصود دی. چه ددې روایت په پوره نقل کولوکښې شعیب متفرد نه دې. بلکه یونس بن یزید هم ورسره شریك دې. (٦)

دا خبره دې هم پیش نظروی. چه دا روایت دلته مختصر دې. امام بخاری رحمه الله وړاندې په کتاب المظالم اوکتاب النکاح کښې دا ډیرپه تفصیل سره نقل کړې دې. (٧)

---

(١) کشف الباری (٢\٢٠٥)_

(٢) کشف الباری (١\٣٩٩)_

(٣) کشف الباری (٢\٤٧٤)_

(٤) نص على ذلك الذهلي والدارقطني والحاكم وغيرهم فتح الباري (١\١٨٥) وعمدة القاري (٢\١٠٣)_

(٥) الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (١٩٢\٧) كتاب النكاح باب معاشرة الزوجين ذكرالبيان باب المرء جائزله أن يؤدب إمرأته بهجرانها مدة معلومة رقم ٤١٧٥)_

(٦) عمدة القاري (٢\١٠٣) وفتح الباري (١\١٨٥)_

(٧) امام بخاری رحمه الله دا حدیث تفصیلاً اومختصراً په کومو کوموځایونوکښې ذکرکړې دې. دهغې ګوته کول په تیره حاشیه کښې شوی دی فارجعه ان شئت._

قوله قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنْ الْأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ وَهِيَ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ: حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي چه زه او زما يو انصاري ګاونډي. مونږ د بنو اميه بن زيد په عوالي مدينه كښې اوسيدو

داګاونډي څوك وو؟ دا ګاونډي څوك وو علامه قطب الدين القسطلاني رحمه الله فرمائي.(۱) چه دا حضرت عتبان بن مالك وو. ابن قسطلاني رحمه الله خو څه دليل نه دې ذكر كړې. البته ابن بشكوال د دې قول د توجيه كوشش كړې دې چه نبي صلى الله عليه وسلم د حضرت عمراوحضرت عتبان بن مالك رحمهما الله په مينځ كښې د مواخاة رشته قائمه كړې وه. نوقوى امكان دې چه د دې ګاونډي نه مراد حضرت عتبان رضي الله عنه وي.

خوعلامه برمادي رحمه الله رمائي. چه ددې نه مراد حضرت اوس بن خولي بن عبدالله رضي الله عنه دې.(۲) ددوى دليل دا دې چه دابن سعدپه روايت كښې دى. ((وكان عمرمواخياً أوس بن خولى لايسمع شيأ إلا حدثه ولايسمع عمرشيأ إلا حدثه)) تصريح راغلې ده.(۳)

علامه قسطلاني شارح بخارى رحمه الله فرمائي چه ((لكن لايلزم من المواخاة الجوار)) (۴)يعني كه د دواړو په مينځ كښې دمواخاة رشته وه. نوددې نه دا نه لازميږي. چه دواړه ګاونډيان هم وو. خوددې جواب دحافظ ابن حجر رحمه الله دكلام نه ملاويږي. چه د ابن سعد رحمه الله په روايت كښې د ((وكان عمر مواخياً أوس بن خولى)) مطلب د ((مواخاة)) معلومه رشته نه ده. بلكه مصادقه اوملګرتيا ده. څكه چه ابن سعدرحمه الله دحضرت عمر اوعتبان بن مالك رحمهما الله مواخاة اود حضرت اوس بن خولي او حضرت شجاع بن وهب رضي الله عنهما دمواخاة تصريح كړې ده.(۵)

بلكه حافظ ابن حجررحمه الله د قسطلاني شارح بخارى پيش كړې دليل ددې خبرې دترديد دپاره استعمال كړې دې. چه ددې جارنه عتبان بن مالك مراد دې. دوى فرمائي. چه ((لكن لايلزم من الإخاء أن يتجاورا))(۶)يعني كه د حضرت عمر اوعتبان بن مالك رضي الله عنهما په مينځ كښې كه د مواخاة رشته وه هم. نوبيا هم ددې نه دا نه لازميږي. چه دا دواړه ګاونډيان وو بيا خاص كركله چه په يو روايت كښې د ((جار)) تصريح هم پكار دې.

---

۱) داعلامه قطب الدين دحافظ ابن حجررحمه الله نه وړاندې بزرګ دې اوعلامه شهاب الدين قسطلاني رحمه الله صاحب دارشاد السارى شرح بخارى دا بل صاحب دې اودوى دحافظ نه روسته دى. اودلته دغه متقدم بزرګ مراد دې

۲)فتح البارى(۱۸۵۱۱) كتاب النكاح باب موعظة الرجل إبنته لحال زوجها وإرشاد السارى (۱۸۸۱۱)_

۳)الطبقات لابن سعد(۱۹۰۱۸) ذكرالمرأتين التين تظاهرتا على رسول الله صلى الله عليه وسلم وتخييره ونساءه)_

۴)ارشاد السارى(۱۸۸۱۱)_

۵)فتح البارى(۲۸۱۱۹) كتاب النكاح باب موعظة الرجل إبنته لحال زوجها)_

۶)المصدر السابق)_

قوله بني امية بن زيد: دا د مدينې منورې د يوې محلې نوم دې.چرته چه دا قبيله آباده وه.د قبيلوپه نوم به كورنه وو.(١)

قوله عوالي مدينة: عوالي دعالية جمع ده.دعوالي نه هغه كلي مراد دي.كوم چه د مدينې منورې پورته حصه يعنې مشرقى حصه كښې آباد وو.دعوالي شروع د دوو ميلونو نه تراته ميلو پورې كيږى.(٢)

قوله وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا: مونږبه دنبى ﷺ په خدمت كښې په وار په وار باندې حاضريدو.يوه ورځ به هغه حاضريدو.اويوه ورځ به زه

قوله فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِخَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ وَغَيْرِهِ وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ: په كومه ورځ چه به زه حاضريدم.نودهغه ورځې دوحى وغيره خبر به ما وركولو.اوكله چه به هغه حاضريدل.نودغه شان به وو.

مطلب دا كه په دغه ورځ به څه وحى نازله شوه.يا به څه مسئله پيښه شوه.يا به نبى ﷺ څه لښكر ليږل.يا به نبى ﷺ د څه خبرې تعليم اوتبليغ كړې وو.نوما به خپل ملګرى ته هغه بيانول.اوكله چه به زما ملګرې راغلو.نوهغوى به راته بيانول.

((فَنَزَلَ صَاحِبِي الْأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا فَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَدَثَ أَمْرٌ عَظِيمٌ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ طَلَّقَكُنَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَا أَدْرِي ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ قَالَ لَا فَقُلْتُ اللّٰهُ أَكْبَرُ))

زما انصارى ورور يوه ورځ په خپل نوبت كښې حاضرشوې وو.(كله چه واپس راغلو.نو) زما دروازه ئې ډيره په تيزه باندې اووهله.اووې وئيل.هغه (يعنى عمر) دلته دې.زه دكورنه وارخطا رابهرشوم.هغه اووئيل.چه يوه ډيره لويه حادثه پيښه شوه.حضرت عمر رضي الله عنه فرمائى چه زه حفصې كره ورغلم.هغې ژړل.ماترې تپوس اوكړو.آيا رسول الله ﷺ تاسو ټولوته طلاق دركړې دې.هغې راته اووئيل.چه ماته معلومه نه ده.بيا زه دنبى ﷺ په خدمت كښې حاضر شوم.اواودريدم.عرض مې اوكړو.تاسو خپلوبيبيانوته طلاق وركړې دې؟ نبى ﷺ اوفرمائيل.نه.نوما الله اكبراووئيل.

دا روايت دلته ډيره مختصر دې.وړاندې تفصيلى روايت راځى.چه دهغې خلاصه دا ده. حضرت عمر رضي الله عنه يوه ورځ په خپله څه مسئله كښې سوچ كولو چه دحضرت عمر رضي الله عنه بى بى راغله.اووې وئيل.چه تاسو داسې اوكړئ.د حضرت عمر رضي الله عنه په ذهن كښې دا خبره وه.چه په

(١) عمدة القارى (١٠٤/٢)_
(٢) المصدر السابق)_

مکه کښې به د قريشو دسړو وراندې ددوی ښځې غلې اوسيدې.اومخامخ به ئې ورته جواب نه ورکولو .خو دهجرت نه پس دلته په انصاروکښې معامله ددې په عکس وه.دلته ښځې لږې غوندې غالبې وې.اوخپلوخاوندانو ته به ئې جوابونه ورکول.ددې وجې حضرت عمر رضي الله عنه خفه شو اووې وئيل.چه تاسوښځې زمونږ په کارونوکښې دکوم وخت نه دخل اندازی کوئ.ددوی ښځې ورته اوونيل.ته هم عجيبه سړې ئې.ته دومره هم بد ګڼړې.چه مونږ تا سره په څه مسئله کښې بحث اوکړو.حالانکه ستا دلورخو دا حال دې چه دنبی ﷺ سره بحث کوی.اوکله ورسره ټوله ورځ خبرې اترې بندوی.

حضرت عمر رضي الله عنه اووريدل.اودحضرت حفصې رضي الله عنها نه ئې تپوس اوکړو چه تاسو نبی ﷺ ته دخبرې جواب ورکوئ.اوکله کله ورسره ټوله ورځ خبرې بندوئ.حضرت حفصې ورته اوونيل.آو.حضرت عمر رضي الله عنه ورته اوفرمائيل. داسې مکوه.اودعائشې سره ځان مه برابروه.هغه خو د نبی ﷺ د محبت په وجه بې فکره ده.دغه شان د نبی ﷺ نه زيات څه مه غواړه.چه دکوم څيز ضرورت وی.ماته وايه.

حضرت عمر رضي الله عنه ددې نه پس حضرت ام سلمې رضي الله عنها ته ورغلو.اوهم دا تپوس ئې اوکړو حضرت ام سلمې رضي الله عنها اووئيل((واعجباه،ومالك وللدخول فی أمر رسول الله ونسائه والله إنا لنكلمه فإن حمل ذلك كان أولی به وإن نهانا كان أطوع عندنا منك))حضرت عمر رضي الله عنه فرمائی چه ((فندمت علی كلامی لنساء النبی ﷺ بما قلت))([1])

بيا فرمائی.چه ما او زما يو ملګری په خپلو کښې دا فيصله کړې وه.چه د نبی ﷺ په خدمت کښې به نوبت په نوبت حاضری کوو.کوم کس چه په خپل نوبت کښې لاړشی.نوهغه به دهغه ورځې ټول واقعات خپل ملګری ته بيانوی.

يوه ورځ زما ملګری په خپل نوبت باندې حاضرشو.اوچه واپس راغلو.نو دروازه ئې ډيره په تيزه باندې اوټکوله.زه په ويره باندې رابهرشوم.هغه اوونيل. يوه ډيره لويه واقعه پيښه شوې ده.په هغه ورځوکښې په مدينه کښې دا افواه خوره شوې وه.چه غسانی قبيله په مدينه د حملې کولوتياريانې کوی.ددې افواه د وجې ما ترې تپوس اوکړو.چه آيا غسانی سردار حارث بن ابی شمر حمله اوکړه.هغه اوونيل.خبره ددې نه هم لويه ده.نبی ﷺ خپلو بيبيانوته طلاق ورکړې دې.

حضرت عمر رضي الله عنه اوويريدل.اوزر ئې خپلې جامې وغيره بدلې کړې او راووتلو.دصبا مونځ ئې په نبی ﷺ پسې اوکړو.نبی ﷺ چه دمانځه نه فارغ شو. نو بالاخانې ته ئې تشريف يوړو.حضرت عمر رضي الله عنه فرمائی.چه زه حفصې ته روغلم.هغې ژړل.ماترې د ژړا تپوس اوکړو او ورته مې اوونيل.چه ماتاته د وړاندې نه تاته تنبيه درکړې وه.بيا مې ترې تپوس اوکړو.چه آيا نبی ﷺ تاسو ټولو ته طلاق درکړې دې.هغې اوونيل.معلومه نه ده.نبی ﷺ په بالاخانه کښې تشريف فرما دې.زه دهغه ځاې نه راووتم.منبرطرف ته لاړم.څه صحابه

---

[1])طبقات ابن سعد(١٨٩١٨) ذكرالمرأتين التين تظاهرتا علی رسول الله ﷺ وتخييره نساءه)_

كرام رضي الله عنهم ناست وو.اوژړل ئې هغوى سره مې څه وخت تيرکړل.اوبيا بالاخانې طرف لاړم. هلته رباح نومې دنبى غلام ناست وو.ماهغه ته اوونيل.ته زما دپاره اجازت اوغواړه.زه نبى ﷺ سره ملاويدل غواړم.هغه اجازت اوغوښتلو.خونبى ﷺ سكوت اختياركړو.دغه شان په وقفه وقفه څو څو ځله داجازت غوښتلو نه پس اجازت ملاؤ شو.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمائى.چه زه داخل شوم.اوسلام مې اوكړو.تپوس مې اوكړو.چه تاسو ازواج مطهراتو ته طلاق وركړې دې؟ نبى ﷺ زما طرف ته اوكتل.اووې فرمائيل.نه.ما په زوره باندې الله اكبراوونيل.

حضرت عمر رضي الله عنه دلته د تعجب په طور په تيزه باندې الله اكبر اوونيل.چه خلقو د خبرې نه څه خبره جوړه كړې ده.خبره ئې خوره كړې ده.هم دا دامام بخارى رحمه الله رائې ده.ځكه چه دوى په كتاب الادب كښې «باب التكبير والتسبيح عندالتعجب» قائم كړې دې.اودهغې لاندې ئې دحضرت عمر رضي الله عنه ددې روايت حواله پيش كړې ده.([1])

بعضې حضرات فرمائى.چه دوى د شكريه په طور دا الفاظ اوونيل.چه نبى ﷺ طلاق نه دې وركړې.ښكاره ده.كه چرته نبى ﷺ طلاق وركړې وو.نو د نورو ازواج مطهراتوسره به د حضرت عمر رضي الله عنه لوربه هم طلاق وه.

حضرت عمر رضي الله عنه ددې نه پس د نبى ﷺ دغم سپكولودپاره اود كوم د ناخوښه حالت چه پيدا شوې وو.دهغې د لرې كولودپاره نبى ﷺ سره څه داسې خبرې وكړې.چه نبى ﷺ مسكې شو.

په دې موقع باندې نبى ﷺ دخپلو ښيانونه پوره يوه مياشت معتزل اوسيدلې وو.پوكم ديرش ورځې پس كله چه مياشت پوره شوه.نو نبى ﷺ امهات المومنين سره ملاؤ شو.([2])

٢٨=بَابُ الْغَضَبِ فِي الْمَوْعِظَةِ وَالتَّعْلِيمِ إِذَا رَأَى مَا يَكْرَهُ

دمخكنى باب سره مناسبت: په سابقه باب كښې د «تناوب في العلم» ذكر وو.كوم چه د متعلمينو دصفات ځنې وو.په دې باب كښې هم د متعلم د نفعې د بعضې صفاتو او احوالو ذكردې. چه معلم كله په متعلم كښې څه ناخوښه خبره محسوس كړى.نو دهغې اصلاح دې كوى.په دې طريقه په دواړو بابونو كښې مناسبت واضح كيږى.([3])

---

[1])صحيح البخارى(٩١٨\١٢) رقم الحديث (٦٢١٨)_

[2]) دا روايت امام بخارى رحمه الله په خپل صحيح كښې (٣٣٤\١١ و ٣٣٥) كتاب المظالم والغصب باب الغرفة والعلية المشرفة وغيرالمشرفة في السطوح وغيرها رقم ٢٤٦٨) و(٧٢٩\١٢ و ٧٣٠) كتاب التفسير سورة التحريم باب تبتغي مرضات أزواجك رقم ٤٩١٣ (٧٨٠\١٢ و ٧٨٢) كتاب النكاح باب موعظة الرجل إبنته لحال زوجها رقم ٥١٩١) و(٨٦٨\١٢ و ٨٦٩) كتاب اللباس باب ما كان النبي ﷺ يتجوز من اللباس والبسط رقم ٥٨٤٣) لاندې په تفصيل سره نقل كړې دې.دحديث پوره تشريح د باب په شروع كښې تيره شوې ده._

[3])عمدة القارى(١٠٥\٢)_

د ترجمة الباب مقصد حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائی چه چونکه په احادیثوکښې منصوص دی چه نبی ﷺ به د تعلیم او وعظ کښې نرمی او رفق خوښول کله چه یو اعرابی په جمات کښې متیازې اوکړې نو نبی ﷺ فرمائیی وو ((إنما بعثتم میسرین ولم تبعثوا معسرین))(١)
دغه شان نبی ﷺ چه کله حضرت ابوموسی اشعری او حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنهما یمن ته لیږل نوورته ئې فرمائیلی وو ((یسرا ولا تعسرا وبشرا ولا تنفرا))(٢)
دغه شان نبی ﷺ فرمائیلی دی ((یسروا ولا تعسروا وبشروا ولا تنفروا))(٣)
دغه شان حضرت معاویه بن الحکم سلمی رحمه الله فرمائی چه ((فلما صلی رسول الله ﷺ فبأبي هو وأمي ما رأیت معلماً قبله ولا بعده أحسن تعلیماً منه فوالله ما کهرنی ولا ضربنی ولا شتمنی...))(٤)
دامام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه ددې نصوصو په کتلوسره دې دا نشی گنړلې چه دغصې گنجائش نشته.بلکه په بعضې خایونوکښې غضب اوغصه یواخې دا نه جائز ده بلکه مستحسن ده.(٥)
دا شدت دهغه رفق اوتیسیرمنافی نه دې.بلکه بعضې وخت د نارضئ اظهارمفید وی. طالب علم په نیغه لاره شی.د آئنده دپاره احتیاط شروع کړی.
ډیرشارحین رحمهم الله لکه ابن المنیر،علامه برماوی،اوعلامه عینی رحمهم الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې په وعظ تعلیم اوقضاء کښې فرق بیانول غواړی.اودا ښائی. چه په وعظ اونصیحت کښې د غصې اظهارمقصود وی.چه په خلقوکښې بیداری پیدا شی اوپه قضا کښې د غضب اجازت نشته.(٦) ځکه چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.((لایقضین حکم بین اثنین وهو غضبان))(٧)
علامه بدرالدین دمامینی رحمه الله دلته دا اعتراض کړی دې چه په وعظ کښې خو د غضب اظهارصحیح دې.خوپه تعلیم کښې دا مضردې.ځکه چه په دې سره قوت فکریه منتشر شی. طالب علم اوویریږی.هوش ئې په ځائې نه وی.اوعقل ئې صحیح کار نه کوی.نوځه چه د تعلیم مقصددې.یعنی چه طالب علم ته علم حاصل شی.دغضب په وجه هغه مقصد فوت کیږی(٨)

---

(١)صحیح البخاری(٣٥/١) کتاب الوضوء باب صب الماء علی البول فی المسجدرقم ٢٢٠) و(٩٠٤/١٢و ٩٠٥) کتاب الأدب باب قول النبی ﷺ یسروا ولا تعسروا رقم ٦١٢٨)_
(٢)صحیح البخاری(٤٢٦/١) کتاب الجهاد والسیر باب ما یکره من التنازع والإختلاف فی الحرب وعقوبة من عصی إمامه رقم ٣٠٣٨)_
(٣)صحیح البخاری کتاب العلم باب ماکان النبی ﷺ یتخولهم بالموعظة والعلم کی لا ینفروا رقم ٦٩)_
(٤)صحیح مسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة باب تحریم الکلام فی الصلاة ونسخ ما کان من إباحته رقم ١١٩٩)
(٥)الأبواب والتراجم(ص.٥٢)_
(٦)ارشاد الساری(١٨٨/١و ١٨٩)_
(٧)صحیح البخاری (١٠٦٠/١٢) کتاب الأحکام باب هل یقضی الحاکم أو یفتی وهو غضبان رقم ٧١٥٨)_
(٨)ارشاد الساری(١٨٩/١)_

ددې جواب دا دې چه اول خو دا قاعده کليه نه ده.چه دهرماشوم وار خطا کيږي.اوبيا چه په چا باندې څه اثرپريوځي اوځوك چه د استاذ د خفګان نه زيات ويريږي دهغه قوت فکريه اګرچه په دغه وخت کښې کار نه کوي. خو دده دپاره په آئنده زمانه کښې غصه فائده منده وي.هغه به دا سوچ کوي که آئنده دپاره که بې توجه اوبې احتياطي اختيار کړې شي.نو د استاذ سزا به راته ملاويږي.اودهغه خفګان به برداشت کولې شي.نوهغه به د اول نه احتياط کول شروع کړي.

امام بخاری رحمه الله دا نه دی فرمائيلی.چه په هره موقع باندې د غصې اظهار کول پکار دي بلکه کله چه د غضب صحيح موقع وی.نوپه هغه موقع باندې دهغې اظهار کولې شی.

تنبيه دلته اګرچه شارحينو رحمهم الله د قضاء مسئله ذکرکړې ده.خوحقيقت دا دې چه دامام بخاری رحمه الله دلته په قضاء اوتعليم کښې فرق کول په ظاهره مقصود نه دې.دلته خو هغوی صرف دا خودل غواړي.چه معلم او واعظ د ضرورت په وخت دغضب اظهار کولې شي.

پاتې شوه د قضاء مسئله نودا به په کتاب الاحکام کښې راشی.هلته امام بخاری رحمه الله مستقل طورباندې باب قائم کړې دې.((هل يقضى الحاكم أو يفتى وهو غضبان)) (١) بيا ئې په دې معنی کښې دا حديث نقل کړې دې.کوم چه اوس وړاندې تيرشو.

پاتې شوه دا مسئله چه قاضی د غصې په حالت کښې د فيصلې کولونه ولې منع کړې شوې دې؟

نوددې جواب دا دې.چه دانسان قوت فکريه مفلوج شی.دسړی قوت ادراك صحيح کار نه کوی.که هم په دغه حال کښې فيصله اوکړې شی.نوکيدې شی.چه د مسئلې صحيح جواب اومقدمې صحيح فيصله اونشی.ددې وجې منع اوکړې شوه.

[٩٠] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ قَالَ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ ابْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَا أَكَادُ أُدْرِكُ الصَّلَاةَ مِمَّا يُطَوِّلُ بِنَا فُلَانٌ فَمَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْ يَوْمِئِذٍ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ مُنَفِّرُونَ فَمَنْ صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيهِمُ الْمَرِيضَ وَالضَّعِيفَ وَذَا الْحَاجَةِ

رجال الحديث

① محمدبن کثير: دا محمدبن کثيرعبدی بصری دې.ابوعبدالله ئې کنيت دې.سليمان بن کثير د دوی ورور دې.هغه دده نه پنځوس کاله مشر وو.(٢)

معلومه دې وی.چه دمحمدبن کثيرپه نوم باندې يوبل راوی هم دې.هغه صنعانی دې. دهغوی په صحيحينوکښې څه روايت نشته.البته په سنن نسائی. ابوداود اوترمذی کښې

---

(١) صحيح البخاری (١٢/٦٠١٠)_

(٢) تهذيب الکمال (٢٦/٣٣٤و ٣٣٥)_

شته (۱) اومحمدبن کثیرعبدی رحمه الله روایتونه نه صرف په صحیحینوکښې دی بلکه ددې نه علاوه په سنن اربعه کښې هم دی (۲)

دوی د ابراهیم بن نافع مکی، اسرائیل بن یونس، اسماعیل بن عیاش، جعفربن سلیمان ضبعی، سفیان ثوری، دخپل ورور سلیمان بن کثیر، شعبه بن الحجاج، عموربن مرزوق واشحی، همام بن یحیی اوابوعوانه رحمهم الله نه روایت کوی.

اودوی نه روایت کونکوکښې امام بخاری، ابوداود، مسلم بن ابراهیم بن عبدالله کجی، امام دارمی، عبدبن حمید، علی بن المدینی، امام محمد بن یحیی ذهلی، ابوحاتم رازی، اوابوزرعه رازی، رحمهم الله وغیره حضرات دی (۳)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی «صدوق» (۴)

ابن حبان رحمه الله دوی په کتاب الثقات کښې ذکرکړی دی. اولیکلی ئې دی. «وکان تقیاً فاضلاً..» (۵)

امام احمد رحمه الله فرمائی «ثقة» (۶)

سلیمان بن قاسم رحمه الله فرمائی «لابأس به» (۷)

البته امام یحی بن معین رحمه الله فرمائی «لاتکتبوا عنه لم یکن بالثقة» (۸)

دغه شان دوی فرمائی «لم یکن یتساهل أن یکتب عنه» (۹)

حافظ ذهبی رحمه الله په «تهذیب» کښې لیکی دی چه دامام یحیی بن معین رحمه الله اولنې قول چه «لا تکتبوا عنه لم یکن بالثقة» د دوی په باره کښې نه دې بلکه د یوبل راوی محمدبن کثیر فهری (۱۰) په باره کښې دې (۱۱) البته دویم قول چه «لم یستأهل أن یکتب عنه» د دوی نه ثابت دې. خودوی فرمائی «الرجل ممن طفرالقنطرة وماعلمناله شیأمنکرایلزین به» (۱۲)

---

(۱) تهذیب الکمال (۲۶\۳۲۹)

(۲) تهذیب الکمال (۲۶\۳۲۹)

(۳) دشیوخ اوتلازمذة دپاره اوګورئ تهذیب الکمال (۲۶\۳۳۶)

(۴) تهذیب الکمال (۲۶\۳۳۶)

(۵) الثقات لابن حبان (۹\الثقات لابن حبان (۹\۷۷و ۷۸۰)-

(۶) تهذیب الکمال (۹\۴۱۸)

(۷) المصدرالسابق)

(۸) تهذیب الکمال (۲۶\۳۳۶) ومیزان الإعتدال (۴\۱۸) رقم ۸۰۹۹)

(۹) سیرأعلام النبلاء (۱۰\۳۸۴)

(۱۰) انظر ترجمة وقول ابن معین فیه فی میزان الإعتدال (۴\۲۰) رقم ۸۱۰۱)

(۱۱) حاشیة السبط ابن العجمی علی الکاشف (۲\۲۱۳) رقم ۵۱۲۷)

(۱۲) سیرأعلام النبلاء (۱۰\۳۸۴)

دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى «ثقة لم يصب من ضعفه»[1]

په ۲۲۳ هـ كښې دلس كم سلو كالو په عمر كښې وفات شوې وو.[2] رحمه الله تعالى رحمة واسعة

④ **سفيان:** دا اميرالمومنين فى الحديث امام سفيان بن سعيد ثورى رحمه الله دې.ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د «باب علامة المنافق» لاندې تيرشوى دى.[3]

③ **ابن ابى خالد:** دا اسماعيل بن ابى خالد احمسى بجلى كوفى رحمه الله دې.ددوى مختصر حالات په كتاب الايمان كښې د «باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» لاندې تيرشوى دى.[4]

④ **قيس بن ابى حازم:** دا مخضرم تابعى قيس بن ابى حازم احمسى بجلى كوفى دې.ددوى حالات هم په كتاب الايمان كښې د «باب قول النبى ﷺ الدين النصيحة لله ولرسوله ولأئمة المسلمين وعامتهم» لاندې تيرشوى دى.[5]

⑤ **حضرت ابومسعود انصارى رضي الله عنه:** دا مشهور صحابى حضرت ابومسعود بدرى انصارى رضي الله عنه دې.ددوى نوم عقبه بن عمرو دې.ددوى حالات هم په كتاب الايمان كښې د «باب ما جاء أن الأعمال بالنية والحسبة ولكل إمرئ ما نوى» لاندې تيرشوى دى.[6]

قوله: قَالَ رَجُلٌ يَارَسُولَ اللّٰهِ لَا أَكَادُ أُدْرِكُ الصَّلَاةَ مِمَّا يُطَوِّلُ بِنَا فُلَانٌ: حضرت ابومسعود انصارى رضي الله عنه فرمائى.يوكس عرض اوكړو.يا رسول الله ماته د جماعت مونځ ادا كول ګران دى.ځكه چه فلانې كس مونږ ته اوږد مونځ كوى.

دا كس څوك وو؟ حافظ ابن حجر رحمه الله خوېه دې مقام كښې ددوى نوم حزم بن ابى بن كعب رضي الله عنه ذكركړې دې.[7] خو وړاندې چه كله كتاب الاذان ته رسيدلې دې نوددې نوم ترديد نې كړې دې.اودا نې وئيلى دى.چه ددې كس نوم معلوم نه شو.[8]

دغه شان د «فلان» يعنى امام په باره كښې بعضې حضراتو د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه نوم

---

[1] تقريب التهذيب (ص.٥٠٤) رقم ٢٦٥٢)_
[2] تهذيب الكمال(٢٦\٣٣٦)_
[3] كشف البارى(٢\٢٧٨)_
[4] كشف البارى(١\٦٧٩)_
[5] كشف البارى(٢\٧٦١)_
[6] كشف البارى(٢\٧٤٨)_
[7] فتح البارى(١\١٨٦)_
[8] فتح البارى(٢\١٩٨) كتاب الأذان باب تخفيف الإمام فى القيام وإتمام الركوع والسجود)_

اخستې دې حالانکه صحيح دا ده.چه دلته امام ابى بن کعب رضي الله عنه وو.([1]) دحضرت معاذ رضي الله عنه واقعه د ماسخوتن دمانځه په باره کښې ده.([2]) حالانکه دحديث باب واقعه د صبا د وخت ده.([3]) دغه شان د حضرت معاذ رضي الله عنه واقعه د بنوسلمه دجمات ده.اودحضرت ابى رضي الله عنه واقعه د مسجد قبا ده.([4])

دلته شکايت کونکې وائى چه «لا أكاد أدرك الصلاة مما يطول بنا فلان» چه د فلانى سړى د تطويل په وجه زه مونځ نشم کولې.

په دې باندې اشکال دې چه تطويل خو دادراك سبب دې.د فوت کيدو سبب خو نه دې

قاضى عياض رحمه الله فرمائى.چه دلته تصحيف شوې دې.په اصل کښې «لأكاد أترك الصلاة» وو چا د «لأكاد» د لام تاکيد نه پس د«أكاد» همزه د متکلم په الف سره بدل کړې دې.اودې نه پس ئې د «أكاد» همزه زياتى کړې ده.اود «أترك» نه ئې «أدرك» جوړ کړې دې د «لأكاد أترك الصلاة» مطلب به دا شى.چه دفلانى د تطويل په وجه ما دجماعت مونځ پريخودل شروع کړو.([5]) د دې تائيد د بل طريق د الفاظو نه کيږى.«إني لأتأخر عن صلاة الغداة من أجل فلان مما يطيل بنا»([6]) حافظ رحمه الله فرمائى.دا معنى ښه ده.خوروايت ددې تائيد نه کوى.([7])

ابوالزناد بن سراج وائى.چه ددې مطلب دا دې.چه د فلانى د تطويل په وجه زه دهغه سره مونځ نشم کولې.د طول قيام د وجې ستړې کيږم.که هغه رکوع ته ځى.نو زه د ستړى والى دوجې رکوع ته نشى تلې.دغه شان کله چه سجدې ته ځى.نوزه د ستړى والى د وجې سجدې ته نشم تلې.لکه چه «لا أكاد أدرك الصلاة» معنى ده.«لا أكاد أتم الصلاة مع الإمام»([8]) دا معنى هم صحيح ده.خوچونکه په بل طريق د «إني لأتأخر عن الصلاة» الفاظ راغلى دى.([9]) دهغې په رڼا کښې دحديث باب «لا أكاد أدرك الصلاة» جملې مطلب به دا وى.چه «لا أقرب من الصلاة في الجماعة بل أتأخر عنها أحيانا من أجل التطويل»([10])

---

[1] المصدر السابق_
[2] المصدر السابق_
[3] صحيح البخارى (١٩٧\١) كتاب الأذان باب تخفيف الإمام فى القيام ... رقم (٧٠٢)_
[4] فتح البارى (١٩٨\٢) كتب الأذان باب تخفيف الإمام فى القيام..)_
[5] فتح البارى (١٨٦\١)_
[6] صحيح البخارى (٩٧\١) كتاب الأذان باب تخفيف الإمام .. رقم (٧٠٢)_
[7] فتح البارى (١٨٦\١)_
[8] فتح البارى (١٨٦\١)_
[9] كما سبق تخريجه آنفا)_
[10] فتح البارى (١٨٦\١)-

قوله فَمَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْ يَوْمِئِذٍ: ما نبى ﷺ په هيڅ وعظ كښې هم ددغه ورځ نه زيات غصه نه وو ليدلې.

چونكه نبى ﷺ وړاندې د تطويل صلاة نه منع كړې وه اوخودلى ئې وو چه په دې طريقه به خلق متنفر شى. ددې باوجود شكايت كيږى. نوددې وجې نبى ﷺ سخت خفه شو. (١)

ددې نه د ترجمة الباب اثبات كيږى. كوم چه ښكاره دې.

قوله فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ مُنَفِّرُونَ فَمَنْ صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ: نبى ﷺ اوفرمائيل. اې خلقوتاسونفرت پيدا كوئ. كوم كس چه خلقو ته مونځ وركوى. نوتخفيف دې كوى.

نبى ﷺ دعاموخلقو د فائدې دپاره دغه شان چه مخاطب مخصوص ملامته نشى. دخاص خطاب په ځائې به ئې عام خطاب كولو. (٢) نودلته هم نبى ﷺ عام خطاب اوكړو اوتنبيه ئې وركړه. چه په داسې تطويل سره به خلق متنفرشى. نوپكارده. چه مونځ مختصر وى.

دتخفيف مطلب دا دې. چه په كوموكومومونځونوكښې كوم كوم سورتونه مسنون وى. هغه اووئيلى شى. مسنون سورتونه په منهى عنه تطويل كښې داخل نه دى. (٣)

قوله فَإِنَّ فِيهِمُ الْمَرِيضَ وَالضَّعِيفَ وَذَا الْحَاجَةِ: ځكه چه په دوى كښې مريض كمزورې او حاجتمند خلق وى.

المريض.. اوددې معطوفات «إن» دپاره اسم دې. ځكه منصوب دى.

په يوروايت كښې د «ذاالحاجة» په ځائې «ذوالحاجة» ديے. په دې صورت كښې به دا يا خو مستقله جمله استينافيه اوګرځولې شى. اويا به دا د «المريض» او «الضعيف» په محل بندې عطف كولې شى. (٤) والله اعلم.

[*]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حدثنا أبوعامر قال حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ الْمَدِينِيُّ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ اعْرِفْ وِكَاءَهَا أَوْ قَالَ وِعَاءَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً ثُمَّ اسْتَمْتِعْ بِهَا فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ قَالَ فَضَالَّةُ الْإِبِلِ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ أَوْ قَالَ احْمَرَّ وَجْهُهُ فَقَالَ وَمَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا تَرِدُ الْمَاءَ وَتَرْعَى الشَّجَرَ فَذَرْهَا حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا قَالَ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ [٢٢٤٣و ٢٢٩٥و ٢٢٩٧و ٢٣٠٤و ٢٣٠٦و ٤٩٨٦و ٥٧٦١]

---

(١) المصدر السابق)_

(٢) عمدة القارى(١٠٦/٢)_

(٣) فضل البارى(٩٣/٢)_

(٤) فتح البارى(١٨٦/١)_

رجال الحديث

① **عبدالله بن محمد:** دا ابوجعفرعبدالله بن محمد مسندى جعفى بخارى رحمه الله دي. ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د «باب أمور الإيمان» لاندې تيرشوى دى.(۱)

② **ابوعامر:** دا ابوعامرعبدالملك بن عمروبن قيس عقدى بصرى رحمه الله دي. ددوى مختصر حالات هم دكتاب الايمان په ذكرشوى باب كښې تيرشوى دى.(۲)

③ **سليمان بن بلال مدينى:** دا ابومحمد يا ابوايوب سليمان بن بن بلال قريشى تيمى مدنى رحمه الله دى. ددوى مختصرحالات په كتاب الايمان كښې د «باب رفع العلم وظهور الجهل» لاندې تيرشوى دى.(۳)

④ **ربيعه:** دا امام ربيعه بن ابى عبدالرحمن المعروف به «ربيعة الرای» رحمه الله دې د دوى حالات هم په كتاب العلم كښې د «باب رفع العلم وظهور الجهل» لاندې تيرشوى دى.

⑤ **يزيدمولى المنبعث:** دا يزيدمولى المنبعث.((بضم الميم وسكون النون وفتح الموحدة وكسر المهلملة بعدها مثلثة)) (۴) مدنى رحمه الله دې.

دوى دحضرت ابوهريره او حضرت زيدبن خالد جهنى رضي الله عنهما نه روايت كوى.

ددوى نه روايت كونكوكښې د دوى خوئې عبدالله بن يزيد نه علاوه بسربن سعيد. ربيعه بن ابى عبدالرحمن .عبدالملك بن عيسى ثقفى اويحيى بن سعيدانصارى رحمهم الله دى.(۵)

حافظ ابن حجررحمه الله فرمائى.«صدوق»(۶)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.«ثقة»(۷)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.(۸)

ددوى روايات په اصول سته كښې موجود دى.(۹) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

---

۱) كشف البارى (۶۵۷/۱)_

۲) كشف البارى (۶۵۸/۱)_

۳) المصدر السابق)_

۴) تهذيب الكمال(۶۰۶) رقم ۷۷۹۸)_

۵) داستاذانواوشاگردانودپاره اوگورئ مخكنئ حواله_

۶) تهذيب التهذيب (ص.۶۰۶) رقم ۷۷۹۸۰)_

۷) الكاشف (۳۹۲/۲) رقم ۶۳۷۳)

۸) الثقات لابن حبان(۵۳۳/۵)_

۹) تهذيب الكمال (۲۹۱/۳۲)_

⑥ **زیدبن خالد جهنی رضی الله عنه:** دا مشهورصحابی زیدبن خالد جهنی رضی الله عنه دې.ددوی په کنیت کښې اختلاف دې ابوزرعه.ابوعبدالرحمن اوابوطلحه کنیتونه منقول دی.([1])
په غزوه حدیبیه کښې شریك شوی وو.دفتح مکې په موقع د جهینیه قبیلې بیرغ هم ددوی په لاس کښې وو ([2])
دوی دنبی صلی الله علیه وسلم نه علاوه دحضرت عثمان.حضرت ابوطلحه انصاری. او حضرت ام المومنین عائشې رضی الله عنها نه روایت کوی.
ددوی نه روایت کونکوکښې بشربن سعید.خالدبن زیدبن خالد جهنی. خلادبن السائب. سعیدبن المسیب.سعیدبن یسار.صالح مولی التوامة .یزید مولی المنبعث.عبدالله بن یزید مولی المنبعث.عطاء بن ابی رباح.ابوسالم جیشانی.اوابوعمره مولی زیدبن خالد جهنی رحمهم الله وغیره حضرات دی.([3])
ددوی نه تقریباً یواتیا احادیث مروی دي.په دې کښې پنځه احادیث متفق علیه دی اوپه درې حدیثونوکښې اما مسلم متفرد دې.([4])
ددوی وفات کوم ځائې کښې شوې دې.په دې کښې مختلف اقوال دی مدینه منوره کښې یا په مصرکښې یا په کوفه کښې.دا درې اقوال دی.([5])
دغه شان ئې د وفات په کال کښې هم متعدد اقوال دی.۶۸ه یا ۷۸ ه کښې د پنځه اتیا کالو په عمر کښې وفات شوی وو.([6])رضی الله عنه وارضاه.

قوله أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ اللُّقَطَةِ:دنبی کریم صلی الله علیه وسلم نه یوکس دلقطة په باره کښې تپوس اوکړو.

په حدیث باب کښې د ،،رجل،، نه څوک مراد دي؟ ابن بشکوال اود دوی بعضې متبعینو د ،،رجل،، نه مراد حضرت بلال رضی الله عنه اخستې دي.اودا ئې ابوداود طرف ته منسوب کړې دې.([7])
خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه ماته دابوداود په هیڅ یوه نسخه کښې دا تصریح نه ده ملاؤ شوې.هسې هم په دې مقام کښې دحضرت بلال رضی الله عنه کیدل بعید دی.ځکه چه په یو روایت کښې د «جاء أعرابي..» الفاظ راغلی دی.([8]) ظاهره ده.چه حضرت بلال رضی الله عنه په اعرابی سره موصوف کول بعیده خبره ده.([9])

---

[1])الإستیعاب بهامش الإصابة (۵۵۸\۱ و ۵۵۹) والإصابة (۵۶۵\۱)_
[2])المصادرالسابقة)_
[3])داستاذانواوشاګردانودپاره اوګورئ تهذیب الکمال(۶۳\۱۰ و ۶۴)_
[4])خلاصة الخزرجی(۱۲۸)_
[5])الإستیعاب بهامش الإصابة (۵۵۹\۱)_
[6]) تهذیب الکمال (۶۴\۱۰) وتقریب التهذیب (۲۲۳) رقم ۲۱۳۳)_
[7])فتح الباری(۸۰\۵) کتاب اللقطة باب ضالة الإبل رقم ۲۴۲۷) رقم ۲۴۲۷)_
[8])صحیح البخاری (۳۲۷\۱) کتاب اللقطة باب ضالة الإبل رقم ۲۴۲۷)_
[9])فتح الباری(۸۰\۵)_

بعضې حضرات فرمائی چه دا کس هم پخپله راوی یعنی حضرت زیدبن خالد جهنی رضی الله عنه دې.(١) ددې قول مستند دا دې چه د طبرانی په یو روایت کښې کوم چه هم د ربیعه په واسطه سره مروی دې دهغې الفاظ دا دی.«أنه سأل النبی ﷺ..»(٢)

خودا دلیل زیاته فائده نه ورکوی خکه چه ددې روایت په یوطریق کښې کوم چه امام احمد رحمه الله نقل کړې دې«أنه سأل النبی ﷺ أو أن رجلاً سأل..» الفاظ دی.(٣) یعنی په شك سره مروی دې.

دغه شان په یو روایت کښې د«أتی رجل رسول الله ﷺ وأنا معه..» الفاظ دی(٤) ددې نه معلومه شوه چه سائل حضرت زیدبن خالد جهنی رضی الله عنه نه دې.بیا په دې کښې په دې اعتبار سره هم بعد دې چه روسته په یو روایت کښې «جاء أعرابی» الفاظ راغلی دی.ښکاره ده چه دخپل خان نه په اعرابی سره تعبیرکول ډیره بعیده خبره ده.

په یوحدیث کښې د لقطهٔ سوال د حضرت ابوثعلبه خشنی رضی الله عنه نه (٥)اوپه یوحدیث کښې هم دغه شان سوال د حضرت عمیر رضی الله عنه نه (٦)اوپه دریم حدیث کښې دحضرت جارود عبدی رضی الله عنه نه هم منقول دې.(٧) په دې کښې اګرچه دا احتمال شته.چه په حدیث باب کښې د ...رجل.. مصداق دا حضرات وی. خو ددې څه قرینه موجودنه ده.

حافظ رحمه الله فرمائی.چه سائل هم حضرت سوید الجهنی رضی الله عنه دې.خکه چه حمیدی. بغوی. ابن السکن.بارودی.اوطبرانی ټولوحضراتو د «محمدبن معن الغفاری عن ربیعة عن عقبة بن سوید عن أبیه» په طریق سره نقل کړې دې.«قال سألت رسول الله ﷺ عن اللقطة» (٨)

امام ابوداود رحمه الله هم ددې روایت یوه حصه تعلیقاً نقل کړې ده.خوددې بعینه الفاظ ئې نه دی نقل کړی.(٩)

حاظ فرمائی.چه چونکه حضرت سویدجهنی رضی الله عنه دحضرت زیدبن خالد جهنی رضی الله عنه د قبیلې سره تعلق ساتی.نوغالب ګمان دا دې چه دحدیث باب رجل مبهم هم دا وی.(١٠) والله اعلم.

---

(١)المصدرالسابق)_
(٢)المصدرالسابق)_
(٣)مسندأحمد(١١٥\٤)_
(٤)صحیح مسلم کتاب اللقطة باب معرفة العفاص والوکاء وحکم ضالة الغنم والإبل رقم ٤٥٠٠) و(٤٥٠١)_
(٥)مجمع الزوائد(١٦٨\٤) کتاب البیوع باب اللقطة وفتح الباری (٨١\٥)_
(٦)رواه الإسماعیلی فی الصحابة کذا فی فتح الباری (٨١\٥)_
(٧)مجمع الزوائد(١٦٧\٤) وفتح الباری (٨١\٥)_
(٨)فتح الباری (٨٠\٥ و٨١) ومجمع الزوائد(١٦٨\٤)_
(٩)سنن أبی داود کتاب اللقطة باب التعریف باللقطة رقم ١٧٠٨)_
(١٠)فتح الباری(٨١\٥)_

دلقطه لغوی تعریف ..لقطة، غورځیدلې څیزته ونیلی شی چه راوچت کړې شی (١)
امام خلیل بن احمد اولیث رحمهما الله فرمائی چه ..لقطه.. ((بضم اللام وتسكين القاف))
غورځیدلی څیزته وائی او ..لقطه.. ((بضم اللام وفتح القاف)) راوچتونکی ته وائی (٢)
خوامام ازهری رحمه الله فرمائی چه خلیل کوم تحقیق کړې دې د تحقیق قیاس تقاضا هم دا
ده څکه چه د ((فعلة)) وزن په عربئ ژبه کښې بفتح العين وی نود فاعل په معنی کښې وی
لکه ((ضحكة)) كثيرالضحك ته وائی. او ((صرعة)) كثيرالصرع (زیات راپرځونکی) ته وائی
دغه شان ((همزة)) او ((لمزة)) دی.اوکه هم دا وزن بسکون العين وی.نوبیه دې کښې د مفعول
معنی پرته وی.لکه ((ضحكة)) چا پورې چه خندا شوې وی.((صرعة)) څوك چه راپرځولې شوې
وی.البته په دې لفظ یعنی لقطه کښې چه د اهل عربونه څه اوریدلې شوی دی هغه خلاف
القیاس دی.یعنی ((لقطه)) بفتح القاف شئ ملقوط په معنی کښې دی (٣)، هم دا وجه ده چه
ابن بری رحمه الله فرمائی.چه دمفعول معنی ورکوی.نوبیه دې صورت کښې په عین کلمه باندې
فتحه نادره ده.(٤)

دغه شان علامه زمخشری وائی.چه ((لقطة)) بفتح القاف ده.کوم چه عوام په سکون القاف سره
وائی.(٥)
لکه چه دوی دا خودل غواړی.چه په سکون القاف سره وئیل غلط دی.دا دعوام د غلطوخنی
ده.والله اعلم.
دالتقاط لقطه حکم په دې کښې اختلاف دې.چه التقاط د لقطه غوره دې.اوکه پریخودل ئې؟
احناف رحمهم الله فرمائی.که د لقطة د ضائع کیدو ویره وی.نومالك ته د واپس کولوپه نیت د دې
التقاط مندوب اومستحب دې. اوکه ددې د ضائع کیدو څه ویره نه وی.نوبیه داسې صورت
کښې داحنافو رحمهم الله په نیزددې التقاط مباح دې.اوکه التقاط دمالك په ځائې دځپل ځان
دپاره وی.نودا حرام دی.(٦)
دامام شافعی رحمه الله په نیزکه د ضياع ويره وی.اوپه ځپل ځان باندې ئې اطمینان وی.نود
یوقول مطابق پرې التقاط واجب دې.اودیوقول مطابق التقاط مستحب دې (٧)

---

١)تاج العروس (٥\٢١٦)_
٢)فتح الباری(٥\٧٨) فاتحة كتاب اللقطة وتاج العروس (٥\٢١٦و ٢١٧)_
٣)المصادر السابقة)-
٤)فتح الباری(٥\٧٨)_
٥)الفائق للزمخشری (١١\٣٩١) ضمن ..مادة.. خلی.. تحت شرح قوله ﷺ فی مكة ((لايختلى خلاهاولا تحل لقطتها إلا لمنشد))_
٦)بدائع الصنائع (٦\٢٠٠) كتاب اللقطة فصل: وأما بيان أحوالها..)_
٧)المغنی لابن قدامة (٦\٣) كتاب اللقطة)_

دامام مالك په نيزكه دغه څيز قيمتي وي.نوالتقاط غوره دي.[1]
دامام احمد رحمه الله په نيزترك التقاط مطلقا غوره او افضل دي.[1]

قوله فَقَالَ اعْرِفْ وِكَاءَهَا أَوْقَالَ وِعَاءَهَا وَعِفَاصَهَا: نبى ﷺ اوفرمائيل.ددې سربند يا ئې اوفرمائيل.ددې لوښې اوددې تيلۍ اوپيژنه.

((وكاء)) تيلۍ چه په كوم څيزباندې تړلې شي.هغه ته ((وكاء)) ونيلې شي .او ((وعاء)) لوښې اوظرف ته ونيلې شي. ((عفاص)) تيلۍ اوظرف ته هم ونيلې شي.اود بوتل د بندولوكاك ته هم ((عفاص)) ونيلې شي.[2]

قوله ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً: بيا تريوكاله پورې ددې اعلان كوه.

مدت تعريف څومره پكار ده.دامام مالك،امام شافعي،امام احمد اوامام ابوحنيفه او جمهورو عالمانو رحمهم الله په نيز مدت تعريف يوكال پكار دي.[3]

امام محمد رحمه الله په ((مبسوط)) كښې دقليل اوكثيرد فرق نه بغيرهم داحنافو رحمهم الله هم دا مذهب نقل كړې دې.اوهم دا ظاهر روايت دې.[4]

امام قدورى رحمه الله داحنافو رحمهم الله يو روايت نقل كړې دې.په هغې كښې په قليل او كثيركښې فرق شوې دې.نوكه لقطه د لسو درهمو نه كمه وى.نو څو ورځې پورې.اوكه د لسو روپو يا ددې نه د زيات قيمت وى.نوتريوكاله پورې به تعريف كولې شي.[5]

علامه شمس الائمه سرخسى رحمه الله فرمائى.چه داحنافو په نيز د ، ،تعريف،، څه حد مقرر نه دې.كه لقطه مال قليل وى اوكه مال كثير،تر هغه وخته پورې ، ،تعريف،، ضرورى دې.ترڅو پورې چه دا يقين ونشى .چه اوس به ئې مالك نه لټوى.[6] صاحب د هدايه رحمه الله هم ددې روايت تصحيح كړې ده.او په دې باندې فتوى ده.[7]

بيا د شوافعو رحمهم الله په نيز د اصح ترين مذهب مطابق په معمولى او قيمتى څيزكښې فرق شته.كه معمولى څيز وى.نو تريوكاله پورې تعريف ضرورى نه دې.بلكه دومره ورځو پورې تعريف ضرورى دې.چه لټونكې عام طور باندې اعراض اوكړى.اوپه قلاركينى.اوكه قيمتى څيزوى.نوپوره يوكاله پورې تعريف ضرورى دې.[8]

---

[1] المصدر السابق)_
[2] عمدة القارى(١٠٨\١٢و ١٠٩)_
[3] المغنى لابن قدامة (٤١٦) كتاب اللقطة)-
[4] الهداية(٣٦٨\٤) طبعة إدارة القرآن كتاب اللقطة)_
[5] مختصرالقدورى(ص.١٤١) كتاب اللقطة (قديمى كتب خانه كراچى)
[6] المبسوط للسرخسى(٣\١١) كتاب اللقطة و ردالمحتار مع الدرالمختار (٣٥٠١٣) كتاب اللقطة)_
[7] الهداية (٣٦٩\٤) كتاب اللقطة و ردالمحتار (٣٥٠١٣) كتاب اللقطة)_
[8] تكملة فتح المهلم (٦٠٧\٢) كتاب اللقطة نقلاً عن مغنى المحتاج (٤١٤\٢)_

په معمولی او قیمتی څیزکښې تفریق ما به الامتیاز څه دی؟ په دې باره کښې څه متعین معیار موجود نه دې.بلکه د ملتقط د ګمان مطابق چه د کوم څیز په ورکیدوباندې افسوس زیات نه وی.اوچه د هغې د لټولوعمل ډیرې مودې پورې نه وی.نوهغه به معمولی څیز وی.ګنی قیمتی به وی.([1]) هم دا د مالکیه ؤ داکثروفقهاؤ مذهب دې.([2])
دحضرت عمر ﷺ نه نقل دی.چه تر درې کالو پورې تعریف کول ضروری دی.([3]) ځکه چه د صحیحینو په روایت کښې کوم چه د حضرت ابی بن کعب ﷺ نه مروی دې.د درې کالو تعریف منقول دې.([4])
کوم حضرات چه دیوکاله پورې دتعریف قائل دی.هغوی په حدیث باب باندې استدلال کوی.
داحنافو دمختار قول مطابق لکه څنګه چه مخکښې بیان شو.دتعریف څه موده مقرر نه ده.اونه په مال قلیل او کثیرکښې فرق شته.
ددې رائې وجه دا ده.چه په روایاتوکښې د تعریف په سلسله کښې مختلفې مودې منقول دی.([5]) ددې نه معلومیږی.چه دا منصوص او متعین نه دی.بلکه په غالبې رائې باندې مبنی دی.یعنی ملتقط به ترهغه وخته پورې دهغه څیز تعریف کوی.ترڅو پورې چه ده ته دا اطمینان نه وی شوې.چه اوس به ئې لټونکې نه راځی.([6])
ددې تائید دهغه روایت نه کیږی.کوم چه امام عبدالرزاق صنعانی ﷫ په خپل مصنف کښې نقل کړې دې.چه حضرت عمر ﷺ فرمائی «إذا وجدت لقطة فعرفها على باب المسجد ثلاثة أيام فإن جاء من يعترفها وإلا فشأنك بها» ([7])

---

[1])المصدر السابق)_
[2]) تكملة فتح الملهم (٦٠٧\١٢) كتاب اللقطة نقلاً عن مواهب الجليل للحطاب (٧٣\٦)_
[3])المغنی (٤\٦) وفتح البارى (٧٩\٥) كتاب اللقطة باب إذا أخبره رب اللقطة بالعلامة دفع إليه)_
[4])فلقال وجدت صرة علي عهد النبى ﷺ فيها مائة دينارفأتيت بها النبى ﷺ فقال عرفها حولاً فعرفتها حولاً ثم أتيت فقال عرفها حولاً فعرفتها حولاً ثم أتيته فقال عرفها حولاً فعرفتها حولاً ثم أتيته الرابعة فقال أعرف عدتها ووكاءها ووعاءها فإن جاء صاحبها وإلا إستمتع بها صحيح البخارى (٣٢٩\١) كتاب اللقطة باب هل يأخذ اللقطة ولا يدعها تضيع حتى لا يأخذها من لا يستحق رقم ٢٤٣٧) وانظر صحيح مسلم كتاب اللقطة باب معرفة العفاص والوكاء وحكم ضالة الغنم والإبل رقم ٤٥٠٦و ٤٥٠٨)..
قال ابن الجوزى فى ..التحقيق.. ولا تخلوا هذه الروايات من غلط بعض الرواة بدليل أن شعبة قال فيه فسمعته يقول بعد عشر سنين عرفها عاماً واحداً أو يكون عليه السلام علم أنه لم يقع تعريفها كما ينبغى فلم يتحسب له بالتعريف الأول والله أعلم إنتهى كلامه (نصب الراية (٤٦٧\٣) كتاب اللقطة رقم ٦١٣٥)-
[5]) په حديث باب كښې يوكال دېزاودحضرت ابى بن كعب ﷺ په حديث كښې درې كاله دى.وقد سبق تخريجه آنفاً)_
[6])النظر المبسوط للسرخسى(٥\١١)_
[7])المصنف لعبدالرزاق (١٣٦\١٠)_

بل طرف ته په مصنف عبدالرزاق کښې يوبل روايت دې چه سفيان بن عبدالله ثقفى ته يوه تيلئ ملاوه شوه.چه په هغې کښې ډير مال وو.هغه حضرت عمر رضي الله عنه ته ورغلو.نوهغه په يو کال باندې د خلوروکالو د تعريف حکم ورکړو .اوددې نه پس ئې بيا په بيت المال کښې جمع کړل.[1] ددې نه ښکاره کيږى.چه په دې سلسله کښې څه متعينه موده مقرر نه ده.والله اعلم وعلمه اتم واحکم.

قوله **ثُمَّ اسْتَمْتِعْ بِهَا**:بيا ته ددې نه فائده اخله.

د انتفاع باللقطه حکم امام شافعى رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائى.که د تعريف نه پس مالک رانغلو.نودا ملتقط په خپل استعمال کښې راوستې شى.که غنى وى اوکه فقير.[2]

امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى.چه ملتقط ئې په خپل استعمال کښې په هغه وخت کښې راوستې شى.چه دې پخپله فقير وى.اوکه غنى وى.نوبه دې صورت کښې پرې تصدق لازم دې.بيا د صدقه کولونه پس که مالک راشى. نو هغه ته اختيار دې.که هغه صدقه نافذوى. اوکه غواړى.نو د ملتقط نه دې ضمان واخلى.د ضمان اخستلو په صورت کښې به د صدقې اجر ملتقط طرف ته منتقل کيږى.[3]

هم دا د سفيان ثورى او حسن بن صالح رحمهما الله مذهب دې.دامام احمد رحمه الله يو روايت هم ددې مطابق دې.[4]

امام مالک نه د ذکرشوو دوو مذاهبوکښې دهريو مطابق يويوقول منقول دې.د مالکيانو رحمهم الله په کتابونو کښې دا ذکردى.چه د تعريف نه پس ملتقط ته درې قسمه اختيار حاصل دې.يا خودې د مالک دپاره د امانت په طور محفوظ اوساتى.يا دې صدقه کړى.يا دې خپله مالک جوړ شى.اوپه خپل استعمال کښې دې راولى.بيا چه صدقه ئې کړى.يا ئې په خپل استعمال کښې راولى.نوضمان ادا کول به پرې وى.(که مالک ئې پيدا شى.اومطالبه کوى)[5]والله اعلم.

شوافع اوحنابله رحمهم الله د خپل مذهب دپاره په حديث باب باندې استدلال کوى.په دې کښې د تعريف نه پس نبى عليه السلام «ثم استمتع بها» فرمائيلى دى.

دغه شان په يو طريق کښې «فشأنك بها» راغلى دى.[6]اوپه يو طريق کښې «وإلا فاستنفقها» راغلى دى.[7]

---

[1] مصنف عبدالرزاق (۱۰\۱۳۵و ۱۳۶)_
[2] المغنى لابن قدامة (۶\۷) کتاب اللقطة)_
[3] بدائع الصناع(۶\۲۰۲)_
[4] المغنى (۶\۷)_
[5] تکملة فتح الملهم (۱۲\۶۱۰) نقلاً عن التاج والإکليل للمواق ومواهب الجليل للخطاب (۶\۷۴)_
[6] صحيح البخارى (۱\۳۲۸) کتاب اللقطة باب إذا لم يوجد صاحب اللقطة بعد سنة فهى لمن وجدها رقم ۲۴۲۹)
[7] صحيح البخارى (۱\۳۲۷) کتاب اللقطة باب ضالة الإبل (۲۴۲۷)_

ددې حضراتو استدلال د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه په واقعه باندې دې په کومه کښې چه ذکر دی چه دوی ته یوه تیلۍ ملاؤ شوه چه په هغې کښې سل دیناره وو.نبی ﷺ ورته د تعریف نه پس د هغې نه د فائدې اخستلو اجازت ورکړو.[1] حالانکه د امام شافعی رحمه الله د قول مطابق حضرت ابی رضی الله عنه مالدار صحابو رضی الله عنهم کښې وو.[2]

دغه شان ددوی استدلال دحضرت علی رضی الله عنه په یوه واقعه باندې دې.چه هغوی ته یو دینار ملاؤ شو نبی ﷺ ورته د هغې د استعمال اجازت ورکړې وو.[3] حلانکه دحضرت علی رضی الله عنه دپاره صدقه حلاله نه وه.

احناف رحمهم الله دحضرت عیاض بن حمار رضی الله عنه په مرفوع روایت باندې استدلال کوی.چه «من أصاب لقطة فليشهد ذا عدل أو ذوى عدل، ولايكتم ولا يغيب فإن وجد صاحبها فليردها عليه وإلا فهو مال الله يؤتيه من يشاء»[4]

په دې حدیث کښې استدلال د «فهو مال الله يؤتيه من يشاء» جملې باندې دې.دا تعبیر عموماً دهغه څیز دپاره وی.دکوم مستحق چه فقیران وی نه چه مالداران.[5]

داحنافو رحمهم الله یواستدلال دحضرت عبدالله بن الشخیر رضی الله عنه په حدیث باندې دې.«قال قال رسول الله ﷺ ضالة المسلم حرق النار»[6]

---

[1] صحيح البخارى (٣٢٩\١١) كتاب اللقطة باب هل يأخذ اللقطة .. رقم ٢٤٣٧) وصحيح مسلم كتاب اللقطة باب معرفة العفاص، والوكاء وحكم ضالة الغنم والإبل رقم ٤٥٠٦و ٤٥٠٨)_

[2] جامع ترمذى كتاب الأحكام باب ما جاء فى اللقطة وضالة الإبل والغنم رقم ١٣٧٢)_

[3] داواقعه ابوداود د حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه نه نقل کړې ده.چه ((أن على بن ابى طالب دخل على فاطمة وحسن وحسين يبكيان فقال ما يبكيما؟ قالت الجوع فخرج على فوجد ديناراً بالسوق فجاء إلى فاطمة وأخبرها فقالت إذهب إلى فلان اليهودى فخذ لنا دقيقاً فجاء اليهودى فاشترى به دقيقاً فقال اليهودى أنت ختن هذا الذى يزعم أنه رسول الله ﷺ قال فخذ دينارك ولك الدقيق فخرج على حتى جاء فاطمة فأخبرها فقالت إذهب إلى فلان الجزار فخذ لنا بدرهم لحماً فذهب فرهن الدينار بدرهم لحم فجاء به فعجنت ونصبت وخبزت وأرسلت إلى أبيها فجاء هم فقالت يا رسول الله ﷺ أذكر لك فإن رأيته لنا حلالا أكلناه وأكلت معنا من شأنه كذا وكذا قال كلوا بسم الله فأكلوا فبيناهم مكانهم إذ غلام ينشد الله والإسلام الدينارفأمر رسول الله ﷺ فدعى له فسأله فقال سقط منى فى السوق فقال النبى ﷺ يا على إذهب إلى الجزار فقل له إن رسول الله ﷺ يقول لك أرسل إلى بالدينار ودرهمك على فأرسل به فدفعه رسول الله ﷺ إليه سنن أبى داود كتاب اللقطة باب التعريف باللقطة رقم ١٧١٦)_

[4] السنن لأبى داود كتاب اللقطة باب التعريف باللقطة رقم ١٧٠٩) والسنن الكبرى للنسائى (٤١٨\٣) كتاب اللقطة باب الإشهاد على اللقطة رقم ٥٨٠٨) و(٥٨٠٩) والسنن لابن ماجه كتاب اللقطة باب اللقطة رقم ٢٥٠٥) ورواه إسحاق بن راويه فى مسنده كما فى نصب الراية (٤٦٦\٣) كتاب اللقطة رقم ٦١٣٣)_

[5] تكملة فتح الملهم (٦١٠\٢)_

دغه شان د حضرت جارود رضي الله عنه نه يو اوږد حديث منقول دې.چه «ضالة المسلم حرق النار فلا يقربنها ضالة المسلم حرق النار فلا يقربنها» (٢)خودا دړې واړه حديثونه صريح نه دى.

داحنافو رحمهم الله يو دليل د حضرت يعلى بن مره رضي الله عنه مرفوع روايت دې. «من التقط لقطة يسيرا ثوبا أو شبهه فليعرفه ثلاثة أيام ومن التقط أكثر من ذلك ستة أيام فإن جاء صاحبها وإلا فليتصدق بها فإن جاء صاحبها فليخيره» (٣) په دې حديث كښې «فليصدق بها» اګرچه په مدعى باندې صريح دې.خودا حديث د سند په اعتبار سره ضعيف دې.څكه چه په دې كښې عمربن عبدالله بن يعلى دې.كوم چه ضعيف دې.(٤)

دغه شان د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه مرفوع روايت دې.«لا تحل للقطة من التقط شيأ فليعرفها فإن جاء صاحبها فليردها إليه ،فإن لم يأت فليتصدق بها فإن جاء فليخيره بين الأجر وبين الذى له»(٥)

خوپه دې حديث كښې ديوسف بن خالد سمتي واسطه ده.كوم چه بالاتفاق ضعيف دې.(٦)
لكه چه تول پنځه مرفوع احاديث دى.په دې كښې دا آخرى دوه دسند په اعتبار سره صحيح نه دى.اوباقئ درې احاديث اګرچه د سند په اعتبار سره صحيح دى.خوصريح نه دى.
البته احناف دا وئيلي شي.چه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه اوحضرت يعلى بن مره روايتونه چه په كښې ضعف دې.هغه موئد د صحابوٌ په آثارو اوتعامل سره دى.لكه چه دا دواړه حديثونه هم بې اصل نه دى.

دحضرت عمر(٧)حضرت على (٨) حضرت ابن مسعود ،(٩) حضرت ابن عباس،(١٠)حضرت عبدالله بن عمر. (١١)

---

(١)أخرجه ابن ماجه فى سننه فى كتاب اللقطة باب ضالة الإبل والبقر والغنم رقم ٢٥٠٢)_

(٢)رواه أحمد فى مسنده (٨٠\٥) والطبرانى فى الكبير انظر مجمع الزوائد (١٦٧\٤)_

(٣)رواه الطبرانى فى الكبيرمجمع الزوائد (١٦٩\٤)_

(٤)وهو من رجال أبى داود وابن ماجه انظر تقريب التهذيب (٤١٤) رقم ٤٩٣٣)_

(٥)رواه الطبرانى فى الصغير والأوسط مجمع الزوائد (١٦٨\٤)_

(٦)الكاشف (٣٩٩\٢) رقم ٦٤٣٢)_

(٧) المصنف لابن ابى شيبة (٤١٩\٤) كتاب البيوع والأقضية باب ما يصنع بها رقم ٢١٦٢٩) و(٢١٦٣٠) والمصنف لعبدالرزاق (١٣٩\١٠) كتاب اللقطة رقم ١٨٦٣٠)_

(٨) انظرجامع المسانيد (٧٦\٢) الباب العشرون فى الفرض والتقاضى والوديعة والعارية والآبق واللقيط واللقطة والسنن الكبرى للبيهقى (١٨٨\٦) كتاب اللقطة باب اللقطة يأكلها الغنى والفقير إذا لم تعترف بعد تعريف سنة)

(٩)المصنف لابن أبى شيبة (٤١٨\٤) كتاب البيوع والأقضية باب فى اللقطة ما يصنع بها رقم ٢١٦٢٣) والمصنف لعبداللرزاق (١٣٩\١٠) رقم ١٨٦٣١)_

(١٠)المصنف لابن أبى شيبة (٤١٨\٤) رقم ٢١٦٢٢) والمصنف لعبدالرزاق (١٤٠\١٠)_

(١١) المصنف لعبدالرزاق (١٣٧\١٠) رقم ١٨٦٢٣) والسنن الكبرى للبيهقى (١٨٨\٦)_

حضرت عبدالله بن عمرو.(١) حضرت عائشې.(٢) حضرت ام سلمې رضي الله عنهن (٣).دا اته صحابه كرام رضي الله عنهم دى.ددوى دآثارونه ثابته ده.چه دوى ملتقط دلقطه نه فائدې اخستلواوپه خپل استعمال كښې د راوستلو اجازت نه دې وركړې بلكه دا حكم ئې وركړې دې.چه يا خو دې دا صدقه كړى.اويا دې د امانت په طور خپل خان سره محفوظ كړى.

احاديث مباركه او مذكوره آثارو په رڼاكښې احناف دا وائى.چه د حضرت زيدبن حارث جهنى.اوحضرت ابى بن كعب رضي الله عنهما په احاديثو كښې چه د ((الانتفاع باللقطة)) اجازت ذكرشوې دې هغه په دې صورت محمول دې.چه ملتقط مستحق وى.

تركومې پورې چه د امام شافعى رحمه الله دا فرمائيل دى.چه حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه په مالدارو صحابو رضي الله عنهم كښې وو.نو ددې جواب دا دې.چه دا د بعضې رواياتونه معلوميږى.چه حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه په مالدارانوصحابو رضي الله عنهم كښې وو.دحضرت انس رضي الله عنه نه مروى دى.چه ((لما نزلت هذه الآية لن تنالوا البرحتى تنفقوا مما تحبون،قال أبوطلحة أرى ربنا يسألنا من أموالنا فاشهدك يارسول الله إنى قد جعلت أرضى بيرحاء لله قال فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اجعلها فى قرابتك قال فجعلها فى حسان بن ثابت وأبى بن كعب رضي الله عنهما)) (٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه د ذكر شوى حديث اودامام شافعى رحمه الله د قول په مينځ كښې دجمعې صورت دا دې.چه هغه په اول كښې فقيروو.روسته د فتوحاتو نه دې مالدارشو.دامام شافعى قول د دغه آخرى زمانې سره متعلق دې.لكه چه په دغه زمانه كښې دلقطه واقعه پيښه شوې وه. اونبى صلى الله عليه وسلم هغوى ته په حالت دمالدارئ كښې د فائدې اخستلو اجازت وركړې وو.(٥)

خودحافظ رحمه الله دا جواب فائده نه وركوى.خكه كه چرته دا اومنلې شى.چه دې په مالدارانو صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې وو.نوبيا هم په دې باندې څه دليل نشته.چه دا واقعه دهغوى د مالدرائ د زمانې ده.(٦) ((فإن قضايا الأحوال متى تطرق إليها الإحتمال سقط منها الإستدلال))(٧)

---

(١) المنصف لابن أبى شيبة (٤١٨\١٤) رقم (٢١٦٢٥)_

(٢)المصنف لابن أبى شيبة (٤٢١\١٤) باب ما رخص فيه من اللقطة رقم ٢١٦٥١) والمصنف لعبدالرزاق (١١٠\١٠؛١٠) رقم ١٨٦٣٤)-

(٣)المصنف لابن أبى شيبة (٤٢٠\١٤) رقم ٢١٦٣٧)_

(٤)صحيح مسلم كتاب الزكاة باب فضل النفقة والصدقة على الأقربين والزوج والأولاد والوالدين ولوكانوا مشركين رقم ٢٣١٦) و صحيح البخارى (٣٨٥\١) كتاب الوصايا باب إذا وقف أو أوصى لأقاربه ومن الأقارب)

(٥)قال الحافظ :ويجمع بأن ذكل كان فى أول الحال وقول الشافعى رحمه الله بعد ذلک حين فتحت الفتوح التلخيص الحبير(٧٦\٣) كتاب اللقطة رقم ١٣٣٧)_

(٦)انظر تكلمة فتح الملهم (٦١٤\٢)_

(٧)نصب الراية (٤٦٩\٣) كتاب اللقطة رقم ٦١٤٧)_

ترکومې پورې چه دحضرت علی ﷺ دواقعه تعلق دې.نویه دې کښې سندا اومتنا کلام شوې دې.

ددې په سند کښې موسی بن یعقوب زمعی مدینی دې.دې مختلف فیه راوی دې.ابن معین رحمه الله دده توثیق کړې دې.اوامام نسائی ددې په باره کښې فرمائی.«لیس بالقوی» (۱) حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«فیه لین» (۲)حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.«صدوق سئ الحفظ» (۳) نویه دې حدیث کښې دسند په اعتبارسره ضعف دې.

دغه شان دا واقعه عبدالرزاق په خپل مصنف کښې (۴) اسحاق بن راهویه ،ابویعلی موصلی او بزار رحمهم الله په خپلو مسانیدوکښې (۵)نقل کړی دی.(۶)

ددې په سند کښې ابوبکر بن عبدالله نومې یو راوی دې.دده په باره کښې امام بزار رحمه الله فرمائیلی دی.«لین الحدیث» (۷) اوعبدالحق په «الأحکام» کښې فرمائی.«متروك»(۸)دمتن په اعتبار سره په دې کښې دا کلام دې.چه د ابوداود د حضرت سهل بن سعد په روایت کښې د تعریف ذکر نشته.اودلقطه د تعریف ډیراحادیث ثابت دی.لکه چه دا روایت د باقی ټولو روایاتو دپاره کوم چه موجبه للتعریف دی.دهغې سره معارض دې.

بیا ددې په متن کښې اضطراب هم شته.د ابوداود په روایت کښې دی. چه حضرت علی ﷺ ته کله دا دینارملاو شول.نویه هغې باندې ئې دخوراك لوازمات حاصل کړل.اوروټۍ ئې تیاره کړه.اونبی ﷺ ته ئې خبرورکړو.

اودعبدالرزاق وغیره په روایت کښې دی.چه څنګه ئې دینار اومونده.نو نبی ﷺ ته ئې خبر ورکړو.بیا د ابوداود په روایت کښې د تعریف څه ذکر نشته. او د عبدالرزاق وغیره په

---

(۱)مختصر سنن أبی داود للمنذری (۲۷۲\۲) کتاب اللقطة رقم ۱۶۴۲)_

(۲) الکاشف (۳۰۹\۲) رقم ۵۷۴۴)_

(۳)تقریب التهذیب (۵۵۴) رقم ۷۰۲۶)_

(۴)مصنف عبدالرزاق (۱۴۲\۱۰) کتاب اللقطة باب أحلت اللقطة الیسیرة رقم ۱۸۶۳۷)_

(۵)نصب الرأیة (۴۷۰\۳) رقم ۶۱۴۹)_

(۶)عبدالرزاق عن أبی بکر عن شریک بن عبدالله عن عطاء بن یسار.عن أبی سعید الخدری أن علیاً جاء النبی ﷺبدینار وجده فی السوق فقال له النبی ﷺ عرف ثلاثاًففعل فلم یجد أحداً یعترفه فرجع إلی النبی ﷺ فأخبره فقال له النبی ﷺکله أو شأنکم به فصرفه النبی ﷺ باثنی عشر درهماً فابتاع منه بثلث شعیر أو بثلاثة تمر وبدرهم زیتاً وفضل عنده ثلاثة حتی إذا أکله بعض ما عنده جاء صاحبه فقال له علی قد أمرنی النبی ﷺ بأکله فانطلق به إلی النبی ﷺ یذکرذلک له فقال النبی ﷺ لعلی أده قال ما عندنا شئ نأکله فقال النبی ﷺ إذا جاء نا شئ أدیناه إلیه فجعل أجل الدینار وأشباهه ثلاثة یعی ن ثلاثة أیام لهذا الحدیث مصنف عبدالراق (۱۴۲\۱۰، ۱۴۳) کتاب اللقطة باب أحلت اللقطة الیسیرة رقم ۱۸۶۳۷)_

(۷)کشف الأستار عن زواندالبزار (۱۳۲\۲) کتاب للقطة بب تعریف اللقطة رقم ۱۳۶۸)_

(۸)نصب الرأیة (۴۷۰\۳)_

روايت كنبي دتعريف ذكرهم شته.(١)

ابن الهمام رحمه الله فرمائي كه د حضرت سهل بن سعد روايت قابل احتياج هم اومنلي شي.نوبيا هم ددې نه زيات نه زيات دا ثابتيږي.چه د امام په اجازت باندې استقراض جائز دې اودا خبره محل دنزاع نه ده.ددې نه نه ثابتيږي چه كه ملتقط مالدار وي.نوپخپله دقرض په حيثيت ئې په خپل استعمال كنبي راوستې شي.(٢)

كه د ابوداد دحضرت سهل بن سعد رضي الله عنه روايت صحيح تسليم كړې شي. نوبيا هم ددې نه د غني دپاره د لقطه نه د انتفاع جواز نه معلوميږي.خكه چه دا روايت صراحة دا ښائي.چه وروره ورته يهودي هبه كړې وو.اوغوښه هغه په قرض حاصل كړې وو.البته د قرض حاصلولودپاره هغه دګانړې په طوربانئ سره هغه دينارکيخودې وو.نوكه نبي صلى الله عليه وسلم دحلت طعام فتوى وركړې وه.نودا خو محل دنزاع نه دې.خكه چه محل دنزاع خو لقطه ده.(٣)

حضرت ګنګوهي فرمائي.چه دغه دينار كوم چه حضرت علي رضي الله عنه راوچت كړې وو.هغه هډو د لقطة په حكم كنبي وو نه،ددې تفصيل دا دې.چه د لقطه اوچتول كله د حفاظت په غرض وي.نوپه داسې صورت كنبي هغه د ملتقط په قبضه كنبي امانت ګنړلې شي.اوپه داسې موقع باندې فوري تعريف ضروري دې.اولكه چه لقطه اوچتول د حفاظت په غرض باندې نه وي.بلكه په خپل ضرورت كنبي دخرچ كولو دپاره وي.دا په دې صورت كنبي ممكن ده.چه د مالك په باره كنبي دا يقين وي.چه هغه به پرې راضي وي.په داسې صورت كنبي قبضه د امانت وي.بلكه قبضه دضمان وي.

دلته ګورئ حضرات حسنين رضي الله عنهما د لوږې دوجې ژړل.دهغوى د مور پلارهم ډير بد حالت وو.چه په مدينه منوره كنبي به داسې كس نه وو.چه حضرت علي رضي الله عنه دهغه دينار استعمال كړى.نوهغه به پرې خفه كيدلو.خاص كربيا په دې نيت چه هغوى د تاوان ادا كولوپه نيت دا راوچت كړې وو.نواوس دا دينار د لقطه په حكم كنبي نه دې.بلكه ددې مثال داسې شو.چه د يو كس سره دده د دوست مال موجود وي.هغه پوهيږي.كه زه ددې نه د خپل ضرورت دپاره خرچ كړم.بيا خاص كرد لوږې ختمولوپه موقع.نوهغه به خامخا راضي وي.نوپه دې غيرصريحي اذن باندې هغوى بهروسه اوكړه.كه زه دا خرچ كړم.نوپه دې كنبي به څه حرج نه وي.دلته هم دغه شان صورت حال دې.چه يهودي كوم چه دمسلمانانو سخت ترين دشمن وو.هغه هم حضرت علي رضي الله عنه ته بغيردڅه عوض نه په اوړو وركولوباندې راضي وو.نو نور مسلمانان به پرې راضي نه وو؟(٤)

حضرت كشميري رحمه الله فرمائي.چه دا حديث د انتفاع باللقطه د جواز دپاره پيش كول صحيح نه دي.خكه چه صدقه دلقطه صدقه نافله وي. او صدقات نافله د اكثرواحنافو رحمهم الله

---

(١)فتح القدير (١٥\٣٦٠) كتاب اللقطة قبيل كتاب الإباق)_

(٢)المصدر السابق)_

(٣)تكملة فتح الملهم (٦١٥\١٢)_

(٤)بذل المجهود(٢٨٣\٨و ٢٨٤)_

فقهاؤ په نيز دبنو هاشم دپاره حلال وي. والله اعلم.(١)

قوله فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ: بيا كه ددې مالك راشي.نوهغه ته ئي وركړه.

كه لقطه ختمه شي اومالک ئې پيدا شي نو تاوان به وي كه نه؟ جمهورعالمان ﷭ فرمائي.كه تول كال د لقطه تعريف اوكړې شي.او د لقطه ذات باقي وي.اوددې نه پس ئې مالك پيدا شي.نو واپس كول ورته واجب دي.اوكه هغه دغه لقطه استعمال كړې وي.اوختمه شوې وي.نوتاوان واجب دې.

په شوافعوكښې كرابيسي،داود ظاهر،او امام بخاري ﷭ په نيزكه لقطه باقي وي.نوواپس كول ضروري دي.اوكه ختمه شوې وي.نوضمان واجب نه دې.(٢)

دكرابيسي اوداود ظاهري رحمهما الله استدلال د حديث باب په يوطريق كښې «فإن جاء صاحبها وإلا فشأنك بها» الفاظ دي.(٣)

دغه شان د زيدبن خالد ﷜ دا روايت سعيد بن منصور﷫ هم روايت كړې دې.په هغې كښې «وإلا فتصنع بها ما تصنع بمالك» الفاظ دي.(٤)

دجمهورواستدلال خو په حديث باب كښې «فإن جاء ربها فأدها إليه» په مطلق الفاظو باندې دې.يعنى كه لقطه باقي وى اوكه استعمال شوې وي.په دواړو صورتوكښې دمالك په مطالبه باندې ادا كول ضروري دې.

دغه شان د جمهورو يودليل دحضرت زيدبن خالد﷜ په يوطريق كښې دا الفاظ هم دي.«وكانت وديعة عنده» (٥)

دغه شان دحضرت زيد بن خالد جهني ﷜ په يو روايت كښې دا الفاظ دي.«فاعرف عفاصها ووكاءها ثم كلها فإن جاء صاحبها فأدها إليه» (٦) په دې كښې د «كلها» نه پس «فإن جاء صاحبها» راغلي دي.دا دخپل ظاهرپه اعتبارسره په دې خبره دلالت كوي.چه د خوړلونه پس هم واپس كول واجب دي.

دغه شان د ابوداود روايت د جمهورو يو مضبوط او صريح دليل دې.چه الفاظ ئې دا دي.«عرفها سنة فإن جاء باغيها فأدها إليه، وإلا فاعرف عفاصها ووكاءها ثم كلها فإن جاء باغيها فأدها

---

(١)العرف الشذي(٢٥٧\١) كتاب الأحكام باب اللقطة وضالة الإبل والغنم)_

(٢)عمدة القاري(٢٧٢\١٢) كتاب اللقطة باب إذا لم يوجد صاحب اللقطة بعد سنة فهي لمن وجدها)_

(٣)صحيح بخاري (٣٢٨\١) كتاب اللقطة باب إذا لم يوجد صاحب اللقطة بعد سنة فهي لمن وجدها)-

(٤)عمدة القاري(٢٧٢\١٢)_

(٥)صحيح بخاري (٣٢٨\١) كتاب اللقطة باب ضالة الغنم رقم ٢٤٢٨)_

(٦)صحيح مسلم كتاب اللقطة باب معرفة العفاص والوكاء وحكم ضالة الغنم والإبل رقم ٤٥٠٤)_

إليه»)[1] په دې روايت كښې د اداء حم «قبل الإذن في الأكل» او «بعد الإذن في الأكل» دواړو صورتونو كښې دې

ددې احاديثو په رڼا كښې «ولاتشأنك بها» يا «ولاتصنع بها ما تصنع بمالك» غوندې الفاظو محمل به دا وى.كه دتعريف نه پس كه مالك رانشى.نو د تصرف كولواجازت به وى.خو ددې نه پس د ضمان په باره كښې دا روايات ساكت دى.اونور رواياتوكښې په لقطه كښې دتصرف كولونه پس دجوب ضمان حكم وارد دې.نو دا مطلق روايات به په مقيد رواياتو باندې محمول كولى شى.([2]) والله اعلم.

د صاحب لقطه په ذمه د لقطه واپس كول كله واجب دى؟ دلته يوه مسئله دا ده.چه په صاحب لقطه باندې د لقطه واپس كول كله واجبيږى؟كه د لقطه مالك گواهان قائم كړى.نو دټولو په نيزد لقطه واپس كول واجب دى.

خوكه څوك گواهان پيش نكړې شى.البته د لقطه صفات او نښې اوښائى. نو په دې كښې اختلاف دې.

امام مالك اوامام احمد رحمهما الله فرمائى.چه په داسې صورت كښې د لقطه واپس كول واجب دى.او د احنافو او شوافعو رحمهم الله په نيز په داسې صورت كښې واپس كول جائز دى.خو واجب نه دى([3])

مالكيه اوحنابله رحمهم الله په «فإن جاء أحد يخبرك بعددها ووعائها ووكائها فأعطها» باندې استدلا ل كوى.([4]) په دې حديث كښې ئې د اوصافوپه بيان باندې ادا كول متفرع كړى دى.

احناف او شوافع رحمهم الله فرمائى.چه په دې كښې چه د اعطاء كوم حكم دې.نودا په اباحت باندې محمول دې.ګنى بيا خود دې اود حديث «البينة على المدعى واليمين على من أنكر» مينځ كښې تعارض راځى.دلته چونكه صاحب لقطه مدعى دې.نو دده په ذمه گواهان لازم دى.

اوكه په «فأعطها إياه» كښې امرپه وجوب باندې محمول كړې شى.نوددې مطلب به دا وى.چه د گواهانونه بغيرچه صرف اوصاف بيان كړى.نوپه دې به هم د لقطه واپس كول واجب وى.

حالانكه «والبينة على المدعى»([5])حديث ښائى.چه مدعى كله گواهان قائم كړى.نودهغې نه پس به ده ته دخپل مدعا وركول واجب ګنړلې شى.ددې وجې په دواړو كښې د جمع كولو صورت

---

[1])سنن أبي داود كتاب اللقطة باب التعريف باللقطة رقم ١٧٠٦)-

[2])فتح البارى(٨٥\٥) كتاب اللقطة باب إذا لم يوجد صاحب اللقطة بعد سنة فهى لمن وجدها)_

[3])فتح القدير(٣٥٧\٥) كتاب للقطة)_

[4])صحيح مسلم كتاب اللقطة باب معرفة العفاس والوكاء وحكم ضالة الغنم والإبل رقم ٤٥٠٨)_

[5]) السنن للبيهقى (٢٥٢\١٠) كتاب الدعوى والبينات باب البينة على المدعى واليمين على المدعى عليه وسنن الدراقطنى (٢١٨\٤) كتاب فى الأقضية والأحكام فى المرأة تقتل إذا إرتدت رقم ٥١و ٥٢) وانظر نصب الرأية (٩٥\٤و ٩٦) كتاب الدعوى باب اليمين رقم ٦٦٤٣و ٦٦٤٦)-

هم دا دي.چه ((فادفعها إليه)) كښې امرداباحت دپاره وي.اوپه حديث مشهوركښې په وجوب باندې محمول كړې شي.(1) والله اعلم.

قوله: قَالَ فَضَالَّةُ الإِبِلِ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ أَوْ قَالَ احْمَرَّ وَجْهُهُ فَقَالَ مَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا تَرِدُ الْمَاءَ وَتَرْعَى الشَّجَرَ فَذَرْهَا حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا: تپوس كونكي تپوس اوكړو.د ورك شوي اوښ رانيول جائز دي كه نه، نبى ﷺ غصه شو.تردې چه د نبى ﷺ د انګودواړه راپورته حصې سرې شوې.يا ئې داسې اوفرمائيل.چه د نبى ﷺ مخ مبارك سور شو.وې فرمائيل.ستا ددې سره څه كاردې؟دهغه سره دهغه مشكيزه او څپلې وى.هغه به د اوبو چينوته راځى.اواوبه به څكى.اوپه ونوكښې به څريږى.دې پريږده.تردې چه دده مالك راشى.

((وجنتان)) د ((وجنة)) تشنيه ده.دخرمنې راپورته حصې ته وائى.(2)

((سقاء)) مشكيزۀ ته وائى.(3) چونكه اوښ په يوځل ډيرې اوبه څكى. او په خپل بدن كښې هغه ذخيره كوى.هم دا وجه ده.چه هغه ته د باربار اوبوڅكلو ضرورت نه پيښيږى.ددې وجې نبى ﷺ اوفرمائيل.((معها سقاؤها))

دغه شان الله تعالى ده ته دوه خپرې (د پښوتلى) داسې وركړى دى.چه په هغې سره دې په شګو او غرونوكښې ګرځى.لكه چه دده په پښوكښې څپلې موجود دى.

چونكه دا لوې ځناور دې.خپل حفاظت كولې شى.او ده ته دخوراك څكاك تكليف هم نه وى. ددې وجې دې لقطه ګرځولوته څه ضرورت نشته.دې هم په خپل حالت باندې پريږده. مالك به ئې پخپله لټوى.اوهغه ته به راورسى.

داوښ التقاط صحيح دې كه نه؟ دحديث باب نه معلومه شوه.چه د ((ضالة الإبل)) التقاط صحيح نه دې.هم په دې حكم كښې فرس او بقر هم دى.د مالكيانو او شوافع اوحنابلو ﵏ په نيزددې ا التقاط په ځائې ددې پريخودل غوره دى.اواحنافو ﵏ په نيزد نوورو څيزونو پشان داوښانو.غواګانووغيره التقاط هم صحيح دې.(4)

تركومې پورې چه په حديث باب كښې د نفى تعلق دې.نوددې په باره كښې احناف ﵏ وائى.چه دا حكم په هغه وخت كښې وو.چه خلقوكښې نيكان زيات وو.خيانت عام نه وو.په هغه زمانه كښې كه به اوښ وغيره پريخودې شو.نو مالك به موندل.خو په زمانه كښې د

---

(1) فتح القدير (٣٥٧/٥)-

(2) هدى السارى (٢٠٤) الفصل الخامس)_

(3) هدى السارى (١٣٣) الفصل الخامس)_

(4) هدايه مع فتح القدير (٣٥٤/٥) كتاب اللقطة)_

تغير راتلو نه پس اوس حکم هم بدل شو اوس خيانت عام شوې دې.نو د اوښ وغيره التقاط هم افضل دي.(١)

ددې تائيد دموطا ددې روايت نه کيږې په کوم کښې چه امام زهرى رحمه الله فرمائى.((ان ضوال الإبل كانت فى زمن عمر رضى الله عنه إبلا مرسلة تناتج لايمسها أحد حتى إذا كان زمن عثمان بن عفان رضى الله عنه أمر بمعرفتها وتعريفها ثم تباع فإذا جاء صاحبها أعطى ثمنها)) (٢)

ددې نه معلومه شوه چه په پخوانئ زمانه کښې به اوښ آزاد ګرځيدل ددې به بچى وو.چا به ورته تعرض نه کول.معلومه شوه.چه اوس دا خبره نشته.نو التقاط کول پکار دى.ددې تعريف دې اوکړې شي.اومالک ته ئې اورسولې شى.

قوله قَالَ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ لَكَ أَوْلِأَخِيكَ أَوْلِلذِّئْبِ: تپوس اوشو چه د ورکې شوې چيلئ څه حکم دې؟ نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.هغه ستا ده يا ستا د وروړه يا د شرمخ ده.

د ((اخ)) نه يا بل مسلمان مراد دې.يا ترې مالک مراد دې.(٣)

د ،،ذئب،، نه مراد يا شرمخ دى.يا هرډرنده دې.(٤)

مطلب دا دې.که ورکه شوې چيلئ وى.نوهغه خويا ستا ده.که ته ئې اونيسې.نواوس دا ستا ذمه وارى ده.چه ته ددې حفاظت اوکړې.تعريف ئې اوکړې.تردې چه مالک ته اورسى.ياهغه ستا د مسلمان ورور ده.يعنى که ته ئې لقطه جوړه نکړې.نو ستا بل مسلمان ورور به هغه لقطه جوړه کړى.او حسب معمول به ئې تعريف کوى.يا دا که ته ئې اونه نيسې نومالک به ئې پخپله باندې لټون کوى.اوآخر به ئې اومومى.اوکه څوک ئې هم اونه نيسى نو بيا به د درنده ښکارشى.(٥)

دحديث باب هم ددې الفاظو نه استدلال کوى.امام مالک رحمه الله دا رائې ښکاره کړې ده چه د ((غنم)) په التقاط سره ملتقط مالک جوړيږى.تردې که مالک راشى.نو بيا هم په ده باندې ضمان نشته.(٦) څکه چه دحديث باب الفاظ دى.((لك أولأخيك أو للذئب)) ظاهر دا دې.چه دا ((لام)) د تمليک دپاره دې.دحديث باب په يوطريق کښې نورهم ښکاره الفاظ دى.((ثم قال كيف ترى فى ضالة الغنم؟ قال النبى صلى الله عليه وسلم خذها فإنما هى لك أولأخيك أو للذئب)) (٧)

---

(١)المبسوط للسرخسى(١١\١١)_

(٢)موطاء امام محمد (٣٦٥) کتاب اللقطة رقم ٨٤٧) موطا امام مالک (٦٤٨.) کتاب الأقضية باب القضاء فى الضوال)

(٣)فتح البارى(٨٢\٥) کتاب اللقطة باب ضالة الإبل_

(٤)المصدرالسابق)_

(٥)عمدة القارى(١٢\١٠١)_

(٦)فتح البارى(٨٢\٥) کتاب اللقطة باب ضالة الإبل)_

(٧)صحيح بخارى(٣٢٨\١) کتاب اللقطة باب ضالة الغنم)_

دامام مالك رحمه الله استدلال په دې خبره هم دې چه په دې حديث كښې ئې ملتقط اوذنب دواړه برابر ګرځولي دي.نولك څنګه چه په ذنب باندې څه تاوان نشته.دغه شان به د ملتقط په ذمه هم څه تاوان نه وي.(١)

ددې په مقابله كښې د جمهورو په دې خبره باندې اتفاق دې.كه د لقطه داستعمال نه وړاندې مالك راغلو.نو هغه خپل مالك ته واپس كول لازمى دى.ددې نه معلومه شوه.چه په لقطه ملكيت داصلى مالك برقرار دې.(٢)

تركومې چه د امام مالك رحمه الله د استدلال تعلق دې.نوددې جواب دا دې.چه دلته «لام» د تمليك دپاره نه دې.ښكاره ده چه دا «لام» په ذنب باندې هم داخل دې.خو په ذنب مالك نشى جوړيدې.نودغه شان به ملتقط هم مالك نه وى.

البته دالتقاط اجازت شته.اوبيا د تعريف نه پس كه هم مالك ملاؤ نشى.نو په دې صورت كښې كه فقير اومحتاج وى.نويه دې شرط ئې پخپله استعمالولى شى.اويا به ئې چا محتاج ته د صدقه په طور وركړي.خوكه مالك ئې پيدا شى.اوهغه د ضمان مطالبه كوى.نود ضمان ادا كول به ضرورى وى.(٣)

[٣]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى (٤) قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَشْيَاءَ كَرِهَهَا فَلَمَّا أُكْثِرَ عَلَيْهِ غَضِبَ ثُمَّ قَالَ لِلنَّاسِ سَلُونِي عَمَّا شِئْتُمْ قَالَ رَجُلٌ مَنْ أَبِي قَالَ أَبُوكَ حُذَافَةُ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ مَنْ أَبِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ أَبُوكَ سَالِمٌ مَوْلَى شَيْبَةَ فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ مَا فِي وَجْهِهِ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَتُوبُ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ [٦٨٦١]

رجال الحديث

① **محمد بن العلاء:** دا ابوكريب محمدبن العلاء بن كريب همدانى كوفى رحمه الله دې.ددوى حالات په كتاب العلم كښې د «باب فضل من علم وعلّم» لاندې تيرشوى دى.

② **ابواسامه:** دا ابواسامه حمادبن اسامه بن زيد قرشى كوفى رحمه الله دې.د دوى حالات هم په كتاب العلم كښې د «باب فضل من علم وعلم» لاندې تيرشوى دى.

---

(١)فتح البارى(٨٢/٥)_

(٢)المصدر السابق)_

(٣)المصدر السابق)_

(٤)قوله :عن أبى موسى رضي الله عنه الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه (١٠٨٣/٢) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة باب ما يكره من كثرة السوال وتكلف ما يعنيه رقم (٧٢٩١) ومسلم فى صحيحه كتاب الفضائل باب توقيره صلى الله عليه وسلم وترك إكثارسؤاله عما لا ضرورة إليه أولا يتعلق به تكليف وما لا يقع ونحو ذلك رقم (٦١٢٥)_

③ بريد: دا ابوبرده بريد بن عبدالله بن ابى برده بن ابى موسى اشعرى رضي الله عنه دي.ددوى حالات اجمالاً په كتاب الايمان كښې د «باب أى الإسلام أفضل» لاندې [1] او په كتاب العلم كښې د «باب فضل من علم وعلم» لاندې تيرشوى دى

④ ابوبرده: دا ابوبرده بن ابى موسى اشعرى دې.ددوى حالات په «كتاب الإيمان باب أى الإسلام أفضل» لاندې تير شوى دى.([2])

⑤ ابوموسى اشعري رضي الله عنه: ددوى حالات هم په «كتاب الإيمان باب أى الإسلام أفضل» لاندې تيرشوى دى.([3])

قوله قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَشْيَاءَ كَرِهَهَا: حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه فرمائى.چه د نبى ﷺ نه د داسې څيزونو په باره كښې تپوسونه اوشول.چه دهغې په باره كښې د نبى ﷺ تپوسونه كول خوښ نه وو.

قوله فَلَمَّا أُكْثِرَ عَلَيْهِ غَضِبَ: كله چه د نبى ﷺ نه تپوسونه زيات شول.نونبى ﷺ خفه شو.

قوله ثُمَّ قَالَ لِلنَّاسِ سَلُونِي عَمَّا شِئْتُمْ: بيانبى ﷺ اوفرمائيل.چه زما نه خو څه سوال خوښ وى.تپوس كوئ.

ددې مقصد د خفګان اظهار وو.خوبعضې صحابه كرام رضي الله عنهم پوهه نشو. د حضرت انس رضي الله عنه په روايت كښې دى.چه صحابه كرامو رضي الله عنهم سرونه ټيټ كړل.اوبه ژړا شول.([4])

قوله قَالَ رَجُلٌ مَنْ أَبِي: يوسړى تپوس اوكړو.زما پلار څوك دې؟ نبى ﷺ ورته اوفرمائيل.ستا پلار حذافه دې.

دا تپوس كونكې عبدالله بن حذافه رضي الله عنه وو.([5]) په يو روايت كښې راځى.چه دهغوى به كله هم دچا سره جګړه وه.نوخلقوبه دې دخپل پلارنه علاوه بل چاته منسوب كولو.ددې وجې هغوى د نبى ﷺ نه ددې تپوس اوكړو.([6])

دمسلم شريف په يو روايت كښې دى.چه ددوى مور دوى ته اووئيل.«ما سمعت بابن قط أعق منك آأمنت أن تكون أمك قد قارفت بعض ما تقارف نساء أهل الجاهلية فتفضحها على أعين الناس»

---

[1]) كشف البارى (۲/۱۱۰۹)_

[2]) كشف البارى (۲/۱۱۰۹)_

[3]) كشف البارى (۲/۱۱۰۹)_

[4]) صحيح بخارى (۲/۶۶۵) كتاب التفسير سورة المائدة باب ((لاتسئلوا عن أشياء إن تبد لكم تسؤكم)) رقم (۴۶۲۱)

[5]) وقد ورد فى طريق من رواية أنس فقام عبدالله بن حذافة فقال من أبى يا رسول الله؟ انظر صحيح البخارى (۲/۱۰۸۴) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة باب ما يكره من كثرة السوال وتكلف مالا يعنيه رقم (۷۲۹۴)-

[6]) صحيح مسلم كتاب الفضائل باب توقيره ﷺ وترك إكثارسواله عما لا ضرورة إليه.. رقم (۶۱۲۳)_

په دې باندې حضرت عبدالله بن حذافه رضي الله عنه جواب ورکړو. «والله لو ألحقني بعبد أسود للحقته»(١)

قوله: قَالَ أَبُوكَ حُذَافَةُ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ مَنْ أَبِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ أَبُوكَ سَالِمٌ مَوْلَى شَيْبَةَ: بیا یو کس پاسیدو. اوتپوس ئې اوکړو. یارسول الله زما پلار څوك دې؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل. ستا پلار دشیبه آزاد شوې غلام سالم دې.

ددې سوال کونکې سعدبن سالم رضي الله عنه وو.(٢)

ایا دا دعلم غیب دعوه نه ده؟ دلته دا سوال کیږی. چه دا خودعلم غیب ادعاء ده. چه نبی ﷺ اوفرمائیل «سلوني عما شئتم» دغه شان نبی ﷺ بنائی. چه د عبدالله پلار حذافه دې. اود سعد پلار سالم دې.

ددې جواب دا دې. چه په صحیح بخاری کښې دحضرت انس رضي الله عنه په یو طریق کښې دی. چه نبی ﷺ اوفرمائیل. «من أحب أن يسأل عن شئ فليسأل عنه فوالله لا تسألوني عن شئ إلا أخبرتكم به ما دمت في مقامي هذا»(٣)

ددې نه معلومه شوه. چه دامعجزه وه. چه په دغه مقام کښې نبی ﷺ ترڅو پورې تشریف فرما وو. نوددغه وخت دپاره نبی ﷺ فرمائیلی وو. چه تاسو کوم سوال کوئ. زه به د هغې جواب درکوم. نودا په اطلاق باندې حمل کول اوددې نه د نبی ﷺ دپاره علم غیب ثابتول صحیح نه دی.

قوله: فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ مَا فِي وَجْهِهِ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَتُوبُ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ:

کله چه حضرت عمر رضي الله عنه هغه آثاراولیدل. کوم چه د نبی ﷺ په مخ مبارك باندې وو. نوعرض ئې اوکړو. یا رسول الله مونږ الله تعالی ته توبه اوباسو.

په یوبل روایت کښې دی. چه حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل. «رضينا بالله ربا وبالإسلام دينا وبمحمد نبيا»(٤)

مطلب دا دې. چه حضرت عمر رضي الله عنه چه کله اوکتل. چه نبی ﷺ خفه کیږی. او هسې نه چه ددوی د خفګان د وجې څه عذاب نازل شی. ددې وجې حضرت عمر رضي الله عنه د تواضع اظهار اوکړو. او دوه خبرې ئې عرض کړې. چه «رضينا بالله ربا» او «إنا نتوب إلى الله عزوجل»(٥)

---

(١) صحیح مسلم کتاب الفضائل باب توقره ﷺ وترک إکثارسؤاله عما لا ضرورة إليه. رقم ٦١٢١)_
(٢) فتح الباری(١٨٧/١)_
(٣) صحیح بخاری (١٠٨٤/٢) کتاب الإعتصام بالکتاب والسنة باب ما يكره من كثرة السوال وتكلف ما لا يعنيه رقم ٧٢٩٤) وانظر صحیح مسلم کتاب الفضائل باب توقيره ﷺ .. رقم ٦١٢١)_
(٤) صحیح البخاری (٢٠/١) کتاب العلم باب من برک علی رکبتیه عندالإمام أوالمحدث رقم ٩٣)_
(٥) فتح الباری(١٨٧/١)_

ګوري دلته غلطي د نورو نه شوې ده. خو دا د حضرت عمر رضي الله عنه فهم او فراست او شفقت على الاصحاب دليل وو چه هغوى د نبي ﷺ دخفګان لرې کولو داسې کوشش اوکړو لکه چه غلطي ددوى نه شوې وى. والله اعلم بالصواب

۲۹=باب مَنْ بَرَكَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ عِنْدَ الْإِمَامِ أَوِ الْمُحَدِّثِ

«برك يبرك بروكا» د اوښ د کينولو دپاره استعماليږى.(۱) خودلته مجازاً د انسان کونږې ماتولو نه يا په ګونډو کيناستو دپاره استعماليږى.(۲)

مخکنى باب سره مناسبت د مخکنى باب سره مناسبت ددې باب ښکاره دې. په دې طريقه چه په مخکنى باب کښې د ادب تقاضې نه پوره کولو په وجه د سوال کونکى نه د استاذ دخفګان بيان وو. او په دې باب کښې متعلم ته دعالم مخامخ څنګه کيناستل پکار دى؟ ددې ذکردې.(۳)

د ترجمة الباب مقصد ددې ځائې نه د ترجمة الباب مقصد هم ثابت شو. که محدث خفه شي. نومتعلم دپاره د ادب طريقه اختيارول پکار دى. او دهغه راضى کول پکار دى.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه دا ترجمه د «باب فى باب» د قبيلې څخه ده. ددې مطلب دا دې چه د مخکنى باب په حديث کښې د باب نه علاوه نورې فائده هم ذکرده په دې باندې د تنبيه ورکولو دپاره ئې ترجمه قائمه کړه.(۴)

دلته هم د باب سابق د آخرى حديث پشان حديث موجود دې. خوچونکه ددې نه يوه بله فائده مستنبط کيده. په دې فائدې باندې د خبر ورکولو دپاره ئې پرې دلته د «من برك على ركبتيه عندالإمام أو المحدث» ترجمه قائمه کړه.(۵)

[۳۰] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ(۶) أَنَّ

---

(۱) مختار الصحاح (۴۹)_

(۲) فتح البارى(۱/۱۸۸) وعمدة القاى(۲/۱۱۴)_

(۳) عمدة القارى(۲/۱۱۴)_

(۴) الكنز المتوارى في معادن لامع الدرارى وصحيح البخارى (مقدمة لامع الدرارى (۱/۳۵۴) الفائدة الثالثة فى تفاصيل الأصول الأصل السادس دغه شان كشف البارى (۱/۱۷۲)_

(۵) الكنز المتوارى (۲/۳۲۳)_

(۶) قوله أنس بن مالك :الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه أيضاً (۱/۷۷) فى كتاب مواقيت الصلاة باب وقت الظهرعند الزوال رقم ۵۴۰) و(۱/۱۰۳) كتاب الأذان باب رفع البصر إلى الإمام فى الصلاة رقم ۷۴۹) و(۲/۶۶۵) كتاب التفسير سورة المائدة باب ﴿لا تسألوا عن أشياء إن تبدلكم تسؤكم﴾ رقم ۴۶۲۱) و(۲/۹۴۱) كتاب الدعوات باب التعوذ من الفتن رقم ۶۳۶۲) و(۲/۹۵۷) كتاب الرقاق باب القصد والمداومة على العمل رقم ۶۴۶۸) و(۲/۹۶۰) كتاب الرقاق باب قول النبى ﷺ لو تعلمون ما أعلم لضحكتم قليلاً ولبكيتم كثيراً رقم ۶۴۸۶) و(۲/۱۰۵۰) كتاب الفتن باب التعوذ من الفتن رقم ۷۰۸۹ و ۷۲۹۵) و(۲/۱۰۸۳) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة باب ما يكره من كثرة السوال وتكلف ما لا يعنيه رقم ۷۲۹۴ و ۷۲۹۵) ومسلم فى صحيحه فى كتاب الفضائل باب توقيره ﷺ وترک إكثار سواله عما لا ضرورة إليه .. رقم ۶۱۱۹و ۶۱۲۴) والترمذى فى جامعه فى كتاب التفسير سورة المائدة رقم ۳۰۵۶) وابن ماجه فى سننه فى كتاب الزهد باب الحزن والبكاء رقم ۴۱۹۱)_

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فَقَامَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ حُذَافَةَ فَقَالَ مَنْ أَبِي فَقَالَ أَبُوكَ حُذَافَةُ ثُمَّ أَكْثَرَ أَنْ يَقُولَ سَلُونِي فَبَرَكَ عُمَرُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ فَقَالَ رَضِينَا بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا فَسَكَتَ [٥١٥ و ٦٨٦٤ و ٤٣٤٥]

رجال الحديث

① ابواليمان رحمه الله: دا ابواليمان الحكم بن نافع بهرانى حمصى رحمه الله دې.ددوى حالات مخكښې په بدء الوحى كښې د شپږم نمبر حديث لاندې تيرشوى دى.([1])

② شعيب رحمه الله: دا شعيب بن ابى حمزه اموى قرشي رحمه الله دې.ددوى مختصر حالات هم په بدء الوحى كښې د شپږم حديث لاندې تيرشوى دى.([2])

③ الزهري رحمه الله: دا امام محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهرى رحمه الله دې ددوى مختصر حالات په بدء الوحى كښې د دريم حديث لاندې تيرشوى دى.([3])

④ انس بن مالك رضي الله عنه: حضرت انس بن مالك رضي الله عنه ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د«باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه» لاندې تيرشوى دى.([4])

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فَقَامَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ حُذَافَةَ فَقَالَ مَنْ أَبِي فَقَالَ أَبُوكَ حُذَافَةُ: نبى صلى الله عليه وسلم بهرته تشريف راوړو.حضرت عبدالله بن حذافه رضي الله عنه اودريدلو.او تپوس ئې اوكړوزما پلار څوك دې؟ نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.حذافه دې. دلته په روايت كښې اختصار دې.لكه څنګه چه دبل روايت نه معلوميږى .چه د نبى صلى الله عليه وسلم نه خلقو تپوسنه كول.نو نب صلى الله عليه وسلم خفه شو.بيا ئې هم په دغه حال كښې اوفرمائيل.«سلونى»په دې موقع باندې حضرت عبدالله بن حذافه رضي الله عنه اودريدو.او عرض ئې اوكړو.زما پلارڅوك دې.([5])

قوله: ثُمَّ أَكْثَرَ أَنْ يَقُولَ سَلُونِي: بيا نبى صلى الله عليه وسلم ډير زيات اوفرمائيل.زما نه تپوسونه كوئ.

قوله: فَبَرَكَ عُمَرُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ: حضرت عمرپه خپلو زنګونونو باندې كيناستو.

ددې جملې نه امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب اثبات كوى.كوم چه بيخى ښكاره دې.

حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمانى.چه دلته د «بروك» ظاهرى مطلب دا جوړيږى.چه حضرت عمر رضي الله عنه چه د وړاندې نه په مجلس كښې موجود وو.هغه په زنګونونو باندې اودريدو.

---

[1]) كشف البارى (٤٨٠/١)_

[2]) كشف البارى(٤٨٠/١)_

[3]) كشف البارى(٣٢٦/١)_

[4]) كشف البارى(٤١٢)_

[5]) فتح البارى(١٨٨/١)_

چونكه دا هيئت د ادب نه خلاف محسوسيږى.ددې وجې امام بخارى رحمه الله ددې جواز ثابت كړو.چه د ويرې په موقعه داسې كول صحيح دى.دلته چونكه د نبى ﷺ دخفګان سخته مرحله راغلې وه.څكه حضرت عمر رضي الله عنه دا هئيت اختيار كړو.

حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى.چه دلته دا هم امكان شته.چه د «بروك» نه مراد هيئت تشهد وى.يعنى دحضرت عمر په دواړو زنګونونو باندې كيناستل مقصود وى.كه دا معنى وى.نو بيا خبره ښكاره ده.چه امام ته مخامخ په دې كيفيت باندې كيناستل پكار دى.

خوپه دې باندې دا اشكال كيږى.چه امام ته مخامخ د كيناستو كيفيت او ادب چه دا شى.نوحضرت عمر رضي الله عنه د اول نه په دې كيفيت ولې نه كيناستل.

ددې جواب دا وركړې شوې دې.چه عام طور ادب خو دا دې.چه امام ته په دواړو زنګونونو باندې كيناستل.خود نورو هيئتونو اجازت هم شته.ددې اجازت په وجه حضرت عمر رضي الله عنه اول په بل هيئت باندې ناست وو.خوچه د نبى ﷺ د خفګان واقعه پېښه شوه.اوهغه د څه درخواست كولوضرورت محسوس كړو.نوخپل هيئت ئې بدل كړو.اوپه دواړو زنګونونو باندې كيناستو.اوعرض ئې اوكړو.«رضينا بالله ربا..الخ» (١)

عامو شارحينو رحمهم الله په دې مقام كښې د «بروك»نه په دواړو پنډو باندې ناسته مراد اخستې ده.(٢)

قوله فَقَالَ رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا فَسَكَتَ:او عرض ئې اوكړو.چه مونږ الله تعالى رب اواسلام دين اومحمد ﷺ نبى منو.او خوشحاله يو.

ابن بطال رحمه الله فرمائى.چه چونكه حضرت عمر رضي الله عنه دا ګڼړل.چه داسې قسم تپوسنه بعضې وخت د تعنت،شكوكو او شبهاتوپه وجه كيږى.اوپه دې باندې عذاب نازليږى.ددې ويرې هغوى د تسليم او رضا اظهاراوكړو.او عرض ئې اوكړو.چه «رضينا بالله ربا..الخ»(٣)

ددې حاصل داې دې.چه الله تعالى مونږ ته كوم كتاب راكړې دې.اودنبى ﷺ په واسطه چه ئې مونږ ته كومه طريقه خودلې ده.چه هغه وى.نودڅه سوال ضرورت نشته.(٤)

قوله فسكت:نونبى ﷺ چپ شو.

په بعضې رواياتوكښې دى.چه «فسكن غضبه»(٥)يعنى دنبى ﷺ غصه سړه شوه.يعنى كله چه

---

(١)لامع الدرارى (٣٢٣/٢و ٣٢٤)_
(٢)الكنز المتوارى (٣٢٤/٢)_
(٣)شرح ابن البطال (١٧١/١)_
(٤)عمدة القارى(١١٤/٢)_
(٥)عمدة القارى(١١٥/٢)_

حضرت عمر ﷺ دټولوحاضرينودطرفه نمائندګي اوکړه. اودپوره تسليم اورضا اظهار ئې اوکړو.اودا يقين ئې ورکړو.چه دا تپوسونه د څه تعنت يا شك اوشبهٔ په بنياد باندې نه دی.نو نبی ﷺ راضی شو.

تنبيه دمخکنی باب په روايت کښې دی.چه حضرت عمر ﷺ اوفرمائيل.«إنا نتوب إلى الله عزوجل»اوپه دې روايت کښې دی.چه هغوی «رضينا بالله رباً...»اوفرمائيل.نوئيلی به شی.چه په دواړو روايتونوکښې اختصاردې.حضرت عمر ﷺ دواړه خبرې کړې وې.په اولنی روايت کښې يوه حصه مذکور ده.اوپه بل روايت کښې بله حصه مذکوره ده.والله أعلم.

۳۰=بَاب مَنْ أَعَادَ الْحَدِيثَ ثَلَاثًا لِيُفْهَمَ عَنْهُ فَقَالَ أَلَا وَقَوْلُ الزُّورِ فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ بَلَّغْتُ ثَلَاثًا[ر:۲۵۱۱] [ر:۴۱۴۱]

زمونږ په نسخوکښې په «ليفهم»باندې ترجمة الباب ختم دې.وړاندې د «عنه»لفظ نشته.په دې صورت کښې به دا د باب ،،إفعال،، نه دمعروف صيغه هم کيدې شی.يعنی «لِيُفْهِمَ» اودمجهول صيغه هم کيدې شی.يعنی«لِيُفْهَمَ»

خوداصيلی اوکريمی په نسخوکښې د «عنه»زيادت دې.نوپه دې صورت کښې د مجهول صيغه متعين ده.(۱)

دمخکنی باب سره مناسبت ددې باب دمخکنی باب سره مناسبت په دې طريقه دې.چه په سابقه باب کښې د سائل متعلم حال ذکرو.اوپه دې باب کښې هم د متعلم دحال رعايت مذکور دې.ځکه چه نبی ﷺ به د سائلينواومتعلمينورعايت کولو.اودرې درې ځله به ئې دکلام اعاده کوله.چه متعلمين ښه پوهه شی.(۲)

د ترجمة الباب مقصد ابن المنير رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب سره په هغه کسانوباندې رد کوی.څوك چه دحديث اعاده بده ګنړی.اوکوم طالب علم چه داعادې مطالبه کوی.هغه غبی اوکندذهن ګنړی.دغه شان دوی فرمائی.چه چونکه طبيعتونه مختلف وی.که طالبعلم پوهه نشی.نوداعادې مطالبه دهغه دپاره څه عيب نه دې.دغه شان پکار ده چه معلم دپاره هم داعادې نه څه عذرمانع نشی.(۳)

---

(۱)فتح الباری(۱۸۸\۱) وعمدة القاری(۱۱۵\۲)_
(۲)عمدة القاری(۱۸۸\۲)_
(۳)فتح الباری(۱۸۹\۱)_

خود ترجمة الباب دا مقصد د راتلونكى «باب من سمع شيأ فلم يفهمه ، فراجعه» سره زيات مناسب دي.

حضرت گنگوهي فرمائي چه د ترجمة الباب نه دا مقصود دي چه مواضع د ضرورت اوحاجت كښې پكارده چه كلام دري دري خله اعاده كړې شى.لكه چه په روايت كښې كوم خائي كښې د تثليث ذكراغلي دي.نودهغې نه افهام مقصود دي.يا زيات اهتمام په وجه .اويا د دې ويرې چه د ګنړې دوجې سامعين نه اورى.په ترجمة الباب كښې د «ليفهم...»قيد په دې باندې دلالت كوى.(١)

حضرت شيخ الهند رحمه الله هم د حضرت گنگوهي اتباع كړې ده. اوفرمائي چه په كومو مواقعو كښې د اعادې ضرورت اوحاجت وى.نواعاده به ئې كوله.گنې په بعضې مواقعو كښې صرف اشاره هم ثابته ده.«كما مرسابقاً» ددې نه هم په تبليغ اوتفهيم كښې اهتمام طرف ته اشاره معلوميږى.معلم ته پكار دى چه مقامات مشكله دوه دري خله مكرر كړى.چه د اوريدونكو په پوهه كښې كمي پاتې نشى.(٢)

علامه سندهي رحمه الله هم تقريباً هم دا خبره كړې ده.هغوى فرمائي چه دا تكراردهغه خايونوسره مخصوص دي.په كوموكښې چه د اعادة حاجت وو.گنى مطلقاً اعاده مقصود نه ده. خكه چه مونږ گورو په ډيرو مقاماتوكښې صحابه كرام رضي الله عنهم د نبي ﷺ ارشاد نقل كوى. اووائي. «قالها ثلاثا» كه دنبى ﷺ عادت دا وو.چه هره خبره به ئې دري خله كوله.نوبيا ددې تصريح څه وجه نه وه.(٣)والله أعلم.

قوله: فَقَالَ أَلَا وَقَوْلُ الزُّورِ فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا: نبي ﷺ اوفرمائيل. واورئ.اود دروغو خبره،اونبى ﷺ مسلسل ددې خبرې تكراركولو.

دا دحضرت ابوبكره رضي الله عنه دحديث يوه حصه ده.كوم چه په كتاب الشهادات ،كتاب الادب، كتاب الاستيذان اوكتاب استتابة المرتدين كښې موصولاً مروى دي.(٤)

ألا أنبئكم بأكبر الكبائر؟ ثلاثاً قالوا بلى يا رسول الله قال الإشراك بالله وعقوق الوالدين ، وجلس وكان متكأ فقال ألا وقول الزور قال فما زال يكررها حتى قلنا ليته سكت»

---

(١)لامع الدرارى(٣٢٥/٢و ٣٢٦)_

(٢)الأبواب والتراجم(ص:٥٣)_

(٣)الكنز المتوارى(٣٢٦/٢)_

(٤)صحيح البخارى(٣٦٢/١١) كتاب الشهادات باب ما قيل فى شهادة الزور رقم (٢٦٥٤) و(٨٨٤/٢) كتاب الأدب باب عقوق الوالدين من الكبائررقم (٩٢٨/٢) كتاب الإستيذان باب من إتكأ بين أصحابه رقم ٦٢٧٣ و ٦٢٧٤ (١٠٢٢/٢) فاتحة كتاب إستتابة المرتدين والمعاندين وقتالهم باب إثم من أشرک بالله وعقوبته فى الدنيا والآخرة رقم ٦٩١٩)_

په دې روايت كښې ((ألا وقول الزور)) په باره كښې ذكردى.چه نبى ﷺ باربار ددې تكرار كولو. نبى ﷺ ددې د غټوالى په وجه دا باربار ونيل.معلومه شوه.كه ضرورت وى.نود يوې خبرې د اهيمت اوغټوالى دوجې هغه مكرر بيانولې شى.

دلته يوسوال دا دې.چه امام بخارى رحمه الله باب قائم كړې دې.((باب من أعاد الحديث ثلاثاً)) اوپه استدلال كښې ذكركوى.((ألا وقول الزور فما زال يكررها)) چه نبى ﷺ ددې قول تكرار اوكړو. ددې نه خو ترجمة الباب نه ثابتيږى.

ددې يوجواب دا دې.چه دلته ((فما زال يكررها)) مذكور دې.د ((ثلاث)) مفهوم په دې كښې دننه پروت دې.نومدعا ثابته شوه.

ددې دويم جواب دا دې.چه په حقيقت كښې امام بخارى رحمه الله په ((فما زال يكررها)) سره استدلال نه دې كړې.بلكه دا حصه ئې ذكركړې ده.اوپه دې سره ئې ددې حديث اولنۍ حصې ته اشاره كړې ده.په كومه كښې چه نبى ﷺ فرمائيلى دى.((ألا أنبئكم بأكبر الكبائر ثلاثاً)) په دې صورت كښې به د ترجمة الباب اثبات صريحى شى.((والله أعلم))

قوله: وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ بَلَّغْتُ ثَلَاثًا: حضرت ابن عمر رضى الله عنه فرمائى.چه نبى ﷺ درې ځله اوفرمائيل.آيا ما رسول اوكړو.دا تعليق د امام بخارى رحمه الله په مدعا باندې منطبق دې.

بيا دا تعليق د نبى ﷺ د حجة الوداع د خطبې يوه ټكړه ده.كومه چه امام بخارى رحمه الله په مختلفو مقاماتو كښې ذكركړې ده.(١) البته ((ألا هل بلغت ثلاثاً)) ددې تصريح په كتاب الحدود كښې موصولاً مذكورده.(٢) ((والله أعلم))

[٩٤\٩٥] **حَدَّثَنَا عَبْدَةُ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَنَسٍ (٣) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَلَّمَ سَلَّمَ ثَلَاثًا وَإِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا**

---

١) صحيح البخارى (١\٢٣٥) كتاب الحج باب الخطبة أيام منى رقم ١٧٤٢ و(٢\٦٣٢) كتاب المغازى باب حجة الوداع رقم ٤٤٠٣ (٢\٨٩٢ و ٨٩٣) كتاب الأدب باب قول الله تعالى ﴿يا أيها الذين آمنوا لايسخرقوم من قوم عسى أن يكونوا خيراً منهم..﴾) رقم ٦٠٤٣) و(٢\٩٩١) كتاب الأدب باب ما جاء فى قول الرجل ويلك رقم ٦١٦٦) (٢\١٠٠٣) كتاب الحدود باب ظهرالمؤمن حمى إلا فى حد أوحق رقم ٦٧٨٥) (٢\١٠١٤) كتاب الديات باب قول الله تعالى ﴿ومن أحياها..﴾) رقم ٦٨٦٨) (٢\١٠٤٨) كتاب الفتن باب قول النبى ﷺ لاترجعوا بعدى كفاراً يضرب بعضكم رقاب بعض)) رقم ٧٠٧٧)_

٢) صحيح البخارى(٢\١٠٠٣) كتاب الحدود باب ظهرالمؤمن حمى إلا فى حد أو حق رقم ٦٧٨٥)_

٣) قوله عن أنس رضى الله عنه :الحديث أخرجه البخارى فى نفس الباب رقم ٩٥ وفى (٢\٩٢٣) كتاب الإستيذان باب التسليم والإستيذان ثلاثاً رقم ٦٢٤٤ والترمذى فى جامعه فى كتاب الإستيذان باب ما جاء فى كراهية أن يقول عليك السلام مبتدئاً رقم ٢٧٢٣ وفى كتاب المناقب باب قول أنس رضى الله عنه كان رسول الله ﷺ يعيدالكلمة ثلاثاً) رقم ٣٦٤٠)

رجال الحديث

① عبدة رحمه الله: داابوسهل بن عبده بن عبده بن عبدالله بن عبده الخزاعى الصفاربصرى رحمه الله دې.[1] دوى د حسين بن على جعفى ،روح بن عباده،ابوعاصم النبيل، عبدالصمد بن عبدالوارث، محمدبن بشرعبدى، يزيدبن هارون ،ابوداود حفرى ، اوابوداود طيالسى رحمهم الله وغيره نه علم حديث حاصل كړې دې.
ددوى نه حديث حاصلونكو كښې امام بخارى،امام ابوداود ،امام ترمذى، امام نسائى،امام ابن ماجه ،ابواسحاق ابراهيم بن فهد ساجى،يحيى ساجى، ابوحاتم محمدبن ادريس رازى،اوامام ابن خزيمه رحمهم الله وغيره ډيرحضرات دى.[2]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.((صدوق))[3]

امام نسائى رحمه الله فرمائى.((ثقة))[4]

امام ابن حبان رحمه الله فرمائى.((مستقيم الحديث))[5]

امام دارقطنى رحمه الله فرمائى.((ثقة))[6]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((ثقة))[7]

۲۵۸ﻫ كښې يا دې ته نزدې نزدې دوى وفات شوى دى.[8]

② عبدالصمد رحمه الله: دا عبدالصمدبن عبدالوارث بن سعيدبن ذكوان تميمى عنبرى تنورى ،بصرى رحمه الله دې.ددوى كنيت ابوسهيل دې.[9]
دوى دخپل پلارعبدالوارث بن سعيد نه علاوه د ابان بن يزيد عطار ، ابراهيم بن سعد زهرى،هشام الدستوائى،عكرمه بن عمار،ابوخالدبن دنيار ،اسماعيل بن مسلم عبدى،ربيعه بن كلثوم ،شعبه بن الحجاج،همام بن يحيى، حرب بن شداد ،اوحماد بن سلمه رحمهم الله وغيره نه دحديث روايت كوى

---

[1])تهذيب الكمال(۵۳۷\۱۸)_
[2])دشيوخواوتلامذو دپاره اوګورئ.((تهذيب الكمال (۵۳۷\۱۸و ۵۳۸)_
[3])تهذيب الكمال(۵۳۸\۱۸)_
[4])المصدر السابق)_
[5])الثقات لابن حبان(۴۳۷\۸)-
[6])تهذيب التهذيب(۴۶۰\۶)
[7])تقريب التهذيب(۳۶۹) رقم ۴۲۷۲)_
[8])الكاشف (۶۷۷\۱) رقم ۳۵۲۸) وتهذيب التهذيب(۴۶۱\۶)_
[9])تهذيب الكمال(۹۹\۱۸) وسير أعلام النبلاء(۵۱۶\۹)_

اودوى نه روايت كونكوكښې ،امام يحيى بن معين،امام اسحاق بن راهويه،امام احمدبن حنبل،امام محمدبن بشاربندار،،هارون بن عبدالله حمال ، عبد بن حميد ،محمدبن يحيى ذهلى،حجاج بن الشاعر،ابوقلابه رقاشى، او ددوى خوني عبدالوارث بن عبدالصمد ﷺ وغيره حضرات دى.[1]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.«صدوق صالح الحديث»[2]

ابن سعد رحمه الله فرمائى.«وكان ثقة إن شاء الله»[3]

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.«حجة»[4]

دغه شان دوى فرمائى«الإمام الحافظ الثقة»[5]

ابن معين رحمه الله فرمائى.«وكان والله ثقة»[6]

امام حاكم فرمائى.«ثقة مأمون»[7]

امام قانع رحمه الله فرمائى.«ثقة يخطئ»[8]

امام علي بن المدينى رحمه الله فرمائى.«عبد الصمد ثبت في شعبة»[9]

ابن نمير رحمه الله هم ددوى توثيق كړې دې.[10]

ابن حبان رحمه الله دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.[11]

په ۲۰۷ هـ كښې وفات شوى وو.[12] رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

③ عبدالله بن المثنى رحمه الله: دوى ابوالمثنى عبدالله بن المثنى بن عبدالله بن انس بن مالك انصارى رحمه الله دى.[13]

---

[1] دشيوخو اوتلامذو دپاره اوګورئ(تهذيب الكمال (١٨\١٠٠و ١٠٢) وسير أعلام النبلاء(٩\٥١٦و ٥١٧)
[2] تهذيب الكمال(١٨\١٠٢)_
[3] الطبقات لابن سعد(٧\٣٠٠)_
[4] الكاشف(١\٣٥٣) رقم ٣٣٧٦)-
[5] سير أعلام النبلاء(٩\٥١٦)_
[6] تعليقات تهذيب الكمال(١٨\١٠٢)_
[7] تهذيب التهذيب(٦\٣٢٨)-
[8] المصدر السابق)_
[9] المصدر السابق)_
[10] المصدر السابق)_
[11] الثقات لابن حبان(٨\٤١٤)_
[12] تهذيب الكمال(١٨\١٠٢)_
[13] تهذيب الكمال(١٦\٢٥)_

دوى دخپل ترۀ ثمامه بن عبدالله بن انس،ثابت بنانى،حسن بصرى، عبدالله بن دينار،على بن زيد بن جدعان،فضاله بن حصين عطار،موسى بن انس بن مالك،اونضربن انس بن مالك ﷺ نه دحديث روايت كړې دې.

ددوى نه عبدالصمد،عبدالوارث محمدبن عبدالله انصارى،مسددبن مسرهد،مسلم بن ابراهيم،معلى بن اسد اوخالدبن خداش ﷺ وغيره حضراتو روايت كړې دې.(١)

امام يحيى بن معين،ابوزرعه،اوابوحاتم ﷺ فرمائى.«صالح»(٢)

ابوحاتم ورسره د«شيخ»زيادت هم كړې دې.(٣)

امام ترمذى رحمه الله فرمائى.«ثقة»(٤)

امام عجلى رحمه الله فرمائى.«ثقة»(٥)

امان ابن حبان رحمه الله دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.اوليكلى ئې دى.«ربما أخطأ»(٦)

دابن معين رحمه الله نه ددوى په باره كښې «ليس بشئ» هم منقول دى.(٧)

زكريا ساجى رحمه الله فرمائى.«فيه ضعف لم يكن من أهل الحديث روى مناكير»(٨)

امام نسائى رحمه الله فرمائى«ليس بالقوى»(٩)

امام ابوداود رحمه الله فرمائى.«لا أخرج حديثه»(١٠)

امام ابوداود ددوى په باره كښې د ابوسلمه نه نقل كړى دى.«وكان ضعيفاً منكرالحديث»(١١)

البته امام دارقطنى رحمه الله دوى ته يوځل ثقه وئيلى دى.اوبل ځل ئې ضعيف ګرځولې دې.(١٢)

امام عقيلى رحمه الله فرمائى«لايتابع على أكثر أحاديثه»(١٣)

---

١) دشيوخ اوتلامذه دپاره اوګورئ تهذيب الكمال (١٦\٢٥و ٢٦)_

٢) تهذيب الكمال(١٦\٢٦)_

٣) المصدرالسابق)_

٤) جامع الترمذى كتاب العلم باب ما جاء فى الأخذبالسنة وإجتناب البدعة رقم ٢٦٧٨)_

٥) تهذيب الكمال(١٦\٣٨٨)_

٦) تهذيب الكمال(١٦\٢٧)_

٧) ميزان الإعتدال(١٢\٥٠٠) رقم(٤٥٩٠)_

٨) تهذيب الكمال(١٥\٣٨٨) وميزان الإعتدال(١٢\٤٩٩) رقم ٤٥٩٠)_

٩) تهذيب الكمال(١٦\٢٧)_

١٠) المصدرالسابق)_

١١) الضعفاء الكبيرللعقيلى(١٢\٣٠٤) رقم ٨٨٢)_

١٢) تهذيب الكمال(١٥\٣٨٨)_

١٣) الضعفاء للعقيلى(١٢\٣٠٤) رقم ٨٨٢)_

خلاصه دا شوه چه عبدالله بن مثنى بعضې حضراتومثلاً امام ترمذى، امام عجلى وغيره مطلقاً ثقه ګرخولې دې.اوبعضې حضراتومثلاً ابن معين،ابوزرعه،اوابوحاتم وغيره د ده توثيق کړې دې البته د توثيق اعلى الفاظ ئې نه دى استعمال کړې.اوبعضې حضراتو ددوى تضعيف کړې دې.

چه دې ټولواقوالوته اوکتلې شى.نوصحيح رائې هغه ده.کومه چه حافظ ابن حجر رحمه الله قائمه کړې ده.يعنى «صدوق كثير الغلط»[1]

يعنى ددوى په عدالت کښې خوځه کمې نشته.البته د ضبط د کمى په وجه ضعيف ګرخولې شوې دې.

ترکومې پورې چه په صحيح بخارى کښې د داسې راوى د روايت تعلق دې.نواګرچه عبدالله بن مثنى رحمه الله د صحيح بخارى د عامو راويانوپشان مضبوط نه دې.خوبعضې وخت امام بخارى رحمه الله په خپل اجتهاد سره د بعضې داسې راويانوبعضې داسې مخصوص روايتونه قبلوى.په کوموکښې چه انکار نه وى.[2] بيا خاص کرچه متابع موجود وى.دلته هم داسې ده.

چه په صحيح بخارى رحمه الله کښې د عبدالله بن مثنى رحمه الله په رواياتوباندې غور اوکړې شى.نومعلومه به شى.چه ددوى زيات روايات دخپل تره ثمامه نه دى.اوسرې دخپل خاندان داحاديثو زيات اهتمام کوى.ددې وجې ددوى نه ئې روايت قبول کړې شوى دى.[3] حالانکه يو روايت د ثابت بنانى رحمه الله نه نقل کوى.په هغې کښې ددوى تره ثمامه هم شريک دې.او د هغوى متابع روايت هم موجود دې.دغه شان يو روايت دعبدالله بن دينار رحمه الله نه نقل دې دهغې متابع هم موجود دې.[4]

ذکرشوى تقرير په رڼا کښې د امام ابن معين قول چه «ليس بشئ» دامام نسائى قول «ليس بالقوى» مونږ ديومخصوص روايت سره خاص کوو.[5] ددې رواياتوپه بناء امام بخارى رحمه الله د دوى روايتونه قبول کړى دى.والله اعلم.

دامام بخارى رحمه الله نه علاوه امام ترمذى،امام ابن ماجه رحمهما الله هم ددوى په احاديثو احتجاج کوى.[6] رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

---

[1] تقريب التهذيب (ص.٣٢٠) رقم (٣٥٧١٠)_

[2] قال الحافظ رحمه الله وقد تقرر أن البخارى حيث يخرج لبعض من فيه مقال لا يخرج شيأ مما أنكر عليه فتح البارى (١٨٩\٢)-

[3] والذى أنكر عليه إنما هو من روايته عن غيرعمه ثمامة، والبخارى إنما أخرج له عن عمه هذا الحديث وغيره ولاشک أن الرجل أضبط لحديث آل بيته من غيره فتح البارى(١٨٩\١)_

[4] هدى السارى(ص.٤١٦)_

[5] قال الحافظ فى فتح البارى(١٨٩\١) وقال النسائى ليس بالقوى قلت القائل الحافظ لعله أراد فى بعض حديثه .. وقول ابن معين رحمه الله ليس بشئ أراد فى حديث بعينه سل عنه)-

[6] هدى السارى(٤١٦)_

⑥ ثمامه بن عبدالله رحمه الله: دا ثمامه بن عبدالله بن انس بن مالك انصارى بصرى رحمه الله دي. دوى دبصرې قاضي هم پاتې شوى دى.[1]

دوى دخپل نيكه انس بن مالك رضي الله عنه نه علاوه دحضرت براء بن عازب. اوحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه هم دحديث روايت كړې دې. اگرچه ددوى د حضرت ابوهريره رضي الله عنه سره ملاقات نه وو شوې.

ددوى نه په روايت كونكوكښې حبيب بن الشهيد، حسين بن واقد مروزى، حمادبن سلمه. حميدالطويل، عبدالله بن عوان، ددوىٰ ورارهٔ عبدالله بن مثنى، عزره بن ثابت انصارى. عوف الاعرابى، قتاده بن دعامه، «وهومن أقرانه» مالك بن دينار، اومعمربن راشد رحمهم الله وغيره دى.[2] امام احمدبن حنبل اوامام نسائى رحمهماالله فرمائى. «ثقة»[3]

امام عجلى رحمه الله فرمائى. «تابعى ثقة»[4]

ابن شاهين رحمه الله هم ددوى توثيق كړې دې.[5]

ابن حبان رحمه الله دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى[6]

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى. «ثقة»[7]

دغه شان دوى فرمائى. «وكان من العلماء الصادقين ولى قضاء البصرة وكان يقول صحبت جدى ثلاثين سنة»[8]

البته حافظ ابن عدى رحمه الله دابويعلى په واسطه د امام يحيى بن معين رحمه الله نه ددوى تضعيف ته اشاره كړې ده.[9]

په اصل كښې د امام يحى بن معين رحمه الله تضعيف مطلقاً نه دې بلكه د بخارى د يو روايت په باره كښې دې. كوم چه د «كتاب الصدقات» په نوم سره مشهور دې. دا مكتوب حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه حضرت انس رضي الله عنه ته په هغه وخت كښې وركړې وو كله چه نې هغه بحرين ته ليږل.[10]

---

[1] تهذيب الكمال(٤٠٥\٤)_

[2] د استاذانو اوشاگردانودتفصيل دپاره اوگورئ تهذيب الكمال(٤٠٥\٤و ٤٠٦)_

[3] تهذيب الكمال(٤٠٦\٤)_

[4] تهذيب الكمال(٢٩\٢)_

[5] تعليقات تهذيب الكمال(٤٠٨\٤)_

[6] الثقات لابن حبان (٩٦\٤)_

[7] الكاشف(٢٨٥\١) رقم ٧١٦_

[8] سير أعلام النبلاء(٢٠٥\٥)_

[9] الكمال لابن عدى(١٠٨\٢)_

[10] صحيح بخارى (١٩٥\١و ١٩٦)_ كتاب الزكاة باب زكاة الغنم رقم ١٤٥٤_

ددې كتاب په باره كښې د بعضې محدثينو ﷺ وينا ده.چه دحضرت انس رضي الله عنه نه دوى ته ددې سماع حاصله نه ده.دغه شان دعبدالله بن مثنى نه ثمامه ته ددې باقاعده سماع حاصله نه ده.(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله په مقدمه د فتح البارى كښې ددې كافى اوشافى جواب ليكلې دې.(٢) حاصل دا چه امام يحيى بن معين رحمه الله خو اول د ثمامه به عبدالله مطلقاً تضعيف نه دې كړې.بلكه دهغوى دا تضعيف ديوخاص روايت سره مختص دې.بيا په دغه خاص روايت كښې هم ددوى تضعيف معتبر نه دې.هم دا وجه ده.چه حافظ ابن عدى رحمه الله ددوى په ترجمة كښې ليكى.«ولثمامة عن أنس أحاديث وأرجوانه لابأس به وأحاديثه قريبة من غيره وهوصالح فيمايرويه عن أنس عندى»

خلاصه دا چه ثمامه بن عبدالله ثقه راوى دې.چا هم ددوى تعضيف نه دې كړې.نوحافظ چه دوى صرف «صدوق» گرځولې دې.دا خبره قابل د غورده.(٣) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

⑤ **انس رضي الله عنه:** دحضرت انس رضي الله عنه حالات په كتاب الايمامن كښې د«باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه» لاندې ذكركړې دې.(٤)

قوله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَلَّمَ سَلَّمَ ثَلَاثًا: حضرت انس رضي الله عنه دنبى ﷺ په باره كښې نقل كوى.چه كله به نبى ﷺ سلام كولو.نودرې خله به ئې سلام كولو.

علامه خطابى رحمه الله فرمائى.چه دنبى ﷺ درې خله سلام كول د استيذان په موقع باندې وو يعنى كله چه به نبى ﷺ چاته تشريف يوړلو.نواول به ئې سلام كولو.كه اجازت به ورته ملاؤ نشو.نوبه دويم خل به ئې سلام كولو.اودهغه شان كه په دويم خل به هم اجازت ملاؤ نشو.(يعنى چا به د سلام جواب ورنكړو) نو نبى ﷺ به په دريم خل سلام اوكړو.(٥) ددى تائيد د نبى ﷺ ددې ارشاد نه هم كيږى.په كوم كښې چه نبى ﷺ فرمائيلى دى.«إذا استأذن أحدكم ثلاثاً فلم يؤذن له فليرجع»(٦)

دغه شان دحضرت سعدبن عباده رضي الله عنه واقعه ده.چه نبى ﷺ ددوى كورته تشريف يوړو.سلام

---

(١)قاله الدارقطنى انظرهدى السارى،(ص.٣٥٧و) الفصل الثامن الحديث الحادى والعشرون)_

(٢)هدى السارى(٣٥٧) الفصل الثامن الحديث الحادى والعشرون وفتح البارى (٣١٨\١٣) كتب الزكاة باب زكاة الغنم)_

(٣)تقريب التهذيب(١٣٤) رقم ٤٥٣)_

(٤)كشف البارى(٤\١٢)_

(٥)أعلام الحديث(٢٠٨\١)-

(٦)صحيح بخارى(٩٢٣\٢) كتاب الإستيذان باب التسليم والإستيذان رقم (٥١٨٥)_

نې اوکړو خوجواب ورته ملاؤ نشو.نبی ﷺ دوباره سلام اوکړو.خوجواب ملاؤ نشو.په دريم خل نې سلام اوکړو.خوجواب ملاؤ نشو.نبی ﷺ واپس روان شو.حضرت سعد رضی الله عنه په نبی ﷺ پسې ورمنډه کړې.اوعرض نې اوکړو.يا رسول الله مابه هرخل په خپلو غوږونوستاسو سلام اوريدل.اوپه مزه به مې جواب درکولو.په زوره مې جواب نه درکولو.دې دپاره چه ستاسود سلام برکتونه راته زيات نه زيات حاصل شى.دغه شان نبی ﷺ دوباره هغوی سره دهغوی کور ته واپس شو.(١)

امام اسماعيلى رحمه الله هم دا ذکرکړى دى.چه دا سلام،سلام داستيذان دې.(٢)

علامه سندهى رحمه الله هم دا قول اختيارکړې دې.(٣)

خوپه دې باندې اشکال دا دې.چه داستيذان دپاره چه کله سلام اوکړې شى.اوپه اول خل اجازت ملاؤ شى.نودوباره د سلام کولوحاجت نشته.(٤)

ددې جواب دا دې.چه درې خله د استيذان مطلب دا نه دې.چه هميشه دپاره به درې خله سلام اچوى.بلکه مطلب دا دې.چه د نبی ﷺ د استيذان آخرى حد درې خله وو که په اول خل به اجازت ملاؤ شو.هغه به کافى وو.کنى په دويم خل به نې سلام اچولو که اجازت به ملاؤ شوتيك به وه.کنى په دريم خل به نې سلام اچولو.که اجازت به ورته ملاؤ شو.نوښه کنى واپس به شو.(٥)

علامه کرمانى رحمه الله فرمائى.چه په درې سلامونوکښې به اول د استيذان دپاره وو اودويم به د تحيه دپاره وو.يعنى د ملاقات سلام وو.اودريم به د توديع يعنى د رخصتۍ سلام وو.(٦)

خوحضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى.چه دا سلامونه په استيذان.تحيه او توديع باندې حمل کول اګرچه د معنى په اعتبارسره صحيح دى.خو دباب په مناسبت سره صحيح نه دى.(٧)

شاه ولى الله رحمه الله فرمائى.چه دلته په هره موقع باندې درې ځله سلام کول مراد نه دى.بلکه چه کله به جمع عفيره وه.اوخلق به خوارۀ وارۀ وو.نو نبی ﷺ به د سلام د رسولودپاره درې خله سلام کولو.يوه مخامخ.دويم ښى طرف ته اودريم ګس طرف ته.ځکه چه د نبی ﷺ دسلام به ټولوارمانى وو.(٨)

حضرت کشميرى رحمه الله فرمائى.چه کله به نبی ﷺ لوې جمعې ته وردا خليدو.نويوسلام خو به نې د داخليدو په وخت کښې کولو.دويم سلام چه کله به د مجلس مينځ ته اورسيدو او

(١)سنن أبى داود كتاب الأدب بَب كم مرة يسلم الرجل فى الإستيذان رقم (٥١٨٥)_

(٢)فتح البارى(١١/١٨٩)_

(٣)حاشية السندى على البخارى(١/٥١)-

(٤)شرح الكرمانى(٢/٨٦)_

(٥)إيضاح البخارى(٦/١٢٤)_

(٦)شرح الكرمانى(٢/٨٦)_

(٧)لامع الدرارى(٢/٣٢٧و ٣٢٨)_

(٨)إيضاح البخارى(٦/١٢٥)_

دريم سلام چه كله به دمجلس آخرته اورسيدو كولو (١)

قوله وَإِذَاتَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا: اوكله چه به نبى ﷺ څه خبره كوله.نوهغه به نې درې خله كوله.دكلمې نه مراد نحوى كلمه مراد نه ده.بلكه خبرې اترې مراد دى.

په وړاندينى حديث كښې د «حتى تفهم عنه» قيد هم موجود دې.دهغې په رڼړا كښې دا معلوميږى.چه دنبى ﷺ په هرخانې كښې دتكرار عادت نه وو.بلكه تكراربه نې په هغه موقع كولو.په كومه چه به افهام مقصود وو.مثلاً چه نبى ﷺ سره به ويره وه.كه خبره يوځل واورى.نوزده به نې نكړى.يا به نبى ﷺ په هغه موقع باندې تكراركولو.په كومه موقعه چه به نې ابلاغ ، تعليم اوتبليغ مقصود وو.يا چه به كله مجمع زياته وه.اوآواز به خلقو ته نه رسيدل.يا به زجرمقصود وو.نونبى ﷺ به تكراركولو.

كه دائمى عادت وو.نوصحابه كرامو ﷺ چه دنبى ﷺ ارشادات نقل كول.نودا به نې ولې ونيل.چه «قالها ثلاثاً» يا «كررها ثلاثا» وغيره.په مخصوص مواقعوكښې تكراردرې خبرې دليل دې.چه تكرار دائمى عادت نه وو.بلكه په اهمو مواقعوكښې به نې تكراركولو.والله اعلم.

تنبيه دا خبره دې معلومه وى.چه دا حديث زمونږ د پاك وهند په نسخوكښې موجود نه دې.بلكه په مصرى نسخوكښې دې.(٢)

علامه قسطلانى ﷺ فرمائى.چه دا روايت د ابن عساكراوابوذر په نسخوكښې نشته.حالانكه راوان حديث هم دا حديث دې.دهغې سند هم دا دې.نود دويم حديث په وجه د اولنى حديث نه استغناء هم كيدې شى.(٣) والله اعلم.

[٩٥] حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَنَسٍ (٤) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتَّى تُفْهَمَ عَنْهُ وَإِذَا أَتَى عَلَى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلَاثًا [ر: ٥٨٩٠]

دا سند داولنى حديث لاندې بعينه تيرشوې دې.هلته تراجم رجال ليكلى شوى دى.

قوله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَاتَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتَّى تُفْهَمَ عَنْهُ: دنبى كريم ﷺ په باره كښې نقل كوى.چه كله به دوى خبرې كولې.نودرې خله به نې خبرې كولې.دې دپاره چه ددوى خبرې ښه زده كړې شى

---

(١)فيض البارى(١٩٢\١)_

(٢)النزالمتوارى فى معادن لامع الدرارى وصحيح البخارى(٣٢٥\٢)_

(٣)ارشاد السارى للقسطلانى(١٩٢\١)_

(٤)قوله عن أنس قد سبق تخريج هذا الحديث آنفاً)-

قوله وَإِذَا أَتَى عَلَى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلَاثًا: اوكله چه به نبی ﷺ يوقوم ته تشريف اوړلو اوسلام به ئې كولو نو دري خله به ئې سلام كولو
دحديث تشريخ دمخكنی حديث لاندې تيره شوې ده.
ترجمه- الباب دحديث الباب نه ښكاره واضح دې والله اعلم

[٩٦] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو(١) قَالَ تَخَلَّفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ سَافَرْنَاهُ فَأَدْرَكَنَا وَقَدْ أَرْهَقْنَا الصَّلَاةَ صَلَاةَ الْعَصْرِ وَنَحْنُ نَتَوَضَّأُ فَجَعَلْنَا نَمْسَحُ عَلَى أَرْجُلِنَا فَنَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا [ر: ٦٠]

رجال الحديث

① **مسدد** رحمه الله: دا مشهورمحدث مسدد بن مسرهد اسدی رحمه الله دې. ددوی مختصر حالات په «كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه» لاندې تيرشوی دی.(٢)

② **ابوعوانه** رحمه الله: دا ابوعوانه وضاح بن عبدالله يشكری رحمه الله دې. ددوی مختصره تذكره هم د «بدء الوحی» كښې د دريم حديث لاندې تيره شوې ده.(٣)

③ **ابوبشر** رحمه الله: دا ابوبشرجعفربن اياس يشكری واسطی بصری دې. ددوی حالات په كتاب العلم كښې د «باب من رفع صوته بالعلم» لاندې تيرشوی دی.

④ **يوسف بن ماهك** رحمه الله: دا يوسف بن ماهك بن بهز اوفارسی مكی دې. ددوی حالات هم په كتاب العلم كښې د «باب من رفع صوته بالعلم» لاندې تيرشوی دی.

⑤ **عبدالله بن عمرو** رضي الله عنهما: دعبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما حالات د «كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» لاندې تيرشوی دی.(٤)

قوله قَالَ تَخَلَّفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ سَافَرْنَاهُ فَأَدْرَكَنَا وَقَدْ أَرْهَقْنَا الصَّلَاةَ صَلَاةَ الْعَصْرِ وَنَحْنُ نَتَوَضَّأُ فَجَعَلْنَا نَمْسَحُ عَلَى أَرْجُلِنَا فَنَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا: حضرت عبدالله بن عمروبن

---

١) قوله عن عبدالله بن عمرو.. قد سبق تخريج هذا الحديث فی كتاب العلم باب من رفع صوته بالعلم رقم ٦٠)
٢) كشف البارى (٢/٢)_
٣) كشف البارى (٤٣٤)_
٤) كشف البارى (١/٦٧٩ گ)_

العاص رضي الله عنهما فرمائي چه رسول الله ﷺ په يوسفر کښې زمونږ نه روسته پاتې شوې وو. اوبيا نې مونږ رالاندې کړو حالانکه په مونږ باندې دمازيګرمونځ راغلې وو. اومونږ اودسونه کول نومونږ په خپلو پوندو باندې اوبه شيندلې. (يعني معمولي وينځل موکول لکه چه مسح وه) نو نبی ﷺ په اوچت آواز سره دوه يا درې خله اووئيل. د پوندو دپاره خرابی ده.

قوله فأدركنا: دکاف په فتحة سره د باب افعال نه د ماضی صيغه ده. دې سره دجمع متکلم صيغې ضميرمنصوب متصل دې. اود «أدرك» فاعل نبی ﷺ دې.

قوله أرهقنا: دقاف په سکون سره دا دباب افعال نه دجمع متکلم صيغه ده. په دې صورت کښې به «الصلاة، صلاة العصر» منصوب وی. دلته دا امکان هم تشته. چه «ارهقتنا» دقاف په فتحة سره وی. په دې صورت کښې به «الصلاة» د فاعل په وجه مرفوع وی.

داصيلی په نسخه کښې «ارهقتنا» دی. په دې صورت کښې به «الصلاة» مرفوع وی. او«صلاة العصر» هم ظاهره ده. چه د بدليت په وجه مرفوع دې. (١)

قوله مرتين أوثلاثا: د راوی شك دې. چه نبی ﷺ «ويل للأعقاب من النار» دوه خله اوفرمائيل که درې خله.

ددې نه معلومه شوه. چه درې خله شرط نه دې. بلکه اصل مقصود تفهيم دې. که د دريو خلونه په کم سره دا مقصود حاصليږی. نوکافی ده. (٢)

دا حديث وړاندې په کتاب العلم کښې په «باب من رفع صوته بالعلم» کښې تيرشوې وو. اوددې ضروری تشريح هم هلته شوې ده. دغه شان وړاندې په کتاب الطهارت کښې به هم راشی.

٣١=بَاب تَعْلِيمِ الرَّجُلِ أَمَتَهُ وَأَهْلَهُ

د مخکنی باب سره مناسبت په دواړو بابونوکښې مناسبت په دې طريقه دې. چه په مخکنی باب کښې دعام تعليم ذکروو. اوپه دې باب کښې د خاص تعليم ذکردې. (٣) والله أعلم.

د ترجمة الباب مقصد حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائی. چه ددې باب نه هم هغه مقصد دې. کوم چه د باب سابق وو. يعنی د ضرورت د تعليم اوتعميم د تعلم مقصود دې. د دې وجې نې په کښې د «أهله» زيادت اوکړو. حالانکه په حديث کښې صرف «أمته» ذکردې. (٤)

---

(١) عمدة القاری (١١٧/٢) وفتح الباری (١٨٩/١)_

(٢) فتح الباری (١٨٩/١)_

(٣) عمدة القاری (١١٧/٢)_

(٤) الأبواب والتراجم (ص٥٣)_

حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى چه د ترجمة الباب مقصد دا دى چه د سړى دپاره د خپلې وينځې نه علم حاصلولوكښې استنكاف (شرم) نه دى كول پكار. دغه شان پكار دى چه مولى ددې په خدمت كښې حرج نه گڼړى تعليم د وينځې اوبى بى حق دې لكه څنگه چه دده خدمت دهغوى په ذمه حق دى.(١)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه د ترجمې مقصد دا دې. چه سړې د نبى ﷺ د ارشاد په وجه چه «كلكم راع وكلكم مسؤل عن رعيته»(٢) په وجه دخپلو كور دخلقو د تعليم ذمه وار دى. چونكه په حديث كښې صرف د تعليم امة ذكررو. دتعليم اهل ذكرنه وو نو په دې خبره باندې د تنبيه وركولودپاره چه دا حكم د وينځې سره خاص نه دې. بلكه اهل ته په طريق اولى سره شامل دې. په ترجمه كښې ئې د «اهل» زيادت اوكړو. لكه چه دا ئې اوخودل چه هركله وينځې ته تعليم وركول مطلوب دې. نوحرانرو ته خو به تعليم وركول په طريقه اولى سره مطلوب وى.(٣)

[٩٧] أَخْبَرَنَا مُحَمَّدٌ هُوَ ابْنُ سَلَامٍ حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ حَيَّانَ قَالَ قَالَ عَامِرٌ الشَّعْبِيُّ حَدَّثَنِي أَبُو بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ(١) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْعَبْدُ الْمَمْلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ يَطَؤُهَا فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ أَجْرَانِ ثُمَّ قَالَ عَامِرٌ أَعْطَيْنَاكَهَا بِغَيْرِ شَيْءٍ قَدْ كَانَ يُرْكَبُ فِيمَا دُونَهَا إِلَى الْمَدِينَةِ [٢٤٠٦، ٢٤٠٩، ٢٤١٣، ٢٨٤٩، ٣٢٦٢، ٤٧٩٥]

---

(١) لامع الدرارى (٣٢٩/٢ و ٣٣٠)_

(٢) صحيح بخارى (١٢٢/١) كتاب الجمعة باب الجمعة فى القرى والمدن رقم ٨٩٣)_

(٣) الكنز المتوارى (٣٢٨/٢)_

قوله عن أبيه الحديث أخرجه البخارى أيضا فى (٣٤٦/١) كتاب العتق باب فضل من أدب جاريته وعلمها رقم ٢٥٤٤ وباب العبد إذا أحسن عبادة ربه ونصح سيده رقم ٢٥٤٧ وباب كراهية التطاول على الرقيق رقم ٢٥٥١ وفى (٤٢٢/١) كتاب الجهاد والسير باب فضل من أسلم من أهل الكتابين رقم ٣٠١١ وفى (٤٩٠) كتاب أحاديث الأنبياء باب ذكر فى الكتاب مريم رقم ٣٤٤٦ وفى (٧٦١/٢) كتاب النكاح باب إتخاذ السرارى ومن أعتق جاريته ثم تزوجها رقم ٥٠٨٣ ومسلم فى صحيحه فى كتاب الإيمان باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد ﷺ إلى جميع الناس ونسخ الملل بملته رقم ٣٨٧ و ٣٨٨) وفى كتاب النكاح باب فضيلة إعتاقه أمته ثم يتزوجها رقم ٣٤٩٩ والنسائى فى سننه فى كتاب النكاح باب عتق الرجل جاريته ثم يتزوجها رقم ٣٣٤٦ و(٣٣٤٧) والترمذى فى جامعه فى كتاب النكاح باب ما جاء فى الفضل فى ذلك رقم ١١١٦ وابن ماجه فى سننه فى كتاب النكاح باب الرجل يعتق أمته ثم يتزوجها رقم ١٩٥٦)_

رجال الحديث

① **محمد رحمه الله:** دا ابوعبدالله بن محمدبن سلام بيكندى دې. ددوى حالات په كتاب الايمان كښې د «باب قول النبى ﷺ انا اعلمكم بالله وأن المعرفة فعل القلب» لاندې تيرشوى دى.[1]

② **المحاربى رحمه الله:** دا عبدالرحمن بن محمد بن زياد محاربى كوفى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابومحمد دې.[2]

دوى دعبدالملك بن عمير، ليث بن ابى سليم، اسماعيل بن ابى خالد ، امام اعمش، فضيل بن غزوان، عاصم الاحول، عماربن سيف، اوليث بن سعد رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.

اوددوى نه روايت كونكوكښې امام احمدبن حنبل، ابوكريب، محمدبن العلاء، محمدبن سلام بيكندى، ابوسعيد الاشج، حسن بن عرفه، هنادبن السرى ، ابوبكربن ابى شيبه. او عثمان بن ابى شيبه رحمهم الله وغيره دى.[3]

امام يحى بن معين رحمه الله فرمائى. «ثقة»[4]

امام نسائى رحمه الله فرمائى. «ثقة»[5]

دغه شان دوى فرمائى «ليس به بأس»[6]

امام ابن سعد رحمه الله فرمائى. «ثقة كثيرالغلط»[7]

امام بزار رحمه الله فرمائى. «ثقة»[8]

ابن شاهين رحمه الله فرمائى. «ثقة»[9]

امام دارقطنى رحمه الله فرمائى. «ثقة»[10]

امام ذهبى رحمه الله فرمائى. «الحافظ الثقة..»[11]

---

[1] كشف البارى (٢\٩٣) _
[2] تهذيب الكمال (١٧\٣٨٦) _
[3] داستاذانواوشاگردانودپاره اوگورئ تهذيب الكمال (١٧\٣٨٦و٣٨٨) وسير أعلام النبلاء (٩\١٣٦و ١٣٧)
[4] تهذيب الكمال (١٧\٣٨٩) _
[5] المصدرالسابق) _
[6] المصدرالسابق) _
[7] الطبقات (٦\٣٩٢) _
[8] كشف الأستارعن زوائد البزار (٣\٢١٩) كتاب علامات النبوة باب مناقب جماعة رقم ٢٦٠٦ _
[9] تعلقات تهذيب الكمال (١٧\٣٨٩) _
[10] تهذيب التهذيب (٦\٢٦٦) _
[11] سير أعلام النبلاء (٩\١٣٦) _

دغه شان دوی فرمائی ((ثقة يغرب))(۱) دغه شان دوی فرمائی ((ثقة صاحب حديث))(۲)
ابن حبان رحمه الله دوی په كتاب الثقات كښې ذكر كړی دی.(۳)
البته ابن معين رحمه الله فرمائی ((يروی المناكير عن مجهولين د احاديث منكرى ففسد حديثه بذلك))(۴)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((صدوق يروی عن مجهولين أحاديث منكرة ففسد حديثه بذلك))(۵)

امام احمد رحمه الله فرمائی ((بلغنا أن المحاربي كان يدلس))(۶)
خلاصه دا چه اكثرو عالمانو رحمهم الله ددوی توثيق كړې دې.خوبعضې عالمانو په دوی بندې كلام هم كړې دې.
تركومې پورې چه په بخاری كښې د دوی د احاديثو د اخراج تعلق دې. نودوی ددې په وجه قابل اعتراض نه دی.چه اول خواكثروحضراتودې ثقه ګرخولې دې دويمه دا چه كومو حضراتو پرې كلام كړې دې.نوهغوی په دې وجه كلام كړې دې.چه دوی د مجهولينونه روايت كوی.نوكه دمجهولينونه روايت نه وی.نود دوی احاديث به بې شكه بې شبهې قابل احتجاج وی.
بيا داخبره دې هم معلومه وی.چه امام بخاری رحمه الله صرف په دوو ځايونوكښې ددوی نه داحاديثو تخريج كړې دې.(۷) خو په دواړو ځايونوكښې ددوی متابع موجود دی.(۸)
دوی په ۱۹۵ھ كښې وفات شوی وو.(۹) رحمه الله تعالى رحمةً واسعةً.

④ صالح بن حيان رحمه الله: دا صالح بن حيان ثوری همدانی كوفی دې.بعضې حضراتو صالح بن صالح بن مسلم بن حيان ونيلی دی.(۱۰) خو..حيان.. د..حی.. په لقب سره زيات مشهور دې.(۱۱)

---

(۱) الكاشف(۲۴۲/۱۱)رقم ۳۳۰۵)_
(۲) ميزان الإعتدال(۵۸۵/۲) رقم ۴۹۵۲)_
(۳) الثقات لابن حبان(۹۲/۷)_
(۴) ميزان الإعتدال(۵۸۵/۲) رقم ۴۹۵۲)_
(۵) المصدرالسابق)_
(۶) المصدرالسابق)_
(۷) يوخويه حديث باب كښې دې.دكوم تخريج چه وړاندې تيرشو.اودويم مقام صحيح بخاری (۱۳۲/۱) كتاب العيدين باب ما يكره من حمل السلاح فى العيدوالحرم رقم ۹۶۶)_
(۸) هدی الساری (ص۴۱۹)_
(۹) الكاشف (۲۴۲/۱۱) رقم ۳۳۰۵)-
(۱۰) تهذيب الكمال(۵۴/۱۳)
(۱۱) فتح البارى(۱۹۰/۱۱)_

دوى كله نيكه طرف ته منسوب كوى اوصالح بن حى وائى اوكله صالح بن حيان.(١)
دوى دعلى بن صالح بن حى اوحسن بن صالح بن حى پلار دے.(٢)
دوى دسلمه بن كهيل،سكاك بن حرب،عاصم الاحول،امام عامرشعبى، عون بن عبدالله اوقاسم بن صفوان رحمهم الله وغيره حضراتو نه روايت كوى.
ددوى نه روايت كونكوكښې ددوى خوئے حسن بن صالح بن حى ،على بن صالح بن حى، حفص بن غياث،سفيان ثورى،سفيان بن عيينه،امام شعبه، عبدالله بن المبارك،عبدالرحمن بن محمد المحاربى،هشيم بن بشير،ابوعوانه اويحى بن زكريا بن ابى زائده رحمهم الله وغيره دى (٣) امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى.«ثقة ثقة»(٤)
امام يحى بن معين او اما نسائى رحمهما الله فرمائى.«ثقة»(٥)
امام عجلى رحمه الله فرمائى.«كان ثقة»(٦)
ابن خلفون رحمه الله فرمائى.«وهو ثقة»(٧)
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.«ثبت»(٨)
تنبيه حافظ مزنى رحمه الله د امام عجلى رحمه الله نه د توثيق نقل كولونه پس زياتى دا ليكى «وقال موضع آخر جائز الحديث يكتب حديثه وليس بالقوى» (٩)
ددوى په تابعدارئ كښې حافظ ذهبى رحمه الله په «ميزان الإعتدال» كښې ليلكى دى «ليس بقوى»(١٠) بيا سبط بن العجمى رحمه الله هم ددوى اتباع كړے ده اوليكلى ئے دى «قال العجلى عن صالح بن صالح بن حى ليس بقوى» (١١)حالانكه حقيقت دا دے چه د امام عجلى رحمه الله دا كلام ديوبل راوى صالح بن حيان قرشى كوفى په باره كښې دے.(١٢)

---

(١)الكاشف(١\٤٩٥) رقم(٢٣٤٢)-
(٢)تهذيب الكمال(١٣\٥٥)_
(٣) داستاذانو او شاګردانودپاره اوګورئ تهذيب الكمال(١٣\٥٥و ٥٦)_
(٤)تهذيب الكمال(١٣\٥٦)_
(٥)تهذيب الكمال(١٣\٥٦) وتهذيب التهذيب(٤\٣٩٣)_
(٦)المصادر السابقة)_
(٧)تهذيب الكمال(٤\٣٩٣)_
(٨)الكاشف(١\٤٩٥) رقم ٢٣٤٢)_
(٩)تهذيب الكمال(١٣\٥٦)_
(١٠)ميزان الإعتدال(٢\٢٩٥) رقم ٣٨٠٠)_
(١١)حاشية السبط على الكاشف للذهبى (١\٤٩٥) رقم ٢٣٤٢)-
(١٢)انظر ترجمة، فى تهذيب الكمال(١٣\٣٣) وتهذيب التهذيب(٤\٣٨٦)_

حافظ ابن حجر رحمه الله په تهذيب التهذيب اوتقريب التهذيب كښې په دې باندې تنبيه وركړې ده.[1]

دصالح بن حن صالح بن حيان وفات په ۱۵۲ھ كښې شوې وو.[2] رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

④ **عامر الشعبى** رحمه الله: دا مشهور تابعى، محدث، فقيه امام عامربن شراحيل شعبى كوفى رحمه الله دى. د دوى مختصرحالات مخكښې په كتاب الايمان كښې د «باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» لاندې تيرشوى دى.[3]

⑤ **ابوبردة** رحمه الله: دا دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه خوئې دې.ددوى نوم عامريا حارث دې.ددوى حالات په «كتاب الإيمان» كښې د «باب أى الإسلام أفضل» لاندې تيرشوى دى.

⑥ **حضرت ابوموسى اشعرى** رضي الله عنه: د دوى حالات په ذكرشوى باب كښې تيرشوى دى.[4]

قوله: قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ: حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه فرمائى.چه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى.درې كسان داسې دى.چه درې كسان داسې دى.چه هغوى ته به دوه اجرونه ملاويږى.

«ثلاثة» په «ثلاثة رجال» يا «رجال ثلاثة» په معنى دى.اودا مبتداده. او «لهم أجران» خبر دې.

ايا دوه اجرونه په درې كسانوكښې محصور دې؟ دلته اشكال كيږى.چه د حديث نه خو دا معلوميږى.چه درې كسانوته به دوه اجرونه ملاويږى.يو «رجل من أهل الكتاب آمن بنبيه وآمن بمحمد صلى الله عليه وسلم» او دويم كس «العبد المملوك إذا أدى حق الله وحق مواليه» اودريم كس «رجل كانت عنده أمة فأدبها فأحسن تأديبها وعلمها فأحسن تعليمها ثم أعتقها» حالانكه په قرآن كريم كښې د ازواج مطهراتو په باره كښې راغلى دى. ﴿وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ﴾[5]

علامه سراجى الدين بلقينى رحمه الله فرمائى.چه د چونكه د ازواج مطهراتو پورې خاص دې. دقيامت پورې عام حكم نه دې.په خلاف ددغه درې كسانو،څكه چه ددوى حكم ترقيامته پورې دې.نوڅكه دلته د درې كسانو ذكر اوشو.[6]

خوپه دې باندې اشكال كيږى.چه ددې نه علاوه نور هم بعضې اعمال اوافعال داسې دى.چه په هغې باندې دوه اجرونه ملاويږى.مثلاً «مثل الذى يقرأ القرآن وهو حافظ له مع السفرة الكرام

---

[1] تهذيب الكمال(۳۹۳\٤) وتقريب التهذيب(۲۷۲) رقم ۲۸۶۵-

[2] تهذيب التهذيب(۳۹۳\٤)_

[3] كشف البارى(۶۷۹\۱)_

[4] المصدر السابق)-

[5] الأحزاب:۳۱)_

[6] فتح البارى(۱۹۱\۱)_

ومثل الذى يقرأ وهويتعاهده وهوعليه شديد فله أجران»[1]

دغه شان په حديث کښې دی «إذاحكم الحاكم فاجتهد ثم أصاب فله أجران»[2]
ددې احاديثو په رڼا کښې غوره دا دی چه دا اوونيلې شی چه د دريو عدد د احتراز دپاره نه دې بلکه دصحيح قول مطابق دعدد مفهوم معتبرنه وی نودیوعدد د تنصيص دهغې نه علاوه د نورو اعدادو نفی نه کوی. ([3])
دوه اجرونه اجرسره د درې کسانوتخصيص وجه په دې خبره کښې اختلاف دې چه دوی ته دوه اجرونه ملاويږی.ددې څه سبب دې؟
بعضې حضرات فرمائی.چه چونکه دوی دوه کارونه کړی دی.ددې وجې دوی ته دوه اجرونه ملاويږی.
خوپه دې باندې اشکال واردیږی.چه په دې کښې ددوی څه خصوصيت دې؟ څوك چه هم دوه عملونه کوی.نوهغوی ته دوه اجرونه ملاويږی.([4])
دبعضې حضراتو رائې دا ده.چه دې درې واړو ته به په هريوکارباندې دوه دوه اجرونه ملاويږی.
خوپه دې باندې اشکال دا دې.چه دې درې واړو داسې څه لويه کارنامه نه ده کړې چه اوس به دوی ته په هريوعمل باندې دوه دوه اجرونه ملاويږی.([5])
زمونږ دعالمانواومشائخو ﷺ دا رائې ده.چه په کومو اعمالو او افعالوکښې تزاحم وی.په هغې کښې به ورته دوه دوه اجرونه ملاويږی.([6])
په داسې اعمالوکښې د دوه اجرونو ملاويدل څه دعقل نه خلاف خبره نه ده.څکه چه د نبی ﷺارشاد دې.«مثل الذى يقرأ القرآن وهو حافظ له مع السفرة الكرام،ومثل الذى يقرأ وهو يتعاهده وهوعليه شديد،فله أجران»[7]

---

[1])صحيح البخارى (٧٣٥\٢) كتاب التفسير،سورة عبس رقم ٤٩٣٧)_
[2])صحيح البخارى (١٠٩٢\٢) كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة باب أجرالحاكم إذا إجتهد فأصاب أو أخطاء رقم (٧٣٥٢) وصحيح مسلم كتاب الأقضية باب بيان أجرالحاكم إذا إجتهد فأصاب أو أخطأ ٤٤٨٧ و ٤٤٨٩) وسنن أبى داود كتاب القضاء باب فى القاضى يخطئ رقم ٣٥٧٤ وسنن ابن ماجه أبواب الأحكام باب الحاكم يجتهد فصيب الحق رقم ٢٣١٤)_
[3])عمدة القارى (١٢٢\٢)_
[4])الكنزالمتوارى (٣٢٩\٢)_
[5])المصدرالسابق)_
[6])المصدرالسابق وفضل البارى(١٠٤\٢)_
[7])أخرجه البخارى فى صحيحه (٧٣٥\٢) كتاب التفسيرسورة عبس. رقم ٤٩٣٧) واللفظ له وأخرجه مسلم فى كتاب صلاة المسافرين باب فضل الماهر بالقرآن والذى يتتعتع فيه رقم (١٨٦٢ و ١٨٦٣)_

مطلب دا دې چه يواجرد قراءت دې اوبل اجرد محنت دې.ددې نه دا نه ثابتيږي.چه انخلې په كښې دهغه درجه د مشاق اوحافظ قرآن نه اوچته ده. بنكاره ده.چه د مشقت په وجه دده ثواب زيات دې.

دلته كښې هم كه تاسو غور اوكړئ.نوپه دې درې واړو كښې هريوسره يو مزاحم اومقاوم لګيدلې دې.كوم چه په عمل كښې خلل اوركاوټ جوړيږي.

ګورئ دا اهل كتاب د وړاندې نه په يو حق پيغمبر.اوآسماني دين اوكتاب الهى باندې ايمان راوړونكى دى.په حقيقت كښې چه دهغوى ايمان هرڅنګه وى.كه صحيح وى يا غيرصحيح.معتبر وى.اوكه غيرمعتبر.هغه خلق په خپل ګمان كښې خپل ځان داسې ګڼرى.چه مونږ داسې يو.چه زمونږ داسې پيغمبردې.اوداسې كتاب دې.داسې څيز عادة دانسان په طبيعت كښې بعضې وخت روسته راتلونكى پيغمبرباندې ايمان راوړوكښې اودهغه په اتباع كولو كښې استغناء غوندې پيدا كوى.بلكه يوقسم استنكاف پيدا كوى.بيا خاص كركه چه راتلونكى پيغمبرﷺ دهغوى د كتاب اوپيغمبرﷺ د صداقت اوحقانيت. عظمت او وجاهت،اوجلالت اقراركوى.اوپخپله دهغې په مدح اوتعريف كښې دهغه ژبه لونه وى.څكه چه هغه داګڼرى.چه هركله مونږ سره داسې عظيم الشان پيغمبراوداسې د اوچتې درجې كتاب شته.دكوم تصديق اوتعظيم پيغمبرﷺ دهغوى قران هم كوى.نوبيا مونږ ته څه ضرورت دې.چه مونږ ددې دويم كس تابعدارى اوكړو.ددې وجې به بعضې يهوديانو نبى ﷺ ته «رسول الأمين» وئيل.(¹)

خلاصه دا چه داهل كتابو ايمان صحيح دې اوكه غيرصحيح،معتبردې اوكه غيرمعتبر. هرڅنګه چه وى.خوهغه ايمان دهغوى په نيزد استغناء باعث وو.اوپه نبى ﷺ باندې ايمان راوړو.او دهغوى اطاعت كولوسره متصادم ،مزاحم او مانع وو.

اوس چه كوم اهل كتاب ددې خواهش نفساني د تابعدراۍ نه خالى شى. اودخپلو نفسانى جذباتو مقابله اوكړى.اوسوچ اوفكراوكړى.اوحق اوپيژنى. او په هغې باندې عمل كوى.او د جذبات نفسانيه لاندې د حق دقبلولو نه استنكاف،غرورو اوعدم توجهى نه كوى.ښكاده ده.چه ده د خپل نفس سره سخته مجاهده اوكړه.حظوظ شهوات او لذات ئې پريخودلو كښې ئې سخت مشقت برداشت كړى وى.حق ته ئې په خواهش نفسانى باندې ترجيح وركړه.په دې حيثيت به ده ته په نبى ﷺ باندې ايمان راوړوباندې د نورومسلمانانوپه نسبت زيات اجر ملاويږى.

چه د قرآن كريم په الفاظو باندې غور اوكړې شى.نوددې مطلب دپاره زياته رڼرا ملاويدې شى.دالله تعالى ارشاد دې.﴿أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا﴾ (²) يعنى كوم اهل كتاب چه ايمان راوړى.نوهغوى ته به په خپل ايمان باندې دوه اجرونه ملاويږى.ددې وجې چه هغوى صبر اوكړو.اوصبر خو وائى دې ته .چه يوڅيز دطبيعت نه خلاف وى.نودلته دې خلقوته په

¹)كما فى حديث ابن صياد.أنک رسول الأمين ... أخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الفتن باب ذكر ابن صياد رقم ٧٣٥٤)_

²)القصص : ٥٤)_

ايمان راوړوكښې په كومو كومو مشكلاتو او شداندباندې صبر كول وو.په كوم باندې چه الله تعالى تضعيف اجر مرتب كړو.دا هغه شدائد اومشكلات دى.دكومو ذكرچه اوس اوشو. ددې آيت نه ښكاره معلوميږى.چه داهل كتابو د تضعيف اجر وجه دوه عملونه نه دى.بلكه دطبعت نه خلاف ځيزباندې د صبركولوپه وجه ددوى په يوعمل يعنى په محمد ﷺ باندې ايمان راوړو دوه اجرونه ملاويږى.

هم دغه حال دهغه غلام دې.چه دخپل مولى حق كماحقه ادا كوى.اودالله تعالى حقوق په اعلى اواكمله طريقه باندې ادا كوى.هريوكس ته معلومه ده.چه ده ته به دالله تعالى دحقوقو په ادا كولوكښې څومره مشقت اوتكليف وى.دهغه كس په نسبت سره چه هغه آزاد وى.اوبيا دخپل مولى دحقوقو پوره كولوڅه پرواه نه كوى.نوهركله چه داغلام دا دواړه حقوق په ښه طريقه سره جمع كوى.چه دهغې جمع كول ډيرګران كاردې.ځكه چه دمولى د حقوقو ادا كول د دالله تعالى دحقوقو په ادا كولوكښې مانع اوركاوټ وى.خوچه ددې مزاحم،مانع باوجود هغه دالله تعالى حقوق ادا كوى.نوده ته دوه اجرونه ملاويدل بيخى مناسب اوپه خپل ځائې صحيح دى.

دغه شان دريم كس دې.چه اول خوهغه په وينځه باندې احسانات اوكړل.اوبيا ئې په هغې باندې آخرى احسان دا اوكړو.چه هغه ئې په خپل زوجيت كښې واخستله.لكه چه خپل ځان سره ئې برابر كړه.قرآن كريم د بيبيانود دبرابرى حقوق ذكر كړى دى.﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾[1] اوددې نكاح نه دده صرف شهوت پوره كول مقصود نه وو.ځكه چه رقيت موجود وو.نوبيا هم په دې كښې څه دوطى نه څه ممانعت موجود نه وو.

بيا دا چه داسې نكاح په عرف كښې عار ګنړلې شى.چه د آزادولونه پس ئې ورسره نكاح اوكړه.خودې كس هغه وينځه په خپله نكاح كښې واخسته. اوپه دې ئې خپل احسان مكمل كړو.اوپه دي كښې ئې څه شرم محسوس نكړو .چه يوه وينځه ئې ځان سره برابر كړه.نودې ته په دوو اجرونوملاويدوكښې څه لرې والې نشته.[2]

قوله: رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

يوهغه كس دې.چه هغه داهل كتابوځنى وى.په خپل نبى ئې هم ايمان ساتل.اواوس ئې په محمد ﷺ باندې هم ايمان راوړو.

دكتاب اطلاق په لغت كښې په هركتاب باندې كيږى.خوپه شريعت كښې د كتاب الطلاق په كتب سماويه باندې كيږى.[3]

فقهاء چه كله دا اووائى.چه په كتاب اوسنت كښې دا دى.نوهلته دكتاب نه مراد قرآن كريم وى.

داهل كتابو نه څوک مراد دى؟ داهل كتابونه عام طور يهود او نصارا مراد وى.خودلته ترې

---

[1] البقرة:٢٢٨)_

[2] دتفصيل دپاره اوګورئ فضل البارى (١٠٤/٢و ١٠٧)_

[3] فتح البارى(١٩٠/١)_

خوك مراد دى.آيا دواړه مراد دى.كه صرف نصارا مراددى.په دې كښې اختلاف دې.
ابوعبدالملك بونى وعلامه توربشتى رحمهما الله وغيره وائى چه ددې نه عيسايان مراد دى.(١)
دوى په خپل موقف باندې دوه دلائل بيان كړى دى.
يوه خودا چه هم ددې حديث په دويم سند كښې دا دى.«وإذا آمن بعيسى ثم آمن بي...» راغلى دى.(٢) دويم دليل دا دې چه يهوديت دعيسائيت په وجه منسوخ شوې وو.نو په دين منسوخ باندې ايمان راوړول څه فائده نه وركوى.(٣)
علامه طيبى،علامه كرمانى،حافظ ابن حجر،ملاعلى قارى رحمهم الله وغيره وائي دا ده چه اهل كتاب عام دى.يهود اونصارا دواړه ترې مراد دى.(٤)
دامام بخارى رحمه الله رجحان هم دې طرف ته دې.خكه چه هم دا حديث دوى د حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه نه په كتاب الجهاد كښې تخريج كړې دې. اوپه هغې باندې ئې ترجمه قائمه كړې ده.«باب فضل من أسلم من أهل الكتابين»(٥)
ددې حضراتو يودليل دا دې.چه كله په كتاب اوسنت كښې داهل كتابوذكراوشو.نومراد ترې هم دا دواړه وى.
دويم دليل دا دې.چه په قرآن كريم كښې ﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤۡمِنُونَ۝ وَإِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّنَآ إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلِهِۦ مُسۡلِمِينَ۝ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡتَوۡنَ أَجۡرَهُم مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُواْ﴾(٦)
آياتونه حضرت عبدالله بن سلام اوددوى دملګرو دايمان راوړو په باره كښې نازل شوى دى.
په طبرانى كښې د رفاعه قرظى رضي الله عنه نه روايت دې.«نزلت هذه الآيات فى وفيمن آمن معى»(٧)
دغه شان طبرانى دعلى بن رفاعه قرظى نه په صحيح سند سره نقل كړى دى.«خرج عشرة من أهل الكتاب منهم أبي رفاعة إلى النبي صلى الله عليه وسلم فآمنوا به فأوذوا فنزلت ﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤۡمِنُونَ۝﴾»(٨)
دا ټول د بنى اسرائيلو سره تعلق ساتى.(٩)

---

(١) فتح البارى(١٩١١١)_
(٢) صحيح البخارى(٤٩٠١١) كتاب أحاديث الأنبياء باب واذكر فى الكتاب مريم إذا انتبذت من أهلها رقم ٣٤٤٦)
(٣) فتح البارى(١٩٠١١)_
(٤) فتح البارى(١٩١١١) وشرح الطيبى(١٢٦١١) وشرح الكرمانى(٨٨١٢) والمرقاة (٧٨١١)_
(٥) صحيح البخارى (٤٢٢١١) كتاب الجهاد والسير)_
(٦) القصص:٥٢تو ٥٤)_
(٧) فتح البارى(١٩١١١) والمعجم الكبير للطبرانى (٤٤٢١٥) أحاديث رفاعة بن قرظة القرظى رقم ٤٥٦٣و ٤٥٦٤) والدرالمنثور (١٣١١٥) ومجمع الزوائد (٨٨١٧) كتاب التفسير.سورة القصص)_
(٨) المصادر السابقة)_
(٩) فتح البارى(١٩١١١)_

دغه شان دحضرت قتاده رحمه الله نه نقل دى.«أنها نزلت في عبدالله بن سلام وسلمان الفارسي رضي الله عنهما» (۱)حضرت عبدالله بن سلام يهودى وو.اوحضرت سلمان فارسى نصرانى وو.دواړو خپل خپل مذهبونه پريخودى وو.اومسلمانان شوى وو.(۲)

ترکومې پورې چه د فريق اول د دلائلو تعلق دې.نوهغه يو دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه دحديث باب يو سند دې.اوهغه سند مرجوح دې.

تفصيل دا دې چه دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه دا حديث دعامر شعبى رحمه الله نه درې کسانو نقل کړې دې.يوفراس بن يحيى همدانى،بل فضل بن يزيد دې.او دې دريم کس صالح بن صالح بن حيان ثورى همدانى دې.په دوى کښې د د فراس بن يحى روايت امام احمد،(۳) اود فضل بن يزيد روايت امام ترمذى،(۴) اودصالح بن صالح روايت په صحيحينوغيره کتابونوکښې نقل شوى دى.(۵)

دفراس بن يحيى اوفضل بن يزيد په روايتونوکښې خوڅه اختلاف نشته.اونه په دې کښې د «آمن بعيسى» تصريح شته.

البته دصالح بن صالح بن حيان نه ددې روايت نقل کونکى په صحيح بخارى کښې عبدالرحمن بن محمد بن زياد محاربى،سفيان ثورى،سفيان بن عيينه،عبدالله بن المبارك اوعبدالواحد بن زياد رحمهم الله دى.

په صحيح مسلم کښې دصالح نه ددې روايت نقل کونکى هشيم،عبدة بن سليمان،سفيان بن عيينه،اوشعبه رحمهم الله دى.

په سنن نسائى کښې دا روايت دصالح بن صالح نه يحى بن ابى زائده نقل کړې دې.
اوپه سنن ابن ماجه کښې دصالح بن صالح شاګرد عبدة بن سليمان دې.(۶)

په دې ټولواسنادوکښې صرف يو سند کښې دعبدالله بن المبارك رحمه الله نه د «آمن بعيسى» تصريح ده.اوپه بل طريق کښې نشته.(۷) البته دسفيان ثورى رحمه الله په شاګردانوکښې اختلاف دې.په صحيح بخارى کښې د سفيان ثورى دشاګرمحمد بن کثيرپه طريق سره د «أهل الكتاب» حصه نه ده ذکر،(۸) حالانکه په مسنداحمد کښې دسفيان ثورى شاګرد عبدالرحمن

---

(۱)المصدرالسابق)_
(۲)المصدرالسابق)_
(۳)مسند أحمد (۴۰۵\۱۴)_
(۴)جامع ترمذى كتاب النكاح باب ما جاء فى الفضل فى ذلک (أى فى فضل الرجل يعتق الأمة ثم يتزوجها)) رقم ۱۱۱۶)_
(۵) دحديث باب تخريج اوګورئ.
(۶) ددې ټولوتخريج په مخکښې حديث کښې شوې دې.
(۷)صحيح بخارى (۴۹۰\۱۱) كتاب أحاديث الأنبياء باب ﴿ واذكر فى الكتاب مريم...﴾ رقم ۳۴۴۶)_
(۸)صحيح بخارى (۳۴۶\۱۱) كتاب العتق باب العبد إذا أحسن عبادة ربه ونصح سيده رقم ۲۵۴۷)_

بن مهدی په طريق كښې «آمن بما جاء به عيسى» نقل كوى.[1]
لكه چه د صالح په شاګردانوكښې خوتول خلق عام لفظ ذكركوى.صرف دابن المبارك رحمه الله په طريق كښې د «آمن بعيسى» نقل كوى.اودسفيان ثورى رحمه الله په روايت كښې اختلاف دې.يوصاحب «آمن بعيسى» نقل كوى. اوبل صاحب عام لفظ نقل كوى.نود روايت په حيثيت سره به «رجل من أهل الكتاب» يا ددې پشان بل عام لفظ ته ترجيح حاصله وى.
ددې حضراتو دويم دليل دا دې.چه يهوديت دنصرانيت په وجه منسوخ شوې دې.اوپه منسوخ دين باندې ايمان ساتل څه فائده نه وركوى.
په دې باره كښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه دلته د نسخې دشرط لګولوڅه ضرورت نشته.ځكه چه حضرت عيسى عليه السلام هم بنى اسرائيلو طرف ته ليږلې شوې وو.په دې كښې څه اختلاف نه وو.په هغوى كښې چه چا په حضرت عيسى عليه السلام باندې ايمان راوړو.هغه ته،،مسيحى،، ،وئيلى شى.اوچا چه پرې ايمان راونړلو.بلكه تكذيب ئې اوكړو.اوپه خپل يهوديت باندې قائم پاتې شو.نوهغه مومن نه دې.اودا حديث داسې كسانوته شامل نه دې.ځكه چه په دې كښې دا شرط دې.چه «مؤمن بنبيه» دې.
البته هغه كسان كوم چه په يهوديت كښې داخل شوى وى.اوهغوى په بنى اسرائيلوكښې نه وو.اويا هغوى حضرت عيسى عليه السلام سره نه وو.اونه ورته دحضرت عيسى عليه السلام دعوت رسيدې وو.نوداسې كسانو په باره كښې وئيلى شى.چه دغه يهوديان دى.اودحضرت عيسى عليه السلام د بعثت نه پس هم هغوى مومنان دى.ځكه چه هغوى په حضرت موسى عليه السلام باندې ايمان لرى.اودهغوى نه پس دوى د هيڅ پيغمبرتكذيب نه دې كړې.نوكه داسې يوكس د نبى صلى الله عليه وسلم نبوت بيا موندو(يعنى دده په ژوند پيغمبرد نبوت دعوه اوكړه).نوهغه به ددې خبرپه مصداق كښې داخل وى.ديمن بعضې قبائل هم داسې قسم وې.چه هغوى يهوديان وو.اودحضرت عيسى عليه السلام دعوت هغوى ته نه وو رسيدلې.
دلته اصل اشكال دهغه يهوديانوپه باره كښې دې.كوم چه د نبى صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې په مدينه منوره كښې وو.مخكې مونږ د آيت كريمه.﴿أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ﴾[2] اودرفاعه قرظى، على بن رفاعه قرظى،اودامام قتاده رحمه الله د آثارو په باره كښې خودلى وو.چه ددهغې مصداق حضتر عبدالله بن سلام اووغيره حضرات دى.دهغې ټولوتعلق د بنى اسرائيلو سره وو.
دا حضرت په يهوديت باندې برقرار پاتې شول.اوددوى په حضرت عيسى عليه السلام باندې ايمان هم نه وو.نوددوى په حق كښې دوه اجرونه ثابت دى.
حافظ رحمه الله ددې جواب دا وركړې دې.چه دمدينې دغه يهوديانوته د حضرت عيسى عليه السلام

[1] مسندأحمد(٤\٣٩٥)_
[2] القصص:٥٤)_

دعوت نه وو رسيدلې.ځکه چه د دوى دعوت ډيرو ځايونوته نه وو رسيدلې.ددې وجې هغوى په يهوديت باندې قائم پاتې شو.اوپه حضرت موسى ﷺ باندې دهغوى ايمان باقې پاتې وو.تردې چه نبې ﷺ پيغمبرشو.نوهغوى په نبى ﷺ باندې ايمان راوړلو.په دې طريقه په اشکال لرې شى.(١)

ددې تفصيل دا دې.چه بخت نصر کله دشام په علاقه کښې په بنو اسرائيلو باندې ظلمونه کول.نوهغه ځائې نه ډيرو يهوديانو هجرت اوکړو. د هغوى د تلو نه په صدو روسته حضرت عيسى ﷺ مبعوث شو.دحضرت عيسى ﷺ په واسطه باندې د توحيد اوشريعت دعوت د شام يهوديانو ته اورسيدل.دمدينې منورې يهوديانو ته نه وو رسيدلې.(٢) لکه څنګه چه د وفاء الوفاء د يوې واقعه نه معلوميږى.چه مدينې منورې سره نزدې په «جماء أم خالد» نومې غرباندې يوه قبر دې.په هغې باندې ليکلى دى.«أنا أسود بن سوادة رسول رسول الله عيسى بن مريم إلى أهل هذه القرية» دابن شهاب زهرى نه منقول دى.چه «وجد قبر جدعلى جماء أم خالد أربعون ذراعاً في أربعين ذراعاً مكتوب في حجر فيه ،أنا عبدالله من أهل نينوى رسول رسول الله عيسى بن مريم عليه السلام إلى أهل هذه القرية فأدركني الموت فأوصيت أن أدفن في جماء أم خالد»(٣)

ددې دويم جواب علامه طيبى ﷫ دا ورکړې دې.چه د مدينې منورې يهود اګرچه په منسوخ دين باندې عمل کونکى وو.خوپه دې کښې څه بعد نشته.چه په نبى ﷺ باندې د ايمان راوړو په برکت دهغوى اديان د منسوخيت باوجود قبول کړې شو.اوپه دې طريقه هغوى د دوو اجرونو مستحق جوړ شو.(٤)

اهل کتاب دلته عام دى اوکه هغه خلق مراد دى چاچه تحريف اوتبديلى نه ده کړې؟ بيا په دې کښې اختلاف دې.چه ددې نه صرف هغه اهل کتاب مراد دى.چا چه تحريف اوتبديلى نه وه کړې.اوکه ټول اهل کتاب ترې مراد دى؟

امام طحاوى اوقرطبى رحمهما الله فرمائى.چه داهل کتاب نه صرف هغه خلق مراد دى.چا چه تحريف اوتبديلى نه وه کړې.ځکه چه اجر اوثواب د حق په اتباع باندې ملاويږى.(٥)

علامه سراج الدين بلقينى ،حافظ ابن حجر،علامه عينى اوملا على قارى ﷭ فرمائى.چه

---

١)فتح البارى(١١٩٠/١و١٩١)_

٢)فيض البارى(١٩٣/١)_

٣)وفاء الوفاء بإخباردارالمصطفى للعلامة نورالدين على بن أحمد السمهودى المتوفى ٩١١ هـ (١٠٦٤/٣) الباب السابع فى أوديتها وبقاعها الفصل الرابع فى جماواته ... الطبعة الثالثة (١٤٠١هـ ١٩٨١م) دارإحياء التراث العربى ،بيروت ، لبنان)_

٤)الكاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطيبى (١٢٦/١) كتاب الإيمان الحديث الحادى عشر)_

٥)مشكل الآثار (٢٢٦/٥و ٢٢٨) كتاب بيان مشكل ما روى عن رسول الله ﷺ من قوله ((ثلاثة يؤتون أجرهم مرتين.. وإكمال إكمال المعلم للأبى ومكمل إكمال الأكمال للسنوسى (٢٦٣/١و) وفتح البارى(١٩١/١)_

اهل كتاب عام دى.(١) ددې دليل دا دې چه په آيت كريمه كښې ﴿أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ﴾(٢) كوم چه ددې حديث هم معنى دې. د تحريف اوتبديلۍ نه پس نازل شوى دى.
دويم دليل دا دې چه نبى ﷺ هرقل ته كوم خط ليكلې وو.په هغې كښې ئې دا ليكلى وو. «أسلم تسلم يؤتك الله أجرك مرتين»(٣)هرقل په عيسائيت كښې د تحريف اوتبديلۍ نه پس داخل شوې وو.

دغه شان كله چه نبى ﷺ هرقل ته خط ليكلې وو.چه «أسلم تسلم يؤتك الله أجرك مرتين» نوهلته نبې ﷺ دا هم ليكلى وو.چه «يا أهل الكتاب تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم» سره خطاب كړې وو.(٤) معلومه شوه.چه په دې كښې هغه ټول اهل كتاب شامل دى.څوك چه د سابقه دين منونكى وو.برابره خبره ده.چه هغوى د تحريف نه وړاندې داخل شوى وى اوكه دتحريف نه پس،والله اعلم.

دتضاعف اجر دا حكم دنبى ﷺ د زمانې پورې خاص دې اوكه عام دې؟ بيا په دې كښې هم اختلاف دې.چه دا حكم د نبى ﷺ زمانې پورې خاص دې.اوكه عام دې؟علامه سراج الدين بلقينى رحمه الله فرمائى.چه دا حكم عام دې.ترقيامته پورې هم دا حكم دې.كوم كتابى چه هم ايمان راوړى.نوهغه ته به دوه اجرونه ملاويږى.(٥) كوم غلام چه هم د الله تعالى اود مولى حق ادا كوى .هغه ته به دوه اجرونه ملاويږى.دغه شان هريوكس چه خپلې وينځې ته تعليم وركوى.اوآزاده.ئې كړى اوپه خپله نكاح كښې ئې راولى.نوهغه ددوو اجرونو مستحق دې.
خوعلامه كرمانى رحمه الله فرمائى.چه دا د نبى ﷺ د زمانې پورې خاص دې.څكه چه د نبى ﷺ د بعثت نه پس خو دټولې دنيا پيغمبر هم نبى ﷺ دې .نوديوكس په حضرت عيسى عليه السلام اوحضرت موسى عليه السلام باندې ايمان راوړى.دا دهغه په خپل پيغمبر باندې ايمان نه دې.څكه چه دهغه نبى حضرت موسى اوحضرت عيسى عليهما السلام نه دى.بلكه دهغه پيغمبرحضرت محمد ﷺ دې.(٦)
په دې باندې اشكال دې.هغه دا چه بيا خو د نبى ﷺ په زمانه كښې هم دا حديث معمول به نشى كيدې.څكه چه كله د نبى ﷺ بعث اوشو.نو د ټولو پيغمبر به محمد ﷺ وى.نو د يوكس په حضرت موسى يا حضرت عيسى عليه السلام باندې ايمان راوړل .پكار ده چه نافع نه وى.

---

(١)فتح البارى(١\٣٨) كتاب بدء الوحى حديث هرقل و(١\١٩١) وعمدة القارى(٢\١١٩) ومرقاة المفاتيح (١\٧٨و ٧٩)۔
(٢)القصص: ٥٤)_
(٣)صحيح بخارى (١\٤) كتاب بدء الوحى رقم ٧)_
(٤)المصدر السابق)_
(٥)فتح البارى(١\١٩١و ١٩٢)_
(٦)شرح الكرمانى(٢\٨٨)_

كه ددې جواب داسې ورکړې شي چه د حديث تعلق دهغه کسانو سره دې چاته چه د نبی ﷺ د بعثت علم نه وو شوې نوبيا د نبی ﷺ د زمانې پورې دخاص کولو څه ضرورت نشته. دنبی ﷺ نه پس هم که يوکس دا اووانی چه دا هغه يهودی يا نصرانی دې چه د نبی ﷺ د بعثت علم ورته نشته.اوبيا هغه مسلمان شی.نوپه دې صورت کښې به هغه ته په خپل پيغمبرباندې د ايمان راوړو ثواب ملاويږی.اوزمونږ په پيغمبرد ايمان راوړو ثواب هم ملاويږی.([1])

نوصحيح خبره هم هغه ده.کومه چه علامه بلقينی رحمه الله فرمائيلې ده.چه دا حکم عام دې.د نبی ﷺ په زمانې پورې خاص نه دې.والله اعلم.

قوله: وَالعَبۡدُ الۡمَمۡلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ: اويوهغه غلام دې.چه هغه دالله تعالی حق هم ادا کوی.اودخپل مولی حق هم.

دلته کښې د«عبد»سره د مملوك قيد ددې وجې لګولې شوې دې.ځکه چه هسې خو ټول خلق دالله تعالی بندګان اوهغه غلامان دی.خودلته دا خودل مقصود دی.چه دا کس دالله تعالی دغلامۍ سره سره د خلقوغلام هم وی.([2])

بيانې دلته «حق مواليه» فرمائيلی دی.«حق مولاه» ئې نه دی فرمائيلی .يعنی د جمعې صيغه راوړې شوې ده.د مفرد صيغه نه ده.ددې وجه يا دا ده.چه دلته د «العبد»نه مراد يوغلام نه دې.بلکه جنس مراد دې.په کوم کښې چه دکثرت هم احتمال شته.ددې وجې د «موالی» لفظ استعمال کړې شو.يا وجه دا ده.چه بعضې وخت يوغلام د څومالکانوپه مينځ کښې مشترك وی.هغه صورت ته هم د شامللودپاره دلته د«موالی» جمع صيغه استعمال کړې شوه.([3])

عبدمملوك ته دوه اجرونه ولې ملاويږی؟ ددې تفصيل مونږ وړاندې بيان کړې دې.

قوله: وَرَجُلٌ كَانَتۡ عِنۡدَهُ أَمَةٌ فَأَدَّبَهَا فَأَحۡسَنَ تَأۡدِيبَهَا وَعَلَّمَهَا فَأَحۡسَنَ تَعۡلِيمَهَا ثُمَّ أَعۡتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا: يوهغه کس دې.چه هغه سره يوه وينځه وی.اوهغه ورته ښه ادب اوښائی اوتعليم ورته ورکړی.ښه تعليم ورته ورکړی.اوبيا ئې آزاده کړی.اوبيا ورسره نکاح اوکړی.

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه د تاديب تعلق د مروت سره متعلق ادابوسره دې اود تعليم شرعی احکامو سره دې.لکه چه د تاديب تعلق دعرف سره دې اودتعليم تعلق د شريعت سره دې.يا دا اووايه.چه د تاديب تعلق د دنياوی امورو سره دې اود تعلم تعلق د اخروی امورو سره دې.([4]) والله اعلم

---

[1])فتح الباری(١٩١\١و ١٩٢)

[2])عمدة القاری(١٢١\٢)_

[3])المصدر السابق)_

[4])شرح الکرمانی(٨٩\٢)

دغه شان دوى فرمائى چه د ((أدبها)) نه پس چه ئې كوم ((فأحسن تاديبها)) فرمائى.ددې مطلب دا دې چه ((أدبها من غير عنف وضرب بل باللطف والرفق)) دغه شان د ((علمها)) نه پس د ((فأحسن تعليمها)) مطلب دې چه ((علمها بالرفق والخلق)) (١)

يواشكال اوهغې جواب دلته څلوراعمال مذكور دى يوتاديب.دويم تعليم.دريم اعتاق. څلورم تزويج هر كله چه دا څلور اعمالو شول نوپكار ده چه اجر هم په دې مقدار سره وي.

علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه اصل كښې د وينځوپه باره كښې صرف د اعتاق اوتزويج اعتبار كړې شوې دې.ځكه چه دتاديب اوتعليم په وجه اجر صرف د وينځوسره خاص نه دې بلكه دا خو د پردى اوخپل اولاد په باره كښې هم د اجرباعث دې هم دا وجه ده چه دلته ئې ((فله أجران)) دوباره اعاده كړې ده.مقصود دا دې چه دا مه گنړئ چه دا څلوراعمال دى نو څلور اجرونه به ملاويږى بلكه په حقيقت كښې دا هم دوه علمونه دى نودوه اجرونه به ملاويږى (٢)

په دې باندې بيا اشكال كيږى چه بيا دلته د تاديب اوتعليم ذكركولو څه فائده وه.صرف داعتاق اوتزويج ذكركول كافى وو.

علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه چونكه دتعليم يافته وينځې سره نكاح كول د زيات بركت باعث وى.ځكه چه تعليمافته اوادبناكه ښځه دخپل خاوند په دينې اموركښې ښه اعانت كولې شى.نوځكه ئې تاديب اوتعليم د تمهيد په طورسره ذكر كړل.(٣)

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى.چه ددې كس دپاره دوه اجرونه د دوو متنافى امورو په وجه دى.دوه متنافى امور رقيت اوحريت دې.درقيت تقاضې جدا وى.اودحريت تقاضې جدا وى.په دې حيثيت ده ته دوه اجرونه ملاويږى.(٤)

امام بخارى رحمه الله په كتاب النكاح كښې دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه معلق حديث ذكركړې دې.په هغې كښې دى.((ثم أعتقها ثم أصدقها)) (٥)ددې مطلب دا دې چه دا آزده كړې.اودې سره كومه نكاح اوكړى.په دې كښې عتق لره مهر اونه گرځوى بلكه مستقل مهر ورته وركړى.والله اعلم.

قوله: فَلَهُ أَجْرَانِ: په شروع كښې ((ثلاثة لهم أجران)) راغلى وو.اواوس ئې دلته دوباره

---

(١)المصدر السابق)_

(٢)عمدة القارى(١١٩\٢) وشرح الكرمانى(٩٠\٢)_

(٣)المصادر السابقة)_

(٤)شرح الكرمانى(٩٠\٢)_

(٥)صحيح البخارى (٧٦١\٢) كتاب النكاح باب إتخاذ السرارى ومن أعتق جاريته ثم تزوجها رقم ٥٠٨٣) ووصله أبوداود الطيالسى فى مسنده (٦٨) رقم ٥٠١) وانظرفتح البارى(١٢٧\٩و ١٢٨) كتاب النكاح باب إتخاذ السرارى)_

ذكركوى.ددې وجه ياخوهغه ده.كومه چه علامه عينى رحمه الله ذكركړې ده.چه دلته تنبيه وركول مقصود دي.چه د وينځو په تعليم اوتربيت اواعتاق اوتزويج باندې به دوه اجرونه ملاويږى. زياتى نه.(١) په دې صورت كښې ددې جملې تعلق صرف ددې آخرى صورت سره دې. خوظاهره دا ده.چه ددې تعلق ددې ټولو سره دې.اودلته ددې تكرارد طول كلام اوپه مينځ كښې د فصل په وجه راغلې دې.(٢)

قوله ثُمَّ قَالَ عَامِرٌ أَعْطَيْنَاكَهَا بِغَيْرِشَيْءٍ قَدْكَانَ يُرْكَبُ فِيمَادُونَهَا إِلَى الْمَدِينَةِ: بيا عامرشعبى رحمه الله فرمائى.چه مونږ تاته دا روايت په مفتوكښې دركړو. حالانكه ددې نه هم د كم روايت دپاره به دمدينې منورې پورې سفركولې شو.

په دې كښې خطاب په ظاهره باندې ابن الصالح رحمه الله ته دې.ددې وجې هم په دې ظاهر باندې علامه كرمانى رحمه الله جزم كړې دې.اومخاطب ئې د شعبى رحمه الله شاگرد ابن الصالح گرخولې دې.(٣) خوحقيقت دا دې.چه دا يو خراسانى كس ته خطاب دې.دچا د سوال په جواب كښې چه امام شعبى رحمه الله دا حديث بيان كړې وو.په صحيح بخارى كښې صالح تصريح كړې ده.چه ((إن رجلاً من أهل خراسان قال للشعبى رحمه الله فقال الشعبى رحمه الله أخبرنا أبوبردة عن أبى موسى اشعرى رضي الله عنه...)) (٤)

په ذكرشوى روايت كښې تپوس ذكرنه دې.امام مسلم تپوس هم ذكركړې دې ((قال رأيت رجلاً من أهل خراسان سأل الشعبى فقال يا أبا عمرو،إن من قبلنا من أهل خراسان يقولون فى الرجل إذا أعتق أمته ثم تزوجها فهو كالراكب بدنته فقال الشعبى رحمه الله حدثنى أبوبردة بن أبى موسى عن أبيه ...)) (٥)
بيا په اهل خراسان كښې چه دا كومه خبره مشهوره وه.دا بې بنياده هم نه وه.ځكه چه د حضرت عبدالله بن مسعود،حضرت عمر،حضرت انس رضي الله عنهم او حضرت سعيدالمسيب، او ابراهيم نخعى رحمهما الله نه هم دامنقول دى.(٦) غالباً دې حضراتو ته دحديث باب علم نه وو.

---

(١) عمدة القارى(١١٩١٢)_
(٢) فتح البارى(١٩٢١١)_
(٣)شرح الكرمانى (٩٠١٢)-
(٤)صحيح البخارى (٤٩٠١١) كتاب أحاديث الأنبياء باب ﴿ وذكرفى كتاب مريم﴾ رقم ٣٤٤٦_
(٥)صحيح مسلم كتاب الإيمان باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم إلى جميع الناس ونسخ الملل بملته (رقم ٣٨٧)_
(٦)قال الحافظ فى فتح ا لبارى(١٢٧١٩) كتاب النكاح باب إتخاذ السرارى ومن أعتق جارية ثم تزوجها أخرج الطبرانى بإسناد رجاله ثقات عن ابن مسعودأنه كان يقول ذلك.وأخرج سعيدبن المنصور عن ابن عمرمثله وعند ابن أبى شيبةبإسناد صحيح عن أنس أنه سئل عنه فقال ..إذا أعتق أمته لله.فلا يعود فيها ومن طريق سعيد بن المسيب وإبراهيم نخعى رحمهما الله أنهما كرها ذلك)_

مصادر ومراجع كشف البارى دريم جلد

القران الكريم: كلام رب العالمين.

الابواب والتراجم لصحيح البخارى شيخ الحديث مولانا محمد زكريا صاحب (متوفى ١٤٠٢ھ مطابق ١٩٨٢ء) ايچ ايم سعيد كمپنى پاكستان چوك كراچى

الأبواب والتراجم حضرت شيخ الهند مولانا محمود حسن صاحب ديوبندى رحمہ اللہ المتوفى (١٣٣٩ھ) ادارة تاليفات اشرفيه ملتان.

اتحاف السادة المتقين بشرح أسرار إحياء علوم الدين: علامه سيد محمد بن محمد الحسينى الزبيدى المشهور بمرتضى رحمہ اللہ (متوفى ١٢٠٥ھ) دار احياء التراث العربى

الاتقان فى علوم القران: حافظ جلال الدين عبدالرحمن سيوطى رحمہ اللہ (متوفى ٩١١ھ) شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابى الحلبى مصر، طبع رابع (١٣٩٨ھ مطابق ١٩٧٨ء

الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان امام ابوحاتم محمد بن حبان بُستى رحمہ اللہ متوفى ٣٥٤ھ موسسة الرسالة بيروت.

إحياء علوم الدين مع شرح اتحاف السادة المتقين: امام محمد بن محمد الغزالى رحمہ اللہ (متوفى ٥٠٥ھ) دار احياء التراث العربى. بيروت،

إختصار علوم الحديث أبوالفداء عماد الدين إسماعيل بن شهاب الدين عمر المعروف بابن كثير رحمہ اللہ المتوفى ٧٧٤ھ دار التراث: القاهرة ١٣٩٩ھ ١٩٧٩ء.

الأدب المفرد مع شرح فضل الله الصمد، اميرالمومنين فى الحديث محمد بن اسماعيل البخارى المتوفى (٢٥٦ھ) مكتبة الإيمان المدينة المنورة۔

إرشاد السارى شرح صحيح البخارى: ابوالعباس شهاب الدين أحمد بن محمد القسطلانى رحمہ اللہ (متوفى ٩٢٣ھ) المطبعة الكبرى الأميرية. مصر طبع سادس ١٣٠٤ھ

إزالة الخفاء عن خلافة الخلفاء حضرت شاه ولى الله محدث دهلوى رحمہ اللہ المتوفى (١١٧٦ھ) سهيل اكيڈمى.

الاستيعاب فى اسماء الأصحاب بهامش الإصابة ابوعمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر رحمہ اللہ متوفى ٤٦٣ھ) دار الفكر بيروت۔

أسد الغابة عزالدين أبوالحسن على بن محمد الجزرى المعروف بابن الأثير المتوفى ٦٣٠ھ دار الكتب العلمية بيروت_

الأشمونى للعلامة نورالدين أبى الحسن على بن محمد رحمہ اللہ المتوفى ٩٠٠ھ مع حاشيته للشيخ محمد بن على الصبان رحمہ اللہ المتوفى ١٢٠٦ھ دار الإحياء الكتب العربية—

الإصابة فى تميز الصحابة شهاب الدين ابوالفضل أحمد بن على العسقلانى المصرى المعروف بابن حجر رحمہ اللہ (متوفى ٨٥٢ھ) دار الفكر. بيروت

أصول البزدوى: فخر الإسلام أبوالحسن على بن محمد البزدوى رحمه الله (متوفى ٤٨٢هـ) الصدف پبلشرز کراچی
الأعلام: خیرالدین بن محمود بن محمد الزرکلی رحمه الله (متوفى ١٣٩٦ ھمطابق ١٩٧٦ء)
أعلام الحدیث: إمام أبوسلیمان احمد بن محمد الخطابی رحمه الله (متوفى ٣٨٨ھ) مرکزاحیاء التراث الإسلامی جامعة أم القرى مکة المکرمة،
إکمال إکمال المعلم شرح صحیح مسلم أبوعبدالله محمد بن خلفة الوشتانی الأبی المالکی رحمه الله المتوفى ٨٢٧ أو ٨٢٨ دار الکتب العلمیة بیروت۔
الإلماع إلى معرفة أول الرواى وتقیید السماع أمام قاضی عیاض بن موسى الیحصبی رحمه الله المتوفى ٥٤٣ مجلس تعاون إسلامی کراچی الطبعة الأولى ١٤٢٠ھ١٩٩٩م،
الإمام علی بن المدینی ومنهجه فی نقد الرجال دکتور إکرام الله إمداد الحق حفظه الله دار البشائر الإسلامیة بیروت الطبعة الأولى ١٤١٣ھ١٩٩٢م
الإنتقاء فی فضائل الأئمة الثلاثة الفقهاء الإمام الحافظ أبوعمریوسف بن عبدالبر رحمه الله المتوفى ٤٦٣ھ مکتب المطبوعات الإسلامیة حلب الطبعة الأولى ١٤١٧ھ١٩٩٧م،
الأنساب أبوسعد عبدالکریم بن محمد بن منصور السمعانی رحمه الله المتوفى ٥٦٢ھ دار الجنان بیروت الطبعة الأولى ١٤٠٨ھ١٩٨٨م،
(٣٣) أنوار الباری: مولانا سید أحمد رضا بجنوری مد ظلهم. مدینه پریس بجنور
(٣٦) أوجز المسالك إلى مؤطا مالك: شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب کاندهلوی رحمه الله (متوفى ١٤٠٢ھ) إدارة تالیفات اشرفیه ملتان،
إیضاح البخاری: حضرت مولانا فخرالدین محمد صاحب رحمه الله (متوفى ١٣٩٢ھ) مجلس قاسم المعارف دیوبند
البحر الرائق علامة زین العابدین بن ابراهیم بن نجیم رحمه الله المتوفى ٩٦٩ھ أو المتوفى یا المتوفى ٩٧٠ھ مکتبه رشیدیه کوئٹه
بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ملك العلماء علاء الدین ابوبکر بن مسعود الکاسانی رحمه الله المتوفى ٥٨٧ھ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی.
البدایة والنهایة: حافظ عماد الدین أبوالفداء إسماعیل بن عمر المعروف بابن کثیر رحمه الله (متوفى ٧٧٤ھ) مکتبة المعارف. بیروت. طبع ثانی ١٩٧٧م
بذل المجهود: حضرت العلامه خلیل أحمد سهارنپوری رحمه الله (متوفى ١٣٤٦ھ) مطبع ندوة العلماء لکنهو. ١٣٩٣ھ مطابق ١٩٧٣م

البرهان فى علوم القرآن بدر الدين محمد بن عبدالله زركشى رحمه الله المتوفى ٧٩٣ھ دار المعرفة للطباعة والنشر، بيروت۔

بيان القرآن: حكيم الأمت حضرت مولانا أشرف على صاحب تهانوى نور الله مرقده (متوفى ١٣٦٢ھ) شيخ غلام على اينڈ سنز لاهور،

تاج العروس من جواهر القاموس: ابوالفيض سيد محمد بن محمد المعروف بالمرتضى الزبيدى رحمه الله (١٢٠٥ھ). دار مكتبة الحياة بيروت لبنان،

تاريخ بغداد ومدينة السلام: حافظ احمد بن على المعروف بالخطيب البغدادى رحمه الله (متوفى ٤٦٣ ھ). دار الكتب العربى بيروت لبنان،

تاريخ الخميس فى احوال أنفس نفيس: شيخ حسين بن محمد بن الحسن الديار بكرى المالكى رحمه الله (متوفى ٩٦٦ھ)، مؤسسة شعبان بيروت،

التاريخ الصغير للأمير المومنين فى الحديث محمد بن اسماعيل البخارى رحمه الله المتوفى ٢٥٦ھ المكتبة الأثرية شيخوپوره

تاريخ عثمان بن سعيد الدارمى المتوفى ٢٨٠ھ عن أبى زكريا يحيى بن معين المتوفى ٢٣٣ھ دار المأمون للتراث ١٤٠٠ ھ

التاريخ الكبير: أمير المؤمنين فى الحديث محمد بن إسماعيل البخارى رحمه الله (متوفى ٢٥٦ھ). دار الكتب العلمية بيروت،

تبصير المنتبه بتحرير المشتبه حافظ أحمد بن على المعروف بابن حجر العسقلانى رحمه الله المتوفى ٨٥٢ ھ، المكتبة العلمية بيروت۔

تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف أبوالحجاج جمال الدين يوسف بن عبدالرحمن المزى رحمه الله (متوفى ٧٤٢ھ) المكتب الإسلامى بيروت طبع دويم ١٤٠٣ ھ مطابق ١٩٨٣ء

تدريب الراوى بشرح تقريب النواوى: حافظ جلال الدين عبدالرحمن سيوطى رحمه الله (متوفى ٩١١ ھ) المكتبة العلمية مدينه منوره،

تذكرة الحفاظ: حافظ أبوعبدالله شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان ذهبى رحمه الله (متوفى ٧٤٨ ھ). دار المعارف العثمانيه الهند،

الترغيب والترهيب للإمام عبدالعظيم بن عبدالقوى المنذرى رحمه الله المتوفى ٦٥٦ دار إحياء التراث العربى بيروت الطبعة الثالثة ١٣٨٨ ھ، ١٩٦٨م،

تعريف أهل التقديس بمراتب الموصوفين بالتدليس حافظ احمد بن على المعروف بابن حجر رحمه الله المتوفى ٨٥٢ ھ، در الكتب العلمية بيروت۔

تعليقات جامع بيان العلم وفضله لأبى الأشبال الزهيرى، دار ابن الجوزى الطبعة الرابعة ١٤١٩ ھ،

تعليقات الرفع والتكميل في الجرح والتعديل، الشيخ عبدالفتاح أبوغدة رحمه الله المتوفى ١٤١٧ هـ، مكتب المطبوعات الإسلامية حلب طبع سوم ١٤٠٧ وگ، ١٩٨٧م،

تعليقات على تهذيب الكمال، للدكتور بشار عواد معروف حفظه الله تعالى مؤسسة الرسالة الطبعة الأولى ١٤١٣ هـ،

تعليقات على الكاشف للذهبي شيخ محمد عوامة شيخ أحمد محمد نمر الخطيب حفظهما الله مؤسسة دار القبلة موسسة علوم القرآن الطبعة الأولى ١٤١٣ هـ، ١٩٩٢م،

تعليقات كتاب الزهد لابن المبارك رحمه الله للعلامة حبيب الرحمن أعظمي، رحمه الله المتوفى ١٩٩٢م،

تعليقات كتاب الضعفاء الكبير للعقيلي للدكتور عبدالمعطي أمين قلعجي دار الكتب العلمية بيروت۔

تعليقات على لامع الدراري شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله المتوفى ١٤٠٢هـ. الموافق ١٩٨٢م، مكتبة إمدادية مكة المكرمة۔

تعليقات نور الدين عتر على علوم الحديث لابن الصلاح تصوير ١٤٠٦ هـ، ١٩٨٦م، دار الفكر بدمشق۔

تغليق التعليق للحافظ أحمد بن علي المعروف بابن حجر رحمه الله المتوفى ٨٥٢ هـ، المكتب الإسلامي ودار عمار۔

تفسير الطبري (جامع البيان) إمام محمد بن جرير الطبري رحمه الله المتوفى ٣١٠ هـ دار المعرفة بيروت۔

تفسير القران العظيم: حافظ أبوالفداء عماد الدين إسماعيل بن عمر ابن كثير دمشقي رحمه الله (متوفى ٧٧٤ هـ) دار الفكر بيروت،

التفسير الكبير (مفاتيح الغيب): إمام أبوعبدالله فخر الدين محمد بن عمر الحسين رازي رحمه الله (متوفى ٦٠٦هـ)، مكتب الاعلام الإسلامي إيران،

تقريب التهذيب: حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله (متوفى ٨٥٢هـ) دار الرشيد حلب ١٤٠٦هـ

التقريب والتيسير لمعرفة سنن البشير النذير مع تدريب الراوي ابوزكريا يحيى بن شرف الدين النووي رحمه الله (متوفى ٦٧٦هـ) المكتبة العلمية مدينه منورة،

تقرير بخاري شريف اردو: شيخ الحديث مولانا محمد زكريا صاحب كاندهلوي متوفى رحمه الله (١٤٠٢ هـ مطابق ١٩٨٢ء، مكتبة الشيخ كراچي،

التقييد والإيضاح لما أطلق وأغلق من كتاب ابن الصلاح: حافظ أبوالفضل زين الدين عبدالرحيم بن الحسين العراقي رحمه الله (متوفى ٨٠٦هـ) مكتبه سلفيه مدينه منوره طبع اول ١٣٨٩هـ

تكمله فتح الملهم: حضرت مولانا محمد تقي عثماني مدظلهم. مكتبه دار العلوم كراچي،

تلبيس الإبليس للإمام أبي الفرج عبدالرحمن بن علي المعروف بابن الجوزي رحمه الله المتوفى ٥٩٧ هـ، إدارة الطباعة المنيرية الطبعة الثانية ١٣٦٨ هـ،

التلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير: حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله (متوفى ٨٥٢ هـ). دار نشر الكتب الإسلاميه لاهور، ٢٠)

تلخيص المستدرك (المطبوع بذيل المستدرك): حافظ شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان ذهبي رحمه الله (متوفى ٧٤٨ هـ). دار الفكر بيروت،

تمهيد في أصول الفقه للعلامة محفوظ بن أحمد بن الحسن أبو الخطاب الكلوذاني الحنبلي رحمه الله المتوفى ٥١٠ هـ، جامعة أم القرى مكة المكرمة)

التمهيد لما في الموطا من المعاني والأسانيد: حافظ أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر مالكي رحمه الله (متوفى ٤٦٣ هـ). المكتبة التجارية مكة المكرمه،

تهذيب الأسماء واللغات: إمام محي الدين ابو زكريا يحيى بن شرف النووي رحمه الله (متوفى ٦٧٦ هـ) إدارة الطباعة المنيريه،

تهذيب التهذيب: حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله (متوفى ٨٥٢ هـ) دائرة المعارف النظاميه حيدر آباد دكن ١٣٢٥،

تهذيب الكمال: حافظ جمال الدين أبو الحجاج يوسف بن عبد الرحمن مزي رحمه الله (متوفى ٧٤٢ هـ). مؤسسة الرسالة

التهذيب للنووي رحمه الله طبع اول ١٣١٣، (انظروا تهذيب الأسماء واللغات)۔

توضيح الأفكار لمعاني تنقيح الأنظار للإمام محمد بن اسماعيل المعروف بالأمير الصنعاني رحمه الله المتوفى ١١٨٢ هـ دار الكتب العلمية بيروت الطبعة الأولى ١٤١٧ هـ، ١٩٩٧م،

تيسير مصطلح الحديث للدكتور محمود الطحان حفظه الله قديمی كتب خانه كراتشی.

الثقات: لابن حبان حافظ أبو حاتم محمد بن حبان بستي رحمه الله (متوفى ٣٥٤ هـ) دار المعارف العثمانيه حيدر اباد ١٣٩٣هـ،

جمع الجوامع (مع شرحه همع الهوامع) للعلامة جلال الدين عبد الرحمن بن أبي بكر السيوطي رحمه الله المتوفى ٩١١ هـ، منشورات الرضي قم ايران)

جامع البيان في تفسير القرآن للإمام محمد بن جرير الطبري رحمه الله المتوفى ٣١٠ هـ دار المعرفة بيروت۔

جامع بيان العلم وفضله وما ينبغي في روايته وحمله: حافظ أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر مالكي رحمه الله (متوفى ٤٦٣ هـ). دار الفكر ودار العلم الجوزي الطبعة الرابعة ١٤١٩ هـ ١٩٩٨م احياء التراث العربي بيروت،

جامع ترمذی (سنن ترمذی) إمام أبو عيسى محمد بن عيسى بن سورة ترمذی رحمه الله (متوفى ٢٧٩ هـ) ايچ ايم سعيد كمپنی كراچی/ دار احياء التراث العربي

الجامع الصغير مع شرح فيض القدير: حافظ جلال الدين عبد الرحمن سيوطي رحمه الله (متوفى ٩١١ هـ). مكتبه إسلاميه سمندری لائل پور،

الجامع لأحكام القرآن: (تفسير قرطبي) إمام أبوعبدالله محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي رحمه الله (متوفى ٦٧١هـ) دار الفكر بيروت،
الجامع لأخلاق الراوي و آداب السامع للإمام الحافظ أبي بكر أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي رحمه الله المتوفى ٤٦٣ هـ، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى ١٤١٧ هـ، ١٩٩٦م)
جامع المسانيد، للإمام أبي المؤيد محمد بن محمود الخوارزمي رحمه الله المتوفى ٦٦٥ هـ، المكتبة الإسلامية سمندري لائل پور)
حاشية تدريب الراوي شيخ عبدالوهاب عبداللطيف رحمه الله المكتبة العلمية بالمدينة المنورة الطبعة الثانية ١٣٩٢ هـ، ١٩٧٢م)
حاشية سبط العجمي على الكاشف للإمام برهن الدين أبو الوفاء إبراهيم بن محمد سبط ابن العجمي الحلبي رحمه الله المتوفى ٨٤١هـ، شركة دار القبلة \ موسسة علوم القرآن)
حاشية السندي على البخاري (مطبوعه مع صحيح بخاري): إمام أبوالحسن نور الدين محمد بن عبدالهادي سندهي رحمه الله (متوفى ١١٣٨هـ). قديمي كتب خانه كراچي،
حاشية السندي على سنن ابن ماجه للإمام أبي الحسن نور الدين محمد بن عبدالهادي السندي رحمه الله المتوفى ١١٣٨ هـ، دار المعرفة، بيروت الطبعة الثانية ١٤١٨ هـ، ١٩٩٧م)
حجة الله البالغة: حضرت شاه ولي الله أحمد بن عبدالرحيم دهلوي رحمه الله (متوفى ١١٧٦هـ) ادارة الطباعة المنيرية مصر ١٣٥٢هـ)
حلية الأولياء: حافظ أبونعيم أحمد بن عبدالله بن أحمد أصبهاني رحمه الله (متوفى ٤٣٠هـ) دار الفكر بيروت،
خلاصة الخزرجي (خلاصة تذهيب تهذيب الكمال) للعلامة صفي الدين الخزرجي رحمه الله المتوفى د ٩٢٣ هـ، نه پس مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب)
الدراية في تخريج أحاديث الهداية للحافظ احمد بن علي المعروف بابن الحجر رحمه الله المتوفى ٨٥٢ هـ، دار نشر الكتب الإسلامية بلاهور.
الدر المختار للعلامة علاء الدين محمد بن علي بن محمد الحصكفي رحمه الله المتوفى ١٠٨٨ هـ، مكتبة رشيدية كوئته،
الدر المنثور في التفسير بالمأثور للحافظ جلال الدين عبدالرحمن السيوطي رحمه الله المتوفى ٩١١ هـ، مؤسسة الرسالة)
ذخائر المواريث في الدلالة على مواضع الحديث لعبدالغني بن إسماعيل بن عبدالغني النابلسي رحمه الله المتوفى ١٣٤٣ هـ، دار المعرفة بيروت \ دار كتب العلمية بيروت)
رد المحتار للعلامة محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز عابدين شامي رحمه الله المتوفى ١٢٥٢ هـ، مكتبة رشيديه كوئته)

رسالہ شرح تراجم أبواب البخاری رحمہ اللہ حضرت مولانا شاہ ولی اللہ دہلوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۱۷٦ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،
الرفع والتکمیل فی الجرح والتعدیل: علامہ أبوالحسنات عبدالحی لکھنوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۰۴ھ). مکتب المطبوعات الإسلامیة حلب. د ریم طبع ۱۴۰۷ھ،
روح المعانی فی تفسیر القرآن العظیم والسبع المثانی: أبوالفضل شہاب الدین سید محمود آلوسی بغدادی رحمہ اللہ (متوفی ۱۲۷۰ھ) مکتبہ إمدادیہ ملتان،
الروض الأنف: إمام أبوالقاسم عبدالرحمن بن عبداللہ السہیلی رحمہ اللہ (متوفی ۵۸۱ھ) مکتبہ فاروقیہ ملتان ۱۳۹۷،
سنن إبن ماجہ: إمام أبوعبداللہ محمد بن یزید بن ماجہ رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۳ھ). قدیمی کتب خانہ کراچی/ دار الکتب المصری قاہرہ
سنن ابی داؤد: إمام أبوداؤد سلیمان بن الأشعث السجستانی رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۵ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی،/ دار إحیاء السنة النبویة،/
سنن دار قطنی: حافظ أبوالحسن علی بن عمر دار قطنی رحمہ اللہ (متوفی ۳۸۵ھ) دار نشر الکتب الإسلامیة لاہور،
سنن الدارمی للإمام أبومحمد بعبداللہ بن عبدالرحمن الدارمی رحمہ اللہ المتوفی ۲۵۵ھ. قدیمی کتب خانہ کراتشی،
السنن الکبری للبیہقی: إمام حافظ أبوبکر أحمد بن الحسین بن علی البیہقی (متوفی ۴۵۸ھ) نشر السنة ملتان،
السنن الصغری للنسائی: إمام أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائی رحمہ اللہ (۳۰۳ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،
السنن الکبری للنسائی: إمام أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائی رحمہ اللہ (۳۰۳ھ) نشر السنة ملتان،
سیر أعلام النبلاء: حافظ أبوعبداللہ شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذہبی رحمہ اللہ (متوفی ۷۴۸ھ) مؤسسة الرسالة،
السیرة الحلبیة (انسان العیون فی سیرة الأمین المأمون): علامہ علی بن برہان الدین الحلبی رحمہ اللہ (متوفی ۱۰۴۴ھ) المکتبة الإسلامیہ بیروت،
السیرة النبویة لإبن ہشام (بہامش الروض الأنف) إمام أبومحمد عبدالملک بن ہشام المعافری المصری رحمہ اللہ (متوفی ۲۱۳ھ) مکتبہ فاروقیہ ملتان،
شرح ابن البطال للإمام أبی الحسن علی بن خلف بن عبدالملک المعروف بإبن بطال رحمہ اللہ المتوفی ۴۴۹ھ، مکتبة الرشد، الریاض، الطبعة الأولی ۱۴۲۰ھ، ۲۰۰۰م،
شرح الأبی علی مسلم (انظر إکمال المعلم).
شرح تراجم أبواب البخاری (انظر شرح تراجم أبواب البخاری)
شرح الزرقانی علی الموطاء للشیخ محمد بن عبدالباقی بن یوسف الزرقانی المصری رحمہ اللہ المتوفی ۱۱۲۲ھ دار الفکر بیروت)

شرح عقود رسم المفتی (ضمن مجموعة رسائل ابن عابدين) علامه محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الشامی رحمه الله المتوفى (١٢٥٢ھ)، سهيل اكيڈمى لاهور

شرح العقائد النسفية (مع النبراس) للعلامة سعد الدين مسعود بن عمر التفتازانى رحمه الله المتوفى ٧٩٢ھ، مكتبه حبيبيه كوئٹه

شرح العقيدة الطحاويه: علامه صدر الدين على بن على بن محمد بن أبى العز حنفى رحمه الله (متوفى ٧٩٢ھ) قديمى كتب خانه كراچى،

شرح الكرمانى (الكواكب الدرارى) للعلامة شمس الدين محمد بن يوسف الكرمانى رحمه الله المتوفى (٧٨٦ھ) دار إحياء التراث العربى

شرح مشكل الآثار للإمام أبى جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوى رحمه الله المتوفى ٣٢١ھ مؤسسة الرسالة ١٤١٥ھ ١٩٩٤م

شرح معانى الآثار إمام أبو جعفر احمد بن محمد بن سلامة بن سلمه طحاوى رحمه الله (متوفى ٣٢١ھ) مير محمد آرام باغ كراچى، \ مير محمد آرام باغ كراچى،

شرح النووى على صحيح مسلم إمام أبو زكريا يحيى بن شرف النووى رحمه الله (٦٧٦ھ). قديمى كتب خانه كراچى،

شعب الإيمان: إمام حافظ احمد بن الحسين بن على البيهقى رحمه الله (متوفى ٤٥٨ھ). دار الكتب العلمية بيروت، ١٤١٠ھ

الشمائل المحمدية للترمذى بشرح المواهب اللدنية للبيجورى، إمام أبو عيسى محمد بن عيسى بن سورة الترمذى رحمه الله (٢٧٩ھ). فاروقى كتب خانه

صحيح بخارى شريف: إمام أبو عبد الله محمد بن إسماعيل البخارى رحمه الله (متوفى ٢٥٦ھ) قديمى كتب خانه كراچى،

صحيح مسلم إمام أبو الحسين مسلم بن الحجاج القشيرى رحمه الله (متوفى ٢٦١ھ) قديمى كتب خانه كراچى،

طبقات الشافعية الكبرى: علامه تاج الدين أبو نصر عبد الوهاب بن تقى الدين سبكى (متوفى ٧٧١ھ). دار المعرفة بيروت،

طبقات الكبرى: إمام أبو عبد الله محمد بن سعد رحمه الله (متوفى ٢٣٠ھ) دار صادر بيروت،

طلوع الثريا بإظهار ما كان خفياً (ضمن كتاب الحاوى للفتاوى) للحافظ جلال الدين عبد الرحمن السيوطى رحمه الله المتوفى (٩١١ھ) مكتبة نورية رضوية فيصل آباد

ظفر الأمانى للعلامة عبد الحى الكهنوى رحمه الله المتوفى ١٣٠٤ھ، مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب الطبعة الثالثة ١٤١٦ھ)

عارضة الأحوذى للإمام أبى بكر محمد بن عبد الله المعروف بابن العربى رحمه الله ٥٤٣ھ، المطبعة المصرية بالأزهر

العرف الشذى (مطبوعه مع جامع ترمذى): إمام العصر علامه أنور شاه كشميرى رحمه الله (متوفى ١٣٥٢ھ) ايچ ايم سعيد كمپنى كراچى،

علوم الحديث(مقدمه ابن الصلاح)حافظ تقی الدین أبوعمرو عثمان بن عبدالرحمن المعروف بابن الصلاح الشهرزوری رحمه الله (۶۴۳ھ). دار الفکر بیروت،

عمدة القاری شرح صحیح البخاری: إمام بدر الدین أبومحمد محمود بن أحمد العینی رحمه الله (متوفی ۸۵۵ھ).إدارة الطباعة المنیریة،

غریب الحدیث والأثر:إمام أبوسلیمان احمد بن محمد الخطابی رحمه الله (متوفی ۳۸۸ھ). مرکز البحث جامعه ام القری مکه مکرمه.

الفائق فی غریب الحدیث: علامه جار الله أبوالقاسم محمود بن عمر الزمخشری (متوفی ۵۳۸ھ).دار المعرفة بیروت،

فتح الباری شرح صحیح البخاری: احمد بن علی المعروف بابن حجر عسقلانی رحمه الله (متوفی ۸۵۲ھ).دار الفکر بیروت،

فتح القدیر:إمام کمال الدین محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الهمام رحمه الله (متوفی ۸۶۱ھ) مکتبه رشیدیه کوئٹه،

فتح المغیث للسخاوی إمام أبوعبدالله محمد بن عبدالرحمن السخاوی رحمه الله المتوفی ۹۰۲ھ، دار الإمام الطبری الطبعة الثانیة ۱۴۲۱ھ، ۱۹۹۲م)

فتح المغیث شرح العراقی/شرح الفیة العراقی :إمام أبوالفضل زین الدین عبدالرحیم بن الحسین العراقی رحمه الله (متوفی ۸۰۶ھ) دار الجیل بیروت،

فضل الباری شرح أردو صحیح البخاری: شیخ الإسلام علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله (متوفی ۱۳۶۹ھ). : ادارة علوم شرعیه کراچی،

فیض الباری: إمام العصر علامه أنور شاه کشمیری رحمه الله (متوفی ۱۳۵۲ھ). ربانی بک ڈپو دهلی،

القاموس المحیط للمجد الدین محمد بن یعقوب الفیروز آبادی رحمه الله المتوفی ۸۱۷ھ، دار الفکر بیروت ۱۴۱۵ھ ۱۹۹۵م)

الکاشف للإمام شمس الدین أبوعبدالله محمد بن أحمد بن عثمان الذهبی رحمه الله المتوفی ۷۴۸ ھ، شرکة دار القبلة \ موسسة علوم القرآن الطبعة الأولى ۱۹۹۲م، ۱۴۱۳ھ)

الکاشف عن حقائق السنن(شرح طیبی)،إمام شرف الدین حسین بن محمد بن عبدالله الطیبی رحمه الله (متوفی ۷۴۳ھ)،إدارة القرآن کراچی.

الکامل فی ضعفاء الرجال: إمام أبو احمد عبدالله بن عدی جرجانی رحمه الله (متوفی ۳۶۵ھ) دار الفکر بیروت،

کتاب الأسماء والصفات للإمام حافظ أبی بکر أحمد بن الحسین البیهقی رحمه الله المتوفی ۴۵۸ھ مطبعة السعادة، مصر)

کتاب الرحلة للإمام حافظ أحمد بن علی المعروف بالخطیب البغدادی رحمه الله المتوفی ۴۶۳ھ دار الکتب العلمیة بیروت الطبعة الأولى ۱۴۱۳ و، ۱۹۹۳م)

كتاب الروح للإمام شمس الدين أبوعبدالله محمد بن أبي بكر المعروف بابن القيم الجوزية رحمه الله المتوفى ٧٥١ھ
مكتبة نصير بجوار إدارة الأزهر الشريف مصر)
كتاب الزهد والرقائق للإمام عبدالله بن المبارك رحمه الله المتوفى ١٨١ھ، دار الكتب العلمية)
كتاب الضعفاء الكبير: أبوجعفر محمد بن عمرو بن موسى بن حماد العقيلي المكي رحمه الله (متوفى ٣٢٢ھ). دار الكتب العلميه بيروت،
كتاب الضعفاء والمتروكين للنسائي (المطبوع مع التاريخ الصغير والضعفاء الصغير للبخاري) إمام أبي عبدالرحمن أحمد بن شعيب النسائي رحمه الله المتوفى ٣٠٣ھ، المكتبة الأثرية سانگله شيخوپوره)
كتاب العلل: إمام أبوعيسى محمد بن عيسى بن سورة الترمذي رحمه الله (متوفى ٢٧٩ھ). ايج ايم سعيد كمپنى كراچى،
كتاب المصاحف للإمام أبي بكر عبدالله بن سليمان بن الأشعث السجستاني رحمه الله المتوفى ٣١٦ھ دراسة وتحقيق الدكتور محب الدين عبدالسبحان، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية دولة قطر الطبعة الأولى ١٤١٥ھ ١٩٩٥م)
كشاف إصطلاحات الفنون: علامه محمد أعلى تهانوى رحمه الله (متوفى ١١٩١ھ) سهيل اكيدمى لاهور، مكتبة اللبنان الطبعة الأولى ١٩٩٦م
كشف الأستار عن زوائد البزار: إمام نور الدين علي بن أبي بكر الهيثمي رحمه الله (متوفى ٨٠٧ھ). مؤسسة الرسالة طبع اول ١٤٠٥ھ
كشف البارى شيخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان مد ظلهم العالى مكتبة فاروقية كراچى.
كشف الخفاء ومزيل الإلباس شيخ إسماعيل بن محمد العجلوني رحمه الله المتوفى ١١٦٢ھ، دار إحياء التراث العربي بيروت)
الكفاية في علم الرواية للإمام أحمد بن علي المعروف بالخطيب البغدادي رحمه الله المتوفى ٤٦٣ھ، دار الكتب العلمية، بيروت ١٤٠٩ھ، ١٩٨٨م)
الكنز المتواري في معادن لامع الدراري (انظروا تعليقات لامع الدراري)
الكوكب الدراري حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهي قدس سره المتوفى ١٣٢٣ھگ ادارة القرآن كراچى.
لامع الدراري: إمام ربانى حضرت مولانا رشيد أحمد گنگوهي رحمه الله (متوفى ١٣٢٣ھ). مكتبه إمداديه مكه مكرمه،
لسان العرب للعلامة أبي الفضل جمال الدين محمد بن مكرم ابن منظور الإفريقي المصري رحمه الله المتوفى ٧١١ھ، نشر أدب الحوزة قم إيران ١٤٠٥ھ)
لمحات من تاريخ السنة وعلوم الحديث شيخ عبدالفتاح أبوغدة رحمه الله المتوفى ١٤١٧ھ، مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب)
موطا مالك بن انس المتوفى ١٧٩ھگ دار إحياء التراث العربي

موطا امام محمد بن الحسن الشيبانى المتوفى ١٨٣ھ نور محمد كتب خانه اصح المطابع آرام باغ كراچى

المبسوط للإمام شمس الأئمة أبى بكر محمد بن أبى سهل السرخسى رحمه الله المتوفى ٤٨٣ھ دار المعرفة بيروت ١٣٩٨ھ، ١٩٧٨م)

المتوارى على تراجم أبواب البخارى للعلامة ناصر الدين أحمد بن محمد المعروف بابن المنير الإسكندرانى رحمه الله المتوفى ٦٨٣ھ، مظهرى كتب خانه كراچى)

مجمع بحار الأنوار فى غرائب التنزيل ولطائف الأخبار: علامه محمد طاهر پتنى رحمه الله (متوفى ٩٨٦ھ) دائرة المعارف العثمانيه حيدر آباد ١٣٩٥ھ

مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: إمام نور الدين على بن أبى بكر الهيثمى رحمه الله (متوفى ٨٠٧ھ). دار الفكر بيروت،

المجموع شرح المهذب: امام ابوزكريا يحيى بن شرف الدين النووى (متوفى ٦٧٦ھ). شركة من علماء الأزهر،

مجموع فتاوى شيخ الإسلام ابن تيمية: حافظ تقى الدين أبو العباس احمد بن عبد الحليم حرانى رحمه الله (متوفى ٧٢٨ھ). طبعة الملك فهد،

المحدث الفاصل بين الراوى والواعى، للقاضى الحسن بن عبد الرحمن الرامهرمزى رحمه الله المتوفى ٣٦٠ھ دار الفكر بيروت الطبعة الثالثة ١٤٠٤ھ، ١٩٨٤م)

المحلى للعلامة أبى محمد على بن أحمد بن سعيد بن حزم رحمه الله المتوفى ٤٥٦ھ المكتب التجارى بيروت \دار الكتب العلمية بيروت)_

مختار الصحاح: إمام محمد بن أبى بكر بن عبد القادر الرازى رحمه الله (متوفى ٦٦٦ھ)، نه روستو، دار المعارف مصر،

مختصر إختلاف العلماء تصنيف امام أبى جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوى رحمه الله المتوفى ٣٢١ھ إختصار الإمام أبى بكر احمد بن على الجصاص الرازى المتوفى ٣٧٠ تحقيق ودراسة الدكتور عبد الله نذير أحمد ١٤١٦ھ، ١٩٩٥ھ)

مختصر سنن ابى داود امام عبد العظيم بن عبد القوى المنذرى رحمه الله المتوفى ٦٥٦ ھ مطبع أنصار السنة المحمدية ١٣٦٨ھ ١٩٤٨ھ.

مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح: علامه نور الدين على بن سلطان القارى رحمه الله (متوفى ١٠١٤ھ). مكتبه امداديه ملتان،

المستدرك على الصحيحين: حافظ أبو عبد الله محمد بن عبد الله حاكم نيشاپورى (متوفى ٤٠٥ھ) دار الفكر بيروت،

مسند أبى داود الطيالسى للحافظ سليمان بن داود بن الجارود المعروف بابن أبى داود الطيالسى رحمه الله المتوفى ٢٠٤ھ دار المعرفة بيروت)

مسند أحمد: إمام أحمد بن حنبل رحمه الله (متوفى ٢٤١هـ)
مسند الحميدی: إمام أبوبكر عبدالله بن الزبير الحميدی رحمه الله (متوفى ٢١٩هـ) المكتبة السلفية مدينه منورة،
مصنف ابن أبی شيبة للحافظ عبدالله بن محمد بن أبی شيبة المعروف بأبی بكر ابن أبی شيبة رحمه الله المتوفى ٢٣٥هـ، الدار السلفية بمبئ الهند الطبعة الثانية ١٣٩٩هـ، ١٩٧٩م،
المصنف لعبد الرزاق: إمام عبد الرزاق بن همام بن نافع الصنعانی رحمه الله (متوفى ٢١١هـ) مجلس علمی،
مصنوع فی معرفة الحديث الموضوع للعلامة نور الدين علی بن سلطان القاری المتوفى ١٠١٤هـ مكتب المطبوعات الإسلامية حلب)
معالم السنن للإمام أبی سليمان أحمد بن محمد الخطابی رحمه الله المتوفى ٣٨٨هـ مطبعة أنصار السنة المحمدية ١٣٦٧هـ، ١٩٤٨م)،
معجم الطبرانی الكبير الامام سليمان بن أحمد بن أيوب الطبرانی رحمه الله المتوفى ٣٦٠هـ، دار إحياء التراث)
المعجم الوسيط: دكتور إبراهيم أنيس، ودكتور عبدالحليم منتصر، عطية الصوالحی، محمد خلف الله احمد،، مجمع اللغة العربية دمشق،
معرفة علوم الحديث: إمام حافظ أبوعبدالله محمد بن عبدالله حاكم نيشاپوری رحمه الله (متوفى ٤٠٥هـ). دار الفكر،
المغنی للإمام موفق الدين أبومحمد عبدالله بن أحمد بن قدامة رحمه الله المتوفى ٦٢٠هـ دار الفكر بيروت)
المغنی فی ضبط أسماء الرجال ومعرفة كنی الرواة وألقابهم وأنسابهم للعلامة المحدث الشيخ محمد طاهر بن علی الفتنی الهندی رحمه الله المتوفى ٩٨٦هـ، دار نشر الكتب الإسلامية لاهور)
مقدمة ابن الصلاح (علوم الحديث) لحافظ تقی الدين أبوعمرو عثمان بن عبدالرحمن المعروف بابن الصلاح رحمه الله المتوفى ٦٤٣هـ، دار الكتب العلمية بيروت)
مقدمة أوجز المسالك لشيخ الحديث مولانا زكريا كاندهلوی رحمه الله المتوفى ١٤٠٢ هندوة العلماء لكهنو
مقدمة فتح الملهم لشيخ الإسلام شبير أحمد العثمانی رحمه الله متوفى ١٣٦٩هـ، مطبع دار العلوم كراچی.
مكتوبات إمام ربانی مجدد ألف ثانی شيخ أحمد فاروقی سرهندی رحمه الله المتوفى ١٠٣٤هـ، عكس مطبوعة أمرتسر)
مكمل إكمال الإكمال للإمام أبی عبدالله محمد بن محمد بن يوسف السنوسی الحسينی رحمه الله المتوفى ٨٩٥هـ دار الكتب العلمية بيروت)
مناقب الإمام الأعظم للإمام، الإمام الموفق بن احمد المكی رحمه الله متوفى ٥٦٨ هـ مكتبه اسلاميه كوئته
مناقب الإمام الأعظم امام محمد بن محمد بن شهاب المعروف بابن البزار الكردری رحمه الله المتوفى ٨٢٧هـ، مكتبة إسلامية كوئتة)

الموضوعات للإمام أبى الفرج عبد الرحمن بن الجوزى المتوفى ٥٩٧هـ، قرآن محل اردو بازار کراچی)
الموقظة فى علم مصطلح الحديث للإمام الحافظ شمس الدين محمد بن أحمد الذهبى رحمه الله المتوفى ٧٤٨هـ، مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب الطبعة الثانية ١٤١٢هـ)
ميزان الإعتدال فى نقد الرجال: حافظ شمس الدين أبو عبدالله محمد بن احمد بن عثمان، ذهبى رحمه الله (متوفى ٧٤٨هـ) دار احياء الكتب العربية مصر ١٣٨٢هـ،
نزهة النظر فى توضيح نخبة الفكر حافظ ابن حجر العسقلانى المتوفى ٨٥٢هـ الرحيم اكيڈمی
نصب الراية فى تخريج أحاديث الهداية: إمام حافظ أبو محمد جمال الدين عبدالله بن يوسف زيلعى رحمه الله (متوفى ٧٦٢هـ) مجلس علمى ڈابهيل ١٣٥٧هـ
النكت على كتاب ابن الصلاح: حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله (متوفى ٨٥٢هـ).
النهاية فى غريب الحديث والأثر: علامه مجدالدين أبوالسعادات المبارك بن محمد بن الأثير رحمه الله (متوفى ٦٠٦). دار احياء التراث العربى بيروت،
وفاء الوفاء بأخبار أحوال المصطفى للعلامة نورالدين على بن أحمد السمهودى رحمه الله المتوفى ٩١١هـ دار احياء التراث العربى بيروت الطبعة الثالثة ١٤٠١هـ، ١٩٨١م،)
وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزمان: قاضى شمس الدين أبوالعباس احمد بن محمد المعروف بابن خلكان رحمه الله (متوفى ٦٨١هـ) دار صادر بيروت،
الهداية للعلامة برهان الدين أبوالحسن على بن أبى بكر المرغينانى رحمه الله المتوفى ٥٩٦هـ كتب خانه رشيدة دهلى\ إدارة القرآن كراتشى)
هدى السارى (مقدمه فتح البارى). حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله (متوفى ٨٥٢هـ) دار الفكر بيروت،
همع الهوامع للعلامة جلال الدين، عبدالرحمن بن أبى بكر السيوطى رحمه الله المتوفى ٩١١ هـ منشورات الرضى، قم ايران)

هذا آخر ما أردنا إيراده من شرح كتاب العلم ويليه إن شاء الله تعالى
فى المجلد الرابع باب عظة الإمام النساء وتعليمهن من كتاب العلم والله
نسأل التيسير، فإنه ميسر لكل عسير،
والحمد لله الذى بنعمته تتم الصالحات والصلاة والسلام على رسوله
محمد أفضل الموجودات وأكرم المخلوقات، وعلى آله وأصحابه
والتابعين لهم مادامت الأرض والسماوات.